فتاوی دار العلوم زکریا

افادات

حضرت مولانا مفتی رضاء الحق صاحب دامت برکاتہم

شیخ الحدیث و مفتی دار العلوم زکریا، جنوبی افریقا

زیر اہتمام

حضرت مولانا شبیر احمد سالوجی مدظلہ

مہتمم دار العلوم زکریا، جنوبی افریقا

تہذیب و تحقیق

محمد الیاس شیخ عفی عنہ

رفیق دار العلوم زکریا، جنوبی افریقا

ناشر

مکتبہ رشیدیہ

ارگ بازار
کندھار
افغانستان



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

فتاوی دار العلوم زکریا

جلد خلورم

کتاب الحج ۞ کتاب النکاح ۞ کتاب الطلاق

افادات

حضرت مولانا مفتی رضاء الحق صاحب دامت برکاتهم
استاذ الحدیث ومفتی دار العلوم زکریا، جنوبي افریقا

تر اهتمام لاندي

حضرت مولانا شبیر احمد السالوجي مدظله
مهتمم دار العلوم زکریا، لینیشیا جنوبي افریقا

تهذیب وترتیب

حضرت مفتی عبد الباری ومحمد الیاس شیخ

ناشر

مکتبه رشیدیه

ارگ بازار، کندهار-افغانستان

تهلیفون: ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	**فتاوي دار العلوم زکریا**
تالیف	افادات شیخ الحدیث حضرت مفتي رضاء الحق صاحب
ژباړونکي	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
تصحیح	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
جلد	څلورم
کمپوز او ډیزاین	عبد الصمد
د چاپ کال	(۱۴۳۵ هـ ق، ۱۳۹۳ هـ ش)
د خپرونو لړ	(۱۴)
ناشر	مکتبه رشیدیه ارګ بازار، کندهار-افغانستان
ټلیفون شمېره	۰۷۰۰۳۸۸۶۷۴، ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹

فهرست

شمېره	عنوان	صفحه



قال الله تعالى ﴿ وأذن في الناس بالحج يأتوك رجالًا وعلى كل ضامر يأتين من كل فج عميق ﴾.

(سورة الحج:الآية:۲۷).

قال الله تعالى: ﴿ ولله على الناس حج البيت من استطاع إليه سبيلًا ﴾ (سورة الا عمران:الآية:۹۷).

وقال رسول الله ﷺ ﴿ من حج الله فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته أمه ﴾ (متفق عليه).

قال رسول الله ﷺ حين سئل مايوجب الج: « الزاد والراحلة». (ترمذی شریف).

کتاب الحج

اول باب د حج فرضیت

ارکانو او داسي نورو شیانو بیان

د حج پیسې موجودي دي نو د کور په جوړولو کي د مصرفولو یا حج کولو حکم

سوال: یو سړی د کرایې په کور کي اوسیږي او د هغه سره د حج پیسې موجودي دي ایا دغه پیسې دی د کور په اخیستلو کي مصرف کړي او که دی اول حج په وکړي؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري دغه سړی د حاجیانو تر وتلو د مخه پیسې په کور جوړولو کي مصرف کړي نو هیڅ پروا نه لري او که چیري د حاجیانو د وتلو تر وخته پیسې موجودي وي نو اول باید حج وکړي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

فضلًا عما لا بد منه كما مر في الزكاة ومنه المسكن ومرمته ولو كبيرًا يمكنه الاستغناء ببعضه ، والحج بالفاضل فإنه لا يلزمه بيع الزائد، نعم هو الأفضل، وعلم به عدم لزوم بيع الكل والاكتفاء بسكنى الإجارة بالأولى، وكذا لو كان عنده ما لو اشترى به مسكنًا وخادمًا لا

يبقى بعده ما يكفي للحج لا يلزمه، خلاصة وحرر في النهر أنه يشترط بقاء رأس مال لحرفته إن احتاجت لذلك، وإلا لا وفي الأشباه: معه ألف وخاف العزوبة إن كان قبل خروج أهل بلده فله التزوج ولو وقته لزمه الحج وفى الشامية: قوله لا يلزمه تبع في عزو ذلك إلى الخلاصة ما في البحر والنهر، والذي رأيته في الخلاصة هكذا وإن لم يكن له مسكن ولا شيء من ذلك، وعنده دراهم تبلغ به الحج وتبلغ ثمن مسكن وخادم وطعام وقوت وجب عليه الحج، وإن جعلها في غيره أثم. لكن هذا إذا كان وقت خروج أهل بلده كما صرح به في اللباب أما قبله فيشتري به ما شاء لأنه قبل الوجوب كما في مسألة التزوج الآتية، وعليه يحمل كلام الشارح، فتدبر. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ٤٦١، سعيد).

په فتح القدير کې راځي:

وذكر المصنف في التجنيس: أنه إذا كان له مال يكفي للحج وليس له مسكن ولا خادم أو خاف العزوبة فأراد أن يتزوج ويصرف الدراهم إلى ذلك، إن كان قبل خروج أهل بلده إلى الحج يجوز لأنه لم يجب الأداء بعد، وإن كان وقت الخروج فليس له ذلك لأنه قد وجب عليه. (فتح القدير:۲/ ۳۲٤، رشيديه).

په فتاوی محموديه کې راځي:

که چيري د کور ضرورت تر حج د مخه پېښ سو او د دې مجبورۍ په سبب يې کور جوړ کړئ نو بيا د هغه پر ذمه حج واجب نه دئ او که چيري د حج په وخت کې يعني په کومه ورځ چې خلک له هغو ځايو څخه حج ته تلل په هغه وخت کې خو د کور ضرورت نه وو بلکې وروسته دا ضرورت راغلئ او په هغه کې يې پيسې مصرف کړې نو اوس د هغه پر ذمه حج فرض سوی دئ. (فتاوی محموديه: ۱۰/ ۲۹۰). والله ﷻ اعلم.

د حج تر فرضیت وروسته د ښځې او زامنو منع کول

سوال: یو سړی غواړي چې حج ته ولاړ سي او ښځه او زامن په دې کور کې د او سېدلو ځخه بېرېږي او وایي ته حج ته مه ځه نو څه کول په کار دي او د فرض حج او نفل تر منځ څه فرق سته او که نه؟

الجواب: پر کوم چا چې حج فرض وي نو په هغه کال یې اداء کول ضروري دي او ځنډیې صحیح نه دئ او د ښځې او زامنو انکار کول صحیح نه دي د دې وطرف ته دي خیال نه کوي کله چې شرائط موجود وي او موانع نه وي او د سړي په فکر کې د ښځې او زامنو له پاره څه خطره نه وه مګر که چیري نفل حج وو نو بیا مصلحت ته کتل کیږي یعني د کور له پاره دي د اطمینان اسباب تیار کړي او بیا دي ولاړ سي، د مصلحت خیال دي وساتي او خپله دي فیصله وکړي.

په بدائع الصنائع کې راځي:

وروينا عن النبي ﷺ أنه قال: [من ملك زادًا، وراحلةً تبلغه إلى بيت الله الحرام فلم يحج فلا عليه أن يموت يهوديا أو نصرانيا] ألحق الوعيد بمن أخر الحج عن أول أوقات الإمكان. (بدائع الصنائع:٢/ ١١٩، سعيد).

فتاوی هندیه کې راځي:

وكذا إن كرهت خروجه زوجته وأولاده أو من سواهم ممن تلزمه نفقته وهو لا يخاف الضيعة عليهم فلا بأس بأن يخرج. (الفتاوى الهندية:١/ ٢٢١ – وكذا في الفتاوى التاتار خانية:٢/ ٥٧٧).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

د حج تر فرضیت وروسته په دغه کال حج ته تلل ضروري دي او کله چې یو شرعي عذر نه وي نو بیله ضرورته په ځنډ سره یې ګناه کار او فاسق ګرځي او که یې حج اداء نه کړای سو نو د سخت عذاب مستحق به وي. (فتاوی رحیمیه:٥/ ٢١٥). والله تعالیٰ اعلم.

په مطلق نیت سره د اداء کېدلو حکم

سوال: یو سړي د خپل پلار له مال څخه د (۱۹) کالو په عمر کي حج وکړ او دا ورته په یاد نه وو، چي هغه د فرض حج نیت کړی وو نو اوس د ده فرض اداء سو او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي کله چي هغه مطلق نیت کړی وو نو فرض حج اداء سو.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولو أطلق نية الحج صرف للفرض. (الدر المختار:٢/ ٤٨٦، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله ولو أطلق نية الحج بأن نوى الحج ولم يعين فرضاً ولا نفلاً. (ردالمحتار:٢/ ٤٨٦، وطحطاوی علی الدر:١/ ٤٩٢). والله ﷻ اعلم.

د ښځي د خپل خسر سره و حج ته د تللو حکم

سوال: پر یوې ښځه حج فرض دئ مګر له هغې سره دومره پیسې نه وې چي هغه له خپل محرم سره د حج سفر وکړي اوس د هغې خسر حج ته ځي نو ایا دغه ښځه له خپل خسر سره حج ته تللای سي او که نه؟

الجواب: ښځه له خپل حقیقي خسر سره حج ته تلای سي، مګر که چیري خطره وه نو د خلوت څخه دي ځان وساتي او سړی دي له خلکو سره اوسیږي او ښځې دي له ښځو سره اوسیږي که چیري د فتنې خطره نه وه نو بیا هم د تهمت څخه د ځان ساتلو له پاره جلا اوسېدل په کار دي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

والمحرم الزوج ومن لايجوز منا كحتها على التأبيد بقرابة أو رضاع أو مصاهرة، كذا في الخلاصة. (الفتاوى الهندية:١/ ٢١٩).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله ومع زوج أو محرم والمحرم من لا يجوز له مناكحتها على التأبيد بقرابة أو رضاع أو صهرية كما في التحفة. (شامی:۲/ ٤٦٤، سعيد).

په يو بل ځاى كي راځي:

قوله مصاهرة وموطؤات أبنائه وأبناء أولاده وإن سفلوا. (شامی:۳/ ۲۸، سعید).

په زبدة المناسک كي راځي:

د حج په سفر کي له ښځي سره هغه محرم ضروري دئ چي له هغه سره د دې ښځي تېول ژوند نكاح حرامه وي او دغه حرمت د قرابت په سبب وي يا د شيدو د چيښلو په سبب وي يا حرمت د نكاح مصاهرت په سبب وي. (زبدة المناسک د واجب اداء كولو دريم شرط:صـ ۳۲). والله تعالی اعلم.

د زوم سره د حج د سفر كولو حكم

سوال: ښځه د خپل زوم سره د حج سفر كولاى سي او كه نه؟

الجواب: ښځه له خپل زوم سره د حج سفر كولاى سي مګر كه چيري د فتني خطره وه نو بيا دې نه ځي همدا ډول له خلوت څخه اجتناب (پرهېز) په كار دئ.

قال الله تعالى: ﴿حرمت عليكم أمهاتكم وبناتكم وأخواتكم وعماتكم وخالاتكم وبنات الأخ وبنات الأخت وأمهاتكم اللاتي أرضعنكم وأخواتكم من الرضاعة وأمهات نسائكم﴾ (سورة النساء:۲۳).

وعن ابن عباس رضي الله عنهما قال: حرم من النسب سبع ومن الصهر سبع ثم قرأ حرمت عليكم أمهاتكم. (رواه البخارى، مشكاة:۲/ ۲۷۵).

وفى الشامى:فصل فى المحرمات..... وأمها الزوجات. (فتاوى الشامى:۳/ ۲۸، فصل فى المحرمات، سعيد).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

زوم له خپلي خواښي سره محرم دئ او د هغوی تر منځ د همېشه له پاره نکاح حرام ده.

په فتاوی عالمګیري کي راځي: القسم الثاني المحرمات بالصهرية: وهي أربع فرق الأولى أمهات الزوجات. (عالمگیری).

مګر نن سبا د فتنې زمانه ده او د داسي قرابت سره احتیاط په کار دئ خصوصا چي کله ځوان وي. (فتاوی رحیمیه: ۸/ ۲۸۷، وکذا فی معلم الحجاج: صـ ۹۵، وعزیزی الفتاوی: ۳-۴/ صـ ۷۵).

ښځه له خپل خاوند، حقیقي ورور، کاکا، ماما، رضاعي ورور او له خپل زوم سره حج ته تلای سي، همدا ډول د لور تر مرګ وروسته هم له زوم سره د حج سفر کولای سي. (ایضاح المسائل: صـ ۱۳۳). والله تعالیٰ اعلم.

د انا له دوهم خاوند سره د حج د سفر حکم

سوال: یوه ښځه د خپلي انا د دوهم خاوند سره د حج د سفر له پاره تلای سي او که نه؟ حال دا چي دغه سړی د دې ښځي حقیقي نیکه نه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي دوهم خاوند د هغې ښځي له انا سره د واده او همبستري کولو په سبب حرمت على التابيد ثابتيږي نو په دې سبب حج ته تلل ورسره روا دي ځکه چي دغه ښځه د دغه سړي د لمسۍ په درجه کي ده.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الفرقة الثانية: فبنت الزوجة وبناتها وبنات بناتها وبنيها وإن سفلن، أما بنت زوجته فتحرم عليه بنص الكتاب العزيز إذا كان دخل بزوجته فإن لم يكن دخل بها فلا تحرم لقوله: «وربائبكم اللاتي في حجوركم من نسائكم اللاتي دخلتم» الخ، وسواء كانت بنت زوجته في حجره أو لا عند عامة العلماء.

وأما بنات بنات الربيبة وبنات أبنائها وإن سفلن فتثبت حرمتهن بالإجماع وبما ذكرنا من المعنى المعقول لا بعين النص إلا على قول من يرى الجمع بين الحقيقة والمجاز في لفظ واحد عند إمكان العمل بهما . (بدائع الصنائع:۲/ ۲۵۹، النوع الثانی فی المحرمات بالمصاهرة، سعید).

په فتاوی شامي کي راځي:

ويدخل أي فى قوله وبنت زوجته بنات الربيبة والربيب وثبتت حرمتهن بالإجماع، وقوله تعالى: وربائبكم، بحر. (شامی:۳/ ۳۱، سعید).

مګر که چیري ښځه له محرم سره مطمئنه نه وه نو سفر کول ورسره روا نه دي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولهذا قالوا: إن المحرم إذا لم يكن مأموناً عليه لم يجزلها أن تسافر معه. (بدائع الصنائع:۲/ ۱۲٤، سعید). والله تعالیٰ اعلم.

د خور له لمسي سره د حج د سفر کولو حکم

سوال: يوه ښځه د خپلي خور له لمسي سره د حج سفر کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د حرمت على التابيد په سبب د حج له پاره تلل صحيح دي، ځکه چي دغه ښځه د دغه سړي د پلار خاله ده او د پلار خاله د خپلي خاله په حکم کي ده.

په عالمګیري کي يې وګورئ:

القسم الأول المحرمات بالنسب: ــ وهن.... وخالات آبائه وأمهاته. (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۷۳، فی بیان المحرمات – وبدائع الصنائع:۲/ ۲۵۷، فصل ومنها ان تکون المرأة محللة، سعید).

والله تعالیٰ اعلم.

د حنفي قافلې سره د دوو شافعي ښځو د حج د سفر حکم

سوال: وحج ته حنفي قافله ځي د هغو سره دوې شافعي مذهبه ښځې بېله محرمه د تلو خواست کوي او هغوی وايي، چې دا زموږ په نزد روا دي يعني ديوه لوی جماعت سره بېله محرمه حج ته تلل روا دي اوس هغوی د ځان سره بېول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي د امام شافعي رحمه الله په مذهب کي د داسي سفر کولو اجازه سته نو ځکه قافله والو ته هغوی د ځان سره بېول روا او صحيح دي.

په هدايه کي راځي:

وقال الشافعي رحمه الله: يجوز لها الحج إذا خرجت في رفقة ومعها نساء ثقات لحصول الأمن بالمرافقة. (الهداية:١/ ٢٣٣).

وفی غنية الناسک: المحرم أو الزوج لامرأة بالغة ولو عجوزاً ومعها غيرها من النساء الثقات والرجال الصالحين كبير فی مسيرة سفر. (غنية الناسک:١٠/ إدارة القرآن).

د مشکوة په شرحه مرقات کي راځي:

وقال الشافعي رحمه الله: يلزمها إذا كان معها امرأة ثقة..... ومذهب الشافعی رحمه الله إذا وجدت نسوة ثقات فعليها أن تحج معهن. (مرقات:٥/ ٢٦٨، ملتان).

په شرح مهذب کي راځي:

أما حكم المسئلة فقال الشافعي رحمه الله والأصحاب: لايلزم المرأة الحج إلا إذا أمنت على نفسها بزوج أو محرم نسب أو غير نسب أو نسوة ثقات فأي هذه الثلاثة وجد لزمها الحج بلا خلاف. (شرح المهذب:٧/ ٨٦، دار الفكر). والله تعالی اعلم.

کله چي د حج په سفر کي خاوند مړ سي نو د ښځي له پاره د حج حکم

سوال: که چیري دیوې ښځي خاوند د حج په سفر کي مړ سو نو عدت به څنګه تېره وي او همدا ډول حج به کوي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي په مکه مکرمه او وطن دواړو کي چي هریو نژدې وي هلته دي ذوباره وګرځي او عدت دي هلته تېر کړي او له هغه ځایه دي نه راوزي او د حج په دوران کي که چیري محرم ورسره وو نو د صاحبینو رحمہ اللہ علیہ په نزد حج هم کولای سي په دې زمانه کي که د صاحبینو مذهب اختیار کړل سي نو دا روا او صحیح ده.

په غنیة الناسک کي راځي:

وأما شرائط وجوب الأداء فخمسة على الأصح.... الخامس عدم عدة عليها مطلقاً سواء كانت من طلاق بائن أو رجعى أو وفات.... فإن حجت وهى فى العدة جازت بالاتفاق وكانت عاصية والعدة أقوى فى منع الخروج من عدم المحرم حتى منعت مادون السفر فإن لزمتها فى السفر.... فإن كان إلى كل من بلدها ومكة أقل من مدة السفر تخيرت أو إلى أحدها سفر دون الآخر تعين أن تصير إلى الآخر أو كل منهما سفر فإن كانت فى مصر قرت فيه إلى أن تنقضى عدتها ولاتخرج وإن وجدت محرماً عند أبى حنيفة رحمہ اللہ علیہ وقالا: لها أن تخرج إذا وجدت محرماً وإن كانت فى قرية أو مفازة لاتأمن على نفسها ومالها فلها أن تمضى إلى موضع آمن فلا تخرج عنه حتى تمضى عدتها وإن وجدت محرماً عنده خلافاً لهما. (غنية الناسک فى بغية المناسک:۱۲، شرائط وجوب الاداء، ادارة القرآن – وكذا فى ارشاد السارى الى مناسک الملا على القاري:٦٤، بيروت).

په زبدة المناسک کي راغلي دي:

که چیري حج نه کوي نو ډېر مشکلات یې مخته راځي نو ځکه معذور بلل کیږي او کول یې هم روا دي. (مخلص از زبدة المناسک:صہ ۳۶، د واجب اداء کولو څلورم شرط).

په جدید فقهي مباحث کي راځي:

په اوسنی زمانه کي د خپل هیواد تر حددو وتلو وروسته تر مکې د مخه د قانوني مشکلاتو په سبب نه قیامه ممکن ده او نه له سفر څخه بیرته راتلل آسانه دي بیا په قافله کي ښځي ډېري وي نو د هغوی سره د یوې ښځي په اوسېدلو کي د فتنې ځایونه کم وي که چیري تر هندوستان تېر سول او خاوند یې وفات سو نو د حج د سفر د پوره کولو اجازه په کار ده، نو د امام شافعي رحمة الله علیه دغه قول اختیارول په کار دي چي هغه وایي که چیري له قافلې سره یو څه ښځي وي نو یوه ښځه بېله محرمه سفر کولای سي.

یجوز لها الحج إذا خرجت في رفقة ومعها نساء ثقات لحصول الأمن بالمرافقة. (الهداية مع الفتح:۲/ ۴۲۰). (جدید فقهی مباحث:۱۳/ ۱۳۵، إدارة القرآن). والله تعالیٰ اعلم.

د محرم څخه پرته پر سفر کولو له یو حدیث څخه د استدلال جواب

سوال: ایا ښځه بېله محرمه د حج سفر کولای سي او که نه؟ حال دا چي په حدیث شریف کي راغلی دي چي ښځه له عراق څخه مکې ته سفر کوي او یوازي د الله جل جلاله بېره به وي؟

الجواب: ښځه بېله شرعي محرمه سفر کولای نه سي او په شریعت کي د دې اجازه نه سته نو ځکه بېله محرمه د حج د سفر اجازه هم نه سته او دغه ممانعت له حدیث څخه ثابت دئ، مګر ځیني لوی علماء فرمایي چي سپین سری ښځه ته که چیري بېله محرمه په تلو کي فتنه نه وه او له نورو پردو سره اختلاط او خلوت نه وو، نو د دې ښځې له پاره د ښځو په قافله کي د تلو اجازه سته.

په حدیث شریف کي یې وګورئ:

عن أبی سعید الخدری رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: « لا یحل لإمرأة تؤمن بالله والیوم الآخر أن تسافر سفرًا یکون ثلاثة أیام فصاعدًا إلا ومعها أبوها أو ابنها أو زوجها أو أخوها أو ذو محرم منها ». (مسلم شریف:۱/ ۴۳۴، باب سفر المرأة مع محرم الی حج وغیره).

په سوال کي ذکر سوي حديث وګورئ:

لترين الظعينة ترتحل من الحيرة حتى تطوف بالكعبة لاتخاف أحداً إلا الله. (رواه البخاري:۱/ ۵۰۷).

د دې حديث جواب دا دئ په دې کي امن وامان بيانول مقصد دئ او د ښځي بېله محرمه د سفر جواز بيانول مقصد نه دي ځکه چي د حديث په شروع کي نبي کريم ﷺ حضرت عدی بن حاتم رضي الله عنه ته پېش ګوييانې اورولي چي داسي زمانه هم راتلونکې ده چي دومره امن به وي چي ښځه به له حيره څخه مکې مکرمې ته سفر کوي او هيڅ بېره به پر ته د الله جل جلاله د بېري څخه نه وي يعني داسي امن او امان به وي چي د هغه تصور کېدلای نه سي، همدا ډول د احاديثو په ذخيره کي د دې ډېر مثالونه موجود دي د بيانولو مقصد يو څه بل شی دئ او اصل حکم بل ځای ذکر کيږي چي د هغه يو مثال وګورئ:

په حديث شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « والذي نفسي بيده لو لم تذنبوا لذهب الله تعالى بكم ولجاء بقوم يذنبون ويستغفرون الله تعالى فيغفر لهم ». (رواه مسلم:۲/ ۳۵۵، باب سقوط الذنوب بالاستغفار والتوبة).

په دې حديث شريف کي د يوې ګناه فضيلت بيانول يا پر ګناه باندي باغيرته کول مقصد نه دي بلکي دا ويل مقصد دي چي توبه څومره محبوب او مطلوب شی ده او تر کومه ځايه چي د ګناه تعلق دئ د دې حکم له نورو احاديثو څخه معلوميږي چي څومره مذموم او خطرناک شی دئ او له الله جل جلاله څخه بغاوت کول دي. د دې حديث يوه توجيه د حضرت مولانا انور شاه صاحب رحمه الله عليه په خبرو کي کېدلای سي چي د فتنې د نه رامنځ ته کېدو په صورت کي د ښځي له پاره يوازي سفر کول روا دي، (کما سيأتي) د کلام حاصل دا دئ چي د ښځي له پاره بېله محرمه د شرعي سفر اجازه نه سته.

والله تعالى اعلم.

د سپین سري ښځي د محرم شخه پرته د حج د سفر کولو حکم

سوال: د یوې ښځې عمر تقریبا (٧٥) کال دئ د حج پیسې له هغې سره موجود دي مګر د هغې یو محرم هم نه سته اوس هغه حج ته له داسي قافلې سره تګ غواړي چي په هغه کي یو څو ښځي هم موجودي وي په دغه قافله کي د هغې یو داکا زوی هم سته او د هغې د حج سره ډېر شوق هم دئ نو ایا دغه حنفي ښځه حج ته تلای سي او که نه؟

الجواب: ډېر ځله فقهاوو دا لیکلي چي د محرم شخه پرته د حج سفر روانه دئ، مګر حضرت مفتي ولي حسن صاحب شخه یو ځل پوښتنه وسوه چي یوه ښځه چي د هغې عمر (٧٥) کاله دئ د اعتماد وړ ښځو له قافلې سره تلای سي او که نه؟

حضرت مفتي صاحب اجازه ورکړې او په دلیل کي یې د درمختار دغه عبارت ذکر کړی دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

أما العجوز التي لاتشتهى فلا بأس بمصافحتها ومس يدها إذا أمن، ومتى جاز المس جاز سفره لها، ويخلو إذا أمن عليه وعليها، وإلا لا. (الدر المختار:٦/ ٣٦٨، سعيد).

په فيض الباري کي راځي:

وفي كتب الحنفية عامةً عدم جواز السفر إلا مع محرم قلت: ويجوز عندي مع غير محرم أيضًا بشرط الاعتماد والأمن من الفتنة، وقد وجدت له مادةً كثيرةً في الأحاديث، أما في الفقه، فهو من مسائل الفتن. (فيض الباری:٢/ ٣٩٧).

په حاشیه مرتب کي لیکلي دي:

منها: أمر النبي ﷺ أبا العاص أن يرسل زينب رضي الله عنها مع رجل لم يكن لها محرما، ومجيىء عائشة رضي الله عنها فى قصة الإفک. (حاشية فيض الباری:٢/ ٣٩٧).

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د یوه سوال جواب لیکلی دئ:

په حنفي مذهب کي خو په دې صورت کي هم اجازه نه سته او په شافعي مذهب کي که چیري ښځي ورسره وی نو بیا اجازه ستّه او د حنفي له پاره دیوې خاص مسئلې له پاره د شافعي تقلید د ضرورت په وخت کي روا دئ او د ضرورت فیصله زه کولای نه سم. (اشرف علی:۲۳/ رمضان:۱۳۵۷، مجالس الامت ۲۹۰).

ځیني حضراتو د دې حدیث «لترین الظعينة ترتحل من الحيرة حتى تطوف بالكعبة لاتخاف الا الله. (البخاری:۱/ ۵۰۷). په رڼا کي د فتنې د نه رامنځ ته کېدو په صورت کي د ښځي له پاره یوازي د سفر اجازه بیان کړې ده.

پاملرنه: دا خبر یاد ساتئ چي دا دیوې توجیه پر مطابق ده که نه په دې حدیث استدلال او د هغه جواب ذکر سو نو ځکه تعارض نه بلل کیږي. والله ﷻ اعلم.

د حج سفر ته د تلو په سبب د غیابت د ورځو د تنخوا حکم

سوال: یو مدرس د فرض حج له پاره تګ غواړي نو ایا هغه د هغو ورځو د تنخوا مستحق دئ او که نه؟

الجواب: که چیري د مدرس سره یې وعده کړې وي یا د مدرسې قانون وي نو پر هغه باید عمل وکړل سي که نه د نورو مدرسو پر قانون دي عمل وکړي او زموږ رواج دا دئ چي د فرض حج له پاره د تنخوا سره رخصت ورکوي.

په فتاوى الشامي کي راځي:

أما لو شرط شرطا تبع كحضور الدرس أياما معلومة في كل جمعة فلا يستحق المعلوم إلا من باشر خصوصا إذا قال: من غاب عن الدرس قطع معلومه فيجب اتباعه. (فتاوى الشامية:٤/ ٤١٩، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

البته د عرف د موافق رخصتیو تنخوا ورکول صحیح دي په دې اړه امام، مؤذن او نور د وقف ملازمین برابر دي. (دار العلوم دیوبند:۵-۶/ ۲۵۸). والله ﷻ اعلم.

د حج په مياشتو کي ومکې مکرمې ته د تلو په سبب د حج د فرضيت حکم

سوال: که چيري يو سړى د شوال د مياشتي پر اول تاريخ مکې مکرمې ته ور داخل سو مګر د هغه سره د حج کولو پيسې نه سته او نه يې په دغه کال د حج کولو اراده کړې ده نو ايا پر دغه سړي حج فرض دئ او که نه؟ مګر له هغه سره ويږه موجود ده؟

الجواب: په دې صورت کي د خرڅ د کمبوت په سبب پر هغه نه دئ فرض سوي.

وګورئ په فتاوى شامي کي راځي:

والحاصل أن الزاد لا بد منه ولو لمكي كما صرح به غير واحد كصاحب الينابيع و السراج، وما في الخانية و النهاية من أن المكي يلزمه الحج ولو فقيرا لا زاد له نظر فيه ابن الهمام، إلا أنه يراد ما إذا كان يمكنه الاكتساب في الطريق وأما الراحلة فشرط للآفاقي دون المكي القادر على المشي، وقيل شرط مطلقا، لأن ما بين مكة وعرفات أربع فراسخ، ولا يقدر كل أحد على مشيها، كما في المحيط، وصحح صاحب اللباب في منسكه الكبير الأول، ونظر فيه شارحه القاري، بأن القادر نادر ومبنى الأحكام على الغالب. (فتاوى الشامية: ۲/ ٤٦٠، سعيد)ز

په شرح لباب کي راځي:

والزاد فقط فى حق المكى أى ومن فى حكمه ممن ليس يوجد فى حقه تلك المسافة، إن قدر على المشي أى بلا كلفة ومشقة وإلا فكا لافاقى، أي وإن لم يقدر المكى على المشى فحكمه كالآفاقى فى اشتراط الراحلة له أيضاً. (شرح اللباب: ٤٥، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

السادس الاستطاعة: ـ وهي القدرة على زاد يليق بحاله ولو لمكى ملكاً لا بالإباحة. (غنية الناسک: ٤/ باب شرائط الحج، ادارة القرآن).

په عمدة الفقه کي راځي:

د لاري د توښې د قدرت شرط عام دئ مکه والو او غير مکه والو د ټولو له پاره دئ مګر پر سپرلۍ باندي قادر کېدل د غير مکه والو يعنی د افاق په شرط کي داخل دي او دا د هغوی په حق کي شرط دئ که چيري مکه والا هم بېله مشقته پر پياده تلو قادر نه وي نو هغوی هم پر سپرلۍ باندي د قادر کېدلو په حق کي د افاق په حکم کي داخل دي. (عمدة الفقه: ٤/ ٣٧، مجدديه). والله تعالیٰ اعلم.

د حج تر ورځو د وېزي د نه موجودېدو په سبب د فرضيت حکم

سوال: که چيري يو سړی اول وار و عمري ته په روژه کي ولاړ ئ او تر شواله هلته واوسېدئ او د شوال مياشت هم راوختله په دې حال کي چي هغه په سعودي کي وي مګر د هغه له پاره قانونا اوسېدل صحيح نه دي نو ايا پر دې سړي حج فرض دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري وېزه اوږدول ممکن وه او د اوسېدلو طاقت هم لري يا چي خپل هيواد ته ولاړ سي نو د دوهم ځل له پاره هم د راتلو قدرت لري نو حج پر فرض دئ او که داسي نه وي نو بيا ورباندي فرض نه دئ، مګر د ځينو علماوو دا قول دئ چي که چيري يې قدرت وي نو هلته دي حج بدل وکړي.

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

په ځيني وختو کي خلک په شوال او ذوالقعده کي مکې مکرمي ته ځي او حج پر هغوی فرض کيږي مګر د هغوی وېزه د حج د زمانې نه وي او د قانوني اعتبار څخه هغوی د حج له پاره پاتېدلای نه سي په داسي صورت کي که چيري پر هغوی حج فرض پاته وو نو بيا هغوی بايد پوره کوښښ وکړي چي هغوی څنګه حج وکړي مګر که چيري د قانوني مجبوری په سبب تر حج پوري د هغه قيامه ممکن نه وه نو بيا پر هغه حج فرض نه دئ ځکه چي استطاعت سبيل (د لاري طاقت) کوم ته چي قران د حج د فرض کېدو شرط وېلي دي د دې سړي په حق کي نه سته، همدا ډول د ځينو خلکو د غلط فهمي په سبب عرض دا دئ چي دا پوهيدل په کار ده چي کومو خلکو حج اداء کړی دئ پر هغوی د حج په زمانه کي د عمرې کولو په سبب دوهم ځل حج نه فرض کيږي. (جديد فقهی مسائل: ١/ ٢٥٦).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که چیري شوال هلته ورباندي شروع سو او د هغه سره د حج مصارف هم موجود وه نو حج فرض کیږي که چیري د حکومت له طرفه د حج تر وخته د اوسېدلو اجازه نه وو نو د حج په فرضیت کي اختلاف دئ. راجح قول دا دئ چي پر هغه حج بدل فرض دئ، له مکې مکرمې څخه دي په یوه بل چا باندي دي حج وکړي او وروسته که چیري یې په خپله دغه قدرت پیدا کئ نو په خپله دې وکړي.(احسن الفتاوی:٤/ ٥١٩).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٤/ ٣٥). والله ﷻ اعلم.

د صفا و مروا تر توسیع وروسته د سعي حکم

سوال: نن سبا د صفا ومروا عرض ډېر زیات پراخ کیږي ځیني خلک وایي چي هغه د توسیع ځای یې له اصل مسعی څخه پورته سوی دئ نو ځکه تر توسیع وروسته مسعی محل د تامل دئ، نو دا خبره صحیح ده او که نه؟

الجواب: اول دا باید معلومه سي چي صفا ومروا د دوو غرو نوم دئ او غر اوږد او پراخ دئ نو ځکه تر توسیع وروسته هم په مسعی کي هیڅ خلل نه راځي بلکي په یوه زمانه کي خو د هغو غرو په منځ کي کورونه وه او خلکو له کورو څخه د باندي سعي کوله.

په لسان العرب کي راځي:

الصفا: العريض من الحجارة الأملس جمع صفاة يكتب بالألف.... ومنه الصفاو المروة وهما جبلان بين بطحاء مكة والمسجد.... الصفا اسم أحد جبلى المسعى والصفا موضع بمكة. (لسان العرب:٧/ ٣٧١).

دا خبره یاد وساته چي جبل غټ غره ته وایي،

په السان العرب کي راځي:

الجبل اسم لكل وتد من أو تاد الأرض إذا عظم وطال. (لسان العرب: تحت مادة الجبل:١١/ ٩٦).

کوچني غره ته جبل نه وايي نو کله چي صفا ومروا اوړ او پراخ غر دئ نو مسعی به هم پراخه وي.
همد ډول ذکر دي:

المرو.... واحدتها مروة ..... ومروة المسعى التي تذكر مع الصفا وهى أحد رأسيه الذين ينتهي السعي إليها سميت بذلک.... والمروة جبل مكة شرفها الله تعالى فى التنزيل العزيز ﴿إن الصفا والمروة من شعائر الله ﴾. (لسان العرب:۱۳/ ۸۹).

همدا ډول وګورئ: (المعجم الوسيط:۸٦٥ – والمنجد فى الاعلام:۳٤٥ –ومعجم البلدان:۳/ ٤۱۱ – وعمدة القارى:۷/ ۲۲۸ – والجامع الاحكام القرآن:۲/ ۲).

په عمدة الفقه کي راځي:

د صفا ومروا تر منځ سعي کول د سعی رکن دئ همدا ډول له صفا و مروه څخه بیرون دي سعی نه کوي . په منسک الکبیر کي یې دي ته رکن ویلی دئ او دغه صحیح هم ده که چیري یې د سعی تر ځای دباندي سعی وکړه نو دا روا نه ده.

یوه مهمه فائده: شیخ عبد الرحمن المرشدي د کنز په شرح کي لیکلي دي چي د صفا و مروه د منځ مسافت اوه سوه پنځوس ګزه دئ بس له دې حسابه څخه مکمل سعی یعني د اوو شوطو مسافت (۵۲۰۰) ګزه کیږي او په شمنی کې لیکلي دي چي د صفا مروه د منځ فاصله (۷٦٦) ګزه ده، د مسعی د پراخېدو په اړه علامه شیخ قطب الدین حنفي له خپل تاریخ الفاکهي څخه رانقل کړی دئ چي دا (۳۵) ګزه دئ او کله چي نبي کریم ﷺ سعی کړې وه هغه ډېره پراخه وه خو وروسته په هغه کي کورونه جوړ سول بیا خلیفه مهدی رحمه الله هغه کورونه خراب کړل او له هغو څخه یې ځیني په مسجد حرام کي داخل کړل او ځیني یې پرېښودل په هغه وخت کي چي د مسعی کوم مسافت پاته سوی وو تر اوسه بس هغه مسافت دئ او نن سبا په هغه کي سعی کیږئ. (اوس د سعودي حکومت د مسجد حرام توسیع وکړه او مسعی یې هم د سره څخه ډېره بنایسته جوړ کړه او د صفا لاریې جلا او د مروه لاریې جلا جوړه کړه چي سعی کونکو ته تکلیف نه وي. مولف. (عمدة الفقه:٤/ ۲۰۰). والله تعالی اعلم.

په طواف کې د چابک تللو حکم

سوال: په طواف کې چابک تګ خالي په درو شوطو کې دی او که په ټولو کې کول په کار دي؟

الجواب: په دې صورت کې په ټول طواف کې چابک تګ سنت دئ.

وګورئ په حدیث شریف کې راځي:

عن ابن يعلى عن أبيه عن النبي ﷺ طاف بالبيت مضطبعاً وعليه برد. (رو: الترمذی:۱/ ۱۷٤، فیصل).

په غنیة الناسک کې راځي:

فيطوف بالبيت سبعة أشواط وراء الحطيم مضطبعاً في جميعها. (غنية الناسک: ٤٥، کراچی).

په فتاوی هندیه کې راځي:

فيطوف سبعة أشواط وقد اضطبع قبل ذلک کذا فی الکافی. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۲۲۵).

همدا ډول وګورئ: (شامی:۲/ ٤۹۵، سعید – وزبدة المناسک مع عمدة السالک:۱٤۱). والله ﷻ اعلم.

د حج د احرام د تړلو په وخت کې د نوکانو او داسې نورو ویښتانو د پرې کولو حکم

سوال: که څيري يو سړی د حج په ورځو کې د احرام تړلو نیت وکړي نو تر دې د مخه د نوکانو او برېتو پرې کول او صافول مستحب دي او که نه؟ حال دا چې د ایام عشره په سبب دغه سړي واجب قرباني هم رانیولې ده او یا یې اراده ده؟

الجواب: په دې صورت کې د نوکانو او برېتو پرې کول او صافول مستحب نه دي.

وګورئ په حدیث شریف کې راځي:

عن أم سلمة رضي الله عنها أن النبي ﷺ قال « إذا دخلت العشر وأراد أحدكم أن يضحى فلا يمس من شعره وبشره شيئًا ».وفي رواية عن أم سلمة رضي الله عنها ترفعه قال: إذا دخل العشر وعنده أضحية

يريد أن يضحى فلا يأخذن شعرا ولايقلمن ظفراً. (رواهما مسلم) قال الملال علی قاری: أن النهی للتنزيهية فخلافه خلاف الأولی ولاكراهة فيه.(المرقات:۳/ ۳۰۷، ملتان).

په غنية الناسک کي راځي:

فإذا أراد أن يحرم يستحب له قبل الغسل كمال التنظيف بأن يقص شاربه ويقلم أظفاره وينظف إبطيه .....تنبيه: وينبغی أن يستثنی منه من يحرم فی العشر وهو يريد التضحية فإن المستحب لمن يريد التضحية أن لايأخذ شعره ولايقلم ظفره فی العشر حتی يضحی لما فی صحيح مسلم. (غنية الناسک:۳٤، کراچی). والله تعالی اعلم.

په ذالقعده کي يې عمره وکړه نو د قصر حکم

سوال: يوه سړي په ذالقعده کي عمره وکړه اوس يې دا فکر وکړ چي قصر به وکړم يعني وربښتان به کوچني کړم د دې له پاره چي په حج کي حلق وسي نو اوس د ده له پاره قصر بهتر دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي صراحة د قصر د افضيلت عبارت د فقهي په يوه کتاب کي هم نه سته مګر فقهاوو او شروحو د متمتع له پاره قصر ذکر کړی دئ او دا سبب يې بيان کړی دئ چي تر يو څو ورځو وروسته د حج احرام تړم بيا سر خروم نو ځکه متمتع دي قصر وکړي له دې څخه معلومه سوه چي دغه سړی دي هم قصر وکړي چي د حج له پاره وربښتان پاته سي او حلق وسي.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن جابر بن عبد الله ﷺ قال قال أهل النبي ﷺ هو وأصحابه بالحج وليس مع أحد منهم هدي غير النبي ﷺ وطلحة رضي الله عنه وقدم علي رضي الله عنه من اليمن ومعه هدي، فقال: أهللت بما أهل به النبي ﷺ، فأمر النبي ﷺ أصحابه أن يجعلوها عمرةً ويطوفوا ثم يقصروا ويحلوا إلا من كان معه الهدي . (رواه البخاری:۱/ ۲۲٤).

په عمدة القاري کي راځي:

«قصروا» أمرهم بالتقصير لأنهم يهلون بعد قليل بالحج وأخر الحلق لأن بين دخولهم وبين يوم التروية أربعة أيام فقط. (عمدة القاری:۷/ ۱۱۵، ملتان).

په مرقات شرح مشکوة کي راځي:

«وقصروا» قال الطيبط رحمة الله عليه وإنما قصروا مع أن الحلق أفضل لأن يبقى لهم بقية من الشعر حتى بحلق فی الحج، وليكون شعرهم فی ميزان حجتهم أيضاً سببا لزيادة أجرهم وليكونوا داخلين فی المقصرين والمحلقين جامعين بين العمل بالرخصة والعزيمة.

(مرقات:۵/ ۲۹۷، ملتان). والله تعالیٰ اعلم.

نفل طواف د طواف صدر د قائم مقام کېدلو حکم

سوال: که چيري يو سړی تر طواف زيارت وروسته نفل طواف وکړي نو د طواف وداع (د رخصت د طواف) قائم مقام دئ او که نه؟

الجواب: تر طواف زيارت وروسته نفل طواف د وداع د طواف قائم مقام دئ.

په غنية الناسک کي راځي:

والشرط أصل النية لا التعيين حتى لوطاف بعد طواف الزيارة لايعين شيئاً أو نوى تطوعاً كان للصدر لأن الوقت تعين له، بدائع. (غنية الناسک فی بغية المناسک:۱۰۱، ادارة القرآن).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فأما تعيين النية بشرط حتى لو طاف بعد طواف الزيارة لايعين شيئاً أو نوى تطوعاً كان للصدر، لأن الوقت تعين له فتنصرف مطلق النية إليه كما فی صوم رمضان. (بدائع الصنائع:۲/ ۲۱۶، سعيد).

په زبدة المناسک کي راځي:

مسئله: په دې طواف کي که يې چيري د صدر طواف نيت نه وو کړي بيا هم روا کيږي بيا که چيري يو چا طواف زيارت وکړئ، وروسته يې نفلي طواف وکړئ او د تلو په وخت کي يې طواف نه وکړي نو بيا هم اداء سو. (زبدة المناسک مع عمدة السالک:صـ۲۲۸). والله ﷻ اعلم.

په مطاف کي د حجر اسود د ليکي حکم

سوال: اوس د حجر اسود ليکه خرابه سوې ده که چيري حاجي تر ليکي د مخه طواف ختم کئ يا يې تر ليکي وروسته طواف شروع کړي نو څه حکم يې دئ؟ ايا د ليکي موجوديدل بدعت دئ ځکه چي د نبي کريم ﷺ او خلفاء راشيدين په زمانه کي نه وه او عبد الله بن زبير رضي الله عنه په زمانه کي شروع سوه؟

الجواب: د حجر اسود ليکي د طواف کونکو د اسانی له پاره وي چي د حجر اسود برابر والی په اسانی سره معلوم سي دا پاته کېدل د اسانی له پاره ښه کار دئ همدا ډول کوم عمل چي خلفاء راشدين يا د صحابه وو په زمانه کي صحابه وو بېله انکاره کړی وي هغه بدعت نه دئ، که چيري په خپل خيال د حجر اسود پر برابرېې طواف شروع کئ او پر هغه ځای يې ختم کئ نو طواف وسو احتياطاً لږ د مخه دې شروع کړي.

په حديث شريف کي راځي:

عن جابر رضي الله عنه قال: لما قدم النبي ﷺ مكة دخل المسجد فاستلم الحجر ثم مضى على يمينه. (رواه الترمذي:۱/ ۱۷٤، باب كيفة الطواف).

په شرح لباب کي راځي:

ثم يقف مستقبل البيت بجانب الحجر الاسود مما يلي الركن اليمانى بحيث بصير جميع الحجر عن يمينه ويكون منكبه الأيمن عند طرف الحجر فنوى الطواف وهذه الكيفية مستحبة أى للخروج عن خلاف من يشترط المرور على الحجر بجميع بدنه. وقال الكرماني:

وهو الأكمل والأفضل عند الكل لأن الخروج عن الخلاف مستحب بالإجماع. (شرح لباب المناسک: ۱٤٤، بيروت).

د ډېر طواف افضيلت

سوال: ډېر طواف افضل دئ که ډېره عمره؟

الجواب: ډېر طواف افضل دئ په دې شرط چي په طواف کي لکه د عمرې دومره وخت مصرف کړي.

په شرح الباب کي راځي:

بقى الكلام فى أن إكثار الطواف أفضل أم إكثار الاعتمار؟ والأظهر تفضيل الطواف لكونه مقصوداً بالذات ولمشروعيته فى جميع الحالات ولكراهة بعض العلماء إكثارها فى سنة.

(شرح لباب المناسک: ۲۰۱، فصل فاذافرغ من السعى، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

والطواف أفضل من العمرة إذا شغل به مقدار زمن العمرة وتمامة فى المنحة ورد المحتار وقد قيل سبع أسابيع من الأطوفة كعمرة. (غنية الناسک فى بغية المناسک: ۷٤، فص فيما ينبغى له الاعتناء بعد الفراغ من السعى ايام مقامه مكة).

وكذا فى الشامى: ۲/ ۵۰۲، مطلب الصلاة افضل من الطواف وهو افضل من العمرة، سعيد).

په عمدة الفقه کي راځي:

ډېر طواف کول تر ډېرو عمرو افضل دئ ځکه چي طواف داسي عبادت دئ چي مقصد بالذات دئ او په ټولو حالاتو کي روا دئ حال دا چي په يوه کال کي ډېري عمرې کول د ځيني فقهاوو په نزد مکروه دي او کله چي له علامه قاضي ابراهيم مکي څخه پوښتنه وسه چي طواف افضل دئ که عمره؟ راجح قول دا دئ چي طواف هغه وخت پر عمره افضل دئ چي هغه دومره وخت په طوافو

مشغول سي چي څومره وخت چي يې په عمره کي صرف کړی وي. (عمدة الفقه: ٤/ ٣٠٥). والله تعالى اعلم.

د مسجد حرام تر توسيع (پراخېدو) وروسته د مسعی حکم

سوال: د مسجد حرام تر توسيع وروسته مسعی کوم چي په مسجد کي شامل دئ د مسجد حکم به وي حائضي او جنب ته داخلېدل ممنوع دي او که نه، او که مسعی پر خپل حکم باقي پاتيږي؟

الجواب: په دې صورت کي مسعی د مسجد حرام په ضمن کي راغله مګر د مسجد حرام په حکم کي نه دئ بلکي پر خپلو باقي احکامو باندي پاتې ده يعنی د حائضې او جنب ته دخول منع نه دئ.

وګورئ د مجمع الفقي الاسلام متفقه فيصله:

القرار الثالث: بشأن حكم المسعى بعد التوسعة السعودية: هل تبقى له الأحكام السابقة أم يدخل حكمه ضمن حكم المسجد.

الحمد لله، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، سيدنا ونبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم. أما بعد:

فإن مجلس المجمع الفقهي الإسلامي برابطة العالم الإسلامي في دورته الرابعة عشرة المنعقدة بمكة المكرمة التي بدأت يوم السبت ٢٠ من شعبان ١٤١٥هـ -٢١/ ١/ ١٩٩٥م؛ قد نظر في هذا الموضوع، فقرر بالأغلبية أن المسعى بعد دخوله ضمن مبنى المسجد الحرام لا يأخذ حكم المسجد ولا تشمله أحكامه، لأنه مشعر مستقل، يقول الله عز وجل ﴿ إن الصفا والمروة من شعائر الله فمن حج البيت أو اعتمر فلا جناح عليه أن يطوف بهما ﴾ (البقرة:١٥٨). وقد قال بذلك جمهور الفقهاء، ومنهم الأئمة الأربعة، وتجوز الصلاة فيه

متابعة للإمام في المسجد الحرام ،كغيره من البقاع الطاهرة، ويجوز المكث فيه والسعي للحائض والجنب، وإن كان المستحب في السعي الطهارة، والله أعلم.

وصلى الله على سيدنا محمد، وعلى آله وصحبه وسلم تسليمًا كثيرًا. والحمد لله رب العالمين.

رئيس مجلس المجمع الفقهي الإسلام: - عبد العزيز بن عبد الله بن باز.

نائب الرئيس: - أحمد محمد علي.

التوقيعات

محمد بن جبير، عبد الله عبد الرحمن البسام، عبد الرحمن حمزة المرزوقي – (مجلة المجمع الفقهي الإسلامي: ٢٩٥). والله ﷻ اعلم.

د احرام په حالت کي د نر له پاره د پنډۍ د لوڅو پرېښودلو حکم

سوال: د احرام په حالت کي د نارینه له پاره د پښې کومي حصې لوڅول ضروري دي؟

الجواب: د نر له پاره د پښې د شا هډوکي او بجلکو لوڅول ضروري دي.

په حدیث شریف کي راځي:

عن بن عباس رضي الله عنهما قال: سمعت النبي ﷺ يقول : إذا لم يجد إزارا فليلبس سراويل،وإذا لم يجد نعلين فليلبس خفين، وليقطعهما أسفل من الكعبين. (رواه النسائي:١/ ٩ - والبخاري:١/ ٢٤٨، عن ابن عمر).

د کعب تشریح وګورئ:

په لسان العرب کي راځي:

و كعب الإنسان: ما أشرف فوق رسغه عند قدمه، وقيل هو العظم الناشز فوق قدمه، وقيل هو العظم الناشز عند ملتقى الساق والقدم، وقيل الكعبان من الإنسان: العظمان الناشزان من

جانبی القدم، وقال ابن الأثير: الكعبان العظمان الناشزان عند مفصل الساق والقدم. (لسان العرب: ۱/ ۷۱۸ – وتاج العروس: ۱/ ٤٥٦).

په معجم مقاییس اللغة کې راځي:

كعب الرجل: وهو عظم طرفي الساق عند ملتقى القدم والساق. (معجم مقاييس اللغة: ٥/ ١٨٦).

په القاموس الفقهی کې راځي:

العظم الناشز عند ملتقى الساق، والقدم، المفصل بين الساق، والقدم، وعند الجعفرية: هو العظم المرتفع في ظهر القدم، الواقع في ما بين المفصل والمشط، ونسبه بعضهم إلى محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله . وحكاه الرافعي رحمه الله وجها للشافعية. (القاموس الفقهی: ۳۱۹).

په پورتنيو کتابو کې د کعب دوې معناوې معلومېږي:

۱_ د پښې پر شاه راپورته سوې هډوکی.

۲_ بجلکه هغه راپورته سوي هډوکي دئ چې د پنډۍ او پښې پر منځ دواړو طرفونو ته وي نو په هر پښه کې دوې بجلکې وي د احرام په حالت کې د دواړو لڅول ضروري دي.

د حديث شرح وګورئ:

علامه بدرالدين په عمدة القاري کې فرمايي:

قوله: وليقطعهما أسفل من الكعبين، كشف الكعبين في الإحرام وهما العظمان الناتئان عند مفصل الساق والقدم ويؤيده ما رواه ابن أبي شيبة عن جرير عن هشام بن عروة عن أبيه قال: إذا اضطر المحرم إلى الخفين خرق ظهورهما وترك فيهما قدر ما يستمسك رجلاه، وقال بعضهم: وقال محمد بن الحسن رحمه الله ومن تبعه من الحنفية: الكعب هنا هو العظم الذي في وسط القدم عند معقد الشراك، وقيل: إن ذلك لا يعرف عند أهل اللغة، قلت: الذي

قال: لا يعرف عند أهل اللغة، هو ابن بطال، والذي قاله هو لا يعرف، وكيف والإمام محمد بن الحسن رحمه الله إمام في اللغة والعربية؟ (عمدة القارى:٦/ ٥٨/ ١٥٤٢، باب مالايلبس المحرم من الثياب، ملتان – وكذا فى فتح البارى:٣/ ٤٠٣).

حضرت شيخ په اوجز المناسک کي فرمايي:

قوله: وليقطعهما من الكعبين المراد بهما ههنا عندنا معشر الحنفية معقد الشراک وهو المفصل الذي فى وسط القدم بخلاف المراد في الوضوء...... وقال المجد: الكعب كل مفصل للعظام والعظم الناشز فوق القدم والناشزان من جانبيهما.

قال الحافظ: وهما العظمان النائتان عند مفصل الساق والقدم ويؤيده ما رواه ابن أبي شيبة عن جرير عن هشام ابن عروة عن أبيه قال: إذا اضطر المحرم إلى الخفين خرق ظهورهما وترک فيهما قدر مايستمسک رجلاه،...... انتهى.

قلت: وليست شعري كيف أيد الحافظ كلامه بهذا الأثر، فإنه صريح فى أن المراد منه مفصل القدم لأنه ورد فى روايات كثيرة أنه ﷺ كان يمسح على ظهور الخفين ولم يقل أحد: إن محل المسح هو العظم الناتئ عند مفصل الساق والقدم وأيضاً قوله: وترک فيهما قدر ما يستمسک رجلاه: يومي إلى قول الحنفية، كما لا يخفى، وماحكاه الحافظ، وقيل: إن ذلک لايعرف عند أهل اللغة، تعقبه العيني وقال: محمد رحمه الله امام فى اللغة والعربية، وقال الرازي رحمه الله فى « تفسيره »: كان الأصمعي يختار هذا القول.... (اوجز المسالک:٦/ ٣٦٨، باب ما ينهى عن من لبس الثياب فى الإحرام، دار القلم، دمشق).

همداسي دفقهي كتابونه حوالي وګورئ:

(غنية المناسک:٤٥، کراچی – والشامی:٢/ ٤٩٠ – والدر المختار مع حاشية الطحطاوی:١/ ٤٩٤ – وارشاد الساری إلی مناسک الملا علی القاری مع شرح اللباب:١٣١، بیروت – ومعلم الحجاج:٢٣٦ – وزبدة المناسک مع عمدة السالک:١٠٤ – وعمدة الفقه:٤/ ١٤٠، کتاب المناسک، مجدديه).

په اکثر عوامو او خواصو کي دا خبره مشهور ده چي فقط د پښې د شاه هډوکي لوڅول ضروري دي دا بالکل غلط ده بلکي د دواړو طرفو بجلکي کومي چي په اوداسه کي پرېولل کيږي د هغو لوڅول هم ضروري دي. والله ﷻ اعلم.

د ښځو له پاره د رمل او مقام ابراهيم شا ته د لمانځه او تلبيه بالجهر حکم

سوال: ايا په اسلامي تاريخ کي يو ځای ذکر سوي دي چي ښځي رمل کولای نه سي او د ميلين اخضرين تر منځ هم نه سي ځغستلا سي او مقام ابراهيم ته نژدې لمونځ کولای نه سي او تلبيه هم په زوره ويلای نه سي ايا د نبي کريم ﷺ څخه د دې ممانعت منقول دئ او ازواج مطهرات دغه عمل کړی دئ او که نه؟

الجواب: د ښځو له پاره د ځيني شيانو ممانعت سته مثلا په زوره تلبيه ويل په طواف کي چابکتيا کول، په طواف کي رمل کول، د ميلين اخضرين تر منځ ځغستل، صفاء ته ختل، د رش او ازدحام په وخت کي حجر اسود مچول همدا ډول د رش په وخت کي ومقام ابراهيم ته نژدې لمونځ کول.

د رواياتو په رڼا کي د دغو مذکوره اعمالو ممانعت ثابت دئ همدا ډول د حضرت هاجرې عمل د نارينه وو له پاره ثابت دئ او د ښځو له پاره ثابت نه دئ ځکه چي ځغستل د هغې يو وقتي عمل وو او د ضرورت په سبب وو مګر د نارينه وو له پاره دا د يادګار په ډول ثابت دئ.

وګورئ په اعلاء السنن کي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه قال: ليس على النساء رمل بالبيت، ولا بين الصفا والمروة. (اخرجه الدر قطني:١/ ٢٨٧، ورجاله ثقات).

وعن ابن عمر رضي الله عنهما قال: لاتصعد المرأة على الصفا والمروة، ولاترفع صوتها بالتلبية (رواه الدر قطني: ١/ ٢٨٧، ورجاله ثقات). (اعلاء السنن: ١٥/ ٢٢٨، باب لاترفع المرأة صوتها بالتلبية ولاترمل ولاتسعى ولاتستلم الحجر الا ان تجد الموضع خالياً).

په مسند الامام شافعي كي راځي:

عن منبوذ بن أبي سليمان، عن أمه أنها كانت عند عائشة رضي الله عنها زوج النبي ﷺ فدخلت عليها مولاة لها فقالت لها: يا أم المؤمنين طفت بالبيت سبعا، واستلمت الركن مرتين أو ثلاثا فقالت لها عائشة: لا أجرك الله، لا أجرك الله، تدافعين الرجال، إلا كبرت ومررت. (مسند الامام الشافعي: ٣٤٥).

د مسند امام شافعي رحمه الله په حاشيه كي راځي:

قد فهمنا من الحديث السابق، أنه إذا اشتد الزحام على الحجر الأسود فلا داعي لإنتظار الرجال ولتزاحمهم، وقد بين هذا الحديث أن النساء أولى بهذا الحكم وأنهن لا ينبغيُ لهن أن تزاحمن الرجال لما في ذلك من الإخلال بالأدب، ولذا أنكرت عائشة على مولاتها مدافعتها الرجال واستلام الركن ودعت بأن يحرمها الله الأجر، وقالت لها: ألا كبرت ومررت أي: هذا الذي كان ينبغي لك. (حاشية مسند الامام الشافعي: ٣٤٥، رقم الحاشية: ١).

همدا ډول وګورئ: (تحفة الفقهاء: ٢/ ٤١٤ – وغنية الناسك: ٤٩ – ومعلم الحجاج: ١١٠). والله تعالى اعلم.

د احرام په حالت كي وښځو ته پر مخ د پردې اچولو حكم

سوال: د احرام په حالت كي د ښځو په اړه د احنافو مذهب دا دئ چي پر مخ دي يو ټوكر واچوي مګر دېر ځله ليدل كيږي چي ښځو ته په دې كي تكليف وي چي د هغه په سبب ځيني ښځي كومي چي پرده نشين دي مګر په دغو ورځو كي پرده پر پرېږدي چي په هغه كي د فتنې خطره ده او د ځيني پرده نشين ښځي پر حجاب د اصرار په حالت كي پر مخ ټوكر اچوي چي د هغه په سبب په لار ليدو

کي تکليف وي نو ځکه د غور وړ خبره دا ده چي د هغو دوو سببو په سبب (۱) حرج، (۲) د فتنې په سبب په عام ډول د برقعې د استعمال اجازه ورکول کېداى سي او يا که يو بل صورت د حرج او تکليف د رفع کولو له پاره وي نو بيان يې کړه؟

الجواب: په دې صورت کي ښځو ته د عام حجاب د استعمالولو اجازه نه سته که چيري يې پوره يوه ورځ استعمال کي نو دم واجب دئ ځکه د ښځو احرام په مخ کي دئ يعنى اصل دا دئ چي مخ به يې لوڅوي او يو ټوکر به يې پر مخ نه وي مګر څنګه چي د فتنې خطره ده نو ځکه د ټوکر اجازه ورکول سوې ده په داسي ډول چي هغه به له مخ سره نه وي لګېدلى او دا خبره له حضرت ام المؤمنين عائشې ﵂ څخه ثابته سوې ده چي هغې داسي وړيل که چيري تکليف وي نو يو څو ورځي دې په خوشحالي سره برداشت کړي ځکه چي د حج سفر د زحمتو سفر دئ او قاعده او قانون دئ چي الاجر بقدر التعب د مشقت په اندازه ثواب رسيږي نو ځکه دې ته بايد سړي مشقت ونه وايي. د دې څخه پرته که چيري ښځي په عامو خلکو کي وي نو بيا دي برقعه استعمال کړي او کله چي تر خپله ځايه پوري ورسيږي نو بيا دې پورته کړي په دې صورت کي څنګه يې چي ټوله ورځ برقعه نه ده استعمال کړې نو ځکه دم نه لازميږي، البته تر يوې ورځ يې چي کم مخ پټ کړئ نو ځکه د صدقې فطر په اندازه فديه واجب ده.

پر مخ باندي د ټوکر اچول د احاديث مبارکه ثابت دئ:

وګورئ په سنن ابي داؤد کي راځي:

حدثنا أحمد بن حنبل حدثنا هشيم نا يزيد بن أبي زياد عن مجاهد عن عائشة ﵂ قالت: كان الركبان يمرون بنا ونحن محرمات مع رسول الله ﷺ فإذا حاذوا بنا سدلت إحدانا جلبابها من رأسها إلى وجهها فإذا جاوزونا كشفناه. (سنن ابی داؤد: ۱/ ۲۵٤، وفيه يزيد بن ابی زياد وهو ضعيف، وابن ماجه: ص ۲۱۰، باب المحرمة تسدل الثوب علی وجهها).

۲_ په مسند احمد کي راځي:

حدثنا عبد الله حدثني أبي ثنا هشيم قال: انا يزيد بن أبي زياد عن مجاهد عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان الركبان يمرون بنا ونحن مع رسول الله ﷺ محرمات ..... الخ. (مسند احمد بن حنبل:٦/ ٣٠ – وفيه يزيد ابى زياد وهو ضعيف – وسنن كبرى للبيهقى:٥/ ٤٨، باب المحرمة تلبس الثواب من علو فيسترو جهها و تجافى عنه، دار المعرفة).

۳_ په مسند امام شافعي کې راځي:

أخبرنا سعيد بن سالم، عن ابن جريج، عن عطاء، عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: تدلي عليها من جلابيبها ولا تضرب به، قلت ما تضرب به؟ فأشار لي كما تجلب المرأة ثم أشار إلى ما على خدها من الجلباب، فقال: لا تغطيه فتضرب به على وجهها فذلك الذي لا يبقى عليها، ولكن تسدله على وجهها، كما هو مسدولاً ولا تقلبه ولا تضرب به ولا تعطفه. (مسند الامام الشافعى:١/ ٣٠٣/ ٧٨٨، الباب الرابع فيما يلزم المحرم عند تلبسه بالاحرام، دار المعرفة).

۳_ په سنن کبری کې راځي:

عن معاذة عن عائشة رضي الله عنها قالت: المحرمة تلبس من الثياب ما شاءت إلا ثوبًا مسه ورس أو زعفران ولا تتبرقع ولا تلثم وتسدل الثوب على وجهها إن شاءت. (السنن الكبرى للبيهقى:٥/ ٤٧، باب المرأة لاتنتقب فى احرامها ولاتلبس القفازين، بيروت).

۴_ په المحلى بالآثار کې راځي:

ومن طريق حماد بن سلمة عن قيس بن سعد عن عطاء عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: المحرم يغطى ما دون الحاجب والمرءة تسدل ثوبها من قبل قفاها على هامتها. (المحلى لابن حزم:٥/ ٧٨، ٧٩).

۵_ په موطا امام مالک کې راځي:

عن فاطمة بنت المنذر أنها قالت :كنا نخمر وجوهنا ونحن محرمات ونحن مع أسماء بنت أبي بكر الصديق رضي الله عنه فلا تنكره علينا. وقال الزرقاني: يحتمل أن يكون ذلك التخمير سدلاً كما جاء عن عائشة رضي الله عنها قالت..... الخ. (موطا امام مالک مع الحاشية:٣٣٤، باب تخمير المحرم وجهه، آرام باغ كراچى - وكذا فى المستدرک للحاكم:١/ ٤٥٤ - وصحيح ابن خزيمة:ص ٢٦٩٠).

په پورتينو احاديثو کي د ((سدل)) لفظ ذکر دئ چي د هغه معنا ده ځړول او ځړول هغه وخت کيږي چي له مخ سره نه ولګيږي که داسي نه وي هغه ته پر مخ پروت وايي.

په تاج العروس کي راځي:

سدل الشعر والثوب والستر يسدله وأسدله أي أرخاه وأرسله، وقال أبو عبيد: السدل المنهى عنه فى الصلاة هو إسيال الرجل ثوبه من غير أن يضم جانبيه فإن ضمهما فليس بسدل. (تاج العروس:٧/ ٣٧٤ - وكذا فى لسان العرب:١١/ ٣٣٣).

د فقهاوو عبارتونه وګورئ:

په بدائع الصنائع کي يې وګورئ:

وعن عائشة رضي الله عنها أنها قالت : كان الركبان يمرون بنا ونحن محرمات مع رسول الله ﷺ ..... الخ. فدل الحديث على أنه ليس للمرأة أن تغطي وجهها وأنها لو أسدلت على وجهها شيئًا وجافته عنه لا بأس بذلك ؛ ولأنها إذا جافته عن وجهها صار كما لو جلست في قبة ، أو استترت بفسطاط . (بدائع الصنائع:٢/ ١٨٦، سعيد).

په ارشاد الساري کي راځي:

قوله ليس للمرأة الخ..... قال العلامة السيد محمد يس مير غنى، ولو سدلت على وجهها شيئاً وجافته أى أبعدته عنه جاز بل ندب أو وجب كما فى الكبير عن النهاية نعم ينبغى أن بحضرة الرجال سدلته، وأن بدونهم رفعته، يكره لها أن تلبس البرقع لأنه يمس الوجه، فلو استمر يوما أو ليلة لزمه دم، وهل لو استمر قدر أحدهما إذا كان متفرقاً جمع؟ الذى يفهم من أبواب كثيرة أن حكم المجتمع إذا بلغ ذلك كحكمه، وقال شيخنا» لم أر نصا صريحاً فى الباب، وإن كان أقل من يوم أو ليلة صدقة، فلو لبست البرقع عند حضور الرجال، نزعته عند عدمه لايضر إذا عادت إليه مرة أخرى، ويكون الموجب واحداً إلا إذا عزمت عند النزع أن لاتعود، فيتكرر الموجب، والله أعلم.....

وقد ذكروا أن المرأة إذا غطت وجهها بلا حائل يوماً كاملاً أو ليلة فعليها دم، وإلا فصدقة وصرحوا بأنها إذا فعلت ذلك لضرورة تخير فى الكفارة، كذا فى البحر الزاخر وغيره.....

والغالب فى نساء أهل مكة لبسهن البراقع حيث خروجهن إلى الركوب فإذا ركبن كشفن وجوههن لركوبهن فى الشقادف المستورة فلا يستمر ستر وجوههن بل يكون ذلك فى كل مرة أقل من ساعة فلكية، فحيث كان ذلك يلزمهن لكل مرة قبضة من طعام. (ارشاد السارى على شرح اللباب:۳٤۳، فصل فى تغطية الرأس والوجه، بيروت – وكذا فى غنية الناسک فى بغية المناسک:٤۹، فصل فى احرام المرأة، ادارة القرآن كراچى – والدر المختار مع الشامى:۲/ ۵۲۷، سعيد – و اوجز المسالک:۳/ ۳۲۱- وبذل المجهود:۹/ ٦۲ – وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۵۲۱).

مالكيي مذهب :

د دسوقي په حاشيه کي راځي :

حرم بالإحرام ..... وستر وجهه أو بعضه إلا لستر عن أعين الناس فلا يحرم بل يجب إن ظنت الفتنة بها بلا غرز بإبرة ونحوها و لا ربط أي عقد قوله إلا لستر ..... أي إلا إذا أرادت بستر وجهها الستر عن أعين الناس فلا يحرم ستره حينئذ حيث كان الستر من غير غرز وربط . حاصله: أنه متى أرادت الستر عن أعين الرجال جاز لها ذلک مطلقاً علمت أو ظنت الفتنة بها أم لا، نعم إذا علمت أو ظنت الفتنة بها كان سترها واجباً. (حاشية الدسوقى مع الشرح الكبير:۲/ ۸٦، فصل حرم بالاحرام، دار الفكر – وكذا في الفقه الاسلامى وادلته:۳/ ۲۲٤، محظورات الاحرام، دار الفكر).

شافعيي مذهب :

په شرح مهذب کي راځي :

ويحرم على المرأة ستر الوجه.... ويجوز أن تستر من وجهها ما لا يمكن ستر الرأس الا بستره لانه لا يمكن ستر الرأس إلا بستره فعفى عن ستره فان أرادت ستر وجهها عن الناس سدلت على وجهها شيئا لا يباشر الوجه لما روت عائشة رضي الله عنها قالت: كان الركبان.... الخ. (شرح المهذب:۷/ ۲۵۰، دار الفكر).

حنابلي مذهب :

په المغنى کي راځي :

أن المرأة يحرم عليها تغطية وجهها في إحرامها ، كما يحرم على الرجل تغطية رأسه ..... فأما إذا احتاجت إلى ستر وجهها ، لمرور الرجال قريبًا منها ، فإنها تسدل الثوب من فوق رأسها على وجهها، روي ذلك عن عثمان رضي الله عنه، وعائشة رضي الله عنها وبه قال عطاء رحمه الله ومالك

رحمه الله، والثوري رحمه الله، والشافعي رحمه الله، وإسحاق رحمه الله، ومحمد بن الحسن رحمه الله
ولا نعلم فيه خلافًا ؛ وذلك لما روي عن عائشة رضي الله عنها قالت : كان الركبان يمرون بنا .... الخ

(المغنى لابن قدامة الحنبلى:۳/ ۳۰۵، دار الكتب العلمية). والله تعالیٰ اعلم.

د سعي وروسته کولو حکم

سوال: طواف زيارت تر د اختر تر ورځو وروسته کول روا نه دي مګر د سعی څه حکم دئ؟ نو ايا د سعی تاخير کېدلای سي او که نه؟

الجواب: د احنافو په نزد سعی واجب ده او بېله عذره يې ځنډول مکروه او د سنت خلاف کړنه ده.

وګورئ په شرح الباب کي راځي:

إذا فرغ من الطواف أى الطواف الذي بعده سعى، فالسنة أن يخرج للسعي على فوره أى ساعته من غير تاخير فإن أخره لعذر أي لضرورة أو ليستريح أي ليحصل له الراحة أو تعود إليه القوة، فلا بأس به أي لايكون مسيئاً وإن أخره لغير عذر أي من استراحة وغيرها فقد أساء أي لتركه المولاة التي هي سنة بين الطواف والسعى ولاشيء عليه أي من الجزاء بالدم أو الصدقة.... السعى المطلق بين الصفا والمروة واجب إجماعاً على الرجال والنساء.(شرح اللباب:۱۸۹، باب السعى بين الصفا والمروة، بيروت).

وفيه أيضاً: فصل فى مكروهاته:..... وتاخيره أي تاخير السعى عن وقته أي عن زمانه المختار تاخيرا كثيراً من غير عذر. (شرح اللباب:۱۹۹، مكروهات السعى، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

ولايجب الإتيان به بعد الطواف فوراًبل لو أتى به بعد زمان ولو طويلًا لاشيء عليه والسنة الاتصال به ..... فإن أخره لعذر أو ليستريح من تعبه لابأس به وإن أخره لغير عذر فقد أساء

ولاشيء عليه. (غنية الناسک باب السعي بين الصفا والمروة، ص ٦٨، کراچی – وکذا فی حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۱ – وزبدة المناسک:۲ ۱۴۲). والله تعالیٰ اعلم.

په مزدلفه کي وقوف (درېدو) په وخت کي د لېونتوب د لاحق کېدو څخه د حج حکم

سوال: يوه ښځي په مزدلفه کي د درېدو په وخت کي لېونۍ سوه او تر اوسه لېونۍ ده او دغه ښځه له طواف زيارت څخه محرومه سوه اوس د حلالېدو څه صورت دئ؟ همدا ډول د تاخير کفاره يې څه ده؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري د ښځې له طرفه څخه يو چا طواف زيارت وکئ نو د دې ښځي حج اداء سو او بيا تر جوړېدو وروسته پر دې ښځي طواف زيارت لازم دئ او د څنګه په سبب پر دې ښځي هيڅ کفاره او نور نه لازميږي ځکه چي دا د عذر حالت دئ چي معاف دئ.

وګورئ په الباب المناسک کي راځي:

ولو أحرم صحيح أی عاقل ليس فيه مرض الجنون ثم جن فأدى المناسک أي بمباشر ته لها أي بنيابة عنه فی بعضها ثم أفاق بعد سنين يجزئه عن الفرض إلا أنه يلزمه الطواف فإنه يشترط فيه أصل النية ولاتجزء فيه النية. (لباب المناسک مع شرحه:۴۲، باب شرائط الحج، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

ولو أحرم صحيح ثم جن فقضى به أصحابه المناسک ونووا عنه فی الطواف به ثم أفاق ولو بعد سنين أجزأه عن الفرض ويجوز النيابة عنه في نية الطواف للضرورة وإن لم تجز فی نفس الطواف لإمكانه محمولاً فإن طافوا به ولكنهم لم ينووا عنه لزمه الطواف بعد الإفاقة. (غنية الناسک:۴، شرائط الحج، ادارة القرآن – وشرح اللباب:۲۵۷، بيروت).

په عمدة الفقه کي راځي:

که چيري يو صحيح عاقل احرام وتړي (د احرام د تړلو په وخت کي هغه ولېوني نه وو) بيا هغه وروسته لېونی سو يا د احرام په وخت کي جوړ وو او هغه په نيت او تلبيه پوهېدئ او هغه دواړه يې اداء کړل بيا هغه مناسک په داسي ډول اداء کړل چي د هغه له طرفه نيابة يو بل سړي ځيني مناسک اداء

کړل او د هغه د طرفه يې د طواف زيارت نيت وکړئ بيا تر حج کولو وروسته هغه لېوني جوړ سو که څه هم ځو کاله وروسته وي فرض اداء سو او د هغه له طرفه د طواف زيارت په نيت کي نيابت د ضروروت په سبب روا دئ مګر په نفس طواف کي نيابت روا نه دئ. (عمدة الفقه:٤/ ٣٢/ وزبدة المناسک:٣/ ٤٠) . والله ﷻ اعلم.

تر طواف زيارت د مخه د مړه کېدلو څخه د حج حکم

سوال: که چيري پر عرفات تر درېدو وروسته د طواف زيارت د مخه که څوک مړ سو نو د حج څه حکم يې دئ؟

الجواب: د حج تر فرضيت وروسته په هغه کال د حج له پاره ولاړئ نو د طواف زيارت وصيت لازم نه دئ او حج يې وسو ځکه چي هغه اول کال حج وکړئ نو هغه د خپل قدرت موافق څومره چي کولای سوای هغه يې وکړه مګر که چيري يې تر فرضيت وروسته ځنډ وکړئ نو د تقصير په سبب د دم وصيت لازم دئ.

په سنن کبری کي راځي:

من وقف معنا بعرفة فقد تم حجه. (السنن الكبرى للبيهقي:٥/ ١١٦، ادارة المعرفة).

په شرح لباب کي راځي:

إذا مات بعد الوقوف بعرفة وأوصى بإتمام الحج تجب البدنة لطواف الزيارة وجاز حجه أي صح وكمل لكن فى الطرابلسي عن محمد فيمن مات بعد وقوفه بعرفة، وأوصى بإتمام الحج يذبح عن بدنة للمزدلة والرمي والزيارة والصدر وجاز حجه فهذا دليل على أنه إذا مات بعرفة بعد تحقق الوجوب يجبر عن بقية أعماله البدنة، فلا ينا فى ما في المبسوط أنه يجب البدنة لطواف الزيارة إذا فعل بقية الأعمال إلا الطواف ويؤيده ما فى فتاوى قاضيخان والسراجية أن الحاج عن الميت إذا مات بعد الوقوف بعرفة جاز عن الميت، لأنه أدى ركن الحج أي ركنه الأعظم الذي لايفوت إلا بفواته لقوله ﷺ « الحج عرفة ». (شرح اللباب:٢٥٨،

فصل فی شرائط صحة الطواف، بیروت – وکذا فی غنیة الناسک:۹۵، باب طواف الزیارة، کراچی – ومعلم الحجاج:۱۷۹). والله تعالیٰ اعلم.

که د جمعې په ورځ عرفه واقع سوه نو د حج اکبر ویلو حکم

سوال: که چیري د جمعې په ورځ عرفه واقع سوه نو خلک وديٖ ته حج اکبر وايي او وايي چي په دې کي داويا (۷۰) حجونو ثواب دئ شرعا د دې څه حیثیت دئ؟

الجواب: د حج اکبر په تفسیر کي مفسرینو مختلف اقوال دي مګر چي د جمعې په ورځ عرفه واقع سوه نو خلک دې ته حج اکبر وايي دا صحیح او درسته نه ده، البته نفس فضیلت یې ثابت دئ که څه هم حدیث ضعیف دئ خو په فضائلو کي معتبر دئ یعني د ثواب په امید ساتلو کي څه باک نه سته.

په حدیث شریف کي راځي:

«أفضل الأيام يوم عرفة إذا وافق يوم الجمعة وهو أفضل من سبعين حجة فی غير جمعة».

یعنی په ورځو کي ښه ورځ د عرفې ورځ ده کله چي عرفه د جمعې په ورځ واقع سي نو هغه حج تر اویا حجونو افضل دئ کوم حجونه چي د جمعې پرته دي.

ملا علي قاري رحمه الله مستقله رساله ((الحظ الأوفر في الحج الأكبر)) کي لیکلي دي له هغوی څخه ملخصات ستاسو په خدمت کي دي:

اعلم أن العلماء اختلفوا فی وصف الحج بالأكبر فقال بعضهم: إنما قيل له الحج الأكبر لأنه يقال فی حق العمرة إنها الحج الأصغر لقلة عملها ومشقتها أو لنقصان مقامها ورتبتها. وقال مجاهد الحج الأكبر هو القرآن والحج الأصغر هو الإفراد من القرآن، وهو الملائم لمذهبنا، وجمهور العلماء المحققين والمحدثين الجامعين بين طرق ما رود فی حجه صلى الله عليه وسلم وشرف وكرم وعظم، على مابينه الحافظ ابن حزم فی تصنيف مختص بهذا الباب، وتبعه الإمام النووی رحمه الله وغيره فی ذلک، وقرروه وجعلوه هو الصواب، ثم

روی عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنه « أن يوم الحج الأكبر هو يوم عرفة » يعني ولو لم يكن يوم الجمعة، وروى ذلك أيضاً مرفوعاً وروى عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه موقوفاً وهو قول جماعة من أكابر التابعين كعطاء وطاووس ومجاهد وسعيد بن مسيب وغيرهم من أئمة الدين فأخرج ابن أبى حاتم، وابن مردويه، والفقيه أبو الليث السمرقندي فى تفسر قوله تعالى « يوم الحج الأكبر » التوبة:۳، عن المسور بن مخرمة أن رسول الله ﷺ قال: يوم عرفة هذا هو يوم الحج الأكبر » وفي هذا إشارة إلى المعنى المشتهر فتدبر..... وقال جماعة: يوم الحج الأكبر هو يوم النحر فقد روي عن يحيى بن الجزار قال: خرج على رضي الله عنه يوم النحر على بغلة بيضاء يريد الجبانة فجاءه رجل وأخذ بلجام دابته وسأله عن يوم الحج الأكبر فقال: يومک هذا خل سبيلها، وكذا روى الترمذى عنه، ورواه أبو داود عن أبي هريرة رضي الله عنه، ويروى ذلک عن عبد الله بن أبي أوفى، والمغيرة بن شعبة، وهو قول الشعبي، والنخعي، وسعيد بن جبير، والسدي، قلت: ولعله سمى بالحج الأكبر لأن أكثر الأعمال الحج يفعل فيه من الرمى والذبح والحلق وغيرها.... ونقل فى التاتار خانية عن المحيط: أن الحج الأكبر المذكور فى الآية هو طواف الإفاضة أي لأنه يتم به الحج، فإنه آخر أركانه..... وروى ابن جريج عن مجاهد: يوم الحج الأكبر أيام منى كلها، وكان سفيان الثوري رحمه الله يقول: يوم الحج الأكبر أيام منى كلها..... وقال عبد الله بن الحارث بن نوفل: يوم الحج الأكبر اليوم الذي حج فيه رسول الله ﷺ وهو ظاهر فإنه ظهر فيه عز المسلمين وذل المشركين، وهو قول ابن سرين.....

فالحاصل: أن فی یوم الحج الأکبر أربعة أقوال: الأول: أنه یوم عرفة، والثانی: أنه یوم النحر، والثالث: أنه طواف الإفاضة، والرابع: أنه یوم أیام الحج کلها، ولاتعارض فی الحقیقة لأن الأکبر والأصغر أمران نسبیان، فحج الجمعة أکبر من حج غیرها وحج القران أکبر من حج الإفراد والحج مطلقاً أکبر من العمرة، ویسمی الجمیع بالحج الأکبرو یتفاوت کل بحسب مقامه الأنور....

وأما إطلاق الحج الأکبر علی حج مخصوص بطریق العموم علی یوم عرفة إذا وافق یوم الجمعة علی ما اشتهر علی الألسنة، وألسنة الخلق أقلام الحق، فإنما هو أمر آخر وصار اصطلاحاً عرفیاً فی الأثر..... وذکر الإمام الزیلعی رحمه الله فی شرح کنز الدقائق وهو من جملة الأئمة الحنفیة، ومن أجلة المحدثین فی الملة الحنیفیة عن طلحة بن عبید الله وهو أحد العشر المبشرین تغمدهم بالرضوان والمغفرة، أنه ﷺ قال: أفضل الأیام یوم عرفة إذا وافق یوم الجمعة وهو أفضل من سبعین حجة فی غیر جمعة» رواه رزین بن معاویة فی تجرید الصحاحف وأما ما ذکره بعض المحدثین فی إسناد هذا الحدیث بأنه ضعیف فعلی تقدیر صحته لایضر فی المقصود فإن الحدیث الضعیف معتبر فی فضائل الأعمال عند جمیع العلماء من أرباب الکمال، وأما قول بعض الجهال: إن هذا الحدیث موضوع، فهو باطل مصنوع مر دود علیه، ومنقلب إلیه لأن الإمام رزین بن معاویة العبدری من کبراء المحدثین ومن عظماء المخرجین، ونقله سند معتمد عند المحققین، وقد ذکره فی تجرید صحاح الست، فإن لم یکن روایة صحیحة فلاأقل من أنها ضعیفة، کیف وقد اعتضد بما ورد أن العبادة تضاعف في یوم الجمعة مطلقاً بسبعین ضعفاً بل بمائة ضعف هذا وذکر

النووی رحمه الله فی منسکه أنه قیل: إذا وافق یوم عرفة یوم الجمعة غفر لکل أهل الموقف.....ولاشک أن یوم الجمعة أفضل أیام الأسبوع، وأن یوم عرفة أفضل أیام السنة فإذا اجتمعا فهو نور علی نور یهدي الله لنوره من یشاء ومن لم یجعل الله له نوراً فما له من نور. («الحظ الاوفر فی الحج الاکبر» للعلامة الملا علی القاری علی هامش شرح اللباب:۵۲۶-۵۳۰، باب المتفرقات).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی الشامی:۲/ ۶۲۲، سعید – وحاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۵۵۹ – واتحاف السادة المتقین شرح احیاء علوم الدین:۴/ ۲۷۴ – وامداد المفتین: جلد دوم، ۵۰۰، کتاب الحج، دار الاشاعت – وفتاوی محمودیه:۱۰/ ۲۹۴ – فتاوی فریدیه:۴/ ۲۴۹، باب تفسیر الحج وشرائطه وارکانه – وفتاوی رحیمیه:۲/ ۴۷). والله تعالی اعلم.

د رش په سبب د شپې په وخت کې د رمی کولو حکم

سوال: د رش په سبب د شپې په وخت کې رمی کول د ناریینه وو له پاره روا دئ او که نه او په دې کې کراهت سته او که نه؟

الجواب: څرنګه چې نن سبا ډېر رش عذر دئ نو ځکه د شپې په وخت کې رمی کول بیله کراهته باید روا سي.

په حدیث شریف کې راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم رخص للرعاء أن یرموا لیلاً. (رواه البزار وابن ابی شیبة والدار قطنی من طریق عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده وزاد و ای ساعة شائو امن النهار).

په هدایه کې راځي:

وإن أخر إلی اللیل رماه ولاشی علیه لحدیث الرعاء انتهی. (الهدایة:۱/ ۲۵۳).

په بدائع الصنائع کې راځي:

أما يوم النحر فأول ، وقت الرمي ، منه ما بعد طلوع الفجر ، الثاني من يوم النحر فلا يجوز قبل طلوعه .... فكان آخره وقت الرمي كسائر الأيام ، فإن لم يرم حتى غربت الشمس فيرمي قبل طلوع الفجر من اليوم الثاني أجزأه ولا شيء عليه في قول أصحابنا ...... والصحيح قولنا لما روي أن رسول الله ﷺ أذن للرعاء أن يرموا بالليل، ولا يقال: إنه رخص لهم ذلك لعذر ؛ لأنا نقول ما كان لهم عذر ؛ لأنه كان يمكنهم أن يستنيب بعضهم بعضًا فيأتي بالنهار فيرمي فثبت أن الإباحة (ما) كانت لعذر فيدل على الجواز مطلقًا .... وأما وقت الرمي من اليوم الأول والثاني من أيام التشريق ، وهو اليوم الثاني والثالث من أيام الرمي فبعد الزوال حتى لا يجوز الرمي فيهما قبل الزوال في الرواية المشهورة عن أبي حنيفة رحمه الله .... فإن أخر الرمي فيهما إلى الليل فرمى قبل طلوع الفجر جاز ، ولا شيء عليه ؛ لأن الليل وقت الرمي في أيام الرمي لما روينا من الحديث . (بدائع الصنائع:۲/ ۱۳۷، سعيد).

په غنية الناسک کي راځي:

تنبيه: قد تبين مما قدمنا أنهم جعلوا خوف الزحام عذرا للمرأة ولمن به علة أو ضعف فی تقديم الرمی قبل طلوع الشمس أو تاخيره إلى الليل. (غنية الناسک:۱۰۰، باب رمی الجمار، ادارة القران).

وأيضاً فيه : أن الليالی فی الحج فی حکم الأيام الماضية. (غنية الناسک:۹۷، باب رمی الجمار).

په زبدة الناسک کي راځي:

د نر او ښځي له پاره په عذر کي د رمی حکم برابر دئ مګر د ښځي له پاره د رش په سبب د شپې رمی کول افضل دي. (زبة الناسک مع عمدة المسالک:ص ۱۸٤).

د مسائل و معلومات حج په حاشیه کي ذکر دي:

د رش په سبب امید سته چي انشاء الله کراهت به پاته نه سي. (حاشية مسائل ومعلومات: ۸٦).

د دې کتاب د مصنف حضرت محمد معین الدین احمد بیان دئ چي دغه کتاب د متفق علیه او زیات مستند جوړولو له پاره ما ضروري وبلله چي د پاکستان د حنفي فقه د دوو مسلکونو یعني دیوبندي او بریلوي دواړو د غټو علماوو او مفتیانو څخه یې تصدیق وسي څنګه چي د جامعه العلوم الاسلامیه بنوري ټاون کراچي شیخ الحدیث حضرت مفتي ولي حسن ټونکي صاحب د مدرسه عربیه انوار العلوم شیخ الحدیث علامه سید احمد کاظمي رحمه الله او د دار العلوم امجدیه کراچي مولانا مفتي ظفر علي نعماني مدظله خاص د دین د خدمت په خاطر د هغه تصدیق او توثیق وکړي او ما ته یې د مشکور او ممنون کېدو موقع راکړه. فجزا هم الله احسن الجزاء. (مسائل ومعلومات حج وعمری:ص ٤).

تر زوال مخکی د یوولسمي او دولسي د رمی کولو حکم

سوال: د احنافو په نزد د یوولسمي او دولسمي رمی قبل الزوال (تر زوال مخکي) ورا دئ او که نه؟ ځیني خلک دا روا بولي؟

الجواب: د احنافو په نزد د مشهور ورایت موافق د یوولسمي او دولسمي رمی قبل الزوال روا نه ده، البته له امام صاحب څخه غیر مشهور روایت دئ چي هغه علامه کاساني په بدائع الصنائع کي او حاکم شهید رانقل کړی دئ مګر مرجوح او کمزوری دئ او پر دې فتوی نه ده ور کول سوې.

وګورئ په شرح اللباب کي راځي:

وقت رمي الجمار الثلاث في اليوم الثاني والثالث من أيام النحر بعد الزوال فلا يجوز قبله أي قبل الزوال فيهما في المشهور أي عند الجمهور كصاحب الهداية وقاضي خان والكافي والبدائع وغيره، وقيل يجوز الرمي فيهما قبل الزول لما روي عن أبي حنيفة أن الأفضل أن يرمي فيهما بعد الزوال، فإن رمى قبله جاز، فحمل المروي من فعله صلى الله عليه وسلم

على اختيار الأفضل كما ذكره صاحب المنتقى والكافى والبدائع وغيرها، وهو خلاف ظاهر الرواية. (لباب المناسک مع شرحة، ص ۲۶۲، باب رمى الجمار وأحكامه).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وأما وقت الرمي من اليوم الأول والثاني من أيام التشريق ، وهو اليوم الثاني والثالث من أيام الرمي فبعد الزوال حتى لا يجوز الرمي فيهما قبل الزوال في الرواية المشهورة عن أبي حنيفة وروي عن أبي حنيفة أن الأفضل أن يرمي في اليوم الثاني والثالث بعد الزوال ، فإن رمى قبله جاز ، وجه هذه الرواية أن قبل الزوال وقت الرمي في يوم النحر فكذا في اليوم الثاني والثالث ؛ لأن الكل أيام النحر. (بدائع الصنائع:۲/ ۱۳۷، سعيد).

په حاشية الهدايه کې راځي:

ذكره الحاكم الشهيد أنه كان أبو حنيفة رحمه الله يقول: الأفضل أن يرمى فى اليوم الثانى والثالث بعد الزوال فإن رمى قبله جاز. (حاشية الهداية:۱/ ۲۵۲).

همدا ډول وګورئ: (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۵۲۰، سعيد — وغنية الناسک فى بغية المناسک:ص ۹۷ — والمبسوط للعلامة السرخسى:۴/ ۶۸). والله تعالى اعلم.

د اختر د ورځې تر رمې وروسته د ولاړې په حالت کې د دعاء کولو حکم

سوال: کله چې د اختر اوله ورځ وي د جمره عقبه رمى وکړي نو د دعاء له پاره جلا دریدل په کار دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د دوعاء له پاره درېدل ثابت نه دي نو ځکه د رمى وروسته دي هلته نه پاتېږي.

وګورئ په الدر المختار کې راځي:

فلا يقف بعد الثالثة و لا بعد رمي يوم النحر لأنه ليس بعده رمي. وفى الشامى: (قوله فلا يقف بعد الثالثة) أي جمرة العقبة لأنها ليس بعدها رمي فى كل يوم قال فى اللباب والوقوف عند الأولين سنة فى الأيام كلها. (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۵۲۱).

په شرح اللباب کې راځي:

ولا يقف عندها فى جميع أيام الرمي للدعاء. (شرح اللباب:۲۶۹، بيروت).

په غنية الناسک کې راځي:

وإذا فرغ من الرمي لايقف للدعاء عند هذه الجمرة (أى عقبة) فى الأيام كلها بل ينصرف داعياً. (غنية الناسک فى بغية المناسک:ص ۹۲، ادارة القرآن).

همدا ډول وګورئ: (فتاوى قاضى خان:۱/ ۲۹۶، على هامش الهندية، وعمدة الفقه:۴/ ۴۴۹، ومعلم الحجاج: ص ۱۷۲). والله ﷻ اعلم.

د مزدلفې څخه پر ته د بل ځای څخه د شګې د اخيستلو حکم

سوال: ديوه سړي له مزدلفې څخه د رمی له پاره شګې اخيستل هېر سول، تر داسي ځايه چې هغه منى ته ورسېدئ نو ديوه بل ځای څخه شګې اخيستلای سي او که نه؟ او پر هغه کفاره واجب ده او که نه؟

الجواب: له مزدلفې څخه شګې اخيستل د حج له مستحباتو څخه دي نو که چيري د هغه څخه هېري سوې نو له منې څخه يې هم اخيستلای سي او پر هغه بل شی واجب نه دئ مګر د جمراتو ته د نږدې څخه پورته کول فقهاوو مکروه ليکلي دي.

وګورئ په شرح اللباب کې راځي:

يستحب أن يرفع من المزدلفة بسبع حصيات مثل النواة أو الباقلاء وهو المختار....

ويجوز أخذها من كل موضع أي بلا كراهة إلا من عند الجمرة، أي فإنه مكروه لأن

جمراتها الموجودة علامة أنها المردودة، فإن المقبولة منها ترفع لتثقيل ميزان صاحبها، إلا أنه لو فعل ذلک جاز وكره..... والمسجد أي مسجد الخيف وغيره فإن حصى المسجد صار محترماً يكره إخراجه خصوصاً بقصد ابتذاله ومكان نجس فإن فعل جاز وكره. (شرح اللباب،ص ٢٤٥، فصل فی رفع الحصی، بیروت).

همدا ډول وګورئ: (غنية الناسک فی بغية المناسک:ص ٩٠، فصل فی اضافة من المشعر ودفع الحصی من مزدلفة). والله تعالی اعلم.

له جمرات څخه مقبول شګي پورته کيږي د دې روايت تحقيق

سوال: په روايت کي راغلي چي مقبول شګي پورته کيږي او مردو دي هلته پرتې دي ايا دغه روايت صحيح دئ او که نه؟

الجواب: دغه لوړ روايت ضعيف دئ مګر د دې توجيه دا کېدلای سي چي په مخکي زمانه کي د دې د پورته کولو انتظام نه وو حال دا چي په خپله د نبي ﷺ په زمانه کي دوه حجونه مسلمانانو وکړل يو حج حضرت ابو بکر صديق رضی الله عنه په امارت کي او په دوهم کي نبي کريم ﷺ په خپله موجود وو مګر د شګو تعداد ډېر کم وو چي له دې څخه معلوميږي چي مقبولي شګي پورته کېدې او رد کړل سوي پاته کېدلې مګر د روايت وضعف ته په کتو سره دا خبره يقيني نه ده، بلکي د ګمان په درجه کي ده.

وګورئ په حديث شريف کي راغلي:

عن أبي الطفيل قال: سألت ابن عباس رضي الله عنه عن الحصى الذى يرمى فی الجمار منذ قام الإسلام فقال: ما تقبل منهم رفع وما لم يتقبل منهم ترك ولولا ذلك لسد ما بين الجبلين. (السنن الكبرى للبيهقى:٥/ ١٢٨، باب أخذ الحصى لرمى جمرة العقبة، بيروت)

د دې حديث په سند کي يزيد بن سنان راوي ضعيف دئ. والله تعالی اعلم.

له مزدلفې څخه د شګو پورته کول له حدیث څخه ثبوت

سوال: فقهاوو له مزدلفې څخه شګي پورته کول مستحب بللي دي، په احاديثو کي د دې ثبوت شته او که نه؟

الجواب: له مزدلفې څخه شګي پورته کول له احاديثو څخه ثابت دي.

په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن جابر رضي الله عنه، قال : لما بلغنا وادي محسر ، قال رسول الله ﷺ: خذوا حصى الجمار من وادي محسر وعن مجاهد ، قال : كان يحمل الحصى من المزدلفة لرمي الجمار. وعن إسماعيل بن عبد الملك ، قال : قال لنا سعيد بن جبير : خذوا الحصى من حيث شئتم. وعن مكحول ، قال : خذه من المزدلفة.(مصنف ابن أبي شيبة:٤/ ٢٠٠، وزاد المعاد:٢/ ٢٥٤). والله تعالى اعلم.

په عرفات، مزدلفه او منی کي د قصر حکم

سوال: په عرفات، مزدلفه او منی کي د قصر حکم د حج له وجه څخه دئ او که د سفر په سبب دئ او ایا اهل مکه هم قصر کوي؟

الجواب: په عرفات، منی او مزدلفه کي د قصر حکم د سفر له وجي څخه کيږي او د حج په سبب نه دئ بلکي د حج او قصر تر منځ هيڅ تعلق نه سته ځکه چي حج د مشقتو نوم دئ او له دې سره قصر مناسب نه دئ نو ځکه قصر د سفر په سبب دئ.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن ابن سعود رضي الله عنه قال: صليت مع النبي ﷺ بمنى ركعتين ومع أبي بكر رضي الله عنه ومع عمر رضي الله عنه ومع عثمان رضي الله عنه ركعتين صدراً من خلافته. (رواه الترمذی فی باب ماجاء فی تقصير الصلاة بمنى:١/ ١٧٧).

په معارف السنن کي راځي:

يقول الإمام الخطابي في « معالمه» (۲/ ۲۱۱): ليس في قوله: « فصلى بنا ركعتين » دليل على أن المكي يقصر الصلاة بمنى، لأن رسول الله ﷺ كان مسافرا بمنى فصلى صلاة المسافر، ولعله لوسأل رسول الله ﷺ عن صلاته لأمره بالإتمام وقد يترك ﷺ بيان بعض الأمور في بعض المواطن اقتصاراً، خصوصاً في مثل هذا الأمر الذي هو من العلم الظاهر العام، وكان عمر بن الخطاب رضي الله عنه يصلي بهم فيقصر، فإذا سلم، التفت فقال: « أتموا يا أهل مكة، فإنا قوم سفر». (معارف السنن:٦/ ١٩٨، بحث ان القصر للسفر او للنسک، سعيد).

په عمدة القاري كي راځي:

وقال أكثر أهل العلم منهم عطاء والزهري والثوري والكوفيون وأبو حنيفة وأصحابه والشافعي وأحمد وأبو ثور: لا يقصر الصلاة أهل مكة بمنى وعرفات لانتفاء مسافة القصر. وقال الطحاوي: وليس الحج موجباً للقصر لأن أهل منى وعرفات إذا كانوا حجاجا أتموا وليس هو متعلقا بالموضع، وإنما هو متعلق بالسفر وأهل مكة مقيمون هناك لا يقصرون، ولما كان المقيم لا يقصر لو خرج إلى منى كذلك الحاج. (عمدة القارى:٥/ ٣٧٥، باب الصلاة بمنى، ملتان).

په درس ترمذي كي راځي:

د جمهورو له طرفه علامه خطابي رحمه الله فرمايي، چي ((فصلي بنا ركعتين)) څخه پر دې خبره استدلال كول صحيح نه دي چي مكي هم په منى كي قصر كوي ځكه چي نبي كريم ﷺ خو په منى كي مسافر وو او نبي كريم ﷺ د مسافرو لمونځ وكړئ تر كومه ځايه چي د لمانځه څخه تر فراغت وروسته د نبي كريم ﷺ د لمانځه د اتمام حكم دئ نو نبي كريم ﷺ د هغه ضرورت په دې سبب

محسوس نه كړئ چي مخته نبي كريم ﷺ د هغه وضاحت فرمايلى وو بلكي دغه مسئله هم بالكل واضح او عام وه. (درس ترمذى:۳/ ۱٤٠). والله ﷻ اعلم.

تر طواف زيارت د مخه او وروسته د ويني پر ليدلو د طواف حكم

سوال: يوې ښځي د اختر په درېيمه ورځ طواف زيارت وكړئ او تر هغه وروسته يې طواف وداع وكړه او خپل وطن هندوستان ته ولاړه تر طواف د مخه څلور ورځي حيض راغلئ او پاكه سوه بيا يې طواف كړى وو كله چي كور ته ولاړه تر پاكى اته ورځي وروسته بيا وينى راغلې او پنځه ورځي جاري وې او مخكنى عادت يې اووه ورځي وو نو اوس د دې حج وسو او كه نه او نو اوس هغه څه وكړي؟

الجواب: د امام محمد رحمة الله عليه په نزد د لسو ورځو وينو او طهر برابري اعتبار دي وكړي او وينى دي حيض شمار كړي او پاكي دي حد فاصل حسابيږي نو اساني به وي، يعنى په دې صورت كي د امام محمد رحمة الله عليه د قول مطابق اول څلور ورځي حيض حسابيږي او تر هغه وروسته د پاكى ورځي حسابيږي نو له دې كبله طواف صحيح سو تر دې وروسته چي كومي وينى راغلي هغه استحاضه حسابيږي ځكه ښځه خپل وطن ته دوباره تللې ده، نو ځكه پر دې قول په فتوى وركولو كي اساني ده او تكليف او تنگي ليري كول دي نو مناسب دا ده چي دغه اختيار كړل سي.

وگورئ په شرح النقايه للشيخ الياس كي راځي:

والأصل عند محمد وهو الأصح وعليه الفتوى أن الطهر المتخلل بين الدمين إذا كان دون ثلاثة أيام لايصير فاصلاً وهذا اباتفاق فإذا بلغ الطهر ثلاثة أيام أو أكثر ينظر فإن استوى الطهر بالدم في أيام الحيض أو كان الدم غالباً لايصير الطهر فاصلا أيضاً وإن كان الطهر غالبا يصير فاصلاً وحينئذ ينظر إن لم يمكن أن يجعل واحد منهما بانفراده حيضاً لا يكون شيء منه حيضاً وإن أمكن أن يجعل واحد منهما بانفراده حيضاً إما المتقدم أو المتأخر يجعل ذلك حيضاً وإن أمكن أن يجعل كل واحد منهما حيضاً بانفراده يجعل أسرعهما إمكاناً حيضاً

وهو الدم المتقدم على الطهر وهو لايجوز بداية الحيض ولا ختمه بالطهر ولو رأت ثلاثة دماً وستة طهر وثلاثة دماً فحيضها الثلاثة الأولى لأنها أسرعهما إمكاناً. (شرح النقاية للشيخ الياس زاده على هامش شرح النقاية الملا على القارى:۱/ ۸۳، سعيد).

په شرح وقايه کې راځي:

وفي رواية محمد رحمه الله عليه: عنهأنه لايفصل إن أحاط الدم بطرفيه في عشرة أو أقل.... يشترط مع هذا كون الطهر مساوياً للدمين أو أقل. (شرح الوقاية:۱/ ۱۱۱).

په عمدة الرعاية کې راځي:

أن عند محمد رحمه الله عليه يشترط لكون الطهر المتخلل المذكور حيضاً شروط ثلاثة أحدها أن تكون إحاطة الدم بطر فيه في عشرة أيام أو أقل وثانيها أن يكون مجموع الدمين نصاباً وثالثها أن يكون الطهر المتخلل مساوياً للدمين المحيطين أو أقل من مجموعهما فإن كان أكثر من مجموعهما يعد فلاصلًا..... (عمدة الرعاية تعليقات شرح الوقاية:۱/ ۱۱۱).

په البحر الرائق کې راځي:

وفي معراج الدراية معزيا إلى فخر الأئمة لو أفتى مفت بشيء من هذه الأقوال في مواضع الضرورة طلبًا للتيسير كان حسنًا. (البحر الرائق:۱/ ۱۹۳، کوئټه – والشامی:۱/ ۲۸۹، مطلب لو افتى مفت.... سعيد). والله ﷻ اعلم.

تر پاکۍ څلور ورځې وروسته يې طواف وکړئ بيا د وينو پر شروع کېدو د طواف حکم

سوال: يوې ښځې ته درې ورځې حيض راغلئ بيا څلور ورځې پاکه سوه په دغه پاکۍ کې هغې طواف زيارت وکئ بيا يوه ورځ ويني راغلې نو ايا د دې طواف زيارت وسو يا دوهم ځل کول لازم دي؟ حال دا چې د هغه ځای رش او تکليف دومره زيات دئ اکثره هغه د حيض سبب وي؟

الجواب: په دې صورت کي د حیض په مده کي متخلل طهر د دم متوالی په حکم دئ نو څنګ طواف په حیض کي حسابیږي، که چیري دغه ښځه په مکه مکرمه کي وي نو دوهم ځل دي طواف وکړي که طواف ونه کړي دم پر واجب دئ.

په اوله هدایه کي راځي:

والطهر إذا تخلل بين الدمين فى مدة الحيض فهو كالدم المتوالى. (الهداية:۱/ ٦٦).

په شامي کي راځي:

ثم اعلم أنه لا يشترط استمرار الدم فيها بحيث لا ينقطع ساعة لأن ذلك لا يكون إلا نادرا بل انقطاعه ساعة أو ساعتين فصاعداً غير مبطل أي لأن العبرة لأوله وآخره. (شامى:۱/ ۲۸٤، باب الحيض، سعيد).

په عمدة الرعاية کي راځي:

أن عند محمد رحمه الله يشترط لكون الطهر المتخلل المذكور حيضاً شروط ثلاثة أحدها أن تكون إحاطة الدم بطر فيه فى عشرة أيام أو أقل وثانيها أن يكون مجموع الدمين نصاباً وثالثها أن يكون الطهر المتخلل مساوياً للدمين المحيطين أو أقل من مجموعهما فإن كان أكثر من مجموعهما يعد فاصلًا..... (عمدة الرعاية تعليقات شرح الوقاية:۱/ ۱۱۱).

د حیض په حالت کي د طواف زیارت حکم

سوال: که چیري یوې ښځي د حیض په سبب په طواف زیارت کي ځنډ وکړ مګر هغه په یوه حالت کي نه سي پاته کېدلای نو بیله طواف زیارت څخه حلال کېدلای سي او که نه؟ او د فرض طواف څه صورت دئ؟

الجواب: په دې صورت کي باید کوښښ وکړي چي طواف زیارت د پاکۍ په حالت کي وکړي، مګر که چیري له کوښښ سره سره نه سو پاته کېدلای او طواف یې د حیض په حالت کي وکړي نو

طواف اداء کيږي او بدنه يعني د غټ حيوان قرباني پر لازمه ده او هغه قرباني له حرم شريف سره خاص ده.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

فأما الطهارة عن الحدث ، والجنابة ، والحيض ، والنفاس فليست بشرط لجواز الطواف، وليست بفرض عندنا بل واجبة حتى يجوز الطواف بدونها . (بدائع الصنائع:۲/ ۱۲۹، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

وإنما لزمت البدنة فيما إذا طاف جنبًا ؛ لأنها الجنابة أغلظ فيجب جبر نقصانها بالبدنة إظهارًا للتفاوت بين الأصغر والأكبر ويلحق به ما إذا طافت حائضًا أو نفساء ، وليس موضعًا ثالثًا . (البحرالرائق:۳/ ۷۱، کوئته).

په شامي کي راځي:

تنبيه: نقل بعض المحشين عن منسك ابن أمير حاج: لو هم الركب على القفول ولم تطهر فاستفتت هل تطوف أم لا؟ قالوا: يقال لها لا يحل لك دخول المسجد، وإن دخلت وطفت أثمت وصح طوافك وعليك ذبح بدنة وهذه مسألة كثيرة الوقوع يتحير فيها النساء.

(شامی:۲/ ۵۱۹، مطلب فی طواف الزيارة، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فإذا طاف من غير طهارة فما دام بمكة تجب عليه الإعادة ؛ لأن الإعادة جبر له بجنسه ، وجبر الشيء بجنسه أولى. (بدائع الصنائع:۲/ ۱۲۹، سعيد).

په فتاوی علامه ابن تيميه کي راځي:

عند هؤلاء (الأئمة الأربعة) لو طاف جنبًا أو محدثًا أو حاملًا للنجاسة، أجزأه الطواف وعليه دم ؛ لكن اختلف أصحاب أحمد : هل هذا مطلق في حق المعذور الذي نسي الجنابة، وأبو حنيفة يجعل الدم بدنةً، إذا كانت حائضًا أو جنبًا : فهذه التي لم يمكنها أن تطوف إلا حائضًا أولى بالعذر فإن الحج واجب عليها ولم يقل أحد من العلماء إن الحائض يسقط عنها الحج، وليس من أقوال الشريعة أن تسقط الفرائض للعجز عن بعض ما يجب فيها، كما لو عجز عن الطهارة في الصلاة . فلو أمكنها أن تقيم بمكة حتى تطهر وتطوف وجب ذلك بلا ريب فأما إذا لم يمكن ذلك، فإن أوجب عليها الرجوع مرةً ثانيةً كان قد أوجب عليها سفران للحج بلا ذنب لها وهذا بخلاف الشريعة .

ثم هي أيضًا لا يمكنها أن تذهب إلا مع الركب وحيضها في الشهر كالعادة، فهذه لا يمكنها أن تطوف طاهرًا، ألبتة . وأصول الشريعة مبنية على أن ما عجز عنه العبد من شروط العبادات يسقط عنه .... كما لو عجز الطائف أن يطوف بنفسه راكباً، وراجلاً فإنه يحمل ويطاف به. ومن قال: أنه يجزنها الطواف بلا طهارة إن كانت غير معذورة مع الدم كما يقوله من يقوله من أصحاب أبي حنيفة، وأحمد، فقولهم لذلك مع العذر أولى وأحرى، وأما الاغتسال فإن فعلته فحسن، كما تغتسل الحائض والنفساء للإحرام والله أعلم .(فتاوی ابن تيمية:٢٦/ ٢٤٣، دار العربية بيروت طبع جديد).

دعلامه ابن تيميه رحمه الله دعبارتو لنډيز دا دئ چي دائمه اربعه دمذهب مطابق دعجز په سبب يې دحيض په حالت کي طواف وکړئ نو دم واجب دئ او طواف صحيح دئ ځکه ددې ښځه پرته هيڅ چاره نه سته او غسل دې هم وکړي نو دېر ښه دئ.

په جدید فقهي مباحث کې راځي:

د داسې ښځې له پاره د مجبورۍ په سبب د ناپاکۍ په حالت کې د طواف کولو اجازه سته ځکه چې دوباره د هغې له پاره طواف کول مشکل دي او تر څو چې یې طواف نه وي کړی نو هغه د خپل مېړه له پاره حرامه ده او د حنفي فقهاوو پر مذهب که چیرې د ناپاکۍ په حالت کې طواف وکړي نو بیا هم طواف کیږي. (تاتار خانیه:۲/ ۵۱۶-۵۱۷)، البته دم واجب دئ او په دم کې غټ حیوان واجب دئ. (جدید فقهی مباحث:۱۳۵ .۱۳). والله تعالیٰ اعلم.

د رخصت د طواف په وخت کې د حیض، د شروع کېدو څخه د طواف حکم

سوال: یوې ښځې طواف وداع کاوه او په منځ کې یې حیض ورته راغلئ نو د طواف څه حکم یې دئ؟ او د دې قضا سته او که نه؟

الجواب: پر حائضه باندې طواف وداع واجب نه دئ او که چیرې په منځ کې یې شروع او پرې یې ښوئ نو بیا هم قضاء واجب نه ده.

په بخاري شریف کې راځي:

عن ابن عباس ، رضي الله عنهما، قال : أمر الناس أن يكون آخر عهدهم بالبيت إلا أنه خفف ، عن الحائض. (بخاری شریف:۱/ ۲۳٦، باب طواف الوداع).

په تبیین الحقائق کې راځي:

ولو حاضت ...... عند الصدر تركته كمن أقام بمكة أي لو فعلت جميع أفعال الحج غير طواف الصدر فحاضت عنده تركت طواف الصدر كما يتركه من أقام بمكة ولا شيء عليه لتركه لقول ابن عباس رضي الله عنه ..... وذكرت عائشة رضي الله عنها لرسول الله ﷺ أن صفية بنت حيي رضي الله عنها حاضت بعد ما طافت بعد الإفاضة فقال: فلتنفر إذًا. متفق عليه .(تبیین الحقائق باب التمتع،١٥:٢- وشرح اللباب:ص ٢٨٠). والله تعالیٰ اعلم.

د ښځي ورېښتان د سرطان په سبب د ختو څخه د قصر حکم

سوال: د يوې ښځي ورېښتان د سرطان د مريضي په سبب وختل نو هغه په حج او عمره کي قصر څرنګه وکړي او د حلالېدو يې څه شکل دئ؟

الجواب: په دې صورت کي دي پر ورېښتانو غوچي وچلوي کوم ورېښتان چي پرې سي نو دا صحيح دي او که بالکل پرې نه سوه نو دا هم صحيح دي او حلاليږي لکه هغه څوک چي پر سر يې ورېښتان نه وي په د دې اړه فقهاوو فرمايلي دي چي ماشين دي پر وچلوي که څه هم ورېښتان يې نه وي مګر ښځه حلق نه سي کولای.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ويجب إجراء الموسى على الأقرع. وفي الشامية: قوله ويجب إجراء الموسى على الأقرع، هو المختار كما في الزيلعي و البحر و اللباب وغيرها وقيل استحباباً قال في شرح اللباب، وقيل استناناً وهو الأظهر . (فتاوى الشامي:٢/ ٥١٦، سعيد).

په حاشية الطحطاوي کي راځي:

قوله ويجب إجراء الموسى، أي على الأصح وقيل يستحب هندية، قوله على أقرع مثله إذا جاء وقت الحلق ولم يكن على رأسه شعر، بأن حلق قبل ذلک وإنما وجب إجراء الموسى لأنه لما عجز عن الحلق والتقصر يجب عليه التشبه بالحالق كالمفطر في شهر رمضان يجب عليه التشبه بالصائم ولأن الواجب عليه إجراء الموسى. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار:١/ ٥٠٧، كوئته – وكذا في الفتاوى الهندية:١/ ٢٣١).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولا حلق على المرأة لما روي عن ابن عباس رضي الله عنهما عن النبي ﷺ أنه قال ليس على النساء حلق ، وإنما عليهن تقصير ، وروت عائشة رضي الله عنها أن النبي ﷺ نهى المرأة أن تحلق رأسها،

ولأن الحلق في النساء مثلة ، ولهذا لم تفعله واحدة من نساء رسول الله ﷺ ولكنها تقصر فتأخذ من أطراف شعرها قدر أنملة لما روي عن عمر رضي الله عنه أنه سئل فقيل له : كم تقصر المرأة ؟ ، فقال : مثل هذه ، وأشار إلى أنملته. (بدائع الصنائع:۲/ ۱٤۱، سعید-- وکذا فی غنية الناسک:۹۲، إدارة القرآن – وشرح اللباب:۱۲۸، بیروت – والفتاوی الهندية:۵/ ۳۵۸). والله تعالی اعلم

تر طواف زیارت وروسته په دوو ورځو وینو راتلو باندي د طواف حکم

سوال: د یوې ښځي درې ورځي ویني راغلې بیا پنځه ورځي پاکه وا وسېده او په دې حالت کي یې طواف زیارت وکړئ بیا دوې ورځي ویني راغلې نو دغه طواف د امام محمد رحمه الله د قول مطابق د حیض په حالت کي سوا وکه د پاکۍ؟

الجواب: په دې صورت کي پنځه ورځي پاکي د حیض په ورځو کي د شمول په سبب د دم متوالی په شان دئ نو ځکه طواف زیارت د امام محمد رحمه الله د قول مطابق هم د حیض په حالت کي حسابیږي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

والطهر إذا تخلل بين الدمين فى مدة الحيض فهو كالدم المتوالي. (الهداية:۱/ ٦٦).

په فتاوی شامي کي راځي:

ثم اعلم أنه لا يشترط استمرار الدم فيها بحيث لا ينقطع ساعة لأن ذلك لا يكون إلا نادراً بل انقطاعه ساعة أو ساعتين فصاعداً غير مبطل أي لأن العبرة لأوله وآخره . (شامی:۱/ ۲۸٤، باب الحیض، سعید).

په عمدة الرعاية کي راځي:

أن عند محمد رحمه الله يشترط لكون الطهر المتخلل المذكور حيضاً شروط ثلاثة أحدها أن تكون إحاطة الدم بطر فيه فى عشرة أيام أو أقل وثانيها أن يكون مجموع الدمين نصاباً

وثالثها أن يكون الطهر المتخلل مساوياً للدمين المحيطين أو أقل من مجموعهما فإن كان أكثر من مجموعهما يعد فلاصلًا..... (عمدة الرعاية تعليقات شرح الوقاية:١/ ١١١). والله ﷻ اعلم.

په شپږو ورځو پاکۍ کي یې طواف زیارت وکړ بیا په درې ورځو وینې راتلو باندې د طواف حکم

سوال: یوې ښځې ته درې ورځې وینې راغلې بیا شپږ ورځې پاکه سوه او په هغه حالت کي یې طواف زیارت وکړ بیا درې ورځې وینې راغلې نو ایا د امام محمد رحمه الله په نزد دا طواف زیارت د حیض په حالت کي سو او که د طهر په حالت کي؟

الجواب: د امام محمد رحمه الله د قول مطابق په لسو ورځو کي د وینې او طهر د برابرۍ اعتبار دی وکړ او حیض دې حساب کړي او پاکي دې حد فاصل حساب کړي نو اساني به وي، یعني په دې صورت کي د امام محمد رحمه الله د قول مطابق اولې درې ورځې حیض حسابیږي او تر هغه وروسته شپږ ورځې د پاکۍ ورځې حسابیږي نو ځکه طواف صحیح دئ تر هغه وروسته چي کومي وینې راغلي هغه استحاضه ده، په ظاهره د امام محمد رحمه الله په مذهب کي د ښځو له پاره اساني ده او د ضرورت په وخت کي پر دې قول فتوی ورکول کیږي.

وګورئ په شرح النقایه للشیخ الیاس زاده کي راځي:

والأصل عند محمد وهو الأصح وعليه الفتوى أن الطهر المتخلل بين الدمين إذا كان دون ثلاثة أيام لايصير فاصلاً وهذا اباتفاق فإذا بلغ الطهر ثلاثة أيام أو أكثر ينظر فإن استوى الطهر بالدم في أيام الحيض أو كان الدم غالباً لايصير الطهر فاصلا أيضاً وإن كان الطهر غالبا يصير فاصلا وحينئذ ينظر إن لم يمكن أن يجعل واحد منهما بانفراده حيضاً لا يكون شيء منه حيضاً وإن أمكن أن يجعل واحد منهما بانفراده حيضاً إما المتقدم أو المتأخر يجعل ذلك حيضاً وإن أمكن أن يجعل كل واحد منهما حيضاً بانفراده يجعل أسرعهما إمكاناً حيضاً

وهو الدم المتقدم على الطهر وهو لايجوز بداية الحيض ولا ختمه بالطهر ولو رأت ثلاثة دماً وستة طهر وثلاثة دماً فحيضها الثلاثة الأولى لأنها أسرعهما إمكاناً. (شرح النقابة للشيخ الياس زاده على هامش شرح النقاية الملا على القارى:١/ ٨٣، سعيد).

په شرح وقايه كي راځي:

وفي رواية محمد رحمه الله: عنهأنه لايفصل إن أحاط الدم بطرفيه فى عشرة أو أقل.... يشترط مع هذا كون الطهر مساوياً للدمين أو أقل. (شرح الوقاية:١/ ١١١).

په عمدة الرعاية كي راځي:

أن عند محمد رحمه الله يشترط لكون الطهر المتخلل المذكور حيضاً شروط ثلاثة أحدها أن تكون إحاطة الدم بطرفيه فى عشرة أيام أو أقل وثانيها أن يكون مجموع الدمين نصاباً وثالثها أن يكون الطهر المتخلل مساوياً للدمين المحيطين أو أقل من مجموعهما فإن كان أكثر من مجموعهما يعد فاصلًا..... (عمدة الرعاية تعليقات شرح الوقاية:١/ ١١١).

په البحر الرائق كي راځي:

وفي معراج الدراية معزيا إلى فخر الأئمة لو أفتى مفت بشيء من هذه الأقوال في مواضع الضرورة طلبًا للتيسير كان حسنًا. (البحر الرائق:١/ ١٩٣، كوئته – والشامى:١/ ٢٨٩، مطلب لو افتى مفت.... سعيد). والله تعالى اعلم.

د اهل حل له پاره د طواف وداع حكم

سوال: يو سړي په جده كي كار كوي او شل پنځويشت كاله يې كيږي چي هلته اوسيږي هغه ځاى يې خپل وطن ګرځول نه دئ يوازي هلته كار كوي د حج تر فراغت وروسته هغه جدې ته ځي نو پر ده طواف وداع واجب دي او كه مستحب؟

الجواب: په دې صورت کي دې سړی جده خپل وطن نه دي جوړ کړي او هلته دی خالي اوسيږي نو ځکه پر بيا زاتلو باندي طواف وداع واجب دي مګر که چيري دې سړي جده خپل وطن جوړ کي او له هغه ځای څخه يې د تلو اراده کړې نه وي نو بيا طواف وداع مستحب دئ ځکه چي د اهل مکه او د اهل حل يعني په ميقات کي دننه اوسېدونکو له پاره طواف وداع مستحب دي واجب نه دي.

وګورئ په غنية الناسک کي راځي:

هو واجب على كل حاج أفاقى مفرد أو قارن او متمتع بشرط كونه مدركاً مكلفاً غير معذور فلا يجب على معتمر ولا على أهل مكة ومن أقام بها قبل حل النفر الأول وأهل الحرم والحل والمواقيت وفائت الحج والمحصر والمجنون والصبى والحائض والنفساء إلا أنه يندب لأهل مكة ومن فى حكمهم كما فى الدر والنهر وغيرهما ومعنى قولهم ومن أقام بها أي نوى الإقامة الأبدية بها واتخذها داراً. (غنية الناسک فى بغية المناسک:ص ۱۰۱، باب طواف الصدر، ادارة القرآن).

په شرح اللباب کي راځي:

طواف الصدر واجب على الحاج الآفاقي أي دون المكي والميقاتي.... ولا على أهل مكة حقيقة أو حكماً والحرام كأهل منى والحل كالوادى والخليص وجدة والمواقيت أي المعينة للآفاقيين..... ومن نوى الإقامة الأبدية أي الاستيطان. (شرح اللباب، ص: ۲۷۹، باب طواف الصدر، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

ولا يسقط عنه هذا الطواف بنية الإقامة ولو سنين ويسقط بنية الاستيطان بمكة أو بما حولها قبل حل النفر الأول. (غنية الناسک:ص ۱۰۲، باب طواف الصدر، إدارة القرآن – وزبدة المناسک، ص ۲۲۹، فتاوى فريدية: ٤/ ۲۳۹، باب تفسير الحج وشرائطه). والله تعالى اعلم.



عن ابن عباس رضي الله عنه قال: ﴿ وقت رسول الله ﷺ لأهل المدينة ذا الحليفة ولأهل الشام الجحفة ولأهل نجدقرن المنازل ولأهل اليمن يلملم فهن لهن ولمن أتى عليهن من غير أهلهن لمن كان يريد الحج والعسرة فمن كان دونهن فمهله من أهله.... ﴾. (متفق عليه).

قال رسول الله ﷺ ﴿ لاتجاوز وا الوقت إلا بإحرام﴾ . (مصنف ابن أبي شيبة).

دوهم .... باب

بېله احرامه تر ميقات د تجاوز کولو بيان

تر ميقات بېله احرامه د تجازو کولو حکم

سوال: له جنوبي افرايقا څخه چي کوم سړی د حج يا د عمرې په اراده يا په يوه بل سبب سېده مکې مکرمې ته د مکې مکرمي په اراده سره ولاړ سي نو ايا دا سړی په جده کي احرام تړلای سي او که نه او که چيري يې په جده کي احرام وتړئ نو دم واجب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري دا سړی سېده مکې مکرمې ته تګ غواړي نو تر ميقات د مخه احرام تړل ضروري دئ او بېله احرامه تجاوز کول ګناه ده او په جده کي احرام تړل صحيح نه دي که چيري يې داسي وکړه نو دم واجب او ګناه کار دئ.

وګورئ په شرح اللباب کي راځي:

من جاوز وقته أي ميقاته الذي وصل إليه سواء كان ميقاته الموضع المعين له شرعاً أم لاغير محرم ثم أحرم أي بعد المجاوزة أو لا أي لم يحرم بعدها، فعليه العود أي فيجب عليه الرجوع إلى وقت أي إلى ميقات من المواقيت، وإن لم يعد فعليه دم، المجاوزة الوقتف فلو أحرم آفاقي داخل الوقت أي فى داخل الميقات وأهل الحرم أي أحرموا من

الحل للحج.... فعليهم العود إلى وقت أي ميقات شرعي لهم، لارتفاع الحرمة وسقوط الكفارة، وإن لم يعودوا فعليهم الدم والإثم لازم لهم، فإن عاد قبل شروعه في طواف أو وقوف سقط الدم. (اللباب مع شرحه:٩٤-٩٥، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

ومن دخل مكة أو الحرم بلا إحرام فعليه أحد النسكين، فلو أحرم به بعد تحول السنة أو قبله من مكة أو خارجها داخل المواقيت أجزأه وعليه دم المجاوزة، فإن عاد إلى ميقات ولبى عنده سقط عنه دم المجاوزة أيضاً. (غنية الناسک فی بغية المناسک: ص ٣١، إدارة القرآن – وكذا في الفتاوى الهندية:١/ ٢٢١).

په جدید فقهی مسائل کي راځي:

د ميقات له حدودو څخه دباندي چي کوم سړی هم د مکې مکرمې سفر کوي د هغه له پاره له مقيات څخه احرام تړل ضروري دي اوس څنگه چي د طيارې سفر وي او غالبا طياره قرن منازل او يلملم دواړو څخه تيرېږي او هغه دواړه ميقاتونه دي طياره چي کوم وخت ميقات ته را ورسېږي د هغه صحيح اندازه لگول ډېر سخت وي نو ځکه حجيانو ته په کار ده چي د سفر تر شروع د مخه احرام وتړي، البته کوم حجيان چي مخته مدينې منورې ته ولاړ سي هغه دي احرام نه تړي ځکه چي له ميقات څخه د هغوی سفر د حرم طرف ته نه دئ او احرام د هغو خلکو له پاره ضروري دي چي له ميقات څخه د حرم وطرف ته ځي. (جدید فقهی مسائل:١/ ٢٣٩). والله تعالیٰ اعلم.

له ميقات څخه د تېرېدو په وخت کي چي د مدينې منورې قصد وي نو د احرام حکم

سوال: يو سړی حج ته ځي نو ترجمان ورته وويل چي اول مدينې منورې ته ځو نو ځکه هغه سړي احرام نه وتړئ او مدينې منورې ته روان سول کله چي تر جدې تېر سول ترجمان وويل اول مکې مکرمې ته ځو نو اوس به هغه سړی څه کوي؟ احرام دي له کوم ځای څخه وتړي؟ همدا ډول دم واجب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې له میقات څخه د تیریدو په وخت کې یې د حرم شریف قصد نه وکړئ بلکې د مدینې منورې قصد یې کړی وو نو ځکه احرام تړل ضروري او واجب نه دئ مګر اوس په جده کې یې قصد بدل سو او مکې مکرمې ته ځي نو په جده کې دې احرام وتړي بس هیڅ جزا واجب نه ده.

وګورئ په شرح الباب الناسک کې راځي:

ومن جاوز وقته أي الذي وصل إليه حال كونه يقصد مكاناً في الحل كبستان بني عامر أو جدة مثلًا بحيث لم يمر على الحرم وليس له عند المجاوزة قصد أن يدخل الحرم بعد دخول ذلک المكان ثم بدا له أي ظهور أي حارث أن يدخل مكة أي أو الحرم ولم يرد نسكاً حينئذ فله أن يدخلها أي مكة، وكذا الحرم بغير إحرام. (شرح اللباب: ص ٩٦، بيروت – وغنية الناسک: ٣٢).

په جدید فقهي مسائل کې راځي:

کوم حاجیان چې اول مدینې منورې ته ځي هغه دې احرام نه تړي ځکه چې له میقات څخه د هغوی سفر د حرم طرفته نه دئ او احرام د هغو خلکو له پاره ضروري دئ کوم چې له میقات څخه د حرم طرف ته ځي. (جدید فقهی مسائل: ١/ ٢٣٩).

په عمدة الفقه کې راځي:

که چیري د یوه سړي د حج او عمرې اراده نه وه بلکې د هغه اراده د بستان بنی عامر او نورو کې د یو ضرورت له پاره وه نو پر دې سړي هیڅ شی واجب نه دئ بیا تر هغه وروسته وهغه ته داسې کار ورپېښ سو چې د هغه په سبب هغه ته د مکې مکرمې یا په حرم کې ورېوه بل ځای ته د تلو ضرورت پېښ سو او هغه په هغه وخت کې د حج یا عمرې اراده وکړي نو د دې سړی میقات د حل ټوله مځکه ده. (عمدة الفقه: ٤/ ١٠٤، مجددیه).

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: که چيري يو يمني سړی د مديني منورې په قصد ووتئ او د يلملم د ميقات د تېرېدو په وخت کي يې احرام نه وتړلی کله چي جدې ته ورسېدئ بيا يې د مکې معظمې د تلو قصده وکئ او له جدې څخه يې احرام وتړئ نو اوس دم واجب دئ او که نه؟

الجواب: د ده احرام له جدې څخه صحيح سو او پر ده هيڅ جنايت لازم نه دئ. (امداد الفتاوی:٢/ ١٦٢). والله ﷻ اعلم.

که چيري په جده کي يو څو ساعته پاتېدئ نو بېله احرامه له ميقات څخه د تېرېدو حکم

سوال: که چيري يوه سړي اراده وکړه چي يو څو ساعته په جده کي پاته سي بيا په حرم شريف کي داخلېږي نو بېله احرامه تر ميقات تېرېدلای سي او که نه؟ يعني د ده له جدې څخه احرام تړل صحيح دي او که دم لازم دئ؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي طياره پر ميقات لوړه او يا د هغه پر برابر تيرېږي نو ځکه د ميقات تر برابرۍ د مخه احرام تړل ضروري دي که چيري يوه سړي يوه ورځ يا يو څو ساعته په جده کي د اوسېدو اراده وکړه او تر جدې پورې يې احرام نه وتړئ نو داسي کول صحيح نه دي، بلکي يو حيله ده، حيله د ضرورت په وخت کي له حرام يا مکروه څخه د ځان ساتلو له پاره کېدلای سي مګر داسي حيله چي له هغې څخه يو حکم شرعي باطل سي دا صحيح نه ده، دا د يوم السبت والا د حيلې په ډول ده چي پر هغه په قرآن مجيد کي سخت وعيد راغلی. حضرت مولانا محمد شفيع صاحب د معارف القرآن په ٧ جلد ٥٢٣ صفحه کي ليکلي دي مګر دا پوهه په کاره ده چي دا حيلې هغه وخت روا کېدلای سي چي په هغو سره د يوه شرعي مقصد ابطال نه وي.

پاته سوه دا خبره چي يو سړی له دې ځايه مديني منورې ته ولاړ سي او له هغه ځايه د عمرې اراده وکړي او احرام وتړي دا هيڅ حيله نه ده يو خو دا چي د مديني منورې سفر يې بذات خود مقصد دئ بلکي په مدينه کي دوه مقاصد دي:

١ _ مسجد نبوي.

كما قال النبي ﷺ لاتشد الرحال إلا إلى ثلثة مساجد.... الخ.

٢_ د نبي كريم ﷺ د قبر مبارك زيارت.

كما روي عن ابن عمر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: «من زار قبري وجبت له شفاعتي».

(رواه ابن خزيمة فى صحيحه والدار قطني والبيهقى وآخرون واسناده حسن كما فى آثار السنن للعلامة النيموى: ص ٣٣٩).

او كه چيري يې مدينه منوره مقصد جوړه نه كړه، بلكي فقط عمره يا حج يې مقصد وو نو بيا هم د دې حاصل ذا سو چي دا سړى د مدينې منورې پر لار مكې مكرمې ته تګ غواړي او تر ميقات وتل غواړي نو د دې سړي په لار كي دوه ميقاتونه راځي.

١_ ابعد من مكه.

٢_ اقرب الى مكه.

او دا سړي اقرب الى مكه ميقات اختيارولاى سي لكه څنګه چي د فقهي په كتابو كي ذكر دي او فقهاوو چي كومه مسئله ليكلې ده چي كه چيري يو سړي په حل كي د يو ځاى اراده وكړه نو بيله احرامه تلاى سي او دا حيله د هغه چا له پاره ده چي د هغه واقعي د هغه ځاى اراده وي په اوله درجه كي. كما قال العلامة الشامي: لكن لاتتم الحيلة إلا إذا كان قصده لموضع من الحل قصداً أولياً كما قررناه. (الشامي: ٢/ ٤٧٧، سعيد).

په هر صورت په دې پاك سفر كي بايد داسي حيلې استعمال نه سي كه چيري يو وخت يو حنفي موتېروان ته هره ورځ د راتلو ضرورت وو او د عمرې نه ورته رسېدې نو واقعي دا مسئله د فكر وړه ده. والله تعالى اعلم.

د جدې پر میدان د احرام تړلو حکم

سوال: کوم خلک چي په جده کي نه اوسېږي هغوی د جدې په میدان کي احرام تړلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د جدې پر میدان احرام تړل صحیح نه دي بلکي تر میقات د تېرېدو د مخه کله چي طیاره د یلملم د برابرۍ څخه تېر سوه تر هغه د مخه احرام تړل ضروري دي که داسي نه وي دم واجب دئ.

وګورئ په شرح اللباب کي راځي:

من تجاوز وقته أي ميقاته الذي وصل إليه سواء كان ميقاته الموضع المعين له شرعاً أم لاغير محرم ثم أحرم أي بعد المجاوزة أو لا أي لم يحرم بعدها، فعليه العود أي فيجب عليه الرجوع إلى وقت أي إلى ميقات من المواقيت، وإن لم يعد فعليه دم لمجاوزة الوقت فلو أحرم آفاقي داخل الوقت أي في داخل الميقات وأهل الحرم أي أحرموا من الحل للحج..... فعليهم العود إلى وقت أي ميقات شرعي لهم، لارتفاع الحرمة وسقوط الكفارة، وإن لم يعودوا فعليهم الدم والإثم لازم لهم، فإن عاد قبل شروعه في طواف أو وقوف سقط الدم. (اللباب مع شرحه: ٩٤-٩٥، بيروت).

په غنیة الناسک کي راځي:

ومن دخل مكة أو الحرم بلا إحرام فعليه أحد النسكين، فلو أحرم به بعد تحول السنة أو قبله من مكة أو خارجها داخل المواقيت أجزأ، وعليه دم المجاوزة، فإن عاد إلى ميقات ولبى عنده سقط عن دم المجاوزة أيضاً. (غنية الناسک في بغية المناسک: ص ٣١، إدارة القرآن – وكذا في التفاوى الهندية: ١/ ٢٢١). **د زیات تفصیل له پاره وګورئ:** (فتاوی هندية: ١/ ٢٢١ – وعمدة الفقه: حصه چهارم: ٩٩، مجددیه – وایضاح المسائل: ص ١٢٣). والله تعالی اعلم.

د جدې په قصد له میقات څخه بېله احرامه د تېرېدو حکم

سوال: زما زوی په جده کې اوسيږي او عمرې ته د تلو په وخت کې زه په جده کې احرام تړلای سم او که نه؟

الجواب: که چیرې ستا اراده یوازې د زوی ملاقات وي بیا د هغه ځای څخه تبعا د عمرې نیت هم وي نو په جده کې د زوی تر ملاقات وروسته د عمرې احرام تړل صحیح دي او هیڅ جزاء واجب نه ده مګر که چیرې ستا قصد اول د عمرې وي بیا یې فکر وکړئ چې د زوی ملاقات به هم وکړم نو بیا له میقات څخه احرام تړل ضروري دي او د ورڅخه تېرېدو په صورت کې دم لازم دئ ګویا اصلا د نیت اعتبار دئ او د زړه حال الله تعالی ته ښه معلوم دئ، نو ځکه بېله ضرورته له حیلو څخه ځان ساتل په داسې مبارک سفر کې ډېر ضروري دئ.

وګورئ په شرح الباب کې المناسک کې راځي:

ومن جاوز وقته أي الذي وصل إليه حال كونه يقصد مكاناً فى الحل كبستان بني عامر أو جدة مثلًا بحيث لم يمر على الحرم وليس له عند المجاوزة قصد أن يدخل الحرم بعد دخول ذلك المكان ثم بدا له أي ظهور أي حارث أن يدخل مكة أي أو الحرم ولم يرد نسكاً حينئذ فله أن يدخلها أي مكة، وكذا الحرم بغير إحرام، وفيه إشكال إذ ذكر الفقهاء فى حيلة دخول الحرم بغير إحرام أن يقصد بستان بنى عامر ثم يدخل مكة، وعلى ما ذكره المصنف رحمة الله عليه وقررناه لم تحصل الحيلة كما لايخفى، فالوجه فى الجملة أن يقصد البستان قصداً أولياً ولايضره قصده دخول الحرم بعده قصداً ضمنياً أو عارضياً، كما إذا قصد مدني جدة لبيع وشراء أو لا، ويكون فى خاطره أنه إذا فرغ منه أن يدخل مكة ثانياً بخلاف من جاء من الهند مثلًا بقصد الحج أو لا، وأنه يقصد دخول جدة تبعاً ولو قصد بيعاً وشراء لايقال. (لباب المناسک مع شرحه:ص ٩٦، بيروت – وغنية الناسک:٣٢).

په ارشاد الساري کي راځي:

قال في ردالمحتار عند قول صاحب الدرر: وهذه حيلة الآفاقي يريد دخول مكة بلا إحرام. ثم إن هذه الحيلة مشكلة، لما علمت من أنه لايجوز له مجاوزة الميقات بلا إحرام ما لم يكن أراد دخول مكان فی الحل لحاجة، وإلا فكل آفاقی يريد دخول مكة لا بدن أن يريد دخول الحل..... قال العلامة الرافعي فی تقريره: قوله: لكن ينافيه قولهم ثم بدا له دخول مكة الخ، يندفع الإشكال في هذه المسئلة بأن المجوز لدخول مكة غير محرم أحد أمرين: الأول: أن يقصد الحل لحاجة، ثم يبدو له دخول مكة، وهذا ما ذكره فی الكافی واللباب والبدائع. والثاني: أن يقصد دخول الحل قصداً أولياً مع قصد دخول مكة قصداً ضمنياً، وهو ما أشار له فی البحر، وذكره فی شرح اللباب، وهو مرادهم بالحيلة. (ارشاد الساری الی مناسک الملا علی القاری علی هامش شرح اللباب:۹۷، فصل فی مجاوزه الميقات بغير احرام، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

وعن هذا قيل: إن حيلة آفاقي يريد دخول مكة لحاجة بلا إحرام أن يقصد البستان لكن لاتتم الحيلة إلا لمن يقصد البستان قصداً أولياً بحيث لايكون سفراً إلا لأجله. (غنية الناسک فی بغية المناسک:۳۲، مطلب دخول الآفاقی الحل لحاجة). والله ﷻ اعلم.

د موټروان او خادم له پاره بېله احرامه تر ميقات د تېرېدلو حکم

سوال: ايا د خادم او موټروان بېله احرامه ومکې مکرمې ته تلل روا دي او که نه؟ هغوی وايي چي زموږ له پاره تکليف دئ؟

الجواب: که چيري خادم او د موټروان هره ورځ ځي نو د هغوی احرام تړل ضروري نه دئ مګر کوم خلک چي هره ورځ نه ځي، لکه خادم ډېر ځله هغوی هره ورځ نه ځي نو ځکه د هغوی له پاره احرام تړل ضروري دي.

وګورئ په نې مسائل او علماء کې فیصلې نومي کتاب کې راځي:

په اوسنيو حالاتو کې کله چې تجاران د دفترونو کار کونکي او ټیکسي چلونکي او داسې نور کار کوونکي کله هره ورځ او کله دوهمه او دریيمه ورځ او ځینې خلک په یوه ورځ کې تر یوه زیات ځله حرم ته داخليږي نو د داسې خلکو له پاره د هر ځل له پاره احرام تړل او عمره اداء کول ډېر مشکل دئ نو ځکه د هغو خلکو له پاره بېله احرامه د حرم په حدودو کې د داخليدو اجازه سته. (نئی مسائل او علماء هند کی فیصلی ٣٧، از حضرت قاضی مجاهد الاسلام صاحب قاسمی).

وګورئ په عمدة القاري کې راځي:

وقال: أبو عمر: لا أعلم خلافاً بين فقهاء الأمصار في الحطابين ومن يدمن الاختلاف إلى مكة ويكثره في اليوم والليلة أنهم لا يأمرون بذلك لما عليهم من المشقة. (عمدة القارى:٧/ ٥٣٥، باب دخول الحرم، ومكة بغير احرام، دار الحديث، ملتان).

په هدایه کې راځي:

ومن كان داخل الميقات له أن يدخل مكة بغير إحرام لحاجته لأنه يكثر دخوله مكة وفى إيجاب الإحرام فى كل مرة حرج بين. (الهداية:١/ ٢٣٥، فصل فى المواقيت).

په جدید فقهي مباحث کې راځي:

اوس سوال دا پیدا کیږي چې نن سبا د کار وباري خلکو ډېر زیات د تلو او راتلو ضرورت کیږي مثلا اهل مکه بیا بیا مدینې منورې ته ضرورت پیدا کیږي او اهل مدینه مکې ته ځي که چیرې پر هغوی هر ځل احرام لازم کړل سي او د عمرې حکم ولګول سي نو ډېر سخت مشقت او تکلیف لازمیږي نو هغوی له پاره په شرعي ډول یو رعایت او اجازه کېدلای سي او که نه؟

نو د دې جواب دا دئ کوم خلک چې په میاشت یا دوو میاشتو کې ځي راځي د هغوی په حق کې هیڅ اجازه نه سته. البته کوم خلک چې هره ورځ یا هره هفته ځي وراځي د هغوی له پاره بېله احرامه تر میقات تېرېدل د دې زموږ په نظر د دې دوې طریقې راځي.

دوهمه طریقه د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روایت دئ چي له میقات څخه دباندي لرګي راوړونکي، عمال، تجاران او مزدوري کونکي کوم چي بیا بیا ځي راځي د هغوی له پاره بېله احرامه له میقات څخه د تېرېدو اجازه سته ځکه کله چي هر ځل پر هغوی د احرام پابندي ولګول سي نو د ډېر سخت تکلیف او مشقت خطره ده . په مصنف ابن ابی شیبه او نخب الافکار او نورو کي د ابن عباس رضي الله عنهما په داسي الفاظو روایت کړل سوی دئ.

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: لایدخل أحد مكة إلا بإحرام إلا الحطابين والعمالين وأصحاب منافعهما، الحديث. (نخب الافكار قلمی:٥/ ٢١٩، مصنف ابن ابی شيبة :٤/ ٢١١، طحطاوی شریف من عطاء: ١/ ٤٣٨، تلخيص الحبير:١/ ٢١١). (جدید فقهی مباحث:١٣/ ١٦١، ٣٥، ٣٧، ادارة القرآن).

په دې هکله د مقاله لیکونکو دوې رایي دي او ډېرو حضراتو د ضرورت او سخت حاجت او د مشقت په سبب د جمهورو امامانو د قول په ترجیح کي بېله احرامه د داخلېدو اجازه ورکړې ده.

د هغوی نمونه په لاندي ډول ده:

مولانا خالد سیف الله رحماني	مولانا مصلح الدین بړودوی
مولانا زبیر احمد قاسمي	مولانا عزیز اختر قاسمي
مولانا محبوب علي وجیهي	مولانا عتیق احمد قاسمي
مولانا جمیل احمد نذیري	مولانا عبد القیوم پالنپوري
مولانا اسعد الله قاسمي	مولانا سلطان احمد اصلاحي
مولانا اشتیاق احمد اعظمی	مولانا برابر خان ندوي
مولانا محمد ابرابر الحق قاسمي	مولانا محمد نور قاسمي
مولانا ثناء الهدی قاسمي	مولانا ابو سفیان مفتاحي
مولانا صدر عالم قاسمي	مولانا خورشید احمد اعظمي
مولانا منظور احمد قاسمي	مولانا عبد المفتاح عادل
مولانا اختر ضیاء قاسمي	مولانا محمد عمر فلاحي.

(جدید فقهی مباحث: ۱۹/۱۳، تلخیص از مقالات بابت حج وعمره، ادارة القرآن). د زیات تفصیل له پاره وګورئ:
(جدید فقهی مسائل: ۲/ ۱۸۲، نعیمیه). والله ﷻ اعلم.

د کښتۍ په ذریعه جدې ته د راتلونکو له پاره د احرام حکم

سوال: که چیري یو سړی د کښتۍ په ذریعه جدې ته ځي حال دا چي یلملم لیري پریوه کناره بېله حقیقي محاذات څخه پاتیږي نو ایا دغه سړی له جدې څخه احرام تړلای سي او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي زموږ د لویو علماوو یو څه اختلاف دئ د حضرت مفتي محمد شفیع صاحب تحقیق دا دئ چي تر جدې پوري احرام ځنډولای سي مګر حضرت مولانا یوسف بنوري صاحب وایي، چي تر جدې پوري احرام ځنډول روا نه دي سره له دې حضرت مفتي محمد شفیع صاحب دا هم لیکلي دي چي احوط دا دئ چي د یلملم تر برابرۍ د مخه احرام وتړل سي.

په جواهر الفقه کي راځي:

په داسي حالاتو کي چي په هغه مسئله کي د علماوو د رایي اختلاف وي احتیاط په دې کي دئ چي په کښتي کي د یلملم څخه احرام وتړي یا دي د جدې پر ساحل تر کښته کېدو د مخه احرام وتړي ځکه چي د فقهاوو د اختلاف په محل کي د احتیاط طرف اختیارول بهتر دي تر څو د چا د عبارت په جواز کي د چا اختلاف پاته نه سي، ددې څخه پرته تر میقات د مخه احرام تړل افضل دي بلکي په ځیني روایتو کي له خپله کوره د احرام تړلو فضیلت راغلی دئ. شرط دا دئ چي د احرام په محظوراتو کي د مبتلاء کېدو خطره نه وي او د چا له پاره چي دا خطره وي چي د هغه له پاره په دې ټوله زمانه کي ځان ساتل مشکل وي نو د هغه له پاره تر آخری حده پوري احرام ځنډول بهتر دي او د داسي سړي له پاره په اخري حد کي دومره احتیاط په کار دئ چي د هغه احرام د علماوو له اختلاف څخه ووزي. (جواهر الفقه: ۱/ ٤٨٩).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

داوبو په کښتۍ کي د تلو له پاره کومه چي زړه لاره وه او د یلملم و برابرۍ ته پر رسېدو احرام تړل کېدئ دغه د هندوستان د لویو علماوو معمول وو اوس هم احتیاط په دې کي دئ که څه هم داوسنۍ جغرافیې قول دا دئ چي اوس په لار کي نه یلملم راځي او نه د هغه برابري راځي، له جدې څخه

احرام ترل لازم دي، مګر د احتیاط تقاضا هغه ده کومه چي ذکر سوه. (فتاوی محمودیه: ۱۰/ ۲۹، مبوب ومرتب).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (عمدة الفقه: ٤/ ۹۰ -۹۳، د هندوستان د حجیانو له پاره د میقات مسئله مجددیه، وفتاوی رحیمیه: ٦/ ٤٠٧ -٤١٠، واحسن الفتاوی: ٤/ ٥٦٤). والله تعالی اعلم.



قال الله تعالی: ﴿ فمن تمتع بالعمرة إلى الحج فما استيسر من الهدي ﴾. (سورة البقرة: الاية:١٩٦).

عن أنس رضي الله عنه قال سمعت النبي ﷺ يقول ﴿ لبيک بعمرة وحجة ﴾. (ترمذی).

دریم .... باب

د قران، متمتع او افراد بیان

د افراد تر نیت وروسته د قران کولو د حج حکم

سوال: که چیري یوه سړي د حج افراد نیت وکړئ بیا د حج د افعالو تر شروع کېدو د مخه د قران اراده وکړي نو دا صحیح ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د حج د افعالو تر شروع د مخه د قران نیت صحیح دئ او د قران دم واجب دئ داسي کول بد دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

والقران لغة الجمع بين شيئين، وشرعاً أن يهل أي يرفع صوته بالتلبية بحجة وعمرة معاً حقيقة أو حكماً بأن يحرم بالعمرة أولًا ثم بالحج قبل أن يطوف لها أربعة أشواط، أو عكسه

بأن يدخل إحرام العمرة على الحج قبل أن يطوف للقدوم وإن أساء. وفي الشامية: قوله وإن أساء أي وعليه دم شكر لقلة إساءته، ولعدم وجوب رفض عمرته. (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۵۳۱، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق: ۲/ ۳۵٦، کوئټه - وفتاوی هنديه: ۱/ ۲۳۷ - وبدائع الصنائع: ۲/ ۱٦۷، سعيد - ومعلم الحجاج: ۲۷۱). والله ﷻ اعلم.

پر قرباني د قادرېدو سره سره د افراد کولو حکم

سوال: يو سړی سره له خپلې ښځې، دوو زامنو او يوې خور د حج افراد له پاره ولاړئ او پر دوباره راتلو يې ديو عالم قول ذکر کړئ چې حج افراد خالي د غريبانو له پاره دئ کله چې هغه په خپله له هغه عالم څخه پوښتنه وکړه نو عالم ورته وويل چې د اسلام په شروع کې هغو خلکو حج افراد کوئ کوم چې پر قرباني يې قدرت نه وو اوس دا سړی دا پېژندل غواړي چې ايا حج افراد يوازې د غريبانو له پاره دئ؟

الجواب: د دې عالم دغه وينا صحيح نه ده بلکې هغه خلک هم حج افراد کولای سي کوم چې پر قرباني قدرت لري مګر په دې کې شک نه سته چې د احنافو په نزد حج قران تر ټولو بهتره دئ او افراد هم د ټولو له پاره روا دئ.

وګورئ په شرح اللباب کې راځي:

القران أفضل من الإفراد أي بالحج والتمتع والأولى أن يقول أفضل من التمتع والإفراد لأن التمتع عندنا أفضل من الإفراد خلافاً لمالك رحمة الله عليه، والشافعي رحمة الله عليه، حيث قالا: إن الإفراد أفضل مطلقاً. (لباب المناسک مع شرحه: ۲۸٤، باب القرآن، بيروت).

په بدائع الصنائع کې يې وګورئ:

وأما بيان ما يحرم به، فما يحرم به في الأصل ثلاثة أنواع: الحج وحده، والعمرة وحدها، والعمرة مع الحج، وعلى حسب تنوع المحرم به يتنوع المحرمون، وهم في الأصل أنواع

ثلاثة : مفرد بالحج ، ومفرد بالعمرة ، وجامع بينهما ، فالمفرد بالحج هو الذي يحرم بالحج لا غير ، والمفرد بالعمرة هو الذي يحرم بالعمرة لا غير . (بدائع الصنائع:۲/ ۱۶۷، سعيد). والله ﷻ اعلم.

قارن ته په طواف، عمره او طواف قدوم کي د داخلېدو حکم

سوال: که څیري یو قارن طواف قدوم د عمرې په طواف کي وکړي نو مکروه دي او که بېله کراهته روا دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د عمرې په طواف کي د طواف قدوم نیت کول بېله کراهت روا او صحیح دئ.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن جابر رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قرن الحج والعمرة فطاف لهما طوافاً واحداً. (رواه الترمذی:۱/ ۱۸۸).

په تفسیر مظهري کي راځي:

إنه صلى الله عليه وسلم لما قدم مكة طاف وسعى بين الصفا والمروة، ثم لم يقرب الكعبة بطوافه بها حتى رجع من عرفة، رواه البخاري، قلت: وذلك الطواف والسعى كان لعمرته وكفاه عن طواف القدوم لحجه. (التفسیر المظهری:۱/ ۲۳۰، بلوچستان).

په فتح القدير کي راځي:

وروى أحمد من حديث الهرماس بن زياد الباهلي أن رسول الله ﷺ قرن فى حجة الوداع بين الحج والعمرة، وروى البزار بإسناد صحيح إلى ابن أبي أوفى قال: إنما جمع رسول الله ﷺ جمع بين الحج والعمرة، لأنه علم أن لايحج بعد عامه ذلک، وروى أحمد من حديث

جابر رضي الله عنه « أن رسول الله ﷺ قرن الحج والعمرة فطاف لهما طوافاً واحداً. (فتح القدير: ٢/ ٥٢٣، باب القرآن، دار الفكر).

له دغو احاديثو څخه معلوميږي چې نبي كريم ﷺ حج قران كړى وو او د عمرې او طواف قدوم له پاره يې يو طواف كړى وو.

په معارف السنن كې راځي:

قال شيخنا رحمه الله تعالى: ويمكن أن يقال: إن الطواف الأول يوم القدوم كان للعمرة وتداخل فيه طواف القدوم..... وقال الراقم: لاشک أن طواف القدوم تحية للبيت كتحية المسجد بالركعتين، ومن دخل المسجد وصلى السنة ونوى التحية فيها دخل صلاة التحية في السنة. (معارف السنن: ٦/ ٣٦٩، بحث طواف القارن، سعيد).

په درس ترمذي كې راځي:

له دغو څلورو طوافو څخه د احنافو پر مذهب ديوه طواف د نه كولو اجازه سته او هغه دا دول چې د عمرې په طواف كې د طواف قدوم نيت وكړي نو بيا د طواف قدوم ضرورت نه سته. (درس ترمذى: ٣/ ٢٢٢).

په معلم الحجاج كې راځي:

مسئله: تر وقوف د مخه كه يو څه نفل طواف وكړي او د طواف قدوم نيت يې ونه كړي نو بيا هم طواف قدوم وسو او د طواف قدوم خاص نيت كول ضروري نه دي. (معلم الحجاج: ١٦٢، د طواف قدوم احكام). والله تعالى اعلم.

د متمتع او مفرد له پاره د حج سعی تر اختر د مخه کولو حکم

سوال: که چیري یو متمتع یا مفرد د حج سعی تر اختر د مخه کول وغواړي نو کولای یې سي او که نه؟ که چیري یې کولای سي نو د هغه له پاره طواف ضروري دئ او که نه؟ او طواف به په احرام کي کوي او که بېله احرامه همدا ډول د سعی د تقدیم څه دلیل دئ، حال دا چي د احنافو په نزد قاعده ده ((من قدم شیئا من نسکه أو أخر فلیهرق لذلک دما)) ؟

الجواب: په احادیثو کي راځي چي نبي کریم ﷺ دوې سعی کړي وې او څنګه چي له هغو څخه د هري یوې وخت ذکر سوی نه دئ نو ځکه د دې په تقدیم کي هیڅ پروا نه سته او په دې صورت کي متمتع او مفرد د حج سعی تر اختر د مخه کولای سي، که څه هم بهتره دا ده چي هغه دي تر طواف زیارت وروسته وکړي، سعي بېله طوافه روا نه ده، همدا ډول طواف او سعی دي د احرام په حالت کي وکړي ((من قدم شیئا من نسکه الخ)) دغه قاعده د رمی، ذبح او حلق په اړه ده او د طواف زیارت او سعي په اړه نه ده.

وګورئ په احادیث کي د دوو سعیو ذکر راغلی دئ مګر د وخت یې ذکر کړی نه دئ.

عن ابن أبي لیلی، عن علي رضي الله عنه أنه طاف لهما طوافین وسعی لهما سعیین، وقال: هکذا رأیت رسول الله ﷺ صنع. سنن دار قطنی:۲/ ۲۶۳/ ۱۳۰. وعن عمران بن حصین أن النبي ﷺ طاف طوافین وسعی سعیین. (دار قطنی:۲/ ۲٦٤).

په حیلة الاولیله کي راځي:

عن رجل من بني عذرة أنه سمع علي بن أبي طالب رضي الله عنه لبی بحجة وعمرة معاً قال مسعر: قلت لبکیر: طاف لهما طوافین وسعی لهما سعیین قال: نعم، رواه عباد بن صهیب عن مسعر مثله، وزاد هکذا رأیت النبي صلی الله علیه وسلم ضنع. (حلیة الاولیاء:۷/ ۲۳۱، بیروت- والسنن الکبری للبیهقی:۵/ ۱۰۸، دار المعرفة، بیروت).

په غنیة الناسک کي راځي:

وإن أراد تقديم السعي لزمه أن يتنفل بطواف بعد إحرامه للحج يضطبع فيه ويرمل ثم يسعى بعده ولوطاف للقدوم مع أنه ليس بسنة فى حقه وسعى بعده وكان قد أحرم قبلهما للحج وقع سعيه معتبراً فلا يأتى به بعد طواف الزيارة. (غنية الناسک:١١٥، كراچی – وكذا فى الشامی:٢/ ٥١٨، سعيد). والله تعالى اعلم.

په حج قران کي تر عمرې د مخه پر حيض راتلو د قران حکم

سوال: يوې ښځي قران وکړ او تر عمرې د مخه هغې ته حيض راغلئ تر اوسه يې د عمرې طواف کړی نه وو تر داسي وخته چي د حج افعال شروع سول نو اوس پر دې ښځي دم سته او که نه او حج قران صحيح سو او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د عمرې د ختمېدلو په سبب قران باطل سو او د قران دم ساقط سوی، البته د تشريق تر ورځو وروسته د عمرې قضا لازمه ده او د عمرې د ماتولو په سبب دم لازم دئ.

په لباب المناسک کي يې وګورئ:

الثالث: ـ أن يطوف للعمرظ كله أو أكثره قبل الوقوف بعرفة فلو لم يطف لها حتى وقف بعرفة بعد الزوال ارتفضت عمرته أي ولو من غير نية رفضه إياها ثم إذا ارتفضت عمرته فعليه دم لرفضها وقضاؤها بعد أيام التشريق وبطل قرانه وسقط عنه دمه أي دم القران للشكر المترتب على نعمة الجمع من أداء النسكين. (لباب المناسک مع شرحه:٢٨٥، فصل فى شرائط صحة قران، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

ولو لم يطف لعمرته أو طاف لها أقله ولو بعذر كحيض مثلاً حتى وقف بعرفة ارتفضت عمرته وإن لم ينو الرفض، لأنه تعذر عليه أداؤها.... وبطل قرانه وسقط عنه دمه وعليه

قضاؤها بعد أيام التشريق ودم رفضها. (غنية الناسک فی بغية المناسک:١٠٩، فصل فی صفة القران المسنون، ادارة القرآن – وکذا فی الهداية:١/ ٢٦٠، باب القران). والله تعالیٰ اعلم.

د متمتع تر يوه د زياتو عمرو کولو حکم

سوال: که څيري يو سړی وحج ته ولاړ سي او تمتع وکړي نو تر حلالېدو وروسته چي کله په مکرمه کي واوسيږي نو بيا بيا عمره کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي متمتع تر يوه زياتي عمرې کولای سي.

په غنية الناسک کي راځي:

ويعتمر قبل الحج ماشاء وما فی اللباب: ولايعتمر قبل الحج فغير صحيح لأنه بناء علی أن المکی ممنوع من العمرة المفردة، وهو خلاف مذهب أصحابنا جميعاً لأن العمرة جائزة فی جميع السنة بلا کراهة إلا فی خمسة أيام، لافرق في ذلک بين المکی والآفاقي صرح به في النهاية والمبسوط والبحر وأخی زاده والعلامة قاسم وغيرهم رحمهم الله تعالی، کذا فی المنحة بل المکی ممنوع من التمتع والقران وهذه عمرة مفردة لا أثر لها فی تکرر تمتعه. (غنية الناسک فی بغية المناسک:١١٥، فصل فی کيفية اداء التمتع المسنون، ادارة القرآن – وشرح اللباب:٣١٣، بيروت).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

راجح قوال دا دئ چي متمتع افاقي د حج په مياشتو کي د عرفات په ورځ، د اختر په ورځ او د تشريق د ورځو څخه پرته په نورو ورځو کي عمره بېله تکليفه کولای سي. د ارشاد الساري مصنف ليکلي دي چي ناخبره متمتع حجيان جاهل معلم له نفلي عمرې څخه بنده وي او دا غلط کار دئ، غريب ناخبره حجيان له داسي عبادت څخه محرومه اوسيږي چي هغه خلک هغه عبادت په خپل وطن کي کولای نه سي او له يوه غټ عبادت څخه محرومه پاتيږي. (ص ١٤٩).

نو ځکه په عمره کولو کي حرج او تکلیف نه سته روا دئ او داحقر عمل هم دغه دئ. (فتاوی رحیمیه: ۲/ ۷۲).

په معلم الحجاج کي راځي:

متمتع له یوې عمرې وروسته دوهمه عمره تر حج دمخه کولای سي. (معلم الحجاج: ص ۲۵٦، مسائل منمتع ادارة القران – وزبدة المناسک مع عمده السالک: ۳۱۳ -۳۱۹، د متمتع د ادا کولو د طریقی بیان). والله ﷻ اعلم.

متمتع تر عمرې وروسته ومدینې ته ولاړ ئ بیا دوهم ځل پر راتک د عمرې حکم

سوال: یو سړی حج ته ځي او حج متمتع کوي او مکې مکرې ته تر سېدو وروسته عمره کوي او تر هغه وروسته مدینې ته ځي نو دا سړی له مدینې څخه پر دوهم ځل راتک عمره کولای سي او که نه؟ (دغه تمتع پر تمتع حسابیږي او که نه)؟

الجواب: په دې صورت کي له مدینې منورې څخه پر دوهم ځل راتک د عمرې اجازه سته او دا تمتع پر تمتع هم نه حسابیږي، البته د حج احرام تړل بهتر دي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

کوم چا چي د حج په میاشتو کي عمره وکړه او تر هغه وروسته په مدینه منوره کي حاضر سو او بیا په دغه کال یې حج وکړئ او وطن ته دوباره ولاړ ئ د امام صاحب په نزد دغه سړی متمتع دئ، هغه ته د یوې عمرې وروسته تر حج مخکي له مدینې څخه تلل او عمره کول امام صاحب منع کړې ده او د صاحبین په نزد ومدینې منورې ته د تلو په سبب یې دا تمتع باطل سو او که چیري هغه دوهم ځل عمره کوي نو تمتع صحیح کیږي. (فتاوی محمودیه: ۱۰/ ۳۹۳، مبوب ومرتب).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که چیري یو افاقي د حج په میاشتو کي تر عمره کولو وروسته مدینې یا جدې ته ولاړ سي نو د واپسۍ په وخت کي د هغه له پاره د حج افراد احرام تړل بهتره دي. د امام صاحب په نزد له اصلي وطن څخه پرته د دوهم ځای طرف ته سفر کولو څخه تمتع نه باطلیږي او د صاحبین په نزد باطلیږي ځرنګه چي اوله عمره د تمتع نه حسابیږي نو ځکه اوس له سره تمتع یا قران هر یو چي وغواړي

کولای یې سي او د امام صاحب د مذهب مطابق هغه د مکي په حکم کي دئ نو ځکه قران خو کولای نه سي، البته د تمتع عمره یې باقي ده او تر دې وروسته تر حج د مخه د دوهمي عمرې جواز مختلف فیه دئ. اعدل قول دا دئ چي له آفاق (بلکي د مکې ځخه هم روا دئ) څخه جائز دئ نو ځکه له مدینې منورې څخه پر واپسی د عمرې د احرام په تړلو کي چنداني مشقت نه سته سره له دې له اختلاف څخه د ځان ساتلو له پاره یوازي د حج احرام تړل بهتر دي. (احسن الفتاوی: ٤/ ٥١٤). والله تعالیٰ اعلم.

د تمتع متعلق یو څو سوالونه

سوال: علماء په دې مسئله کي څه فرمایي، یو آفاقي سړی د حج په میاشتو کي مکې مکرمې ته ولاړئ او عمره یې اداء کړه د عمرې تر اداء کېدلو وروسته ومدینې منورې ته ولاړئ پر دوهم ځل راتګ یې دوهمه عمره وکړه او بیا یې د حج احرام له مکې مکرمې څخه وکړئ؟

۱_ ایا د دې سړي تمتع صحیح ده او که نه؟

۲_ ایا پر دغه سړي د تمتع دم سته او که نه؟

۳_ ایا پر دې سړي دم جبر سته او که نه؟

۴_ تمتع له اولي عمرې څخه منعقد سو که له دوهمي څخه؟

۵_ د افاقي له پاره د حج په میاشتو کي تر یوې زیاتي عمرې کول صحیح دي او که نه؟

۶_ له مدینې څخه یې خالي د حج احرام وتړئ نو تمتع صحیح سوه او که نه؟

۷_ ایا پر دغه د جبر دم سته او که نه؟

۸_ افاقي حاجي ته د حج په میاشتو کي له میقات څخه دباندي تلل څنګه دي؟

۹_ په دې دوو صورتو کي بهتر صورت کوم یو دئ؟ (المفتي حضرت مولانا شبیر احمد صاحب مهتم مدرسه هذا)؟

الجواب: د حج په میاشتو کي که چیري یو سړي عمره وکړه او مدینې منورې ته ولاړئ بیا د هغه ځای څخه د دوهم ځل تر راتلو وروسته خالي د حج احرام یې وتړئ نو د دې تمتع صحیح سوه دا د امام صاحب په نزد دي او د صاحبین په نزد او له تمتع باطل سوه مګر که چیري یې بیا د مدینې منورې

ځخه د عمرې احرام وتړئ او راغلئ او بیا یې حج وکئ نو د هغوی په نزد تمتع صحیح سوه مګر د امام صاحب په نزد دي داسي نه کوي.

په معلم الحجاج (۲۱۸) کي مولانا شبیر محمد د (۱) حاشیه څخه دا عبارت اخیستل سوی دئ او له دې عبارت څخه ستا د ټولو سوالونو وجوابو ته اشارة یا صراحة را ووتل په ترتیب سره یې وګوره.

۱_ د صاحبین په نزد د هغه تمتع صحیح سوه.

۲_ د هغوي په نزد د تمتع دم واجب دئ.

۳_ له میقات څخه د دباندي د تلو په سبب د هغه اوله تمتع باطل سوه او د هغه تقاضا دا ده چي پر هغه دم جبر واجب سي دا د صاحبین د مذهب مطابق دئ او د امام ابو حنیفه رحمه الله پر مذهب دم جبر واجب نه دئ او فتوی هم پر دغه قول ده.

۴_ له دوهمي عمرې څخه تمتع منعقده سوه.

۵_ په دې کي اختلاف دئ په معلم الحجاج کي دغه مسئله ذکر سوې ده (متمتع له یوې عمرې وروسته تر حج د مخه دوهمه عمره کولای سي_ معلم الحجاج: ص ۲۵٦، ادارة القرآن په اوله حاشیه کي یې اختلاف نقل کړی دئ. لکه مخکي چي تېر سول.

٦_ د امام صاحب په نزد د هغه تمتع اداء کیږي.

۷_ پر دې سري دم جبر واجب نه دئ، دغه د امام صاحب مذهب دئ.

۸_ دا نامناسب دئ.

۹_ د امام صاحب په نزد بهتر صورت دغه دئ چي له مدینې دي فقط د حج احرام وتړي او را دي سي.

په عباداتو کي د اختلاف په وخت کي د امام صاحب پر مذهب او قول فتوی ورکول کیږي. والله سبحانه وتعالی اعلم.

دا فتوی په فتاوی محمودیه کي هم نشر سوې ده. وګوري: (صفحه ۱۰/۳۹۱).

متمتع ته د احرام څخه پر ته د حج د سعي کولو حکم

سوال: یوه سړي تر حلالېدو وروسته نفلي طواف وکړ او د حج سعی یې تر دې طواف وروسته بېله احرامه وکړه نو څه حکم یې دئ؟

الجواب: که چیري یې د حج سعي پر عرفات تر درېدو د مخه وکړه نو احرام شرط دئ او د عرفات تر درېدو وروسته یې بېله احرامه کول سنت دي، په دې صورت کي یې پر عرفات تر درېدو د مخه کړې ده نو ځله بېله احرامه صحیح نه دئ او دوهم ځل کول لازم دي.

په غنیة الناسک کي یې وګوریٔ:

الرابع تقديم الإحرام عليه وأما بقاء الإحرام حالة السعي، فإن كان سعيه للحج قبل الوقوف فيشترط، أو بعد الوقوف فلا يشترط، بل ويسن عدمه. (غنية الناسک:۷۱، فصل فی رکن السعی وشرائطه، دارة القرآن، – و ص ۱۱۵ – والشامی:۲/ ۵۱۸، سعید – ولباب المناسک مع شرحه:۱۹۳، فصل فی شرائط صحة السعی، بیروت).

په عمدة الفقه کي راځي:

د حج یا عمرې احرام پر سعي مقدم کول نو که چیري یو سړی تر احرام د مخه سعي کوي نو روا او صحیح نه ده، مګر احرام د حج له پیل څخه تر سعي پوري باقي پاته کېدل ضروري نه دي بیا که یې چیري د حج سعي یې پر عرفات د درېدو د مخه وکړي نو احرام موجود والي شرط دئ برابره خبره ده که حاجي قارن وي او که متمتع وي او که مفرد وي که چیري یې د حج سعی پر عرفات تر درېدو وروسته وکړي نو اوس د احرام پاته کول شرط نه دي ځکه چي اوس هغه ته له احرام څخه تر حلالیدو وروسته سعي کول روا دي بلکي اوس مسنون دا ده چي له احرام څخه فارغ سي او سعي وکړي. (عمدة الفقه:٤/ ۱۹۸).

په معلم الحجاج کي راځي:

د حج یا عمرې درېیم شرط د احرام پر سعي مقدم کول دي که چیري یو سړی تر احرام د مخه سعي کوي نو دا صحیح نه ده که څه هم تر طواف وروسته سوې وي او د احرام پاته کول تر سعي

پوري ضروري نه ده بلکي په هغه کي دا تفصيل دئ که چيري د حج سعي کوي (که قارن وي که متمتع وي او که مفرد وي) او پر عرفات تر درېدو يې د مخه کوي نو د سعي په وخت کي احرام شرط دئ او که چيري يې پر عرفات تر درېدو وروسته کوي نو د احرام پاته کول شرط نه دئ، بلکي د احرام نه موجود والی مسنون دئ. (معلم الحجاج:٦٩). والله تعالیٰ اعلم.

د يو څو ورېښتان د پرې کولو څخه د حلالېدلو حکم

سوال: يوه سړي حج تمتع وکړئ تر عمرې کولو وروسته يې يو څو وربښتان پرې کړل بيا يې تر هغه وروسته د حج احرام وتړئ نو اوس پر دې سړي څه لازم دي ؟ دم سته او که نه؟ که چيري دم وي نو څومره دئ؟

الجواب: په دې صورت کي متمتع د عمرې څخه د ورېښتانو د پرېکولو په سبب حلال نه سو مخکي احرام پاته دئ او څنګه چي دوې درې ورځي يې کالي هم اغوستي دي نو ځکه يو دم او يوه صدقه لازمه ده، صدقه په دې سبب چي د احرام په حالت کي يې يو څو ورېښتان پرې کړي وه او دم په دې سبب چي هغه بخې کړي کالي اغوستي وه. ممکنه ده چي د نورو جناياتو يې هم ارتکاب کړی وي مګر د تداخل په سبب صرف يو دم لازم دئ او د متمتع له پاره د حج د افعالو تر شروع د مخه حلق لازم نه دئ.

په هدايه کي راځي:

يبتدئ من الميقات فی أشهر الحج فيحرم بالعمرة ويدخل مكة فيطوف لها ويسعى لها ويحلق أو يقصر وقد حل من عمرته.

قال المحشي: قوله « وقد حل من عمرته » ظاهره لزوم الحلق فی التمتع وليس كذلک بل لو لم يحلق حتى أحرم بالحج وحلق بمنى كان متمتعاً. (الهداية مع الحاشية:١/ ٢٦٠).

وقال الطحطاوى رحمه الله فى حاشيته على الدر المختار: قوله « يحلق » إنما ذكر الحلق لبيان تمام العمرة لا لأ نه شرط فى التمتع لأنه مخير بينه وبين بقائه محرماً بها إلى أن يدخل إحرام الحج. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۵۱٦، باب التمتع، كوئته).

تداخل د جناياتو په اړه په غنية الناسک کي يې وګورئ:

وإذا اختلف جنس الجناية تعذر التداخل إلا إذا فعلها على قصد رفض الإحرام، فإن المحرم إذا نوى رفض الإحرام، فجعل يصنع ما يصنعه الحلال من لبس الثياب والتطيب والحلق والجماع وقتل الصيد، فعليه دم بجميع ما ارتكب. (غنية الناسک:۱۲۹، باب الجنايات، ادارة القرآن.). والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ وأتموا الحج والعمرة لله ﴾.

وقال رسول الله ﷺ ﴿ العمرة إلى العمرة كفارة لما بينهما ﴾. (متفق عليه).

څلورم...... باب

د عمرې باب

تر حج وروسته له تنعيم څخه د عمرې كولو حكم

سوال: په سعودي عرب كي ځيني حضرات كوچني رسالي وېشي او په هغو كي ليكلي وي چي تر حج وروسته دي له تنعيم څخه عمره نه كوي او په ژبه هم وايي چي تر حج وروسته نبي كريم ﷺ او صحابه وو عمره كړې نه ده حال دا چي زموږ ډېر زيات حضرات تر حج وروسته عمره كوي او دا د ثواب كار بولي شرعا د دې څه حكم دئ؟

الجواب: د احنافو په نزد د حج د ورځو څخه پرته پوره كال عمره كول د ثواب كار دئ يعنى د ذي الحجې له نهم(٩) څخه دي د ذى الحجې تر ديارلسم (١٣) پوري دي عمره نه كوي او په پاتـه كال كي په هر وخت كي عمره كولاى سي، كله چي حضرت عائشه ﵂ له حج څخه فارغه سوه نو كومه عمره چي د هغې پر ذمه كي پاتـه وه د هغه د قضاء له پاره تنعيم ته ولاړه، له هغې سره د هغې ورور عبد الرحمن هم وو او دواړو له تنعيم څخه د ذى الحجې په څلوارلسم (١۴) عمره وكړه.

(بخارى:١/ ص ٢١٢).

نبي كريم ﷺ عبد الرحمن ته وويل چي خپله خور له حرم څخه دباندي بوزه او عمره په وكړه بيا حضرت عائشه ﵂ فرمايي: «حتى فرغت وفرغ أي عبد الرحمن أيضاً « كما فى الشرح» من الطواف ثم جئته بسحر فقال: هل فرغتم (صحيح البخارى:١/ ٢١٢).

دغه ډول په ځيني روايتو كي ((فرغتما)) هم راغلى دئ. په موطا امام مالک كي ذكر سوي دي:

كانت عائشة رضي الله عنها تعتمر بعد الحج من مكة في ذي الحجة ثم تركت ذلك فكانت تخرج قبل هلال المحرم حتى تأتي الجحفة فتقيم بها حتى ترى الهلال فإذا رأت الهلال اهلت بعمرة. (الموطا:ص ۳۸۲).

وفى الأوجز: ولعل ذلک لتحصيل الفصل بين الحج والعمرة امتثالًا لأمر أمير المومنين كما سيأتى قريباً فى باب العمرة، أفصلوا بين حجكم وعمرتكم فإن ذلک أتم لحج أحدكم ولعمرته أن يعتمر فى غير أشهر الحج. (اوجز المسالک:۶/ ۵۵۵، دار القلم دمشق).

يعني حضرت عائشې رضي الله عنها په ذی الحجه کي تر حج وروسته عمره کوله او بيا يې پرې ښودله بياد محرم د مياشتي تر مخه جحفه ته راتله او هلته يې اقامت کاوه او د محرم تر مياشتي وروسته يې د عمرې احرام تړۍ.

په اوجز کي راځي، دا په دې سبب چي د امير المؤمنين دامر اطاعت راسي هغوی وويل وه چي په حج او عمره کي جلا والي راولئ او دا د حج او عمرې د تکميل له پاره غوره دئ چي د حج د مياشتو وروسته عمره وکړي.

همدا ډول که چيري يو سړی دا وايي چي نبي کريم ﷺ او صحابه وو تر حج وروسته عمره کړې نه وه نو موږ به يې هم نه کوو نو څنګه چي د مهاجرينو ژر واپسي مطلب وه نو ځکه هغوی ژر راوګرځېدل او عمره يې ونه کړه له دې څخه دا څنګه لازمه سوه چي عمره کول په کار نه ده که چيري يو سړي دا ووايي، چي څلوارلسم (۱۴) تاريخ ته خو ټول حاجيان راځي ځکه چي نبي کريم ﷺ او صحابه وو څلوارلسم (۱۴) تاريخ ته راغلي وه، نو ايا دغه خبره د منلو وړ ده؟ همدا ډول دغه خبره هم د منلو وړ نه ده چي رسول الله ﷺ تر حج وروسته عمره کړې نه وه نو موږ يې هم بايد ونه کړو هغوی ته خو موقع پاته سوې نه وه که چيري نبي کريم ﷺ عمره کړې وای او د هغه په اتباع سره ډېرو خلکو عمره کړې وای او څلورلس (۱۴) تاريخ ته دوباره راغلی هم وای نو څومره ګرانه به وای. والله ﷻ اعلم.

د حیض په سبب د عمرې د احرام د خلاصولو حکم

سوال: د پنځلسو کالو یوې انجلۍ د عمرې احرام وتړئ بیا یې د حیض په سبب عمره ونه کړه او دوباره کور ته ولاړه او احرام یې خلاص کړئ نو اوس د عمرې څه حکم دئ؟

الجواب: په دې صورت کې یې د حیض په سبب یې عمره پرې ښودله نو دا د عمرې د ماتېدو په حکم کې ده نو ځکه د عمرې قضاء او یو دم لازم دئ.

وګورئ په غنیة الناسک کې راځي:

فإن رفضها فعليه دم لرفضها وقضاؤها لصحة الشروع فيها. (غنية الناسک:۱۲٤، ادارة القرآن).

په درالمختار کې راځي:

حج فأهل بعمرة يوم النحر أو في ثلاثة أيام بعده لزمته بالشروع لكن مع كراهة التحريم ورفضت وجوباً تخلصاً من الإثم وقضيت مع دم للرفض، وفي الشامية: قوله بالشروع: لأن الشروع فيها ملزم. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۵۸۸، سعید).

په فتح القدیر کې راځي:

وكل شيء رفضه يجب لرفضه دم وقضاؤه، فإن كان عمرة لم يلزمه في قضائها سوى عمرة. (فتح القدير:۳/ ۱۲۰، دار الفكر). والله تعالیٰ اعلم.

د حیض په حالت کې د عمرې د اداء کولو حکم

سوال: یوه ښځه عمرې ته ځي او د هغې په مکه مکرمه کې اوسېدنه خالي شپږه (٦) ورځي ده او هغه في الحال په مدینه منوره کې ده مګر هغې ته معلومه ده چې د هغې حیض تر لسو (۱۰) ورځو پورې وي همدا رنګ هغه له خپل کور والا وو څخه هم جلا اوسېدلای نه سي او د کور والا یې عمرې ته ځي او د سفر ترتیب بدلول هم خورا مشکل دئ اوس دا دې څه تدبیر اختیار کړي او عمره دې څنګه اداء کړي؟

الجواب: په دې صورت کې دې د هغه ښځه له خپلو کور والا وو سره مکې مکرمې ته ولاړ سي او تر پاکېدو وروسته دې عمره وکړي او که چېرې تر دوباره راتلو پورې د پاکۍ هیڅ شکل جوړ نه سو او

د مجبورۍ په سبب یې د حیض په حالت کې عمره وکړه نو دم لازم دئ او دغه دم له حرم سره خاص دئ.

په فتاوی شامي کې راځي:

ولو طاف للعمرة كله أو أكثره أو أقله ولو شوطاً جنباً أو حائضاً أو نفساء أو محدثا فعليه شاة لا فرق فيه بين الكثير والقليل والجنب والمحدث، لأنه لا مدخل في طواف العمرة للبدنة ولا للصدقة . (فتاوى الشامى:٢/ ٥٥١، سعيد - وكذا فى اللباب مع شرحه:٣٩٠، بيروت).

په البحر الرائق کې راځي:

قوله : أو طاف لعمرته وسعى محدثًا ، ولم يعد، أي تجب شاة لتركه الواجب ، وهو الطهارة، قيد بقوله ، ولم يعد ؛ لأنه لو أعاد الطواف طاهرًا فإنه لا يلزمه شيء لارتفاع النقصان بالإعادة ، ولا يؤمر بالعود إذا رجع إلى أهله لوقوع التحلل بأداء الركن مع الحلق ، والنقصان يسير ، وما دام بمكة يعيد الطواف ؛ لأنه الأصل...... ولو قال المصنف محدثًا أو جنبًا لكان أولى ؛ لأنه لا فرق بين الحدثين في طواف العمرة . (البحر الرائق:٢/ ٢٢، كوئته). والله ﷻ اعلم.

د عمرې تر کولو وروسته پر قصر نه کولو د عمرې حکم

سوال: یوې ښځې تر عمرې وروسته خپل وروښتان پرې نه کړل بیا دوهمه ورځ ورته را یاد سول نو بیا تر هغه وروسته یې قصر وکړئ نو عمره صحیح سوه او که نه او دم واجب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د ښځې عمره صحیح سوه مګر هو تر کومه وخته چې یې قصر کړی نه وو احرام جاري وو بیا تر قصر وروسته احرام ختم سو، البته که چیرې یې تر قصر د مخه یو د احرام خلاف کار کړی نه وو نو هیڅ جزاء نه لازمیږي او که چیرې یې خلاف احرام کار کړی وي نو د هغه تفصیل ولیکه او را وایه ستوه تر څو د هغه جواب درکول سي انشاء الله تعالي.

په بدائع الصنائع کې راځي:

أن الحلق أو التقصير واجب لما ذكرنا فلا يقع التحلل إلا بأحدهما ولم يوجد فكان إحرامه باقيا. (بدائع الصنائع:۲/ ۱٤٠، سعيد).

په فتاوی تاتار خانيه کي راځي:

وفي حق المعتمر لايختص بالزمان وبالمكان بلاخلاف، وفي الهداية: والتقصير والحلق فی العمرة غير مؤقت بالزمان بالإجماع، فإن لم يقصر حتى رجع وقصر فلا شيء عليه فی قولهم جميعا. (الفتاوی التاتار خانية:۲/ ٥٤٤، فی الحلق والتقصير، إدارة القرآن- وكذا فی شرح اللباب:۲٥٤، فصل فی زمان الحلق ومكانه وشرائط جوازه، بيروت). والله تعالیٰ اعلم.

په دوا سره د حيض تر بندولو وروسته يې عمره وکړه بيا پر ويني ليدلو د عمرې حکم

سوال: يوه ښځه په مدينه منوره کي ده هغې د حيض په ورځو کي يو څو څاڅکي تر درو ورځو پوري وليدله بيا يې دوا وخوړه او پاکه سوه پنځمه ورځ يې عمره وکړه د لسو ورځو تر پوره کېدلو د مخه يې بيا وينه وليدل نو ايا د دې عمره وسوه او که نه او دم واجب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي د عادت په ورځو کي دوهم ځل وينه شروع سوې نو ځکه د دغه عمره يې د حيض په حالت کي شمارل کيږي او دوهم ځل دي عمره وکړي که چيري يې اعاده ونه کړه نو دم لازم دئ.

په فتاوی شامي کي راځي:

اعلم أنه لا يشترط استمرار الدم فيها بحيث لا ينقطع ساعة، لأن ذلك لا يكون إلا نادراً بل انقطاعه ساعة أو ساعتين فصاعدا غير مبطل كذا في المستصفى، بحر، أي لأن العبرة لأوله وآخره. (فتاوی الشامی:۱/ ۲۸٤، باب الحيض، سعيد).

په عمدة الفقه کي راځي:

که چيري د يوې حائضې ښځي وينه په دوا يا بېله دوا منقطعی سوې يا پوره منقطعی نه سوې خو دې غسل وکړ او يا نه او طواف يې وکړئ بيا د هغې وينه د عادت په ورځو کي دوهم ځل شروع سوې

نو د دې ښځي طواف د حيض په حالت كي حسابيږي او په دوا سره هيڅ فرق نه راځي د دم متوالی په حكم كي سوی او عمره د حيض په حالت كي شمار سوه. (مستفاد از عمدة الفقه: ٤/ ٥٢٦، مجددیه).

والله تعالیٰ اعلم.



عن الفضل بن عباس رضي الله عنه أن امرأة من خثعم قالت: يا رسول الله إن أبي أدركته فريضة الله في الحج، وهو شيخ كبير لايستطيع أن يستوی علی ظهر البعير قال: «حجي عنه». (رواه الترمذی).

پنځم ...... باب

د حج بدل بيان

د حج بدل كولو سره د حج د فرضيت بيان

سوال: يو سړی د حج بدل له پاره ولاړئ هغه خپل حج کړی نه دئ ځيني علماء وايي چي دغه سړی مكې مكرمې ته ورسېدئ نو پر هغه خپل حج فرض سو اوس تر را روان كال پوري اوسېدل او حج كول پر هغه ضروري سو ايا دا صحيح ده او كه نه؟

الجواب: اكثر علماء وايي، چي دا سړی د بل د قدرت په سبب قادر سوی دئ ((او قاعده ده)) القادر بقدرة الغير ليس بقادر يعني د بل په قدرت قادر سوی په حقيقت كي قادر نه بلل كيږي نو ځكه پر دغه سړي حج فرض نه سو او تر را روان كاله پوري اوسېدل ډېر مشكل كار دئ.

په فتاوی الشامي كي راځي:

وأفتى سيدي عبد الغني النابلسي ...... أنه في هذا العام لا يمكنه الحج عن نفسه، لأن سفره بمال الآمر، فيحرم عن الآمر ويحج عنه، وفي تكليفه بالإقامة بمكة إلى قابل ليحج عن

نفسه ويترك عياله ببلده، حرج عظيم، وكذا في تكليفه بالعود وهو فقير، حرج عظيم أيضاً.

(فتاوی الشامی:۲/ ٦٠٤، مطلب فی حج الصورة، سعيد).

په ارشاد الساري کې راځي:

والحق أنه يجب عليه أحد النسكين إذ لاحج إلا من الاستطاعة، والحاج عن الغير قد تلبس بالإحرام عن غيره، ولايمكنه أن يصرفه إلى نفسه، فلو وجب عليه الحج لبقي إلى العام القابل، وربما لايجد استطاعة فى مكثه وانقطاعه، فالعمرة تكفي فى إسقاط الواجب ولم يعين الفقهاء الحج في الوجوب على من دخل مكة فتنبه. (ارشاد الساری الی مناسک الملا علی القاری:٤٩٧، باب الحج عن الغير، بيروت).

په غنية الناسک کې راځي:

الفقير المأمور فإنه إذا وصل إلى الميقات لايصير كالمكى لأن قدرته بقدرة غيره وهي لاتعتبر فلا يجب عليه، بخلاف المتنفل لنفسه لأنه إذا وصل إلى الميقات صار قادراً بقدرة نفسه، وإن كان سفره تطوعاً ابتداءً، كذا فى المنحة ورد المحتار فى الحج عن الغير..... وإن كان مأموراً، فعليه أن يحرم من الميقات عن الآمر، لأن سفره بماله فلا يمكنه أن يحرم لنفسه، ثم إذا وصل إلى مكة فقيل يجب عليه كالمتنفل لنفسه، وقيل لا، ورجحه فى رد المحتار قال: لأن قدرته بقدرة الغير فلا تعتبر. (غنية الناسک فی بغية المناسک:٦، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

غير حاجي ته د حج بدل کولو حکم

سوال: که چیرې یوه سړي خپل حج کړی نه وي او د حج بدل له پاره ځي نو په دې کې کراهت شته او که نه؟ که چیرې وي نو کوم کراهت دئ تنزيهي او که تحريمي؟

الجواب: افضله دا ده چې حج بدل والا به اول خپل حج کړی وي مګر شرط او ضروري نه دئ او که چیري پر مامور په خپله حج فرض سوی وي او دی حج بدل ته ځي نو ده له پاره مکروه تحریمي دئ او د آمر په حق کي مکروه تنزیهي دئ.

په شرح اللباب کي راځي:

ولا يشترط لجواز الإحجاج أن يكون الحاج المأمور قد حج عن نفسه، أي عندنا وعند مالك رحمه الله، فيجوز حج الصرورة، وهو الذي لم يحج عن نفسه، إلا أن الأفضل كما قال فی البدائع: أن يكون قد حج عن نفسه، أي للخروج عن الخلاف الذي هو مستحب بالإجماع، ولأنه بالحج عن غيره يصير تاركاً لإسقاط الفرض عن نفسه، فيتمكن فی هذا الإحجاج ضرب كراهة، ولأنه أعرف بالمناسک فكان أفضل، ومثله في فتاوى الظهيرية، ..... قال ابن الهمام: والذي يقتضيه النظر أن حج الصرورة عن غيره إن كان بعد تحقق الوجوب عليه بملک الزاد والراحلة والصحة فهو مكروه كراهة تحريم، وفی إرشاد الساری: قوله قال ابن الهمام: قال في البحر: والحق أنها تنزيهية على الآمر، وتحريمية على الصرورة المأمور الذي اجتمعت فيه شروط الحج، ولم يحج عن نفسه، لأنه أثم بالتأخير. (شرح اللباب مع أرشاد الساری: ٤٩٥، باب الحج عن الغير، بيروت).

وقال الشامي رحمه الله: وهذا لا ينافي كلام الفتح لأنه في المأمور، ويحمل كلام الشارح على الآمر، فيوافق ما في البحر من أن الكراهة في حقه تنزيهية، وإن كانت في حق المأمور تحريمية. (رد المحتار: ٢/ ٦٠٣، مطلب فی حج الصرورة، سعيد).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوی: ٤/ ٥١٢ – وفتاوی رحیمیه: ٣/ ١٢٠). والله ﷻ اعلم.

په حج بدل کي د قران او تمتع کولو حکم

سوال: په حج بدل کي قران او تمتع کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چیر آمر صراحة له قران او تمتع څخه ممانعت وکړي نو روا نه دي که داسي نه وي روا دي.

په درمختار کي یې وګوري:

ودم القران والتمتع والجناية على الحاج فإن أذن له الآمر بالقران والتمتع وإلا فيصير مخالفاً، فيضمن، وفي الشامية: قوله على الحج أي المأمور أما الأول (أي دم القران والتمتع) فلأنه وجب شكراً على الجمع بين النسكين وحقيقة الفعل منه وإن كان الحج يقع عن الآمر لأنه وقوع شرعي لا حقيقي. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۶۱۱، باب الحج عن الغیر، سعید– ومثله فی البحر الرائق:۳/ ۶۵، کوئته).

په شرح اللباب المناسک کي راځي:

فصل في شرائط جواز الإحجاج.... الثالث عشر: عدم مخالفة فلو أمره بالإفراد فقرن أي عن الآمر، فهو مخالف ضامن عند أبي حنيفة رحمه الله وعندهما يجوز ذلک عن الآمر استحساناً.... أو تمتع.... لم يقع حجه عن الآمر ويضمن النفقة. (شرح اللباب:۴۸۸).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په حج بدل کي افراد کول په کار دي او د آمر په اجازه سره تمتع او قران هم کولای سي مګر د شکر دم پر مامور لازم دئ که چیري آمر په خوشحالي د شکر د دم قیمت اداء کړي نو روا ده په دې زمانه کي عرفاً د آمر له طرفه تمتع د قران او د شکر د دم اجازه ثابت سوې ده نو ځکه صراحة اجازه ضروري نه ده، سره له دې صراحة اجازه حاصول غوره کار دئ. (احسن الفتاوی:۴/ ۵۱۳). والله تعالی اعلم.

بېله وصيته د مړي له طرفه د حج بدل كولو حكم

سوال: پر يوه سړي حج فرض سو هغه حج ونه كړاى سو تر څو چي هغه مړ سو همدا ډول وصيت يې كړى نه وو نو اوس د ده له طرف څخه يو سړى حج بدل كولاى سي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي كه چيري يو سړى د احسان په توګه حج كول وغواړي نو انشاء الله اميد دئ چي الله تعالى د هغه ذمه فارغه كړي.

په عالمګيري كي راځي:

من عليه الحج إذا مات قبل أدائه فإن مات عن غير وصية يأثم بلا خلاف وإن أحب الوارث أن يحج عنه حج وأرجو أن يجزئه ذلك إن شاء الله تعالى ، كذا ذكر أبو حنيفة رحمه الله تعالى.

(الفتاوى الهندية:١/ ٢٥٨).

په فتاوى شامي كي راځي:

وإن لم يوص به، فحج الوارث عنه أو حج عنه غيره جاز. (فتاوى الشامى:٢/ ٥٩٩، سعيد).

په شرح اللباب المناسك كي راځي:

في مناسک السروجي: لومات رجل بعد وجوب الحج ولم يوص به فحج رجل عنه، أو حج عن أبيه أو أمه عن حجة الإسلام من غير وصية، قال أبو حنفة رحمه الله: يجزئه إن شاء الله تعالى. (شرح اللباب:٤٧٩، فصل فى شرائط جواز الاحجاج، بيروت).

كه چيري بېله وصيته يو وارث د خپلي حصې څخه حج اداء كړي يا د خپله طرفه څخه له خپله ماله څخه يې اداء كړي نو اميد دئ چي هغه مړى به له مواخذې څخه خلاص سي. (فتاوى محموديه:١٠/ ٢٢١). والله تعالى اعلم.

د آمر له وطن څخه د حج بدل کولو حکم

سوال: که چیري دیوه سړي پر ذمه حج فرض وو او هغه مړ سو او هغه په هندوستان کي اوسېدئ اوس که چیري یو سړی د هندوستان پر ځای له جنوبي افریقا څخه حج اداء کړي نو دا صحیح دئ او که نه؟

الجواب: دآمر له وطن څخه حج کول ضروري دي په هغه وخت چي د میراث په ثلث کي گنجائش وي که داسي نه وي تر میقات دمخه له کوم ځایه چي کېدلای سي استحسانا دي له هغه ځای څخه وکړی نو ځکه په دې صورت کي دي هم دآمر له وطن (هندوستان) څخه حج وکړي.

په فتاویٰ شامي کي راځي:

شروط الحج عن الغير عشرون .... الحادي عشر أن يحج عنه من وطنه إن اتسع، وإلا فمن حيث يبلغ. (فتاوی الشامی:۲/ ۶۰۰، مطلب شروط الحج عن الغیر، سعید).

په حاشیة الطحطاوي کي راځي:

قوله من بلده، وإن كان للموصى أو طان حج عنه من أقرب أو طانه إلى مكة، لأنه متيقن به وقوله من بلده محله ما إذا كان له بلد، أما إذا لم يكن له وطن فمن حيث مات بحر. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۵۵۰، باب الحج عن الغیر، کوئته).

په شرح اللباب المناسک کي راځي:

الثامن أن يحج عنه من وطنه إن اتسع الثلث أي ثلث مال الميت، وإن لم يتسع أي الثلث يحج عنه من حيث يبلغ، أي استحساناً.... لعل المكان مقيد بما قبل المواقيت، وإلا فبأي شيء يمكن أن يحج عنه من مكة وكذا الحكم إذا أوصى أن يحج عنه بماله وسمى مبلغه، فإنه إن كان يبلغ أن يحج عنه من بلده حج عنه منه وإلا فمن حيث يبلغ. (شرح لباب المناسک:۴۸۳، فصل فی شرائط جواز الاحجاج، بیروت).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که چیري دژوندي معذور په امر سره یا دمړي په وصیت سره حج بدل کوي نو د موصي یا دآمر له وطن څخه حج کول ضروري دئ که چیري د مال دریمه کافي نه وه او وارثان د زیاتو پیسو اجازه نه ورکوي نو له هره ځایه چې د مال په دریمه سره کیږي ودې کړي که چیري موصي یا آمر خپله یو ځای یا یو څه مال متعین کړي وو نو له هغه ځایه دې وکړي که څه هم له مکې څخه وي مګر قدرت لرونکي ته داسي کول مکروه دي. که چیري د حج امر یا وصیت نه وي کړی بلکي دیو چا له طرفه څخه تبرعا یو سړي حج کول غواړي نو له مکې څخه هم روا دئ، البته وقدرت لرونکي ته د میقات څخه کول بهتره دي. (احسن الفتاوی:٤/ ٥١٩ – وعمدة الفقه:٤/ ٣٤٩). والله ﷻ اعلم.

په مزدوري ورکولو سره د حج بدل کولو حکم

سوال: که چیري یې یو بل سړي ته د حج بدله کولو له پاره مزدوري ورکړه نو دا صحیح ده او که نه؟ یعنی استجار علی الحج روا دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي په کرایه ورکولو سره حج بدل کول روا نه دئ حج یو لوی عبادت دئ چي هغه د کسب معاش له پاره نه دئ که داسي نه وي اخلاص هم پکښي ختمیږي مګر که یو چا داسي وکړه، علامه شامي رحمه الله فرمایي، چې دآمر له طرفه څخه اداء کیږي او اجاره فاسدیږي، مامور ته یوازي نفقه ورکول کیږي او داجرت مستحق نه دئ.

په الدر المختار کي راځي:

فی شرائط نیابة في الحج الفرض..... منها عدم اشتراط الأجرة ، فلو استأجر رجلًا ، بأن قال: استأجرتك على أن تحج عني بكذا لم يجز حجه ، وإنما يقول أمرتك أن تحج عني بلا ذكر إجارة . (الدر المختار مع الشامی:٢/ ٦٠٠، سعید).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله لم يجز حجه عنه، كذا في اللباب ، لكن قال شارحه : وفي الكفاية : يقع الحج عن المحجوج عنه في رواية الأصل عن أبي حنيفة، وبه كان يقول شمس الأئمة السرخسي وهو

المذهب ، وصرح في الخانية: بأن ظاهر الرواية الجواز ، لكنه قال أيضًا : وللأجير أجر مثله ...... هذا ، وإنما جاز الحج عنه لأنه لما بطلت الإجارة بقي الأمر بالحج فتكون له نفقة مثله . قلت : وعبارة كافي الحاكم على ما نقله الرحمتي : رجل استأجر رجلًا ليحج عنه قال : لا تجوز الإجارة ، وله نفقة مثله . وتجوز حجة الإسلام عن المسجون إذا مات فيه قبل أن يخرج . ومثله ما في البحر عن الإسبيجابي : لا يجوز الاستئجار على الحج ، فلو دفع إليه الأجر فحج يجوز عن الميت وله من الأجر مقدار نفقة الطريق ويرد الفضل على الورثة، إلا إذا تبرع به الورثة أو أوصى الميت بأن الفضل للحاج. ملخصًا . (فتاوى الشامی:۲/ ۶۰۱، مطلب فی الا ستئجار علی الحج، سعید – وقا ضی خان علی هامش الهندیة:۱/ ۳۱۰).

په غنية الناسک فی بغية المناسک کي راځي:

وصورة الأمر به بأن قال له أمرتک أن تحج عني بكذا، من غير ذكر الإجارة، فإن قال: استأجرتک على أن تحج عني بكذا، لايجوز الاستئجار بالإجماع عندنا. (غنية الناسک فی بغية المناسک:۱۷۳، باب الحج عن الغیر، ادارة القرآن).

په شرح لباب المناسک کي راځي:

وقد صرح بهذا التعليل الكرماني فقال: لأنه إذا فسدت الإجارة بقي الأمر بأداء الحج عنه، فيجب نفقة مثله، وفي الكفاية: لو استأجر للحج عنه من الميقات وقع الحج عن المحجوج عنه فی رواية الأصل عن أبي حنيفة رحمة الله عليه، انتهى، وبه كان يقول شمس الأئمة السرخسی وهو المذهب، والله أعلم. (شرح اللباب:۴۸۰، بیروت).

د فقهي له ځيني کتابو څخه جواز معلوم سو، مګر زموږ علماوو احتياطا د عدم جواز فتوى ورکړې ده تر څو چي په حج کي د افلاس روح پاته سي.

د جواز عبارت يې وګورئ په التحرير المختار کي راځي:

قوله ولاضرورة للاستئجار على الحج الخ...... قد يقال: الضرورة في هذا الزمن داعية للقول بصحة الاستئجار عليه، لعدم من يقوم به عن الغير مكتفياً بنفقة الذهاب والإياب فهو كالاستئجار على تعليم القرآن الذي قال بصحته المتأخرون، وحينئذ يستحق المأمور أجرة زيادة عن النفقة للذهاب والإياب. (التحرير المختار على الشامى:۲/ ۱۷۱، سعيد- وكذا فى ۱۷۲، سعيد). والله تعالىٰ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ ففدية من صيام أو صدقة أو نسك ﴾. (سورة البقرة: ۱۹۶).

عن ابن عباس رضي الله عنه قال: ﴿ من قدم شيئا من حجه أو أخره فليهرق لذلک دماً ﴾ . (مصنف ابن أبي شيبة).

شپږم ...... باب

د جناياتو بيان

کله چي دم او نور واجب سي نو په حرم شريف کي د ذبح کولو حکم

سوال: که چيري په حج کي دم يا صدقه يا کفاره واجب سو نو چيري دې اداء کړي؟ حرم ته يې استول ضروري دي او که د حرم څخه دباندي هم کېدلای سي؟

الجواب: په دې صورت کي د هديې حيوان هغه که د شکرانې وي او که د جنايت وي د حرم په حدودو کي يې ذبح کول ضروري دي، بس هداياوو د حرم د حدودو څخه خارج په بل ځای کي ذبح کول روا نه دي مګر په صدقه کي اختيار دئ مګر د حرم پر مسکينانو مصرفول افضل دي.

په هدایه کي راځي:

ولا يجوز ذبح الهدايا إلا في الحرم، لقوله تعالى في جزاء الصيد ﴿ هدياً بالغ الكعبة ﴾ فصار أصلًا في كل دم هو كفارة ..... ولأن الهدي اسم لما يهدى إلى مكان، ومكانه الحرم، قال عليه الصلاة والسلام: « منى كلها منحر، وفجاج مكة كلها منحر......».

(الهداية: ۱/ ۳۰۱).

په شرح اللباب المناسک کي راځي:

في أحكام الدماء وشرائط جوازها ..... والثالث ذبحه في الحرم، بالاتفاق سواء وجب شكراً أو جبراً سوى الهدى الذي عطب في الطريق. (لباب المناسک مع شرحه: ۴۳۲، فصل فی احکام الدماء وشرائط جوازها، بیروت).

وفيه أيضاً: ولا يشترط فی التصدق به أي بلحمه عدد المساكين.... ولا فقراء الحرم فلو تصدق به على غيرهم أي غير فقراء الحرم..... جاز وفقراء الحرم أفضل، أي مطلقاً. (لباب المناسک مع شرحه ۴۳۵، فصل فی احکام الدماء وشرائط جوازها، بیروت).

د رمی، ذبحي او حلق تر منځ د تقديم او تاخير کولو څخه د دم حکم

سوال: د رمی، ذبح او حلق تر منځ د ائمه ثلاثة او صاحبين په نزد ترتيب مسنون دئ او واجب نه دئ او د اوسنيو فقهاوو رايه ذکر کړئ؟

الجواب: په نظام الفتاوی کي راځي:

سوال: خپله د ذبحي په ځای کي ليدل سوې ده چي د خلکو د رش او د حيواناتو د ډېر والي پر بناء د انسان طبيعت بېربېږي او د زخمي کېدلو خطره هم سته او بيا درې ميله په ګرمی پياده مزل کيږي او موټر هم په ډېر مشکل پيداکيږي او له غريبانو سره کرايه هم نه وي نو د دې وجوهاتو په سبب وروه حنفي ته حق سته چي په دې خاصه مسئله کي د شوافعو په مذهب عمل وکړي چي د هغو له کتابو څخه د نه ترتيب وجوب ښکاره دئ؟

الجواب: د تفهيم له پاره يو څه عباراتونه ذكر كوو:

١ - وأما ترک الواجبات بعذر فلا شيء عليه، ثم مرادهم بالعذر مايكون من الله تعالى، فلو كان من العباد فليس بعذر، (إلى قوله) بخلاف ماذا منعه خوف الزحام فإنه من الله تعالى، فلا شيء عليه. (غنية الناسک فی بغية المناسک:ص ١٣٨).

٢ - وفي الشامية: إن ترک الواجب بعذر مسقط للدم.

٣ _ ولو طاف المفرد وغيره قبل الرمي والحلق لاشيء عليه ويكره، لترک السنة. (زبدة المناسک:ص ١٦٦).

له دغو عبارتو څخه معلوميږي ((ألترتيب بين الرمي و الذبح والحلق)) كه څه هم په خپله واجب دي مګر د شرعي عذر په سبب كه چيري ختم كړل سي يعنى پر هغه عمل ونه كړل سي نو پر هغه د جنايت دم او نور لازم نه دي بلكي د حج اداء كول بيله كراهته مكمل كيږي. (نظام الفتاوى:١/ ١٥٨).

په جديد فقهي مباحث كي راځي:

سوال: د رمی، ذبح او حلق تر منځ د احناڧو په نزد ترتيب كول ضروري دي او په اوسنيو په مشكلو حالاتو كي هغه پر ځاى كول مشكل دئ نو ايا د دې د حل له پاره د عدم وجوب قائلين (د واجب نه بللو منونكي) او په احنافو كي د صاحبين قول اختيارلاى سي او كه نه؟

په دې مسئله كي د مقاله ليكونكو تولي دوې رائي دي:

١ _ پر دې ډېرو حضراتو د صاحبينو او ائمه ثلاثه وو پر قول د زمانې او حالاتو په نظر كي نيولو سره فتوى وركړې ده چي په هغوى كي يو څو نمونې په لاندي ډول دي:

١ _ مولانا خالد سيف الله رحماني (٦) مفتي شبير احمد قاسمي.

(٢) مولانا خورشيد انور اعظمي (٧) مولانا راشد حسين ندوي.

(٣) مولانا ارشاد الحق قاسمي (٨) مفتي انوار الحق رحماني.

(۴) مولانا عبد اللطیف مظاهري (۹) مفتي انور علي اعظمي.
(۵) مولانا مصلح الدین برودوي (۱۰) مولانا شمس پیر زاده.

دلائل: ـ عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ وقف في حجة الوداع بمنى للناس يسألونه، فجاءه رجل فقال: يا رسول الله لم أشعر، فحلقت قبل أن أذبح، فقال: « اذبح ولا حرج » فجاء آخر، فقال: لم أشعر، فنحرت قبل أن أرمي فقال: « ارم، ولا حرج » فما سئل النبي ﷺ عن شيء قدم، ولا أخر إلا قال: « افعل، ولا حرج ». متفق عليه.

امام بخاري رحمه الله دغه روایت په مختلفو الفاظو سره په مختلیفو ځایو کي رانقل کړی دئ.

قال محمد رحمه الله: وبالحديث الذي روي عن النبي ﷺ نأخذ، أنه قال: «لاحرج في شيء من ذلک» وقال أبو حنيفة رحمه الله: لاحرج في شيء من ذلک ولاكفارة، إلا في خصلة واحدة، المتمتع والقارن إذا حلق قبل أن يذبح، قال: عليه دم، وأما نحن، فلا نرى عليه شيئاً. (موطا امام محمد: ص ۲۳۵).

دوهمه رایه: (۱) مفتي عبد الرحیم قاسمي (۲) مولانا ابراهیم فلاحي. (۳) مولانا منظور احمد قاسمي (۴) مفتي حبیب الله قاسمي.
دغو حضراتو ترتیب واجب بللی دئ.

دلائل _ ۱ _ ويبدأ إذا وافى منى برمي جمرة العقبة ثم بالذبح إن كان قارنًا أو متمتعًا ثم بالحلق، لحديث عائشة رضي الله عنها أن النبي ﷺ قال: « إن أول نسكنا في هذا اليوم أن نرمي ثم نذبح ثم نحلق » ولأن الذبح والحلق من أسباب التحلل، ألا ترى أن تحلل المحصر بالذبح، فيقدم الرمي عليهما. (المبسوط للسرخسي: ٤/ ٦٤، باب رمي الجمار).

۲- واعلم أن في يوم النحر أربعة نسك، رمي ونحر وحلق وطواف على ترتيب ما ذكرت، والترتيب في الثلاثة واجب. (العرف الشذى:۱/ ۸۲).

په جديد فقهي مسايل کي ذکر سوي دي:

د احنافو په فقهاوو کي هم د صاحبينو په نزد ترتيب سنت دئ او واجب نه دئ که چيري په دغو افعالو کي هم يو څه مخته والي او څنډو وسي نو هيڅ واجب نه دئ.

« أما عندهما فعدم التاخير سنة حتى لو ذبح قبل التلحلل بالحلق لاشيء عليه...... (الشامي:۲/ ۲۵۰ – وابدئع الصنائع:۲/ ۱٤۱).

او د صاحبين قول هم په حقيقت کي د امام صاحب يو قول دئ بلکي په کوم ځاى کي چي د امام صاحب قول يوه طرفته وي او د صاحبين قول بل طرفته وي نو هلته د ځينو اهل علم په نزد له دواړو قولو څخه پر يوه باندي د فتوى ورکولو اجازه سته. (شرح عقود رسم مفتى ۱۹).

نو څکه زموږ په زمانه کي د صاحبينو پر رايه فتوى ورکول او په هغه عمل کول مناسب معلوميږي. (جديد فقهى مسائل:۲/ ۲۰۰).

لنډيز: په جديد فقهي مباحث کي چي يې د هند د علماوو مختليفي فيصلې بيان کړي دي له هغو څخه يوه فيصله دا ده:

د احنافو په نزد ذي الحجې په لسمه (۱۰) په مناسکو کي رمى، ذبح او حلق ته ترتيب ورکول واجب دي او صاحبينو او ډېرو نورو فقهاوو په نزد مسنون دي چي د هغه له خلاف کولو څخه دم نه واجبيږي نو حجيانو ته په کارده چي تر څو ممکن وي د ترتيب رعايت دي وکړي او د رش، ګرمى او د ذبح د ځاى د ليري والي په سبب د صاحبينو او نورو ائمه وو پر قول د عمل کولو اجازه سته نو څکه دغه مناسک که يې د ترتيب خلاف وکړه نو بيا هم دم نه واجبيږي. (جديد فقهى مباحث:۱۳/ ۵۸۸).

د تمتع او قران کونکي له پاره د رمى، ذبح او حلق تر منځ د امام صاحب پر قول چي هغه مفتى به دئ ترتيب لازم دئ او د هغه په ترک سره دم واجبيږي حال دا چي د صاحبين پر مذهب دغه ترتيب

سنت دئ او د هغه په ترک دم نه واجبیږي. نن سبا حاجیان که د رش یا د یوه بل سبب څخه ترتیب ساقط کړي او د صاحبینو پر قول عمل وکړي نو اجازه شته.

د مفتي شبیر احمد مراد ابادي د مقالې لنډیز:

د حج د افعالو څخه په داختر په ورځ کي (۱) رمی (۲) ذبح (۳) حلق (۴) طواف زیارت دئ.

پر دې د ټولو اتفاق دئ چي طواف زیارت په ترتیب کي راوستل مسنون او د هیڅ چا په نزد واجب نه دئ. مګر سوال دا دئ چي له طواف زیارت څخه پرته په پاته درو شیانو کي ترتیب واجب دئ او که نه؟

د دې جواب دا دئ چي د ترتیب بدلولو دوه صورتونه دي (۱) چي عمدا ترتیب بدل کړي (۲) چي جاهلا یا په هېره یې بدل کړي چي د دواړو تفصیل جلا جلا دئ.

که چیري یې په عمدا سره ترتیب بدل کړي نو د امام ابو حنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله (نووي: ۱/۴۲۱) او امام احمد رحمه الله (البحر الرائق: ۳/۲۴) د یوه روایت مطابق دم واجبیږي مګر د امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله د مشهور قول مطابق او همدا ډول د صاحبین پر مذهب پر هغه دم واجب نه دئ ځکه چي ترتیب د هغوی ټولو په نزد سنت دئ او د سنت په پرېښولو سره دم نه واجبیږي همدا ډول امام صاحب چي د ابن عباس رضي الله عنه له کوم روایت څخه استدلال کړی دئ هغه روایت ضعیف دئ. علامه بدر الدین عیني رحمه الله د طحطاوي په شرح نخبه الافکار کي لیکلي دي ((ولا یصح ذلک عنه)) او د ابن عباس رضي الله عنه دغه روایت یې ضعیف کړی دئ چي له هغه څخه د دم وجوب ثابتیږي (نخب الافکار قلمي: ۸۱). که چیري د جهل یا د هیري په سبب یې ترتیب بدل کړئ نو بیا هم د امام صاحب د قول مطابق دم واجبیږي لکه څنګه چي د فقهي په عامو کتابو کي دغه قول شته مګر امام محمد رحمه الله په کتاب الحجة علی اهل المدینه کي د امام صاحب قول په صراحت سره نقل کړی دئ. عبارت دا دئ:

« أخبرنا محمد رحمه الله عن أبي حنيفة رحمه الله في الرجل يجهل وهو حاج فيحلق رأسه قبل أن يرمي الجمرة أنه لا شئ عليه». (كتاب الحجة: ٢/ ٣٧١).

تر دې لاندې په تعليق كې مفتي سيد مهدي حسن صاحب فرمايي، فإن الأحاديث الواردة في الباب إنما تدل على من جهل عن شيء ولم يشعر به ثم فعل خلافه فلا شيء عليه ولا دم، ومن علم الترتيب بين الواجبات ثم خالفه عمداً وقدم الشيء أو أخره عن موضعه فهو غير داخل في الأحاديث المذكورة. (تعليق:۲/ ۳۷۱).

صاحبين او ائمه ثلاثه، بصري قتادة او جمهور علماء پر دې سره متفق دي چې د هېرې او جهالت په سبب پر ترتيب بدليدلو باندې دم لازم نه دئ دغه او دامت علماوو دغه ډول بيان كړى دئ.

فإن أخل بترتيبها ناسياً أو جاهلًا بالسنة فلا شيء عليه في قول كثير من أهل العلم منهم الحسن وطاؤس..... وإليه ذهب الشافعي رحمة الله عليه وأحمد رحمة الله عليه وإسحاق رحمة الله عليه .... وقال ابن عباس رضي الله عنهما: عليه دم وهو قول النخعي رحمة الله عليه..... وإليه ذهب أبو حنيفة رحمة الله عليه والنخعي رحمة الله عليه وابن الماجشون رحمة الله عليه. (معارف السنن:٦/ ۲۱۰، سعيد – وأوجز المسالك:۳/ ۷۱۵).

دامام صاحب دليل دابن عباس رضي الله عنه اثر دئ. : عن ابن مسعود رضي الله عنه، قال: من قدم نسكًا على نسك فعليه دم، قلت: هكذا هو في غالب النسخ، ويوجد في بعضها ابن عباس رضي الله عنه، وهو أصح. وقال: إبراهيم ابن مهاجر ضعيف. (نصب الراية:۳/ ۱۲۹).

دجمهورو ليل دابن عباس رضي الله عنه هغه روايت دئ چې په هغه كې له نبي كريم ﷺ مختليفو حضراتو د ترتيب د رعايت نه كولو په اړه سوال كړى وو نو نبي كريم ﷺ د هغوى په جواب كې ويلي وو ((افعل ولاحرج)) . (بخاري شريف:۱/ ۲۳۲).

دبحث حاصل دا دئ چې اوس پر پوره بحث په غور كول سره معلومه سوه چې د جمهورو دلائلو زيات مضبوط او صحيح دي او د تطبيق بهتر شكل دا كېدلاى سي چې د صحيحنو په مرفوع رواياتو

کي د کفارې د نه لازمېدو خبره په هغه صورت کي ده چي کله د جهالت یا د هیرې په سبب یې ترتیب بدل کړئ او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په اثر کي کفاره هغه وخت لازمه بلل کیږي کله چي په عمدا او قصد سره ترتیب بدل کړی وي نو ځکه په داسي صورت کي پر تولو روایتو د تولو په نزد عمل کول ممکن کېدلای سي ځکه چي که چیري یو سړي په جهالت او په هېره سره ترتیب بدل کړئ نو پر هغه کفاره لازمېدل په کار نه دي او کوم سړي چي په عمدا ترتیب بدلوي پر هغه کفاره لازمیږي. په دې صورت کي ډېري سختۍ ختمیږي نو ځکه متمتع او قارن که چیري د رمی، ذبح او حلق تر منځ عمدا بیله عذره ترتیب بدلوي نو دم واجب دئ که چیري دیوه لوی عذر یا د جهالت په سبب یې ترتیب قائم نه کړئ نو د امام صاحب او د صاحبینو پر قول د عمل کولو اجازه سته او د ترتیب د بدلېدو په سبب د دم د وجب حکم نه لګول کیږي. (جدید فقهی مباحث:۱۳/ ۱۷۳).

د ترتیب پر وجوب له ایت کریمه څخه شبه او د هغه جواب: ځیني حضراتو د وجوب د ترتیب له پاره د الله تعالی له فرمان ﴿ ولا تحلقوا رءوسكم حتى يبلغ الهدي محله ﴾ څخه استدلال کړی دئ چي د هغه بیان دا دئ چي د دلالت النص تعریف دا دئ چي مسکوت د منطوق په مقابله کي اولی بالحکم وي لکه (لا تقل لهما اف) اف منطوق دئ او بده خبره کول مسکوت دئ مګر بده خبره کول اولی بالنهي دئ.

همدا ډول ﴿ ولا تحلقوا رءوسكم حتى يبلغ الهدي محله ﴾ په دغه ایت کریمه کي یې محصر ته یې علی الاطلاق د نحر د مخه کولو حکم ورکړی دئ نو د حلق پر ذبح مقدم کول بالاجماع روا نه ده او دم واجبوي نو کله چي د محصر (کوم چا چي احرام وتړئ او بیا له حج کولو څخه منع کړل سو) دغه حکم بیان کړي چي د هدی تر ذبح وروسته دي حلق وکړي نو د قارن او نور په طریقه اولی دا حکم په کار دئ چي تر ذبح د مخه حلق صحیح نه دئ او پر ترتیب ماتولو باندي دم لازم دئ ځکه چي دا خویې بند کړی هم نه دئ نو ځکه په طریقه اولی سره ترتیب باید لازم سي؟

الجواب: د دې استدلال جواب دا دئ چي محصر فقط د حج احرام تړلی دئ او بیا د حج له افعالو څخه بند کړل سو هغه د حج یو رکن هم اداء کړی نه دئ، بلکي صرف احرام یې تړلی دئ او احرام د حج له پاره د شرط په درجه کي دئ او د حلال لېدلو له پاره د حج د افعالو څخه یو کار کول ضروري

دئ تر څو چي حلال لپدل پر هغه فعل باندي مرتب سي محصر ته ضروري ده چي هدی په حرم کې ذبح کړي پر ته د قارن او متمتع څخه ځکه چي هغه د حج يو څو افعال کړي وي مثلا پر عرفات دربدل او نور او اوس خالي نحر او حلق پاته دئ حاصل د خبري دا دئ چي محصر ته تر حلق د مخه د حج يو فعل کول په کار دئ ځکه چي ډېر ځله د احرام تړلو وروسته منع کيږي نو هغه فعل قرباني ده مګر غير محصر که چيري تر حلق د مخه قرباني ونه کړي نو نو هم دې افعال هغه کړني دي د احرام شرط په درجه کي دئ.

قال في غنية الناسک: الإحرام قبل الوقوف بعرفة وهو شرط له ابتداء حتى صح تقديمه على الوقت، وله حكم الركن انتهاءً. (غنية الناسک:۲۱، ادارة القرآن، عمدة الفقه: ٤/ ٦٩).

د قارن او متمتع عام حکم له محصر څخه مختلف دئ پر دې بناء چي د قارن او متمتع له پاره د ترتيب هغه حکم دئ کوم چي په تفصيلي فتوی کي ذکر سوی دئ فليراجع. والله ﷻ اعلم.

د ويکس په استعمالولو سره د وجوب کفارې حکم

سوال: که چيري محرم ويکس استعمال کړي نو جزا پر واجب ده او که نه؟ حال دا چي په هغه کي ډېر تېز بوئ سته او په ويکس کي د کافور هم يو څه برخه سته او کافور يو ډول بوئ لرونکی شی دئ چي د دوا په ډول استعماليږي؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي په هغه کي کافور (۵۲) فيصد شامل دي نو له دې کبله د هغه استعمال د احرام په حالت کي صحيح نه دئ که چيري محرم دا استعمال کړي نو کفاره پر لازميږي . د هغه تفصيل دا دئ چي که چيري محرم يې پر يو اندام يا د هغه په اندازه استعمال کړي نو دم واجب دئ او که چيري يې تر يوه اندام کم استعمال کړي نو صدقه پر لازمه ده.

په شرح اللباب المناسک کي راځي:

ولو تداوى بالطيب أي المحض الخالص أو بدواء فيه طيب أي غالب ولم يكن مطبوخاً فالتصق أي الدواء على جراحته تصدق أي إذا كان موضع الجراحة لم يستوعب عضواً أو أكثر، إلا أن يفعل ذلک مراراً فيلزمه دم لأن كثرة الفعل قامت مقام كثرة الطيب. (شرح لباب

المناسک مع ارشاد الساری:۳۵۳، فصل فی التداوی بالطیب، بیروت — ومثله فی غنیة الناسک فی بغیة المناسک:۱۳۳، مطلب فی التداوی بالطیب، ادارة القرآن).

په فتاوی هندیه کي راځي:

فإذا استعمل الطیب فإن كان كثيرًا فاحشًا ففيه الدم ، وإن كان قليلًا ففيه الصدقة ....حتی لو تطیب به عضواً كاملًا یكون كثیراً یلزمه دم، وفیما دونه صدقة. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۲٤۰). والله ﷻ اعلم.

که چیري محرم بوئ لرونکی شی وخوري نو د کفارې حکم

سوال: که چیري محرم بوئ لرونکی شی وخوري نو کفاره پر لازمه ده او که نه؟

الجواب: خالص بوئ لرونکی شی خوړل د امام صاحب په نزد د احرام له محظوراتو څخه دئ نو که یو سړی ډېر بوئ لرونکی شی وخوري نو پر هغه دم لازمیږي او که لږ وخوري نو صدقه پر واجبیږي مګر که چیري یې بوئ لرونکي شی په یو بل شی کي وخوړئ نو بیا هیڅ جزا نه لازمیږي همدا ډول که چیري یې بیله پخېدو استعمال کړي مګر بوئ لرونکی شی مغلوب وو بیا هم هیڅ جزاء نه لازمیږي البته له کراهت څخه خالي نه دئ نو ځکه ځان ورڅخه ساتل په کار دي.

په غنیة الناسک کي راځي:

فلو أکل طیباً كثیراً وهو أن یلتصق بأکثر فمه یجب الدم، وإن كان قلیلًا بأن لم یلتصق بأکثر فمه فعلیه الصدقة، هذا إذا أکله کما هو من غیر خلط أو طبخ، فلو جعله في الطعام وطبخه فلا بأس بأکله، لأنه خرج من حکم الطیب وصار طعاماً، وکذلک کل ما غیرته النار من الطیب فلا بأس بأکله، ولو کان ریح الطیب یوجد منه، وإن لم تغیره النار یکره أکله، إذا کان یوجد منه رائحة الطیب، وإن أکل فلا شيء علیه، كذا فی شرح الطحاوی. (غنیة الناسک فی بغیة المناسک:۱۳۲، مطلب فی اکل الطیب وشربه، ادارة القرآن).

په لباب المناسک کي راځي:

وأكل طعام أي غير مطبوخ يو جد منه رائحة الطيب بخلاف المطبوخ، فإنه لايكره، وكذا إذا كان المخلوط غير مطبوخ ولم يوجد منه الريح، فإنه حينئذ مغلوب مستهلك فلا شيء عليه، وكذا حكم الشراب، وهذا كله عند أبي حنيفة رحمه الله، وأما عندهما فلا شيء عليه بأكل الزعفران، فإنه يستعمل في الأطعمة فالتحق بها، ولأبي حنيفة رحمه الله، أنه طيب حقيقة، ولا تسقط هذه الحقيقة إلا لضرورة التبعية للطعام بأن كان في طعام مسته النار أو لم تمسه، كذا في الشمنی. (لباب المناسک مع شرحه:۱۳٤، فصل فی مکروهاته، بیروت – وفتاوی هندیه:۱ ۲٤). والله تعالى اعلم.

د کوپړې د تېلو د استعمالولو حکم

سوال: د احرام په حالت کي د کوپړې تېل د علاج له پاره يا د علاج څخه پرته د بل څه له پاره استعمالول څنګه دي؟

الجواب: د کوپړې تېل که چيري محرم پر پوره اندام استعمال کړل نو دم لازم دئ او که چيري يې تر پوره اندام پر کم ځای استعمال کړل نو صدقه واجب ده.

په شرح اللباب کي راځي:

ولو ادهن أي بدهن مطيب وهو ما ألقي فيه الأنوار، كذهن البنفسج والورد والياسمين والبان والخيري، والظاهر أن هذه الأشياء لها دهن مأخوذ منها فيكون غير ما ألقي فيه الأنوار فإنه نوع آخر من الدهن المطيب والمقصود أنها وسائر الأدهان التي فيها طيب إذا استعمل به عضواً كاملًا على ما في البدائع فعليه دم أي اتفاقاً، وفي الأقل من عضو صدقة. (لباب المناسک مع شرحه:۳٥۹، فصل فی الدهن، بیروت).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ونوع ليس بطيب بنفسه ولكنه أصل للطيب يستعمل على وجه التطيب ويستعمل على وجه الدواء كالزيت والشيرج ويعتبر فيه الاستعمال فإن استعمل استعمال الأدهان في البدن، يعطى له حكم الطيب، وإن استعمل في مأكول او شقاق رجل لا يعطى له حكم الطيب، كذا في البدائع، فإذا استعمل الطيب فإن كان كثيراً فاحشاً ففيه الدم وإن كان قليلًا ففيه الصدقة، كذا في المحيط..... حتى لو طيب به عضواً كاملًا يكون كثيراً يلزمه دم وفيما دونه صدقة. (الفتاوی الهندية: ۱/ ۲٤۰ - وكذا في فی بدائع الصنائع: ۲/ ۱۹۰، سعيد).

په زبدة المناسک کي راځي:

دریيم ډول هغه دئ چي د خپل ذات په اعتبار خو بوي نه لري مګر په هغه کي بوئ جوړيږي نو په هغه کي د استعمال اعتبار کيږي نو که يې چيري د تېلو په ډول استعمال کړو نو د خوشبو حکم يې دئ او که چيري يې په ډوډئ کي استعمال کړو نو د هغه په واسطه يې د خوشبويې حکم نه دئ همدا ډول د شرشمو او د کوړيې تېل د هغوی همدغه حکم دئ. (زبدة المناسک: ۳٤۸).

مګر د علاج له پاره په استعمالولو سره جزاء نه واجبيږي.

په غنية الناسک کي راځي:

أما إذا استعملهما على وجه التداوي أو الأكل فلا شيء عليه بالإجماع. (غنية الناسک: ۱۳۳، مطلب فی الادهان، ادارة القرآن).

په شرح اللباب المناسک کي راځي:

وأما إذا استعملهما على وجه التداوي أو الأكل فلا شيء عليه أي اتفاقاً انتهى. (لباب المناسک مع شرحه: ۳۵۹، فصل فی الدهن، بيروت). والله تعالی اعلم.

د احرام په حالت کي د زيتون تېلو پر استعمالولو د کفارې حکم

سوال: که چيري محرم د زيتون تېل پر زخم ولګول يا يې لاس په غوږ کې نو جزاء لازمه ده او که نه؟

الجواب: که چيري يې د زيتون تېل د علاج په ډول استعمال کړل نو هيڅ کفاره نه لازميږي او که چيري يې داغه سي استعمال کړل که چيري پر پوره اندام باندي وه نو دم لازم دئ او که بيا کم وه نو صدقه لازم ده.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

سمت الزيت طيبًا (في حديث أم سلمة رضي الله عنها) ولأنه أصل الطيب بدليل أنه يطيب بإلقاء الطيب فيه، فإذا استعمله على وجه الطيب كان كسائر الأدهان المطيبة؛ ولأنه يزيل الشعث الذي هو علم الإحرام وشعاره على ما نطق به الحديث، فصار جارحًا إحرامه بإزالة علمه، فتكاملت جنايته فيجب الدم ..... ولو داوى بالزيت جرحه أو شقوق رجليه فلا كفارة عليه؛ لأنه ليس بطيب بنفسه، وإن كان أصل الطيب، لكنه ما استعمله على وجه الطيب، فلا تجب به الكفارة ...... (بدائع الصنائع: ۱/ ۱۹۰، سعيد - وكذا فی فتاوی الهندية: ۱/ ۲۴۰).

په عالمګيري کي راځي:

فإذا استعمل الطيب فإن كان كثيرًا فاحشًا ففيه الدم، وإن كان قليلًا ففيه الصدقة .... حتى لو طيب به عضواً كاملًا يكون كثيراً يلزمه دم، وفيما دونه صدقة. (الفتاوی الهندية: ۱/ ۲۴۰).

په زبدة المناسک کي راځي:

دريم ډول هغه دئ چي د خپل ذات په اعتبار خوبوي نه لري مګر په هغه کي بوئ جوړيږي نو په هغه کي د استعمال اعتبار کيږي نو که يې چيري د تېلو په ډول استعمال کړو نو د خوشبو حکم يې دئ او که چيري يې په ډوډئ کي استعمال کړو نو د هغه په واسطه يې د خوشبويې حکم نه دئ همدا ډول د شرشمو او د کوپړې تېل د هغوی همدغه حکم دئ. (زبدة المناسک: ۳۴۸). والله تعالیٰ اعلم.

د احرام په حالت كي د سګرېټ څكولو حكم

سوال: د احرام په حالت كي په سګرېټ څكولو كي څه كراهت سته او كه نه؟

الجواب: د احرام او غير احرام په حالت كي سګرېټ څكول مكروه دي او د احرام په حالت كي كراهت سخت دئ نو ځكه له دې څخه ځان ساتل ضروري دي كومو حضراتو چي مباح بللي دي هغه په دې سبب چي په هغه زمانه كي د هغوى ضرر او اسراف ډېر نه وو همدا ډول د دې له بد بويي څخه ډېرو خلكو ته اذيت رسيږي په دې سبب بد بويه شى خوړل او مسجد ته تلل منع دي.

وګورئ په مسلم شريف كي راځي:

عن أبى سعيد الخدري ﷺ قال لم نعد أن فتحت خيبر فوقعنا أصحاب رسول الله ﷺ فى تلك البقعه الثوم، والناس جياع فأكلنا منها أكلاً شديدًا ثم رجعنا إلى المسجد فوجد رسول الله ﷺ الريح، فقال « من أكل من هذه الشجرة الخبيثة شيئًا فلا يقربنا فى المسجد »......(مسلم شريف:۱/ ۲۰۹).

قال الإمام النووي رحمه الله فى شرح هذا الحديث: قال العلماء ويلحق بالثوم والبصل والكراث كل ماله رائحة كريهة من المأكولات وغيرها .... قال القاضي: وقاس العلماء على هذا مجامع الصلاة غير المسجد كمصلى العيد والجنائز ونحوها من مجامع العبادات، وكذا مجامع العلم والذكر والولائم ونحوها. (شرح المسلم اللنووى:۱/ ۲۰۹).

په فتاوى محموديه كي راځي:

سګرېټ څكول مكروه دي چي خوله يې نه وي پاكه كړې مسجد ته تلل منع دي ځكه چي په دې سره ونورو خلكو ته تكليف رسيږي.

وأكل نحو الثوم: أي كبصل ونحوه مما له رائحة كريهة للحديث الصحيح في النهي عن قربان آكل الثوم والبصل المسجد. قلت: علة النهي أذى الملائكة وأذى المسلمين. (الشامي:١/ ٦٦١، سعيد). (فتاوى محموديه:١٨/ ٣٨٩، مبوب ومرتب).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوي رحيميه:٢/ ٢٤١ -٢٤٥). والله تعالیٰ اعلم.

د احرام په حالت کي د صابون پر استعمالولو د کفارې حکم

سوال: د احرام په حالت کي د صابون پر استعمالولو جزاء سته او که نه؟

الجواب: که د صابون په ذريعه د لاسو صفايي مقصد وي او خوشبويي مقصد نه وي همدا ډول دې ته کتونکي هغه خوشبويي نه بولي بلکي دا د صفايي ذريعه بولي او په دې کي د خوشبويي اجزاوي کم دي او د صفايي اجزاوي زياتي دي نو ځکه په دې کي دم واجب نه دئ مګر صدقه بايد ورکړي.

وګورئ په غنية الناسک کي راځي:

وغسل الرأس واللحية والجسد بالسدر ونحوه.... بخلاف غسله بصابون أو دلوك وأشنان فإنه لايكره إلا أن يزيل الوسخ. (غنية الناسک فی بغية المناسک:٤٧، فصل فی مکروهات الاحرام، ادارة القرآن).

په شرح اللباب المناسک کي راځي:

الغسل أي الاغتسال بالماء القراح، وماء الصابون والأشنان، ويكره بالسدر لكن يستحب أن لايزيل الوسخ بأي ماء كان بل يقصد الطهارة أو دفع الغبار والحرارة. (لباب المناسک مع شرحه ١٣٥، فصل فی مباحاته، بيروت).

په معلم الحجاج کي راځي:

په خالص صابون کي هيڅ شی واجب نه دئ مګر د محرم له پاره د خيرو ليري کول مکروه دئ.

(معلم الحجاج:ص ٢٣١). والله تعالیٰ اعلم.

د احرام په حالت کي د ماسک تړلو څخه د کفارې حکم

سوال: که چیري یوه سړی د احرام په حالت کي له دوړو څخه د ځان ساتلو له پاره ماسک وتړئ نو کفاره لازم ده او که نه؟

الجواب: څنګه چي ماسک د مخ څلورمه یا تر هغه زیاته حصه پټوي نو ځکه که چیري یې یوه مکمله ورځ یا یوه شپه وتړي نو دم واجبیږي او که یې تر دې کم استعمال کړي نو بیا صدقه لازمیږي، همدا ډول دوړي دومره زیاتي نه وي چي هغه عذر وبلل سي.

په غنية الناسک کي راځي:

وأما تعصيب الرأس والوجه فمكروه مطلقاً موجب للجزاء بعذر أو بغير عذر للتغليظ إلا أن صاحب العذر غير آثم. (غنية الناسک:٤٧، ادارة القرآن).

په لباب المناسک کي راځي:

لو غطى جميع رأسه أو وجهه أي جميع وجهه بمخيط أو غيره يوماً وليلة وكذا مقدار أحدهما فعليه دم أي كامل بلا خلاف وفي الأقل من يوم وكذا من ليلة صدقة، والربع منهما كالكل قياساً على مسحهما.... وعن أبي يوسف رحمه الله أنه يعتبر أكثر الرأس على ما نقل عنه صاحب الهداية والكافي والمبسوط وغيرهم، ونقله فى المحيط والذخيرة والبدائع والكرماني عن محمد، لكن قال الزيلعي رحمه الله: وقياس قول محمد أن يعتبر الوجوب فيه بحسابه من الدم انتهى، وكذ الحكم فى الوجه على ما نص عليه في المبسوط والوجيز وغيرهما.... ولو عصب من رأسه أو وجهه أقل من الربع أي يوماً أو ليلة فعليه صدقة أي اتفاقاً. (اللباب مع شرحه:٣٤١، فصل فى تغطية الرأس والوجه، بيروت).

په غنية الناسک کي راځي:

ولو عصب رأسه أو وجهه يوماً أو ليلة فعليه صدقة إلا أن يأخذ قدر الربع فدم. (غنية الناسک:۱۳٦، الفصل الثالث فی تغطية الرأس ولواجه – ومثله في الشامی:۲/ ٤۸۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

پر بخې سوي چمپلانو په پښو کولو د کفارې حکم

سوال: د احرام په حالت کي درې سره بجلکي لوڅول ضروري دي مګر خياطت روا دئ او که نه؟ ځيني خلک وايي چي بخې سوي چمپلان په پښو کولو روا نه دي د دې څه حقيقت دئ؟

الجواب: د احرام په حالت کي اصل حکم خو دا دئ چي درې سره پندۍ لوڅول په کار دي او که نه ښکاره کيږي نو پرېکول په کار دي که چيري بخې اغوستل روا نه وای نو بيا د پرې کولو څه معناده؟ حال دا چي د احاديثو او فقهي له عبارتونو څخه معلوميږي چي که چيري لوڅي نه وي نو بيا دي پرې کړي نو معلومه سوه چي بخي مطلقاً ممنوع نه دي.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أن رجلاً رسول الله ﷺ ما يلبس المحرم من الثياب فقال: لاتلبسو القميص .... ولا الخفاف إلا أحد لايجد نعلين فيلبس خفين وليقطعهما أسفل من الكعبين..... الخ. (متفق عليه مشكاة:۱/ ۲۳۵، باب مايجتنبه المحرم).

په غنية الناسک کي راځي:

ولبس الخفين والجوربين إلا أن لايجد نعلين فليقطعها حتى يكونا أقل من الكعبين كما في الصحيح. (غنية الناسک:٤٤، فصل فی محرمات الاحرام).

په شرح اللباب کي راځي:

والنعلين أي ولبس النعلين وإن جوز لبس غيرهما مما لايستر الكعبين في وسط الرجلين. (شرح لباب المناسک:۱۰۳، باب الاحرام، بيروت).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولا يلبس مخيطًا قميصًا أو قباءً أو سراويل أو عمامةً أو قلنسوةً أو خفا إلا أن يقطع الخف أسفل من الكعبين ، كذا في فتاوى قاضي خان والكعب هنا المفصل الذي في وسط القدم عند معقد الشراك كذا في التبيين . (الفتاوى الهندية: ١/ ٢٢٤).

په غنية الناسک کي راځي:

كان نعله ﷺ مخصرة معقبة ملسنة مثني شراكهما صفراء من جلود البقر والمخصرة هي اللتي لها خصر دقيق والمعقبة هي اللتي لها عقب أي سير من جلد في مؤخر النعلين يمسک به عقب القدم والملسنة هي اللتي في مقدمها طول على هيئة اللسان وذلک لأن سبابة رجله ﷺ كانت أطول أصابعه، فكان في مقدم النعل بعض طول يناسب تلک الأصبع، وكان له نعل من طاق ونعل من أكثر وكان لبعض نعاله قبال واحد. (غنية الناسک:٣٦، ادارة القرآن).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى الشامي:٢/ ٤٩٠، سعيد – وزبدة المناسک:١٠٣). والله تعالى اعلم.

پر مزدلفه د وقوف نه کولو باندي د کفارې حکم

سوال: که څيري يو سړى د مزدلفي واجب وقوف (درېدل) پرېښوده نو پر دغه سړي دم واجب دئ او که نه؟

الجواب: که څيري يې بېله عذره ترک کړي نو دم پر واجبېږي مګر که څيري يې د عذر په سبب ترک کړي نو بيا دم نه لازميږي.

په شرح لباب المناسک کي راځي:

ولو ترک الوقوف بالمزدلفة أي في فجر يوم النحر بلا عذر لزمه دم وإن تركه بعذر بأن كانت به علة أي مرض مانع من وقوفه بها أو صنف أي في بيته أو مشيه أو كانت امرأة أي

دغه واقعه امام نووي رحمه الله په کتاب الاذکار (۱۸۵) طبع مصري کي او علامه ابو البرکات عبدالله بن احمد النسفي الحنفي المتوفی رحمه الله (۷۱۰ هـ) په خپل تفسیر المدارک (جلد ۱ صفحه ۳۹۹) کي او علامه بحر العلوم عبد العلي رحمه الله په رسائل الارکان کي (۲۸۰) په طبع لکهنو کي نقل کړې ده او علامه علي بن عبد الکافي رحمه الله، السبکي رحمه الله او عامه سمهودي رحمه الله لیکلي دي:

وحكاية العتبي في ذلك مشهورة وقد حكاها المصنفون في المناسك من جميع المذاهب والمؤرخون وكلهم استحسنوها [illegible]

د دې عبارت ژباړه:
دعتبي حکایت په دې کي مشهور دئ او د ټولو مذهبو مصنیفینو د مناسکو په کتابو کي او مورحینو هم دغه ذکر کړي دي او ټولو دغه مستحسن بللی دئ

او خطیب قسطلاني او علامه زرقاني هم دغه قصه مشهوره ته باقاعده حواله ورکړې ده، (المواهب مع الزرقاني:۸/ ۳۰۶). او دغه ډول شیخ بلخیث الحنفي رحمه الله په خپل کتاب تطهیر الفساد من وسن الاعتقاد کي ذکر کړې دي او دا خبره واضح ده چي له دې واقعي څخه استدلال په دې رنګ کي نه دئ چي عتبی یو لوی بزرګ او باعتماده راوي وو چي د هغه د دغه عمل پیروي کیږي فرض یې کړه که څه هم دی یو مست سړی وو لکه څنګه چي په ځیني کتابو کي د دې ذکر هم دئ.

بلکي له هغه ځخه استدلال داسي دئ چي دغه عمل ټولو علماوو مستحسن ګڼلي دئ او په هغه يې عمل کړي دئ او د امت د قبلولو او د علماوو او فقهاوو د تعامل له امله دغه کړنه د جواز درجه لري، له حضرت ابن عباس رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي کله هجرت وکړئ او مديني منورې ته تشريف يوړئ نو کله چي يې وليدله چي يهودو د عاشورا د ورځي روژه نيوله نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: چي په دې ورځ تاسو ولي روژه نيسئ؟ هغوی وويل چي په دې ورځ الله تعالی حضرت موسی عليه السلام او د هغه قوم ته نجات ورکړی وو او فرعون او د هغه قوم يې غرق کړي وو نو حضرت موسی عليه السلام د شکراني په ډول روژه نيولې وه نو ځکه موږ هم روژه نيسو نو نبي کريم ﷺ وفرمايل، زما تعلق له حضرت موسی عليه السلام سره تر تاسو زيات دئ نو نبي کريم ﷺ په خپله هم د عاشوره روژه ونيوله او امت ته يې هم حکم ورکړئ چي روژه ونيسئ. (او کما قال مشکوة:۱/ ۱۸۰، وقال متفق عليه).

دې مطلب دا هيڅ کله نه دئ چي يهودي پر يهوديت قائم دئ او باعتماده او عادل راوي سو او د هغوي خبره په دې لحاظ حجت سوه بلکي د هغه دغه فعل يو ښه کار وو نو ځکه نبي کريم ﷺ پر هغه خپله هم عمل وکړئ او امت ته يې هم حکم ورکړئ همدا ډول په دې واقعه سر خلاص کړه همدا ډول نورو علماوو هم قديما او حديثا دغه نقل کړی دئ او حضرت تهانوي رحمه الله ليکلي دي چي په مواهب کي په سند د امام ابو منصور صباغ او ابن النجار او ابن عساکر او ابن الجوزي رحمه الله، محمد بن حرب الهلالي رحمه الله ځخه روايت کړی دئ چي ما د قبر مبارک زيارت وکړئ او مخامخ ناستوم چي يو اعرابي راغلئ او زيارت يې وکړئ او درخواست يې وکړئ چي اې خير الرسل ﷺ الله تعالی پر تا يو رښتني کتاب نازل کړی دئ چي په هغه کي يې فرمايلي دي ﴿ ولو انهم ﴾.

د عتبي تعارف:

ځيني خلک عتبي مجهول بولي نو د هغه د تعارف له پاره يو څو عبارتونه هم وګورئ:

في كتاب : تبصير المنتبه بتحرير المشتبه لابن حجر العسقلاني: (۱/ ۲۳۲):

العتبي: محمد بن عبيد الله البصري الأخباري مشهور.

وفي كتاب: الإكمال لابن ماكولا: (۱/ ٤۸۱):

باب العتبي والقتبي: أما العتبي بعين مهملة وتاء ساكنة معجمة باثنتين من فوقها وبا معجمة بواحدة فهو محمد بن عبيد الله العتبي الأخباري، بصري.

وفي كتاب العبر في خبر من غبر اللذهبي: (١/ ٧٦):

وفيها العتبي الأخباري وهو أبو عبد الرحمن محمد بن عبيد الله بن عمرو الأموي أحد الفصحاء الأدباء من ذرية عتبة بن أبي سفيان بن حرب، كان من أعيان الشعراء بالبصرة، سمع أباه وسمع أيضاً من سفيان بن عيينة عدة أحاديث، والأخبار أغلب عليه.

وفي كتاب معجم الشعراء للمر زباني: (١/ ١١٠):

أبو عبد الرحمن العتبي محمد بن عبيد الله بن عمرو بن معاوية بن عمرو بن عتبة بن أبي سفيان صخر بن حرب بن أمية بن عبد شمس، بصري علامة راوية للأخبار والآداب وكان حسن الصورة جميل الأخلاق وبلغ سناً عالية وكان حسن الخضاب ويلبس الطيالس الزرق ولقب الشقراق للون خضابه وشدة حمرة وجهه وتلون طيالسته، وكان عمرو بن عتبة يغمز في نسبه، وتتابعت على العتبي مصائب بالذكور من ولده في الطاعون الكائن بالبصرة سنة تسع وعشرين ومائتين وقبل ذلك فمات منهم ستة فراثاهم بمراث كثيرة منها قوله:

كل لساني عن وصف ما أجد.... وذقت ثكلاً ما ذاقه أحد

ما عالج والحرارة في ..... الاحشاء من لم يمت له ولد.

وفي كتاب والوافي بالوفيات اللصفدي: (١/ ٤٥١):

العتبي الأخباري محمد بن عبيد الله بن عمرو بن معوية بن عمرو بن عتبة بن أبي سفيان الأموي المشهور بالعتبي البصري الأخباري أحد الأدباء الفصحاء،مات له بنون فكان يرثيهم وقصيدته في ولده مشهورة منها:

الصبر يحمد في المواطن كلها ... إلا عليك فإنه مذموم

روى عن أبيه وعن سفيان بن عيينة ولوط ابن مخنف، وروى عنه أبو حاتم السجساتي وأبو الفضل الرياشي وإسحاق بن محمد النخعي، وقدم بغداد وحدث بها، وكان مشتهراً بالشراب، وكان هو وأبوه سيدين أديبين فصيحين، ومن تصانيفه: كتاب الخيل كتاب أشعار الأعاريب، وأشعار النساء اللاتي أحببن ثم أبغضن، وكتاب الذبيح، وكتاب الأخلاق وغير ذلك.....

وفي كتاب وفيات الأعيان وأبناء أبنا الزمان أحمد بن محمد المشهور بابن خلكان:

٦٦٣ _ العتبي أبو عبد الرحمن محمد بن عبيد الله بن عمرو بن معاوية بن عمرو بن عتبة بن أبي سفيان صخر بن حرب بن أمية بن عبد شمس القرشي الأموي المعروف بالعتبي، الشاعر البصري المشهور.....

وفي كتاب: سير أعلام النبلاء:

٢٩ _ العتبى العلامة الأخباري الشاعر المجود، أبو عبد الرحمن محمد بن عبيد الله بن عمرو بن معاوية بن عمرو بن عتبة بن أبي سفيان بن حرب الأموي ثم العتبي البصري، روي عن: ابن عيينة، وأبي مخنف، ووالده، وعنه: أبو حاتم السجستاني، وإسحاق بن محمد النخعي، وكان يشرب، وله تصانيف أدبيات وشهرة، مات سنة ثمان وعشرين ومائتين.

وانظر للمزيد: تاريخ بغداد لأحمد بن علي أبو بكر الخطيب البغدادي: (٢/ ٣٢٦ ...، وتوضيح المشتبه في ضبط أسماء الرواة وأنسابهم وألقابهم وكناهم لابن ناصر الدين الدمشقي: (٦/ ٨٩)، والمنتظم لابن الجوزي: (٣/ ٣٤٧)، والنجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة لابن تغري بردي: (١/ ٢٣١)، وكتاب الأنسبا المتفقة لابن القيسراني: (١/ ٣٢...، وكتاب الأنساب للسمعاني: (٤/ ١٤٩). والله ﷻ اعلم.

د حضرت علي ؓ څخه مروى قصه د عتبى له قصې څخه مختلفه ده

سوال: د نبي كريم ﷺ وقبر ته د اعرابي د راتلو قصه له عتبى څخه مروى ده او له حضرت علي ؓ څخه هم داسې يو قصه مروى ده نو ايا د راوي قصې سره يو دي او كه مختلف دي؟ سلفي حضرات خو دواړې يو بولي نو د دواړو قصو څه تفصيل دئ؟

الجواب: دواړې قصې جلا جلا دي او د دې وضاحت امام قرطبي رحمه الله، كنز العمال صاحب، المنتخب او نورو حضراتو كړى دئ نو ځكه دواړې يوه بلل دا هم بې انصافي ده ځكه چې اضطراب د ثابتولو له پاره چې يې كوم دلائل وړلي دي له هغو څخه يو دليل هم زړه نه مني.

دعتبى قصه په تفسير ابن كثير كي راځي:

وقد ذكر جماعة منهم: الشيخ أبو نصر بن الصباغ في كتابه «الشامل» الحكاية المشهورة عن العتبي، قال: كنت جالساً عند قبر النبي ﷺ، فجاء أعرابي فقال: السلام عليك يا رسول الله، سمعت الله يقول: ﴿ولو أنهم إذ ظلموا أنفسهم جاءوك فاستغفروا الله واستغفر لهم الرسول لوجدوا الله توابًا رحيمًا﴾. وقد جئتك مستغفراً لذنبي مستشفعاً بك إلى ربي، ثم أنشأ يقول:

يا خير من دفنت بالقاع أعظمه ۞ فطاب من طيبهن القاع والأكم

نفسي الفداء لقبر أنت ساكنه ۞ فيه العفاف وفيه الجود والكرم

ثم انصرف الأعرابي، فغلبتني عيني، فرأيت النبي ﷺ في النوم فقال: « يا عتبى! الحق الأعرابي فبشره أن الله قد غفر له». (تفسير ابن كثير:۱/ ۵۷۰).

په پورتنۍ قصه علامه نووي رحمه الله ابن كثير رحمه الله، سيوطي رحمه الله، باجي رحمه الله او داسې نورو علماوو همدا ډول د نژدې زمانې له علماوو څخه شيخ كوثري رحمه الله او مولانا تهانوي رحمه الله او نورو دغو ټولو حضراتو بېله يوه انكاره په خپلو كتابو كې ذكر كړې ده.

د حضرت علي رضي الله عنه روايت په كنز العمال كې وګورئ:

قال ابن السمعاني في الذيل: أنا أبو بكر هبة الله بن الفرج، أنا أبو القاسم يوسف بن محمد بن يوسف الخطيب، أنا أبو القاسم عبد الرحمن بن عمرو بن تميم المؤدب، ثنا علي بن إبراهيم بن علان، أنا علي بن محمد بن علي، ثنا أحمد بن الهيثم الطائي، ثنا أبي عن أبيه عن سلمة ابن كهيل عن أبي صادق عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه قال: قدم علينا أعرابي بعدما دفنا رسول الله ﷺ بثلاثة أيام، فرمى بنفسه على قبر النبي ﷺ، وحثا من ترابه على رأسه، وقال: يا رسول الله! قلت فسمعنا قولك، ووعيت عن الله، فوعينا عنك، وكان فيما أنزل الله عليك: ﴿ولو أنهم إذ ظلموا أنفسهم جاءوك فاستغفروا الله.....﴾، وقد ظلمت نفسي وجئتك تستغفر لي، فنودي من القبر: « أنه قد غفر لك ».

قال في المغني: الهيثم بن عدي متروك. (كنز العمال:۲/ ۳۸۶، سورة النساء، تفسير قرطبي:۵/ ۱۷۲)

د لوړو دواړو روايتو له مضمون څخه معلوميږي چې په څو وجو سره دواړې قصې جلا جلا دي.

۱_ د حضرت علي رضي الله عنه په قصه کي د ده مبارک له وفات څخه د درو ورځو وروسته صراحت سته او عتبی خو د خپلي زمانې واقعه بیانوي او د ده وفات په (۲۲۸ هـ) کي سوی دئ.

۲_ د حضرت علي رضي الله عنه په قصه کي ((عثا علی رأسه من ترابه)) ذکر سوی دئ او د عتبی په قصه کي دا نه سته.

۳_ د حضرت علي رضي الله عنه په قصه کي اشعار نه سته او د عتبی په قصه کي سته.

۴_ د حضرت علي رضي الله عنه په قصه کي له قبر څخه د اواز اوریدلو ذکر سته ((فنودی من القبر)) او د عتبی په قصه کي د خوب ذکر دئ.

۵_ د حضرت علي رضي الله عنه په روایت کي ((ظلمت نفسی وجئتک)) الفاظ دي او د عتبی په قصه کي دغه الفاظ نه سته.

۶_ دواړه روایتونه د سند په اعتبار هم بالکل جلا دي.

د دې وجو پر بناء د دواړو تر منځ واضح فرق سته نو ځکه دواړه یو بلل دا خبره ذهن نه اخلي. والله سبحانه وتعالی اعلم.

دریم .... فصل

د حج له شعائرو سره اړوند احکام

د حج د شعائرو معنوي تحقیق

سوال: د مزدلفې، عرفات، مني، وادي محسر مسجد، نمره مسجد، خیف او صفا و مروه څه معنا ده؟

الجواب: مزدلفه له ((إز دلاف)) څخه ده چي معنا یې قرب او نژدېکت دئ نو ځکه په دې ځای کي هم د الله جل جلاله قرب حاصلیږي او یا دا معنا چي له عرفات څخه چي راوزې نو دا نژدې ده یا معنا دا چي آدم علیه السلام وحواء رضي الله عنها ته نژدې راغلی وو یا معنا دا چي خلک زلف اللیل یعني د شپې په یوه برخه کي هلته رسیږي.

عرفات يا دعرف څخه دئ چي د هغه معنا خوشبو ده، ځکه چي دلته د منى ((كوم چي د ذبح ځاى دئ)) په مقابله كي خوشو دئ . په منى كي د ذبائحو په سبب دا خبره نه ده. او يا معنا دا چي په دنيا كي دآدم ﷺ او حواء ﷺ پېژندنه وسوه. او يا معنا دا چي جبرائيل ﷺ حضرت ابراهيم ﷺ د حج افعال ور وښودل نو ابراهيم ﷺ وفرمايل: ((عرفت)) يعني ما وپېژندل (په پوهسوم) يا معنى يې دا ده چي ابراهيم ﷺ بيا د خپل زوى د ذبحي خوب وليدئ نو پوه سو چي دغه خوب پر خپل ظاهر دئ او د ذبحي حكم مطلوب دئ.

د منى معنا وريني تويول ده ځنگه چي هلته هم د اختريانو ويني تويږي نو ځکه دې ته د منى شيله وايي او يا له تمنا څخه ده يعني د دعاوو په ذريعه د تمنا د پوره كولو دغه ځاى دئ. شاعر وايي.

بوادى منى نلنا المنى إذ تبسمت ۞ ليال وأيام ملاح المباسم

ژباړه: د منى په شېله كي موږ دعاوي ومونډلې چي كله هغه شپه ورځ خندېده چي د هغې د تبسم ځاى ښكاره ځلېدلى وو.

سرور بعيد واجتماع أحبة ۞ وقرب وقربان وخير مواسم

ژباړه: د اختر خوشحالي ده او د دوستانو اجتماع ده، د الله ﷻ د نژديكت او قرباني ډېر غوره موسم دئ. محسر د عين په كسره (زېر) سره د ستړيا په معنا راځي ځنگه چي دلته د أبرمه فيل ستړى راغلئ او د وړاندي تلو څخه عاجزه سول نو ځکه دغه شيله په دې نامه سره مسمى سوه.

مسجد نمره، نمره هغه څادره ته وايي چي په هغه كي سپين او تور خطونه وي نو شايد د هغه ځاى د غرو ځني حصه سپينه او ځيني توره ده.

مسجد خيف، خيف د غره هغه كښته حصې ته وايي كوم چي د اوبو د بهېدلو له ځاى څخه يو څه لوړ وي.

صفا صافي ډبري ته او مروه بر ښېښونكي ډبري ته وايي او يا دا معنا چي پر صفا آدم ﷺ صفى الله او پر مروه د هغه كور والا يعني مراة ناسته وه. والله ﷻ اعلم.

د منی او مزدلفې له مکې مکرمې سره د اتصال حکم:

علماء کرام له پخوا زمانې څخه منی له مکې مکرمې څخه جلا شماري او د کوم حاجي چي مکې ته له راتلو څخه تر یوم الترویه پوري څلوارلس ورځي جوړېږي دا مسافر شماري مګر نن سبا د مکې مکرمې د آبادۍ د زیاتوالي په سبب ډېرو زیاتو مفتیانو منی په مکه مکرمه کي د شاملېدو فتوې ورکړي ده بلکي ځیني مفتیانو مزدلفه هم په مکه مکرمه کي شامله کړې ده. د بنده فقیر په خیال منی او مزدلفه دواړه له مکې مکرمې څخه جلا دي او دواړه باید جلا وشمارل سي.

لنډ دلائل یې په لاندي ډول دي:

۱_ شیخ سبیل که څه هم مني په مکه مکرمه کي داخله او د هغې حصه بللې ده مګر د سعودي امامانو د منی په جامع مسجد کي د جمعې لمونځ نه کاوه او نه یې د حج په ورځو کي د جمعې لمونځ کاوه نه تر دې د مخه او نه د دې وروسته د منی تر ورځو د مخه او تر هغه وروسته ډېر خلک د خېمو په تیاري مشغوله او سېدل مګر د جمعې لمونځ نه کېدئ که چیري دا په مکه مکرمه کي داخل وای نو هلته به د جمعې اهتمام سوی وای او عزیزیه د مکي مکرمې حصه بولي نو ځکه د هغه ځای په مسجدو کي همېشه د جمعې لمونځ کیږي له دې څخه معلومه سوه چي منی د مکې مکرمې ماتحت کېدل یوازي انتظامي عمل دئ.

۲_ فقهاوو او محدثینو په کتاب الجمعه کي پنځه ډول مقامات بیان کړي دي.

الف:_ مصر، وتجب فيه الجمعة وهو ما يعد في الأمصار عند ذكر الأمصار أو مالا يسع أكبر مساجده أهله أوما يوجد فيه مرافق الحياة العامة أو ما فيه أسواق وسكك ولهار ساتيق أو ماله أمير وقاض ينفذ الأحكام والحدود والقصاص بالفعل أو بالقوة وغيره من التعريفات. (شامی وطحطاوی).

ب:_ القرية الكبيرة التي فيها الأسواق تجب فيها الجمعة. (طحطاوی).

ج:_ القرية الصغيرة في فناء المصر، تجب فيها الجمعة. (طحطاوی).

د: _ القرية الصغيرة خارج فناء المصر. (مجمع الانهر).

هـ: _ الطحاری والبراري. (بدائع الصنائع ومجمع الانهر).

او دا خو ښکاره خبره ده چې منی ښار او لويه قريه نه ده دغه ډول قريه صغيره في فناء المصر هم نه ده ځکه منی د ښار ضرورت نه دئ د حاجيانو د ضرورت ځای دئ او کوچنی قريه هم نه ده بلکې يو ميدان دئ نو ځکه هغه له ښار سره يو ځای کول غير معقول دئ.

په عالمګيري کې راځي:

« الصحيح ما ذكر أنه يعتبر مجاوزة عمران المصر لا غير إلا إذا كان ثمة قرية أو قرًى متصلة بربض المصر فحينئذ تعتبر مجاوزة القرى ». (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۳۹، في صلاة المسافر).

په فتاوی شامي کې راځي:

وأشار إلى أنه يشترط مفارقة ما كان من توابع موضع الإقامة كربض المصر وهوما حول المدينة من بيوت ومساكن فإنه في حكم المصر وكذا القرى المتصلة بالربض في الصحيح. (فتاوى الشامي: ۲/ ۱۲۱، سعيد).

د مسافر کېدلو له پاره د ښار له کنارو څخه تجاوز او وتل شرط دي ځکه هغه د ښار په حکم دئ همدا ډول کوم کلی چې له ښاره سره متصل وي هغه هم د ښار په حکم دئ. د ښار پر کناره چې کوم کورونه وي شايد هغوی ته ربض په دې سبب وايي چې هلته شپنيان د بزو او ميږو له پاره کير جوړه وي او هلته يې بنده وي.

دا خبره ياد وساته چې منی نه د مکې مکرمې تابع ده او نه هلته آبادي سته چې هغه کوچنی کلی وبلل سي او د مکې مکرمې تابع وګرځول سي بلکې هغه خالي ميدان دئ مګر د عالمګيري له يوه عبارت څخه شک او شبه پيدا کيږي چې شايد منی د مکې مکرمې تابع وي.

وإن اتخذ المسلمون مصرًا في أرض موات لا يملكها أحد، فإن كان بقرب ذلك قرى لأهل الذمة فعظم المصر حتى بلغ تلك القرى وجاوزها، فقد صارت من جملة المصر (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۵۱، الباب الثامن في الجزية، فصل في احداث البيع والكنائس).

مګر د دې عبارت مطلب دا دئ چې پر يوه کوچني کلي يو ښار احاطه وکړي نو هغه د ښار تابع ګرځي نو دلته خو منی کوچنی کلی نه دئ چې پر هغه ښار احاطه وکړي بلکې هغه ميدان او صحراء ده او د ښار د ضروريا تو څخه هم نه دئ همدا ډول پر دغه باندې ښار احاطه هم نه ده کړې. په ځينې اطرافو کې خو غټ غټ غرونه دي مګر که چيرې يو کوچنی کلی ديوه ښار په بغل کې راسي نو هغه کلی د دې ښاري تابع او حصه يې جوړيږي.

په طحطاوي کې راځي:

و يشترط أن يكون قد جاوز أيضاً ما اتصل به أي بمقامه من فنائه كما يشترط مجاوزة ربضه وهو ما حول المدينة من بيوت ومساكن، فإنه في حكم المصر وكذا القرى المتصلة بربض يشترط مجاوزتها في الصحيح. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ۴۲۳، باب صلاة المسافر).

مګر منی خو کلي نه دئ او نه مزدلفه کلی دئ او دغه مسئله په کوچني کلي کې ده که چيرې يو غټه کالوني له ښار سره متصل سوه نو دواړه جلا شمارل کيږي مګر که يې په قانوني ډول الحاق وسي، نو ځکه د بنده خيال دا دئ چې د پخوانيو فقهاوو د قول مطابق منی او مزدلفه دواړه جلا جلا شمارل کيږي.

په احسن الفتاوی کې راځي:

د دوو کلو تر منځ د کښتونو موجوديت يا د يوه غشی اندازه چې له شپاړس يوسلو اوو ديرش (۱۶ – ۱۳۷) متره کيږي انقطاع ده که چيري دوه ځايونه په عام عرف کې د يوه ښار دوې محلې بلل کيږي نو د ياد جلا والي او فصل سره دوی دواړي يو ځای شمارل کيږي. (احسن الفتاوی: ۴/ ۷۴).

په فتاوی رحیمیه کې لیکلي دي:

له اصلي وطن یا له وطن اقامت له آبادۍ څخه دباندې تللو ته شرعي مسافر وايي، نوري آبادۍ که څه هم متصل وي هغه نوري آبادۍ دي و د دوارو نومونه جلا دي حکومت او ښار والي والا د دوارو جلا جلا حدود مقرر کړي دي نو ځکه هغه دواړې مستقلې آبادۍ شمارل کیږي او د شرعي مسافر اطلاق هغه وخت کیږي کله چې هغه د خپل ښار تر حدودو تجاوز وکړي او که چیرې د اتصال په سبب ښار والي والا دواړې سره یو کړي نو اوس هغه آبادۍ د ښار محله ده او هغه محله د ښار جزء دئ نو ځکه له دې څخه په تجاوز کولو باندې د مسافرت احکام جاري کیږي. (فتاوی رحیمیه:٦/ ٣٦٤).

۳_ د منی په جلا شمارلو کې د لویو علماوو موافقت هم دئ او بیله ضرورته د لویو علماوو قول پرېښودل مصلحت او ښه خبره نه ده.

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی وايي:

مکه، منی، عرفات دا جلا جلا ځایونه دي په هغو کې په مجموعي توګه سړی د پنځلسو ورځو په نیت سره نه مقیم کیږي نو کوم سړی چې د ذوالحجې په اتمه ومنی ته تر تللو د مخه پنځلس ورځې د مخه راسي نو هغه په مکه مکرمه کې مقیم سو او هغه په منی مزدلفه او عرفات ټولو کې مقیم دئ او که چیرې مکې مکرمې ته راغلې خو پنځلس ورځې تر اوسه نه دي پوره سوي چې منی ته روان سو نو دا سړی په مکه مکرمه، منی او عرفات ټولو کې مسافر دئ او دی به د قصر لمونځ کوي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

سوال: که چیرې یو سړی د ذوالحجې په اوله مکې مکرمې ته ورسیږي او شل ورځې قیام وکړي نو هغه سړی به په مکه مکرمه کې پوره لمونځ کوي او که به قصر کوي؟ دا سړی مقیم دئ او که مسافر دئ؟

الجواب: هغه سړی مقیم نه دئ بلکې مسافر دئ او هغه ته په کار ده چې په مکه مکرمه کې هم قصر وکې او په منی، عرفات او مزدلفه کې هم قصر وکړي. (بحر:٢/ ١٤٣). (فتاوی محمودیه:٣/ ١٨٤).

فائده: له دې عبارت څخه معلومه سوه چې مکه مکرمه او منی دواړه جلا جلا ځايونه دي نو ځکه د اقامت نيت صحيح نه دئ او هغه به مسافر او سيږي او قصر به کوي.

په خير الفتاوی کې راځي:

د عرفات په اړه د ډېر بحث حاجت نه سته ځکه چې حاجيان هلته شپه نه تېر وي او په ورځ کې يو ځای ته تلل دا د اقامت پر نيت اثر نه اچوي، البته په مزدلفه کې شپه تېرول به په مکه کې د نيت اقامت له پاره مبطل وي ځکه چې مزدلفه نه په مکه کې داخله ده او نه د مکې په فناء کې داخله ده همدا ډول مزدلفه له منی سره هم متصل نه ده بلکې د منی او مزدلفې تر منځ د محسر شيله حائله ده.

په درمختار کې راځي: ((المزدلفة كلها موقف الا وادي محسر وادبين منى ومزدلفة))

بالفرض که متصل هم وي بيا هم پوره مزدلفه کومه چې تقريبا دوه ميله غوړېدلې ده د منی تابع کول دا له ذهن څخه خارج خبره ده. مثلا د يوه ښار سره متصل لس ميله اوږد ميدان وي نو د غه ټول اوږد ميدان د ښار څنګه فناء جوړېدلای سي؟ نو کله چې مزدلفه داخله نه سوه نو عرفات په طريقه اولی سره د مکې په فناء کې داخله نه دئ. حال دا چې د منی او عرفات تر منځ تقريبا د شپږو ميلو فاصله ده منی او مکه دا دواړې د فقهاوو په تصريح سره جلا جلا ځايونه دي او له دوی څخه د هر يوه مستقل حد بندي موجوده ده، دا د منی ابتداء ده د حج د مناسکو په اعتبار سره هم دغه دواړه ځايونه د همېشه له پاره ښار تصور کيږي کوم چې د منی له احکامو سره متعلق دي هغه په دغه قطعه کې اداء کيږي او په مکه کې د هغوی اداء کول جائز نه دي همدا ډول د هغه برعکس هم جائز نه ده، پر ته د دې چې يو سړی له مکې مکرمې څخه روان سو او منی ته داخل سو نو پر هغه دا خبره صادقيږي چې هغه له مکې مکرمې څخه وتلی دئ او دا ويل هم صحيح دي چې هغه په منی کې دئ او په مکه کې نه دئ.

د يوه ښار په مختليفو محلو کې داسي نفی صحيح نه ده او داسي ويل صحيح نه دي چې په ناظم آباد کې دي او په کراچي کې نه دئ له دې وجوهو څخه په ظاهره معلوميږي چې شريعت چې کوم ځايونه مستقل بللي دي او له هغو سره متعلق احکام هم جلا جلا دي او د هغوی واضحه حد بندي هم موجوده وي نو هغه د سفر په اړه دوه جلا جلا ځايونه شمارل کيږي نو ځکه دغه سړی تر حج د مخه مقيم نه دئ لکه څنګه چې ټولو فقهاوو پر دې سره تصريح کړې ده.

الحاج إذا دخل مكة في أيام العشر ونوى الإقامة نصف شهر لا يصح ؛ لأنه لا بد له من الخروج إلى عرفات فلا يتحقق الشرط . (البحر :۲/ ۱۴۳) فقط والله اعلم. (خير الفتاوى:٤/ ٢٤٨).

په عمدة الفقه کي راځي:

په کوم ځای کي چي داوسېدو نیت وکړي هغه ځای به داوسېدو وړ وي (ښار یا کلی به وي) که چیري یې په ځنګه یا دریاب یا په غیرآباد جزیره کي نیت وکړي نو صحیح نه ده حال دا چي مزدلفه داسي نه ده. همدا ډول که یو سړی په دوو ځای کي د پنځلسو ورځو داوسېدو نیت وکړي او هغه دواړه ځایونه مستقل او جلا جلا وي که مکه او منی او یا کوفه او حیره وي نو هغه مقیم نه دئ. (عمدة الفقه:۲/ ۴۱۵-۴۱۶).

په معلم الحجاج کي راځي:

کوم مسافر حاجي چي مکې مکرمې ته په داسي وخت کي راسي چي تر اتم تاریخ پوري تر پنځه لس ورځي کم وي او هغه په مکه مکرمه کي د پنځلسو ورځو یا تر هغه د زیاتو ورځو داقامت نیت وکړي نو د ده داقامت نیت صحیح نه دئ او هغه مسافر دئ ځکه چي په اتم تاریخ منی ته او په نهم تاریخ عرفات ته ضرور ځي نو ځکه داسي سړی باید ضرر قصر وکړي. (معلم الحجاج: ۱۵۷).

۴_ د منی په جلا شمارلو کي آساني هم ده ځکه چي د ډېرو حاجیانو تر یوم الترویه پوري په مکه مکرمه کي څلوارلس یا تر هغه کمي ورځي جوړېږي نو د منی ورځي چي جلا سي هغه مسافر جوړېږي چي هغه ته د لمانځه د قصر او د قرباني د نه واجبېدو آساني رسېږي.

« إن النبي ﷺ قال لمعاذ بن جبل وأبي موسى الأشعري عند ما أرسلهما إلى اليمن فقال لهما: يسرا ولا تعسرا، وبشرا ولا تنفرا، وكذلك قال عليه الصلاة والسلام: يسروا ولاتعسروا، وبشروا ولاتنفروا، واعلموا أن أحداً منكم لن يدخل الجنة بعمله » .

(بخاری:۲/ ۶۲۲، باب بعث ابی موسی ومعاذ الی الیمن قبل حجة الوداع، ومسلم).

وقال عليه الصلاة والسلام: لاتشدودا فيشد الله عليكم، فإن قوماً شددوا على أنفسهم فشدد عليهم فتلك بقاياهم في الصوامع. (اخرجه ابو داؤد برقم:۴۹۰۴).

وقال الله تعالى في رخصة إفطار المريض والمسافر: ﴿ يريد الله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر﴾

ويدل على اعتبار اليسر واقعة تمرة خيبر في الحديث المشهور وفي آخره: لاتفعل بع الجمع بالدراهم ثم ابتع بالدراهم جنيباً. (رواه البخاري:۱/ ۲۹۳، باب اذا اراد بيع تمربتمر).

مګر د اسانۍ مطلب دا نه دئ چې حرام ته حلال او غلط ته صحيح وويل سي.

۵_ که چيري له اتصال يا انفصال سره په عام عرف او په حکومتي حدودو کي اختلاف راسي نو اعتبار د عام عرف کيږي اوعرف او عادت ته بايد پر حکومتي حدودو ترجيح ورکول سي، تر څو چي عرف د نص خلاف نه وي نو بايد په عرف عمل وکول سي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف ﴾ له معروف څخه مراد عرف او د عادت موافق دي.

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: « ماراه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن».

د مجلې شرحي ليکلي دي: ان العرف والعادة يكون حجة إذا لم يكن مخالفاً للنص. (۱/ ۸۱-۸۹، وشرح عقود رسم المفتی:۴۱)

بلکي په ځينو صورتو کي که چيري د نص بنياد پر عرف وو نو هغه عرف بنياد جوړول کيږي مثلا په پخوانۍ زمانه کي غنم او وربشي کيلي وي، نو په ربا او نورو کي په احاديثو کي يې کيلي بللي دي حال دا چي په وروسته زمانه کي هغه وزني جوړ سول نو هغه وزني بلل کيږي لکه په دې زمانه کي خلک کيلي پيژني لا نه نو غنم او وربشي وزني بلل دا د نص تبديلي نه ده بلکي دا نص په منشاء او اساس پوهېدل دي. علامه شامي رحمه الله له ابن همام رحمه الله څخه د ابو يوسف رحمه الله قول رانقل کوي:

عن الثاني اعتبار العرف مطلقاً ورجحه الكمال وخرج عليه سعدي آفندي. (الدر المختار: ٥/ ١٧٦، باب الربا، سعيد – وشرح مجلة: ١/ ٨١، المادة: ٣٦).

لنډه دا ده چي كه چيري نص خپله د عرف تابع وو نو د عرف په تبديلۍ سره د نص ترک نه لازميږي ځكه چي اصل عرف دئ نو ځكه د عرف اعتبار كيږي.

د نورو مفتيانو رايي. د كومو مفتيانو كرامو او علماوو چي د هغه پر موافق فتوی ده د هغوی نومونه په لاندي ډول دي.

۱_ دار الافتاء جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوری ټاون كراچي.

۲_ مفتي محمد حسين، دار الافتاؤ والارشاد، جامعة الرشيد كراچي.

۳_ مفتي عبد الواحدؤ جامعه مدينه كرايم پارک وادی روډ لاهور.

۴_ مفتي عصمت الله، دار الافتاء دار العلوم كراچي.

۵_ حضرت مفتي تقي عثماني صاحب پر استفسار د سعودي عرب دار الافتاء ((رئاسة ادارة البحوث والافتاء)) په نامه سره يو سوال ليږلي دئ چي په مخكني زمانه كي منی او مكه دوه جلا ځايونه شمارل كيدل مگر نن سبا د هغو تر منځ نژدې والی او تصال موجود دئ نو ايا دغه دواړه ځايونه يو شمارل كيدلای سي او كه جلا جلا؟ پر دې ((اللجنة الدائمة)) جواب وركړی دئ چي دا دواړه جلا جلا ځايونه دي او د قرب او اتصال هيڅ اعتبار نه سته پر دغه جواب د هغه ځای د لويو مفتيانو د سختط دي مثلا (۱) عبد العزيز بن عبد الله بن محمد آل الشيخ. (۲) صالح بن فوزان العفوزان. (۳) احمد بن علي سير المبارک. (۴) عبد الله بن محمد المطلق.

دديې فتوی فوټو کاپي وګورئ:

بسم الله الرحمن الرحيم

المملكة العربية السعودية	الرقم :
رئاسة ادارة البحوث العلمية والإفتاء	التاريخ :
الأمانة العامة لهيئة كبار العلماء	المرفقات :

فتوى رقم (٢٢١٧١) وتاريخ ٢١/ ١١/ ١٤٢٢ هـ .

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لانبي بعده .. وبعد :-

فقد اطلعت اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء على ماورد إلى سماحة المفتي العام من المستفتي محمد تقي العثماني والمحال إلى اللجنة من الأمانة العامة لهيئة كبار العلماء برقم (٦٧٣٨) وتاريخ ٢٠-٧-١٤٢٢ هـ وقد سأل المستفتي عما يلي :-

السؤال الثاني : في الأزمنة السالفة كان « منى » يعد موضعا مستقلا و « مكة المكرمة » بلدة مستقلة ، ومن هنا يختلف فيهما حكم السفر والاقامة . وأما في العصر الراهن فقد نشأ بينهما كمال اتصال واقتراب حسب العمران كما لا يخفى على الزائر . فالمسئون منكم أن حكومتكم هل تعامل هذين الموضعين معاملة موضع واحد أو بلدة واحدة اليوم . ومنى يعد من مكة المكرمة أم لا ؟ فالرجاء منكم ايضاح هذا الأمر كمال الايضاح لتوقف مسألة نية الإقامة فيه .

الجواب : أهل مكة إذا حجوا أخذوا حكم الحجاج في القصر والجمع لأن الذين حجوا مع النبي ﷺ من أهل مكة لم يأمرهم بالإتمام ولا اعتبار لقرب بنيان مكة من المشاعر .. وبالله التوفيق ..

وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم .....

اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء

عضو	عضو	الرئيس
صالح بن فوزان الفوزان	عبدالله بن عبدالرحمن الغديان	عبدالعزيز بن عبدالله بن محمد آل الشيخ
عضو	عضو	عضو
عبدالله بن محمد المطلق	عبدالله بن علي الركبان	أحمد بن علي سير المباركي

بسم الله الرحمن الرحيم

الممكة العربية السعودية	الرقم
رناسة ادارة البحوث العلمية والإفتاء	التاريخ
الأمانة العامة لهيئة كبار العلماء	الموفقات

فتوى رقم (٢٢١٧١) وتاريخ:٢١/ ١١/ ١٤٢٢هـ.

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لانبى بعده.... وبعد:

فقد اطلعت اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء على ماورد إلى سماحة المفتي العام من ستفتي محمد تقى العثمانى والمحال إلى اللجنة من الأمانة العامة لهيئة كبار العلماء بر قم (٦٧٣٨) وتاريخ: ٢٠/ ٧/ ١٤٢٢هـ وقد سأل المستفتى عما يلى: -

السؤال الثاني: في الأزمنة السالفة كان « منى » يعد موضعا مستقلا و « مكة المكرمة » بلده مستقلة من هنا يختلف فيهما حكم السفر والاقامة، وأما في العصر الراهن فقد نشأ بينهما كمال اتصال واقتراب حسب العمران كما لا يخفي عى الزائر، فالمسئول منكم أن حكومكم هل تعامل هذين الموضعين معاملة موضع واحد أو بلدة واحدة اليوم، ومنى يعد من مكة المكرمة أم لا؟ فالرجاء منكم ايضاح هذا الأمر كمال الايضاح لتوقف مسألة نية الإقامة فيه .

الجواب: أهل مكة إذا حجوا أخذوا حكم الحجاج في القصر والجمع لأن الذين حجوا مع النبي ﷺ من أهل مكة لم يأمرهم بالإتمام ولا اعتبار لقرب بنيان مكة من المشاعر.... وبالله التوفيق ...

وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم.....

اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والإفتاء

عضو	عضو	الرئيس
صالح بن فوزان الفوزان	عبد الله بن عبد الرحمن الغديان	عبد العزيز بن عبد الرحمن بن محمد آل الشيخ
عضو	عضو	عضو
عبد الله بن محمد المطلق	عبد الله بن علي الركبان	احمد بن علي سير المباركي۞

٦_ همدا ډول الدکتور سعید احمد عنایة الله او نور کوم چي د صولتیه د مدرسې له استاذانو څخه دي هغه په ۲۰۰۴ م کال کي په موسم حج کي داسي یوه استفتاء د سعودي عرب ومفتي الشيخ عبد العزیز په خدمت کي لیږلې وه چي منی، عرفات او مزدلفه جلا جلا دي او که د مکې د ښار تابع دي؟

جواب: مفتي هغه ته په ټليفون کي ووېل چي د دغو يادو سوو مقاماتو او ځايونو مستقل حيثيت دئ او هغه د مکې مکرمې برخي نه دي.

۷_ حضرت مولانا عبد الحفيظ مکي صاحب چي له څو کالو راهيسی په مکه مکرمه کي مقيم وو هغه وايي، چي منی په هر حالت کي له مکې مکرمې څخه جلا ده، همدا ډول فرمايي، چي د ځينو حضراتو دا فرمان دئ چي په اوس وخت کي د مکې او منی اتصال سوی دئ نو دغه امر د واقعي خلاف دئ شرعا اتصال نه سوی دئ . دغه مفتي سره له مفتی ابو لبابه صاحب له حضرت مفتي عبد الحميد او نورو مفتيانو سره په موټر کي د مکې څخه منی ته او له منی څخه مکې ته پر هره لاره ولاړل او هغه مسافت يې ناپ (اندازه) کړئ کوم چي د دې دوو تر منځ وو نو له يوه طرفه هم تر (۹۰۰) متره کم نه وو نو شرعي اتصال به څنګه وي؟

۸_ د حضرت مفتي احمد ممتاز صاحب رئيس دار الافتاء جامعه خلفاء الراشدين په دې اړه مفصله فتوی ده چي په هغه کي هغه وايي، چي زه وصولتيې مدرسه ته ولاړم او له مولانا محمد هاشم صاحب سره مي پر دغه موضوع خبري وکړې په هغه وخت کي د هغه د رايي مدار پر اتصال او محاذات وو ما عرض وکړئ چي په دې مسئله کي د قريتينو اتصال نه دئ د ښار او دښت خبره ده، آخر هغه ووېل، چي په دغه مسئله کي تر اوسه موږ فکر کړی نه دئ.

۹_ په دې فتوی کي د مفتی عبد الرحمن بن مولانا مفتي عاشق الهی رحمة الله عليه فتوی هم شامل ده هغه په (۱۴۲۸هـ ق) کال د منی او د هغه د اطرافو مشاهده وکړه او ليکلي يې دي چي دواړه جلا جلا ځايونه دي . زموږ د فکر سره سم په عرف کي منی ته د مکې محله نه ويل کيږي او په منی کي آبادي هم نه سته.

۱۰_ مفتي محمد عبد الله هم په خپل وخت کي منی، د مکې مکرمې د جزء بللو څخه نفي کړې ده، منی نه د مکې فناء ده او نه حقيقة او نه حکما له مکې سره متصله ده.

۱۱_ حضرت مولانا مفتي اسماعيل هم پر دې خبره زور ورکړی دئ چي عرفاً منی او مکه جلا جلا ځايونه دي او منی د مکې فناء هم نه ده ځکه که د ښار د ضروريانو له امله هغه فناء وګرځيږي نو دا خبره خو د حج د فرضيت په اوله ورځ هم موجوده وه، مګر بيا هم مفتيانو منی د مکې مکرمې فناء نه ده ګرځولې او اتمام حکم يې ورکړي نه دئ.

۱۲ _ مفتي انعام الله صاحب د دې مسئلې پر هر جزء رڼا اچولې ده او د دواړو ځایو د یوالي قائلینو ته یې د هر مستدل او د هري شبهې جواب ورکړی دی. او فرمایي، چې د فقهاوو په نزد د اتحاد او اتصال په تعریف کي مختلف اقوال دي بیا یې شپږ اقوال رانقل کړل او لیکلي یې دي چې صرف نظر له دې چې په هغو اقوالو کي راجح څه دي؟ په ظاهره په نظر کولو سره په فقهي اقوالو کي د یوه قول مطابق هم په دواړو ځایو کي اتصال نه سته او نه عرفا دا دواړه ځایونه سره یو دي بلکي جلا جلا دي ځکه چې:

۱ _ که چیري په عرف کي د منی له مکې سره اتصال سوی وای نو پر دې مسئله د بحث کولو ضرورت نه پیدا کیدئ.

۲ _ مخکي عرف په دواړو کي په اتفاق سره د اتصال وو او د پخوانی عرف د تبدیلی دلائل نه سته.

۳ _ خلک وایي د یوم الترویه په ورځ حاجیان له مکې څخه منی ته ځي تر رمي او قربانی وروسته حاجیان منی ته دوهم ځل راګرځي دا ټول د دواړو ځایو په منځ کي د مغایرت دلیل دئ همدا ډول.

﴿ ثم أفیضوا من حیث أفاض الناس ﴾ یا ﴿ فمن تعجل في یومین فلا إثم علیه ﴾ یا ﴿ فإذا أفضتم من عرفات فاذکروا الله ﴾....

په دې ایاتو کي هم د منی، عرفات او مزدلفې تر منځ تګ راتګ مراد دئ او غرض دا دئ چې په ډېر تعداد کي مفتیان پخواني قول ومطابق ته مائل دي او د هغه پر موافق فتوی ورکوي او خلک هم د هغه پخواني قول سره عادت دي، همدا ډول حضرت مفتي رفیع عثماني صاحب پر دې مسئله د بحث په وخت کي دغه ویلي وه تر څو چې پر دې مسئله اتفاق او یا تحقیق نه وي سوی نو باید پخوانی فتوی وچلول سي. په پخوانی فتوا کي دواړه جلا جلا شمارل سوي دي او د هغه مجلس مفتیانو له حضرت مفتي محمد رفیع صاحب سره اتفاق وکړئ. مفتي صاحب دغه خبره د حضرت مولانا قاري محمد حنیف په جواب کي وایي، مولانا حنیف صاحب استفسار وکړئ چې تر څو اتفاق یا تحقیق نه وي نو موږ عوامو ته څه ووایو نو مفتي صاحب وویل، پخوانی فتوی باید وچلول سي او نورو مفتیانو له هغه سره اتفاق وکړئ. والله ﷻ اعلم.

د اتحاد والا پر دلائلو يو نظر:

د منی او مکې د اتحاد قائلينو ځينې شواهد او د هغوی جوابونه مختصر ذکر کيږي:

۱_ عموما پر دې موضوع مقاله ليکونکو حضراتو د حضرت عبد الله بن سبيل په فتوی سره استدلال کوي، په دې اړه غوره دا ده چي له خپل ځان څخه د اندازې لګولو پر ځای بايد د هغه ځای وحضراتو ته رجوع وکړل سي حضرت مفتي محمد تقي عثماني د مسجد حرام د سپين ږيري امام فضيلة الشيخ څخه د مسئلې استفسار وکړئ چي د هغه په جواب کي فضيلة الشيخ چي کوم جواب ليکلی دئ د هغه لنډيز دا دئ چي منی د مکې د ښار يوه برخه او محله جوړه سوه د هغه د جواب متعلقه برخه دا ده.

الذي يظهر لنا أن منى أصبحت اليوم جزء من مدينة مكة..... إن حكومة المملكة العربية السعودية تعد منى من مكة على اعتبار أنها حي من أحيائها إلا أن الحكومة تمنع البناء فيها لمصلحة عامة، لأنه لايجوز لأحد أن يتملك ولايختص بمنى ولاغيرها من المشاعر لقول النبي ﷺ: «منى مناخ من سبق».

الجواب: حضرت مفتي احمد ممتاز صاحب د دې جواب ورکړی دئ.

۱_ يوازي د سماحة الشيخ رايه عرف اغلب او اشهر بلل درست نه دي.

۲_ په ښکاره د حضرت په فتوی کي تعارض دئ فرمايي، چي حکومت منی د مکې يو برخه بولي او خپله يې هم دغه رايه ذکر کړې ده بيا مخته وايي، چي حکومت هلته له بناء او تعيراتو څخه منع کوي نو اوس محله او عدم بناء نه سي جمع کېدلای ځکه چي د ښار له آبادۍ څخه دباندي ميدان ته په هيڅ ډول د ښار محله نه ويل کيږي بلکي له ښاره سره متصله آبادۍ محله کوم چي له يوې وجې څخه نړېدلې وي هغې ته هم د ښار محله نه ويل کيږي نو منی د مکې محله څنګه کېدلای سي؟ البته د ښار په نژدې والي او همسايه توب کي آباد سوي محلو ته د ښار برخه وايي، نو ځکه که چيري د هغوی خاص رايه دا وي چي هغه ميدان کوم چي له آبادۍ څخه دباندي وي د ښار برخه ده نو پر تولو دليل نه دئ.

۳_ درېیمه خبره دا ده چې ((لأنه لایجوز لأحد أن یتملک)) څخه دا معلومیږي چې حکومت منی او نور مشاعر د مکې له ښاره څخه جلا کوي نو ځکه هلته چا ته د کور جوړولو اجازه نه ورکوي.
۲_ ځیني حضرات وایي، د څلور وجو څخه منی ته د مکې فناء باید وویل سي:
۱_ هلته د قرباني ځای دئ.
۲_ هلته د حجیانو اجتماع ده.
۳_ هلته د موټرانو پارکینګ دئ.
۴_ هلته تفریح ځای دئ.
الجواب: دا خبره په یو څو وجوه صحیح نه ده.
۱_ هلته له مصالح څخه داسي یو شی نه سته کوم چي له مکې مکرمې سره خاص وي هلته ټول انتظامات د مناسکو د اداء له پاره کیږي او د مکې خلک له هغه څخه تبعا استفاده کوي مګر تبعا په استفاده کولو سره هغه د مکې مصالح نه بلل کیږي د قربانۍ ځای د مناسکو د اداء، د دم، شکر او نورو له پاره دئ د دې په ضمن کي که چیري یې اهل مکه پابنده کړل چي هغه دي هم دلته اضحیه وکړي نو دا تبعي انتظام دئ له دې وجي څخه منی د مکې فناء نه ده.
۲_ که چیري بالفرض د قرباني ځای د ښار مصلحت وبلل سي او هغه ته فناء وویل سي نو فناء به هغه خاص احاطه وي کوم چي د قربانۍ د ځای له پاره خاص دي په دې سبب د منی ټول میدان فناء نه جوړیږي.
۳_ هلته خلک موټران د ضرورت په وخت کي د ښار د نژدې والي په سبب پارکینګ کوي.
۴_ هلته د تفریح له پاره یو مخصوص ځای نه سته خلک داغسي ځي.
۵_ په منی کي جمعه جائز ده او که نه؟ د شیخینو په نزد جائز ده او د امام محمد رحمه الله په نزد جائز نه ده که چیري منی د مکې فناء وای نو د شیخینو او امام محمد رحمه الله تر منځ به اختلاف نه وای ځکه چي فناء که له ښار سره متصله وي او که متصله نه وي هلته په هر صورت کي جمعه درسته ده، دغه اختلاف د دې واضح دلیل دئ چي منی د مکې فناء نه ده.

٦_ كه چيري بالفرض منى داهل مكې تفريح ځاى او دلوبې ځاى وي نو بيا هم دا د ښار په حاجت او مصالح داخل كي نه دئ.

په الموفقات كي راځي:

أما الحاجات فمعناها أنها مفتقر إليها من حيث التوسعة ورفع الضيق المودي في الغالب إلى الحرج والمشقة.... (الموفقات:٢/ ٩).

٧_ كه چيري د قربانۍ د ځاى په سبب منى ته د مكې فناء ويل كيږي د موقف كېدو په اعتبار سره نو مزدلفې او عرفات ته هم بايد فناء وويل سي په كوم ځاى كي چي علت وي هلته حكم راځي او كه څوك دا ووايي، چي مزدلفه او عرفات له مكې څخه ليري دي نو ځكه دې ته د مكې فناء نه ويل كيږي؟

نو د علامه شرنبلالى د تحقيق سره سم دغه اعتراض د اعتماد وړ نه دئ او د هغوى په نزد د مصالحو اعتبار دئ او د ليري والى نه دئ.

٨_ د منى د فناء كېدو په اړه چي كوم روايتونه ذكر سوي دي هغه ټول د كتاب الجمعه عبارتونه دي جمعه او اختر د ښار له حوائجو څخه نه دي.

په مراقي الفلاح كي راځي:

ولايلحق فناء المصر بالمصر في حق المسافر، يلحق الفناء بالمصر في حق صلاة الجمعة. (مراقى الفلاح:ص ٢٥٤).

٣_ يوه عامه خبره چي د هغه په بنياد د دې بحث ضرورت پېښ سو هغه دا ده چي دا ويل كيږي ((اوس صورت حال دا دئ چي د مكې آبادي تر منى پورې هم تجاوز كړئ او منى د مكې مكرمې يو برخه ده)) كه څه هم دواړه جلا جلا دي پر دې بناء ډېر حضرات د اتحاد قائل دي، په مختليفو الفاظو ټول دغه خبره كوي ځينو مفتيانو فرمايلي دي چي هغوى په صولتيه مدرسه كي د حج په زمانه كي يوه فتوى په (٢٠٠٠م) كال كي ليكلي وه او پر هغه د صولتيې مدرسې د مفتيانو تصديق هم سته مثلا مفتي شبير احمد، مفتي فاروق او داسي نور، د اولو ورځو آبادي جلا وه مګر اوس د مكې ښار ډېر

غورېدلي دئ او له منى سره متصل دئ بيا مقاله ليكونكو لكه مولانا خالد سيف الله صاحب، مولانا عبيد الله صاحب، مولانا ارشاد القاسمي صاحب وغيره سره هم ژبي سول او د دې له پاره يې دليل جوړ كړئ چي د دواړو په آباديو كي اتصال سوى دئ.

الجواب: دغه فكر صحيح نه دئ د علامه آفندي د قول ((بقاؤها مصرا ليس بشرط)) مطلب دا دئ چي د مصر جوړولو له پاره د هغه د مصريت بقاء شرط نه ده په عارضي توگه هم مصر جوړېدلاى سي مگر په عارضي توگه مصر (ښار) هغه وخت جوړېدلاى سي چي هغه له پخوا څخه كلي وي او ځنگل خو مصر هيڅكله نه سي جوړېدلاى.

۵ _ يو دليل دا هم ويل كېدلاى سي چي د دواړو ښار والي يوه ده. (ندايى شاهى:۵۳/ ۲۰۰۴).

الجواب: څنگه چي په منى كي په پوره كال كي يو كار هم نه كيږي نو ځكه د مكې مكرمې ښار والي هلته كار كوي او د جلا ښار والي ضرورت نه سته پاته سوه دا خبره د مكې د جزء كېدلو دليل نه دئ، همدا ډول ځيني خلک وايي، چي د هغې خپله ښار والي ده.

٦ _ نن سبا كه پر منى فكر وكړل سي نو منى داروپا ديو ډېر ترقي يافته ښار په شان ده هلته نوي كولري خيمي دي، دفترونه دي او نور ډېر سهولتونه موجود دي نو له دې وجي دې ته ځنگل نه ويل كيږي بلكي آبادي ده.

الجواب: ۱ _ دغه ځايونه يعني كورونه پاخه نه دي او فقهاوو د پاخه ځايو شرط لگولى دئ.

۲ _ په خيمو كي هغوى مستقل نه اوسيږي او د آبادى له پاره د اوسېدلو ځاى او هلته همېشه توب شرط دئ.

۳ _ د عربو خلک تر دې هم ښي خيمي په ځنگل كي لگوي مگر هغو ته څوک آبادي نه وايي.

۴ _ شاهي محل په منى كي دئ هلته خادمان او محافظان اوسيږي مگر د آبادى د جوړېدلو له پاره د هغو د اوسېدو اعتبار نه كيږي.

لنډه دا ده چي په منى كي نه كورونه نژدې دي او نه هغه د اوسېدلو د همېشه له پاره ځاى دئ او نه عادتا هلته خلک اوسيږي بلكي شرعا هلته اوسېدل ښه هم نه دي.

عن عائشة رضي الله عنها قالت : قلنا يا رسول الله ! ألا نبني لك بيتا يظلك بمنى يظللك؟ فقال رسول الله ﷺ : « لا منى مناخ من سبق ». (ترمذي: ۱/ ۱۷۷، باب ماجاء في أن منى مناخ من سبق وكذا في أبو داؤد، وابن ماجه). والله تعالى اعلم.

د حج په ورځو کي په منی کي د جمعې د قائمولو حکم

سوال: د مخکني زمانې فقهاوو په منی کي د حج په ورځو کي د جمعې جواز لیکلی دئ مګر په پخوا زمانه کي هلته د کلي په شکل آبادي وي حال دا چي هلته اوس مستقله آبادي نه ستته نو اوس په دغه زمانه کي په منی کي جمعه کېدلای سي او که نه؟ او که چیري کېدلای سي نو واجب ده او که نه؟

الجواب: ۱ _ نن سبا په منی کي په قانوني توګه آبادي نه ستته، له څو کالو څخه يې د هغه ځای کورونه نړولي دي او د هغه ځای آبادي يې ختمه کړه او حج خالي په خیمو کي کیږي لکه څنګه چي مولانا عبد الحفيظ صاحب په خپله مقاله کي ليکلي دي نو ځکه دا کلی نه دئ.

۲ _ فقهاء كرام په ابوب الجمعه کي فرمايي، چي د شيخينو په نزد د امير په شته والی کي په منی کي جمعه جائز او په عرفات کي بالاتفاق روا نه ده بيا د هغه وجه دا بيانوي چي منی قريه ده او د حج په زمانه کي ښار جوړيږي، نو ځکه په منی کي جمعه روا ده او عرفات خالي صحرا ده او يا ځنګل دئ مګر دا خبره ياد ساته چي نن سبا منی کلی نه دئ نو ځکه د حج په زمانه کي ښار نه ګرځي ځکه چي د تر ښار مخکي ضروري ده چي هغه به مستقله قريه وي مګر کله چي منی صحراء وه نو د حج په زمانه کي مصر نه جوړيږي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

وتجوز بمنى إن كان الأمير أمير الحجاز أو كان مسافراً عندهما وقال محمد رحمه الله: لا جمعة بمنى لأنها من القرى، حتى لا يعيد بها. ولهما أنها تتمصر في أيام الموسم، وعدم التعييد للتخفيف، ولا جمعة بعرفات في قولهم جميعًا، لأنها فضاء وبمنى أبنية.

(الهداية: ۱/ ۱٦٧، باب صلاة الجمعة).

او ابن همام رحمه الله فرمايلي دي چي په خالي ميدان کي جمعه نه ستته:

قال ابن الهمام: إذا سافر الخليفة فليس له أن يجمع في القرى كالبرارى. (هداية مع الفتح: ۲/ ۳۵، ۵٤، دار الفكر).

بلکي د عرفات چي کوم حالت فقهاوو بیان کړی دئ، د موجوده زمانې منی وهغې ته نژدې ده ځکه چي د ملازمینو او عاملاتو اعتبار نه کیږي او د هغو څخه پرته مستقل اوسېدونکي هلته نه سته خو په پخوا زمانه کي منی آباده وه لکه څنګه چي د فقهي کتابو څخه ظاهره معلومېږي نو په دې سبب فقهاء د مصر په تعریف کي د آبادۍ د ذکر په وخت کي د منی د آبادۍ ذکر کوي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

والمصر في ظاهر الرواية: الموضع الذي يكون فيه منت وقاض يقيم الحدود وينفذ الأحكام، وبلغت أبنيته أبنية منى هكذا في الظهيرية وفتاوى قاضي خان .(الفتاوى الهندية).

۳_ همدا ډول له ځینو سلفو څخه په منی کي جمعه نه کول منقول دي.

وګورئ په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن عبد الملك ، عن عطاء ، قال : سمعته وسئل: على أهل منى جمعة ؟ قال : إنما هم سفر. وعن خالد بن أبي عثمان ، قال : شهدت عمر بن عبد العزيز لا يجمع بمنى. (مصنف ابن ابى شيبة: ۸/ ۳۳۲، المجلس العلمي، ماقالوا بمنى جمعة ام لا؟).

په موطا امام مالک کي راځي:

قال مالك فى إمام الحاج: إذا وافق يوم الجمعة يوم عرفة أو يوم النحر أو بعض أيام التشريق إنه لا يجمع فى شىء من تلك الأيام.(مؤطا امام مالک:ص ٤٢٦).

د ابن منذر نیسابوري په اوسط کي راځي:

ذكر حديث: جاء رجل من اليهود إلى عمر رضي الله عنه، فقال: آية من كتاب الله تقرؤونها.... إني لأعلم اليوم الذي أنزلت فيه والمكان الذي نزلت فيه.... إلى آخر الحديث، قال أبو بكر:

ففي الجمع بين هذا الحديث وحديث جابر رضي الله عنه أن النبي ﷺ صلى الظهر بعرفة بيان ودليل على أن لاجمعة بمنى ولاعرفة، وقال مالك رحمه الله: لايجمع الإمام وهو مسافر في بر أو بحر.

(الاوسط لابن المنذر:٥/ ٣٤٩، ١٧٠٩، من تجب عليه الجمعة).

په الفقه الاسلامي کي راځي:

ولاجمعة بمنى وعرفة نصاً لأنه لم ينقل فعلها هناک. (الفقه الاسلامي وادلته:٢/ ٢٦٩، دار الفكر).

په کشاف القناع کي (د حنبلي فقهي کتاب دئ) راځي:

ولاجمعة بمنى وعرفة نصاً، لأنه لم ينقل فعلها هناک، وللسفر. (كشاف القناع:٤/ ١٢٤، باب صلاة الجمعة).

لنډه دا ده چي په منى کي بايد جمعه ونه کړل سي. والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ فانكحوا ما طاب لكم من النساء ﴾. (سورة النساء: الآية:۳).

وقال رسول الله ﷺ « يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فإنه أغض للبصر وأحسن للفرج».

كتاب النكاح

اول .... باب

د کوزدې او د نکاح د خطبې بيان

اول .... فصل

د ښځي د ليدلو او خبري کول بيان

د کوزدې او په هغه کې د موجودو رسمو حکم

سوال: په شریعت مطهره کې د کوزدې څه حکم دئ او په هغه کې د موجوده رسمو او رواجو څه حکم دئ؟

الجواب: تر نکاح دمخه دې هلک او انجلۍ یو بل د واده په نیت وګوري او تر هغه وروسته دې دواړه کورونه په خپل منځ کې نکاح وتړي او د نکاح وعده دې وسي همدا ډول د خپل حیثیت موافق دې تحفې سره ورکړي. د نبي کریم ﷺ فرمان ((تهادوا تحابوا)) په سبب امید سته چې عقد نکاح به وسي او د دواړو کورو غوښتني به پوره سي همدا ډول د انجلۍ د کتلو په وخت کې د مختصري خبرې کولو هم اجازه سته په شریعت کې دا د کوزدې حقیقت دئ او کوزده خو یوازې د نکاح وعده ده حقیقي نکاح نه ده نو ځکه د نکاح احکام نه پر جاري کیږي.

د دې څخه پرته ټول رواجونه د پرېښودلو وړ دي او د هر ځای رواج مختلیف وي د دې زمانې له رواجو څخه یو څه دغه دي مثلا ټول ورځ پرېوه کټ کښېنتل او خبري کول، روغبړ کول. یو و بل ته ګوتمۍ ورپه ګوته کول او داسې نور رواجونه مثلا عسکونه سره اخیستل همدا ډول د دې رواجو په سبب ډېر ځله د انجلۍ کور والا مسکینان کیږي او قرض ته مجبوره کیږي حال دا چې بیله ضرورته پر قرض اخیستلو په حدیث شریف کې ممانعت راغلی دئ. مطلب دا چې دغه خرافات پرېږدي او په اسانه دین عمل وکړي او له داسې مشکلاتو او تکالیفو څخه حتی الامکان ځان ساتل ضروري دي.

وګورئ دلائل په لاندې ډول دي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: جاء رجل إلى النبي ﷺ فقال: إني تزوجت امرأة من الأنصار، قال: فانظر إليها فإن في أعين الأنصار شيئاً. (رواه مسلم، مشكاة شريف:۲/ ۲۶۸).

عن سهل بن سعد رضي الله عنه قال ذكر لرسول الله ﷺ امرأة من العرب فأمر أبا أسيد أن يرسل إليها فأرسل إليها فقدمت فنزلت في أجم بني ساعدة فخرج رسول الله ﷺ حتى جاءها فدخل عليها فإذا امرأة منكسة رأسها فلما كلمها رسول الله ﷺ قالت: أعوذ بالله منك، قال: « قد

أعذتك منى ». فقالوا لها: أتدرين من هذا ؟ فقالت: لا. فقالوا: هذا رسول الله ﷺ جاءك ليخطبك قالت: أنا كنت أشقى من ذلك. (رواه مسلم:۲/ ۱٦۹).

پـه طحطاوي كي راځي:

قوله والنظر إليها قبله، أي فإنه مندوب، لأنه داعية للألفة فينظر إلى وجهها وكفيها وإن لم تأذن له هي أو وليها إذا علم أنه يجاب في نكاحها. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ٥، كوئته).

پـه فتاوى شامي كي راځي:

قال في شرح الطحاوي: لو قال: هل أعطيتنيها؟ فقال: أعطيت، إن كان المجلس للوعد فوعد. (فتاوى الشامى:۳/ ۱۱، سعيد).

پـه مجموعة قوانين اسلامي كي راځي:

د نارينه له پاره روا ده چي هغه هغه ښځه وګوري كومي سره چي نكاح كول غواړي د ښځي له پاره هم روا ده چي هغه هغه سړي وګوري. كوزده كول دا شرعا د نكاح وعده ده چي پـه هغه كي قانوني الزام نه سته، د كوزدې پـه ډول ګوتمۍ وركول، يو څه پيسې وركول يا كالي وركول دا د نكاح د رضامندۍ علامت دي مګر د نكاح له پاره پر دغسي عمل باندي نه سي مجبوره كېدلای. (مجموعة قوانين اسلامى: ص ۳٦-۳۷).

پـه كفايت المفتي كي راځي:

پـه كوزده كي مقصد د نكاح وعده وي يعني د كوزدې پـه وخت كي چي كوم الفاظ ويل كيږي هغه د نكاح وعده ده نكاح منعقده كول مقصد نه دي نو له دې وجي دوهم ځل نكاح له پاره مجلس جوړيږي او منعقده كيږي. (كفايت المفتى:٥/ ۱٥).

پـه آپ كى مسائل اور كا حل نومي كتاب كي راځي:

د سوال حاصل دا دئ چي له هغي انجلۍ سره تر کوزدې او نکاح له مخه ملاقات کول، خبري کول، گرځېدل روا نه دي مګر که چیري په معاشره کي دغه کار عام وو او هغه چا بد هم نه ګڼل نو بیا یې څه حکم دئ؟

الجواب: تر نکاح د مخه هغه سړی اجنبي دئ نو ځکه تر نکاح د مخه د هغه کس حکم هم هغه دئ کوم چي د بل سړي حکم دئ یعني د بل پردي سړی دئ د ښځي له هغه سره اختلاط روا نه دئ او په معاشره کي د یو شی رواج کېدل دا د یوه شي د جواز دلیل نه سي جوړېدلای، دا داسي غلط رواج دئ چي هغه د شریعت خلاف دئ او په خپله د اصلاح وړ دئ همدا ډول د ډېرو تعلقاتو تر نکاح د مخه اجازه نه سته او نه د خلوت اجازه سته او نه د اختلاط اجازه سته تر نکاح د مخه ملاقات په خپله غیر اخلاقي حرکت دئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۵/ ٣٤-٣٥).

په بهشتي زېور کي حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د کوزدې رواجونه بیان کړي دي او بدیې پري ویلي دي:

مطلب دا چي دا ټول رواجونه پرېښودل واجب دي بس په یوه کارډ او یا زباني ویلو سره د نکاح وعده کېدلای سي او دوهم طرف دي هم د خپلو ضروري خبرو تحقیق وکړي په کارډ یا فقط زباني وینا سره دي جواب ورکړي بس کوزده وسوه. (بهشتی زیور:٦ حصه:٢٢). والله تعالی اعلم.

د کوزدې له پاره د انجلۍ سره د خبرو کولو حکم

سوال: د کوزدې له پاره انجلي لیدل روا دي او که نه؟ او خبري کول ورسره روا دي او که نه؟

الجواب: د کوزدې له پاره د انجلۍ سره مختصره خبره کول روا ده مګر د محبت خبري او د ښځي او خاوند په شان اوږدي خبري کول روا نه دي ځکه چي په هغه کي د فتنې خطره سته.

وګورئ په سنن ابن ماجه کي راځي:

عن المغيرة بن شعبة ، قال : أتيت النبي ﷺ فذكرت له امرأةً أخطبها ، فقال : اذهب فانظر إليها ، فإنه أجدر أن يؤدم بينكما ، فأتيت امرأةً من الأنصار ، فخطبتها إلى أبويها ، وأخبرتهما بقول النبي ﷺ، فكأنهما كرها ذلك ، قال : فسمعت ذلك المرأة ، وهي في خدرها ، فقالت :

إن كان رسول الله ﷺ أمرك أن تنظر ، فانظر ، وإلا فأنشدك ، كأنها أعظمت ذلك ، قال : فنظرت إليها فتزوجتها ، فذكر من موافقتها. (ابن ماجه:١/ ١٣٤).

پہ سنن نسائي کي راځي:

ثابت البناني يقول: كنت عند أنس بن مالك ﷺ، وعنده ابنة له، فقال : جاءت امرأة إلى رسول الله ﷺ فعرضت عليه نفسها فقالت: يا رسول الله ألك في حاجة. (سنن نسائی:٢/ ٧٥).

عن سهل بن سعد ﷺ قال ذكر لرسول الله ﷺ امرأة من العرب فأمر أبا أسيد أن يرسل إليها فأرسل إليها فقدمت فنزلت فى أجم بنى ساعدة فخرج رسول الله ﷺ حتى جاءها فدخل عليها فإذا امرأة منكسة رأسها فلما كلمها رسول الله ﷺ قالت: أعوذ بالله منك، قال: « قد أعذتك منى ». فقالوا لها: أتدرين من هذا ؟ فقالت: لا. فقالوا: هذا رسول الله ﷺ جاءك ليخطبك قالت: أنا كنت أشقى من ذلك. (رواه مسلم:٢/ ١٦٩).

عن عبد الرحمن بن حنظلة الغسيل قال: حدثتنى خالتى سكينة بنت حنظلة وكانت بقباء تحت ابن عم لها توفى عنها، قال: دخل على أبو جعفر : محمد بن على وأنا فى عدتى فسلم ثم قال : كيف أصبحت يا بنت حنظلة، فقلت : بخير جعلك الله بخير، فقال : أنا من قد علمت قرابتى من رسول الله ﷺ وقرابتى من على بن أبى طالب ﷺ وحقى فى الإسلام وشرفى فى العرب، قالت: فقلت : غفر الله لك يا أبا جعفر أنت رجل يؤخذ منك ويروى عنك تخطبنى فى عدتى؟ فقال : ما فعلت إنما أخبرتك بمنزلتى من رسول الله ﷺ ثم قال : دخل رسول الله ﷺ على أم سلمة بنت أبى أمية بن المغيرة المخزومية وتأيمت من أبى سلمة بن عبد الأسد وهو ابن عمها فلم يزل يذكرها بمنزلته من الله تعالى حتى أثر الحصير فى كفه من شدة ما كان

يعتمد عليه فما كانت تلك خطبةً .(السنن الكبرى للبيهقى:٥/ ١٧٨، باب التعريض بالخطبة، دار المعرفة بيروت).

عن عبد الرحمن بن القاسم عن أبيه أنه كان يقول فى قول الله عز وجل ﴿ ولا جناح عليكم فيما عرضتم به من خطبة النساء ﴾ أن يقول الرجل للمرأة وهى فى عدة من وفاة زوجها إنك على لكريمة وإنى فيك لراغب وإن الله لسائق إليك خيرًا ورزقًا ونحو هذا من القول. وعن مجاهد في هذا الآية قال: هو قول الرجل للمرأة في عدتها إنك لجميلة وإنك لتعجبيني ويضمر خطبتها فلا يبديه لها هذا كله حل معروف. (السنن الكبرى للبيهقى:٥/ ١٧٨، باب التعريض بالخطبة، دار المعرفة بيروت). والله ﷻ اعلم.

د واده په اراده انجلۍ ته د خط ليکلو حکم

سوال: ۱_ که چيري يو سړی د انجلۍ د پېژندلو اراده وکړه، نو ايا هغې ته خط ليکل او د هغې جواب ورکول صحيح دي او که نه؟

۲_ که چيري يې هغه وپېژندله او يا يې له مخکي څخه هغه پېژندله نو بيا خط ليکل څنګه دي؟ (الف) کله چي په هغه خط کي د عشق خبري وي. (باء) کله چي په هغه خط کي د محبت خبري نه وي نو څه حکم يې دئ؟

الجواب: د واده کولو په اراده کتل او مختصره خبره کول روا دي نو بيا خط ليکل هم صحيح دي مګر د خوند له پاره به نه وي همدا ډول په خط کي دي هم د شرعي حدودو لحاظ وکړي حال دا چي له احاديثو څخه د کتلو اجازه ثابته سوې ده، نو خط خو له هغه څخه کم دئ همدا ډول کله چي د خط په ذريعه هغه ته صحيح معلومات وسي نو دې بيا خطونه بند کړي.

۲_ انجلۍ يې وپېژندله نو اوس بايد خطونه ونه ليکي، که د عشق خبره وي او که نه وي ځکه تر څو چي نکاح نه وي تړل سوې دغه ښځه د پردۍ ښځي په حکم کي ده.

وګورئ په طحطاوي کي راځي:

قوله والنظر إليها قبله، أي فإنه مندوب، لأنه داعية للألفة فينظر إلى وجهها وكفيها وإن لم تأذن له هي أو وليها إذا علم أنه يجاب في نكاحها. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۲/ ٥. کوئته). والله تعالیٰ اعلم.

تر کوزدې وروسته د خبرو سلسله د جاري ساتلو حکم

سوال: په دې اړه مفتیان حضرات څه وایي زید یوې انجلۍ ته د نکاح پیغام ورکړئ او قبول یې هم کړئ نو اوس زید له دې انجلۍ سره تر نکاح د مخه خبرې کولای سي او که نه؟

الجواب: شریعت د ضرورت په وخت کي د خبرو کولو اجازه ورکړې ده او کله چي کوزده وسي نو دغه ضرورت پوره سو نو اوس خبرو کولو ته هیڅ حاجت نه سته، همدا ډول له هغې انجلۍ سره خبرې کول او خوند اخیستل هم د شریعت له نګاه څخه صحیح نه دي ځکه چي په ډېرو ځایو کي داسي لیدل سوي دي چي هغه انجلۍ په موټر کي ګرځوي، په دې کي خلوت هم دئ او دا روا نه ده دا خبره باید یاد وساتل سي چي هغه انجلۍ د پردې په حکم کي ده. په درمختار کي راځي: ((ولایکلم الأجنبیة)) (الدر المحتار:٦/ ٣٩٦).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

د دغو دواړو تر واده د مخه په تنهایي کي یو ځای کېدل حرام دي. وفي الأشباه: الخلوة بالأجنبية حرام. « الدر المختار:٣/ ٣٢٣، (مجموعة قوانين اسلامي:ص ٣٧، دفعه ١١ مع الحاشية).

په آپ کي مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

تر نکاح د مخه سړې پردۍ دئ نو ځکه تر نکاح د مخه د سړي حکم د پردي په حکم کي دئ، د ښځي د هغه سره اختلاط روا نه دئ او په معاشره کي د یو شي رواج کېدل دا دلیل نه دئ. داسي غلط رواج کوم چي د شریعت خلاف وي په خپله د اصلاح وړ دئ، همدا ډول تر نکاح د مخه تعلقات ساتل روا نه دي او نه د خلوت او تنهایي اجازه سته او تر نکاح د مخه ملاقات په خپله غیري اخلاقي حرکت دئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٥/ ٣٤-٣٥). والله تعالیٰ اعلم.

د واده کولو په اراده له انجلۍ سره تعلقات قائمولو حکم

سوال: حضرت مفتي صاحب السلام عليكم ورحمة الله، زه ډاکټريم او ديوې ښې نيکې ډاکټرې سره واده کول غواړم، نن سبا د معاشرې د خرابۍ په سبب زه ېږېږم او دلته په روغتون کې يوه نيکه ډاکټره ده، د لمنځو پابندي کوي او پرده داره ده نو اوس زما د هغې سره هيڅ تعلق نه ستنه نو ايا زما له پاره دا روا ده چې زه د واده په اراده له دې ډاکټرې سره تعلقات قائم کړم او ده پټو حالاتو اندازه ولګوم ترڅو چې اطمينان مې وسي، د شريعت په رڼا کې لار راته وښيه؟

الجواب: په دې صورت کې ستا دغه طريقه د شريعت له نګاه څخه صحيح نه ده ځکه چې ديوې انجلۍ اخلاق او عادتونه د هغې له ګاونډيانو د خاندان له ښځو څخه معلومېدلای سي همدا ډول ښځې د بلې ښځې مزاج ډېر ښه پېژندلای سي همدا ډول تا د دې انجلۍ شکل او رنګ وليدئ اوس هغې ته هر ځل کتل هم صحيح نه دي.

وګورئ په نصب الراية کې راځي:

قال عليه السلام: « لا يخلون رجل بامرأة، ليس منها بسبيل، فإن الشيطان ثالثهما »، قلت: وقد روي من حديث عمر رضي الله عنه، وابن عمر رضي الله عنه، وجابر بن سمرة رضي الله عنه، وعامر بن ربيعة رضي الله عنه، وليس فيه: قوله: « ليس منها بسبيل » . (نصب الراية:٤/ ٢٤٩، المكتبة المكية).

په هدايه کې راځي:

ولا يجوز أن ينظر الرجل إلى الأجنبية إلا إلى وجهها وكفيها، فإن كان لا يأمن الشهوة لا ينظر إلى وجهها إلا لحاجة، لقوله عليه الصلاة والسلام: « من نظر إلى محاسن امرأة أجنبية عن شهوة صب في عينيه الآنك يوم القيامة » فإن خاف الشهوة لم ينظر من غير حاجة تحرزاً عن المحرم، وقوله لا يأمن يدل على أنه لا يباح إذا شك في الاشتهاء، كما إذا علم أو كان أكبر رأيه ذلك . (الهداية:٤/ ٤٥٨، كتاب الكراهية، فصل فى الوطئ والنظر واللمس).

په درمختار کې راځي:

و لا يكلم الأجنبية. (الدر المختار:٦/ ٣٦٩، سعيد).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

د هغو دواړو تر واده د مخه په تنهايي کي يو ځای کېدل حرام دي. وفي الأشباه: الخلوة بالأجنبية حرام. « الدر المختار:٣/ ٣٢٣، (مجموعة قوانين اسلامي:ص ٣٧، دفعه ١١ مع الحاشية). والله تعالى اعلم.

د مخ او لاسو څخه پرته د بدن د نوري برخي د کتلو حکم

سوال: که چيري له انجلۍ سره د واده اراده وه نو د هغې د مخ او لاس څخه پرته نور بدن کتل روا دي او که نه؟

الجواب: شريعت د ضرورت په وخت کي د انجلۍ د کتلو اجازه ورکړې ده او ضرورت د مخ او لاسو په کتلو سره پوره کيږي د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد د څنګلو پوري د کتلو اجازه سته تر دې په تجاوز کولو کي نه ضرورت سته او نه روا دئ او نه اجازه سته نو ځکه د نوري برخي د کتلو څخه اجتناب او پرهيز کول ضروري دي.

وګورئ په اعلاء السنن کي راځي:

عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « إذا خطب أحدكم المرأة فإن استطاع أن ينظر إلى ما يدعو إلى نكاحها فليفعل» قلنا: ليس المراد التعميم بل المقصود منه الإشارة إلى أن هذا النظر للضرورة، فينبغي أن لايجاوز حد الضرورة، والضرورة تندفع بالنظر إلى الوجه والكفين فلا ينبغي أن يتجاوزهما. (اعلاء السنن:١٧/ ٣٧٨، باب جواز النظر الى المخطوبة، ادارة القرآن).

په مرقات المفاتيح کي راځي:

إنما يباح له النظر إلى وجهها وكفيها فحسب، لأنهما ليسا بعورة في حقه فيستدل بالوجه على الجمال وضده، وبالكفين على سائر أعضائها باللين والخشونة. (مرقات شرح مشكاة: ٦/ ١٩٥، باب النظر الى المخطوبة، ملتان).

په هدايه کي راځي:

ومن أراد أن يتزوج امرأة فلا بأس بأن ينظر إليها وإن علم أنه يشتهيها لقوله عليه الصلاة والسلام فيه: أبصرها فإنه أحرى أن يؤدم بينكما، ولأن مقصوده إقامة السنة لا قضاء الشهوة. (الهداية: ٤/ ٤٥٩، كتاب الكراهية، وكذا في الشامي: ٦/ ٣٧٠، سعيد).

وعن أبي يوسف رحمه الله أنه يباح النظر إلى ذراعيها أيضاً لأن يبدومنها عادة. (فتاوى الشامي: ٦/ ٣٧٠، سعيد – ومثله في الهداية: ٤/ ٤٥٩، كتاب الكراهية). والله تعالى اعلم.

دوهم .... فصل

د نکاح خطبه او د هغي د متعلقاتو بيان

د نکاح خطبه او په هغه کي د امابعد ويلو حکم

سوال: د نکاح خطبه ويل او په هغه کي د اما بعد لفظ ويلو د دې دواړو شرعاً څه حکم او ثبوت سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د نکاح خطبه مسنون ده او په دې کي اما بعد ويل هم له رواياتو څخه ثابت دئ.

په مجمع الزوائد کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يعلمنا خطبة الحاجة فيقول: «إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله » قال أبو عبيدة: وسمعت من أبي موسى يقول: كان رسول الله ﷺ يقول:فإن شئت أن تصل خطبتك بآي من القرآن تقول: ﴿ اتقوا الله حق تقاته ..... الآية، اتقوا الله الذي تساءلون به ، الآية، اتقوا الله وقولوا قولاً سديداً يصلح لكم أعمالكم ويغفر لكم ذنوبكم ومن يطع الله ورسوله فقد فاز فوزاً عظيماً﴾ أما بعد». ثم تكلم بحاجتك. قلت: رواه أبو داود (ص ۲۸۸ باب في خطبة النكاح) وغيره خلا حديث أبي موسى. رواه أبو يعلى (٦/ ٣٧٧/ ٧١٨٦) والطبراني في الأوسط (٨/ ٤٢٤/ ٧٨٦٨) والكبير باختصار ورجاله ثقات، وحديث أبي موسى متصل، وأبو عبيدة لم يسمع من أبيه. (مجمع الزوائد:٤/ ٢٨٨، خطبة الحاجة، دار الفكر).

(ورواه الترمذي في خطبة النكاح، وقال: حديث عبد الله حديث حسن – والبيهقي في الكبرى في باب ماجاء في خطبة النكاح:٧/ ١٤٦، دار المعرفة – وابن ماجة باب في خطبة النكاح – والدارمي في سننه، في خطبة النكاح:٢/ ١٩١).

وقال الإمام أبو داؤد: حدثنا محمد بن كثير أنا سفيان عن أبي إسحق عن أبي عبيدة عن عبد الله بن مسعود ﷺ في خطبة الحاجة في النكاح وغيره. (سنن ابي داود:ص ٢٨٨، باب خطبة النكاح، فيصل).

په الآثار لابي يوسف رحمه الله کي راځي:

قال حدثنا يوسف عن ابيه عن ابي حنيفة رحمه الله عن القاسم بن عبدالرحمن عن ابيه عن ابن مسعود رضي الله عنه انه قال في خطبة النكاح: «إن الحمد لله نحمده .....إلى قوله فقد فاز فوزا عظيما ..... ثم قال: اما بعد ذلكم» ثم يذكر حاجته. (الآثار لابي يوسف القاضي:۲/ ۱٤۱/ ٦۲۱).

وفي الدعاء للطبراني بسنده عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: علمنا رسول الله ﷺ خطبة الحاجة : « الحمد لله .....إلى قوله: ﴿ يا أيها الناس اتقوا ربكم الذي خلقكم ﴾ إلى آخر الآية: أما بعد» واللفظ لحديث حماد عن شعبة. (الدعاء للطبراني باب خطبة النكاح:۳/ ٦/ ۸۵۷). والله تعالى اعلم.

د نکاح خطبه د نکاح تر تړلو د مخه مسنونه ده

سوال: د نکاح خطبه د مخه باید وویل سي او که یې وروسته هم ویلای سي که چیري یو چا پرېښوده نو څه حکم یې دئ؟ او له نکاح وروسته د ((بارک الله وبارک علیک وجمع بینکما فی خیر)) څخه پرته د دعاء څه حکم دئ؟

الجواب: د نکاح تر عقد د مخه خطبه ویل مسنون او وروسته ویل هم روا دي که چیري یوه سړي په نکاح کي خطبه پرېښودله بیا هم نکاح صحیح کیږي مګر د سنت خلاف ده او تر نکاح وروسته ((بارک الله لک وعلیک وجمع بینکما فی خیر)) دغه دوعاء افضله او بهتره ده او له حدیث شریف څخه ثابت سوې ده، د نورو دوعاوو اجازه هم سته کوم چي پر حمد او ثناء باندي مشتملي وي او د جاهلیت له زمانې سره مشابه نه وي.

وګورئ په حدیث شریف کي د خطبې ذکر د مخه راغلی دئ:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال : علمنا رسول الله ﷺ خطبة: الحاجة الحمد لله أو ان الحمد لله نحمده .... إلى قوله: يطع الله ورسوله فقد فاز فوزا عظيماً، ثم يتكلم بحاجته. (رواه الدارمي فی سننه:۲/ ۱۹۱).

وذكر الهيثمي في المجمع فقال: قال أبو عبيدة: وسمعت من أبي موسى يقول: كان رسول الله ﷺ يقول: فإن شئت أن تصل خطبتك بآي من القرآن تقول: ﴿ اتقوا الله حق تقاته....إلى قوله..... ومن يطع الله ورسوله فقد فاز فوزاً عظيماً ﴾ أما بعد. ثم تكلم بحاجتك.مجمع الزوائد:٤/ ٢٨٨، خطبة الحاجة، دار الفكر).

په ابو داؤد کي راځي:

عن رجل من بني سليم قال: خطبت إلى النبي ﷺ أمامة بنت عبد المطلب فأنكحني من غير أن يتشهد، أي يخطب فدل على جواز النكاح بغير خطبة. (ابو داؤد شريف مع الحاشية:ص ٢٨٩).

په الفقه الاسلامي کي راځي:

يستحب للزواج أن يخطب قبل العقد فإن عقد الزواج من غير خطبة جاز فالخطبة مستحبة غير واجبة. (الفقه الاسلامي وادلته:٧/ ١٢٢، دار الفكر).

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي ﷺ كان إذا رفأ الإنسان إذا تزوج قال: « بارک الله لک وبارک عليک وجمع بينكما في خير». (رواه ابو داؤد:١/ ٢٩٠).

په عمدة القاري کي راځي:

روي الطبراني في الكبير من حديث معاذ بن جبل رضي الله عنه أن النبي ﷺ شهد أملاك رجل من الأنصار، فخطب رسول الله ﷺ وأنكح الأنصاري وقال: على الألفة والخير والبركة والطائر

الميمون والسعة في الرزق،.... وأخرج النسائي من رواية أشعث عن الحسن عن عقيل بن أبي طالب أنه تزوج امرأة من بني حبشم فقالوا: بالرفاء والبنين، فقال لا تقولوا هكذا ولكن قولوا: كما قال رسول الله ﷺ « اللّٰهم بارك لهم وبارك عليهم وهو مرسل ....ولأنه من أقوال الجاهلية والنبي ﷺ كان يكره ذلك لموافقتهم فيه وهذا هو الحكمة في النهي، وقيل لأنه لاحمد فيه ولاثناء ولاذكر الله عزوجل. (عمدة القارى:١٤/ ١١٤، باب كيف بدعى للمنزوج، ملتان).

په حاشية الطحطاوي كي راځي:

ويندب إعلانه وتقديم خطبة أي على العقد. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٢/ ٥، كتاب النكاح، كوئته).

همدا ډول وګورئ: (كفايت المفتي:٥/ ١٥ – وفتاوى محموديه:١٠، مبوب ومرتب – وفتاوي رحيميه:٢/ ٢٠٤). والله ﷻ اعلم.

بېله خطبې د نکاح حکم

سوال: که څیري یوه سړي بېله خطبې نکاح وتړله نو دا شرعاً څنګه ده او د ضروري نه کېدو څه دلیل دئ؟

الجواب: بېله خطبې څخه نکاح تړل صحیح دي مګر د سنت خلاف دي ځکه چي تر نکاح د مخه خطبه مسنون ده.

وګورئ په حديث شريف کي بېله خطبې څخه نکاح ثابت ده:

عن رجل من بني سليم قال: خطبت إلى النبي ﷺ أمامة بنت عبد المطلب فأنكحني من غير أن يتشهد، أي يخطب فدل على جواز النكاح بغير خطبة. (ابو داؤد شريف مع الحاشية:ص ٢٨٩).

په بذل المجهود کي راځي:

رجل من بني سليم هو عباد بن شيبان السلمي وهو حفيد عباد المذكور، قوله فأنكحني من غير أن يتشهد أي يخطب فدل هذا على جواز النكاح بغير خطبة وفي هامشه للشيخ زكريا رحمه الله: ويستدل له أيضاً بحدث الصحيحين. «زوجتكما بما معک من القرآن» كما في الأوجز. (بذل المجهود مع الحاشية:٦ ٢٤٦).

په عمدة القاري کي راځي:

استحب العلماء الخطبة عند النكاح، وقال الترمذي: وقد قال بعض أهل العلم: إن النكاح جائز بغير خطبة وهو قول سفيان الثوري رحمه الله وغيره من أهل العلم، قلت: وأوجبها أهل الظاهر فرضاً واحتجوا بأنه ﷺ خطب عند تزوج فاطمة رضي الله عنها، وأفعاله على الوجوب، واستدل الفقهاء على عدم وجوبها بقوله في حديث سهل بن سعد: قد زوجتها بما معك من القرآن، ولم يخطب. (عمدة القاري:١٤/ ٩٨، باب الخطبة، ملتان).

همدا ډول وګورئ: (كفايت المفتى:٥/ ١٥ – وفتاوى رحيميه:٢/ ١٠٤). والله تعالىٰ اعلم.

د نكاح د خطبې اورېدلو حكم

سوال: كه چيري يو سړی د نكاح په مجلس کي كښېنستئ او يا په مسجد کي ناست وو نو كله چي د نكاح خطبه شروع سوه نو هغه ولاړئ نو اوس پر ده ګناه سته او كه نه؟

الجواب: د نكاح خطبه مسنونه ده او هغه له پاره كښېنستل واجب نه دي مګر كه چيري د مخه ناست وو او بيا خطبه شروع سوه نو اوس خطبه اورېدل واجب دي نو ځكه پر تلو باندي ګناه كاريږي، نو داسي په كار نه دي.

په اعلاء السنن کي راځي:

قال الشيخ: ولم أطلع على رواية فقهية في هذا الباب أنه هل يجب الجلوس لاستماع هذه الخطبة أم لا؟ نعم، ذكر في «الدر المختار» في باب الجمعة أنه يجب الاستماع لسائر الخطب، كخطبة النكاح وخطبة عيد وختم على المعتمد، لكن لايلزم منه وجوب الجلوس كما في خطبة النكاح لايجب الجلوس لكن إن جلس يجب استماعه، والظاهر أن يقال: إنه لايجب الجلوس لخطبة العيد كما لايجب نفس خطبة العيد، ولكن إن جلس يجب استماعه، كما قالوا: إن من حضر التلاوة يجب استماعه مع عدم وجوب الجلوس له، فإن ظفر أحد بالرواية الفقهية في هذا الباب فليخبرنا أو يلحق بهذا المقام.

.... فثبت أن التخلف عن خطبة العيد جائز. وأما إذا جلس لها فيكره الكلام وترك الاستماع لها، كما صرح به في الدر. (اعلاء السنن:۸/ ۱٤٤، كيفية صلاة العيدين، ادارة القرآن).

دابن ماجه له روايت څخه معلوميږي چې کښېنستل واجب نه دي بلکې اختيار دئ وګورئ.

عن عبد الله بن السائب رضي الله عنه، قال : خضرت العيد مع رسول الله ﷺ فصلى بنا العيد ، ثم قال : قد قضينا الصلاة ، فمن أحب أن يجلس للخطبة فليجلس ، ومن أحب أن يذهب فليذهب. (رواه ابن ماجة: ص ۹۱، باب ماجاء في انتظار الخطبة بعد الصلاة، قديمي – وأبو داؤد: ۱/ ۱٦۳، باب الجلوس للخطبة، وقال: هذا حديث مرسل – والنسائى: ۱/ ۲۳۳، باب التخيير بين الجلوس للخطبة).

د حديثو شارحينو هم دغه تشريح فرمايلې ده چې کښېنستل واجب نه دي.

په احسن الفتاوى کې راځي:

سوال: يو خطيب صاحب چې د نکاح خطبه وايي، او يا پر منبر د تقرير له پاره مسنونه خطبه وايي، نو په داسې وخت کې د حاضرينو په خپل منځ کې خبرې کول يا يو دنيوي کار کول څنګه دئ؟

الجواب: روا نه دئ. قال في العلائية وكذا يجب الاستماع لسائر الخطب كخطبة النكاح وخطبة عيد .... (احسن الفتاوی:۵/ ۳۵).

په امداد الفتاوی کي راځي:

د ټولو خطبو اوريدل واجب دي. (امداد الفتاوی:۱/ ۴۵۸).

په امداد الفتيين کي راځي:

د اختر خطبه ويل او اوريدل سنت مؤكده ده مگر كله چي خطبه وويل سي نو خطبه اوريدل واجبيږي، په دې وخت کي خبري کول ناروا دي او شور کول سخته گناه ده. (امداد المفتيين:۱/ ۳۳۰، بحواله درمختار – وامداد الفتاوی:۱/ ۴۵۸ – والفتاوی محمودیه:۸/ ۴۵۶، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

تر نکاح وروسته د اجتماعي دعاء حکم

سوال: د نکاح د مجلس پر ختميدو ديرځله اجتماعي دعاء کوي په شريعت کي د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د نکاح د مجلس پر ختميدو د اجتماعي دوعاء ثبوت د ابن سعد د طبقات له يوه روايت څخه معلوميږي وگورئ:

قال: أخبرنا بكار بن محمد قال: حدثني أبي أن أم محمد بن سيرين صفية مولاة أبي بكر بن أبي قحافة رضي الله عنه، طيبها ثلاثة من أزواج النبي ﷺ فدعوا لها، وحضر أملاكها ثمانية عشر بدريا فيهم أبي بن كعب رضي الله عنه يدعو وهم يؤمنون. (الطبقات الكبرى لابن سعد تحت ترجمة محمد بن سيرين:۷/ ۱۹۳، بيروت).

ابن سعد په طبقات کي ذکر سوي دي چي حضرت صفيه کوم چي د محمد بن سيرين مور وه او د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه مينځه وه هغه بيان کوي کله چي زما نکاح کېدله نو پر ما درو ازواجو

مطهراتو عطر واچول او زه یې ناوې جوړه کړم او د نکاح په مجلس کي اته لس (۱۸) بدري صحابه رضي الله عنهم موجود وه، حضرت ابی ابن کعب رضي الله عنه دوعاء کوله او نورو آمین پر وایه.

همدا ډول د نکاح خطبه په حقیقت کي د حاجت خطبه ده او د خلکو په حاجت کي د نکاح په مجلس کي د نکاح تړلو سره دعاء هم شامله وي، همدا ډول د نکاح ایجاب او قبول خو هر څوک کولای سي بیا د هغه له پاره یو خاص سړي رابلل دا د دعاء له پاره راغواړي نو څکه په هغه کي دعاء هم مقصد ده. نبي کریم ﷺ د حضرت ام سلیم رضي الله عنها وکور ته ولاړ نو ام سلیم رضي الله عنها له هغه څخه د حضرت انس رضي الله عنه له پاره د دعاء غوښتنه وکړه او نبي کریم ﷺ دعاء ورته وکړه.

وګورئ په مسلم شریف کي راځي:

عن أنس رضي الله عنه قال: دخل النبی ﷺ علینا وما هو إلا أنا وأمی وأم حرام خالتی فقال: « قوموا فلأصلی بکم ». فی غیر وقت صلاة فصلی بنا..... ثم دعا لنا أهل البیت بکل خیر من خیر الدنیا والآخرة، فقالت أمی: یا رسول الله! خویدمك ادع الله له، قال فدعا لی بکل خیر، وکان فی آخر ما دعا لی به أن قال: « اللّٰهم أکثر ماله وولده وبارك له فیه ». (رواه مسلم: ۱/ ۲۳٤، ۲/ ۲۹۸).

خو دا عمل دي سنت نه ګڼي او څوک چي یې نه کوي پر هغه دي انکار نه کوي. والله سبحانه وتعالى اعلم.

تر نکاح وروسته په دعاء کي د ((بارک الله علیک)) مطلب

سوال: د نکاح په عقد کي په دوعاء کي د ((بارک الله لک وبارک علیک)) وایي په دې کي د علیک څه مطلب دئ او علیک او د لک تر منځ څه فرق دئ؟ په ظاهره خو علیک د ضرر له پاره راځي؟

الجواب: په ((بارک الله لک)) کي لام د آسانی او فائدې له پاره دئ یعني الله تعالی دي تا ته په آسانیو او راحتونو کي برکت درکړي او له علیک سره دوهم ځل د بارک په لفظ کي د سرور شهر څخه وروسته د غموم دهر اشاره ده یعنی کوم مشقتونه چي پر تا راتلونکي دي او د هغو راتلل یقیني وي

ځکه چې تر سرور شهر وروسته غموم دهر وي نو الله ﷻ په هغه د مشقت په کارو کې تا ته برکت درکړي په نکاح کې تر خوشحالۍ وروسته د نفقې او ښځې د غوښتنو داولاد تعليم او تربيه وغيره دا د سرې تر آزادۍ وروسته پابندي ده دا ټول هغه مشقتونه دي کوم چې ناقابل انکار دي په دوعاء کې هم د هغو مشقتو د خير او نفع او ښه راتلونکي طلب دئ همداسي جامعه او بهترينه دعاء د نبوت له سينې څخه راوتلای سي.

پە ابو داؤد شريف کې راځي:

عن أبى هريرة رضي الله عنه أن النبى ﷺ كان إذا رفأ الإنسان إذا تزوج قال: « بارك الله لك وبارك عليك وجمع بينكما فى خير ». (رواه ابو داؤد:۱/ ۲۹۰).

قال المناوي: « بارك الله لك » في زوجك «وبارك عليك» أي أدخل عليك البركة في مؤنتها ويسرها لك وأعاد العامل لزيادة الابتهال.(فيض القدير:۱/ ٤٠٦).

فيه أيضاً: وقال : أولا بارك الله لك لأنه المدعو أصالة أي بارك الله لك في هذا الأمر، ثم ترقى منه ودعا لهما وعداه بعلى لأن المدار عليه في الذراري والنسل لأنه المطلوب بالتزوج وحسن المعاشرة والموافقة والاستمتاع بينهما على أن المطلوب الأول هو النسل وهذا تابع.(فيض القدير:٥/ ١٧٦).

وفي المرقات: وبارک عليكما بنزول الخير والرحمة والرزق والبركة في الذرية وجمع بينكما في خير أي في طاعة وصحة وعافية وسلامة وملاءة وحسن معاشرة وتكثير ذرية صالحة. (المرقات:٥/ ٢١٥).

پە لسان العرب کې راځي:

بـارک الله الـشيء وبـارک فيـه وعليـه، وضـع فيـع البركـة ويقـال بـارک الله لـک وفيک وعليک. (لسان العرب: ۱۰/ ۳۹۵، دار الفكر).

په القاموس الوحيد كي راځي:

بارک الله على الـشيء، **د خير او بركت خاونـد يې كول.** (القـاموس الوحيـد: ۱/ ۱۶۱ – ولغات الحديث: ۱/ ۵۱). والله تعالى اعلم.

د جمعې په ورځ د نكاح تړلو فضيلت

سوال: د جمعې په ورځ د نكاح د مجلس منعقد كولو يو فضيلت وارد سوى دئ او كه نه؟

الجواب: د جمعې په ورځ د نكاح فضيلت له يوه حديث څخه ثابت سوى دئ مګر دغه حديث ډېر ضعيف دئ نو ځكه دې ته بايد مسنون نه وويل سي، مستحب او غوره كار ورته ويلاى سي همدا ډول د مالكي، شافعي او حنابله د تړولو په نزد هم مستحب دئ.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

وقال الإمام أبو يعلى الـموصلي: حدثنا عمرو بن الـحصين، حدثنا يـحيى بـن العـلاء، حدثنا عبد الله بن عبد الرحـمن، عـن أبي صـالح، عـن ابـن عبـاس رضي الله عنه قـال: يـوم الـسبت يـوم غـرس وبنـاء، ويـوم الاثنـين يـوم الـسفر ..... ويـوم الجمعـة يـوم تـزويج وبـاءة. (مـسند ابي يعلى الموصلى: ۶/ ۱۶۶/ ۲۵۵۷).

وقال الـهيثمي في «الـمجمع»: فيه يـحيى بن العلاء وهو متروک.

(مجمع الزوائد: ۴/ ۳۲۹/ ۷۵۰۹ – وتهذيب التهذيب: ۱۱/ ۲۲۸).

وقال الـحافظ في «التقريب» (۴۷۹): عمرو بن الـحصين العقيلي البصري، ومتروک.

قال السخاوي: ويروي في أيام الأسبوع من المرفوع.... « الجمعة يوم خطبة النكاح » أخرجه أبو يعلى من حديث ابن عباس رضي الله عنهما، وهو ضعيف وأخرجه تمام في فوائده. (المقاصد الحسنة:ص ٤٧٣، رقم ١٣٥٤).

وانظر: كشف الخفاء:٢/ ٣٩٧/ ٣٢٥٥ – والشذرة في الاحاديث المشتهرة:٢/ ٢٧٠/ ١١٦٦ – وتمييز الطيب من الخبيث:ص ٢٠١).

د دې حديث سره سم د حضرت ابو هريره رضي الله عنه په سند دوهم روايت هم مروي دئ مګر ابن جوزي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث موضوعي دئ.

وګورئ په الموضوعات کې راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « إن يوم السبت يوم مكر و مكيدة .... إلى قوله وقال: يوم الجمعة يوم خطبة ونكاح، قالوا: ولم يا رسول الله ؟ قال: لان الانبياء ينكحون ويخطبون فيه لبركة يوم الجمعة». هذا حديث موضوع على رسول الله ﷺ وفيه ضعفاء ومجهولون، ويحيى بن عبدالله، قال فيه: يحيى: ليس بشئ، والسمرقندي الزاهد، ليس حديثه بشئ. (الموضوعات لابن الجوزي:٢/ ٧١، باب ذكر ايام الاسبوع كلها).

په الفقه الاسلامي کې راځي:

ويستحب أن يعقد النكاح يوم الجمعة مساء، لحديث أبي هريرة رضي الله عنه مرفوعاً: «أمسوا بالملاك، فإنه أعظم بركة»، ولأن الجمعة يوم شريف ويوم عيد، والبركة في النكاح مطلوبة، فاستحب له أشرف الأيام طلباً للبركة، والإمساء به؛ لأن في آخر النهار من يوم الجمعة ساعة الإجابة . (الفقه الاسلامى وادلته:٧/ ١٢٤، المبحث الخامس مندوبات عقد الزواج، دار الفكر – وكذا في حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٢/ ٥، كتاب النكاح، كوئته).

امام ابو القاسم مالکي فرمايي:

وتستحب الخطبة يوم الجمعة بعد العصر. (فتاوى البرزلى جامع مسائل الاحكام لمانزل من القضايا بالمفتين والحكام للإمام أبي القاسم بن احمد المالكى:۲/ ۱۸۲).

په تحفة المحتاج ونهاية المحتاج کي راځي:

ويسن أن يعقد في يوم الجمعة. (تحفة المحتاج ونهاية المحتاج:۷/ ۲۵۵، وكذا فى عانة الطالبين:۳/ ۵٤۳).

په المغني کي راځي:

ويستحب عقد النكاح يوم الجمعة ؛ لأن جماعةً من السلف استحبوا ذلك ؛ منهم سمرة بن حبيب ، وراشد بن سعد ، وحبيب بن عتبة ؛ ولأنه يوم شريف ، ويوم عيد ، فيه خلق الله آدم عليه السلام والمساية أولى . بإن أبا حفص روى بإسناده عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ « أمسوا بالإملاك ، فإنه أعظم للبركة ». ولأنه أقرب إلى مقصوده . (المغنى لابن قدامة الحنبلي:۷/ ٤۳۵، دار الكتب العلمية). والله تعالى اعلم.



﴿ ولا تنکحوا المشرکات حتی یؤمن ....﴾. (سورة البقرة:الآیة:۲۲۱).

وقال رسول الله ﷺ: « لانکاح إلا بشهود ».

دوهم .... باب

اول .... فصل

د نکاح د ارکانو، شرائطو او نورو بیان

پر ټلیفون په ایجاب او قبول کولو سره د نکاح حکم

سوال: دیوه سړي لور یوه هلک د مور او پلار داجازې پرته وتښتوله بیا هغه هلک په خپله په یوه قریب عالم د ټلیفون له لارې نکاح وتړله او انجلۍ وایي، چې د نکاح په وخت کې مور، دواړه په موټر کې وو او دریم څوک نه وو، نو هغه عالم په ټلیفون کې زما څخه پوښتنه وکړه چې د ټول ژوند د اوسېد اراده دې کړې ده بیا یې له هغه هلک سره خبرې وکړې د هغو خبرو علم ما ته نه سته نو اوس پوښتنه دا ده چې د دې انجلۍ نکاح وسوه او که نه؟ او د شریعت له نظره د دې دوو څه تعلق سره سته او که نه؟ حال دا چې هلک سره جعلي کاغذات دي ایا هلک داسې حرکت کولای سي چې انجلۍ وتښتوي او که نه؟ ایا د انجلۍ مور او پلار بل ځای دغه انجلۍ ورکولای سي او که نه؟ مهرباني وکړئ جواب راکړئ؟

الجواب: دا نکاح له یو څو وجو څخه نه ده تړل سوې.

۱ _ ایجاب او قبول د نکاح رکن دئ او دهغه له پاره ضروري ده چې هلک او انجلۍ یو د بل خبرې واوري که حقیقتا وي او که حکما وي او په دې نکاح کې یوه ته هم معلومه نه ده چې په ټلیفون کې څه خبرې سوې دي.

۲ _ په نکاح کي شهادت ضروري دئ يعني د نکاح په وخت کي دوه شاهدان ضروري دي او هغه دلته نه سته.

۳ _ دا نکاح په غير کفو کي ده ځکه چي هلک فاسق او فاجر دئ او انجلۍ عالمه ده او همدا رول د انجلۍ مور او پلار هم په دې راضي نه دي نو ځکه دا نکاح د اعتراض وړ ده.

لنډه دا چي د شريعت له نګاه څخه د دې نکاح هيڅ حيثيت نه سته او د جعلي کاغذاتو په سبب پر حکم شرعي هيڅ اثر مرتب نه دئ د نکاح د مفقود والي په سبب د هلک او انجلۍ هيڅ تعلق نه سته، نو هلک بايد له داسي ناپاکه حرکتو ځان وژغوري او د الله ﷻ له غضبه څخه ويرېږي همدا رول انجلۍ، د هغې مور او پلار اوس په نکاح کولو کي مختار دي او هر ځای چي وغواړي نکاح يې کولای سي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما ركن النكاح فهو الإيجاب والقبول وذلك بألفاظ مخصوصة ، أو ما يقوم مقام اللفظ .... وأما بيان شرائط الجواز والنفاذ فأنواع .... ومنها: ـ الشهادة وهي حضور الشهود.... قال عامة العلماء : إن الشهادة شرط جواز النكاح . روي عن رسول الله ﷺ أنه قال: « لا نكاح إلا بشهود» وروي « لا نكاح إلا بشاهدين » وعن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما عن رسول الله ﷺ أنه قال: « الزانية التي تنكح نفسها بغير بينة» ولو لم تكن الشهادة شرطاً لم تكن الزانية بدونها، ولأن الحاجة مست إلى رفع تهمة الزنا عنها ولا تندفع إلا بالشهود.... (بدائع الصنائع:۲/ ۲۲۹، ۲۵۲، كتاب النكاح، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وأما ركنه فالإيجاب والقبول كذا في الكافي.... وأما شرائطه.... منها:ـ سماع كل من العاقدين كلام صاحبه هكذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۶۷، كتاب النكاح، الباب الاول).

پہ البحر الرائق کي راځي:

ولـم يذكر الـمصنف رحمه الله شرائط الإيـجاب والقبـول... منهـا:ـ سمـاع كـل منهمـا كـلام صـاحبه لأن عـدم سمـاع أحدهمـا كـلام صـاحبه بمنزلـة غيبتـه كمـا في الوقايـة. (البحر الرائق:۳/ ۸۳، كتاب النكاح، المكتبة الماجدية).

پہ بدائع الصنائع کي راځي:

وأما شرائط اللزوم.... منها:ـ الدين في قول أبي حنيفة رحمه الله، وأبي يوسـف رحمه الله حتـى لـو أن امـرأةً مـن بنـات الـصالـحين إذا زوجـت نفسها مـن فاسـق كـان للأوليـاء حـق الاعـتراض عندهـمـا ؛ لأن التفاخر بالدين أحق من التفاخر بالنسب ، والـحرية والـمـال ، والتعـيـير بالفـسق أشد وجوه التعيير .(بدائع الصنائع:۲/ ۳۲۰، سعيد).

پہ فتاوی هندیه کي راځي:

(ومنها:ـ الديانة) تعتبر الكفاءة في الديانة وهـذا قـول أبي حنيفـة رحمه الله وأبي يوسـف رحمه الله وهو الصحيح ، كذا في الـهداية، فلا يكـون الفاسق كفئًا للصالحة ، كـذا في الـمجمع. (الفتـاوى الهندية:۱/ ۲۹۱، الباب الخامس فی الاکفاء).

پہ مجموعه قوانین کي راځي:

له ایجاب او قبول کولو والا شخه د هریوه د ایجاب او قبول الفاظ اوریدل حقیقتا یا حکما اوریدل او په دي پوهېدل چي دغه الفاظ د نکاح د انعقاد له پاره دي. (مجموعه قوانين اسلامی:ص ۴۷).

همدا ډول ذکر سوی دي:

د برابری اعتبار په لاندي امورو کي کیږي:

۱ _ په دینداري او تقوا کي به هلک او انجلۍ سره برابر وي. (مجموعه قوانين اسلامی:ص ۹۵).

په احسن الفتاوی کي راځي:

فاسق سړی د هغه ښځي سره برابر نه دئ کومه چي په خپله هم نېکه وي او د هغې مور هم نېکه وي د عالمگیري او شامي په حواله. (احسن الفتاوی:۵/ ۲۵).

په مجموعه قوانین کي راځي:

د برابر حق ښځي او د هغې اولیاوو ته هم حاصل دئ نو ځکه که یوې ښځي خپله نکاح په غیر برابرۍ کي وکړه نو د هغې اولیاوو ته دا حق سته چي دا نکاح فسخه کړي. (مجموعه قوانین اسلامی:ص ۹۸). **والله تعالی اعلم.**

د ایجاب او قبول د مجلس له بدلو څخه د نکاح حکم

سوال: **یوه سړي له یوې انجلۍ سره په داسي طریقه نکاح وکړه چي دوو مسلمانو شاهدانو د خاوند ایجاب په جلا مجلس کي واورېدئ بیا دغه شاهدان وانجلۍ ته راغلي او د هغې قبول یې په بل مجلس کي واورېدئ نو ایا دغه نکاح منعقده سوه او که نه؟**

الجواب: **په دې صورت کي د ایجاب او قبول د مجلس د بدلېدو په سبب نکاح ونه تړل سوه.**

وگورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الذي يرجع إلى مكان العقد فهو اتحاد المجلس إذا كان العاقدان حاضرين وهو أن يكون الإيجاب والقبول في مجلس واحد حتى لو اختلف المجلس لا ينعقد النكاح ، بأن كانا حاضرين فأوجب أحدهما فقام الآخر عن المجلس قبل القبول ، أو اشتغل بعمل يوجب اختلاف المجلس ، لا ينعقد . (بدائع الصنائع:۲/ ۲۳۲، شرائط رکن النکاح، سعید).

په درمختار کي راځي:

ومن شرائط الإيجاب والقبول اتحاد المجلس لو حاضرين. وفي الشامی: قال في البحر: فلو اختلف المجلس لم ينعقد، فلو أوجب أحدهما فقام الآخر أو اشتغل بعمل آخر بطل الإيجاب. (الدر المختار مع الشامی:۳/ ۱۴، سعید).

په مجموعه قوانین کي راځي:

له ایجاب او قبول سره متعلق شرائط:

الف _ مجلس به یو وي دا ضروري ده چي ایجاب او قبول به په یوه مجلس کي وي، که چیري تر ایجاب وروسته او تر قبول د مخه مجلس بدل سو او یا د هغه بل فریق له طرفه څخه داسي عمل صادر سي چي هغه پر اعراض دلالت کوي نو ایجاب بې کاره سو هیڅ ګټه یې نه سته او قبول معتبر نه دئ.

(مجموعه قوانین اسلامی: ص ۴۰، دفعه ۲۲). والله اعلم.

بېله شاهدانو د نکاح تړلو حکم

سوال: په یوه ښار کي خالي دوه مسلمانان دي یو نارینه او بل ښځه نور مسلمان تقریبا له هغوی څخه پنځویشت سوه (۲۵۰۰) کېلو متره لیري دي نو دغه دوه واده څرنګه وکړي حال دا چي شاهدان موجود نه دي؟

الجواب: په دې صورت کي بېله شاهدانو نکاح صحیح او روا نه ده خو دا کولای سي چي په یو بل هیواد کي د ټلیفون په ذریعه وکیل جوړ کړي بیا دي وکیل د نکاح په مجلس کي د شاهدانو ومخته د هغوی دوو له طرفه نکاح وتړي او هغوی ته دي خبر ورکړي په دې صورت کي یو سړی له جانبینو څخه وکیل جوړېدلای سي او که جلا وکیل وي بیا هم صحیح ده.

دوهم صورت دا کېدلای سي چي دواړه دي د مسلمانانو هیواد ته سفر وکړي او د مسلمانانو په اجتماع کي دي نکاح وکړي.

وګورئ: په فتاوی عالمګیري کي راځي:

أجمع أصحابنا أن الواحد يصلح وكيلاً في النكاح من الجانبين. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۹۹).

په درمختار کي راځي:

ويتولى طرفي النكاح واحد بإيجاب يقوم مقام القبول في خمس صور كأن كان ولياً أو وكيلاً من الجانبين، وفي الشامي: من الجانبين كزوجت ابني بنت أخي أو زوجت موكلي فلاناً موكلتي فلانة، قال ط: يكفي شاهدان على وكالته، ووكالتها وعلى العقد لأن الشاهد يتحمل

الشهادات العديدة، وقدمنا أن الشهادة على الوكالة لا تلزم إلا عند الجحود. (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۹۶، سعيد).

په فتاوی فريديه کي راځي:

په نکاح کي يو سړی د طرفينو قائم مقام کېدلای سي. (فتاوی فريديه:٤/ ۳۹۳).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

سوال: يوه سړي د ټليفون په ذريعه وخپل مرشد ته خبر ورکړئ چي زما نکاح دي له فلانۍ ښځي سره وتړل سي په دې صورت کي څه حکم دئ؟

الجواب: مرشد په داسي حالت کي نکاح تړلای سي او ايجاب او قبول د هغه بل فريق له طرفه څخه کولای سي کوم چا چي د خط يا ټليفون په ذريعه اجازه ورکړې وي. (فتاوی دار العلوم ديوبند:۷/ ۱٤۰).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

يو سړي د نارينه او ښځي دواړو له طرفه وکيل کېدلای سي. (مجموعه قوانين اسلامی:ص ۸۶، دفعه ۹۹). والله ﷻ اعلم.

د خط په ذريعه د نکاح تړلو حکم

سوال: يوې ښځي په خطه کي ويوه سړي ته دا وليکل چي ما ستا سره نکاح کړې ده سړي خط وايه او قبول يې کړه نو اوس نکاح وسوه او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که دا سړي د دوو شاهدانو مخته دغه خط ووايه او قبول يې کړ نو نکاح صحيح سوه، که داسي نه وي، په تنهايي کي د خط ويلو او قبلولو څخه نکاح نه کيږي او د شاهدانو اورېدل ضروري دي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما بيان شرائط الجواز والنفاذ فأنواع .... ومنها: ـ الشهادة وهي حضور الشهود.... قال عامة العلماء: إن الشهادة شرط جواز النكاح. روي عن رسول الله ﷺ أنه قال: « لا نكاح إلا

بشهود» وروي « لا نكاح إلا بشاهدين » وعن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما عن رسول الله ﷺ أنه قال: « الزانية التي تنكح نفسها بغير بينة» ولو لم تكن الشهادة شرطاً لم تكن الزانية بدونها، ولأن الحاجة مست إلى رفع تهمة الزنا عنها و لا تندفع إلا بالشهود.... (بدائع الصنائع:۲/ ۲۲۹، ۲۵۲، كتاب النكاح، سعيد).

په ردمحتار کي راځي:

قال ينعقد النكاح بالكتاب كما ينعقد بالخطاب، وصورته : أن يكتب إليها يخطبها فإذا بلغها الكتاب أحضرت الشهود وقرأته عليهم وقالت: زوجت نفسي منه أو تقول: إن فلانًا كتب إلي يخطبني فاشهدوا أني زوجت نفسي منه ، أما لو لم تقل بحضرتهم سوى زوجت نفسي من فلان لا ينعقد ؛ لأن سماع الشطرين شرط صحة النكاح ، وبإسماعهم الكتاب أو التعبير عنه منها قد سمعوا الشطرين بخلاف ما إذا انتفيا. (فتاوى الشامي:۳/ ۱۲، مطلب التزوج بارسال الكتاب، سعيد)

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

د نکاح د جواز صورت دا دئ چي کوم سړي ته ښځي خط وراستولی دئ نو هغه دي دغه خط د دوو شاهدانو په مخ کي ووايي او داسي دي ووايي چي ما قبوله کړې ده مطلب دا چي دوو شاهدان او د هغو مخته د ښځي د خط اعاده کول او د شاهدانو مخته قبلول د نکاح د جواز شرط دئ. (فتاوی دار العلوم ديوبند:۷/ ۱۰۰). **د زيات تفصيل له پاره وګورئ:** (مجموعه قوانين اسلامی:ص ٤٧ او فتاوی محموديه:۱۰/ ٦٧٤). والله ﷻ اعلم.

په مؤقته نکاح کي د توقيت حکم

سوال: ايا مؤقته نکاح صحيح ده او که نه؟ همدا ډول د توقيت څه حکم دئ او فتوی پر څه باندي ده؟

الجواب: مؤقته نکاح دې ته وايي، چې يو سړی له يوې ښځي سره د مؤقت وخت له پاره نکاح وکړي يعني د يو څه وخت له پاره مثلا د يوې مياشتي له پاره د دې حکم دا دئ چي د ظاهره مذهب پر برابر دغه نکاح صحيح نه ده مګر د امام زفر رحمه الله په نزد دا نکاح صحيح ده او د توقيت شرط باطل دئ او پر دې قول فتوی ده.

وګورئ په هدايه کي راځي:

والنكاح المؤقت باطل، مثل أن يتزوج امرأة بشهادة شاهدين إلى عشرة أيام، وقال زفر رحمه الله: هو صحيح لازم، لأن النكاح لا يبطل بالشروط الفاسدة. (الهداية:۲/ ۳۱۳، كتاب النكاح).

په فتح القدير کي راځي:

والنكاح باطل: وقال زفر رحمه الله: هو جائز لأن النكاح لا يبطل بالشروط الفاسدة، بل تبطل هي وصحيح النكاح.... ومقتضى النظر أن يترجح قوله، لأن غاية الأمر أن يكون الموقت متعة وهو منسوخ، لكن نقول المنسوخ معنى المتعة على الوجه الذي كانت الشرعية عليه وهو ما ينتهي العقد فيه بانتهاء المدة ويتلاشى .... وأنا لا أقول بكذلك وإنما أقول: ينعقد مؤبدا ويلغو شرط التوقيت فحقيقة إلغاء شرط التوقيت هو أثر النسخ . (فتح القدير:۳/ ۲۴۹، دار الفكر).

په فتاوی شامي کي راځي:

وبطل نكاح متعة وموقت ثم ذكر في الفتح دلائل حرمة المتعة....ثم قال: رجح قول زفر رحمه الله بصحة الموقت على معنى أنه ينعقد مؤبداً ويلغو التوقيت. (الشامي:۳/ ۵۱، سعيد). والله تعالى اعلم.

د ګونګي د نکاح طريقه او د ايجاب او قبول حکم

سوال: ما اورېدلي دي چي په نکاح کي ايجاب او قبول ضروري دئ نو ګونګی به څنګه نکاح کوي؟

الجواب: کوم ګونګی چي خط ليکلای سي د هغه ايجاب او قبول د خط په ذريعه معتبر دئ او کوم چي خط نه سي ليکلای د هغه هغه معروفه اشاره د ايجاب او قبول له پاره معتبره ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله واستحسن الكمال اشتراط كتابته حيث قال: وقال بعض الشافعية: إن كان يحسن الكتابة لا يقع طلاقه بالإشارة لاندفاع الضرورة بما هو أدل على المراد من الإشارة، وهو قول حسن، وبه قال بعض مشايخنا، قلت: بل هذا القول تصريح بما هو المفهوم من ظاهر الرواية ففي كافي الحاكم الشهيد ما نصه: فإن كان الأخرس لا يكتب وكان له إشارة تعرف في طلاقه ونكاحه وشرائه وبيعه فهو جائز، وإن كان لم يعرف ذلك منه أو شك فيه فهو باطل، فقد رتب جواز الإشارة على عجزه عن الكتابة فيفيد أنه إن كان يحسن الكتابة لا تجوز إشارته . (فتاوى الشامى:۳/ ۲٤۱، كتاب الطلاق، سعيد).

وفي المبسوط للإمام السرخسي رحمة الله عليه:

وإن كان الأخرس لا يكتب وكانت له إشارة تعرف في طلاقه ونكاحه وشرائه وبيعه فهو جائز استحساناً. (المبسوط:٦/ ١٤٤، باب طلاق الاخرس، ادارة القرآن).

وفي الطحطاوي على الدر المختار: (قوله واستحسن الكمال اشتراط كتابته) قال في البحر: وقال بعض المشايخ: إن كان يحسن الكتابة لايقع طلاقه بالإشارة لاندفاع الضرورة بما هو أدل على المراد من الإشارة، قال في فتح القدير: وهو حسن حلبي، قال في النهر:

والخلاف إنما هو في قصر صحة تصرفاته على الكتابة. (حاشية الطحطاوي على الـ المختار:۲/ ۱۰۸، کتاب الطلاق، کوئته – ومثله في البحر الرائق:۸/ ٤٧٨، مسائل شتى، کوئته).

له دې عبارتو څخه معلومیږي چې د ګونګي اشاره هغه وخت معتبره ده چې کله هغه پر خط لیکلو باندې قدرت نه لري که چیرې پر خط لیکلو باندې قدرت لري نو د هغه اشاره معتبره نه ده، دغه قول قاضي مجاهد الاسلام مختاره کړی دئ. (مجموعه قوانین اسلامی:ص ٤٤).

د دې څخه پرته د فقهي له نورو کتابو څخه معلومیږي چې د اشارې له پاره عدم قدرت علي الکتابة شرط نه دئ یعني که څه هم پر خط باندې قدرت لري نو بیا هم د هغه اشاره معتبره ده.

په الاشباه والنظائر کې یې وګورئ: اختلفوا في أن عدم القدرة على الكتابة شرط للعمل بالإشارة أو لا، والمعتمد لا. (الاشباه والنظائر:۱/ ۳۷۹، احکام الاشارة، الفن الثالث الجمع الفرق، المکتبة العصرية، بيروت – ومثله في تبيين الحقائق:٦/ ۲۱۹، مسائل شتى، امدادیه ملتان).

شمس الدین قاضي زاده آفندي په نتائج الافکار کې پر دې مسئله تر روڼا اچولو وروسته فرمایي: غاية الأمر أن يكون في المسئلة روايتان ومثل ذلک کثير. (نتائج الافكار تكملة فتح القدير:۱۰/ ۵۲۷، مسائل شتى، دار الفكر).

لنډه دا ده چې په اوسني وخت کې د کتابت اهمیت ډېر زیات دئ نو ځکه معلومیږي چې د ګونګي له پاره دې په نکاح، طلاق او نورو معاملاتو کې د کتابت شرط ولګول سي تر څو چې د هغه خط محفوظ سي او د ضرورت په وخت کې په کار ورسي. والله تعالیٰ اعلم.

د ایجاب او قبول په جواب کې په سر ښورولو سره د نکاح حکم

سوال: که چیرې یو سړی د ایجاب او قبول په جواب کې خالي سر وښوروي نو نکاح وسوه او که نه؟

الجواب: پر خبرو قدرت لرونکی که چیرې یوازې سر وښوروي نو نکاح یې نه تړل کیږي نو ځکه په دې صورت کې هم نکاح تړل سوې نه ده.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

(قوله احتراماً للفروج) أي لخطر أمرها وشدة حرمتها، فلا يصح العقد إلا بلفظ صريح أو كناية. (فتاوى الشامى:۳/ ۲۱، سعيد).

په مجمع الانهر کي راځي:

الإشارة إنما تعتبر إذا صارت معهودةً ، وذلك في الأخرس دون المعتقل ، ولأن الضرورة في الأصلي لازمة وفي العارضي على شرف الزوال . (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:۲/ ۷۳۳).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په خاموشۍ او سر ښورولو سره نکاح نه تړل کيږي. (فتاوی محموديه:۳/ ۲۳۷، کتب خانه مظهری). والله تعالیٰ اعلم.

په قبول بالعمل سره د نکاح د تړلو حکم:

په لوړه مسئله کي تېر سوه چي په سر ښورولو سره نکاح نه تړل کيږي مګر که چيري يې وروسته قبول بالعمل وکړئ نو بيا نکاح متحقق کيږي او نکاح صحيح کيږي لکه څنګه چي فضولي که چيري ديو چا نکاح وتړله نو اجازه لکه څنګه چي په قول سره متحققيږي همدا ډول په فعل سره کيږي او په فعلي اجازه سره هم نکاح تړل کيږي فقهاو د دې مسئلې تصريح فرمايلي ده.

وګورئ په محيط برهاني کي راځي:

إذا حلف الرجل بطلاق امرأة بعينها إن تزوجها، فزوجه رجل تلك المرأة بغير أمره وأجاز هو قولاً أو فعلاً. أو حلف بطلاق كل امرأة يتزوجها، فزوجه رجل امرأة بغير أمره فأجاز هو قولاً أو فعلاً، قال بعض مشايخنا: إن أجاب بالقول يحنث وإن أجاز بالفعل؛ لا يحنث.

(المحيط البرهاني، الفصل الخامس والعشرون:۳/ ۳۱۹، نكاح الفضولى، مكتبة الرشدية، كوئته).

همدا ډول ذکر سوي دي:

ثم الفعل الذي تقع به الإجازة في نكاح الفضولي فعل هو يختص بالنكاح، وهو بعث شيء من المهر وإن قل، وأما بعث الهدية والعطية لا يكون إجازة؛ لأنه لا يختص بالنكاح بل قد يكون بطراً أو أجراً فلا يكون ذلك إجازة للنكاح، هكذا حكي عن نجم الدين رحمه الله، فعلى هذا القياس لو بعث إليها شيئاً من النفقة لا تكون إجازة؛ لأن النفقة لا تختص بالنكاح. (المحيط البرهاني، الفصل الخامس والعشرون:۳/ ۳۲۰، نكاح الفضولي، مكتبة الرشدية، كوئته).

په فتاوى شامي كې راځي:

وفعل المسلم إنما يحمل على الكمال فيكون اقتداؤه إجازة لفعله لأن الإجازة اللاحقة كالإذن السابق، ونظيره إذا أجاز نكاح الفضولي بالفعل يجوز ومجرد حضوره وسكوته وقت العقد لا يدل على الرضاء فافهم. (رد المحتار، باب الجمعة:۲/ ۱٤۲، سعيد).

وهل يكون القبول بالفعل كالقبول باللفظ كما في البيع؟ قال في البزازية: أجاب صاحب البداية في امرأة زوجت نفسها بألف من رجل عند الشهود، فلم يقل الزوج شيئاً لكن أعطاها المهر في المجلس أنه يكون قبولاً وأنكره صاحب المحيط، وقال الإمام ما لم يقل بلسانه قبلت بخلاف البيع لأنه ينعقد بالتعاطي والنكاح لخطره لا ينعقد حتى يتوقف على الشهود وبخلاف إجازة نكاح الفضولي بالفعل لوجود القول ثمة اه ح. (حاشية رد المحتار، كتاب النكاح:۳/ ۱۲، سعيد – والبحر الرائق:۳/ ۸۱، كتاب النكاح، كوئته).

قوله (فكا لنكاح) أي فكما أن نكاح الفضولي صحيح موقوف على الإجازة بالقول أو بالفعل فكذا طلاقه، ح. (حاشية رد المحتار:۳/ ۲٤۲، كتاب الطلاق، سعيد).

وفي الدر المختار: وحكمه أيضاً أخذ المالک الثمن أو طلبه من المشتري ويكون اجازة، وفي الشامي: قوله أخذ المالک الثمن الظاهر أن أل للجنس فيكون أخذ بعضه إجازة أيضاً لدلالته على الرضا والتصريحهم في نكاح الفضولي بأن قبض بعض المهر إجازة أفاده الرملي عن المصنف. (الدر المختار مع رد المحتار:٥/ ١١٤، فصل في الفضولي، سعيد).

همدا ډول په احسن الفتاوی کي ذکر سوي دي چي په قبول کي له سره کلام ضروري نه دئ ځکه چي قبول بالعمل ثابتېدلای سي. (احسن الفتاوی:٥/ ٣٨ – وامداد الاحكام:٢/ ٢٤٢). والله ﷻ اعلم.

په جواب کي په ((هو)) ويلو سره د نکاح حکم

سوال: که چيري يو سړي په نکاح کي تر ايجاب وروسته ((هو)) ووېل نو نکاح وسوه او که نه؟

الجواب: هو، **په ((هو)) ويلو سره نکاح وسوه.**

وګورئ: په فتاوی عالمګيري کي راځي:

ولو قال لامرأة كنت لي أو صرت لي، فقالت: نعم، أو صرت لک كان نكاحاً كذا في الذخيرة. (الفتاوى الهندية:١/ ٢٧١، الباب الثاني فيما ينعقد به النكاح).

په فتاوی ولوالجيه کي راځي:

رجل قال لامرأة: أتزوجک بكذا وكذا، فقالت: قد فعلت، فهو بمنزلة قولها قد زوجتک، لأنها أخرجت الكلام مخرج الجواب يتضمن إعادة ما في السؤال.... (الفتاوى الولوالجية:١/ ٣٦٢، كتاب النكاح، الفصل الثالث، بيروت).

په فتاوی شامي کي راځي:

وعبارة الفتح لما علمنا أن الملاحظة من جهة الشرع في ثبوت الانعقاد ولزوم حكمه جانب الرضا عدينا حكمه إلى كل لفظ يفيد ذلك بلا احتمال مساو للطرف الآخر. (فتاوى الشامي:٣/ ١١، سعيد).

په احسن الفتاوی کې راځي:

په نکاح کې د قبول پر ځای په الحمد لله ویلو سره هم نکاح کیږي ځکه چې خالي د ایجاب کلمه د عین د تملیک له پاره وضع کېدل کافي دي د قبول په کلمه کې دا شرط نه دئ بلکې په قبول کې له سره څخه کلام ویل ضروري نه دي قبول بالعمل هم کافي دئ بل دا چې په خلاصة الفتاوی او عالمګیري کې په داسې حالت کې د نکاح د انعقاد حکم صراحة موجود دئ. (احسن الفتاوی: ۵/ ۳۸)

په فتاوی حقانیه کې راځي:

چې د آمین لفظ هم د قبول فائده ورکوي ځکه چې په دې صورت کې د انجلۍ د ایجاب په مقابله کې په آمین ویلو سره نکاح صحیح ده او مهر لازم دئ. (فتاوی حقانیه: ٤/ ٣١٧). والله ﷻ اعلم.

د انجلۍ په نامه کې په غلطي کولو سره د نکاح حکم

سوال: که چیرې وکیل د انجلۍ یا د هغې د پلار په نامه کې غلطي وکړه نو ایا نکاح صحیح سوه او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې که چیرې انجلۍ د نکاح په مجلس کې موجوده وه او د هغې طرف ته یې اشاره کړې وه نو نکاح وسوه او که بیا چیرې انجلۍ موجود نه وه نو په دواړو صورتو کې نکاح نه صحیح کیږي یعني که یې د انجلۍ او یا د هغې د پلار په نامه کې غلطي وکړه نو نکاح ونه سوه.

وګورئ په درمختار کې راځي:

غلط وكيلها بالنكاح في اسم أبيها بغير حضورها لـم يصح للجهالة وكذا لو غلط في اسم بنته إلا إذا كانت حاضرةً وأشار إليها . وفي الشامية . (قوله لم يصح) لأن الغائبة يشترط ذكر اسمها واسم أبيها وجدها وتقدم أنه إذا عرفها الشهود يكفي ذكر اسمها فقط خلافاً لابن الفضل وعند الخصاف يكفي مطلقاً، والظاهر أنه في مسألتنا لا يصح عند الكل لأن ذكر الاسم وحده لا يصرفها عن المراد إلى غيره، بخلاف ذكر الاسم منسوبا إلى أب آخر، فإن

فاطمة بنت أحمد لا تصدق على فاطمة بنت محمد، تأمل، وكذا يقال فيما لو غلط في اسمها. (قوله إلا إذا كانت حاضرة) راجع إلى المسألتين، أي فإنها لو كانت مشاراً إليها وغلط في اسم أبيها أو اسمها لا يضر لأن تعريف الإشارة الحسية أقوى من التسمية، لما في التسمية من الاشتراك لعارض فتلغو التسمية عندها. (الدر المختار مع الشامی:۳/ ۲۶، سعید).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

که چیري انجلۍ په دې مجلس کي موجوده نه وه نو نکاح صحیح نه ده. كما في فتاوى قاضي خان: امرأة وكلت رجلاً بأن يزوها فزوجها وغلط في اسم أبيها لاينعقد النكاح إذا كانت غائبة. فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:۱/ ۳۲٤، (فتاوی فریدیه:٤/ ٤٠٨).

مګر که یې بیا چیري د انجلۍ د پلار په نامه کي غلطي وکړه او شاهدانو انجلۍ پېژندله نو نکاح صحیح کیږي.

وګورئ په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د شناخته ښځو د پلار نوم که غلط هم سي خو بیا هم نکاح صحیح ده که څه هم د درمختار له عبارت څخه داسي معلوم سوې ده چي په داسي غلطۍ کولو سره نکاح نه صحیح کیږي. ((د درمختار عبارت لوړ ذکر سو)) مګر جواب دا دئ چي اول خو د درمختار په عبارت کي ((للجهالة)) لفظ دئ له دې څخه معلومیږي چي په غلطي کي د عدم جواز علت جهالت دئ علت کوم چي په دې صورت کي مفقود دئ. (مخلص از فتاوی دار العلوم:۷/ ۱۲۳).

همدا ډول ذکر سوي دي چي که چیري وکیل یا قاضي په غلطي سره نوم بدل کړي بیا هم نکاح صحیح ده.

وګورئ په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

که څه هم د فقهي د کتابو له ښکاره عبارت څخه دا معلومیږي چي د چا نوم چي یې د نکاح د تړلو په وخت کي اخیستی وي نو نکاح له هغې سره تړل کیږي مګر بحث دا دئ چي قاضي او وکیل ته

اول ځل وړیل کیږي چي د فلاني نکاح له فلانۍ سره تړل ده نو په دې کي قاضي یا وکیل دا اختیار نه لري چي نوم بدل کړي یعني د وکالت خلاف کار وکړي ځکه چي د دې د خلاف له پاره یې دی وکیل نه دئ جوړ کړی.

د درمختار په عبارت کي راځي:

((وکذا غلط فی اسم بنته ای لایصح)) د دې جواب دا دئ چي په دې عبارت کي پلار په خپله نکاح تړلې ده او په هغه بل صورت کي وکیل یا قاضي نکاح تړلې ده نو وکیل که خلاف وکړي نو هغه معتبر نه دئ لکه څنګه چي یې تفصیل تېر سو. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۷/ ۱۲۲، وکذا فی امداد الاحکام:۲/ ۲۳۰).

لنډه دا ده چي انجلۍ شناخته ده او شاهد یې هم ډېر ښه پېژني نو نکاح کیږي او صحیح ده او غلطي ضرر نه ورته رسوي دغه د فتاوی دار العلوم د عبارت مطلب دئ او که چیري انجلۍ مجهوله وي نو نکاح نه صحیح کیږي لکه څنګه چي د درمختار، قاضي خان او فریدیې له عبارتو څخه واضحه سوې ده.

خالي په کتابت سره د فرضي نکاح حکم

سوال: ځیني خلک په یو هیواد کي د اوسېدلو له پاره فرضي نکاح حاصلوي یعني ښځه او خاوند دواړه دا خط لیکي چي زه له فلاني سره نکاح کوم بیا د محکمې له طرفه د نکاح سند ورکول کیږي نو ایا په حقیقت کي دا نکاح منعقده سوه او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي نکاح نه تړل کیږي سبب یې دا دئ چي په نکاح کي له جانبینو څخه کتابت معتبر نه دئ او خالي تحریري ایجاب او قبول کافي نه دئ، حال دا چي هغوی په ژبه هیڅ نه دي وړیلي نو ځکه دغه نکاح نه ده تړل سوې.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله (ولا بكتابة حاضر) فلو كتب تزوجتك فكتبت قبلت، لم ينعقد بحر.... إذ الكتابة من الطرفين بلا قول لا تكفي. (فتاوى الشامى:۳/ ۱۲، مطلب التزوج بارسال الكتاب، سعيد – وكذا في فتح القدير:۳/ ۱۹۷، دار الفكر).

په مبسوط کي راځي:

إذا كتب إليها فبلغها الكتاب فقالت : زوجت نفسي منه بغير محضر من الشهود لا ينعقد النكاح كما في حق الحاضر فإن النبي ﷺ قال : « لا نكاح إلا بشهود » ولو قالت بين يدي الشهود : زوجت نفسي منه لا ينعقد النكاح أيضًا ؛ لأن سماع الشهود كلام المتعاقدين شرط لجواز النكاح. (المبسوط للإمام السرخسى:۵/ ۱٦، باب الولاية في النكاح، ادارة القرآن).

په البحر الرائق کي راځي:

وقيد المصنف انعقاده باللفظ لأنه لا ينعقد بالكتابة من الحاضرين فلو كتب تزوجتك فكتبت، قبلت، لم ينعقد . (البحر الرائق:۳/ ۸۳، كوئته).

په امداد الفتاوی کي راځي:

که چیري له جانبینو څخه تحریري ایجاب او قبول وسو نو نکاح صحیح نه ده، که دواړه په مجلس کي موجود وي او که نه وي. (امداد الفتاوی:۲/ ۲۳۰).

په امداد الاحکام کي راځي:

په هغه صورت کي چي نارینه او ښځه په رضامندي سره خط ولیکي نکاح صحیح نه ده که څه هم نوم او پوره ادرس یې لیکلی وي بیا هم په خط باندي نکاح نه تړل کیږي. (امداد الاحکام:۲/ ۲۳۰). والله تعالیٰ اعلم.

د ښځي په نکاح تړلو سره د نکاح حکم

سوال: یوه فلسطیني سړي له یوې تونیسي ښځي سره نکاح وتړله نو هلته یوې ښځي نکاح ور وتړله او هغه ښځه مسلمانه وه او هغه ښځه په خپله هم په مجلس کي موجوده وه، نو اوس دغه نکاح صحیح سوه او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي کومي ښځي چي نکاح سره ورتړلې ده هغه مسلمانه وه او د دوو شاهدانو په منځ کي یې تړلې ده نو ځکه نکاح صحیح سوه ځکه چي بالغه ښځه چي کله دا په خپله ایجاب او قبول کولای سي نو هغه بله ښځه وکیل هم جوړولای سي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله یجعل عاقداً حکما) لأن الوکیل في النکاح سفیر ومعبر ینقل عبارة الموکل، فإذا کان الموکل حاضراً کان مباشراً لأن العبارة تنتقل إلیه وهو في المجلس . (فتاوی الشامی:۳/ ۲٤، سعید).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د ښځي په وکالت سره نکاح صحیح ده کله چي د دوو شاهدانو په حضور کي ایجاب او قبول وسي. (فتاوی دار العلوم:۷/ ۹۸ – نظام الفتاوی:۲/ ۲۱۱). والله تعالیٰ اعلم.

له حاملي زاني سره د نکاح حکم

سوال: یوه سړي له یوې ښځي سره زنا وکړه بیا حمل ښکاره سوه تر هغه وروسته دی غواړي چي نکاح ورسره وکړي نو ایا د حمل د وضع انتظار به کوي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري حمل د هغه سړي له نطفې څخه وي نو نکاح هم روا ده او صحبت هم روا دئ او که چیري حمل د بل چا له نطفي څخه وي نو نکاح روا ده مګر صحبت روا نه دئ، د حمل د وضع انتظار کول ضروري دي او ګناه خو په هر صورت کي ګناه کبیره ده او له هغه څخه توبه کول لازم دي.

وګورئ په تبيين الحقائق کي راځي:

رجل تزوج حاملًا من زنًا منه فالنكاح صحيح عند الكل ويحل وطؤها عند الكل. (تبيين الحقائق: فصل فى المحرمات، كتاب النكاح – وهكذا في فتح القدير كتاب النكاح فصل فى المحرمات، دار الكفر).

په الجوهرة النيرة کي راځي:

وإذا تزوجت الحامل من الزنا جاز النكاح.... قوله ولا يطؤها حتى تضع حملها لقوله عليه السلام « لا توطأ حامل حتى تضع » إلا أن يكون هو الزاني فيجوز له أن يطأها. (الجوهرة النيرة: العدة فى النكاح الفاسد).

په درمختار کي راځي:

وصح نكاح حبلى من زنى لا حبلى من غيره أي الزانى.... وإن حرم وطؤها ودواعيه حتى تضع، متصل بالمسئلة الأولى لئلا يسقي ماءه زرع غيره.... لونكحها الزاني حل له وطؤها اتفاقا. (الدر المختار:۳/ ٤۸، فصل فى المحرمات، سعيد).

په فتاوى محموديه کي راځي:

که چيري د زاني حمل د زانيي ښځه وو نو د دغه زاني سره نکاح صحيح او صحبت هم صحيح دئ. (فتاوى محموديه:۱۱/ ۱۲٦ – وفتاوى حقانيه:٤/ ۳۳۰ – امداد الاحكام:۲/ ۲۰۳). والله تعالیٰ اعلم.

د حلالې په نيت کړل سوي نکاح لازم ده

سوال: يوه سړي وخپلې ښځي ته دري طلاقه ورکړل اوس دې ښځي د حلالې له پاره د دوهم سړي سره نکاح وکړه اوس هغه سړی طلاق نه ورکوي او ښځه هم په دې راضي ده نو اوس د دې نکاح څه حکم دئ؟ او دغه ويل چي په دغه نکاح کي يې د حلالې شرط لګولی وو نو ځکه نکاح صحيح نه ده نو د دوارو او سېدل يو ځای صحيح نه دي ايا دغه خبره صحيح ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې نکاح صحیح او درست ده اوس که خاوند طلاق نه ورکوي نو د هغه خوښه ده څوک هغه پر دې مجبوره کولای نه سي همدا ډول د صحیح مذهب موافق د حلالې د شرط په لګولو سره پر نکاح هيڅ اثر نه لويږي بلکي شرط په خپله باطل دئ او نکاح صحيح ده که څه هم داسي شرط لګول مکروه دئ او ډېر ځله د طلاق شرط په نکاح کي نه لګول کيږئ بلکي د نکاح تر مخه به يې زباني ذکر کړي وي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وكره التزوج للثاني تحريمًا) لحديث لعن المحلل والمحلل له بشرط التحليل كتزوجتك على أن أحللك وإن حلت للأول لصحة النكاح وبطلان الشرط فلا يجبر على الطلاق كما حققه الكمال ، خلافًا لما زعمه البزازي .... إلى قوله: لأنه لا شك أنه شرط في النكاح لا يقتضيه العقد وهو مما لا يبطل بالشروط الفاسدة بل يبطل الشرط ويصح فيجب بطلان هذا وأن لا يجبر على الطلاق . (فتاوى الشامي:۳/ ٤١٥، سعيد ومثله في الحاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۱۷٦، كوئته – والبحر الرائق:٤/ ٥٨، كوئته – ومجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر:۱/ ٤۳۸).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

وإن كان الطلاق ثلاثًا في الحرة وثنتين في الأمة لم تحل له حتى تنكح زوجًا غيره نكاحًا صحيحًا ويدخل بها ثم يطلقها أو يموت عنها كذا في الهداية . (الفتاوى الهندية:۱/ ٤۷۳). والله تعالیٰ اعلم.

له نصراني ښځي سره په محکمه کي د نکاح کولو حکم

سوال: يو مسلمان سړي په المانيه کي له يوې نصراني ښځي سره د هغو د قوانين په پيروي کي په محکمه کي د قاضي ومخته نکاح وکړه نو ايا دا نکاح صحيح سوه او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د دوو شاهدانو په شته والي کي که د قاضي مخته ايجاب او قبول وکړي نو نکاح يې صحيح سوه او څنګه چي ښځه نصراني ده نو ځکه دا هم ضروري نه ده چي شاهدان به مسلمانان وي .

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما المسلم إذا تزوج ذمية بشهادة ذميين فإنه يجوز في قول أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله سواء كانا موافقين لها في الملة أو مخالفين ...... ولهما عمومات النكاح من الكتاب والسنة نحو قوله تعالى : ﴿ فانكحوا ما طاب لكم من النساء ﴾ وقوله: ﴿ وأحل لكم ما وراء ذلكم أن تبتغوا بأموالكم ﴾ وقول النبي : ﷺ « تزوجوا ولا تطلقوا » وقوله ﷺ « تناكحوا » وغير ذلك مطلقًا عن غير شرط ، إلا أن أهل الشهادة وإسلام الشاهد صار شرطًا في نكاح الزوجين المسلمين بالإجماع فمن ادعى كونه شرطًا في نكاح المسلم الذمية فعليه الدليل . (بدائع الصنائع:٢/ ٢٥٤، سعيد).

په هدايه کي راځي:

قال وإن تزوج مسلم ذمية بشهادة ذميين جاز عند أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله وقال محمد رحمه الله وزفر رحمه الله :لا يجوز .... ولهما أن الشهادة شرطت في النكاح على اعتبار إثبات الملك لوروده على محل ذي خطر لا على اعتبار وجوب المهر، إذ لا شهادة تشترط في لزوم المال وهما شاهدان عليها، بخلاف ما إذا لم يسمعا كلام الزوج لأن العقد ينعقد بكلاميهما والشهادة شرطت على العقد. (الهداية:٢/ ٣٠٧، كتاب النكاح).

په نظام الفتاوى کي راځي:

کله چي د نکاح په مجلس کي زوجين دواړه موجود وه که څه هم قاضي عيسايي او د هغه په وېلو سره دوی ايجاب او قبول کړی وي د نکاح عقد بيا هم د ارکانو د موجودۍ په سبب صحيح ده او

دوی دواړه په خپله د نکاح عاقدان او تړونکي سول نو بیله شکه نکاح وتړل سوه او قاضي خالي دیو
نګران په درجه کي پاته سو تر څو چي انکار په وخت کي ثبوت وسي. (ملخص از نظ
الفتاوی:۲/ ۲۱۱).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

په سرکاري دفتر کي د کافر قاضي په مخ کي د شاهدانو په شته والی کي په ایجاب او قبول کولو
سره نکاح تړل کیږي او د زوجیت حقوق هم حاصلیږي. (فتاوی رحیمیه:۵/ ۲۴۲). والله اعلم.

د اولي ښځي په ژوند کي د دوهم واده حکم

سوال: یو سړی واده کړي دئ له خپله وطن څخه دوهم هیواد ته د مزدوری له پاره ولاړئ او هلته یې
اوسېدل شروع کړه او ډېر وخت تېر سو دوهم ځل خپل کور ته نه ولاړئ او کله کله خپل کور والا ته
یو څه پیسې رالیږي او ښځه هلته وړلای هم نه سي نو دې سړي له پاره اجازه سته چي په هغه هیواد
کي دوهم واده وکړي؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري دی د دواړو ښځو پر حقوقو قدرت لري نو دوهم واده دې
وکړي او که چیري یې قدرت نه وي نو بیا دې چي پر یوه اکتفاء وکړي. په قرآن کریم کي الله ﷻ تر
یوه د زیاتو نکاحو اجازه ورکړې ده.

قال الله تعالیٰ: ﴿ فانکحوا ما طاب لکم من النساء مثنی وثلاث ورباع ﴾. (سورة النساء،
الآیة:۳).

بیا وروسته فرمایي، چي که چیري تاسو د حقوقو له اداء کېدو څخه قاصر واست.

قال الله تعالیٰ: ﴿ فإن خفتم ألا تعدلوا فواحدةً ﴾. (سورة النساء، الآیة:۳).

په حدیث شریف کي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه : أن غيلان بن سلمة الثقفي أسلم وله عشر نسوة في الجاهلية فأسلمن معه فقال النبي ﷺ: أمسک أربعاً ففارق سائرهن. (رواه احمد والترمذي وابن ماجة، مشكاة شريف:۲/ ۲۷٤، باب المحرمات، الفصل الثانى).

په عالمګيري کي راځي:

وإذا كانت له امرأة وأراد أن يتزوج عليها أخرى وخاف أن لا يعدل بينهما لا يسعه ذلك، وإن كان لا يخاف وسعه ذلك، والامتناع أولى ويؤجر بترك إدخال الغم عليها كذا في السراجية . (الفتاوى الهندية:۱/ ۳٤۱، الباب الحادى عشر فى القسم).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوى:۵/ ٦٦ -٦٨، وكتاب الفتاوى:٤/ ۳۱۹). والله اعلم.

په نکاح کي د شرط لګولو حکم

سوال: که چيري يو سړی تر نکاح دمخه دا شرط ولګوي چي انجلۍ به ما ته موټر راکوي نو د دې څه حکم دئ؟ او اخيستل يې څنګه دي؟

الجواب: په نکاح کي داسي شرط لګول صحيح نه دي، شرط خپله باطل دئ او نکاح صحيح ده او موټر اخيستل د رشوت په حکم کي دئ او هغه بايد دوباره ورکړل سي.

وګورئ په تبيين الحقائق کي راځي:

قال رحمه الله: وما لا يبطل بالشرط الفاسد القرض ، والهبة ، والصدقة ، والنكاح ، والطلاق،.... هذه كلها لا تبطل بالشروط الفاسدة لما ذكرنا أن الشروط الفاسدة من باب الربا وأنه يختص بالمبادلة المالية ، وهذه العقود ليست بمعاوضة مالية ، فلا يؤثر فيها الشروط الفاسدة ألا ترى أنه عليه الصلاة والسلام أجاز العمرى وأبطل شرط المعمر . (تبيين الحقائق:٤/ ۱۳۳ ، كتاب البيوع، متفرقات، امداديه ملتان).

په نظام الفتاوی کي راځي:

د انجلۍ یا د هغې له کور والا وو څخه د دواده له پاره د هلک یا د هغه کور والا وو یو شی اخیستل دي ته ((تلک)) وایي او دا رواج د کافرانو دئ د شریعت له نظر ناروا او ګناه ده.

په قرآن کریم کي د دې ممانعت راغلي دئ. ﴿ یا ایها الذین آمنوا لا تکونوا کالذین کفروا ﴾.

(سورة ال عمران:الآية:١٥٦).

او داسي شی اخیستل د شرط او رشوت په درجه کي دئ چي د هغه بیرته ورکول ضروري دي که چیري یې هغه بیرته ورنه کړئ نو انجلۍ یا د هغې اولیاء یې په خپله اخیستلای سي، همدا ډول تر نکاح د مخه یو شی اخیستل دا هم ناروا او د شرط او رشوت په درجه کي دئ نو دا هم واجب الاعاده دئ کما صرح به فی الشامی: ٢/ ٣٦٥. (نظام الفتاوی:٢/ ٢١٧).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

داسي شرطونه کوم چي د شریعت له وجوبي احکامو سره ټکر وي لکه دا شرط چي د ښځي به مهر نه وي او یا دا چي خاوند د ښځي یا د هغې له خاندان څخه د مال غوښتنه وکړي داسي شرطونه بالاتفاق معتبر نه دي او پر نکاح د داسي شرطو اثر نه لویږي، نکاح تړل کیږي او شرطونه لغوه او بې اثر کیږي. (جدید فقهی مسائل:٢/ ٣٣). والله ﷻ اعلم.

تر رخصتۍ د مخه د صحبت نه کولو د شرط لګولو حکم

سوال: که چیري یوه سړي نکاح په وخت کي دا شرط ولګوئ چي تر رخصتي د مخه صحبت نه کوم مګر تر اوسه رخصتي سوې نه ده او هغه غواړي چي صحبت وکړي نو دا روا ده او که نه؟ او کوم شرط چي یې لګولی دئ هغه صحیح دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د دې شرط پوره کول ضروري دي که چیري یې شرط لګولی نه وي بیا هم په عرف کي خلک تر رخصتۍ د مخه صحبت نه کوي نو ځکه دی باید د عرف لحاظ هم وکړي او له صحبت څخه اجتناب وکړي.

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

« والعرف في الشرع له اعتبار ﴿•﴾ لذا عليه الحكم قد يدار ». (شرح عقود رسم المفتی:٣٨، دار الاشاعت).

د عرف يو څو نور مثالونه هم وګورئ: مثلا يو سړي ډوډئ په قرض واخيستله او بيا يې بيرته ورکړه سره له لحاظه د تعداده نو شرعا دا بايد صحيح نه سي ځکه چي په ډوډئ کي کمي زياتي کيږي مګر د عرف په سبب روا دئ، همدا ډول په عرف کي لڅ سر ګرځېدل عيب دئ نو طالبان او عالمان بايد سرونه پټ کړي، همدا ډول بېله کميسه ګرځېدل عرفا عيب دئ، نو داسي بايد سړی ونه ګرځيږي نو پر دې بنا د شرط او عرف دواړو په سبب بايد دی له جماع ځخه ځان وژغوري.

قال الله تعالى: ﴿ يا أيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود ﴾. (سورة المائدة:الآية:١).

وفي الحديث: « أحق الشروط أن توفوا به ما استحللتم به الفروج. (رواه البخاری:١/ ٣٧٦، باب الشروط فی المهر).

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

درېيم ډول شرطونه هغه دي چي له هغه شخه ښځي ته نفع رسيږي او شريعت نه هغه واجب بللي دي او نه يې منع کړي دي مثلا د ښځي دا شرط لګول چي خاوند به د دې په ژوند کي دوهمه نکاح نه کوي او يا دا شرط چي هغه له دې ښاره څخه دباندي نه بيايي له داسي شرطو سره سره نکاح تړل کيږي پر دې اتفاق دئ. په دې کي اختلاف دئ چي دغه شرطونه معتبر دي او که نه؟ او تکميل يې واجب دي او که نه؟ د سلفو او مجتهدينو په دې کي اختلاف دئ.

مثبتين او د هغوی دلائل:

د چا په نزد چي دا شرط معتبر دئ له هغو څخه حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه، قاضي شريح رحمه الله، عمر بن عبد العزيز رحمه الله، اسحاق ابن راهويه رحمه الله، زاعي رحمه الله او نور دي.

دلائل وګورئ: ١_ د الله تعالی ارشاد دئ.

قال الله تعالى: ﴿ يا أيها الذين آمنوا أوفوا بالعقود ﴾. (سورة المائدة:الآية:۱).

ابو بکر جصاص رازي رحمه الله فرمايي:

وكذلك كل شرط شرطه إنسان على نفسه في شيء يفعله في المستقبل فهو عقد.

وأيضاً قال: وهو عموم في إيجاب الوفاء بجميع ما يشترط الإنسان على نفسه ما لم تقم دلالة تخصصه. (احكام القرآن:۳/ ۳۸٤، ۲۸۵).

۲_ «أحق ما أو فيتم من الشروط أن توفوا به ما استحللتم به الفروج. (رواه الجماعة).

۳_ دا داسي شرطونه دي کوم چي د نکاح په مقاصدو کي مانع نه دي او له هغو سره يو روا مقصداو منفعت متعلق دئ نو بايد لازم سي. (جديد فقهی ماسئل:۳۵-۳۹). والله تعالیٰ اعلم.

د نوي مسلماني د عدت په حالت کي د نکاح حکم

سوال: **ديوې کافري ښځي له کافر سره نکاح وسوه يو څو وخت وروسته د ښځي په رضا قاضي د دوی تر منځ جلا والی راوستئ او خاوند هم دستخط وکي چي يو هفته تېره سوه ښځه مسلمانه سوه او له يوه مسلمان سره يې نکاح وکړه نو دا نکاح صحيح ده او که نه؟ که چيري نکاح سوې نه وي نو څه بايد وکړي؟**

الجواب: **په دې صورت کي د امام صاحب په نزد عدت واجب نه دئ او د صاحبينو په نزد عدت واجب دئ. علامه شامي رحمه الله د امام صاحب قول راجح بللی دئ نو ځکه د امام صاحب د مذهب پر موافق دا نکاح هم صحيح سوه ځکه چي د کفارو په نزد تر نن سبا پوري د عدت تصور لا نه سته او عدت هغوی د زوج حق بولي، همدا ډول چي يو حيض تېري سي نو جماع هم روا ده او احتياط په دې کي دئ چي عدت پوره کړي.**

په فتاوی شامي کي يې وګورئ:

وظاهره أنه لا عدة من الكافر عند الإمام أصلاً وإليه ذهب بعض المشايخ فلا تثبت الرجعة للزوج بمجرد طلاقها ....وقيل تجب لكنها ضعيفة لا تمنع من صحة النكاح .... والأصح

الأول كما في القهستاني عن الكرماني ومثله في العناية. (شامى:۳/ ۱۸۵، باب النكاح الكافر، سعيد).

وفيه أيضاً: ـ أن العدة إنما تجب حقاً للزوج: أي الذي طلقها ولا تجب له بدون اعتقاده ولما قدمناها أيضاً عن ابن كمال رحمه الله من اعتبار دين الزوج خاصة وكذا ما قدمناه من ترجيح القول بأنه لا عدة من الكافر عند الإمام أصلاً تأمل. (فتاوى الشامى:۳/ ۱۸۷، باب نكاح الكافر، سعيد).

په جامع الرموز كي راځي:

واتفق المشايخ على جواز نكاح المعتدة عن كافر إلا أن بعضهم قالوا: إن العدة واجبة، وبعضهم قالوا: إنها غير واجبة وهو الأصح كما في الكرماني. (جامع الرموز للعلامة شمس الدين محمد الخراساني القهستانى، فصل فى نكاح القن:۲/ ٤۹۲، المطبعة الكريمة).

په هدايه كي راځي:

ولأبي حنيفة رحمه الله أن الحرمة لا يمكن إثباتها حقاً للشرع لأنهم لا يخاطبون بحقوقه ولا وجه إلى إيجاب العدة حقاً للزوج لأنه لا يعتقده بخلاف ما إذا كانت تحت مسلم لأنه يعتقده. (الهداية:۲/ ۳٤٤، نكاح اهل الشرك).

په البحر الرائق كي راځي:

وظاهر كلام الهداية أنه لا عدة من الكافر عند الإمام أصلًا وفيه اختلاف المشايخ فذهب طائفة إليه وأخرى إلى وجوبها عنده لكنها ضعيفة لا تمنع من صحة النكاح لضعفها. (البحر الرائق:۳/ ۲۰۷، باب نكاح الكافر، كوئته). والله تعالى اعلم.

تر پټي نکاح وروسته د ښکاره نوي نکاح کولو حکم

سوال: ديوه سړي کوزده له يوې انجلۍ سره وسوه او دا فيصله يې وکړه چي اته (۸) مياشتي وروسته به نکاح کوي مګر دغه سړي دومره انتظار ونه کړای سو نو اوس غواړي چي د شاهدانو په موجودوالي کي د ولي په اجازه سره پټه نکاح وکړي تر څو انجلۍ د ده له پاره حلاله سي او اته (۸) مياشتي وروسته بيا ښکاره نکاح وکړي نو ايا داسي کول صحيح دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري اوله نکاح په ايجاب او قبول سره د شاهدانو مخته د انجلۍ په رضايت وکړي نو دا صحيح ده او پر هغه د نکاح ټول احکام جاري کيږي مګر همدا ډول نکاح کول ښه نه دي ځکه چي خالي کور والا خبر دي نور کلي والا او خاندان يې خبر نه دئ نو ځکه د تهمت قوي خطره دي او له داسي کارو څخه ځان ساتل ډېر ضروري دي تر څو چي د چا پر پاکلمنۍ د چا د ژبي او خبرو موقع پيدا نه سي . د حضرت عمر ﷺ په زمانه کي پټه نکاح کول منع وه او حضرت مغيره بن شعبه ﷺ له ام جميل سره نکاح کړې وه مګر عام خلک له دې نکاح څخه ناخبره وو نو ځکه يې شاهدي ورکړه چي حضرت مغيره بن شعبه ﷺ له پردۍ ښځي سره مشغول وو او وروسته معلومه سوه چي هغه پردۍ نه وه بلکي د هغه خپله ښځه وه . (فتاوی دار العلوم زکريا:۱/ ابواب الحديث).

په درمختار کي راځي:

النكاح ينعقد بإيجاب من أحدهما وقبول من الآخر. (الدر المختار:۳/ ۹، سعيد – وكذا في الهداية:۲/ ۳۰٦ – والبحر الرائق:۳/ ۱٤٤).

په هدايه کي راځي:

ولا ينعقد نكاح المسلمين إلا بحضور شاهدين حرين عاقلين بالغين مسلمين رجلين أو رجل وامرأتين. (الهداية:۲/ ۳۰٦، كتاب النكاح – وكذا في الدر المختار:۳/ ۲۱).

همدا ډول كله چې اوله نكاح وسوه نو اوس د دوهمې نكاح ضرورت نه سته مګر كه د نكاح تجديد كول غواړي نو اجازه سته، حضرت ابو سفيان رضي الله عنه د خپلې لور ام حبيبې رضي الله عنها د نكاح د تجدي غوښتنه وكړه نو نبي كريم ﷺ هيڅ انكار ونه كړئ.

وګورئ په مسلم شريف كي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنه قال: كان المسلمون لا ينظرون إلى أبى سفيان ولا يقاعدونه فقال للنبى ﷺ يا نبى الله، ثلاث أعطنيهن قال « نعم »، قال: عندى أحسن العرب وأجمله أم حبيبة رضي الله عنها بنت أبى سفيان أزوجكها، قال: « نعم »، قال: ومعاوية تجعله كاتبًا بين يديك. قال « نعم »، قال وتؤمرنى حتى أقاتل الكفار كما كنت أقاتل المسلمين، قال: « نعم ». قال أبو زميل: ولولا أنه طلب ذلك من النبى ﷺ ما أعطاه ذلك لأنه لم يكن يسئل شيئًا إلا قال: « نعم ». (رواه مسلم في المناقب:۲/ ۳۰٤).

قال أبو عباس أحمد بن عمر القرطبي في شرحه على مسلم المسمى بـ « المفهم »: قلت: فقد ظهر أنه لا خلاف بين أهل النقل أن تزويج النبي ﷺ متقدم على إسلام أبيها أبي سفيان، ولما ثبت هذا تعين أن يكون طلب أبي سفيان تزويج أم حبيبة رضي الله عنها بعد إسلامه خطأ ووهمًا. وقد بحث النقاد عمن وقع منه ذلك الوهم فوجدوه قد وقع من عكرمة بن عمار.... قلت: قد تأول بعض من صح عنده ذلك الحديث، بأن قال: إن أبا سفيان إنما طلب من النبي ﷺ أن يجدد معه عقداً على ابنته المذكورة ظاناً منه: أن ذلك يصح لعدم معرفته بالأحكام الشرعية لحداثة عهده بالإسلام. (المفهم لما اشكل من تلخيص كتاب مسلم:٦/ ٤٥٧).

همدا ډول وګوري: (شرح النووى على الصحيح لمسلم:۲/ ۳۰٤ – وإكمال إكمال المعلم للوشتاني:۸/ ٤۲۷ -٤۲۹ – وتكملة فتح الملهم:٥/ ۲۷۰).

وفي الدر المختار: وفي الكافي: جدد النكاح بزيادة ألف لزمه ألفان على الظاهر. وفي الشامي: حاصل عبارة الكافي: تزوجها في السر بألف ثم في العلانية بألفين ظاهر المنصوص في الأصل أنه يلزم عنده الألفان ويكون زيادة في المهر، وعنه أبي يوسف رحمه الله المهر هو الأول، لأن العقد الثاني لغو فيلغو ما فيه، وعند الإمام أن الثاني وإن لغا لا يلغو ما فيه من الزيادة. (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۱۱۲، باب المهر، سعيد- وكذا في البحر الرائق:۳/ ۱۱۳، باب الاولياء والاكفاءف كوئته).

مګر هو کله کله د مصلحت له پاره دوهمه نکاح کول کیږي. والله تعالی اعلم.

د پېریانو سره د نکاح کولو حکم

سوال: له پیریانو سره نکاح کېدلای سي او که نه

الجواب: له پېریانو سره نکاح کول روا نه دي او دا صحیح قول دئ.

وګورئ: علامه شامي رحمه الله فرمایي:

قوله والجنية، وإنسان الماء بقرينة التعليل باختلاف الجنس لأن قوله تعالى: ﴿ والله جعل لكم من أنفسكم أزواجًا ﴾ بين المراد من قوله: ﴿ فانكحوا ما طاب لكم من النساء ﴾ وهو الأنثى من بنات آدم فلا يثبت حل غيرها بلا دليل ولأن الجن يتشكلون بصور شتى فقد يكون ذكرًا تشكل بشكل أنثى ..... (تنبيه) في الأشباه عن السراجية : لا تجوز المناكحة بين بني آدم والجن ، وإنسان الماء ؛ لاختلاف الجنس، ومفاد المفاعلة أنه لا يجوز للجني أن يتزوج إنسيةً أيضًا وهو مفاد التعليل أيضًا .... عن زواهر الجواهر: الأصح أنه لا يصح نكاح آدمي جنبة، كعكسه لاختلاف الجنس فكانوا كبقية الحيوانات. (الشامي:۳/ ٥، كتاب النكاح، سعيد).

وفي الأشباه والنظائر:... وبعضهم استدل بما رواه حرب الكرماني في مسائله عن أحمد وإسحاق، قال: حدثنا محمد بن يحيى القطيعي: حدثنا بشر بن عمر بن لهيعة عن يونس بن يزيد عن الزهري قال: «نهى رسول الله ﷺ عن نكاح الجن» وهو وإن كان مرسلًا فقد اعتضد بأقوال العلماء. (الاشباه والنظائر:۳/ ۹٤، احکام الجان، ادارة القرآن).

وكرهه الإمام مالک رحمه الله فقال: أخشى أن توجد بنت حاملاً وتسأل عن حملها فتقول: تزوجني جني، وبذلک يكثر الفساد. (قرة العين لعبد الله بن محمد بن الصديق الغماري: ص ٦۹، بيروت – ومثله فی «الاشباه والنظائر»:۳/ ۹۵، احکام الجان، ادارة القرآن).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی دار العلوم ديوبند:۷/ ۱۵۲ – واحسن الفتاوی:۵/ ۳۰). والله تعالى اعلم.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم ديوبند:۷/ ۱۵۲ – احسن الفتاوی:۵/ ۳۰).

دوهم ...... فصل

د محرماتو بيان

د مصاهرت د حرمت نقلي دلائل

سوال: د احنافو په نزد په زنا سره د مصاهرت حرمت ثابتيږي ځيني حضراتو ته په دې کي شک دئ، د هغوی د شک ليري کولو له پاره د احاديثو او اثارو په رڼا کي دا مسئله روښانه کړئ؟

الجواب: زنا که څه هم يو د روند جرم دئ مګر جزئيت ثابتيږي يعني د مزنيي مور خوابنې سوه او د هغې لور ربيبه سوه د دې له وجي د همېشه له پاره له هغو سره نکاح کول حرام سو.

په آيت کريمه کي د دې مسئلي وطرفته اشاره سوې ده.

۱ـ قوله تعالى: ﴿ولا تنكحوا ما نكح آباؤكم من النساء﴾ والنكاح يستعمل في العقد والوطء فلا يخلو إما أن يكون حقيقةً لهما على الاشتراك، وإما أن يكون حقيقةً لأحدهما

مجازًا للآخر وكيف ما كان يجب القول بتحريمهما جميعًا إذ لا تنافي بينهما كأنه قال عز وجل : ﴿ ولا تنكحوا ما نكح آباؤكم من النساء ﴾ عقدًا ووطئًا . (بدائع الصنائع:٢/ ٢٦١، وأما الفرقة الرابعة، سعيد – وكذا فی شرح النقاية:٢/ ٣٤٧، كتاب النكاح، بيروت).

قال أبو بكر: أخبرنا أبو عمر غلام ثعلب قال الذي حصلناه عن ثعلب عن الكوفيين والمبرد عن البصريين أن النكاح في أصل اللغة هو اسم للجمع بين الشيئين تقول العرب: أنكحنا الفرا فسنرى هو مثل ضربوه للأمر يتشاورون فيه ويجتمعون عليه ثم ينظر عماذا يصدرون فيه معناه جمعنا بين الحمار وأتانه قال أبو بكر: إذا كان اسم النكاح في حقيقة اللغة موضوعا للجمع بين الشيئين ثم وجدناهم قد سموا الوطء نفسه نكاحاً من غير عقد كما قال الأعشى :

ومنكوحة غير ممهورة ﴿﴾ وأخرى يقال له فادها

يعن المسبية الموطوأة بغير مهر ولا عقد ..... وقد اختلف أهل العلم في إيجاب تحريم الأم والبنت بوطء الزنا فروى سعيد بن أبي عروبة عن قتادة عن الحسن عن عمران بن حصين ﷺ في رجل زنى بأم امرأته حرمت عليه امرأته وهو قول الحسن وقتادة وكذلك قول سعيد بن المسيب وسليمان بن يسار وسالم بن عبد الله ومجاهد وعطاء وإبراهيم وعامر وحماد وأبي حنيفة وأبي يوسف ومحمد وزفر والثوري والأوزاعي ولم يفرقوا بين وطء الأم قبل التزوج أو بعده في إيجاب تحريم البنت .... قال أبو بكر: قوله تعالى: ﴿ ولا تنكحوا ما نكح آباؤكم من النساء ﴾ قد أوجب تحريم نكاح امرأة قد وطئها أبوه بزنا أو غيره إذ كان الاسم يتناوله حقيقة فوجب حمله عليها وإذا ثبت ذلك في وطء الأب ثبت مثله في وطء أم المرأة أو

ابنتها في إيجاب تحريم المرأة لأن أحداً لم يفرق بينها ويدل على ذلك قوله تعالى: ﴿وربائبكم اللاتي في حجوركم من نسائكم اللاتي دخلتم بهن ﴾ والدخول بها اسم للوطء وهو عام في جميع ضروب الوطء من مباح أو محظور ونكاح أو سفاح . ... (احكام القرآن للجصاص:۲/ ۱۱۲ -۱۱٤، باب مايحرم من النساء، سهيل – ومثله في احكام القرآن للعثماني:۲/ ۲۰۰-۲۰٤، ادارة القرآن).

۲_ له ځینو احادیثو څخه هم معلومیږي چي په زنا سره د مصاهرت حرمت ثابتیږي.

۱_ عن أبي هاني قال: قال رسول الله ﷺ: « من نظر إلى فرج امرأة لم تحل له أمها ولا ابنتها. (مصنف ابن ابی شیبة:۹/ ۹۹- وفي اسناده حجاج بن ارطاة وقال البيهقي اسناده مجهول).

۲_ عن عائشة ﵂ أنها قالت: اختصم سعد بن أبى وقاص ﵁ وعبد بن زمعة ﵁ فى غلام فقال سعد: هذا يا رسول الله ابن أخى عتبة بن أبى وقاص عهد إلى أنه ابنه انظر إلى شبهه، وقال عبد بن زمعة هذا أخى يا رسول الله ولد على فراش أبى من وليدته فنظر رسول الله ﷺ إلى شبهه فرأى شبهًا بينًا بعتبة فقال: « هو لك يا عبد الولد للفراش وللعاهر الحجر واحتجبى منه يا سودة بنت زمعة ». قالت: فلم ير سودة ﵂ قط .(رواه مسلم:۱/ ٤۷۰).

قال ابن التركماني في « الجوهر النقي» (۷/ ۱۷۰): وفي قوله عليه السلام: « واحتجبي منه يا سوده» حجة لهم لأنه لما رأى الشبه بعتبة علم أنه من مائه فأجراه في التحريم مجرى النسب وأمرها بالاحتجاب منه.

۳_ عبد الرزاق عن بن جريج قال: أخبرت أبي بكر بن عبد الرحمن بن أم الحكم أنه قال: قال رجل: يا رسول الله! إني زنيت بامرأة في الجاهلية أفأنكح وابنتها ؟ فقال النبي ﷺ: لا أرى

ذلك، ولا يصلح ذلك أن تنكح امرأة تطلع من ابنتها على ما اطلعت عليه منها. (مصنف عبد الرزاق:۷/ ۲۰۲/ ۱۲۷۸٤، باب الرجل يزنى باخت امرأته).

٤_ وقوله عليه الصلاة والسلام: لو مس امرأة بشهوة حرمت عليه أمها وبنتها. (حاشي الكنز:ص، ۹۸ رقم الحاشي ۹ بحواله عينى).

۵_ په بخاري کي د جريج والا حديث څخه معلوميږي چي پر زاني پلار هم د أب اطلاق کيږي يعني په زنا سره جزئيت ثابتيږي.

په بخاري شريف کي يې وګورئ:

وقال الليث : حدثني جعفر ابن ربيعة عن عبد الرحمن بن هرمز قال : قال أبو هريرة ﷺ، قال رسول الله ﷺ: نادت امرأة ابنها وهو في صومعة، قالت يا جريج قال: اللّٰهم أمي وصلاتي، قالت: يا جريج قال: اللّٰهم أمي وصلاتي، قالت: يا جريج قال: اللّٰهم أمي وصلاتي، قالت: اللّٰهم لا يموت جريج حتى ينظر في وجه المياميس وكانت تأوي إلى صومعته راعية ترعى الغنم فولدت فقيل لها ممن هذا الولد ؟ قالت: من جريج نزل من صبومعته قال جريج: أين هذه التي تزعم أن ولدها لي قال: يا بابوس من أبوك قال: راعي الغنم. (رواه البخارى:۱/ ۱٦۱).

۳_ له ځيني اثارو څخه هم معلوميږي چي په زنا سره د مصاهرت حرمت ثابتيږي.

۱_ عبد الرزاق عن عثمان بن سعيد عن قتادة عن عمران بن حصين ﷺ في الذي يزني بأم امرأته قد حرمتا عليه جميعاً. (مصنف عبد الرزاق:۷/ ۲۰۰/ ۱۲۷۷٦، باب الرجل يزنى بام امرأته وابنتها واختها). وقال الحافظ في « فتح الباري»: ولا بأس باسناده.

۲_ أخبرنا عبد الرزاق قال: أخبرنا بن جريج قال: سمعت عطاء يقول: إن زنى بأم امرأته أو ابنتها، حرمتا عليه جميعاً. (مصنف عبد الرزاق:۷/ ۱۹۸، باب الرجل يزنى بام امرأته وابنتها واختها).

۳_ عبد الرزاق عن معمر عن بن جريج، وعن الشعبي عن عمرو عن الحسن قالا: إذا زنى الرجل بأم امرأته أو ابنة امرأته، حرمتا عليه جميعا. (مصنف عبد الرزاق:۷/ ۱۹۸، باب الرجل يزنى بام امرأته وابنتها واختها).

٤_ عبد الرزاق عن إبراهيم بن محمد عن صفوان بن سليم عن عبد الله بن يزيد ـ مولى آل الأسود ـ أنه سأل بن المسيب، وابا سلمة بن عبد الرحمن، وأبا بكر بن عبد الرحمن بن الحارث بن هشام، وعروة بن الزبير، عن الرجل يصيب المرأة حراماً يصلح له أن يتزوج بابنتها؟ فقالوا: لا. (مصنف عبد الرزاق:۷/ ۱۹۸، باب الرجل يزنى بام امرأته وابنتها واختها).

په مصنف ابن ابى شيبه كي راځي:

٥_ عن إبراهيم وعامر: في رجل وقع على ابنة امرأته، قالا: حرمتا عليه كلاهما، وقال إبراهيم: وكانوا يقولون: إذا اطلع الرجل على المرأة على ما لا يحل له، أو لمسها لشهوة، فقد حرمتا عليه جميعًا.

٦_ عن عبد الكريم، عن عطاء قال: إذا أتى الرجل المرأة حرامًا، حرمت عليه ابنتها، وإن أتى ابنتها حرمت عليه أمها.

٧_ عن عبد الله بن مسبح قال: سألت إبراهيم عن رجل فجر بأمة ثم أراد أن يتزوج أمها؟ قال: لا يتزوجها.

٨_ عن مجاهد قال: إذا قبلها، أو لمسها، أو نظر إلى فرجها حرمت عليه ابنتها.

٩_ عن إبراهيم قال: إذا قبل الأم لم تحل له ابنتها، وإذا قبل ابنتها لم تحل له أمها. (مصنف ابن ابى شيبة:۹/ ۹۹-۱۰۰، ۳۷۰، المجلس العلمى).

په ځینو روایاتو کي راځي ((لایحرم حرام حلالا)) یعني حرام شی حلال شی نه حراموي، مطلب دا چي په زنا سره نکاح نه حرامیږي نو د زنا په سبب باید د مصاهرت حرمت ثابت نه سي دی جواب حضرت عطاء بن رباح رحمه الله دا ورکړی دئ که یو سړی له منځي سره زنا وکړه بیا یې واخیستله نو له هغې سره وطي کول روا دي، همدا ډول که یو چا له یوې ښځي سره زنا وکړه او بیا وغواړي چي له هغې سره نکاح وکړي نو روا ده او حرام نه دئ.

وګورئ په مصنف عبد الرزاق کي راځي:

عن جريج قال: سئل عطاء عن رجل كان يصيب امرأة سفاحاً، أينكح ابنتها ؟ قال: لا، وقد اطلع على فرج أمها. فقال إنسان: ألم يكن يقال: لا يحرم حرام حلالاً؟ قال: ذلك في الأمة، كان يبغي بها ثم يبتاعها، أو يبغي بالحرة ثم ينكحها، فلا يحرم حينئذ ما كان صنع من ذلك.

(مصنف عبد الرزاق: ۷/ ۱۹۷، باب الرجل يزنى بام امرأته وابنتها واختها).

په الجوهر النقي کي راځي:

وقال ابن حزم: روينا عن مجاهد.... ومن طريق شعبة عن الحكم بن عتيبة قال: قال النخعي: إذا كان الحلال يحرم الحلال فالحرام اشد تحريماً، وعن الشعبى ما كان في الحلال حراما فهو في الحرام اشد، وعن ابن مغفل هي لا تحل له في الحلال فكيف تحل له في الحرام. (الجوهر النقى: ۷/ ۱۶۹، باب الزنا لايحرم الحلال، بيروت). والله تعالیٰ اعلم.

د ښځي د خپلي لمسۍ له میړه سره د نکاح حکم

سوال: د ښځي له پاره د هغې د لمسۍ خاوند محرم دئ او که نه؟

الجواب: د ښځي د لمسۍ خاوند محرم دئ یعني د همېشه له پاره نکاح ورسره حرامه ده، همدا ډول د ښځي مور، انا دا ټول محارم دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

و حرم بالمصاهرة بنت زوجته الموطوءة وأم زوجته وجداتها مطلقاً بمجرد العقد الصحيح. وفي الشامي: (قوله وجدتها مطلقاً) أي من قبل أبيها وأمها وإن علون، بحر (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۳۰، فصل فی المحرمات، سعید).

په فتاوی هنديه کي راځي:

القسم الثاني المحرمات بالصهرية ـ وهي أربع فرق (الأول) أمهات الزوجات وجداتهن من قبل الأب والأم وإن علون. (الفتاوي الهندية:۱/ ۲۷٤ – وفتح القدير:۳/ ۲۱۰، دار الفكر).

په فتاوی محموديه کي راځي:

له کوم ځا سره چي نکاح ناروا ده هغه محرم او له کوم ځا سره چي روا ده هغه نامحرم دي. (فتاوی محموديه: ۱۱/ ۳۳، مبوب ومرتب). والله اعلم.

د ناسکه خور له لمسي سره د نکاح حکم

سوال: د ناسکه خور له لمسي سره نکاح روا ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د نسبي حرمت له وجي د ناسکه خوره له لمسي سره نکاح روا نه ده.

قال الله تعالى: ﴿ حرمت عليكم أمهاتكم وبناتكم وأخواتكم وعماتكم وخالاتكم وبنات الأخ وبنات الأخت ....﴾. (سورة النساء: الآية:۲۳).

په هدايه کي راځي:

ولا بأخته ولا ببنات أخته ولا ببنات أخيه ولا بعمته ولا بخالته لأن حرمتهن منصوص عليها في هذه الآية، وتدخل فيها العمات المتفرقات والخالات المتفرقات بنات الإخوة المتفرقين لأن جهة الاسم عامة. (الهداية:۲/ ۳۰۷، فصل فه المحرمات).

په کتاب المبسوط کي راځي:

وفي فتح القدير: وفي بنات الأخ والأخت وبناتهن وإن سفلن. (فتح القدير:٣/ ٢٠٩، فصل في المحرمات، دار الفكر).

په کتاب المبسوط کي راځي:

والسابع بنات الأخت تثبت حرمتهن بقوله تعالى: ﴿ وبنات الأخت ﴾ ويستوي في ذلك أولًا بنات الأخت لأب وأم أو لأب أو لأم. (المبسوط للإمام السرخسی:٥/ ٤٦٤، کتا النكاح).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وأما الأخوات فالأخت لأب وأم والأخت لأم وكذا بنات الأخ والأخت وإن سفلن. (الفتاوى الهندية:١/ ٢٧٣).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

د ناسکه خور له لمسي سره نکاح حرامه ده، ټول مفسرين او د اهل سنت والجماعت علماء پر دې متفق دي چي آيت کريمه ﴿ وبنات الأخت ﴾ شخه هر ډول خور له اولاد او د اولاد د اولاد سره نکاح حرامه ده که حقيقي خور وي او که ناسکه وي يعني خالي په پلار سره شريک وي او يا اخيافي وي يعني په مور سره شريک وي نو د ناسکه خور له لمسي سره نکاح قطعا حرام ده. (فتاوی دار العلوم ديوبند:٧/ ٣١٦). والله ﷻ اعلم.

د ميرۍ له خور سره د نکاح حکم

سوال: **د يوه سړي له پاره د هغه د پلار د مدخولې يعني ميري خور محرمه ده او که نه؟ يعني د هغې سره نکاح کولای سي او که نه؟**

الجواب: **د والد (پلار) د مدخولې خور محرمه نه ده او له هغې سره د نکاح کولو اجازه سته.**

قال الله تعالى: ﴿ وأحل لكم ما وراء ذلكم ﴾. (سورة النساء:الآية:٢٤).

وفي روح المعاني للعلامة الآلوسي البغدادي الحنفي: ﴿ ما وراء ذلكم ﴾ إشارة إلى ما تقدم من المحرمات أي أحل لكم نكاح ما سواهن انفراداً وجمعا. (روح المعاني:٥/ ٤، القاهرة).

په فتاوى شامي کي راځي:

ولا تحرم بنت زوج الأم ولا أمه ولا أم زوجة الأب ولا بنتها. (شامي:٣/ ٣١، فصل في المحرمات، سعيد).

په فتح القدير کي راځي:

فلذا أجاز التزويج بأم زوجه الابن وبنتها، وجاز للابن التزوج بأم زوجة الأب وبنتها. (فتح القدير:٣/ ٢١١، فصل في المحرمات، دار الفكر).

په فتاوى محموديه کي راځي:

له خاله سره نکاح حرامه ده مګر خاله هغه خاله ده چي د حقيقي مور خور وي او د ميرې خور کومه چي د پلار دوهمه ښځه ده د هغې خور ده هغه خاله نه ده او له هغې سره نکاح حرام نه ده نو ځکه زوى د پلار د دوهمي ښځي له خور سره نکاح کولاى سي که چيري يو بل د حرمت او يا رضاعت قرابت نه وو. (فتاوى محموديه:١١/ ٢٧١).

په فتاوى دار العلوم ديوبند کي راځي:

دوې حقيقي خوندي چي له هغو څخه يوه د پلار په نکاح کي وي او بله د زوى په نکاح کي وي دا صحيح ده او شرعا په دې کي هيڅ خرابي نه سته او په ﴿ وأحل لكم ما وراء ذلكم ﴾ **کي داخل دي اصل دا دئ چي د دوو خوندو يو ځاى کول د يوه سړي په نکاح کي منع دي.** (فتاوى دار العلوم ديوبند:٧/ ١٧٦).

په احسن الفتاوى کي راځي:

سوال: د زيد ښځه هنده مړ سوه، زيد له يوې ښځي سره نکاح وکړه نو يو زوى يې پيدا سو اوس د دې هلک نکاح د زيد د اولي ښځي د خور سره روا ده او که نه؟

الجواب: کېدلای سي. (احسن الفتاوی:۵/ ۸۵). والله تعالی اعلم.

د دوو ورونو له یوې مور او د هغې له لور سره د نکاح کولو حکم

سوال: زید او عمر دواړه حقیقي وروڼه دي او دواړه په یوه کور کي نکاح کول غواړي یعني زید یې له مور سره او عمر یې له لور سره نکاح کول غواړي نو داسي نکاح کول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي داسي نکاح کول صحیح ده او دا په دې آیت کي داخل ده ﴿ وأحل لکم ما وراء ذلکم ﴾ او د حرمت یو وجه هم موجود نه ده.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

که د انجلۍ واده د زید له وروره سر وسو او د انجلۍ د مور واده د زید سره وسو دا روا ده. (فتاوی محمودیه:۱۱/ ۲۸۱). همدا ډول وګورئ: (فتاوی دار العلوم دیوبند:۷/ ۱۷۶ – وامداد الاحکام:۲/ ۲۵۱). والله تعالی اعلم.

د خواښي له بني سره د نکاح کولو حکم

سوال: یو سړی د خپلي خواښي له بني سره نکاح کولای سي او که نه؟ یعني د خواښي بن له محرماتو څخه ده او که نه؟

الجواب: د خواښي له بني سره نکاح کول روا ده ځکه چي د خواښي بن نه د خواښي له فروعاتو څخه ده او نه له اصولو څخه ده بلکي په ﴿ وأحل لکم ما وراء ذلکم ﴾ کي داخل ده .

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

المحرمات بالمصاهرة أربع فرق: الفرقة الأولى :ـ أم الزوجة وجداتها من قبل أبيها وأمها وإن علون، قول الله عز وجل : ﴿ حرمت عليكم أمهاتكم .... وأمهات نسائكم ﴾

وأما الفرقة الثانية :ـ فبنت الزوجة وبناتها وبنات بناتها وبنيها وإن سفلن لقول الله عزوجل: ﴿ وربائبكم اللاتي في حجوركم من نسائكم اللاتي دخلتم بهن ﴾. (بدائع الصنائع:۲/ ۲۵۸، سعید – وکذا فی الفتاوی الهندیة:۱/ ۲۷۴، القسم الثانی المحرمات بالصهریة).

پہ فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د ښځي پہ ژوند کي د خوابني لہ بني سرہ نکاح څنګہ دہ؟

کہ چیري ھغہ انجلۍ کومہ چي بکر پہ نکاح کي دہ د زید د اولي ښځي څخہ نہ وي نو د زید اولہ ښځہ د بکر حقیقي خوابني نہ دہ نو د بکرا نکاح لہ دې سرہ صحیح دہ. پہ درمختار کي راځي: فجاز الجمع بین امرأة وبنت زوجها. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۷/ ۲۲۵، مدل ومکمل). والله ﷻ اعلم.

د بچندر لہ طلاقي سوي ښځي سرہ د نکاح حکم

سوال: دیوہ سړي د ښځي زوی کوم چي لہ بلہ خاوندہ څخہ دئ د ھغہ لہ طلاق سوي ښځي سرہ د نکاح کولو اجازہ ستہ او کہ نہ؟ یعني د بچندر لہ طلاق سوي ښځي سرہ نکاح روا دہ او کہ نہ؟

الجواب: د بچندر لہ طلاق سوي ښځي سرہ نکاح کول روا دي او د حرمت ھیڅ وجہ یې ھم نہ ستہ.

قال الله تعالى: ﴿ وأحل لكم ما وراء ذلكم ﴾. (سورة النساء:الآية:٢٤).

وفي روح المعاني للعلامة الآلوسي البغدادي الحنفي: ﴿ ما وراء ذلكم ﴾ إشارة إلى ما تقدم من المحرمات أي أحل لكم نكاح ما سواهن انفراداً وجمعا. (روح المعاني:٥/ ٤، القاهرة).

پہ فتاوی شامي کي راځي:

قال الخير الرملي: ولا تحرم بنت زوج الأم ولا أمه، ولا أم زوجة الأب ولا بنتها ولا أم زوجة ابن ولا بنتها ولا زوجة الربيب ولا زوجة الراب . (فتاوى الشامي:٣/ ٣١،سعيد).

پہ فتاوی ھندیہ کي راځي:

والثالثة: ـ حليلة الابن وابن الابن وابن البنت وإن سفلوا دخل بها الابن أم لا، ولا تحرم حليلة الابن المتبنى على الأب المتبني هكذا في محيط السرخسي . (الفتاوى الهندية:٢٧٤، القسم الثانى المحرمات بالصهرية – وكذا فى فتح القدير:٣/ ٢١٢، فصل فى بيان المحرمات، دار الفكر).

پہ فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د خپلي ښځي د زوى چي د بل خاوند شخه وي له ښځي سره نكاح كول په موجود والي كي د دې ښځي نكاح صحيح ده يعني جمع كول په منځ د يوې ښځي او د هغې د زوى د ښځي چي د بل خاوند شخه دئ شرعا صحيح دي. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۷/ ۱۵۵). والله تعالى اعلم.

د زوى له خواښي سره د نكاح كولو حكم

سوال: يوې انجلۍ چي د هغې نوم نذيره وه د هغې واده له احمد سره وسو او تر هغه وروسته د نذيرې د مور او پلار تر منځ په طلاق سره جلا والى راغلئ، نو اوس د احمد د پلار نكاح د نذيرې له مور سره صحيح ده او كه نه؟ يعني د خپل زوى له خواښي سره نكاح روا ده او كه نه؟

الجواب: د زوى له خواښي سره نكاح كول صحيح دي.

په فتاوى شامي كي راځي:

قال الخير الرملي: ولا تحرم بنت زوج الأم ولا أمه، ولا أم زوجة الأب ولا بنتها ولا أم زوجة ابن ولا بنتها. (فتاوى الشامى:۳/ ۳۱،سعيد).

په فتح القدير كي راځي:

فلذا أجاز التزويج بأم زوجه الابن وبنتها، وجاز للابن التزوج بأم زوجة الأب وبنتها. (فتح القدير:۳/ ۲۱۱، فصل فى المحرمات، دار الفكر).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

سوال: د زوى له خواښي سره نكاح كول روا دي او كه نه؟

الجواب: هو دا نكاح حلاله ده او حرامه نه ده. (فتاوى رحيميه:۲/ ۱۰۰ – وفتاوى حقانيه:٤/ ۳٥٤). والله تعالى اعلم.

له ميرې سره د زنا كولو شخه د مصاهرت د حرمت حكم

سوال: كه چيري يوه سړي له ميرې سره زنا وكړه نو د مصاهرت حرمت ثابتيږي او كه نه؟ يعني هغه ښځه پر خپل خاوند حراميږي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت کې د مصاهرت حرمت ثابتیږي یعني هغه میره د هغه هلک پر پلار حرامه سوه.

په فتاوی شامي کې راځي:

قال في البحر: أراد بحرمة المصاهرة الحرمات الأربع حرمة المرأة على أصول الزاني وفروعه نسبا ورضاعاً وحرمة أصولها وفروعها على الزاني نسباً ورضاعاً كما في الوطئ الحلال ويحل لأصول الزاني وفروعه أصول المزني بها وفروعها. (فتاوی الشامی:۳/ ۳۲، فصل فی المحرمات، سعید).

په فتح القدير کې راځي:

وثبوت الحرمة بمسها مشروط بأن يصدقها أو يقع في أكبر رأيه صدقها، وعلى هذا ينبغي أن يقال في مسه إياها، لا تحرم على أبيه وابنه إلا أن يصدقاه أو يغلب على ظنهما صدقه. (فتح القدیر:۳/ ۲۲۲، فصل فی بیان المحرمات، دار الفکر).

په فتاوی تاتار خانیه کې راځي:

وتحرم الموطوءة على أصول الواطئ وفروعه، ويحرم على الواطئ أصولها وفروعها وكذلك النظر إلى داخل الفرج بشهوة واللمس بشهوة. (الفتاوی التاتار خانية:۲/ ۶۱۸، اسباب التحريم، ادارة القرآن)

په فتاوی دار العلوم دیوبند کې راځي:

سوال: که چیري یوه سړي د خپلي میرې سره زنا وکړه نو هغه ښځه د هغه سړي پلار ته حلاله ده او که نه؟

الجواب: هغه ښځه د هغه هلک و پلار ته حرامه ده مګر که چیري د زنا ثبوت له شرعي شهادت څخه نه وي او پلار دغه خبره نه منله نو بیا پر پلار دا لازم نه ده چي هغه ښځه جلا کړي او د هغه په حق کې حرمت نه ثابتیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۷/ ۳۴۱). والله تعالیٰ اعلم.

د خاله له خاوند سره د زنا کولو څخه د مصاهرت د حرمت حکم

سوال: که چیري یوې ښځي د خاله له خاوند سره زنا وکړه نو اوس د دواړو د نکاح څه حکم دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د زنا درنه ګناه تر توبه کولو پوري د هغوی پر غاړه ده مګر د دواړو پر نکاح هیڅ اثر نه لویږي او نکاح پر خپل ځای پاتیږي ځکه چي د مصاهرت د حرمت تعلق خالي تر اصولو او فروعو پوري محدود دئ.

وګورئ په فتاوی شامي راځي:

قال في البحر: أراد بحرمة المصاهرة الحرمات الأربع حرمة المرأة على أصول الزاني وفروعه نسبا ورضاعاً وحرمة أصولها وفروعها على الزاني نسباً ورضاعاً كما في الوطئ الحلال ويحل لأصول الزاني وفروعه أصول المزني بها وفروعها. (فتاوى الشامي:۳/ ۳۲، فصل في المحرمات، سعيد). والله ﷻ اعلم.

له خوښيني سره په زنا کولو سره د مصاهرت د حرمت حکم

سوال: دوې خوندي دي او د دواړو واده سوی دئ اوس د کوچني خور خاوند له غټي خور سره په ناروا کار اخته دئ تر داسي وخته چي زنا ته نوبت ورسېدئ نو ایا په داسي حالت کي د ده اصلي ښځه له نکاح څخه وزي او که نه؟ او که چیري هغه له نکاح څخه وزي نو اوس هغه باید څه وکړي، د شریعت په رڼا کي جواب راکړئ؟

الجواب: په دې صورت کي د کوچني خور د خاوند له غټي خور سره زنا کول حرام دي او له دې کړني څخه توبه کول لازم دي او باید چي له غټي خور سره ګرسره اختلاط ونه کړي او له هغې څخه لیري اوسېدل ضروري دي شرعا د دواړو خوندو پر نکاح هیڅ اثر نه لویږي او هر یوه خور د خپل خاوند په نکاح کي ده او په نکاح کي هیڅ تبدل او تغیر نه راځي.

په درمختار کي راځي:

وفي الخلاصة: وطئ أخت امرأته لاتحرم عليه امرأته . وفي الشامي: هذا محترز التقييد بالأصول والفروع وقوله: لاتحرم أي لاتثبت حرمة المصارهرة، فالمعنى: لاتحرم حرمة مؤبدة. (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۳٤، فصل فى المحرمات، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

بحرمة المصاهرة الحرمات الأربع : حرمة المرأة على أصول الزاني وفروعه نسبًا ورضاعًا وحرمة أصولها وفروعها على الزاني نسبًا ورضاعًا كما في الوطء الحلال ويحل لأصول الزاني وفروعه أصول المزني بها وفروعها. (البحر الرائق:۳/ ۱۰۱، فصل فى المحرمات، كوئته).

له خوښيني سره په زنا کولو سره د هغه ښځي پر هغه نه حراميږي ځکه چي د حرمت هيڅ وجه نه ده موجود سوي. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۷/ ٦٤٤ - ۳۲۸ -وفتاوى محموديه:۱۱/ ٤۰۹). والله ﷻ اعلم.

د عمه په شهوت سره مسه کولو د مصاهرت د حرمت حکم

سوال: ديوه سړي عمه پر هغه لاس بېله حايله کښېښوئ او هغه سړي ته په هغه وخت کي شهوت راغلئ نو اوس د دې عمه له لور سره نکاح کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي هغه مس بالشهوت وکړه نو د مصاهرت حرمت ثابت سو نو ځکه د هغې له لور سره نکاح کول روا نه ده په دې شرط چي د هغه شهوت د مصاهرت د حرمت حد ته رسېدلې وي چي د هغه ذکر مخته راځي.

په فتاوى شامي راځي:

وحرم أيضاً بالصهرية.... وأصل ممسوسته بشهوة لأن المس والنظر سبب داع إلى الوطئ فيقام مقامه في موضع الاحتياط، هداية، واستدل لذلك في الفتح بالأحاديث والآثار عن الصحابة والتابعين، قوله بشهوة أي ولو من أحدهما كما.... قوله : بلا حائل لا يمنع

الحرارة أي ولو بحائل إلخ ، فلو كان مانعًا لا تثبت الحرمة ، كذا في أكثر الكتب ، قوله : وأصل ماسته أي بشهوة قال في الفتح : وثبوت الحرمة بلمسها مشروط بأن يصدقها ، ويقع في أكبر رأيه صدقها. (الدر المختار مع الشامی:۳/ ۳۲، فصل فی المحرمات، سعید).

په فتاوی هنديه کي راځي:

القسم الثاني المحرمات بالصهرية: ــ وكما تثبت هذه الحرمة بالوطء تثبت بالمس والتقبيل والنظر إلى الفرج بشهوة ، كذا في الذخيرة،.... ثم لا فرق في ثبوت الحرمة بالمس بين كونه عامدًا أو ناسيًا أو مكرهًا أو مخطئًا ، كذا في فتح القدير، أو نائمًا هكذا في معراج الدراية،....ثم المس إنما يوجب حرمة المصاهرة إذا لم يكن بينهما ثوب ، أما إذا كان بينهما ثوب فإن كان صفيقًا لا يجد الماس حرارة الممسوس لا تثبت حرمة المصاهرة وإن انتشرت آلته بذلك وإن كان رقيقًا بحيث تصل حرارة الممسوس إلى يده تثبت ، كذا في الذخيرة . (الفتاوی الهندية:۱/ ۲۷٤، ۲۷۵، الباب الثالث فی بيان المحرمات).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

که چيري يوه سړي د عمه ښځه په شهوت مچه واخيستله نو د مصاهرت حرمت ثابت سو او د زيد د هغې له لور سره په هيڅ ډول نکاح صحيح نه ده. (فتاوی دار العلوم ديوبند:۷/ ۳٤۱).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

که چيري د انجلۍ پر بدن کالي نه وه او يا کالي وه خو دومره نري وو چي حرارت محسوسېدئ نو د مصاهرت حرمت ثابتيږي. (فتاوی رحيميه:۵/ ۲۵۵).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د جانبينو ښځه که په هريوه کي د مسي په وخت کي شهوت پيدا سي نو د مصاهرت حرمت ثابتيږي. (احسن الفتاوی: ۵/ ۷۵).

د مصاهرت د حرمت د ثابتېدلو له پاره د شهوت حد

سوال: له کومه شهوت څخه چې د مصاهرت حرمت ثابتیږي او نکاح حرامیږي د هغه حد څه دئ؟

الجواب: د شهوت حد په هغه سړي کې چې د هغه صحت داسي وي چې عموما د شهوت په وخت کې انتشار کېدئ دا دئ چې د مسې په وخت کې انتشار راسي او که د مخه څخه انتشار وو نو نور پسي زیات سي او که داسي سړی وو چې د هغه د شهوت په وخت کې عموما انتشار نه راتلی او همدا ډول په ښځه کې د شهوت حد دا دئ چې په زړه کې يې مشوشه حرکت پیدا سي او که د مخه څخه حرکت وو نو نور پسي زیات سي. (احسن الفتاوی:۵/ ۷۶).

په درمختار کې راځي:

والعبرة للشهوة عند المس والنظر لا بعدهما وحدها فيهما تحرك آلته أو زيادته به يفتى وفي امرأة ونحو شيخ كبير تحرك قلبه أو زيادته وفي الجوهرة: لا يشترط في النظر لفرج تحريك آلته به يفتى، هذا إذا لم ينزل فلو أنزل مع مس أو نظر فلا حرمة به يفتي، وفي الشامي: قوله: به يفتى، وقيل: حدها أن يشتهي بقلبه إن لم يكن مشتهيًا أو يزداد إن كان مشتهيًا، ولا يشترط تحرك الآلة وصححه في المحيط والتحفة وفي غاية البيان وعليه الاعتماد والمذهب الأول بحر، قال في الفتح: وفرع عليه ما لو انتشر وطلب امرأةً فأولج بين فخذي بنتها خطأً لا تحرم أمها ما لم يزداد الانتشار، قوله: وفي امرأة ونحو شيخ كبير، قال في الفتح: ثم هذا الحد في حق الشاب أما الشيخ والعنين فحدهما تحرك قلبه أو زيادته إن كان متحركًا لا مجرد ميلان النفس، فإنه يوجد فيمن لا شهوة له أصلًا كالشيخ الفاني، ثم قال: ولم يحدوا الحد المحرم منها أي من المرأة وأقله تحرك القلب على وجه يشوش الخاطر قال ط: ولم أر حكم الخنثى المشكل في الشهوة، ومقتضى معاملته بالأضر أن يجري عليه حكم المرأة.

(الدر المختار مع الشامی:۳/ ۳۳، فصل فی المحرمات، سعید).

په فتاوى هنديه كې راځي:

والشهوة تعتبر عند المس والنظر حتى لو وجدا بغير شهوة ثم اشتهى بعد الترك لا تتعلق به الحرمة وحد الشهوة في الرجل أن تنتشر آلته أو تزداد انتشارًا إن كانت منتشرةً ، كذا في التبيين، وهو الصحيح ، كذا في جواهر الأخلاطي، وبه يفتى ، كذا في الخلاصة، هذا الحد إذا كان شابا قادرًا على الجماع فإن كان شيخًا أو عنينًا فحد الشهوة أن يتحرك قلبه بالاشتهاء إن لم يكن متحركًا قبل ذلك ويزداد الاشتهاء إن كان متحركًا ، كذا في المحيط، وحد الشهوة في النساء والمجبوب هو الاشتهاء بالقلب والتلذذ به إن لم يكن وإن كان فازدياده ، كذا في شرح النقاية للشيخ أبي المكارم، ووجود الشهوة من أحدهما يكفي وشرطه أن لا ينزل حتى لو أنزل عند المس أو النظر لم تثبت به حرمة المصاهرة ، كذا في التبيين، قال الصدر الشهيد وعليه الفتوى ، كذا في الشمني شرح النقاية . (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۷۵، القسم الثانى المحرمات باصهرية). والله ﷻ اعلم.

كه د مسې په وخت كې شهوت نه وو نو د مصاهرت د حرمت حكم

سوال: يوه سړي له عمه ځخه ديوشى داخيستلو په وخت كې د هغې لاس بېل شهوته مسه كړ بيا وروسته يې په زړه كې دغه وسوسه پيدا سوه تر داسې وخته چې شهوت ورته راغلئ نو اوس دغه سړى د دې عمه له لور سره نكاح كولاى سي او كه نه؟ حال دا چې هغه پر دې يقين لري چې د مسې په حالت كې شهوت نه وو نو مهرباني وكړئ جواب راكړئ؟

الجواب: په دې صورت كې مصاهرت د حرمت د نه ثابتوالي له سببه د دې سړي له پاره د عمه د لور سره نكاح روا ده ځكه چې وروسته د شهوت اعتبار نه سته، د مسې په حالت كې د شهوت اعتبار سته هغه نه دئ موجود سوئ.

وګورئ په فتح القدير كې راځي:

وقوله بشهوة في موضع الحال فيفيد اشتراط الشهوة حال المس ، فلو مس بغير شهوة ثم اشتهى عن ذلك المس لا تحرم عليه.(فتح القدير:۳/ ۲۲۲، فصل فی بیان المحرمات، دار الفکر).

په البحر الرائق کي راځي:

والعبرة لوجود الشهوة عند المس والنظر حتى لو وجدا بغير شهوة ثم اشتهى بعد الترك لا تتعلق به حرمة . (البحر الرائق:۳/ ۱۰۱، فصل فی المحرمات، کوئته).

په فتاوی هندیه کي راځي:

والشهوة تعتبر عند المس والنظر حتى لو وجدا بغير شهوة ثم اشتهى بعد الترك لا تتعلق به الحرمة. (الفتاوی الهندية:۱/ ۲۷۵، القسم الثانی: المحرمات بالصهرية – ومثله فی الشامی:۳/ ۳۳، فصل فی المحرمات، سعید). والله ﷻ اعلم.

د رضاعي ناسکه ورور د خور سره د نکاح حکم

سوال: د زید یوې ښځي یوې انجلۍ ته تی ورکړئ د زید د بلي ښځي یو زوی دئ ایا د دواړو نکاح روا ده او که نه؟

الجواب: د زید نسبي زوی او رضاعي لور سره ناسکه رضاعي ورور او خور دي لکه څنګه چي د نسبي ناسکه ورور او خور تر منځ نکاح صحیح نه ده، همدا ډول د رضاعي ورور او خور تر منځ هم روا نه ده.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: يحرم من الرضاعة ما يحرم من الولادة.(رواه البخاری – مشکاة شریف:۲/ ۲۷۳).

په هدایه کي راځي:

ولبن الفحل يتعلق به التحريم وهو أن ترضع المرأة صبية فتحرم هذه الصبية على زوجها وعلى آبائه وأبنائه ويصير الزوج الذي نزل لها منه اللبن أباً للمرضعة . (الهداية:۲/ ۲۵۱).

په فتاوی شامي کي راځي:

و يثبت أبوة زوج مرضعة إذا كان لبنها منه له وإلا لا، فحرم منه مايحرم من النسب رواه الشيخان، قوله أبو زوج مرضعة لبنها منه المراد به اللبن الذي نزل منها بسبب ولادتها من رجل زوج. (الدر المختار مع ردالمحتار:۳/ ۲۱۳، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وهذه الحرمة كما تثبت في جانب الأم تثبت في جانب الأب وهو الفحل الذي نزل اللبن بوطئه كذا في الظهيرية . و يحرم على الرضيع أبواه من الرضاع وأصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جميعًا حتى أن المرضعة لو ولدت من هذا الرجل أو غيره قبل هذا الإرضاع أو بعده أو أرضعت رضيعًا أو ولد لهذا الرجل من غير هذه المرأة قبل هذا الإرضاع أو بعده أو أرضعت امرأة من لبنه رضيعًا فالكل إخوة الرضيع وأخواته وأولادهم أولاد إخوته وأخواته .(الفتاوى الهندية:۱/ ۳٤۳).

د زیات تفصیل له پاره وګوري: (فتاوی محمودیه:۱۱/ ۳۲٤ -۳۲۸). والله ﷻ اعلم.

د حقيقي ورور له رضاعي خور سره د نکاح کولو حکم

سوال: دیوه سړي حقیقي ورور د هغه د خاله تی په کوچني والي کي ورو دئ نو اوس دغه سړی د خاله له لور سره نکاح کولای سي او که نه؟ یعني د حقيقي ورور له رضاعي خور سره نکاح کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې د حقیقي ورور له رضاعي خور سره نکاح روا ده یعنې چاچې شیدې نه دي رودلي د هغه د خاله له لور سره نکاح کولای سي او کوم چاچې د خاله شیدې رودلي دي هغه د خاله له لور سره نکاح نه سي کولای.

په عالمگیري کې راځي:

وتحل أخت أخيه رضاعاً ونسباً مثل الأخ لأب إذا كانت له أخت من أمه يحل لأخيه من أبيه أن تيزوجها كذا في الكافي. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۳۴۳، كتاب الرضاع).

په درمختار کې راځي:

وتحل أخت أخيه رضاعاً يصح اتصاله بالمضاف كأن يكون له أخ نسبي له أخت رضاعية. (الدر المختار: ۳/ ۲۱۷، باب الرضاع، سعيد – وكذا في تبيين الحقائق: ۲/ ۱۸۴، كتاب الرضاع، امداديه وفتاوى محموديه: ۱۱/ ۳۳۷، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

درېیم......... فصل

له کافرانو او گمراهانو سره د نکاح کولو حکم

د مسلماني ښځې له کافر سره د نکاح کولو حکم

سوال: یوې مسلماني ښځې له کافر سره نکاح وکړه نو داسې نکاح په شریعت کې معتبره ده او که نه؟

الجواب: په شریعت کې د مسلماني ښځې نکاح له کافر سره کېدلای نه سي، نو له دې کبله دا نکاح غیر معتبره ده.

قال الله تعالى: ﴿ولا تنكحوا المشركات حتى يؤمن ولأمة مؤمنة خير من مشركة ولو أعجبتكم﴾. (سورة البقرة: الآية: ۲۲۱).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ومنها: ـ إسلام الرجل إذا كانت المرأة مسلمةً فلا يجوز إنكاح المؤمنة الكافر؛ لقوله تعالى: ﴿ ولا تنكحوا المشركين حتى يؤمنوا ﴾، ولأن في إنكاح المؤمنة الكافر خوف وقوع المؤمنة في الكفر؛ لأن الزوج يدعوها إلى دينه، والنساء في العبادات يتبعن الرجال فيما يؤثرون من الأفعال ويقلدونهم في الدين إليه وقعت الإشارة في آخر الآية بقوله عز وجل: ﴿أولئك يدعون إلى النار ﴾. (بدائع الصنائع: ۲/ ۲۷۱، سعید). والله ﷻ اعلم.

د سني هلک له شعیه انجلۍ سره د نکاح کولو حکم

سوال: ایا د سني هلک نکاح له شعیه انجلۍ سره روا ده او که نه؟ او د دې بر عکس څه حکم دئ (چي سني انجلۍ له شعیه هلک سره نکاح کولای سي او که نه)؟

الجواب: کوم شعیه چي د اسلام د قطعیاتو خلاف عقیده لري هغوی کافران دي او له هغوی سره نکاح کول روا او صحیح نه دي، ډېر ځله شعیه په لاندي ډول عقائد لري:

۱_ د حضرت علي رضی الله عنه د الوهیت عقیده.

۲_ پر حضرت عائشه رضی الله عنها تهمت لګول.

۳_ له حضرت جبرئیل علیه السلام څخه د غلطۍ کېدو عقیده.

۴_ د قرآن د تحریف عقیده.

۵_ د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه د صحابیت څخه د انکار عقیده نو ځکه له داسي خلکو څخه چي هغوی کفري عقائد ولري اجتناب لازم دي او د داسي خلکو حکم د مرتد په شیان دئ او له مرتد سره هم نکاح روا نه ده.

همدا ډول فقها وو هغه خلک له اسلام څخه خارج کړي دي کوم څوک چي د کفر عقیده ولري.

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولو قذف عائشةﷺ بالزنى كفر بالله .... من أنكر إمامة أبي بكر الصديق ﷺ، فهو كافر ، وكذلك من أنكر خلافة عمر ﷺ.... ويجب إكفار الروافض في قولهم برجعة الأموات إلى الدنيا ، وبتناسخ الأرواح وبانتقال روح الإله إلى الأئمة، وبقولهم في خروج إمام باطن وبتعطيلهم الأمر والنهي إلى أن يخرج الإمام الباطن، وبقولهم إن جبريل عليه السلام غلط في الوحي إلى محمد ﷺ دون علي بن أبي طالب ﷺ، وهؤلاء القوم خارجون عن الملة الإسلام وأحكامهم أحكام المرتدين، كذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية:۲/ ۲٦٤، الباب التاسع في احكام المرتدين – ومثله الفتاوى التاتار خانية:۵/ ۵۳۸، كتاب احكام المرتدين، ادارة القرآن).

همدا ډول د هغوی په کتابو کي هم ذکر سوي دي چي د هغوی نکاح له سونيانو سره روا نه ده.

وګورئ: په فروع کافي (د شعيه کتاب) کي راځي:

قال أبو عبد الله: لايزوج المؤمن الناصبة ولا يتزوج الناصب المؤمنة .... عن أبي عبد الله قال: سأله أبي وأنا أسمع عن النكاح اليهودية والنصرانية فقال: نكاحهما أحب إلى من نكاح الناصبة. (فروع الكاف:۵/ ۳٤۸-۳۵۱، باب مناكحة النصاب والشكاک).

شعيه سنيانو ته ناصبي وايي، چي په عقائد الشيعة کي راځي:

« والناصب » في عقيدة الشيعة هو الذي يناصب آل البيت العداء، وهم أهل السنة جميعاً، لأنهم حسب معتقد الشيعة، قد ناصبوا أمير المؤمنين العداء واعتصبوا حقه في الخلافة، والخميني يعد أهل السنة من النواصب. (عقائد الشيعة فى الميزان:ص ۱۳۵، عقيدة التولى والتبرى والتواصب... از محمد كامل الهاشمى). والله ﷻ اعلم.

له شعیه یا قادیاني سره د نکاح پر عدم جواز سوال او جواب

سوال: که یوه سړي د قادیاني یا شعیه انجلي سره نکاح وکړه نو دا ولي ناروا ده؟ حال دا چي دا مرتد نه دئ بلکي پلاريې مرتد دئ نو دا د اهل کتاب په حکم کي ولي نه ده؟ حال دا چي په ښکاره قرآن او حديث هم مني او کتابي يې بالکل نه مني؟

الجواب: اهل کتاب هغه دي چي د اسلام دين نه مني او عيسايي يا يهودي وي مګر کوم خلک چي خپل ځانونه د اسلام يو فرقه بولي د اسلام بيخ کاږي داسي خلکو ته زنديق وايي، له هغو سره د نکاح کولو اجازه نه سته زنديق او ملحد له اهل کتاب څخه جلا دي، همدا ډول علماوو د شعيه او قاديانيانو د عقائدو تحقيق وکړئ او هغه يې مرتدين وبلل او له مرتد سره نکاح روا نه ده.

په فتاوی هنديه کي راځي:

وكل من يعتقد دينًا سماويا وله كتاب منزل كصحف إبراهيم عليه السلام وشيث وزبور داود عليه السلام فهو من أهل الكتاب فتجوز مناكحتهم وأكل ذبائحهم ، كذا في التبيين .

(الفتاوی الهندية: القسم الرابع المحرمات بالشرک:۱/ ۲۸۱)

له ګمراه فرقوه سره نکاح روا نه ده. وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

لا يجوز نكاح المجوسيات ولا الوثنيات .... ويدخل في عبدة الأوثان عبدة الشمس والنجوم والصور التي استحسنوها والمعطلة والزنادقة، والباطنية والإباحية وكل مذهب يكفر به معتقده ، كذا في فتح القدير .(الفتاوی الهندية: القسم الرابع المحرمات بالشرک:۱/ ۲۸۱).

همدا ډول ذکر سوی دي:

ولو قذف عائشةؓ بالزنى كفر بالله .... من أنكر إمامة أبي بكر الصديق ؓ، فهو كافر ، وكذلك من أنكر خلافة عمر ؓ.... ويجب إكفار الروافض في قولهم برجعة الأموات إلى الدنيا ، وبتناسخ الأرواح وبانتقال روح الإله إلى الأئمة، وبقولهم في خروج إمام باطن

وبتعطيلهم الأمر والنهي إلى أن يخرج الإمام الباطن، وبقولهم إن جبريل عليه السلام غلط في الوحي إلى محمد ﷺ دون علي بن أبي طالب رضي الله عنه، وهؤلاء القوم خارجون عن الملة الإسلام وأحكامهم أحكام المرتدين، كذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية: ۲/ ۲٦٤، الباب التاسع فی احکام المرتدین – ومثله الفتاوی التاتار خانیة: ٥/ ٥٣٨، کتاب احکام المرتدين، ادارة القرآن).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

کوم خلک چي له اسلام څخه د قادیانیت طرفته تللي دي هغوی خو مرتد دي او له هغوی سره د نکاح د جواز هيڅ سوال نه پيدا کيږي مګر کوم خلک چي نسلي قاديانيان دي هغوی هم زنديق او بې دين دي او له هغوی سره هم نکاح روا نه ده، پر دې بناء فقهاوو له اهل قبله کېدو سره د نکاح جواز ورکړی نه دئ ((المناکحة بين اهل السنة وهل الاعتزال لايجوز)) نو ځکه قاديانيان د اهل کتاب په حکم کي نه دي بلکي هغوی زنديق دي او له هغوی سره هيڅ ډول واده کول روا نه دئ. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۲۸٦).

په احسن الفتاوی کي راځي:

شيعه ښځه مسلمان نارينه ته روا نه ده ځکه چي شيعه کافر دئ، د ځنيو په نزد د شيعه اهل کتاب دئ سره له دې په لاندي وجوهو له شيعه ښځي سره نکاح روا نه ده.

۱_ اکثر علماء شيعه اهل کتاب نه بولي نو ځکه احتياط واجب دئ.

۲_ د هغوی په نزد خالي هغه شيعه اهل کتاب دئ چي د هغو پلار او نيکه هم شيعه وي که چيري يو مسلمان شيعه سوی وو نو هغه او د هغه اولاد د اهل کتاب په حکم کي نه دي بلکي مرتد دي او له داسي ښځي سره نکاح حرامه ده که چيري له شيعه ښځي سره د نکاح اجازه وسوه نو بيله دې تحقيقه چي دغه شيعه ښځه له اهل کتاب څخه وي او يا مرتده ده نکاح کيږي همدا ډول به د حرامو کارو دروازه خلاصيږي.

۳_ د عوام اکثره خلک له پخوا څخه شيعه مسلمانان بولي د عوامو په نزد له شيعه ښځي سره نکاح کول روا دي نو په دې کي هيڅ ليری والی نه سته چي جاهلان خلک د مسلماني ښځي نکاح له

شعيه سره وکړي کوم چي قطعا حرامه ده شعيه په مسلمان بللو کي نور هم زيات مفاسد دي له منږ سره په دېر تعلق کي پر ايمان باندي خطره دئ. د دې وجوهاتو پر بناء له شعيه ښځي سره هيڅکله نکاح روا نه ده. .(احسن الفتاوی: ۵/ ۹۰). د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۰/ ۳۳۰ – وفتاوی فريديه: ٤/ ٤٧٦-٤٧٩). والله اعلم.

له کمونستانو سره د نکاح کولو حکم

سوال: په شريعت کي له کمونستانو سره د نکاح کولو اجازه سته او که نه؟

الجواب: دغه خلک له فکره او اعتقاد څخه نيولې بيا تر معشيت پوري په هر باب کي مستقل نظام لري، د هغوی فکر الحاد او له آخرت څخه انکار دئ په داسي ډول چي سړی په دې ټولو نظرياتو سره کمونست وي شخصي ملکيت له قرآن او حديث څخه معلوم دئ هغه نه مسلمان دئ او نه د هغه شمار له اهل کتاب څخه کېدلای سي هغه د کافرانو په ګوند کي داخل دي او له هغو سره نکاح مطلق روا نه ده او هغوی له شخصي ملکيت څخه هم منکر دي حال دا چي له دې څخه انکار له قرآن او حديث څخه انکار کول دي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

لا يجوز نكاح المجوسيات ولا الوثنيات .... والمعطلة والزنادقة، والباطنية والإباحية وكل مذهب يكفر به معتقده ، كذا في فتح القدير .(الفتاوى الهندية: القسم الرابع المحرمات بالشرك:١/ ٢٨١).

فقيه الامت حضرت مولانا مفتي محمود حسن صاحب ګنګوهي رحمه الله په فتاوی محموديه کي ليکلي دي:

د دې فرقي شروع له دين او خدای څخه پر بغاوت باندي ده همدا ډول د اعتقاد په اعتبار صراحة د اسلام خلاف دي پر دغو فرقو باندي د بحث په وخت کي په ((حكم اسلام فی الاشتراكيه)) کي مصنف ليکلي دي:

« إن العقيدة الأساسية للنظام الاشتراكي هي العقيدة المادية التي تقول: إن المادة هي أصل الأشياء، ولاشيء لغير المادة، وهذا يعني إنكار وجود الخالق العظيم سبحانه وتعالى، وبالتالى إنكار كل دين سماوي واعتبارها الإيمان بذلك أفيوناً يخدر الشعوب ». ص ۱۱۹،

(فتاوی محمودیه:۲/ ۱۳۶، مبوب ومرتب).

له هندو ښځي سره نکاح کول باطل دي؟

سوال: که چیري یوه سړی له هندو ښځي سره نکاح وکړه د دې څه حکم دئ؟

الجواب: له هندو ښځي سره د مسلمانانو نکاح باطل ده له دې نکاح څخه جلا والي په کار دئ او اولاد هم ثابت النسب نه دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قلت وفي: مجمع الفتاوى: نكح كافر مسلمة فولدت منه لا يثبت النسب منه ولا تجب العدة لأنه نكاح باطل. قوله لأنه نكاح باطل أي فالوطئ فيه زنا، لا يثبت به النسب، بخلاف الفاسد فإنه وطئ بشبهة فيثبت به النسب ولذا تكون بالفاسد فراشاً لا بالباطل. (الدر المختار مع الشامی:۳/ ۵۵۵، سعید).

په مبسوط کي راځي:

قال: وإذا تزوج الذمي مسلمةً فرق بينهما لقوله تعالى ﴿ ولا تنكحوا المشركين حتى يؤمنوا ﴾، وإن أسلم بعد النكاح لم يترك على نكاحه ؛ لأن أصل النكاح كان باطلًا فبالإسلام لا ينقلب صحيحًا. (المبسوط للامام السرخسی:۵/ ۴۵).

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي المحيط: تزوج ذمي مسلمة فرق بينهما. (فتاوی الشامی:۲/ ۱۳۲، سعید).

په عالمګیري کي راځي:

لا يجوز نكاح المجوسيات ولا الوثنيات وسواء في ذلك الحرائر منهن والإماء، كذا في السراج الوهاج. ويدخل في عبدة الأوثان عبدة الشمس والنجوم والصور التي استحسنوها... وكل مذهب يكفر به معتقده، كذا في فتح القدير. (الفتاوى الهندية: القسم الرابع المحرمات بالشرك: ۱/ ۲۸۱). والله ﷻ اعلم.

د فاسدي او باطلې نکاح تر منځ فرق

سوال: د فاسدې او باطلې نکاح تر منځ څه فرق دئ؟

الجواب: باطله نکاح هغه ده چې په هغې کې د عقد محل نيستي وي او په فاسده نکاح کې د عقد محل موجود وي مګر د نکاح له شرائطو څخه يو مفقود وي. د علامه سيد احمد طحطاوي رحمه الله له مثالو څخه هم دغه سبق زده کيږي، همدا ډول د حضرت مفتي رشيد احمد صاحب د فتوی دغه خلاصه ده، که داسې نه وي نو د فقهاوو تر منځ سخت اختلاف دئ. علامه شامي رحمه الله په څو ځايو کې د هغو د اختلافاتو ذکر کړی دئ. په ځيني ځايو کې يې عدم فرق فرمايلي دئ په دې مسئله کې د علامه طحطاوي عبارت واضح دئ چې هغه يې اختيار کړی دئ.

وګورئ په طحطاوي کې راځي:

وعدة المنكوحة نكاحاً فاسداً كنكاح بغير شهود، فلا عدة في باطل مثاله: تزوج المتزوجة عالماً بذلك. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ۲/ ۲۲۱).

له پورتنيو عبارتونو څخه معلوميږي چې بېله شاهدانو نکاح فاسده ده ځکه چې محل موجود دئ مګر د نکاح شرط مفقود دئ چې هغه دوه شاهدان دي او له واده سوې ښځې سره چې بل خاوند يې ژوندی وي نکاح باطله ده ځکه چې دلته محل مفقود دئ، همدا ډول د مجمع الفتاوی او مبسوط له عبارتو څخه هم واضحه سوه چې د کافرې ښځې له مسلمان سره نکاح باطله ده او د زنا په حکم کې ده، ځکه چې محل مفقود دئ.

په فتاوی شامي کې راځي:

ويجب مهر المثل في نكاح فاسد وهو الذي فقد شرطًا من شرائط الصحة كشهود ومثله تزوج الأختين معاً ونكاح الأخت في عدة الأخت ونكاح المعتدة والخامسة في عدة الرابعة.... عن مجمع الفتاوى: نكاح كافر مسلمة فولدت منه لايثبت النسب منه و لاتجب العدة لأنه نكاح باطل..... (فتاوى الشامي:۳/ ۱۳۲).

په مبسوط کي راځي:

قال: وإذا تزوج الذمي مسلمةً فرق بينهما لقوله تعالى: ﴿ ولا تنكحوا المشركين حتى يؤمنوا ﴾، وإن أسلم بعد النكاح لم يترك على نكاحه؛ لأن أصل النكاح كان باطلًا فبالإسلام لا ينقلب صحيحًا. (المبسوط للامام السرخسي:۵/ ۴۵).

په احسن الفتاوی کي راځي:

حاصل دا چي د باطلي او فاسدي نكاح تعريف انسان په عبارت کي په فکر کولو سره پېژني مثلا که چيري محل نه وو هغه باطله ده او که شرط نه وو نو هغه فاسده ده ((كنكاح منكوحة الغير مع العلم بأنها متزوجة)) ځکه چي په يوه وخت کي د دوو ملکو جمع نامکنه ده مګر که چيري د نکاح د عقد محل موجود وه خو شرط يې مفقود وو نو دا نکاح فاسد ده لکه نکاح د محارمو دغه تعريف د بيع باطلي او فاسدي سره هم نژدې دئ له دې ځخه پرته د فقهاوو له عبارتو ځخه هم تائيد کړل سوی دئ. (احسن الفتاوی: ۵/ ۶۲-۶۴). والله ﷻ اعلم.

د ښځي له خور (له خوښيني) سره په نکاح کولو کي د فساد د نکاح حکم

سوال: که چيري يوه سړي د ښځي له خور سره نکاح وکړه نو دا نکاح فاسده ده او که باطله؟ بيا له هغه ځخه اولاد ثابت النسب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري منکوحه د نکاح محل نه وه يعني د بل چا په زوجيت کي وه، نو نکاح باطله ده او که چيري د بل چا په زوجيت کي نه وه نو که څه هم نکاح حرامه ده مګر فاسده ده او اولاد هم ثابت النسب دئ.

وګورئ په فتاوى شامي کي راځي:

و يجب مهر المثل في النكاح الفاسد وهو الذي فقد شرطاً من شرائط الصحة كشهود ومثله تزوج الأختين. (فتاوى الشامى:۳/ ۱۳۲).

- **په طحطاوي کي راځي:**

وعدة المنكوحة نكاحاً فاسداً كنكاح بغير شهود، فلا عدة في باطل مثاله: تزوج المتزوجة عالماً بذلك. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۲۱۱).

په درمختار کي راځي:

(وعدة المنكوحة نكاحاً فاسداً) فلا عدة في باطل وكذا موقوف قبل الإجازة، اختيار، لكن الصواب ثبوت العدة والنسب، بحر. (الدر المختار مع الشامى:۳/ ۵۶۷، سعيد).

په فتاوى عالمګيري کي راځي:

رجل مسلم تزوج بمحارمه فجئن بأولاد يثبت نسب الأولاد منه عند أبي حنيفة رحمه الله خلافًا لهما بناءً على أن النكاح فاسد عند أبي حنيفة رحمه الله باطل عندهما كذا في الظهيرية.

(الفتاوى الهندية:۱/ ۵۴۰، باب ثبوت النسب). والله تعالى اعلم.

له کتابيانو سره دنکاح کولو حکم

سوال: کتابيان له کوم چا سره چي نکاح روا ده نن سبا په کوم جماعت کي شامل دي او څه حکم يې دئ؟

الجواب: د موجوده زمانې اهل کتابو سره نکاح کول مکروه ده که څه هم د نفس جواز انکار نه سته مګر په هغوی کي زنا او د فحاشي دومره زيات کثرت دئ چي هغه سړی واوري نو د انسان پر تندي

خوله راځي او هغو ګويا حيواناتو هم شا ته کړي دي نو ځکه له هغوی سره نکاح نه کول افضل او اولی دي.

همدا ډول له کتابيانو څخه هغه مراد دي کوم چي د سماوي دين انکار نه کوي مګر کوم څوک چي انکار کوي له هغوی سره نکاح بالکل ناروا او حرام ده.

حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه دغه نکاح ناخوښه کړې ده او د طلاق ورکولو امريې ورته وکړئ.

وګورئ په مصنف ابن ابی شيبه کي راځي:

عن شقيق قال: تزوج حذيفة رضي الله عنه يهوديةً فكتب إليه عمر رضي الله عنه: أن خل سبيلها، فكتب إليه: إن كانت حرامًا فخليت سبيلها، فكتب إليه: إني لا أزعم أنها حرام، ولكني أخاف أن تعاطوا المومسات منهن. (مصنف ابن ابی شيبة:۹/ ۸۵/ ۱٦٤۱۷، باب من كان يكره النكاح فی اهل الكتاب، المجلس العلمی).

وأخرج الطبراني برواية ابن عباس رضي الله عنه قال: وقد نكح طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه يهوديةً، ونكح حذيفة بن اليمان رضي الله عنه نصرانيةً فغضب عمر بن الخطاب رضي الله عنه غضبًا شديدًا حتى هم أن يسطو عليهما، فقالا: نحن نطلق ولا تغضب، فقال عمر رضي الله عنه: لئن حل طلاقهن، حل نكاحهن، ولكن أنتزعهن صخرةً قماة. (رواه الطبرانی فی الكبير:۱۲/ ۱۳۰۱۳، مكتبة العلوم والحكم).

همدا ډول نور اثار هم پر کراهت دلالت کوي وګورئ:

عن عبد الملك قال: سألت عطاءً عن نكاح اليهوديات والنصرانيات؟ فكرهه، وقال: كان ذلك والمسلمات قليل.

عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنه أنه كان يكره نكاح نساء أهل الكتاب، ولا يرى بطعامهن بأسًا.

عن ميمون بن مهران، عن ابن عمر رضي الله عنه أنه كره نكاح نساء أهل الكتاب وقرأ: ﴿ولا تنكحوا المشركات حتى يؤمن﴾. (مصنف ابن أبي شيبة: ۹/ ۸۵، من كان يكره النكاح في اهل الكتاب، المجلس العلمي).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

ويجوز للمسلم نكاح الكتابية الحربية والذمية حرةً كانت أو أمةً، كذا في محيط السرخسي، والأولى أن لا يفعل .... وكل من يعتقد دينًا سماويا وله كتاب منزل كصحف إبراهيم عليه السلام وشيث وزبور داود عليه السلام فهو من أهل الكتاب فتجوز مناكحتهم. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۹۱).

مولانا شبیر احمد عثماني رحمة الله عليه فرمايي:

د اهل کتابو له یوه مخصوص حکم سره يې يو بل مخصوص حکم بيان کړي يعني دا چي له کتابي ښځي سره نکاح کول روا دي مګر له مشرکي سره اجازه نه سته. ﴿ولا تنكحوا المشركات حتى يؤمن﴾. (سورة البقرة: الآية: ۲۲۱).

مګر دا خبره ياد ولره چي زموږ د زمانې نصاری عموما په نامه نصاری دي، په هغوی کي په کثرت هغه خلک دي چي نه د يوه اسماني کتاب قائل دي او نه د خدای جل جلاله، پر هغوی د اهل کتاب اطلاق نه سي کېدلای نو ځکه د هغوی د ذبيحي او د ښځو حکم د اهل کتاب په شان نه دئ همدا ډول دغه خبره بايد لحاظ کړل سي چي د يوه شي د حلال ليدلو معنا دا ده چي په هغه کي في حد ذاته يو وجه د تحريم نه وي، مګر که چيري خارجي اثرات او حالت داسي وو چي له دغه حلال شخه د فائدې د اخيستلو په وخت کي د ډېرو حرامو ارتکاب راتلئ بلکي په کفر کي د مبتلاء کېدو احتمال وي نو له داسي حلال شخه د نفعي اخيستلو اجازه نه سته. نن سبا له نصاراوو سره خوراک او څښاک بېله ضرورته اختلاط کول او د هغوی د ښځو په جال کي پساوېدل هغه شيان دي کوم چي خطرناکي

نتيجې ورکوي . او دا خبري پټې نه دي نو ځکه له بدو او بد ديني د اسبابو څخه اجتناب او پرهېز کول په کار دي. (تفسير عثماني: ص ۱٤۲).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی محموديه: ۱۱/ ٤۵۰ – جديد فقهي مسائل: ۱/ ۲۸٤- وفتاوی دار العلوم ديوبند: ۲/ ۲۱۳). والله ﷻ اعلم.

له مطلق کافر سره د نکاح کولو ممانعت

سوال: د مسلماني ښځي نکاح له نصراني يا يهودي سره کېدلای نه سي ځيني خلک د دې دليل له قرآن کريم څخه غواړي په قرآن کريم کي راځي:

﴿ ولا تنكحوا المشركين حتى يؤمنوا ولعبد مؤمن خير من مشرك ﴾. (سورة البقرة)

په آيت کي خو دغه سي وارد سوي دي مګر يو داسي آيت سته چي په هغه کي له يهودي، نصراني او کافر سره هم د نکاح ممانعت وي؟

الجواب: الله تعالی فرمايي: ﴿ فإن علمتموهن مؤمنات فلا ترجعوهن إلى الكفار لا هن حل لهم ولا هم يحلون لهن ﴾. (سورة الممتحنة: الآية: ۱۰).

په دې آيت کي د کفارو له پاره د مسلمانو ښځو د نه روالي ښکاره او صفا ذکر سوی دئ کافر عام دئ که مشرک وي او که يهودي يا نصراني يا هندو وي ټولو ته شامل دي.

په تفسير قرطبي کي راځي:

أي لم يحل الله مؤمنة لكافر. (تفسير قرطبي: ۱۳/ ٤۳).

په احکام القرآن کي راځي:

وروى الشيباني عن السفاح بن مطر عن داود بن كردوس قال: كان رجل من بنى تغلب نصراني عنده امرأة من بنى تميم نصرانية فأسلمت المرأة وأبى الزوج أن يسلم ففرق عمر ﷺ بينهما. (احکام القرآن للجصاص: ۳/ ٤۳۸).

.په فتاوی محموديه کي راځي:

د مسلماني انجلۍ واده له غیر مذهب والا سره قطعا حرام دئ دغه نکاح نه ده بلکې حرام کاري او زنا کاري ده کوم پلار چې د خپلې لور واده داسې ځای کوي هغه بې غیرته او دیوث دئ . هغه د قرآن حکم مات کړی دئ ځکه په قرآن کریم کې صاف ذکر سوی دي. ﴿ لا هن حل لهم ولا هم یحلون لهن ﴾. (سورة الممتحنة: الآیة: ۱۰). (فتاوی محمودیه: ۱۱/ ٤٤٨). والله تعالی اعلم.



قال رسول الله ﷺ: ثلاث یا علي لاتؤخر هن الصلاة إذا آنت والجنازة إذا حضرت والأیم إذا وجدت لها کفوا». (المستدرک للحاکم).

دریم .... باب

في الأولیاء والأکفاء

قال رسول الله ﷺ: « الأیم أحق بنفسها من ولیها» (مسلم شریف).

اول فصل د نکاح د ولایت بیان

د عاقلې بالغې انجلۍ په خپله رضا د نکاح کولو حکم

سوال: یوه انجلۍ بالغه ده هغه په خپله له یو بالغ هلک سره نکاح کول غواړي مګر د هغې انجلۍ مور او پلار راضي نه دي او والدین یې غواړي چې د خپلې لور نکاح له دې هلک سره ونه کړي نو ایا دغه بالغه انجلۍ په خپله رضا نکاح کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې دغه بالغه انجلۍ د خپلې نکاح په خپله مختاره ده یعني هغه دا اختیار لري چې خپله نکاح په خپله وکړي او د مور او پلار یا د ولي اجازه ضروري نه ده، همدا ډول بېله شرعي وجې مور او پلار هم باید په دې راضي سي مګر که چیري له یوې شرعي وجې څخه اعتراض

وکړي مثلا په داسي خلکو کي يې نکاح وکړه چي هغه ورسره برابر نه وه نو بيا مور او پلار يا ولي ته د فسخي حق سته.

وګورئ په تبيين الحقائق کي راځي:

(نفذ نكاح حرة مكلفة بلا ولي) ، وهذا عند أبي حنيفة رحمه الله، وأبي يوسف رحمه الله، في ظاهر الرواية وكان أبو يوسف رحمه الله، أولًا يقول: إنه لا ينعقد إلا بولي إذا كان لها ولي ، ثم رجع وقال : إن كان الزوج كفوءا لها جاز وإلا فلا ، ثم رجع وقال : جاز سواء كان الزوج كفئًا أو لم يكن. (تبيين الحقائق:۲/ ۱۱۷، باب الاولياء والاكفاء، ملتان).

په فتاوی شامي کي راځي:

فنفذ نكاح حرة مكلفة بلا رضا ولي والأصل أن كل من تصرف في ماله تصرف في نفسه وما لا فلا. (ردالمحتار:۳/ ۵۵، سعيد ومثله فی در الحكام شرح غرر الاحكام، الجزء الاول، تحت باب الولی والاكفاء).

په مبسوط کي راځي:

ألا ترى أنها لو زوجت نفسها طائعةً من غير كفؤ كان للأولياء حق الاعتراض ، فهنا أيضًا لم يوجد من الأولياء الرضا بسقوط حقهم في الكفاءة ، والزوج لا يتمكن من إزالة عدم الكفاءة ، فيكون للأولياء أن يفرقوا بينهما سواء رضي بأن يتم لها مهر مثلها ، أو لم يرض بذلك . (المبسوط للامام السرخسی، الجزء الرابع والعشرون).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

په دې صورت کي چي کله هلک او انجلۍ بالغ وي او د خاندان او کسب په لحاظ هلک شا ته او لوېدلی نه وي چي هغه د انجلۍ د مور او پلار له پاره د عيب سبب سي نو که مور او پلار رضا وي او

که نه د دواړو نکاح صحیح ده او بېله شرعي عذره باید مور او پلار ناراضه نه سي او نکاح دي وکړي که داسي ونه کړي نو بیا مور او پلار گناه کار دي.

په حدیث شریف کي راځي:

«من ولد له ولد فليحسن اسمه وأدبه فإذا بلغ فليزوجه فإن بلغ ولم يزوجه فأصاب إثماً فإنما إثمه على أبيه». (مشکوة شریف:۲۷، کتاب النکاح).

او نبي کریم ﷺ فرمایل:

« إذا خطب إليكم من ترضون دينه وخلقه فزوجوه أن لاتفعلوه تكن فتنة في الأرض وفساد عريض». (مشکوة شریف:۲۶۷، کتاب النکاح). (فتاوی رحیمیه:۵/ ۲۵۷). والله ﷻ اعلم.

د نوي مسلماني ښځي په نکاح کي د غیر مسلم د ولایت حکم

سوال: یوه ښځه اوس مسلمانه سوې ده او له مسلمان سره د نکاح کولو اراده لري او د هغې ورور او پلار کافران دي ایا د دې ښځي په نکاح کي ورور یا پلار ولي جوړېدلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مسلماني په نکاح کي کافر ولي جوړېدلای نه سي مگر د کافر وکالت صحیح دئ بیا که چیري نوي مسلماني ښځي خپل کافر ورور یا پلار د خپلي نکاح وکیل جوړ کړئ او هغه د دوو مسلمانو شاهدانو په مخکي نکاح وتړله نو دا صحیح ده که څه هم عاقله او بالغه ښځه بېله ولي خپله نکاح کولای سي.

وگورئ په هدایه کي راځي:

وينعقد نكاح الحرة العاقلة البالغة برضاها وإن لم يعقد عليها ولى بكراً كانت أو ثيباً عند أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله في ظاهر الرواية .... وفيه: لا ولاية لكافر على مسلم لقوله تعالى: ﴿ ولن يجعل الله للكافرين على المؤمنين سبيلاً ﴾. ولهذا لاتقبل شهادته عليه ولايتوارثان.(الهداي:۲/ ۳۱۸، باب الاولیا والاکفاء).

په درمختار کي راځي:

والولي فى النكاح العصبة بنفسه بشرط حرية وتكليف وإسلام فى حق مسلمة تريد التزوج. وفي الشامي: قوله تريد التزوج أشار إلى أن المراد بالمسلمة البالغة حيث أسند التزوج إليها .... وعلى ما قلنا فإذا زوجت المسلمة نفسها وكان لها أخ أو عم كافر، فليس له حق الاعتراض لأنه لا ولاية له،.... وإذا سقطت ولاية الأب الكافر على ولده المسلم، فبالأولى سقوط حق الاعتراض على أخته المسلمة أو بنت أخيه. (الدر المختار مع الشامى:۳/ ۷٦، باب الولى، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية:۱/ ۲۸٤، الباب الرابع في الاولياء).

په مجموعه قوانين اسلامي كي راځي:

دولي له پاره دا شرط دئ چي هغه مسلمان عاقل او بالغ وي كه نر وي او كه ښځه. (مجموعه قوانين اسلام:ص ۷۲).

إن الوكيل في النكاح معبر وسفير والتمانع في الحقوق دون التعبير ولا ترجع الحقوق إليه بخلاف البيع لأنه مباشر حتى رجعت الحقوق إليه. (البحر الرائق:۳/ ۱۳٦، فصل فى الوكالة، كوئته).

په فتاوى محموديه كي راځي:

دولي او وكيل ترمنځ فرق سته په نكاح كي دوكيل كار خالي دالفاظو تعبير كول دي او اصل ايجاب او قبول دزوجينو وي. والله اعلم.

كه ولي نه وو نو كافر قاضي دولي دمقرر كولو حكم

سوال: كه چيري دبالغه يا نابالغه يو شرعي ولي نه وو نو ايا كافر قاضي يو مسلمان دهغې ولي مقررولاى سي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي كافر قاضي دمسلماني انجلي له پاره ولي مقرر كولاى سي لكه كافر حاكم دمسلمانانو له پاره قاضي مقرر كولاى سي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

ويجوز تقلد القضاء من السلطان العادل والجائر ولو كان كافراً. وفي الشامي: قوله ولو كان كافراً في التاتار خانية: الإسلام ليس بشرط فيه. (الدر المختار مع الشامى:٥/ ٣٦٨، كتاب القضاء، سعيد). والله ﷻ اعلم.

دوهم ......فصل

د برابرۍ معيار

سوال: په کومو شيانو کي چي د برابرۍ اعتبار دئ هغه څه شي دي (د برابرۍ اندازه څه ده)؟

الجواب: د احنافو د مذهب مطابق په شپږو (٦) شيانو کي د برابرۍ اعتبار کيږي چي هغه علامه حموي رحمه الله په شعر کي فرمايلي دي.

إن الكفاءة في النكاح تكون في ... ست لها بيت بديع قد ضبط

نسب وإسلام كذلك حرفة ... حرية وديانة مال فقط

په هدايه کي راځي:

الكفاءة في النكاح معتبرة قال عليه الصلاة والسلام: « ألا لا يزوج النساء إلا الأولياء ولا يزوجن إلا من الأكفاء.... ثم الكفاءة تعتبر في النسب.... فقريش بعضهم أكفاء لبعض والعرب بعضهم أكفاء لبعض .... بعضهم أكفاء لبعض .... والكفاءة في الحرية .... وتعتبر أيضا في الدين أي الديانة وهذا قول أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله هو الصحيح لأنه من أعلى المناخر والمرأة تعير بفسق الزوج فوق ما تعير بضعة نسبه .... وتعتبر في الصنائع.... وعن أبي يوسف رحمه الله أنه لايعتبر إلا أن يفحش كالحجام والحائك والدباغ.

(الهداية:٢/ ٣٢١،٣٢٠، باب الاولياء والاكفاء).

په فتاوى عالمگيري كي راځي:

الكفاءة تعتبر في أشياء منها النسب.... ومنها إسلام الآباء من أسلم بنفسه وليس له أب في الإسلام لا يكون كفئًا لمن له أب واحد في الإسلام، كذا في فتاوى قاضي خان، ومن له أب واحد في الإسلام؛ لا يكون كفئًا لمن له أبوان فصاعدًا في الإسلام، كذا في البدائع، والذي أسلم بنفسه لا يكون كفئًا للتي لها أبوان أو ثلاثة في الإسلام ويكون كفئًا لمثله هذا إذا كان في موضع قد تباعد عهد الإسلام وطال، وأما إذا كان العهد قريبًا بحيث لا يعير ولا يكون ذلك عيبًا فإنه يكون كفئًا، كذا في السراج الوهاج .... ومنها الحرية.... ومنها الكفاءة في المال.... ومنها الديانة... ومنها الحرفة. (الفتاوى الهندية: ١/ ٢٩٠، ٢٩١، الباب الخامس في الاكفاء).

په مجموعه قوانين اسلامي كي راځي:

په شرعي اصطلاح كي په څو امورو كي د خاوند له ښځي سره برابري كېدل كفائت دئ. د كفائت اعتبار په لاندي شيانو كي كيږي.

١_ چي هلك په ديندارى كي له انجلۍ سره برابر وي.

٢_ دا دئ چي په ماليت كي سره برابر وي.

الف_ خاوند د ښځي د حيثيت مطابق پر نفقه قادر وي.

باء_ د دواړو په مالي حيثيت كي داسي فرق نه وي كوم چي د انجلۍ له پاره د عيب باعث وي.

٣_ په نسب كي د كفائت اعتبار، په عربو كي خاص بيا په قريشو كي او د عجمو په هغو خاندانو كي چي كوم چا چي خپل نسب محفوظ ساتلى وي پاته ټول عجم يو د بل كفو دي. د دې اصولو په نظر كي نيولو سره انجلۍ د خپل ولي كړي نكاح فسخه كولاى سي.

په كار او پيشه كي د فرق په سبب انجلۍ يا د هغې ولي نكاح نه سي فسخ كولاى مگر دا چي يو كار په معاشره كي ډېر كښته وي.

١

نوی مسلمان او خانداني مسلمان یو د بل سره برابر دي.

أن أبا حنيفة رحمه الله و صاحبيه رحمهما الله اتفقوا أن الإسلام لا يكون معتبرًا في حق العرب؛ لأنهم لا يتفاخرون به، وإنما يتفاخرون بالنسب، فعلى هذا لو تزوج عربي له أب كافر بعربية لها آباء في الإسلام فهو كفوء. (البحر الرائق: ۳/ ۱۳۲).

دا حکم د اهل عربو په اړه دئ او اهل عجم له دې څخه یو څه مختلیف دي.

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د عجمیانو په اړه تفصیل دا دئ چي کوم چا په خپله اسلام قبول کړی وي او د هغه مور او پلار کافر وي او د چا چي مور او پلار کافر وي او په خپله مسلمان وي هغه د امام صاحب او امام محمد رحمه الله په نزد داسي سړي برابر نه دي چي د هغه خاندان له دوو پښتو څخه مسلمانان وي. (جدید فقهی مسائل: ۳/ ۷۵).

د کفائت په باب کي د سړي له ښځي سره برابري ضروري ده او د ښځي له نارینه سره برابري ضروري نه ده. د کفائت اعتبار د نکاح په وخت کي کیږي که چیري خاوند د نکاح په وخت کي ورسره برابر وو او وروسته هغه برابري ختمه سوه نو د نکاح د فسخه کولو اختیار نه لري.

د زیات تفصیل له پاره وګوري: (جدید فقهی مسائل: ۶۳-۱۰۵ د کفائت په مسئله یو نظر). والله تعالیٰ اعلم.

د ازادي او بالغي نکاح په غیر کفو کي د کولو حکم

سوال: که مسلمانه، بالغه او عاقله انجلۍ د ولي د اجازې په غیر کفو کي نکاح وکړي نو ایا اولیاوو ته پر هغه د اعتراض حق سته او که نه؟ او ایا دغه نکاح منعقده سوه او که نه؟ حال دا چي ډېر علماء دغه باطله بولي؟

الجواب: په دې صورت کي د ظاهر روایت سره سم د ازادي، عاقلي او بالغي انجلۍ نکاح په کفو کي کیږي په غیر کفو کي د کیدوله وجي ترڅو چي یې اولاد نه وي نو اولیاء دغه نکاح فسخ کولای سي.

د مجمع الفقه الاسلامي، النهر او مفتي کفايت الله صاحب هم دغه فتوی ده او تر نکاح وروسته ښځه و خاوند ته حلاله ده که مور او پلار ناراضه وي نو د مقامي عالم مخته دې دا مسئله کښېږدي لومړی دې د دې د مور او پلار د پوهېدلو کوښښ وکړي که چيرې د نکاح د قائمولو هيڅ ترتيب نه جوړېدئ نو له خاوند ښځه دې د طلاق غوښتنه وکړي او که خاوند له طلاق ورکولو ښځه انکار وکړي نو بيا حاکم يا عالم داولياوو په غوښتنه نکاح فسخ کولای سي.

په هدايه کي راځي:

وينعقد نكاح الحرة العاقلة البالغة برضاها وإن لم يعقد عليها ولى بكراً كانت أو ثيباً عند أبي حنيفة رحمه الله، وأبي يوسف رحمه الله، في ظاهر الرواية وعند محمد رحمه الله، ينعقد موقوفاً.... ثم في ظاهر الرواية لا فرق بين الكفو وغير الكفو ولكن للولي الاعتراض في غير الكفو.... ويروي رجوع محمد رحمه الله إلى قولهما. (الهداية:٢/ ٣١٣، باب فی الاولياء والاكفاء).

په فتح القدير کي راځي:

ورواية رجوعه إلى ظاهر الرواية فتحصل أن الثابت الآن هو اتفاق الثلاثة على الجواز مطلقًا من الكفء وغيره. (فتح القدير:٣/ ٢٥٦، دار الفكر).

په شرح عنايه کي راځي:

وقوله ولكن للولي الاعتراض في غير الكفء) يعني إذا لم تلد من الزوج، وأما إذا ولدت فليس للأولياء حق الفسخ كي لا يضيع الولد عمن يربيه . (شرح العناية على هامش فتح القدير:٣/ ٢٥٨، دار الفكر).

پہ فتاوی عالمګیری کي راځي:

ثم المرأة إذا زوجت نفسها من غير كفو صح النكاح في ظاهر الرواية عن أبي حنيفة رحمة الله عليه وهو قول أبي يوسف رحمة الله عليه آخرًا وقول محمد رحمة الله عليه آخرًا أيضًا حتى أن قبل التفريق يثبت فيه حكم الطلاق والظهار والإيلاء والتوارث وغير ذلك، ولكن للأولياء حق الاعتراض.

(الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۹۲ – وفتاوى قاضى خان: ۱/ ۳۵۱).

په بدائع الصنائع کي راځي:

الحرة العاقلة البالغة إذا زوجت نفسها من رجل أو وكلت رجلًا بالتزويج فتزوجها أو زوجها فضولي فأجازت، جاز في قول أبي حنيفة رحمة الله عليه، وزفر رحمة الله عليه، وأبي يوسف رحمة الله عليه، الأول سواءً زوجت نفسها من كفؤ أو غير كفؤ بمهر وافر أو قاصر، غير أنها إذا زوجت نفسها من غير كفؤ فللأولياء حق الاعتراض. (بدائع الصنائع: ۲/ ۲۴۷، سعيد – وكذا فى البحر الرائق: ۳/ ۱۲۸، كوئته).

حضرت مفتي كفايت الله ليكلي دي:

د نکاح د صحت له پاره د نارينه او ښځي له پاره مسلماني ضروري ده او دا چي ښځه به له محرماتو شخه نه وي دا تر ډېر ځای کافي ده، د قرآن کريم صريح آياتونه پر دې دليل دي: ﴿ وأحل لكم ما وراء ذلكم أن تبتغوا بأموالكم ﴾، ﴿ فانكحوا ما طاب لكم من النساء ﴾.

او د نبي کريم ﷺ سنتو په عملي توګه د دې تصديق کړی، نبي کريم ﷺ د زينب هاشميې نکاح له زيد ازاد کړل سوی سره وکړه سره له دې چي زينب راضي نه وه د دې شخه پر ته نور هم ډېر مثالونه د صحابه وو په زمانه کي موجود سوي دي بس قرآن او د صحابه وو تعامل پر دې لوی دليل دئ چي کفائت نسبي مستحب دئ. د نکاح د ترلو شرط نه دئ نو له دې وجي که چيري د غير کفو نکاح

وتړل سي او منکوحه یا د هغې ولي په راضي سي نو دا نکاح صحیح ده او نکاح نافذیږي. (کفایت المفتی:۵/ ۲۰۹).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

د کفائت حق ښځي او د هغې اولیاوو ته هم سته نو ځکه که یوې ښځي خپله نکاح په غیر کفو کي وکړه نو اولیاوو ته دا حق سته چي هغه نکاح فسخه کړي.

د مجمع الفقه الاسلامي په یوولسم سمینار کي چي هغه په (۱۹۹۹م) کال کي منعقده سوی وو تر ډېر تفصیلي بحث وروسته د اکثرو علماوو چي کومه رایه مخته راغلې وه هغه په لاندي ډول ده: بېله کفوه نکاح صحیح ده او اولیاوو ته د اعتراض حق حاصل دئ. په جدید فقهي مباحث کي یې وګوري: .(۱۷/ ۲۵۱ -۲۲۶).

همدا ډول په شریعت کي نور مثالونه موجود دي چي په هغو کي په غیر کفو کي نکاح منعقده سوې ده:

۱_ د حضرت زینب بنت حجش رضی الله عنها نکاح لکه څنګه چي تېره سوه.

۲_ د حضرت فاطمې بنت قیس نکاح له حضرت اسامه بن زید سره وسوه. (مسلم شریف:۱/ ٤۸۵).

۳_ حضرت بلال رضی الله عنه له عربي ښځي سره نکاح وکړه. (مبسوط:۵/ ۲۳).

۴_ حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه نیکي لور ته د نکاح پیغام ورکړئ او قبول هم کړل سو مګر د الله جل جلاله په تقدیر سره نکاح منعقده نه سوه. (مبسوط:۵/ ۲۳).

علامه شامي رحمة الله علیه په غیر کفو کي د نکاح قول له حسن څخه نقل کړی دئ او پر هغه یې فتوی ورکړې ده او دا به د دوی د زمانې مصلحت وي.

وګورئ: په درمختار کي راځي:

ويفتى في غير الكفؤ بعدم جوازه أصلاً، وهو المختار للفتوى لفساد الزمان، وفي الشامية: وقال شمس الأئمة: وهذا أقرب إلى الحتياط. (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۵٦، سعيد).

مګر د دې زمانې مصلحت دا دئ چې د روایت پر ظاهر فتوی ورکول سي ځکه هره ورځ داسې په زرو نکاح کیږي که چیري نکاح منعقده ونه منل سي نو ټول به په زنا کي مبتلاء سي همدا ډول لکه چي د نکاح شاهدان موجود وي او ارکان موجود وي د نکاح نه منعقد کېدل له عقله څخه لیري خبره ده.

حضرت مولانا مجاهد الاسلام صاحب د کتاب التفریق والفسخ په حاشیه کي فرمايي:

نکاح په غیر کفو کي تړل کیږي او که نه؟ د روایت ظاهر دغه دئ چي نکاح منعقده کیږي، البته ولي دا اعتراض حق لري، د حسن بن زیاد روایت دا دئ چي نکاح ګر سره نه تړل کیږي چي پر هغه د زماني عامو علماوو فتوی ورکړې ده. مصنف علامه هم دغه قول اختیار کړی دئ مګر دغه حقیر له دې رایه څخه اختلاف دئ زما په نزد د روایت په ظاهر باید عمل وکړل سي ځکه د نکاح د انعقاد له شرائطو څخه یو شرط مفقود نه دئ د داسي حالت هم تقاضا دا ده چي کومه نکاح چي وکړل سي هغه باید منعقد ومنل سي که چیري یوه سړي ته ضرر ور رسیږي نو د قاضي مخته د اعتراض حق لري او د دې ضرر لار دي وایستل سي. (کتاب الفسخ والتفریق: ۱۲۰، حاشیة لمبر ۱).

د ژبي پر مختلیف کېدو د کفائت حکم

سوال: د ژبي په مختلیف کېدو سره پر کفائت څه اثر لویږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د ژبي د اختلاف څخه پر کفائت هیڅ اثر نه لویږي ځکه چي د کفائت اعتبار په لاندي شیانو کي کیږي.

دین، نسب، حریت، مال، کسب وکار، د ژبي اختلاف په دې کي نه سته مګر که چیري یوه ژبه والا د دوهمي ژبي والا عموما د خپل ځان برابر نه بولي نو بیا باید د کفائت اعتبار وکړل سي.

وګورئ: په فتاوی شامي کي راځي:

إن الكفاءة في النكاح تكون في ست لها بيت بديع قد ضبط

نسب وإسلام كذلك حرفة حرية وديانة مال فقط

(فتاوى الشامي: ۳/ ۸٦، باب الكفاءة، سعيد).

په هدایه کي راځي:

الكفاءة في النكاح معتبرة قال عليه الصلاة والسلام: « ألا لا يزوج النساء إلا الأولياء ولا يزوجن إلا من الأكفاء.... ثم الكفاءة تعتبر في النسب.... فقريش بعضهم أكفاء لبعض والعرب بعضهم أكفاء لبعض ....بعضهم أكفاء لبعض .... والكفاءة في الحرية .... وتعتبر أيضا في الدين أي الديانة وهذا قول أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله هو الصحيح لأنه من أعلى المفاخر والمرأة تعير بفسق الزوج فوق ما تعير بضعة نسبه .... وتعتبر في الصنائع.... وعن أبي يوسف رحمه الله أنه لايعتبر إلا أن يفحش كالحجام والحائك والدباغ.

(الهداية: ۲/ ۳۲۱، ۳۲۰، باب الاولياء والاكفاء).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

الكفاءة تعتبر في أشياء منها النسب.... ومنها إسلام الآباء ....ومنها الحرية.... ومنها الكفاءة في المال.... ومنها الديانة.... ومنها الحرفة. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۹۰، ۲۹۱، الباب الخامس فی الاکفاء).

په امداد الاحكام كي راځي:

کفائت په حریت، نسب، اسلام، مال او دیانت کي معتبر دئ. (امداد الاحکام: ۲/ ۲۸۸). والله تعالیٰ اعلم.

درېیم .... فصل

د نکاح د وکالت بیان

د عاقد د وکالت حکم

سوال: ایا خاوند خپله د نکاح وکیل جوړېدلای سي او که نه؟

الجواب: که چیري انجلۍ ووېل چي زما نکاح له خپل ځان سره راوکړه نو خاوند د انجلۍ وکیل جوړ سو او د انجلۍ نکاح له خپل ځان سره تړلای سي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ویجوز لابن العم أن یزوج بنت عمه من نفسه .... وإذا أذنت المرأة للرجل أن یزوجها من نفسه فعقد بحضرة شاهدین جاز .... فقوله زوجت یتضمن الشطرین ولایحتاج إلی القبول.

(الهدایة:۲/ ۳۲۲، فصل فی الوکالة بالنکاح).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

امرأة وکلت رجلًا بأن یزوجها من نفسه فقال : زوجت فلانة من نفسي یجوز ، وإن لم تقل : قبلت .(الفتاوی الهندیة:۱/ ۲۹۵ – وکذا فی الدر المختار:۳/ ۹۹، سعید – وفتح القدیر:۳/ ۳۰۷، دار الفکر).

په فتاوی دار العلو دیوبند کي راځي:

سوال: یوې ښځي ووېل ما تا ته اجازه کړې ده چي زما نکاح له خپل ځان سره وکړه دغه سړي را ولاړ سو او د دوو شاهدانو په مخ کي یې نکاح وتړله نو شرعا دا نکاح صحیح ده او که نه؟

الجواب: دا نکاح منعقده سوه. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۸/ ۱۹٤).

وکیل ته د بل وکیل جوړولو حکم

سوال: په نکاح کي نکاح خوان له وکیل څخه پوښتنه کوي ایا زه نکاح وتړم؟ هغه وایي، هو، په دې ډول دي د وکیل د انجلۍ څخه وکیل جوړ سو او د هلک څخه ایجاب او قبول کوي ایا دا صورت روا دئ؟

الجواب: په دې صورت کي وکیل ته د وکیل جوړول روا نه دي مګر که دوهم وکیل د اول وکیل په موجودوالي کي نکاح وتړله نو نکاح صحیح سوه مګر بېله ضرورته څخه وکیل جوړول معقول نه دئ، نو ځکه باید له وکیل څخه په خپله ایجاب وکړل سي او هلک یې قبول کړي.

وګورئ په فتاوی عالمګیري کي راځي:

الوكيل بالتزويج ليس له أن يوكل غيره فإن فعل فزوج الثاني بحضرة الأول جاز، كذا في فتاوى قاضي خان في كتاب الوكالة. (الفتاوى الهندية: ١/ ٢٨٩، الباب السادس فى الوكالة بالنكاح).

په فتاوی الازهر کي راځي:

سوال: شخص وكل عمه فى قبول العقد فقبل منه هذه الوكالة، وعند حضور الوكيل ووالد الخاطب فى بيت الخطيبة، وكل عم الخاطب والد الخاطب فى قبول الزواج، فقبل منه الوكالة، وعقد العقد مع والد الزوجة بحضور عم الخاطب الوكيل المذكور ولم يكن الخاطب حاضراً ولم يأذن لعمه بأن يوكل غيره فما الحكم ؟ وإذا طلقها قبل الدخول والخلوة يقع أم لا؟

الجواب: الحكم فى هذا العقد والحال ما ذكر الصحة .

ففى الفتاوى الخانية من كتاب الوكالة ما نصه: « الوكيل بالتزويج ليس له أن يوكل غيره فإن فعل فزوجه الثانى بحضرة الأول جاز». وقد نقله عنها فى الفتاوى الهندية من كتاب النكاح،

فلو طلق الزوج المذكور بعد ذلك زوجته المرقومة ثلاثاً قبل الدخول والخلوة بعبارة واحدة بدون تفريق وقع الطلاق الثلاث . والله تعالى أعلم . (فتاوى الازهر، فتاوى اعلام المفتين لدار الافتاء المصرية:٦/ ٢٠٠، وكالة الوكيل بالزواج غيره فيه).

علامه رافعي رحمه الله فرمايل، د اول وكيل په نه موجوديت كي كه چيري دوهم وكيل نكاح وتړي نو بيا هم نكاح صحيح كيږي.

وګورئ په تقريرات الرافعي كي راځي:

(قوله فهذا يدل على أن الوكيل ليس له التوكيل) ما قدمه عن الخلاصة لايدل على عدم صحة توكيل الوكيل في النكاح مع معرفة المرأة الزوج والمهر الموافق لما يأتي في الوكالة من أن له التوكيل عند تقدير الثمن لحصول المقصود أن يقال هنا كذلک، فحيث كان الزوج والمهر معلومين يصح توكيل الوكيل وتنزل تعيين المهر منزلة تعيين الثمن فزال الإشكال وتبين أنه لاحاجة لحمل ما في القنية على ما إذا باشر الوكيل الثاني بحضرة الوكيل الأول جارياً على رواية عصام. (تقريرات الرافعي: على هامش الشامي:٣/ ١٨٦، سعيد). والله تعالى اعلم .

په نكاح كي د كافر د وكالت حكم

سوال: يوه انجلۍ مسلمانه سوه د هغې د نكاح وخت دئ او پلار او نور دوستان يې كافران دي نو اياد دې په نكاح كي پلار وكيل جوړېدلای سي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي كه چيري انجلۍ عاقله او بالغه وي، نو كافر د دې وكيل جوړېدلای سي.

وګورئ په هدايه كي راځي:

أن الوكيل في النكاح معبر وسفير والتمانع في الحقوق دون التعبير ولا ترجع الحقوق إليه بخلاف البيع لأنه مباشر حتى رجعت الحقوق إليه . (الهداية:٢/ ٣٢٢، فصل فى الوكالة بالنكاح – ومثله فى البحر الرائق:٣/ ١٣٦، فصل فى الوكالة، كوئته).

په فتاوى شامي کي راځي:

الوكيل في النكاح وما بعده سفير محض فلا بد من إضافة هذه العقود المذكورة إلى الموكل. (فتاوى الشامى:٣/ ٨١٧، مطلب فى العقود التى لابدمن اضافتها الى المؤكل، سعيد).

په فتاوى محموديه کي راځي:

د ولي او وکيل تر منځ فرق سته، په نکاح کي د وکيل کار خالي د الفاظو څخه د هغه کار تعبير دئ اصل ايجاب او قبول زوجين کوي. (فتاوى محموديه:١١/ ٥٣٨). والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ وآتوا النساء صدقاتهن نحلةً ﴾ . (سورة النساء: الآية:٤).

وقال رسول الله ﷺ «ولا مهر أقل من عشرة دراهم». (رواه ابن أبي حاتم وحسنه ابن حجر العسقلاني).

څلورم .... باب

د مهر بيان تر ټولو د کم مهر تحقيق

سوال: تر ټول کم مهر بايد څومره وي د هغه مقدار څه دئ؟ ايا له يو حديث څخه ثابت دئ او که نه؟

الجواب: تر ټولو د کم مقدار مهر لس درهمه دئ تر دې کم روا نه دئ او دغه حد له حدیث څخه ثابت سوی دئ او د نوي وزن په حساب سره دېرش ګرامه شپږ سوو اتلس ملی ګرامه (۶۱۸ ملي ګرامه او ۳۰ ګرامه) کيږي د نوي حساب تفصيل په باب الزکات کي وګورئ.

وګورئ په فتح القدير کي راځي:

رواه ابن أبي حاتم من حديث جابر رضي الله عنه عن عمرو بن عبد الله الأودي بسنده، ثم أوجدنا بعض أصحابنا صورة السند عن الحافظ قاضي القضاة العسقلاني رحمه الله الشهير بابن حجر. قال ابن أبي حاتم: حدثنا عمرو بن عبد الله الأودي حدثنا وكيع عن عباد بن منصور قال: حدثنا القاسم بن محمد قال: سمعت جابراً رضي الله عنه يقول: قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «ولا مهر أقل من عشرة» من الحديث الطويل، قال الحافظ: إنه بهذا الإسناد حسن ولا أقل منه .(فتح القدير:۳/ ۲۹۲، باب الكفاءة، دار الفكر).

دا د حسن روايت دئ لکه څنګه چي حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايلي دي ځکه چي د هغه په سند کي مبشر بن عبيد او نور ضعيف راوي نسته د دې څخه پرته د بيهقي او نورو روايت کوم چي مشهور دئ د هغه په سند کي پر دوو راويانو خبره سته.

۱_ مبشر بن عبيد.

۲_ حجاج بن ارطاة.

نو ځکه دغه حديث ډېر ضعيف دئ که څه هم د متعدد طرق په سبب اکثرو علماوو حسن بللي دئ، همدا ډول له نورو اثارو څخه هم د دې تائيد کيږي. د تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکريا، جلد اول ابواب الحديث).

فقهاوو هم له لوړ حديث څخه استدلال کړئ او تر لس درهمه کم مهر ته يې جواز ورکړی نه دئ.

په درمختار کي راځي:

أقله عشرة دراهم لحديث البيهقي وغيره « لا مهر أقل من عشرة دراهم » وفي الشامي: قوله لحديث البيهقي وغيره، رواه البيهقي بسند ضعيف ورواه ابن أبي حاتم وقال الحافظ ابن حجر: إنه بهذا الإسناد حسن. (الدر المختار مع الشامی:۳/ ۱۰۱، باب المهر، سعید – والبحر الرائق:۳/ ۱٤۲، کوئته).

په ایضاح المسائل کي راځي:

په اسلام شریعت کي کم مهر لس درهمه دئ تر دې د کم مهر تعیین صحیح نه دئ، په لس درهمه کي دوې تولې او نیمي ماشي سپین زر وي او دغه د نوي ګرامو له حساب څخه دېرش ګرامه او شپږ سوو اتلس ملي ګرامه (۳۰/٦۱۸) کیږي. (ایضاح المسائل: ص ۱۲۹).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

د مهر کم تر کم مقدار لس درهمه دئ چي د هغه وزن دوې تولې او اونیمي ماشي (۳۰ ګرامه او ٦۱۸ ملي ګرامه) سپین زر کیږي نو ځکه د کم مهر مقدار به په هر دور کي په هر هیواد کي به له دې سره سم وي چي له هغه څخه دوې تولي او او نیمي ماشي سپین زر حاصلېدلای سي او د زیادت له پاره یې هیڅ حد معلوم نه دئ. (مجموعة قوانین اسلامی:۱۰۱، دفعه ۱۲۹).

په احسن الفتاوی کي د لس درهمو مقدار له نوي حساب څخه څلور دېرش ګرامه لیکل سوی دئ مګر عامو علماوو اول قول اختیار کړی دئ. (احسن الفتاوی:٥/ ۳۲). والله تعالی اعلم.

د ابن ابی حاتم د سند تحقیق

سوال: حدیث ((لامهر أقل من عشرة دراهم)) رواه ابن ابي حاتم، **د سند په اعتبار سره د دې څه حیثیت دئ؟**

الجواب: دا لوړ روایت د حسن تر درجې کم نه دئ ځکه چي د دې د سند اکثره راویان معتمد دي. د حدیث سند وګورئ:

عن الحافظ قاضي القضاة العسقلاني رحمة الله عليه الشهير بابن حجر. قال ابن أبي حاتم: حدثنا عمرو بن عبد الله الأودي (١) حدثنا وكيع (٢) عن عباد بن منصور (٣) قال: حدثنا القاسم بن محمد (٤) قال: سمعت جابراً رضي الله عنه يقول: قال سمعت رسول الله ﷺ يقول:......الخ. (فتح القدير:٣/ ٢٩٢، باب الكفاءة، دار الفكر).

١_ عمرو بن عبد الله الاودي: ـ قال ابن حجر: في « التقريب» (٤٩٢): ثقة من العاشرة.

وقال ابو حاتم: صدوق وقال ابنه عبد الرحمن: صدوق ثقة، وقال ابو زرعة: رأيت محمد بن مسلم يعظم شأن عمرو الودي، ويطنب في ذكره، وذكره ابن حبان في كتاب الثقات ـ(تهذيب الكمال:٢٢/ ٩٨).

٢_ وكيع بن جراح: ـ قال أبو سفيان الكوفي: ثقة حافظ ـ (تقريب التهذيب:٦٧٤ ـ وتهذيب الكمال:٣٠/ ٤٦٢).

٣_ عباد بن منصور الناجي: ـ قال ابن حجر رحمة الله عليه: صدوق، رمي بالقدر، وكان يدلس، وتغير بأخرة، ومن السادسةـ (تقريب التهذيب:٣٤٦، وتهذيب الكمال:١٤/ ١٥٦).

٤_ القاسم بن محمد بن أبي بكر الصديق رضي الله عنه :ـ ثقة، أحمد الفقهاء بالمدينة، قال أيوب: ما رأيت أفضل منه، ومن كبار الثالثة ـ (تقريب التهذيب:٥٢٦، وتهذيب الكمال:٢٣/ ٤٢٧). والله تعالى اعلم.

د فاطمې د او ازواج مطهراتو د مهر تحقيق

سوال: د فاطمې مهر څومره وو او د نبي كريم ﷺ د ازواج مطهراتو مهر څومره وو او د دواړو تر منځ څومره فرق دئ؟ يعني د فاطمې مهر او د نبوي مهر تر منځ څه فرق دئ؟

الجواب: د فاطمې ﷺ د مهر مقدار (۴۸۰) درهمه وو او د ازواج مطهراتو مهر (۵۰۰) درهمه وو نو څکه د دواړو تر منځ د شلو درهم تفاوت سته.

وګورئ په مسلم شريف راځي:

عن أبى سلمة بن عبد الرحمن أنه قال سألت عائشة زوج النبى ﷺ كم كان صداق رسول الله ﷺ قالت: كان صداقه لأزواجه ثنتى عشرة أوقيةً ونشا. قالت: أتدرى ما النش؟ قال: قلت: لا، قالت: نصف أوقية. فتلك خمس مائة درهم، فهذا صداق رسول الله ﷺ لأزواجه. (رواه الإمام مسلم رحمه الله تعالى في صحيحه: ١/ ٤٥٨، باب الصداق).

په مجمع الزوائد کي راځي:

وعن أنس بن ملك رضي الله عنه قال: جاء أبو بكر إلى النبي ﷺ إلى قوله.... قال علي رضي الله عنه: فأتياني وأنا في سبيل، فقالا: بنت عمك تخطب، فنبهاني لأمر فقمت أجر ردائي طرفاً على عاتقي، وطرفاً آخر في الأرض، حتى أتيت النبي ﷺ وقعدت بين يدي رسول الله ﷺ فقلت: يا رسول الله قد علمت قدمي في الإسلام ومناصحتي وإني وإني، قال: وما ذاك يا علي قلت: تزوجني فاطمة، قال: وما عندك قلت: فرسي وبدني يعني درعي قال: أما فرسك فلا بد لك منه، وأما بدنك فبعها، فبعتها بأربعمائة وثمانين درهماً، فأتيت بها النبي ﷺ فوضعتها في حجره.... الخ رواه الطبراني وفيه يحيى بن يعلى الأسلمي وهو ضعيف، وفي رواية قال: ما عندي إلا درع الحطمية، قال: فاجمع ما قدرت عليه وائتني به. قال: فأتى باثنتي عشرة أوقية أربعمائة وثمانين .... الخ رواه البزار وفيه محمد بن ثابت بن أسلم وهو ضعيف. (مجمع الزوائد: ٩/ ٢٠٥، باب منه في فضلها وتزويجها بعلي، دار الكفر).

وفي شرح العلامة الزرقاني على المواهب اللدنية (۲/ ٤): وعن أنس رضي الله عنه قال: فذكر الحديث إلى قوله.... قال علي رضي الله عنه فنبهاني لامر فقمت أجر ردائي حتى أتيت النبي ﷺ فقلت: تزوجني فاطمة قال: وعندك شئ قلت: فرسي وبدني، قال: أما فرسک فلا بدلک منها و أما بدنک فبعها، فبعتها من عثمان بن عفان رضي الله عنه بأربعمائة وثمانين درهماً الخ. (خرجه أبو حاتم بن حبان التميمي البستي – وأحمد في المناقب – وكذا أخرجه أبو داؤد كلاهما بنحوه من حديث أنس).

د حضرت فاطمې رضي الله عنها د مهر په اړه په روایاتو کي اختلاف واقع سوی دئ په ذکر سوي روایت کي (۴۸۰) درهمه ذکر سوی دئ، همدا ډول په تاریخ الخمیس کي هم په (۳٦۱) صفحه کي (۴۸۰) درهمه لیکلی دئ او په بل ځای کي (۴۰۰) مثقاله فضه (سپین زر) ذکر سوې ده لکه روضة الاصفال لکه څنګه چي ملا علي قاري په مرقات (٦/۲۴٦) کی ذکر کړي دي، همدا ډول په فتاوی رحیمیه (٦/۴۴۴) کی څلور سوو (۴۰۰) مثقاله سپین زر لیکل سوي دي او ابن همام رحمه الله ملا علي قاري رحمه الله او علامه عیني رحمه الله ذکر کړي دي ((ومعلوم أن الصداق كان أربعمأته درهم وهى فضة)) **همداډول علامه عیني رحمه الله مطلق د بناتو په اړه فرمایلي دي** ((صداق بناته أربعمأته درهم)) **مګر په ټولو کي د (۴۸۰) والا قول راجح معلومیږي ځکه چي د (۴۰۰) مثقال والا قول ابن جوزي په موضوعاتو کي ذکر کړی دئ، همدا ډول د (۴۰۰) مثقاله قول مطلق د بناتو په اړه دئ لکه څنګه چي عدی بن حاتم ذکر کړي نو ځکه د (۴۸۰) والا روایت د حضرت فاطمې رضي الله عنها د مهر په اړه صریح دئ که څه هم په ځیني کي څه ضعف سته او** ((ثنتى عشرة او قية)) **دغه روایت هم د هغه تائید کونکي دئ.**

د خبري حاصل دا دئ چي فاطمې رضي الله عنها د مهر مقدار (۴۸۰) درهمه دئ.

په احسن الفتاوی کي راځي:

(۴۸۰) درهمه دغه مقدار له متعددو روایاتو څخه ثابت سوی دئ نو ځکه دغه قول راجح دئ.

(احسن الفتاوى: ٥/ ۳۱).

دازواج مطهراتو مهر د حضرت عائشې رضي الله عنها د روایت سره سم (۵۰۰) درهمه دئ، البته دام حبیبې رضي الله عنها مهر له دې ځنخه مستثنی دئ ځکه چې نجاشي د نبي کریم ﷺ د اکرام او عزت په خاطر مقرر کړی وو لکه ځنګه چې ملا علي قاري رحمه الله، علامه عیني رحمه الله او علامه نووی رحمه الله ذکر کړي دي . له پوره بحث ځنخه دا خبر هم معلومیږي چې د فاطمې رضي الله عنها مهر او ازواج مطهرات د مهر تر منځ تفاوت د شلو درهمو دئ. والله تعالی اعلم.

د فاطمې رضي الله عنها او د ازواج مطهرات مهر په اوسنیو اوزانو کي

سوال: په اوسنیو اوازنو کي د فاطمې رضي الله عنها مهر او د اوزاج مطهرات مهر ځومره کیږي؟

الجواب: په اوسنیو اوزانو کي د مهر د مقدار له پاره نقشه وګوري:

دولونه د مهر	درهم	گرام	افغانی
د فاطمې مهر	۴۸۰	۱۴۶۹ ګرام ۶۶۴ ملي ګرام	....
دازواج مطهرات مهر	۵۰۰	۱۵۳۰ ګرام ۹۰۰ ملي ګرام	....
دواړو تر منځ فرق	۲۰	۶۱ ګرام ۲۳۶ ملي ګرام	....

د حنفي او شافعي تر منځ د اختلاف په وخت کي د مهر حکم

سوال که چیري حنفي هلک له شافعي انجلۍ سره واده وکړي او د مهر په مقرر کېدو کي اختلاف وو نو د نارینه اعتبار کیږي او که د ښځي؟

الجواب: د فقهاوو له عبارتو ځنخه معلومیږي چې مهر د ښځي حق دئ کوم چې د ملک بضعه په عوض کي هغې ته رسیږي نو ځکه د اختلاف په وخت کي د ښځي اعتبار کیږي یعني که چیري شافعي هلک له حنفي انجلۍ سره واده وکړي نو تر لس درهمه کم ورکول صحیح نه دي.

وګورئ په مبسوط کي راځي:

لأن المهر من خالص حقها فإنه بدل ما هو مملوك لها ألا ترى أن الاستيفاء والإبراء إليها والتصرف فيه كيف شاءت .(المبسوط للسرخسي:٥/ ١٤).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولنا أن المهر ملك المرأة وحقها ؛ لأنه بدل بضعها ، وبضعها حقها وملكها ، والدليل عليه قوله عز وجل : ﴿ وآتوا النساء صدقاتهن نحلةً ﴾ أضاف المهر إليها فدل أن المهر حقها وملكها .(بدائع الصنائع:۲/ ۵۸۳، سعيد).

وفي تبيين الحقائق: لأن المهر خالص حقها. (تبيين الحقائق:۵/ ۴۰۸، امداديه، ملتان). والله ﷻ اعلم.

تر مهر مثل د کمي نکاح سوي حکم

سوال: يوې انجلۍ له يو هلک سره په پټه د دوو شاهدانو په مخ کي نکاح وکړه په ښکاره هلک د انجلۍ کفو دئ مګر د انجلۍ مور او پلار ناراض دي يو عالم ته يې مقدمه وړاندي کړه اوس که چيري دا نکاح د مهر مثل څخه کمه سوې وي نو دا د فسخي وړ ده او که نه؟ او په دې کي د حکم يا حاکم د فسخه کېدو ضرورت سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د امام صاحب له مذهب سره سم دغه نکاح د فسخي وړ ده مګر اول ځل به له خاوند څخه د مهر مثل غوښتنه کوي که چيرِ خاوند راضي نه وي نو بيا ولي ته د دې اختيار سته چي د حکم يا حاکم په ذريعه نکاح فسخه کړي مګر که چيري يې بېله حکم يا حاکم فسخه کوي نو هغه نه فسخه کيږي او د حاکم فيصله ضروري ده.

په هدايه کي راځي:

قال: وإذا تزوجت المرأة ونقصت عن مهر مثلها فللأولياء الاعتراض عليها عند أبي حنيفة رحمه الله حتى يتم لها مهر مثلها أو يفارقها وقالا: ليس لهم ذلك، لهما أن ما زاد على العشرة حقها ومن أسقط حقه لا يعترض عليه كما بعد التسمية ولأبي حنيفة رحمه الله أن الأولياء يفتخرون بغلاء المهر ويتعيرون بنقصانه بأشبه الكفاءة بخلاف الإبراء بعد التسمية لأنه لا

يتعير به . (الهداية: ۲/ ۳۲۱ – وهكذا في البحر الرائق: ۳/ ۱۳٤ – الدر المختار مع الشامي: ۳/ ۹٤، سعيد – ومجمع الانهر: ۱/ ۳٤۳).

(قوله أن يفرق) أى بالمرافعة إلى الحاكم. (بدر المنتقى فى شرح الملتقى على هامش مجمع الانهر: ۱/ ۳٤۳).

په بدائع الصنائع كي راځي:

لو تزوجت نفسها من كفء بأقل من مهر مثلها مقدار ما لا يتغابن فيه الناس بغير رضا الأولياء ، فللأولياء حق الاعتراض عنده ، فإما أن يبلغ الزوج إلى مهر مثلها أو يفرق بينهما ، وعند أبي يوسف رحمه الله، ومحمد رحمه الله هذا ليس بشرط ، ويلزم النكاح بدونه حتى يثبت للأولياء حق الاعتراض (وجه) قول أبي يوسف رحمه الله، ومحمد رحمه الله أن المهر حقها على الخلوص كالثمن في البيع ، والأجرة في الإجارة ، فكانت هي بالنقص متصرفةً في خالص حقها، فيصح ، ولأبي حنيفة أن للأولياء حقا في المهر ؛ لأنهم يفتخرون بغلاء المهر ، ويتعيرون ببخسه ، فيلحقهم الضرر بالبخس ، وهو ضرر التعيير ، فكان لهم دفع الضرر عن أنفسهم بالاعتراض ، ولهذا يثبت لهم حق الاعتراض بسبب عدم الكفاءة كذا هذا ؛ ولأنها بالبخس عن مهر مثلها أضرت بنساء قبيلتها ؛ لأن مهور مثلها عند تقادم العهد تعتبر بها ، فكانت بالنقص ملحقةً بالضرر بالقبيلة ، فكان لهم دفع هذا الضرر عن أنفسهم بالفسخ ، والله أعلم .(بدائع الصنائع: ۲/ ۳۲۲، سعيد).

په عالمګيري کي راځي:

ولا يكون التفريق بذلك إلا عند القاضي أما بدون فسخ القاضي فلا ينفسخ النكاح بينهما وتكون هذه فرقةً بغير طلاق حتى لو لم يكن الزوج دخل بها فلا شيء لها من المهر ، كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية:١/ ٢٩٢).

په امداد الفتاوى کي راځي:

اشتراط د قضاء د قاضي د نكاح په فسخه کي د مسلمان قاضي و مجلس ته دې رجوع وکړي که چيري هغه فسخه کړه نو فسخه کيږي که داسي نه وي بيله حاكمه نه فسخه کيږي. (امداد الفتاوى:٢/ ٢٥٧).

په مجموعة قوانين اسلامي کي راځي:

بالغي انجلۍ خپله نكاح د ولي د اجازې پرته په داسي مهر سره وکړه چي تر مهر مثل ډېر کم وو نو ولي دا حق لري چي مهر مثل په پوره کړي که چيري خاوند په مهر مثل راضي نه وي نو ولي د قاضي په ذريعه جلا والى کولاى سي. (مجموعه قوانين اسلامى:ص ١٩١، دفعه ٧١). والله تعالى اعلم.



قال رسول الله ﷺ «أو لـم ولو بشاة». (رواه البخاري).

عن أنس قال: « ما أولم النبي ﷺ على شيء من نسائه ما أولم على زينب رضي الله عنها أو لم بشاة ». (رواه البخاري).

پنځم ..... باب

د ولیمې بیان

د نکاح تر تړلو وروسته د ولیمې حکم

سوال: د نکاح تر عقد وروسته د خاوند او د ښځي تر ملاقات د مخه ولیمه کېدلای سي او که نه؟

الجواب: د جمهورو علماوو په نزد ولیمه تر خلوت صحیحه وروسته مسنونه ده او د ځینو نورو علماوو په نزد د نکاح تر عقد وروسته هم ولیمه کېدلای سي.

په بخاري شریف کي راځي:

عن أنس بن مالک رضي الله عنه بنى النبي ﷺ بامرأة فأرسلني فدعوت رجالاً إلى الطعام. (رواه البخاري: ۲/ ۷۷۷، باب الوليمة ولوبشاة).

علامه عیني رحمه الله په عمدة القاري کي لیکلي دي:

وقد اختلف السلف في وقتها: هل هو عند العقد أو عقيبة؟ أو عند الدخول أو عقيبه؟ أو موسع من ابتداء العقد إلى انتهاء الدخول، وعن جماعة منهم: أنها عند العقد، وعند ابن حبيب: عند العقد وبعد الدخول، وقال في موضع آخر: يجوز قبل الدخول وبعده، وقال الماوردي: عند الدخول، وحديث أنس رضي الله عنه: فأصبح رسول الله ﷺ عروساً بزينب رضي الله عنها فدعي القوم، صريح بأنها بعد الدخول، واستحب بعض المالكية أن تكون عند البناء ويقع

الدخول عقيبها، وعليه عمل الناس . (عمدة القاری شرح صحيح البخاری:۱۴/ ۱۱۲، باب الصفرة للمتزوج، ملتان).

ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي.

(أولم ولو بشاة) أي اتخذ وليمة، قالابن الملک: تمسک بظاهره من ذهب إلى إيجابها والأكثر على أن الأمر للندب، قيل: إنها تكون بعد الدخول وقيل عند العقد وقيل: عندهما. (مرقاة المفاتيح:۶/ ۲۵۰، باب الوليمة، ملتان).

په عالمګيري کي راځي:

ووليمة العرس سنة ، وفيها مثوبة عظيمة وهي إذا بنى الرجل بامرأته ينبغي أن يدعو الجيران والأقرباء والأصدقاء ويذبح لهم ويصنع لهم طعامًا . (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۴۳، كتاب الكراهية، الباب الثاني عشر في الهدايا والضيافات).

په کفايت المفتي کي راځي:

د وليمې دعوت مسنون دئ مګر هغه د هلک له طرفه د اولي شپې په سهار کيږي، په ځينو رواياتو کي راځي چي د ام حبيبې رضي الله عنها نکاح له نبي کريم ﷺ سره د نجاشي په شته والي کي حضرت عثمان رضي الله عنه کړې وه او د نبي کريم ﷺ له طرفه څلور سوه ديناره نجاشي ورکړي وه او وليمه حضرت عثمان رضي الله عنه کړې وه. دا خوراک يې د نبي کريم ﷺ له طرفه څخه د وليمې په ډول ورکړی وو او تر د واده د شپې د مخه يې ورکړی وو، ځکه چي وليمه د هلک له طرفه څخه هم د عقد په وخت کي د واده تر شپې د مخه د ورکولو هم ځيني علماء قائل دي که څه هم د جمهورو علماوو په نزد د واده تر شپې وروسته کيږي. (کفايت المفتی:۵/ ۱۵۷-۱۶۵ – وفتاوی دار العلوم ديوبند:۷/ ۱۶۷) . والله تعالی اعلم.

د ولیمې د څنډ حکم

سوال: د ولیمې څنډول تر څه وخته پورې صحیح دي؟

الجواب: مسنونه ولیمه هغه ده چې د خاوند او ښځې تر ملاقات وروسته وي ځکه چې د دې اصل مقصد د یوه حلال او روا تعلق اظهار او اعلان دئ په کومه شپه چې له ښځې سره ملاقات وسي په هغه شپه یا وروسته یېکول په کار دي، همدا ډول تر درېیمې ورځې پورې د څنډولو یې هم اجازه سته مګر تر درو ورځو زیات څنډول یې صحیح نه دي.

په عمدة القاري کې راځي:

ومنه ما رواه البيهقي من حديث أنس ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: الوليمة في أول يوم حق، وفي الثاني معروف، وفي الثالث رياء وسمعة، وقال صاحب التلويح: سنده صحيح فإن قلت: قد قال البيهقي: ليس هذا الحديث بقوي فيه بكير بن خنيس تكلموا فيه، قلت: أثنى عليه جماعة منهم أحمد بن صالح العجلي، قال: كوفي ثقة، وقال البرقي عن يحيى بن معين: لا بأس به، وخرج الحاكم في المستدرك. (عمدة القاري شرح صحيح البخاری:۱۴/ ۱۳۰، باب اجبة الوليمة، ملتان).

په عالمګیري کې راځي:

ولا بأس بأن يدعو يومئذ من الغد وبعد الغد، ثم ينقطع العرس والوليمة، كذا في الظهيرية .(الفتاوی الهندية: ۱/ ۳۴۳، كتاب الكراهية، الباب الثانی عشر فی الهدايا والضيافات).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

د ولیمې دعوت له واده څخه وروسته تر درو ورځو پورې کېږي او تر هغه وروسته نه کېږي. (فتاوی محمودیه: ۱۲/ ۱۴۱).

په کتاب الفتاوی کې راځي:

دوليمې مسنونه طريقه دا ده چې په کومه ورځ دخاوند او ښځې ملاقات وسي تر هغه وروست بايد وکړل سي، دحضرت انس رضي الله عنه روايت دئ چې کله درسول الله ﷺ له حضرت زينب بنت حجش رضي الله عنها سره نکاح وسوه په دوهمه ورځ نبي کريم ﷺ خلک راوغوښتل او ډوډۍ يې ور وخوړه. (صحيح بخاري)

دوهمه يا دريمه ورځ هم اجازه سته تر دې زيات ځنډ يې ثابت نه دئ. (كتاب الفتاوى:٤/ ١٢٠،

والله تعالى اعلم.

دعذر په سبب يوه هفته وروسته دوليمې حکم

سوال: يوه سړي نکاح وکړه او له ښځي سره ملاقات هم وسو مګر دځينو ستونزو په سبب يې وليمه ونه کړای سوه نو اوس يوه هفته وروسته دوليمې دعوت کول غواړي نو ايا داسي کول صحيح دي او که نه؟ او ايا سنت اداء کيږي او که نه؟

الجواب: دوليمې اصل مسنون وخت تر ملاقات وروسته دئ مګر که چيري يې ديوه مشکل په سبب يوه هفته وروسته وکړه نو بيا هم سنت اداء کيږي ځکه چي له ځينو رواياتو څخه يو څو ورځي وروسته دوليمې کولو ثبوت ليدل سوی دئ او فقهاوو ليکلي دي چي: ولا بأس بأن يدعو يومئذ من الغد وبعد الغد، ثم ينقطع العرس والوليمة. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٤٣).

د دې مطلب دا دئ چي مسلسل تر درو ورځو وروسته وليمه ختم سوه مګر که يې له سره وليمه کړې نه وه نو بيا په ځنډولو کي هيڅ پروا نه سته.

په بخاري شريف کي راځي:

حدثنا محمد بن كثير عن سفيان عن حميد الطويل قال: سمعت أنس بن مالك رضي الله عنه قال: قدم عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه فآخى النبي ﷺ بينه وبين سعد بن الربيع الأنصاري وعند الأنصاري امرأتان فعرض عليه أن يناصفه أهله وماله فقال: بارك الله لك في أهلك ومالك دلوني على السوق فأتى السوق فربح شيئا من أقط وشيئا من سمن فرآه النبي ﷺ بعد أيام، وعليه

وضر من صفرة فقال: مهيم يا عبد الرحمن فقال: تزوجت أنصارية، قال: فما سقت قال وزن نواة من ذهب قال: أولم ولو بشاة. (رواه البخاري: ۲/ ۷۵۹، باب قول الرجل لاخية انظراى زوجى شئت، فيصل).

په سنن کبری کي راځي:

عن أيوب عن محمد قال: حدثتنى حفصة : أن سيرين عرس بالمدينة فأولم فدعا الناس سبعًا وكان فيمن دعا أبى بن كعب رضي الله عنه فجاء وهو صائم فدعا لهم بخير وانصرف. وكذا قاله حماد بن زيد عن أيوب : سبعًا إلا أنه لم يذكر حفصة فى إسناده . وقال معمر عن أيوب ثمانية أيام والأول أصح. (السنن الكبرى للبيهقى:۷/ ۲٦۱، باب ايام الوليمة، دار المعرفة).

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله هم په اعلاء السنن کي باب قائم کړی دئ وږ ګورئ:

باب جواز الوليمة إلى أيام إن لم يكن فخراً... عن حفصة بنت سرين قالت: لما تزوج أبي دعا الصحابة سبعة أيام.... (اعلاء السنن:۱۱/ ۱۳، ادارة القرآن).

تر نکاح وروسته د هلک د خسر خیلو له طرفه د ډوډئ د دعوت حکم

سوال: تر نکاح وروسته د هلک د خسر خیلو له طرفه دعوت کول مستحب دئ، که مباح او که بدعت دئ؟

الجواب: د شریعت په حدودو کي که چیري هغوی په خپله دعوت کول وغواړي نو دا یو مباح کار دئ مګر نن سبا چي په ودو کي کوم دعوتونه کیږي په دې تکلفات او اسراف زیات دئ کوم چي د شریعت د مزاج سره بالکل خلاف دئ نو ځکه په دې کي میانه روي ضروري ده او یا دغه سلسله باید ختم سي؟

په کفایت المفتي کي راځي:

دانجلۍ له طرفه ورا والو ته ډوډۍ ورکول سنت او مستحب نه دي که چیري هغوی بېله التزامه په خپله رضایت سره یې ورکوي نو بیا مباح دي که یې ورنه کړي بیا هیڅ التزام نه سته. (کفایت المفتي: ٥/ ١٥٧).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

دا صحیح ده چي ولیمه هلک یا د هغه اولیاء کوي مګر کوم مېلمانه چي د انجلۍ کور ته راځي او د هغوی مقصد په واده کي شرکت کول وي او هغوی یې راغوښتي هم وي نو که دوی ډوډۍ ورنه کړي نو هغوی به چیري ډوډي خوري او خپلو مېلمنو ته ډوډۍ ورکول خو د شریعت حکم دئ او نبي کریم ﷺ هم تاکید پر کړی دئ، البته د هلک د خاندان په شان په مقابله سره د انجلۍ له طرفه ولیمه ثابته نه ده. (فتوی محمودیه: ١٢/ ١٤٢، مبوب ومرتب).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

د نکاح په وخت کي بېله جبره انجلۍ والا هم ضیافت (مېلمستیا) کولای سي نبي کریم ﷺ د خپلي لور فاطمې رضي الله عنها پر نکاح بزه حلال کړه او مهاجرینو او انصارو ته یې دعوت وکړئ کله چي خلک له ډوډۍ څخه فارغ سول نو ډوډۍ یې ازواج مطهراتو ته ور واستوله . له حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه په تفصیل سره دا روایت منقول دئ کوم چي د مصنف عبد الرزاق پر څلورو صفحو مشتمل دئ مګر دغه دعوت سنت نه دئ، نه د صحابه وو په زمانه کي د دې رواج وو نو ځکه دا رواج کول هم مناسب نه دئ، البته د دې اجازه سته. (کتاب الفتاوی: ٤/ ٥١٧).

د ابن عباس رضي الله عنه حدیث په مصنف عبد الرزاق کي وګورئ:

١ _ عبد الرزاق عن يحيى بن العلاء البجلي عن عمه شعيب بن خالد عن حنظلة بن سمرة بن المسيب عن أبيه عن جده عن بن عباس رضي الله عنه قال: كانت فاطمة تذكر لرسول الله ﷺ فلا يذكرها أحد إلا صد عنه، حتى يئسوا منها فلقي سعد بن معاذ رضي الله عنه علياً فقال: إني والله ما أرى رسول الله ﷺ يحبسها إلا عليك .....إلى قوله فانطلق علي رضي الله عنه فقال: يا رسول الله منى

تبنيني ؟ قال: الثالثة إن شاء الله، ثم دعا بلالاً، فقال: يا بلال إني زوجت ابنتي بن عمي، وأنا أحب أن يكون من سنة أمتي إطعام الطعام عند النكاح، فأت الغنم، فخذ شاة، وأربعة أمداد أو خمسة، فاجعل لي قصعة لعلي أجمع عليها المهاجرين والأنصار، فإذا فرغت منها فآذني بها، فانطلق ففعل ما أمره، ثم أتاه بقصعة، فوضعها بين يديه، فطعن رسول الله ﷺ في رأسها، ثم قال: أدخل علي الناس زفة زفة .... حتى فرغ الناس، ثم عمد النبي ﷺ إلى ما فضل منها فتفل فيه، وبارك، وقال: يا بلال! احملها إلى أمهاتك، وقل لهن : كلن وأطعمن من غشيكن .... (مصنف عبد الرزاق:٥/ ٤٨٦-٤٨٩، رقم ٩٧٨٢، باب تزوج فاطمة رضي الله عنها - ويحيى بن العلاء البجلي، متروك).

په دې روايت کې يحيی بن علاء بجلي راوي متروک دئ نو ځکه دا روايت د اعتماد وړ نه دئ.

۲_ ځينو حضراتو د حضرت ام حبيبې رضي الله عنها د نکاح د روايت څخه استدلال فرمايلی دئ چې نبي کريم ﷺ ونجاشي ته خط ليکلي وو چې له ام حبيبې رضي الله عنها سره زما نکاح وکړه او خالد بن سعيد د نکاح وکيل جوړ سو او نجاشي نکاح وتړله بيا په هغه مجلس کې دوډۍ وخوړل سوه.

په مستدرک حاکم کې راځي:

ثم أرادوا أن يقوموا فقال : اجلسوا فإن سنة الأنبياء عليهم الصلاة و السلام إذا تزوجوا أن يؤكل الطعام على التزويج، فدعا بطعام فأكلوا. (المستدرک للحاجم:٤/ ٢٦/ ٦٧٧، ذکر أم حبيبة - والاستيعاب لابن عبد البر:١/ ٢٦٢، أم حبيبة بنت أبی سفيان).

مولانا ظفر احمد عثماني فرمايي:

قلت: وليس ذلک بوليمة، بل هو طعام التزويج، ويلتحق به ما تعارفه المسلون من نثر التمر ونحوه في مجلس النكاح. (اعلاء السنن:١١/ ١٢).

مګر مفتي اعظم حضرت مفتي کفایت الله صاحب دغه د ډوډئ پر ولیمې باندي حمل کړه لکه مخکي چي تېر سول.

لنډه دا ده چي که انجلۍ والا مېلمنو ته یو څه شی ور وخوري نو دا صحیح دئ مګر مسنون نه دئ.

والله تعالی اعلم.

که چیري په د ولیمې په دعوت کي منکرات وه نو د شرکت حکم

سوال: که چیري د ولیمې په دعوت کي سروز، فلمبرداري او داسي نور منکرات وه نو په داسي دعوت کي شرکت کولای سي او که نه؟

الجواب: په داسي دعوتو کي د شرکت اجازه نه سته.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

وإن كان هناك لعب وغناء قبل أن يحضر فلا يحضر لأنه لا يلزمه الإجابة إلا إذا كان هناك منكر لما روي عن علي رضي الله عنه قال: صنعت للنبي صلى الله عليه وسلم طعامًا فدعوته له فحضر فرأى في البيت تصاوير فرجع . (البحر الرائق:٨/ ٨٨، كتاب الكراهية، كوئته – وكذا في الهداية:٤/ ٤٥٥، كتاب الكراهية).

په کتاب فتاوی کي راځي:

سروز او فلمبرداري ګناه ده او په کوم دعوت کي چي د معصیت ارتکاب وي په هغه کي شرکت روا نه دئ، مشهور فقیهي علامه شامي رحمه الله د خپلي زمانې فسق وفجور ته د کتولو سره سره لیکلي دي چي زموږ په زمانه کي تر څو چي دا معلومه نه وي چي په دعوت کي معصیت نه وي په هغه کي باید شرکت ونه کړل سي. « والا متناع أصل في زماننا إلا إذا علم يقيناً أن لابدعة ولا معصية ».

(رد المحتار).

زموږ په دې زمانه کي چي تر څو دا اطمنان ونه سي چي په دعوت کي منکرات نه سته نو ورتلل ورته په کار نه دي که چیري پوهان، خلک خپل ځانونه له داسي مجلسو څخه لیري وساتي، نو

شاید چي د معاشرې به یو څه اصلاح وسي. (کتاب الفتاوی:۴/ ۴۱۴ – وفتاوی حقانیه:۴/ ۴۲۹). والله ﷻ اعلم.

شپږم ...... باب

د نکاح متفرق مسائل

د نکاح په مجلس کي د وعظ او نصیحت حکم

سوال: د نکاح په مجلس کي د یوه عالم وعظ او نصیحت کول صحیح دي او که نه؟ او که دا بدعت دئ؟

الجواب: که چیرې دا سنت یا لازم ونه بلل سي بلکي د وخت مصلحت وبلل سي نو په دې کي هیڅ پروا نه سته، هغو سلفیانو هم دغه روا بللي دي کوم چي امور محدثه وژونکي زهر بولي.

په فتاوی علماء البلد الحرام کي یې وګورئ:

لا مانع من القاء محاضرة نافعة على الحاضرين في أمرهم بالمعروف ونهيهم عن المنكر في حفل الزواج. (فتاوى علماء البلد الحرام:۱۳۸۵، الباب الرابع عشر، النكاح).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

په اردو باید خطبه ونه ویل سي غوره دا ده چي اول په اردو یا بله ژبه د نکاح مطلب بیان کړل سي بیا په عربي ژبه خطبه وویل سي په دې سره به له یوې خوا خلک په خپله ژبه د نکاح احکام وپېژني او د خطبې مقصد به وپېژني او په عربي کي د ویلو څخه دا ګټه حاصلیږي چي خاص د نبي کریم ﷺ په الفاظو کي د خطبې اداء کېدل راسي او د دې افضل او اولی کېدل ښکاره دي. (کتاب الفتاوی:۴/ ۳۰۰). والله ﷻ اعلم.

له نصراني ښځي سره په مسجد کي د نکاح د تړلو حکم

سوال: يو سړی له يوې نصرانۍ انجلۍ سره نکاح کول غواړي او انجلۍ مسلمانېدو ته تياره نه ده ايا دا نکاح مکروه ده او که بالکل روا ده؟ د مکروه په صورت کي که چيري د هلک اولياء په مسجد کي د نکاح پر تړلو اصرار کوي نو د مسجد کميټي اجازه ورکولای سي او که نه؟

الجواب: له کتابيې يا نصرانۍ ښځي د نکاح تفصيل تېری سوی دئ.

لنډه دا ده چي تر مکروه کم درجه نه ده نو کله چي دا نکاح مکروه سوه نو مسجد بايد له داسي مکروه کار څخه وساتل سي په مسجد کي د مباح خبرو له پاره قصدا کښېنستل هم مکروه دي، په مسجد کي ناپاک تېل سوځول هم مکروه دئ، د کوچني او لېوني دخول هم مکروه دئ نو دغه مکروه نکاح بايد په يو بل ځای کي وسي که چيري يې کمېټي والا منع کړي نو بالکل پر ځای خبره ده. والله سبحانه وتعالی اعلم.

د نکاح تړلو د اجرت حکم

سوال: ايا أجرت علی النکاح روا دئ او که نه؟

الجواب: اجرت علی النکاح روا دئ کله چي په هغه کي د جبر معامله نه وي بلکي په خپل اختيار سره بېله جبر مقرر کړل سي مګر که چيري د کوچنۍ ولي نکاح تړونکی وي نو د هغې له مال څخه اجرت اخيستل روا نه دي، همدا ډول که چيري په يو ځای کي يو نکاح تړونکی وو او هغه بل چا ته د نکاح تړلو اجازه نه ورکوي او په خپل رای يې اجرت اخيستئ نو د ده له پاره هم اجرت اخيستل ناروا دي.

په المحيط البرهاني کي راځي:

وفي «فتاوی النسفي» وإذا کان القاضي يتولی القسمة بنفسه حل له أخذ الأجر وکل نکاح باشره القاضي وقد وجب مباشرته عليه کنکاح الصغار والصغائر، فلا يحل له أخذ الأجرة عليه، وما لم يجب مباشرته عليه حل له أخذ الأجرة عليه . (المحيط البرهاني:۸/ ۵۰۲، الفصل السابع عشر، دار حياء التراث العربی).

په فتاوی بزازیه کي راځي:

ولو تولی نکاح صغیر لایحل له أخذ شيء لأنه واجب علیه وکل ما وجب علیه لایجوز أخذ الأجر وما لایجب علیه أخذ الأجر. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندية:٥/ ١٤٠).

په امداد الفتاوی کي راځي:

لکه څنګه چي د قرآن او فقهي پرښوونه او امامت، اذان د ضرورت په لحاظ تاکل سوې اجره یا اجرت مثل ورکول یا اخیستل روا دي نو همدا ډول نکاح تړونکی د ایجاب او قبول د شرعي طریقې د بیانولو په سبب اجرت مثل یا مقرره اخیستلای سي مثلا لکه د علم فقه د بندېدلو په سبب علم فقه ضایع کیږي یعني که اجرت وانه خلي نو دا به ضایع سي، همدا ډول که د نکاح تړونکی اجرت بند کړل سي نو د نکاح د فاسدېدو یا باطلېدو او یا د داسي نورو مفاسدو خطره دئ. (امداد الفتاوی:٢/ ٢٧١).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

د نکاح تړونکي اجرت انعام دئ « کما لایخفی علی من راجع إلی العرف » که چیري اجرت وونو بیا هم روا دئ. لکونها أجرة تعلیم الإیجاب والقبول تلقینها. (فتاوی فریدیه:٤/ ٣٨٢).

په کفایت المفتي کي راځي:

د نکاح تړلو اجرت د قاضي او را بلونکو تر منځ په رضایت سره اخیستل روا دي. (کفایت المفتي:٥/ ١٤٨، دار الاشاعت). والله تعالی اعلم.

انجلۍ ته له خپل مور او پلار سره تلل

سوال: د یوې انجلۍ واده وسو د هغې رخصتي پاته ده له ځینو حضراتو څخه مي اورېدل دي چي د انجلۍ مور او پلار به انجلۍ د مېړه کور ته رسوي په دې سلسله کي د احادیث او آثارو په رڼا کي رهنمایي وکړئ؟

الجواب: د حضرت عائشې رضي الله عنها د رخصتۍ په اړه په احادیثو کې مذکور دي چې د هغې مورام رومان رضي الله عنها او نورو ښځو هغه هلته ورسوله، همدا ډول حضرت فاطمه رضي الله عنها ام ایمن ورسوله له دې څخه معلومه سوه چې د ناوې په رخصتولو کې د هغې سره ښځې تللای سي.

په بخاري شریف کې راځي:

عن عائشة رضي الله عنها، قالت: تزوجني النبي ﷺ فأتتني أمي فأدخلتني الدار فإذا نسوة من الأنصار في البيت فقلن على الخير والبركة، وعلى خير طائر. (رواه البخاري: كتاب النكاح، باب الدعاء النساء اللاتي يهدين العروس: ۲/ ۷۷۵).

په عمدة القاري کې راځي:

والمراد بالنسوة الهاديات هي أم عائشة رضي الله عنها ومن معها من النساء لأن العادة أن أم العروس إذا أتت بالعروس إلى بيت زوجها يكون معها نساء قليلات كن أو كثيرات. (عمدة القاري: ۱٤/ ۱۱۵، باب الدعاء للنساء، ملتان).

په فتاوی شامي کې راځي:

قوله (وهل يكره الزفاف) هو بالكسر كالكتاب إهداء المرأة إلى زوجها، قاموس، والمراد به هنا اجتماع النساء لذلك لأنه لازم له عرفاً، أفاده الرحمتي. (شامي: ۳/ ۹، كتاب النكاح، سعيد).

په ذخائر العقبی کې راځي:

وعن أنس رضي الله عنه قال: جاء أبو بكر ثم عمر رضي الله عنهما يخطبان فاطمة رضي الله عنها إلى رسول الله ﷺ فسكت ولم يرجع اليهما شيئاً فانطلقا إلى علي رضي الله عنه يأمرانه بطلب ذلك ..... إلى قوله وأمرهم أن يجهزوها فجعل لها سرير مشرط ووسادة من أدم حشوها ليف، وقال لعلي رضي الله عنه: إذا أتتك فلا تحدث شيئاً حتى آتيك فجاءت مع أم أيمن رضي الله عنها ...... (ذخائر العقبي لأحمد بن عبد الله

الطبري:۱/ ۲۸، باب ذكر تزويجها بعلي رضي الله عنه - ومثله في سبل الهدى الرشاد في سيرة خير العباد لمحمد بن يوسف الشامي:۱۱/ ٤۱، الباب التاسع في بعض مناقب السيدة فاطمة رضي الله عنها بنت رسول الله ﷺ - وكذا في اتحاف السائل بما لفاطمة من المناقب للمناوي:۱/ ٥، الباب الثاني في تزويجها بعلي رضي الله عنه).

د ((سربر مشرط)) مطلب دا دئ چي د خرما ودل سوي رسۍ ښځه جوړه سوې چارپايي. والله تعالى اعلم.

د ناوي د موټر د ښایسته کولو حکم

سوال: د ناوي موټر ښایسته کول صحيح دي او که نه؟

الجواب: دا يو غير ثابت او د پرېښنولو ور رسم دئ او د نصاری طريقه ده له دې ځخه ځان ساتل ضروري دي که ځه هم دغه سنت او ضروري ونه بلل سي نو بيا هم بې کار او د پرېښنولو ور کړنه ده. په حديث شريف کي راځي چي نبي کريم ﷺ د پردي قوم (کفارو) د مخصوص تهذيب او ثقافت د اختيار کولو ځخه منع کړې ده ((من تشبه بقوم فهو منهم)).

په فتاوی محموديه کي د ناوي او زوم ته د سواري په اړه ليکلي دي:

دا يو غير ثابت رسم دي د دې پابندي التزام مالايلتزم او يو خالي رواج دئ، بايد دا ترک کړل سي که چيري په دې کي د ثواب نيت وي خو تر رسم بالاتر بدعت هم دئ. (فتاوی محموديه:۱۱/ ۲۱۱).

په فتاوی رحيميه کي يې د واده د رسم او رواج په اړه ليکلي دي:

فقيه او محدث قاضي ثناء الله پانی پتی رحمه الله ليکلي دي مسلمان ته له کفارو او فساقو سره مشابهت حرام دئ (مالابدمنه).

په کفايت المفتي کي راځي:

(د واده د رسمو د ختمولو ضرورت) په دې کي هيڅ شک او شبه نه سته چي نن سبا د مسلمانانو اقتصادي مصيبت دغه فاسدو رواجونه دي، دغه رواجونه د مسلمانانو دولت، او عزت دا ټول ختموي کوم رسمونه چي مسلمانانو له کافرانو ځخه زده کړي دي هغه خو واجب الترک دي او په دې کي

هیڅ تامل کېدلای نه سي. (کفایت المفتي:۵/ ۱۵۵، کتاب النکاح). د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (اسلامی فقه:۲/ ۸۵-۸۸ – آپ کی مسائل اور ان کا حل:۵/ ۲۰۰). والله تعالیٰ اعلم.

د واده په وخت کي نکروزو لګولو حکم

سوال: د واده په وخت کي د نکروزو لګولو څه حکم دئ، همدا ډول په دې کي د رسم او رواج پابندي کیږي او ښځي جمع کیږي او په دې کي سروز او ګډېدل هم سته شرعا د دې څه حکم دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د ښځو له پاره په انفرادي توګه د خوشحالۍ په موقع کي نکریزی لګول مستحب دي مګر د رواج پابندي او سروز او ګډېدل او نور کول د دې ټولو ترک لازم دئ.

په احسن الفتاوی کي راځي:

د ښځو له پاره نکریزي لګول مستحب دي مګر نن سبا چي کوم رواج دئ چي د ښځو مجمع جوړېږي او دا د څو مفاسدو مجموعه ده نو ځکه له دې څخه ځان ساتل په کار دي او په خپله په انفرادي توګه نکریزي لګولای سي. (احسن الفتاوی:۸/ ۱۶۰).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

ښځو ته نکریزي لګول صحیح دي بلکي د هغوی له پاره مخصوصي دي چي پر لاسو و پښو یې ولګوي او نارینه باید د هغوی مشابهت اختیار نه کړي. (فتاوی محمودیه:۱۱/ ۲۱۴).

په حلال او حرام نومي کتاب کي راځي:

د ښځو له پاره څنګه چي د زیبائش او آرائش زیات رعایت کړل سوی دئ نو ځکه هغوی نکریزي پر لاسو هم او پر پښو هم لګولای سي. (حلال و حرام:۲۰۹، از مولانا خالد سیف الله). والله تعالیٰ اعلم.

د نکاح په وخت کي پر زوم د خرما اچولو حکم

سوال: د نکاح په وخت کي د خرما د پاشلو څه حکم دئ؟ ایا له یوه روایت څخه ثابت دي او که نه؟

الجواب: فقهاوو د نکاح د تړلو پر وخت د خرما د پاشلو او وېشلو اجازه ورکړې ده، البته که په مسجد کي نکاح وه نو بهتره دا ده چي هغه دي تقسیم کړي چي په هغه کي د مسجد د احترام رعایت

وسي، همدا ډول په دې مسئله کي روايتونه هم مروي سوي دي مګر امام بيهقي رحمه الله فرمايلي دي، چي دا ټول روايتونه ضعيف دي.

په سنن کبری کي راځي:

قال الإمام البيهقي رحمه الله وقد روي في الرخصة فيه أحاديث كلها ضعيفة. (السنن الكبرى:٧/ ٢٨٧).

د روايتونو د تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکريا:١).

په فتاوی هنديه کي راځي:

لا بأس بنثر السكر والدراهم في الضيافة وعقد النكاح كذا في السراجية . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٤٥، الباب الثالث عشر فى النهبة ونثر الدراهم والسكر....).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

که چيري نکاح په مسجد کي وه نو غوره دا ده چي خرما وويشل سي ځکه چي په دې کي د مسجد د احترام زيات رعايت دئ. (كتاب الفتاوى:٤/ ٤٤٥). والله تعالی اعلم.

تر نکاح وروسته د روغبړ کولو حکم

سوال: کله چي خلک له نکاح څخه فارغ سي نو روغبړ کوي شرعا د دې څه حکم دئ؟ او که خلک دغه سنت ونه بولي بلکي خالي د خوشحالۍ او د محبت د اظهار وسيله يې وبولي او پر نه کونکو هيڅ پړه هم ونه کړي نو څه حکم يې دئ؟

الجواب: له ډېرو روايتونو څخه معلومه سوې ده چي روغبړ د محبت د اظهار له پاره روا دئ نو د نکاح په وخت کي هم د دې اجازه سته مګر دغه سنت او عبادت بلل بدعت دئ، لکه څنګه چي زموږ لويو علماوو فرمايلي دي، د عبادت بللو يوه علامه دا هم ده چي پر نه کونکو ملامتي وويل سي.

د روایاتو د تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکريا: ٢ جلد). **والله تعالی اعلم.**

له پېريانو ښځه د حمل اخيستلو حکم

سوال: که چيرې يوې ښځې حمل واخيستې او له هغې ښځه پوښتنه وسوه چي دا له چا ښځه دي؟ هغې ووېل، له پېرې ښځه نو ايا د دې ښځې خبره منل کيږي او که نه او ايا له پېريانو ښځه حمل اخيستل کېدلای سي او که نه؟

الجواب: له پېريانو سره نکاح کول روا نه ده چي د هغه تفصيل تېر سوی دئ، البته له پېريانو ښځه حمل اخيستل ممکن دي سره له دې د ښځې دغه خبره نه منل کيږي ځکه چي له دې دعوی ښځه د فساد د خپرېدو خطره سته.

وګورئ په الاشباه والنظائر کي راځي:

.... وبعضهم استدل بما رواه حرب الكرماني في مسائله عن أحمد وإسحاق، قال: حدثنا محمد بن يحيى القطيعي: حدثنا بشر بن عمر بن لهيعة عن يونس بن يزيد عن الزهري قال: «نهى رسول الله ﷺ عن نكاح الجن»، وهو وإن كان مرسلًا فقد اعتضد بأقوال العلماء.

(الاشباه والنظائر: ۳/ ۹٤، احکام الجان، ادارة القرآن).

وكرهه الإمام مالك رحمة الله عليه فقال: أخشى أن توجد بنت حاملًا وتسأل عن حملها فتقول. تزوجني جني، وبذلك يكثر الفساد. (قرة العين لعبد الله بن محمد بن الصديق الغماري: ص ٦٩، بيروت مثله فى «الاشباه والنظائر»: ۳/ ۹۵، احكام الجان، ادارة القرآن). والله تعالى اعلم.

د نصراني ښځي د مسلمانېدو سره د نکاح حکم

سوال: که چيرې نصراني ښځه مسلمانه سوه نو هغه بايد څه وکړي او که نصراني سړي مسلمان سو او ښځه تر اوسه نصرانيه ده نو نکاح پاتيږي او که نه؟

الجواب: که چيرې له زوجينو ښځه خالي ښځې اسلام راوړئ نو که ممکن وه نو دا دي و خاوند ته هم د اسلام دعوت ورکړي که چيرې هغه اسلام قبول کړئ نو نکاح پاتــه سوه او کــه بيــا هــم خاوند اسلام قبول نه کړئ نو که ممکنه وي قاضي دي د هغوی تر منځ تفريق راولي د هغې ښځې عدت درې

حیضونه یا درې میاشتې دې که چیرې حیض نه ورتلې او یا وضع حمل دې که چیرې حامله وه تر دې وروسته یې نکاح ختمیږي او بیا تر عدت وروسته د هغې له پاره دوهمه نکاح کول روا دي.

ولو أسلم أحد الزوجين عرض الإسلام على الآخر فإن أسلم وإلا فرق بينهما كذا في الكنز، وإن سكت ولم يقل شيئًا فالقاضي يعرض الإسلام عليه مرةً بعد أخرى حتى يتم الثلاث احتياطًا كذا في الذخيرة .... وإذا أسلم أحد الزوجين في دار الحرب ولم يكونا من أهل الكتاب أو كانا والمرأة هي التي أسلمت فإنه يتوقف انقطاع النكاح بينهما على مضي ثلاث حيض سواء دخل بها أو لم يدخل بها كذا في الكافي، فإن أسلم الآخر قبل ذلك فالنكاح باق ولو كانا مستأمنين فالبينونة إما بعرض الإسلام على الآخر أو بانقضاء ثلاث حيض .... ولو كانت التحيض بصغر أو كبر لا تبين إلا بمضي ثلاثة أشهر. (عالمگیری:۱/ ۳۳۸ – وهکذا فی الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۵۳٤-۵۳٦).

وإن كانت حاملاً فحتى تضع حملها، ح من القهستاني. (رد المحتار:۲/ ۵۳۷).

او که چیرې یوازې خاوند اسلام راوړې او ښځه کتابیه وه نو نکاح پاتیږي او که چیرې ښځه کتابیه نه وه او اسلام ورته عرض کول ممکن وو نو بیا دې درې ځله د اسلام دعوت ورکړي که چیرې هغې اسلام قبول کړې او یا په کتابي دین کې داخل سوه نو نکاح باقي پاتیږي که داسې نه وي د داړو تر منځ دې تفریق وکړي او که چیرې دا ممکن نه وه نو تر درې حیضونو یا درې میاشتې یا د حمل تر وضعې وروسته خو په خپله نکاح ختمیږي.

لو أسلم زوج الكتابة بقي نكاحهما كذا في الكنز. (عالمگیری:۱/ ۳۳۸).

أن زوج الكتابية إذا أسلم يبقي النكاح لجواز التزوج بها ابتداء. (البحر الرائق:۳/ ۲۱۱).

إذا أسلم الزوج وهي مجوسية فتهودت أو تنصرت، داما على النكاح كما لو كانت يهودية أو نصرانية من الابتداء كذا في المبسوط. (البحر الرائق:۳/ ۲۱۱).

(قوله ولو أسلم زوج الكتابية بقي نكاحهما) فهو مخصص لكل من المسألتين صادق بصورتين ما إذا كان الزوج كتابيا أو مجوسيا لأنه يصح النكاح بينهما ابتداءً فلأن يبقى أولى ولو تمجست يفرق بينهما لفساد النكاح. (البحر الرائق:۳/ ۲۱۳ – وهكذا في الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۵۳۵ – (ماخوذ از مجموعه قوانين اسلامی:ص ۶۹–۷۰، دفعه ۶۶–۶۷). والله ﷻ اعلم.

د شهوت ماتولو علاج

سوال: کله چې زه د یوې مجبورۍ په سبب واده کولای نه سم او د همېشه روژو په سبب ډېره کمزوري راته رسیږي حتې چې زه ومرګ ته نژدې کېږم او شهوت پر خپل ځای پاتـه وي نو د دې څخه پرته یو بله طریقه د شهوت د ماتولو له پاره سته؟

الجواب: په حدیث شریف کې راځي کوم څوک چې واده کولای نه سي نو روژه د هغه له پاره غوره کار دئ مګر که بیا هم اثر نه کوي نو امام غزالي رحمه الله فرمایي، بیا دي وړې ګرځي او نظر دي کښته وساتي او زړه دي په داسي شیانو کې مشغول کړي چې ذهن ګر سره د شهوت طرف ته ولاړ نه سي که چیري دا هم ګټه ورنه کړي نو نکاح کول بهترینه لاره ده سره له دې چې مټ وهل په اکثر او قاتو کې ناروا دئ او ځان خصي کول شرعا منع دي.

په بخاري شریف کې راځي:

قال رسول الله ﷺ: «يا معشر الشباب من استطاع الباءة فليتزوج، ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء». (رواه البخاري:۲/ ۷۵۸).

په فتح الباري کې راځي:

وفي الحديث أيضا إرشاد العاجز عن مؤن النكاح إلى الصوم، لأن شهوة النكاح تابعة لشهوة الأكل تقوى بقوته وتضعف بضعفه، واستدل به الخطابي على جواز المعالجة لقطع شهوة النكاح بالادوية، وحكاه البغوي في « شرح السنة » وينبغي أن يحمل على دواء يسكن الشهوة دون ما يقطعها اصالة لأنه قد يقدر بعد فيندم لفوات ذلك في حقه، وقد صرح الشافعية بأنه لا يكسرها بالكافور ونحوه والحجة فيه إنهم اتفقوا على منع الجب والخصاء فيلحق بذلك ما في معناه من التداوي بالقطع أصلاً.... واستدل به به بعض المالكية على تحريم الاستمناء لأنه ارشد عند العجز عن التزويج إلى الصوم الذي يقطع الشهوة، فلو كان الأستمناء مباحاً لكان الأرشاد إليه أسهل .... (فتح البارى:۹/ ۱۱، باب قول النبي ﷺ « من استطاع الباءة فليتزوج »).

په عمدة القاري کې راځي:

واستدل به الخطابي على جواز المعالجة لقطع شهوة النكاح بالأدوية، وحكاه البغوي في شرح السنة وينبغي...... واستدل به بعض المالكية على تحريم الاستمناء، وقد ذكر أصحابنا الحنفية أنه يباح عند العجز لأجل تسكين الشهوة. (عمدة القارى:۱٤/ ۹، ملتان).

په احياء العلوم کې راځي:

فلينظر المريد إلى حاله وقلبه فإن وجده في العزوبة فهو الأقرب وإن عجز عن ذلك فالنكاح أولى به ودواء هذه العلة ثلاثة أمور: الجوع، وغض البصر، والاشتغال بشغل يستولي على القلب فإن، لم تنفع هذه الثلاثة فالنكاح هو الذي يستأصل مادتها فقط، لهذا كان السلف يبادرون إلى النكاح وإلى تزويج البنات . (احياء علوم الدين:۳/ ۱۰۰، كتاب كسر الشهوتين).

په مشکوة شریف کې راځي:

وعن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه قال: رد رسول الله ﷺ على عثمان بن مظعون التبتل ولو أذن له لاختصينا. متفق عليه. (مشكاة: ۲/ ۲۶۷، كتاب النكاح).

په درمختار کې راځي:

فرع في الجوهرة الاستمناء حرام وفيه التعزير، وفي الشامي: قوله الاستمناء حرام أي بالكف إذا كان لاستجلاب الشهوة أما إذا غلبته الشهوة وليس له زوجة ولا أمة ففعل ذلك لتسكينها فالرجاء أنه لا وبال عليه كما قاله أبو الليث ويجب لو خاف الزنا. (الدر المختار مع رد المحتار: ۴/ ۲۷، سعيد). والله تعالى اعلم.

د عزل (د حمل د منع کولو) حکم

سوال: ایا د خپلې ښځې عزل (د حمل منع) کول صحیح دي او که نه؟ او په نبوي ﷺ دور کې د دې مثال سته او که نه؟ او که چیرې یو سړی د اولاد د وقفې له پاره عزل وکړي نو څه حکم یې دئ؟

الجواب: د نبي کریم ﷺ په زمانه کې چې د حمل د منع کولو صورت رواج وو هغه ته د فقهې په اصطلاح کې عزل وایي او نبي کریم ﷺ چې کوم ارشادات د سوالو په جوابو کې ویلي دي څه په دې ډول دي چې له هغو څخه صاف نه ممانعت معلومیږي او نه په صریح توګه جائز استفاده معلومیږي، البته دومره ضرور واضح معلومیږي چې نبي کریم ﷺ هغه خوښ کړی نه دئ نو ځکه په دې مسئله کې د مخکینو امامانو اختلاف دئ. ځینو دغه مطلقا روا بللی دئ او ځیني وایي چې دا کار في نفسه ناخوښه دئ، مګر د خاصو ضرورتو په سبب اجازه هم ورکول کېدلای سي او که د یو فاسد غرض په سبب داسي وکړل سي نو ناروا دئ، مثلا دا خیال یې وي چې که دغه انجلۍ سوه نو بدنامي ده نو دې عمل ته موږ روا نه سو ویلای. همدا ډول که یو سړی د مفلسي له بیرې څخه دا کار وکړي نو دا هم روا نه دئ ځکه چې د دې مقصد د اسلامي اصولو سره بالکل خلاف دئ.

د هغو عذرونو ذکر کوم چې په شریعت کې معتبر بلل سوي دي، ښځه دومره کمزورې وي چې د حمل د بار تحمل کولای نه سي یا په لوی سفر کې وي او یا په داسي ځای کې وي چې د قیامې امکان

نه وي او يا د زوجينو تر منځ تعلقات برابر نه وي او د جلا والي اراده يې وي، همدا ډول كه چيري د زمانې د فساد په سبب د اولادو د خرابېدو قوي امكان وي نو په داسي صورت كي هم عزل روا دئ.

په درمختار كي راځي:

وفي الفتاوى إن خاف من الولد السوء في الحرة يسعه العزل بغير رضاها لفساد الزمان، ويحتمل أن أراد الحاق مثل هذا العذر به كأن يكون في سفر بعيد، أو في دار الحرب فخاف على الولد، أو كانت الزوجة سيئة الخلق ويريد فراقها فخاف أن تحبل. (ردالمحتار:۳/ ۱۷۳، سعيد).

د دې تېرو عذرونو لنډيز دا دئ چي په شخصي يا انفرادي ډول كه يو سړي ته عذر پېښ سي نو بيا د داسي عمل اجازه سته، د عذر تر رفع كېدو وروسته بيا د ده له پاره هم روا نه ده او د عامو خلكو له پاره داسي رواج جوړول مكروه دي.

په كتاب الفتاوى كي راځي:

كوم صورت چي ذكر سو هغه ته په عربي كي عزل وايي، خالي په دې نيت عزل كول چي كه زامن پيدا سي نو ډوډئ به له كومه ځايه كوم دا ناروا ده، مگر د طبي ضرورت په سبب عزل كول روا دي. (كتاب الفتاوى:٤/ ٤٤٤).

د عزل څخه پرته د بلي طريقې د استعمالولو حكم

سوال: د عزل د طريقې څخه پرته د حمل د منعي چي كومي طريقې دي ايا هغه هم روا دي مثلا لكه گولۍ استعمالول او يا ستني لگول او نور؟

الجواب: د حمل د منعي له پاره چي نوري كومي طريقې دي هغه هم كه د دغو يادو اعذارو په سبب وي نو بيا اجازه سته او كه چيري د يوې دوا په سبب پر جسم او صحت منفي اثرات هم لوېدل نو بيا دي له يوه ماهر طبيب سره مشوره وكړي او بېله مشورې دې نه استعمالوي ځكه چي د قران او سنت په رڼا كي د صحت حفاظت ضروري دئ او كه چيري ماده منويه د مور رحم ته ورسېده او تر هغه څو

هفتي وروسته يې داسي وکړه نو دې ته عزل نه وايي، د دې حکم دا دئ چي بېله سختي مجبورۍ او د ماهره طبيب د مشورې پرته دي داسي نه کوي.

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

د توليد د ضبط دوهم صورت دا دئ چي ماده منويه خو رحم ته ورسيږي مگر هغه د داسي دوا وو استعمال وکړي چي د حمل استقرار ونه سي له فقهي نظرو څخه معلوميږي چي دا صورت هم په عامو حالاتو کي ناروا دئ که څه هم دا صحيح دئ ځکه چي تر اوسه په هغه کي روح نه سته، نو ځکه هغه ختمول د قتل په معنا کي نه راځي مگر که چيري يې دا پر خپل حال پرېښودلی وای نو هغه د يو ژوندی نفس شکل اختيار وئ نو ځکه ائنده ته په کتلو سره دغه د نفس وژل بلل کيږي. فقهاوو د هغه له پاره دا نظير وړاندي کړی دئ که يو سړی د احرام په حالت کي د چوغکي هګۍ ماته کړي نو له څنګه چي چوغکه مړه کول د دم موجب ده، نو همدارنګه خالي هګۍ هم د دم موجب وي، ځکه چي د يو غير معمول عذر په سبب خالي د اولاد څخه د ځان ساتلو په سبب داسي کول روا نه دي او که بيا د يوه ضرورت په سبب وي نو بيا روا ده، مثلا که داسي وي چي د پيدا کېدو په وخت کي د ښځي د مرګ خطره وه او يا په يوه خطرناک او درانه مرض کي د مبتلاء کېدو خطره وه او يا دزنا حمل وو نو په داسي صورت کي د مانع د استعمال اجازه سته. (جديد فقهی مسائل: ۵/ ۱۲۷-۱۳۰).

والله ﷻ اعلم.

بېله عذر د درو او څلورو کالو له پاره د اولاد د وقفې حکم

سوال: نن سبا اکثره خلک خپل ذاتي پلان جوړوي لکه د درو يا څلور کالو وقفه ضروري بولي ديوه غير طبي مجبوريت په سبب دا روا ده او که نه؟ کله چي د معاش خطره يې هم په ذهن کي نه وي؟

الجواب: ډېر خلک دا فکر کوي چي د اوسه څخه لا د اولاد د بار پر ځای يوسم يو څو کاله د ازادۍ ژوند تېروم او هغه د حمل د منعي تدبيرونه اختياره وي، په ښکاره دغه غرض يو داسي عرض نه دئ چي د شريعت خلاف وي ځکه چي د قواعدو له مخي د دې اجازه معلوميږي مګر دا له اولاد څخه د اعراض شکل جوړيږي نو ځکه له قباحت څخه خالي نه دئ. (بحث ونظر: ۲/ ۳۵۳). والله ﷻ اعلم.

د کوچني د شیدو په سبب د حمل د منعي د تدبیرو حکم

سوال: د رضاعت په مدت کي د کوچني د تی ورکولو په خاطر حمل منعه کولای سي او که نه؟

الجواب: کله کله داسي کیږي چي کوچنی شیدې خوري او دوهم حمل هم قرار ونیسي یعني تر اوسه د اول ولادت په سبب هغې ته صحت نه دئ رسېدلی نو د دوهم فکر ورته لاحق سو، همدا ډول د مور شیدې په تدریج سره ختمیږي او د اول په صحیح توګه پرورښ نه کیږي نو کوچنی هم کمزوري کیږي او مور ته یې هم ضرر وررسیږي نو ځکه د دې ضرر د دفعه کولو له پاره هم د حمل د منعي اجازه سته. (بحث ونظر:۲/ ۳۵۵). والله تعالى اعلم.

د آپرېش (عملیاتو) په ذریعه د ضبط تولید حکم

سوال: یوه ښځه د څلو ښت کالو ده، د هغې شپږ زامن دي اوس دواړه مور او پلار دا غواړي چي نور زامن یې ونه سي ایا دا عذر چلېدلای سي او که نه او د آپرېشن په ذریعه یې د بندېدو اجازه سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د آپرېشن په ذریعه هیڅکله روا نه ده، دواړه باید صبر وکړي که چیري یې کولای نه سي نو دوا دي استعمال کړي که څه هم دا مکروه ده مګر حرامه نه ده.

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د ضبط تولید څلورم صورت د نسب بندي ده یعني داسي آپرېشن کول چي په هغه سره د همېشه له پاره تولیدي قوت ختم سي د قرآن او حدیث له روي دا یو غیر اسلامي طریقه ده او د صحابه وو او د فقهاوو له عباراتو څخه معلومیږي او د دې پر عدم جواز د قانون اسلامي د ماهرینو اتفاق دئ. (جدید فقهي سائل: ۱۳۷-۱۴۳).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوی:۸/ ۳٤۷-۳۵۳). والله تعالى اعلم.

د طالب العلم له پاره په وقتي توګه د تولید د ضبط حکم

سوال: زید طالب العلم دئ او تر فراغته پوري یو څه وخت پاته دئ نو اوس هغه په وقتي توک وقفه کول غواړي نو ایا دا روا ده او که نه؟ هغه وایي، چي د تعلیم په وخت کي زامن ماته او زما تعلیم ته

تاوان رسوي او دا خبره هم ده چي اوس د مزدورۍ يو لار هم نه سته پر ته د هغه کوم چي پلار راکوي نو ايا د هغه له پاره د ضبط اختيارولو اجازه سته او که نه؟

الجواب: دا ممکن ده چي د الله ﷻ له جانبه د ضبط يو صورت پيدا سي او د زيد تمنا پوره سي که چيري د زيد تمنا د الله ﷻ له طرفه پوره نه سوه نو په دې نيت چي هغه به څه خوري دا ناروا ده، همدا ډول د تعليم په وخت کي واده کول دا د تعليم له پاره مضر نه دئ (حال دا چي دغه په تجربه سره مضره معلومه سوې ده) نو زوی بې چاره به له کومي خواه مضر وي.

پر ضبط توليد باندي علماوو تفصيل ليکلي دئ، که دي زيات مطلوب وي نو هغه رسائل وگوره مثلا (جديد فقهي مسايل: ـ ۹۲ تر ـ ۱۴۷ ـ احسن الفتاوی: ۸/۳۴۷ـ۳۵۳). د ضبط او اسقاط حمل د ضبط ولادت شرعي وعقلي حيثيت از مفتي محمد شفيع صاحب او نور. والله ﷻ اعلم.

د ډېرو ودونو حکمتونه

سوال: د ضرورت په وخت کي د ډېرو ښځو څه حکمتونه دي ځيني خلک دا نه خوښوي؟

الجواب: ۱ _ حمکت دا دئ چي د مسلمان په نزد تر ټولو زيات مهم شی تقوی ده او الله تعالی ځيني خلک قوی الشهوته جوړ کړي دي، د داسي خلکو له پاره يوه ښځه کافي نه ده ځکه ښځو ته ډېر عذرونه مخته راځي او هغه هر وخت د دې قابله نه وي چي خاوند له هغې سره همبستري وکړي نو که جازه ورنه کړي سي نو د تقوی لمن د هغه له لاس څخه وځي.

۲ _ د نکاح تر ټولو مهم مقصد د نسل ډېرول دي او سړی په يوه وخت کي ډېر اولادونه پيدا کولای سي له ډېرو ښځو څخه نو له ډېرو ښځو څخه د نکاح د مقصد تکميل وسو.

۳ _ ډېري ښځي کول د نارينه وو عادت وي او کله کله يو پر بل په دې سره فخر کوي او د روا شان او شوکت اجازه سته مثلا، ډېر کورونه درلودل او يا ډېر موټران درلودل او يا کله ډېر کالي درلودل نو بس ډېري ښځي په نکاح کول هم د يو فطري تقاضا پوره کېدل دي. (رحمه الله الواسعة شرح حجة الله البالغه: ۵ / ۹۸).

په فتاوی علماء البلد الحرام کي راځي:

١ـ الإحصاء أو الاستقراء دل على أن عدد من يولد من الإناث أكثر من عدد من يولد من الذكور، وأن عدد من يتوفى من الذكور أكثر من عدد من يتوفون من الإناث؛ لكثرة ما يتعرض له الذكور دون الإناث من أسباب الموت، كالمواجهات في الحروب، ودفع .... فلو منع تعدد الزوجات لبقي عدد من النساء بلا أزواج، وفات عليهن المتعة وإشباع الغريزة الجنسية....

٢ـ أن في تعدد الزوجات كثرة النسل، لتعدد محل الحرث، وقضاء الوطر، وفي هذا زيادة في بناء الأمة، ودعم لقوتها ..... وقد حث الشرع على النكاح تحقيقاً للعفة، وكثرة النسل، وصيانة للأعراض، ومحافظة على بقاء النوع.

٣ـ ما جرت به سنة الله الكونية من أن النساء يحضن ويحملن ويلدن ويستمر بهن دم النفاس زمناً، فإذا كان في عصمة الرجل أكثر من زوجة وجد الزوج لديه من يعف بها فرجه عن الحرام.

٤ـ أن الزوجة قد تكون عقيماً، وبينها وبين زوجها وئام، ويرغب في الزواج للنسل المحبب إلى الله .... فأباح الشرع له تعدد الزوجات .... إلى غير ذلك من الحكم. (فتاوى علماء البلد الحرام: ١٤٢٠، حكمة إباحة تعدد الزوجات). والله تعالىٰ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالى : ﴿ يا أيها النبي إذا طلقتم النساء فطلقوهن لعدتهن وأحصوا العدة واتقوا الله ربكم﴾. (سورة الطلاق:الآية:١).

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ « أبغض الحلال إلى الله الطلاق ». (رواه ابن ماجه).

كتاب الطلاق

اول .... باب

د طلاق واقع کېدلو او نه واقع کېدلو بيان

د درواغو په اقرار د شاهدانو د وړاندي كولو په صورت كي د طلاق حكم

سوال: كه څوک د څه مصلحت له كبله د درواغو طلاق اقرار وكړي چي ما خپلي ښځي ته طلاق وركړی او پر همدې اقرار شاهدان هم وړاندي كړي ايا په دې سره طلاق واقع كيږي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي د درواغو په اقرار سره ديانةً طلاق نه واقع كيږي، همدارنګه كه چيري په شاهدانو دا ثابته كړي چي ما د درواغو اقرار كړی نو بيا قضاءً هم نه واقع كيږي.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

لو أقر بالطلاق هازلاً أو كاذباً، فقال في البحر: إن مراده لعدم الوقوع في المشبه به عدمه ديانةً، ثم نقل عن البزازية والقنية لو أراد به الخبر عن الماضي كذباً لا يقع ديانةً، وإن أشهد قبل ذلك لا يقع قضاءً أيضاً. (فتاوى الشامى:۳/ ۲۳۷، كتاب الطلاق، سعيد).

په طحطاوي كي راځي:

الإقرار بالطلاق كاذباً يقع به قضاءً لا ديانةً. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۱۱۳، باب الصريح، كوئته).

په فتاوى تاتار خانيه كي راځي:

وفي الصغيرى: في أمالي أبي يوسف رحمه الله: إذا قال لها: قد طلقتک، أو قال لها: أنت طالق، وأراد الخبر عما مضى كذباً، وسعه فيما بينه وبين الله تعالى أن يمسكها. (الفتاوى التاتار خانية:۳/ ۲۶۱، الفصل الرابع فيما يرجع الى صريح الطلاق، ادارة القرآن).

په فتاوى محموديه كي راځي:

كله چي خاوند يوازي د دفع الوقتى له پاره د طلاق اقرار وكړي او په حقيقت كي يې طلاق نه وي وركړي نو ديانةً طلاق نه واقع كيږي. (فتاوى محموديه:۱۲/ ۲۳۷).

كه چيري يې د مخاطب په حضور كي د درواغو خبر وركول او د درواغو اقرار كول مقصد وي، نو ديانةً فيما بينه وبين الله تعالى طلاق نه واقع كيږي او كه چيري يې له مخكي څخه شاهدان پر دې

درولي وي چې زه به د دروغو اقرار کوم، نو بيا قضاءً هم طلاق نه واقع کيږي. (فتاوی محمودیه.۱۲/ ۲۳٤).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

از اخبار كاذب ديانةً طلاق واقع نمى شود واگر قبل از اخبار كاذب بينه قائم كرده باشد اصلا طلاق واقع نه سود نه قضاء نه ديانةً واگر مقصود شوهر اخبار نيست بلكه مقصود انشاء طلاق است فى الحال طلاق واقع مى شود. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۲/ ۵۰۰). والله ﷻ اعلم.

د کوم مصلحت له کبله د نيت څخه پرته د طلاق ويلو په صورت کي د طلاق واقع کېدلو حکم

سوال: که څوک د څه مصلحت له کبله له نيت څخه پرته خپلي ښځي ته طلاق ووايي او يا يې وليکي، خو مقصد يې طلاق ورکول نه وي بلکي کوم بل خاص مصلحت يې مطلوب وي ايا په داسي صورت کي طلاق واقع کيږي؟

الجواب: د صريح طلاق په ويلو او يا ليکلو سره طلاق واقع کيږي، د نيت او ارادې ضرورت نسته که څه هم دا وينا او يا ليکنه يې د څه مصلحت له کبله وي.

وګورئ په ترمذي شريف كي راځي:

عن أبي هريرة ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد، النكاح، والطلاق، والرجعة. هذا حديث حسن غريب (رواه الترمذي:۱/ ۲۲۵، باب ماجاء في الجدول الهزل في الطلاق).

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

صريحه ما لم يستعمل إلا فيه أي غالباً كما يفيده كلام البحر، وعرفه في التحرير بما يثبت حكمه الشرعي بلا نية، وأراد بما اللفظ أو ما يقوم مقامه من الكتابة المستبينة أو الإشارة

المفهومة .... لأن ركن الطلاق اللفظ أو ما يتوم مقامه مما ذكر، قوله ولو بالفارسية فما لا يستعمل فيها إلا في الطلاق فهو صريح يقع بلا نية . (فتاوى الشامي:۳/ ۲٤۷، باب الصريح، سعيد).

داسلامي قانون په مجموعه كي دي:

د طلاق صريح حكم دا دئ چي له نيت څخه پرته هم واقع كيږي. (مجموعه قوانين اسلامي از مجاهد الاسلام قاسمي صاحب).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ (فتاوى محموديه: ۱۲/ ۳۳٤). **والله ﷻ اعلم.**

په آينده كي د طلاق وركولو د ارادې په صورت كي د طلاق حكم

سوال: يوه سړي خپلي ښځي ته درې ځلي داسي وويل (a want to give you talaq) يعنى زه غواړم چي تا ته طلاق دركړم، كله چي د هغه څخه وپوښتل سول چي تا څه وويل؟ هغه وويل، چي ما ته نه دي معلوم چي ما څه ويلي، د شريعت له نظره د دې څه حكم دئ ايا طلاق واقع سو او كه نه؟

الجواب: د طلاق په باب كي خاص د استقبال په الفاظو سره طلاق نه واقع كيږي، نو لهذا په ياد صورت كي هم په دغو الفاظو طلاق نه واقع كيږي، همدارنګه كله چي خاوند ته ياد نه وي چي څه يې ويلي دي او ښځه دا وايي چي هغه يوازي د طلاق وركولو د ارادې اظهار كړى دئ نو په دې صورت كي هم د ښځي خبري ته اعتبار دئ او طلاق نه واقع كيږي.

وګورئ په تنقيح الفتاوى الحامديه كي راځي:

صيغة المضارع لا يقع بها الطلاق إلا إذا غلب في الحال كما صرح به الكمال بن الهمام .(تنقيح الفتاوى الحامدية:۱/ ۳۸، كتاب الطلاق، دار الاشاعة العربية).

په فتاوى هنديه كي راځي:

قالت لزوجها : من باتو نمي باشم، فقال الزوج: مباش، فقالت: طلاق بدست تو است مرا طلاق كن، فقال الزوج : طلاق ميكنم طلاق مي كنم وكرر ثلاثًا، طلقت ثلاثًا بخلاف قوله

کنم لأنه استقبال فلم یکن تحقیقًا بالتشکیك، وفی المحیط: لو قال بالعربیة أطلق، لا یکون طلاقاً إلا إذا غلب استعماله للحال فیکون طلاقاً. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۳۸٤، باب الطلاق بالفاظ الفارسیة).

همدا ډول وګوري: (احسن الفتاوی:۵/ ۱٤۸، فتاوی محمودیه:۱۲/ ۲٤۷). والله ﷻ اعلم.

د حال په صیغه د طلاق د واقع کېدلو حکم

سوال: یوه سړي له ښځې سره د جنګ په حالت کې و ښځې ته وویل: زه تا ته طلاق درکوم، درې ځلي یې دا خبره وکړه او طلاق مي درکړ الفاظ یې نه دي ویلي ایا په دې سره طلاق واقع سو او که نه؟ که یې نیت د مستقبل له پاره داخطار ورکول وي نو دا خبره د منلو وړ ده او که نه؟

الجواب: په مذکور صورت کې د حال په صیغه (زه تا ته طلاق درکوم) طلاق واقع کیږي،البته مفتي کفایت الله صاحب لیکلي:

که یې وویل چي زه تا ته درې طلاقه درکوم او یا یې دا الفاظ درې ځله تکرار کړل او مراد یې حال وه، نو مغلظ طلاق واقع کیږي او که یې مراد استقبال وو یعنی د طلاق د ارادې اظهار یې مطلوب وو، نو بیا طلاق نه واقع کیږي. (کفایت المفتی:٦/ ۷۹- ۸۰).

په فتاوی شامي کې راځي:

وکذا المضارع إذا غلب فی الحال مثل أطلقک کما فی البحر. (فتاوی الشامی:۳/ ۲٤۸، سعید – والبحر الرائق:۳/ ۲۵۲، کوئته).

په فتح القدیر کې راځي:

ولایقع بأطلقک إلا إذا غلب فی الحال. (فتح القدیر:٤/ ۷، دار الفکر)/

په فتاوی هندیه کې راځي:

قالت لزوجها : من باتو نمي باشم، فقال الزوج: مباش، فقالت: طلاق بدست تو است، مرا طلاق كن، فقال الزوج : طلاق ميكنم طلاق مي كنم وكرر ثلاثا، طلقت ثلاثًا بخلاف قوله كنم لأنه استقبال (الفتاوی الهندية:۱/ ۳۸٤).

په احسن الفتاوی کي راځي:

طلاق درکوم لفظ د حال له پاره موضوع دئ نو طلاق واقع کيږي که څه هم د مستقبل قريب (نژدې راتلونکی) له پاره هم استعماليږي. (احسن الفتاوی:٥/ ١٥٣).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (تنقيح الفتاوی الحامدية:١/ ٣٨). والله تعالیٰ اعلم.

د حمل په حالت کي د طلاق ورکولو حکم

سوال: که څوک د حمل په حالت کي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي ايا طلاق واقع سو او که نه؟ او مکروه دئ او که مباح؟

الجواب: په هر حالت کي چي طلاق ورکړل سي واقع کيږي، البته د حيض په حالت کي بدعت او نامناسب دئ او د حمل په حالت کي احسن دئ.

وګورئ: فتاوی هنديه:

الأحسن أن يطلق امرأته واحدةً رجعيةً في طهر لم يجامعها فيه ثم يتركها حتى تنقضي عدتها أو كانت حاملًا قد استبان حملها. (الفتاوی الهندية:١/ ٣٤٨، كتاب الطلاق، الباب الاول).

همدارنګه هلته ذکر دي:

والبدعي من حيث الوقت أن يطلق المدخول بها وهي من ذوات الأقراء في حالة الحيض .

(الفتاوی الهندية:١/ ٣٤٩، كتاب الطلاق، الباب الاول).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

سوال: ښځي ته د حمل په حالت کي طلاق واقع کيږي او که نه؟

جواب: هو، د حمل په حالت کي طلاق واقع کيږي.

((و أولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن)). (فتاوى رحيميه:۸/ ۲٥۷).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى دار العلوم ديوبند:۲/ ٤۹۸). والله ﷻ اعلم.

د نسبت ښځه پر ته د طلاق حکم

سوال: يوه سړي د خپلي ښځي له ورونو سره جنګ وو او د دې جنګ سبب دا ښځه وه، دې سړي دا الفاظ وويل، پر ما په درې طلاقه طلاقه ده، د خپلي ښځي نوم يې نه دئ ياد کړی او نه يې د هغې وطرف ته نسبت کړئ دئ، ايا طلاق واقع سو؟

الجواب: په ياد صورت کي چي کله يې د ښځي په حق کي دا الفاظ وويل چي پر ما دي په درې طلاقه طلاقه وي، نو طلاق واقع سو، ځکه طلاق خو ښځي ته ورکول کيږي نه بل چا ته البته که خاوند قسم واخلي چي زما ښځه مراد نه وه، نو بيا طلاق واقع نه دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

قيد بخطابها لأنه لو قال: إن خرجت يقع الطلاق أو لاتخرجى إلا بإذني فإني حلفت بالطلاق فخرجت لم يقع لتركه الإضافة إليها. وفي رد المحتار: والمفهوم من تعليل الشارح تبعاً للبحر عدم الوقوع أصلاً لفقد شرط الإضافة، مع أنه لو أراد طلاقها تكون الإضافة موجودة ويكون المعنى فإني حلفت بالطلاق منك أو بطلاقك، ولا يلزم كون الإضافة صريحة في كلامه، لما في البحر لو قال: طالق فقيل له من عنيت ؟فقال: امرأتي طلقت امرأته . (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲٤۸، باب الصريح، سعيد).

په فتاوى دار العلوم ديوبند کي راځي:

د طلاق د وقوع له پاره د اضافة صريحي وجود ضروري نه دئ. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۲/ ٥۰٥).

مفتي شفيع صاحب د انور شاه صاحب يوه رساله د ((حكم الانصاف فى الطلاق الغير المضاف))، کي نقل کړي. وې وګوري فتاوى دار العلوم ديوبند:۲/ ٥۱۰).

په فتاوى محموديه كي راځي:

كله چي د ښځي په حق كي خاوند د طلاق لفظ وايي نو په دې هم طلاق واقع كيږي كه څه هم جمله تامه (ما تا ته طلاق دركړ) ونه وايي مگر مطلب يې ښځه وي كه بيا هم خاوند قسم اخلى چي زما خپله ښځه مراد نه وه نو طلاق واقع نه دئ او د خاوند قول معتبر دئ. (فتاوى محموديه:١٢/ ٢٧٤).

په كفايت المفتى كي راځي:

د زيد دا الفاظ چي په سوال كي ياد دئ دا لفظ صريح طلاق دئ مگر اضافة إلى الزوجة (ښځي ته يې نسبت) صريح نه دئ، نو كه زيد قسم اخلى چي ما دا الفاظ خپلي ښځي ته نه دئ ويلى نو د ده قول معتبر دئ او طلاق واقع نه دئ. (كفايت المفتى:٦/ ٥٤).

د زيات تفصيل له پاره وگورئ: (فتاوى رحيميه:٨/ ٢٧٥). **والله تعالى اعلم.**

پوه سه چي طلاق، طلاق مه بوله

سوال: يوه سړي د جنگ په وخت كي خپلي ښځي ته دا الفاظ وويل، ځه ولاړه سه، پوه سه چي طلاق دئ؟ ايا په دې الفاظو طلاق واقع سو؟

الجواب: په ياد صورت كي د خاوند پر دې خبره چي ځه ولاړه سه، پوه سه چي طلاق دئ، طلاق واقع نه سو.

وگورئ فتاوى عالمگيري:

امرأة قالت لزوجها مرا طلاق ده، فقال الزوج: دا ده انگار او كرده انگار، لايقع وإن نوى ولو قال لها بعد ماطلبت الطلاق. (لفتاوى الهندية:١/ ٣٨٠، باب الطلاق بالفاظ الفارسية).

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

امرأة قالت لزوجها مرا طلاق ده.... ولو قال الزوج دا ده انگار أو كرده انگار لايقع الطلاق وإن نوى كأنه قال بالعربية: احسبي أنك طالق، وإن قال ذلك لايقع وإن نوى. (فتاوى قاضى

خان علی هامش الهندیة:۱/ ۴۵۷، کتاب الطلاق) دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (خیر الفتاوی:۵/ ۱۴۸، مکتبه امدادیه). والله ﷻ اعلم.

په ډرامه کي د حکایت په ډول په طلاق ورکولو سره د طلاق د وقوع حکم

سوال: که ښځه او خاوند دواړه په کوم فلم یا ډرامه کي کار کوي او هلته د فلم په کیسه کي د خاوند او ښځي وظیفه اجرا کوي مثلاً د لیلی او مجنون په کیسه کي د لیلی او مجنون رول ادا کوي که دلته خاوند حکایةً خپلي ته ښځي طلاق ورکړي څه حکم لري؟

الجواب: حضرت مفتي ولي حسن صاحب وايي:

په دې سره طلاق نه واقع کيږي ځکه دا نقل دئ او انشاء د طلاق نه ده ګويا مجنون، لیلی ته یا فرهاد، شیرنیو ته طلاق ورکړ لکه د مقامات کتاب مصنف چي د سروجي او حارث بن همام فرضي قیصې نقل کړي په دې سره هغه ګناه ګار نه دئ ځکه دا فرضي حکایات دي د امر واقع غلط بیان نه دئ.

وګورئ: الفقه الاسلامي وادلته:

شترط بالاتفاق القصد في الطلاق وهو إرادة التلفظ به، ولو لم ينوه، فلا يقع طلاق فقيه يكرره، ولا طلاق حاك عن نفسه أو غيره؛ لأنه لم يقصد معناه، بل قصد التعليم والحكاية. (الفقه الاسلامی وادلته:۷/ ۳۶۸، شروط الطلاق، دار الفکر).

په فتح القدیر کي راځي:

لو كرر مسائل الطلاق بحضرة زوجته ويقول: أنت طالق ولاينوي طلاقاً لاتطلق. (فتح القدیر:۴/ ۴، باب ایقاع الطلاق، دار الفکر).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (الاشباه والنظائر:۱/ ۹۱ – وفتاوی دار العلوم دیوبند:۹/ ۲۸۴، مدلل ومکمل – وفتاوی محمودیه:۱۲/ ۲۴۹، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

که څوک د طاق لفظ ووايي

سوال: که څوک وخپلي ښځي ته ووايي ته طاق يې ايا طلاق واقع سو؟

الجواب: په دې صورت کي د طاق په لفظ سره طلاق نه واقع کيږي.

وګورئ فتاوی هنديه کي راځي:

وان حذف اللام فقط فقال: أنت طاق لايقع وان نوى. (الفتاوى الهندية: ١/ ٣٥٧، باب فى ايقاع الطلاق – وكذا فى البحر الرائق: ٣/ ٢٥٥، كتاب الطلاق، كوئته).

په احسن الفتاوی کي راځي دي:

د طاق په لفظ طلاق نه واقع کيږي. (احسن الفتاوى: ٥/ ١٩٧، فتاوى محموديه: ١٢/ ٣٢٨). والله تعالى اعلم.

د ګونګی د طلاق حکم

سوال: د ګونګی طلاق په څه ډول واقع کيږي؟

الجواب: په ياد صورت کي که ګونګی طلاق وليکي او پر طلاق نامه باندي له پوهېدو وروسته امضاء يې لاس ليک پر وکړئ نو طلاق واقع کيږي او که په خط نه پوهيږي نو د خاصو اشارو (کوم چي قريبان يې په پوهيږي) په واسطه د ګونګي طلاق او د طلاق تعداد واقع کيږي او معلوميږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

(ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل).... (ولو عبداً أو مكرهاً) .... (أو أخرس) واستحسن الكمال اشتراط كتابته (بإشارته) المعهودة فإنها تكون كعبارة الناطق استحساناً . وفى الشامية: قوله واستحسن الكمال اشتراط كتابته حيث قال: وقال بعض الشافعية: إن كان يحسن الكتابة لا يقع طلاقه بالإشارة لاندفاع الضرورة بما هو أدل على المراد من الإشارة، وهو قول حسن، وبه قال بعض مشايخنا، قلت: بل هذا القول تصريح بما هو المفهوم من ظاهر الرواية. ففي كافي الحاكم الشهيد ما نصه : فإن كان الأخرس لا يكتب وكان له إشارة

تعرف في طلاقه ونكاحه وشرائه وبيعه فهو جائز، وإن كان لم يعرف ذلك منه أو شك فيه فهو باطل، فقد رتب جواز الإشارة على عجزه عن الكتابة، فيفيد أنه إن كان يحسن الكتابة لا تجوز إشارته . (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۲٤۱، كتاب الطلاق. سعيد).

وفي المبسوط للإمام السرخسي رحمه الله:

وإن كان الأخرس لايكتب وكانت له إشارة تعرف في طلاقه ونكاحه وشرائه وبيعه فهو جائز استحساناً. (المبسوط:٦/ ١٤٤، باب طلاق الاخرس، ادارة القرآن).

وفي الطحطاوى على الدر المختار: (قوله واستحسن الكمال اشتراط كتابته) قال في البحر: وقال بعض المشايخ : إن كان يحسن الكتابة لايقع طلاقه بالإشارة لاندفاع الضرورة بما هو أدل على المراد من الإشارة، قال في فتح القدير: وهو حسن حلبي، قال في النهر: والخلاف إنما هو في قصر صحة تصرفاته على الكتابة. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٢/ ١٠٨، كتاب الطلاق، كوئته – ومثله في البحر الرائق:٨/ ٤٧٨، مسائل شتى، كوئته).

د دې عبارتو څخه معلومه سوه چې د ګونګي اشاره هغه وخت اعتبار لري چې ليکل يې زده نه وي او که يې ليکل زده وي بيا اعتبار نه لري. همدا خبره مجاهد الاسلام صاحب اختيار کړې ده. (مجموعه قوانين اسلامى:١٣٦).

خو د دې پر خلاف په ځينو کتابونو کې د خط د زده کړي په صورت کې هم اشاره معتبره بلل سوې ده.

وګورئ الاشباه والنظائر کې راځي:

واختلفوا في أن عدم القدرة على الكتابة شرط للعمل بالإشارة أو لا، والمعتمد لا. (الاشباة والنظائر: ١/ ٣٧٩، احكام الاشارة، الفن الثالث الجمع والفرق، المكتبة العصرية، بيروت – ومثله في تبيين الحقائق: ٦/ ٢١٩، مسائل شتى، امداديه ملتان).

شمس الدين قاضي زاده په نتايج الافكار كي دا مسئله واضح كړې ده.

غاية الأمر أن يكون في المسئلة روايتان ومثل ذلك كثير. (نتائج الافكار تكملة فتح القدير: ١٠/ ٥٢٧، مسائل شتى، دار الفكر).

لنډه دا چي نن سبا د خط او ليكلو زمانه ده بايد په نكاح، طلاق او نورو كي خط شرط وبلل سي او خط محفوظ سي تر څو د ضرورت په وخت كي په كار راسي. والله ﷻ اعلم.

پر ټيلفون د طلاق حكم

سوال: يوه سړي له خپلي ښځي سره په ټيلفون خبري كولې او طلاق يې وركړ، ښځه وايي چي د طلاق د لفظ تر اورېدلو مخكي ما ټيلفون ليري كړ او د طلاق لفظ مي نه دئ اورېدلى ايا طلاق واقع سو؟

الجواب: په ياد صورت كي طلاق واقع سو ځكه په طلاق كي د ښځي حضور او اورېدل ضروري نه دي، دا مسئله داسي مثال لري لكه يوه سړي چي وخپلي ښځي ته په خط كي طلاق وليكئ كله چي خط كور ته ور ورسيږي نو طلاق واقع كيږي كه څه هم ښځه كور نه وي.

په فتاوى شامي كي راځي:

ثم المرسومة لاتخلو اما أن أرسل الطلاق بأن كتب أما بعد فانت طالق فكما كتب هذا يقع الطلاق. (فتاوى الشامي: ٣/ ٢٤٦، مطلب في الطلاق بالكتابة، سعيد).

په عزيز الفتاوى كي راځي:

د طلاق له پاره د ښځي حضور شرط نه دي. (عزيز الفتاوى: ٤٨٨).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

د طلاق د واقع کېدلو له پاره د ښځې حضور او یا اورېدل شرط نه دئ. (فتاوی رحیمیه:۸/ ۲۶۶).

والله ﷻ اعلم.

په مسیج (SMS) کې د طلاق حکم

سوال: یوه سړي خپلې ښځې ته په ټیلفون کې په مسیج کې یو طلاق ورکړ، یو څه وخت وروسته یې په مسیج کې بل طلاق ورکړ، اوس درې کاله وروسته دوی ګډ ژوند کول غواړي ایا د دوی نکاح پاتې ده او که نه؟ او د دوی چاره به څه وي؟

الجواب: په یاد صورت کې په مسیج کې دوه طلاق واقع سوي او دائنده له پاره که ګډ ژوند غواړي نو د دوو شاهدانو په حضور کې باید نوې نکاح وتړي البته دائند له پاره که خاوند بل طلاق ورکړي نو ښځه به مغلظ طلاقېږي ځکه له درو طلاقو څخه خاوند ته اوس یو طلاق پاتېږي.

په درمختار کې راځي:

ولو كتب على وجه الرسالة والخطاب، كان يكتب يا فلانة: إذا أتاك كتابي هذا فأنت طالق طلقت بوصول الكتاب. وفي الشامية: قوله طلقت بوصول الكتاب أي إليها ولا يحتاج إلى النية في المستبين المرسوم، ولا يصدق في القضاء أنه عنى تجربة الخط، بحر.

وفيه: وإن كانت مرسومة يقع الطلاق نوى أو لم ينو ثم المرسومة لا تخلو أما إن أرسل الطلاق بأن كتب: أما بعد فأنت طالق فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة وإن علق طلاقها بمجيء الكتاب بأن: إذا جاءك كتابي فأنت طالق فجاءها الكتاب فقرأته أو لم تقرأ يقع الطلاق كذا في الخلاصة. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۴۶، مطلب في الطلاق بالكتابة، سعيد).

په هدايه کي راځي:

وإذا كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله أن يتزوجها في العدة وبعد انقضائها لأن حل المحلية باق لأن زواله معلق بالطلقة الثالثة فينعدم قبله ومنع الغير في العدة لاشتباه النسب ولا اشتباه في إطلاقه . (الهداية:٢/ ٣٩٩، باب الرجعة، فصل فيما تحل به المطلقة).

په البحر الرائق کي راځي:

قوله ويهدم الزوج الثاني ما دون الثلاث حتى لو طلقها واحدةً ، وانقضت عدتها ، وتزوجت بآخر وطلقها ، وانقضت عدتها منه ثم تزوجها الأول يملك عليها ثلاثًا إن كانت حرةً .... وعند محمد رحمه الله يملك عليها ثنتين في الحرة ، وواحدةً في الأمة ومراده إن دخل بها ، ولو لم يدخل بها لا يهدم اتفاقًا كما في القنية ، وقد أخذ أبو حنيفة رحمه الله وأبو يوسف رحمه الله فيها بقول شبان الصحابة رضي الله عنهم كابن عباس رضي الله عنه وابن عمر رضي الله عنه، وأخذ محمد رحمه الله بقول الأكابر كعمر رضي الله عنه وعلي رضي الله عنه ، وحاصل ما استدلوا به من قوله ﷺ : لعن الله المحلل والمحلل له، بطريق الدلالة أنه لما كان محللًا في الغليظة ففي الخفيفة أولى أو بالقياس بجامع كونه زوجًا ، ورده المحقق في فتح القدير والتحرير بأن التحليل إنما جعل في حرمتها بالثلاث فلا حرمة قبلها فظهر أن القول ما قاله محمد رحمه الله، وباقي الأئمة الثلاث .(البحر الرائق:٤/ ٥٨، باب الرجعة، كوئته). دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (الهداية:٢/ ٣٠٠، باب الرجعة). والله تعالیٰ اعلم .

تر طلاق وروسته متصل انشاء الله ویل

سوال: یوه سړي خپلې ښځې ته په دې الفاظو طلاق ورکړ، طلاق، طلاق طلاق انشاء الله. ایا طلاق واقع سو او که نه؟ که واقع وي نو څو طلاقه سوه؟

الجواب: که تر طلاق وروسته څوک متصل په ژبه انشاء الله ووایي نو طلاق نه واقع کیږي نو لهذا په یاد صورت کي هم طلاق نه واقع کیږي.

قال العلامة التمرتاشي في تنوير الأبصار: قال لها: أنت طالق إن شاء الله متصلاً مسموعاً لايقع. (تنوير الابصار:۳/ ۳۶۶، سعيد).

په هدایه کي راځي:

وإذا قال الرجل لامرأته أنت طالق إن شاء الله تعالى متصلا لم يقع الطلاق، لقوله عليه الصلاة والسلام : من حلف بطلاق أو عتاق وقال : إن شاء الله تعالى متصلاً به فلا حنث عليه ولأنه أتى بصورة الشرط فيكون تعليقاً من هذا الوجه وأنه إعدام قبل الشرط والشرط لا يعلم ههنا فيكون إعداماً من الأصل ولهذا يشترط أن يكون متصلاً به بمنزلة سائر الشروط . (الهداية:۲/ ۳۸۹، فصل فى الاستثناء). **دزیات تفصیل له پاره وګورئ:** (امداد الاحکام:۲/ ۴۱۶- وفتاوی محمودیه:۱۳/ ۱۱۳، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

پټ انشاء الله ویل او د طلاق حکم

سوال: یوه سړي د طلاق په وخت کي پټ انشاء الله وویل مثلاً وې ویل، زه ستاسو په حضور کي طلاق ورکوم، بیا یې متصل پټ انشاء الله وویل ایا طلاق واقع سو او که نه؟

همدارنګه که یو څوک د یو چا له خوا په طلاق ورکولو مجبور کړل سي او هغه د مجبورۍ په سبب ښځي ته درې طلاقه ورکړي خو پټ انشاء الله وایي مګر انشاء الله یې په دواړو صور تونو کي داسي پټه وویل چي چا اورېدلي نه ده ایا طلاق واقع سو او که نه؟ او که فرضاً ښځه د دې سړي انشاء الله ویل ورسره ونه مني، نو څه حکم یې دئ؟ همدارنګه قضاءً او دیانةً څه حکم دئ؟

الجواب: په یاد صورت کي که چیري دې سرې انشاء الله داسي پټه ویلې وي چي که چا ده خولي ته غوږ نیولای وای نو اورېدلي به یې وای، نو په داسي صورت کي د سړی قول مع الیمن (د قسم سره) معتبر دئ لکه څنګه چي په زور سره طلاق ورکول هم د عدم الرضاء دلیل دئ.

دا مسئله دیانةً ده، البته که ښځه انکار وکړي نو د خاوند قول بیا له شاهدانو پرته نه قبلیږي، همدارنګه که یې په زړه کي انشاء الله ویلې وي او په ژبه یې نه وي ویلي نو دا استثناء بیا شرعاً اعتبار نه لري او طلاق واقع سو.

په الدرالمختار کي راځي:

قال لها أنت طالق إن شاء الله متصلاً.... مسموعاً بحيث لو قرب شخص أذنه إلى فيه يسمع. وفي الشامية: قوله (بحيث لو قرب) أشار به إلى أن المراد المسموع ما شأنه أن يسمع وإن لم يسمعه المنشيء لكثرة أصوات مثلاً. قوله (مسموعاً) هذا عند الهندواني وهو الصحيح كما في البدائع، وعند الكرخي ليس بشرط. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:۳/ ۳۷۰، سعيد).

وفي الشامي: عن البحر الر: والشرط سماعه لاسماعهم على ما عرف في الجامع الصغير. (الفتاوى الشامي:۳/ ۳۷۰، سعيد).

وفي الدر المختار: ويقبل قوله إن ادعاه وأنكرته في ظاهر المروي عن صاحب المذهب وقيل: لايقبل إلا ببينة وعليه الاعتماد والفتوى احتياطاً لغلبة الفساد، خانية، وقيل إن عرف بالصلاح فالقول له. وفي الشامي: (قوله ان عرف.... الخ) قائله صاحب الفتح ....قلت: ولايخفى أن هذا تحقيق للقول الثاني المفتى به لأن المشايخ عللوه بفساد الزمان أي فيكون الزوج متهماً وإذا كان صالحاً تنتفي التهمة فيقبل قوله فلا يكون هذا قولاً ثالثاً فتدبر. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:۳/ ۳۶۹، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په استثناء کي دا تفصیل دئ چي که زوج (خاوند) صالح او تقوا دار وي نو د هغه قول مع الیمن (د قسم سره) معتبر دئ او که نه بې شاهدانو معتبر نه دئ. (احسن الفتاوی:۵/ ۱۹۶).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (الفتاوی الهندیة: ۶/ ۳۹۶ – وبدائع الصنائع:۳/ ۱۵۵ – ومنحة الخالق علی البحر الرائق:۴/ ۴۰ – وفتاوی محمودیه:۱۳/ ۱۵۵ – وفتاوی دار العلوم دیوبند:۹/ ۱۳۸).

والله ﷻ اعلم.

د خاوند د خولي د وربندولو په صورت کي د طلاق حکم

سوال: یوه سړي د قهر او جنګ په حالت کي خپلي ښځي ته وویل، ستا فیصله زه کوم او ما د طلاق فیصله کړې، بیا سړي خبره شروع کړه کله چي یې د طلاق ویلو اراده وکړه ښځي یې پر خوله لاس ورنیوئ او سړي د طلاق لفظ ونه ویلای سوای، ایا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کي پر دغه ښځه طلاق واقع سوی نه دئ ځکه د طلاق له پاره تلفظ ضروري دئ او دلته تلفظ نسته.

په عالمګیري کي راځي:

ولو قال: أنت طالق وهو يريد أن يقول ثلاثاً، فقبل أن يقول ثلاثاً أمسک غيره فمه أو مات تقع واحدة، كذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۵۹).

له دې عبارت څخه معلومه سوه چي دې سړي د طلاق لفظ ویلی او د ثلاثاً پر لفظ چا خوله وربنده کړه، نو یو طلاق واقع سو او ثلاثاً واقع نه سو، ځکه پر هغه تلفظ نه دئ سوی.

همدارنګه په محدثینو کي مولانا ظفر احمد عثماني د ((لاطلاق في إغلاق)) ابو داؤد صفحه ۲۹۸، باب الطلاق. دا مطلب بیان کړی دئ چي د خولې د بندولو په صورت کي طلاق نه واقع کیږي.

فنقول: المراد من الإغلاق هو إغلاق الفم حيث لايقدر على التكلم، ولا يمكن له أن يتلفظ بلفظ الطلاق مفسراً وإن تلفظ بشيء يسير مبهماً لايحصل المقصود به، فمثل هذا

الطلاق لایقع، لأنه لایقال له عرفاً أنه طلق إذا لم یفهم لفظ الطلاق من کلامه، ولم یصدر منه التلفظ به، حیث یدل علی المقصود. (اعلاء السنن: ۱۱/ ۱۸۰، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

د مور او پلار په حکم د طلاق ورکولو حکم

سوال: که پلار زوی ته امر وکړئ چې ښځې ته دې طلاق ورکړه ایا شرعاً په دې ځای کې د پلار خبره منل ضروري ده؟

الجواب: په حدیث شریف کې راځي، چې یو شخص وویل: ((إن امراتی لاتدفع ید لامس)). رسول الله ﷺ ورته وویل: طلقها، هغه سړي وویل: إني احبها، بیا رسول الله ﷺ ورته وویل: فاستمتع بها.

له دې حدیث شریف څخه معلومه سوه چې که پلار زوی ته امر وکړئ چې ښځه طلاقه کړه دا امر نه دئ بلکې مشوره ده، د شرعي حکم په درجه کې نه دئ ځکه په حدیث کې د ښځې د قصور په وجه نبي کریم ﷺ د طلاق مشوره ورکړه او د نبي کریم ﷺ درجه یقیناً تر پلار لوړه ده او دلته د ده مبارک ﷺ مشوره ونه منل سوه او دی مبارک ﷺ خفه هم نه سو.

د ابن عمر رضي الله عنهما په معامله کې د هغه د پلار او د رسول الله ﷺ مشوره منل پر ابن عمر رضي الله عنهما لازم او ضروري نه وه، خو بیا هم هغه دا مشوره قبوله کړه خو که یې څوک قبوله نه کړي څه مشکل نسته.

د طلاق په اړه اکثر وختونه د والدینو مشوره سمه نه وي وعلی هذا القیاس.

حضرت بریره رضي الله عنها له خپل خاوند سره د پاته کېدلو مشوره هم هغې ونه منل خو بیا نبي کریم ﷺ خفه نه سو.

وګورئ په بیهقي کې راځي:

عن عبد الکریم بن مالك عن أبی الزبیر عن جابر بن عبد الله رضي الله عنهما أن رجلاً أتی رسول الله ﷺ فقال: یا رسول الله إن لی امرأةً وهی لا تدفع ید لامس، قال: « طلقها » قال: إنی أحبها،

وهی جميلة، قال :« فاستمتع بها ». (السنن البكرى للبيهقى:۷/ ۱۵۵، دار المعرفة – وكذا فى المعجم الاوسط للطبرانى: ۱۰/ ۴۲۰/ ۶۵۹۷ – ومجمع الزوائد: ۴/ ۳۳۵، باب فيمن يكثر الطلاق، دار الفكر).

که څه هم په حديث کې خبره سته چې ابو زهير مدلس دئ او د هغه عنعنه محل نظر ده خو بيا هم دا خبره ورڅخه معلومه سوه چې طلاق ورکول لازم نه وه بلکې د مشورې په درجه کې وه.

په ترمذي کې راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنهما قال : كانت تحتي امرأة أحبها وكان أبي يكرهها، فأمرني أن أطلقها فأبيت فذكرت ذلك ل النبي ﷺ فقال: يا عبد الله بن عمر ! طلق امرأتك . (رواه الترمذى: ۱/ ۲۲۶، باب ماجاء فى الرجل يسأله ابوه ان يطلق امرأته – وابن ماجه: ۱۵۱، باب الرجل يأمره ابوه بطلاق امرأته).

د رياض الصالحين په شرح کې شيخ محمد بن صالح العثميين فرمايي:

ذكر حديث عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أنه كان له امرأة يحبها فأمره أبوه أن يطلقها لكنه أبي ذلك، لأنه يحبها، فذكر عمر رضي الله عنه ذلك للنبي ﷺ، فأمر ابن عمر بطلاقها، وكذلك الحديث الآخر في امرأة كانت تأمر ابنها بطلاق زوجته فبين النبي ﷺ أن صلة الرحم أو بر الوالدين سبب دخول الجنة، وهو إشارة إلى أنه إذا بر والدته بطلاق زوجته كان ذلك سبباً لدخول الجنة، ولكن ليس كل والد يأمر ابنه بطلاق زوجته تجب طاعته، فإن رجلاً سأل الإمام أحمد بن حنبل رحمة الله عليه قال: إن أبي يقول: طلق امرأتك، وأنا أحبها، قال: لاتطلقها، قال: أليس النبي ﷺ قد أمر ابن عمر أن يطلق زوجته لما أمره عمر، فقال له الإمام أحمد: وهل أبوك عمر؟ لأن عمر نعلم علم اليقين أنه لن يأمر عبد الله بطلاق زوجته إلا بسبب شرعي، وقد يكون ابن لم يعلمه، لأنه من المستحيل أن عمر يأمر ابنه بطلاق زوجته ليفرق بينه وبين زوجته بدون

سبب شرعي، فهذا بعيد، وعلى هذا فإذا أمر أبوك أو أمك بأن تطلق امرأتك، وأنت تحبها، ولم تجد عليها مأخذاً شرعياً، فلا تطلقها، لأن هذه من الحاجات الخاصة التي لا يتدخل أحد فيها بين الإنسان وبين زوجته. (شرح رياض الصالحين: ۱/ ۲، باب بر الوالدين وصلة الارحام، دار السلام).

په فتاوى حقانيه كي راځي:

د مور او پلار د فرمانبردارۍ له پاره ښځه طلاقول رښتيا هم لويه خبره ده، هو دا هم لوى امتحان دئ چي د كوم علت او سبب څخه پر ته ديوې ښځي ژوند ور تباه كړې، په عام ډول د ابن عمر رضي الله عنه په شان ښه پلار هر څوك نه لري، نو د پلار په حكم كه څه هم طلاق روا دئ مگر چي مصيبت ور څخه جوړ نه سي. (الفتاوى حقانيه: ٤/ ٥٨٠).

په فتاوى محموديه كي راځي:

كه د زيد ښځه كوم ډول اخلاقي او معاشرتي خرابي ونه لري او د زيد پلار ته څه تكليف نه رسوي بلكي خدمت يې كوي او زيد دا ېره هم لري چي كه د پلار په حكم دا ښځه طلاق كړم نو د دې ښځي حقوق ضائع كيږي نو په داسي صورت كي كه زيد د پلار په حكم ښځه طلاق نه كړي څه مشكل نسته او نه گناهگار دئ. (فتاوى محموديه: ۱۲/ ۱٦۱). والله تعالى اعلم.

د امساك بالمعروف نه كولو په صورت كي د طلاق حكم

سوال: يو مالدار او د ملكيت خاوند كس خپله ښځه له كور څخه جلا كړې ده او نفقه هم نه وركوي اوس د هغې ښځي ژوند ډېر په مشكل كي دئ، دغه سړي خپل جايداد د بل چا په نامه كړي دئ نو د حكومت په حساب كومه دعوه نه پر جوړيږي، ايا په دې صورت كي دا ښځه د طلاق غوښتلو حق لري او كه نه؟ كنه نو يو بل صورت راته وليكئ؟

الجواب: په ياد صورت كي دغه كس امساك بالمعروف نه كوي او ښځي ته نفقه نه وركوي، نو ښځي ته بايد طلاق وركړي كه نه دا كس بايد د شرعي قاضي او امير لخوا په طلاق مجبور كړل سي او يا دي قاضي په خپله دا نكاح فسخه كړي له دې څخه پر ته د خلاصون بله لاره نه سته.

په درالمحتار کې راځي:

وإيقاعه مباح.... ويجب لوفات الإمساک بالمعروف. (الدر المختار:۳/ ۲۲۹، کتاب الطلاق، سعيد).

په البحر الرائق کې راځي:

ويكون واجباً إذا فات الإمساک بالمعروف.... ولذا قالوا: إذا فاته الإمساک بالمعروف ناب القاضي منابه فوجب التسريح بإحسان. (البحر الرائق:۳/ ۲۳۷، کوئته، کتاب الطلاق).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وقال النبي ﷺ: لا ضرر، ولا ضرار في الإسلام .... على الزوج الإمساک بالمعروف أو التسريح بإحسان، بقوله تعالى عز وجل: ﴿ فإمساك بمعروف أو تسريح بإحسان ﴾ ومعلوم أن استيفاء النكاح عليها مع كونها محرومة الحظ من الزوج ليس من الإمساك بالمعروف في شيء، فتعين عليه التسريح بالإحسان، فإن سرح بنفسه، وإلا ناب القاضي منابه في التسريح. (بدائع الصنائع:۲/ ۳۲۳، فصل فی خلو الزوج عن العيوب، سعيد).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم دیوبند:۹/ ۳۵، مدلل مکمل – کتاب الفسخ والتفریق:ص ۸۸ – ومجموعه قوانین اسلامی:ص ۱۹۸ – والحیلة الناجزة:ص ۱۱۷). والله تعالیٰ اعلم.

د بې ځایه طلاق د مخنوي تدبیر

سوال: ښځې او خاوند داسې معاهده کړې چې که بې ځایه او له کوم شرعي دلیل پرته خاوند ښځې ته طلاق ورکړ، نو یا به کور ورکوي او یا به هم موټر یا ډېرې پیسې ورکوي او ایله کوي به یې شرعاً دا معاهده څنګه ده؟

الجواب: که خاوند د بې ځایه طلاق د مخنوي له پاره د نکاح د عقد په وخت کې داسې معاهده کړې وي چې که یې بې وجهې طلاق ورکړئ نو د متعه په ډول دا شیان ورکول پر ده لازم دي، نو غالباً دا صورت اوفق بالقرآن هم دئ لکه څنګه چې وايي:

﴿ وللمطلقات متاع بالمعروف حقا على المتقين ﴾. (سورة البقرة: الآية: ۲٤۱).

طلاق سوو ښځو ته په نيکه طريقه متعه ورکول پر متقيانو لازم دي دا متعه که څه هم د فقهاوو په اند مستحب ده خو د معاهدې په وخت لازم الوفاده دا د دې حديث موافق ده.

په بخاري شريف کې راځي:

عن عقبة بن عامر رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: « أحق ما أوفيتم من الشروط أن توفوا به ما استحللتم به الفروج ». (رواه البخاری: ۲/ ۷۷٤/ ٤۹٥۷، باب الشروط فی النكاح، فيصل).

وعده پوره کول په ځينو صورتونو کې لازم ده کله چې وعده په عقد کې وي.

په فتاوى قاضي خان کې راځي:

وإن ذكر البيع من غير شرط ثم ذكر الشرط على وجه المواعدة جاز البيع ويلزمه الوفاء بالوعد لأن المواعدة قد تكون لازمة فتجعل لازمة لحاجة الناس. (قاضی خان على هامش الهندية: ۲/ ۱٦٥، فصل فی الشروط المفسدة، تحت مسئلة بيع الوفاء).

دلته دا ويلاى سو چې لکه څنګه چې په بيع کې وعده پوره کول لازم دي همدارنګه په نکاح کې هم د مصلحت په وجه لازم الوفاء ده.

وګورئ په شرح سير کبير کې راځي:

فإن شرطوا في أمان الرسل ألا يأخذ عاشر المسلمين منهم شيئًا، فإن كانوا يعاملون رسلنا بمثل هذا فينبغي للمسلمين أن يشترطوا لهم هذا ويوفوا به.

لأن هذا شرط موافق لحكم الشرع فيجب الوفاء به. (شرح كتاب السير الكبير لمحمد بن الحسن الشيباني: ٥-۱۷۹۰، باب الشروط فی المواعدة وغيرها).

﴿ وأوفوا بعهد الله ﴾. (سورة النحل، الآية: ۹۱). تر دې آيت لاندې قرطبي رحمه الله وايي:

لفظ عام لجميع مايعقد باللسان ويلتزمه الإنسان من بيع أو صلة أو موافقة في أمر موافق للديانة. (الجامع لاحكام القرآن: ۱۰/ ۱۱۱، بيروت).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مباحث: ۱۱/ ۱۴۳، ادارة القرآن – وجدید فقهی مسائل: ۳/ ۳۳-۶۰، اشتراط فی النکاح). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ الطلاق مرتان فإمساك بمعروف أو تسريح بإحسان ﴾. (سورة البقرة، الآية: ۲۲۹).

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: «ثلاث جدهن جد وهزلهن جد، النكاح، والطلاق، والرجعة». (رواه الترمذي، وقال: هذا حديث حسن غريب).

دوهم .... باب

په صريح الفاظو د طلاق ورکولو بيان

درې طلاقه ورکول او د تاکید د نیت کولو حکم

سوال: يوه سړي د جنګ په حالت کي ښځي ته وويل، تا ته طلاق، طلاق، طلاق، اوس دا سړی وايي دا تکرار ما د تاکید له پاره ويلی دئ او مقصد مي ورڅخه يو طلاق وو ايا ښځه د دې سړي خبره ورسره ومني او که نه؟ فعلاً ښځي عرض پر کړی دئ؟

الجواب: که څوک درې طلاقه ورکړي او بيا ووايي چي زما تاکید مطلوب وو، نو دیانةً د ده خبره منل کيږي او فتوا ورکول کيږي البته په ياد صورت کي څنګه چي ښځي عرض پر کړي دئ نو قاضي بايد د دغه سړي خبره تصديق نه کړي بلکي د ښځي په حق کي فيصله وکړي يعنی پر ظاهر فيصله وکړي او د درو طلاقو حکم صادر کړي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

كرر لفظ الطلاق وقع الكل، وإن نوى التاكيد دين. وفى الشامية: دين: أي وقع الكل قضاءً. (الدر المختار مع رد المحتار: ۳/ ۲۹۳، سعيد).

په تنقيح الحامديه کي راځي:

سئل في رجل قال لزوجته: روحي طالق وكررها ثلاثًا ناويًا بذلك جميعه واحدةً وتأكيدًا للأولى .... وهو يحلف بالله العظيم أنه قصد ذلك، لا غيره فهل يقع عليه بذلك واحدة رجعية ديانةً حيث نواها فقط؟ (الجواب): لا يصدق في ذلك قضاءً، لأن القاضي مأمور باتباع الظاهر والله يتولى السرائر، وإذا دار الأمر بين التأسيس والتأكيد تعين الحمل على التأسيس.

(تنقيح الفتاوى الحامدية: ۱/ ۳٦، كتاب الطلاق، دار الاشاعة العربية).

په نظام الفتاوی کي راځي:

که دا خبره قاضي او يا د قاضي قائم مقام ته وړاندي کړل سي نو د درو طلاقو حکم بايد صادر کړي او د سړي د بيان تصديق ونه کړي. (نظام الفتاوى: ۲/ ۲۲۳). والله اعلم ﷻ.

په صريح الفاظو کي د تاکيد نيت

سوال: که څوک ښځي ته ووايي، انت طالق، طالق، طالق او په دوهم او دريم ځل د تاکيد نيت وکړي نو يو طلاق واقع کيږي او که دري؟ او طلاق رجعي واقع کيږي که بائن؟

الجواب: په ياد صورت کي يو باين طلاق واقع کيږي ديانةً مګر قضاءً د ده خبره اعتبار نه لري.

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل قال لامرأته: أنت طالق، أنت طالق، أنت طالق، فقال: عنيت بالأولى الطلاق وبالثانية والثالثة إفهامها صدق ديانة وفى القضاء طلقت ثلاثاً. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية: ۱/ ٤٦۱، كتاب الطلاق).

ومثلـه في الأشـباه والنظـائر مـع حاشـية الـحموي: (۱/ ۱۷۸)، القاعـدة الثانيـة الأمور بمقاصدها. والفتاوى التاتار خانية: (۳/ ۲۸٦)، نوع آخر في تكرار الطلاق وايقاع العدد).

په هدايه کې راځي:

وإذا وصف الطلاق بضرب من الزيادة والشدة كان بائناً. (الهداية: ۲/ ۳٦۹).

په درمختار کې راځي:

كرر لفظ الطلاق وقع الكل، وإن نوى التاكيد دين. (الدر المختار: ۳/ ۲۹۳، باب طلاق غير المدخول بها، سعيد).

په فتاوى دار العلوم ديوبند کې راځي:

سوال: زيد د غصې په حالت کې ښځې ته درې طلاق ورکړل او اوس وايي په دوهم او درېيم کې زما تاكيد مقصد وو ايا درې طلاقه واقع سوه او كه يو؟

الجواب: په مذكور صورت کې ديانةً يو طلاق واقع سو.

په درمختار کې دي: (كرر لفظ الطلاق ...الخ) البته قاضي به د ده د خبرې تصديق نه كوي. (فتاوى دار العلوم ديوبند: ۹/ ۲۲۷، فتاوى محموديه: ۱۲/ ۲۸۰). والله ﷻ اعلم.

د خالي الذهن د طلاق حكم

سوال: كه يو سړى ښځې ته ووايي پر تا دې طلاق وي، طلاق وي، طلاق وي او هيڅ كوم نيت ونه لري (خالي الذهن وي) نو څو طلاقه واقع كيږي؟

الجواب: حضرت مفتي فريد صاحب وايي: كه كوم نيت مستحضر نه وه نو صرف يو رجعي طلاق واقع كيږي.

كما في الدر المختار: كرر لفظ الطلاق وقع الكل، وإن نوى التاكيد دين. وفي رد المحتار: (۲/ ۸٤۲): أي ووقع الكل قضاءً وكذا إذا أطلق أشباه، أي بأن لم ينو استينافاً ولا تأكيداً لأن الأصل عدم التاكيد، انتهى. قلت: والفتوى على الديانة دون القضاء فافهم. قال

العلامة محمد أمين ابن عابدين: المراد من قولهم يدين ديانة لاقضاءً أنه إذا استفتى فقيهاً يجيبه على وفق ما نوى ولكن القاضي يحكم عليه بوفق كلامه ولا يلتفت إلى نيته إذا كان فيما نوى تخفيف عليه. (تنقيح الفتاوى الحامدية: ۱/ ۳، فوائد باداب المفتى). (فتاوى فريديه: ۵/ ۴۴۷).

په الاشباه والنظائر كي راځي:

ولو كرر لفظ الطلاق، فإن قصد الاستئناف وقع الكل، أو التأكيد فواحدة ديانةً، والكل قضاءً، وكذا إذا أطلق. وفي شرح الأشباه للعلامة الحموي رحمه الله: قوله: وكذا إذا أطلق: يعني لو كرر لفظ الطلاق، ولم ينو الاستئناف، ولا التأكيد يقع الكل قضاءً، لأنه يجعل تأسيساً لاتأكيداً، لأنه خير من التأكيد. (الاشباه والنظائر مع غمز عيون البصائر: القاعدة الثانية: المور بمقاصدها: ۱/ ۱۷۸، ادارة القرآن).

په الاشباه والنظائر كي راځي:

يدخل في هذه القاعدة (أي إعمال الكلام أولى من إهماله) قولهم: التأسيس خير من التأكيد، فإذا دار اللفظ بينهما تعين الحمل على التأسيس، ولذا قال أصحابنا: لو قال لزوجته: أنت طالق طالق طالق طلقت ثلاثًا. (الاشباه والنظائر: ۱/ ۳۸۶، القاعدة التاسعة، ادارة القرآن). والله تعالیٰ اعلم.

په تو کو کي په څرګندو الفاظو د طلاق ورکولو حکم

سوال: یو چا درې ځله داسي ورېل چي ((انت طالق انت طانق انت طالق)) بیا وایي چي یو مي حقیقتاً ورکړي دي او دوه مي په توکو سره ورکړي دي نو څو واقع سوه؟

الجواب: په دې صورت کې درې طلاق واقع کيږي ځکه په طلاق کې خو حقيقت حقيقت دئ او هغه د ټوکو طلاق هم حقيقتاً واقع کيږي اوس د قرآن په صراحت سره دا ښځه د حلالې پرته د اول خاوند له پاره نه حلاليږي او همدغه د جمهورو فقهاوو مذهب دئ .

قرآني نص وګورئ:

﴿ فإن طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجًا غيره ﴾ (سورة البقرة: ۲۳۹).

په ترمذي شريف کې راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد، النكاح، والطلاق، والرجعة. هذا حديث حسن غريب (رواه الترمذى: ۱/ ۲۲۵، باب ماجاء فى الجدول الهزل فى الطلاق).

وګورئ په فتاوى شامي کې راځي:

أو هازلاً أي فيقع قضاءً وديانةً. (فتاوى الشامى: ۳/ ۲۳۸، سعيد).

په فتاوى هنديه کې راځي:

وطلاق اللاعب والهازل به واقع. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۳۵۳، فيمن يقع طلاقه).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوى التاتار خانية: ۳/ ۲۵۷، من يقع طلاقه ومن لايقع، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

طلاق ويل او لمړى خاوند مرادول

سوال: يوه سړي ښځې ته دوه طلاقه ورکړي وه څه وخت وروسته يې د جنګ په حالت کې طلاق ورته وويل اوس خاوند وايي چې زما دا مقصد وو چې له اول خاوند څخه طلاقه سوې يې، ځکه دا مطلقه ښځه له پخواني خاوند څخه طلاق سوي ده ايا په دې صورت کې طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي مسئله کي که د خاوند همدا نیت وو لکه په سوال کي چي ذکر دئ، نو طلاق واقع نه دئ او ښځه ګډ ژوند ورسره کولای سي البته داسي الفاظ بل وخت ویل مناسب نه دي.

وګورئ په طحطاوی کي راځي:

وكذا لونوى طلاقها من زوجها الأول على الصحيح (خانية) أي يصدق قضاءً وديانةً إذا كان لها زوج طلقها قبل. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار:۲/ ۱۱۳).

خو بهتره دا ده چي ښځه او خاوند خپله مسئله کوم قاضي ته وړاندي کړي تر څو هغه د موضوع تحقیق او فیصله وکړي. والله ﷻ اعلم.

د انت واحدة فی ثنتین ویلو حکم

سوال: **که خاوند ښځي ته ووايي، انت واحدة فی ثنتین، څو طلاقه واقع سول او په دې مسئله کي څه اختلاف دئ او فتوا د چا پر قول ده؟**

الجواب: **د ظاهر الروایت مطابق په یاد صورت کي یو طلاق واقع سو خو د امام زفر رحمه الله په نزد دوه طلاقه واقع سول او مفتی به قوم د امام زفر صاحب دئ.**

په هدایه کي راځي:

ولو قال: أنت طالق واحدة في ثنتين ونوى الضرب والحساب أو لم تكن له نية فهي واحدة، وقال زفر رحمه الله: تقع ثنتان لعرف الحساب وهو قول الحسن بن زياد رحمه الله. (الهداية:۲/ ۳۶۳).

په فتح القدیر کي راځي:

وجه قول زفر رحمه الله أن عرفهم فيه تضعيف أحد العددين بعدد الآخر ، فقوله واحدةً في ثنتين كقوله واحدةً مرتين أو ثنتين مرةً . (فتح القدير:٤/ ٢٢، دار الفكر).

په درمختار کي راځي:

وبو احدة في ثنتين واحدة إن لم ينو أو نوى الضرب لأنه يكثر الأجزاء لا الأفراد .... وفي الشامية: وقال زفر رحمه الله والحسن بن زياد رحمه الله والأئمة الثلاثة، يقع ثنتان لأن عرف أهل الحساب فيه تضعيف أحد العددين بعدد الآخر، ورجحه في الفتح: بأن العرف لا يمنع .... واختاره أيضا في غاية البيان .... قال الرحمتي: فتزاد هذه المسألة على المسائل المفتى بها بقول زفر رحمه الله. أي لأن المحقق ابن الهمام رحمه الله من أهل الترجيح كما اعترف به صاحب البحر في كتاب القضاء . (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۶۱، باب الصريح، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

وقد زدت على ذلك ثماني مسائل: إذا قال أنت طالق واحدة في ثنتين وأراد الضرب تقع ثنتان عنده، ورجحه المحقق الكمال بن الهمام رحمه الله والإتقاني في غاية البيان. (فتاوى الشامي:۳/ ۶۰۸، باب النفقة، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

له بېري څخه په بې علمۍ سره درې ځلي انت طالق ويل؟

سوال: يوه سړي نوی مسلمان سوی دئ او په دې نه پوهيږي چي په درې ځله طلاق ويلو سره څه واقع کيږي هغه د خسر له بېري څخه په انګريزي ژبه له نيته پرته درې ځله انت طالق ويلي دي نو څو طلاقه واقع سول؟

الجواب: په مذکور صورت کي ديانةً يو رجعي طلاق واقع سو ځکه په تکرار سره نوی طلاق مراد سوی نه دئ، البته قضاءً درې طلاقه واقع کيږي (قاضي به د درو طلاقو فيصله کوي).

وګورئ تبيين الحقائق:

إذا قال: أنت طالق، طالق، طالق ، وقال إنما أردت به التكرار صدق ديانةً لا قضاءً فإن القاضي مأمور باتباع الظاهر والله يتولى السرائر . (تبيين الحقائق:۲/ ۲۱۸).

په الاشباه والنظائر کي راځي:

ولو كرر لفى الطلاق فإن قصد الاستئناف وقع الكل أو التاكيد فواحدة ديانةً والكل قضاءً وكذا إذا أطلق. (الاشباة والنظائر:۱/ ۱۷۸).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۵۵، باب فى ايقاع الطلاق – الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۳۵، سعید – وفتاوى محموديه:۱۲/ ۴۴۳، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

د طلاق په تعداد کي شک

سوال: د یوه سړي دا شک دئ چي دوه ځل یې وخپلي ښځي ته طلاق ورکړی او که یې درې ځلي ورکړی دئ نو د دې څه حکم دئ؟

الجواب: په یاد صورت کي دوه طلاقه واقع سول ځکه دوه خو یقیني دي البته که یې غالب ګمان دا وي چي درې ځله یې ورته ویلي دي نو درې طلاقه واقع کیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولوشك أطلق واحدة أو أكثر بنى على الأقل. وفي الشامية: بنى على الأقل أى كما ذكره اسبيجابي، الا أن يستيقن بالأكثر أو يكون أكبر ظنه. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۸۳، باب الصريح، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

شك الزوج لايخلو اما أن وقع في أصل التطليق أطلقها أم لا؟.... وان وقع في القدر يحكم بالأقل لأنه متيقن به وفي الزيادة شك. (بدائع الصنائع:۳/ ۱۲۶، فصل فى الرسالة فى الطلاق، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۶۳، فصل فى الطلاق الصريح – وفتاوى دار العلوم ديوبند:۹/ ۳۱۶، مدلل مكمل – وفتاوى محموديه:۱۲/ ۱۷۵، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

ته دي په يوه، دوو او درو طلاقه يې

سوال: که چا خپلې ښځې ته وويل، ته دي په يوه، دوو، درې طلاقه يې نو څو طلاقه واقع سول؟

الجواب: په دې صورت کي درې طلاقه واقع سول، له حلالې پرته و اول خاوند ته دا ښځه جواز نه لري.

وګورئ په درمختار کي راځي:

(والطلاق يقع بعدد قرن به لا بـه) نفسه عند ذكـر العـدد، وعنـد عدمـه الوقـوع باصيغة وفي

الشامية: قوله والطلاق يقع والطلاق يقع بعـدد قـرن بـه لا بـه أي متـى قـرن الطـلاق بالعـدد كان الوقوع بالعدد بدليل ما أجمعوا عليه من أنه لو قال لغير المـدخول بـها أنـت طـالق ثلاثـاً طلقت ثلاثاً. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۸۷، مطلب الطلاق يقع بعدد قرن به، سعيد).

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

ولـو قـال: بيكـى دو وسـه طـلاق ثـم تزوجهـا يقـع الـثلاث وتـمـام هـذا في خزانـة الواقعات.

(خلاصة الفتاوی:۲/ ۸۷، جنس آخر فی العدد، المكتبة الرشيدية).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (الفتاوی البزازية على هامش الهندية:٤/ ١٨٢، فيما يتعلق لصريح الطلاق – والفتاوی الحمادية:ص ١٤١ – والفتاوی التاتار خانية:۳/ ۲۷۸، ايقاع الطلاق بطريق الاضمار وترک الاضافية).

په فتاوی محموديه کي راځي:

له يو، دوو او درو څخه مغلظه طلاق واقع سو چي له حلالی پرته بيا نکاح نه صحيح کيږي.

(فتاوی محموديه:۱۲/ ٤٦٤).

همدا ډول وګورئ: (امداد الاحكام:۲/ ٥٩٥ – وفتاوی حقانية:٤/ ٤٦٠). والله تعالی اعلم.

د درې په شرط د طلاق حکم

سوال: يوه سړي خپلې ښځې ته وويل، پر تا دې د درو په شرط طلاق وي، په دې الفاظو سره كوم طلاق واقع كيږي؟

الجواب: په ځينو ځايو كې دا الفاظ د درو د عدد له پاره استعماليږي نو په هغو سيمو كې په دې يادو سوو الفاظو درې طلاقه واقع كيږي.

وګورئ فتاوى فريديه كې راځي:

زموږ په علاقه كې عرف او دود دا دئ چې درې شرطه درې ځلو ته ويل كيږي نو د دې عرف پر اساس ښځه مغلظه طلاقه سوه.

قال العلامة ابن عابدين: العرف والعادة ما استقر فى النفوس من جهة العقول وتلقته الطباع السليمة بالقبول.... اعلم أن اعتبار العادة والعرف رجع إليه في مسائل كثيرة حتى جعلوا ذلک أصلاً فقالوا تترک الحقيقة بدلالة الاستعمال والعادة.... الخ. شرح عقود رسم المفتى:ص ۳۷؛ والعرف فى الشرع له اعتبار. (فتاوى فريديه:۵/ ۲۸۱). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ فإن طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجًا غيره ﴾. (سورة البقرة، الآية: ۲۳۰).

أخبر رسول الله ﷺ عن رجل طلق امرأته ثلث تطليقات جميعاً فقام غضبانا ثم قال: « أيلعب بكتاب الله عزوجل وأنا بين أظهركم .... ». (رواه النسائی).

جمع الاثاث فی حكم الطلقات الثلاث

په يو مجلس كي په يو لفظ سره د درو طلاقو حكم

سوال: كه يوه سړي په يو مجلس كي ښځي ته درې طلاقه وركړي، نو په دې سره يو طلاق واقع كيږي او كه درې، د قرآن او حديث په رڼا كي مدلل جواب راكړئ؟

الجواب: قرآن كريم، حديث، دامت جماع، سلف علماء، څلور امامان، او د دين بزرگان او مشايخ ټول پر دې متفق دي چي په يو مجلس كي په يو كلمه سره درې طلاقه واقع كيږي مثلاً كه كوم سړي خپلي مدخول بها يا غير مدخول بها ښځي ته ووايي ته په ثلاثاً طلاقه يې او يا ورته ووايي، ته طلاقه طلاقه طلاقه يې نو په دواړو صورتونو كي مغلظ طلاق واقع كيږي، نو په داسي صورت كي د يوه طلاق حكم وركول له نصوصو څخه مخالفت او غلط حكم دئ، بلكي د دوهم ځل نكاح امكان له حلالي شرعي څخه پرته نسته.

پر طلاق ثلاثه د جمهورو دلائل وگورئ:

✿ **د كتاب الله څخه دلائل:**

۱_ قال الله تعالى: ﴿ الطلاق مرتان فإمساك بمعروف أو تسريح بإحسان ﴾ . (سورة البقرة، الآية: ۲۲۹).

يعنى داسي طلاق چي په هغه كي رجوع كېداى سي دوه دي وروسته يې د قاعدي مطابق وساتي او يا يې په سمه طريقه سره رخصت كړئ.

ټول مفسرين پر دې متفق دي چي د جاهليت په زمانه کي د طلاق او عدت کوم ټاکلی حد نه وو، ځينو خلکو به د ښځو د تکليف په غرض ښځي ته طلاق ورکړ او وروسته به يې د عدت تر ختميدو مخکي رجوع ورته وکړه. د اسلام په پيل کي هم دا طريقه څه وخت موجوده وه، وروسته آيت نازل سو او دا طريقه ختمه سوه او د طلاق او عدت له پاره يې حد وټاکل سو او تر دريم طلاق وروسته يې رجعت ختم کړ. الله ﷻ فرمايي:

﴿ فإن طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجًا غيره ﴾. (سورة البقرة: ۲۳۰).

نو په همدې اساس که چا خپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړل، که په هر ډول وي يعنی په يوه مجلس کي وي او که په متفرقو مجلسو کي، په يوه لفظ وي او که په متفرقو الفاظو، په ټولو صورتونو کي مغلظ طلاق بلل کي.

اشکال: څوک چي درې طلاقه يو بولي هغوی دا اشکال کوي چي په آيت کي د مرتٰن لفظ راغلئ د هغه معنا يو تر بل وروسته ده يعنی په دوو مجلسو کي جلا جلا طلاقونه ورکړي او په يوه مجلس کي د دوو طلاقو بيان نسته؟

الجواب:

الف_ امام طبري رحمه الله د رواياتو په رڼا کي د مرتن تفسير په تطليقتان کړی دئ چي دا د يوه مجلس او دوو مجلسو طلاقونو ټولو ته شامليږي.

باء_ مرتن د مرة بعد مرة په معنا کي قطعي نه دئ ځکه د دوو چنده او ډبل په دواړو معناوو کي په قرآن کي استعمال سوی دئ لکه:

۱_ ﴿ أولئك يؤتون أجرهم مرتين ﴾. (سورة القصص: آيت ٥٤).

يعنی دغو خلکو (مؤمنو اهل کتابو) ته به خپل دوو چنده ثواب ورکړل سي.

۲_ ﴿ ومن يقنت منكن لله ورسوله وتعمل صالحًا نؤتها أجرها مرتين ﴾. (سورة الاحزاب: آيت ۳۱).

څوک چي له تاسو څخه د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي نو موږ به هغه ته د هغه دوه چنده اجر ورکړو.

په دې دواړو آياتو کي د مرتين معنا دوه چنده ده او دا معنا نه ده چي دوه ځلي به ثواب ورکړو.

۳_ په صحيح البخاري او نورو څو کتابونو کي داوداسه په باب کي له عبد الله بن زيد ﷺ څخه دا روايت سوى دئ.

« أن النبي ﷺ توضأ مرتين مرتين ». (رواه البخاري:۱/ ۲۷/ ۱۵۸ – والترمذي:۱/ ۱۷، عن أبي هريرة – وابو داؤد:۱/ ۱۸، عن أبي هريرة – واحمد في مسنده : برقم :۱۶۹۱۱، عن عبد الله بن زيد – والبيهقي في سننه الكبرى:۱/ ۷۹/ ۳۸۰، عن عبد الله بن زيد).

د دې روايت مطلب دا دئ چي په يوه ناسته کي يې اندامونه دوه ځله پرېولل او دا مطلب يې نه دئ چي په جلا جلا ناسته کي يې پرېولل.

٤_ « ان أهل مكة سألوا رسول الله ﷺ أن يريهم آية فأراهم انشقاق القمر مرتين ». (رواه مسلم في صحيحه:۲/ ۳۷۳، باب انشقاق القمر، فيصل – وعلى هامشه: قال: مرتين اى قطعتين).

په ياد حديث کي ((مرتين)) د ((فلقتين)) په معنا ده او په دوو مجلسو کي د شق القمر معجزه مراد نه ده ځکه دا معجزه يوازي په يوه مجلس کي رامنځ ته سوي وه، خو که له مرتين څخه مرة بعد اخرى هم مراد کړل سي نو يوازي به دومره خبره ثابته سي چي دوه طلاقه يې جلا جلا ورکړل، په يو وخت او يوه کليمه يې ورنه کړل، دلته د مجلس تفريق ته کومه اشاره نسته، مثلاً که څوک ښځي ته په يوه مجلس کي ووايي: انت طالق، انت طالق نو دا صورت هم د ((الطلاق مرتن)) مطابق دئ.

نو لکه څنګه چي په جلا جلا الفاظو په يوه مجلس کي طلاقونه واقع کيږي همدارنګه په يوه لفظ هم واقع کيږي ځکه د دواړو حکم د ټولو په نزديو دئ . دا ياده خبره د مذکور آيت په رڼا کي واضح کيږي:

۲_ ﴿ فإن طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجًا غيره ﴾. (سورة البقرة، الآية: ۲۳۰).

ځینې علماء په یوه مجلس کې د درو طلاقو د واقع کېدو له پاره په مذکور آیت داسې استدلال کوي چې فان طلق، فعل شرط دئ او د عموم له صیغو څخه دئ لکه څنګه چې د اصولو په کتابونو کې دا قاعده ذکر ده، نو په همدې عموم کې په یوه مجلس کې درې طلاقونه هم داخل دي.

علامه ابن حزم ظاهري تر دې آیت لاندې لیکلي:

فهذا يقع على الثلاث مجموعة ومتفرقة ولا يجوز أن يخص بهذه الآية بعض ذلك دون بعض بغير نص. (المحلى: ۱۰/ ۱۷۰).

۳_ ﴿ وتلك حدود الله ومن يتعد حدود الله فقد ظلم نفسه لا تدري لعل الله يحدث بعد ذلك أمرًا ﴾. (سورة الطلاق، الآية: ۱).

د آیت له ظاهر څخه دا خبره معلومېږي چې د درو طلاقو حق الله تعالی نارینه ته ورکړی دئ که یې هغه په یو ځل استعمال کړي واقع کېږي، البته په داسې صورت کې به ده پر ځان ظلم کړی وي، هغه داسې چې ممکن الله تعالی د ده په زړه کې له طلاق څخه پښېماني پیدا کړي نو که ده درې طلاقه ورکړي وي نو بیا دا پښېماني ګټه نه لري نو که چیرې درې طلاقه په یوه مجلس کې یو رجعی بلل کېدلای لکه څنګه چې غیر مقلدین ابن تیمیه رحمه الله او ابن القیم رحمه الله وایي، نو پښېماني به پر کومه خبره وای ځکه هلته خو بیا د رجعت امکان وو.

❁ له احادیثو څخه دلائل:

۱_ عن عائشة رضي الله عنها أن رجلاً طلق امرأته ثلاثًا فتزوجت فطلق فسئل النبي ﷺ: أتحل للأول؟ قال: لا! حتى يذوق عسيلتها كما ذاق الأول. (صحيح البخاري: ۲/ ۷۹۱، باب من اجاز طلاق الثلاث، فيصل).

په دې حدیث کې ((طلق امراته ثلاثاً)) له ظاهر څخه دا معلومیږي چې درې طلاقه په یو ځل ورکول سوي وه. امام بخاري رحمه الله په همدې اساس دا حدیث په باب من اجاز الثلاث کې راوړی دئ.

حافظ ابن حجر رحمه الله وایي:

فالتسمک بظاهر قوله طلقها ثلاثاً فانه ظاهر في کونها مجموعة. (فتح الباری:۹/ ۳۶۷، باب من جوز طلاق الثلاث، الحدیث الثالث حدیث عائشة، لاهور).

۲ _ امام بخاري رحمه الله په باب من اجاز الثلاث کې له حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت نقل کوي، چې په هغه کې د حضرت عویمر عجلاني د لعان کیسه بیان سوې ده، په دې کیسه کې ذکر دي چې کله ښځه او خاوند له لعان څخه فارغ سول، نو عویمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ تر حکم مخکې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل لکه څنګه چې راغلي دي.

« فطلقها ثلاثاً قبل أن یأمره رسول الله ﷺ. (صحیح البخاری:۲/ ۷۹۱، باب من اجاز طلاق الثلاث).

له دې حدیث څخه معلومه سوه چې په یوه مجلس کې درې طلاقه واقع کیږي.

قال العلامة العینی رحمه الله: « فطلقها » وأمضاه رسول الله ﷺ، ولم ینکر علیه فدل علی أن من طلق ثلاثاً یقع ثلاثاً. (عمدة القاری:۱٤/ ۲۳۸، ملتان).

اشکال: کوم کسان چې درې طلاقه یو ګڼي هغوی وایي، چې دلته فرقت (بېلوالی) پر لعان مخکې راغلی وو او ښځه اجنبیه (پردۍ) ګرځېدلې وه نو ځکه رسول الله ﷺ د ده پر دغه درې طلاقه سکوت وکړ.

الجواب:

الف _ حضرت عویمر رضي الله عنه داسې پوهېدئ چې یوازې په لعان فرقت نه راځي بلکې په یوه ځای کې په درې طلاقه سره فرقت راځي نو ځکه یې په یوه ځل درې طلاقه ورکړل، داسې نه سي کېدای چې یو صحابي دې درې طلاقه په یو ځل صحیح بولي، خو په حقیقت کې دې هغه غلط وي او

رسول الله ﷺ دي سكوت پر وكړي او هيڅ رد دي نه پر وكړي نو دا ثابته سوه چي درې طلاقه په يوه ځل واقع كيږي.

د حضرت عويمر رضي الله عنه د لعان په كيسه كي هيڅ ځاى او په هيڅ روايت كي دا بيان نسته چي رسول الله ﷺ د ده درې طلاقه كالعدم داسي وبلل بلكي د دې برعكس په ابو داؤد كي دي چي رسول الله ﷺ د ده طلاقونه نافذ كړل.

« فطلقها ثلاث تطليقات عند رسول الله ﷺ فأنفذه رسول الله ﷺ وكان ما صنع عند رسول الله ﷺ سنة». (سنن ابى داؤد:١/ ٣٠٦، باب فى اللعان، فيصل).

الجواب:

باء_ د دې تاويل اساس دا دئ چي په لعان مفارقت بين زوجين (د زوجينو تر منځ بېلوالى) راځي حال دا چي پر فرقت نه د لعان لفظ دلالت كوي او نه په كوم آيت او حديث كي تصريح په دې كي سته، نو دا قطعي مسئله نه بلكي اجتهادي مسئله سوه له همدې كبله د فقهاء كرامو هم پكښي اختلاف دئ خو د عويمر رضي الله عنه لعان او وروسته درې طلاقه او د رسول الله ﷺ سكوت او د ابو داؤد د روايت پر اساس د رسول الله ﷺ نافذول منصوص شى دئ او دا يقيني ده چي د اجتهادي مسئلې په مقابل كي د رسول الله ﷺ د قول، فعل او تقرير ترجيح وي او دا د ټولو محدثينو او فقهاوو مذهب دئ.

٣_ له حضرت ام المؤمنين عائشة رضي الله عنها څخه مسئله زده كړئ.

عن عائشة رضي الله عنها: أنها سئلت عن الرجل يتزوج المرأة فيطلقها ثلاثًا، فقالت: قال رسول الله ﷺ :« لا تحل للأول حتى يذوق الآخر عسيلتها وتذوق عسيلته ». (السنن الكبرى للبيهقى مع الجوهر النقى:٧/ ٣٧٤، باب نكاح المطلقة ثلاثاً، دار المعرفة، وقال الامام البيهقى: رواه مسلم فى الصحيح عن ابى بكر بن ابى شيبة:١/ ٤٦٣، باب لاتحل المطلقة ثلاثاً لمطلقها، فيصل).

په مذكور حديث كي ((فيطلقها ثلاثاً))، په ظاهر كي يو ځاى درې طلاقه مراد دي.

۴_ په سنن نسائي كي له محمود بن لبيد څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ته وويل سول: يوه سړي ښځي ته دري طلاقه وركړل، نو رسول الله ﷺ په غصه سو، ودرېدئ او وې فرمايل: له قرآن سره لوبي كيږي حال دا چي زه له تاسو سره موجود يم.

« أخبر رسول الله ﷺ عن رجل طلق امرأته ثلاث تطليقات جميعاً فقام غضباناً ثم قال: أيلعب بكتاب الله وأنا بين أظهر كم. (رواه النسائى:۲/ ۹۹، باب الثلاث المجموعة وما فيه من التغليظ، قديمى).

د دې واضح مطلب دا سو چي دا درې طلاقه واقع سول.

حافظ ابن القيم رحمة الله عليه وايي: اسناده على شرط مسلم. (زاد المعاد:۱/ ۲٤۱).

علامه ماردينى رحمة الله عليه وايي: د حديث دا سند صحيح دئ. (الجوهر النقى:۷/ ۳۳۳، بيروت).

حافظ ابن حجر رحمة الله عليه وايي: رواه النسائي ورواته موثقون. (بلوغ المرام:۳۲۱).

قاضي ابو بكر رحمة الله عليه وايي: رسول الله ﷺ د عويمر عجلانى رضي الله عنه په شان د دغه كس درې طلاقونه هم نافذ كړل.

« فلم يرده النبي ﷺ بل أمضاه كما في حديث عويمر العجلاني في اللعان حيث أمضى طلاقه الثلاث ولم يرده. (تهذيب سنن ابى داؤد:۳/ ۱۲۹، طبع مصر).

۵_ په دار قطنى كي د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما واقعه ذكر ده چي په پاى كي يې دي چي ابن عمر رضي الله عنهما پوښتنه وكړه چي يا رسول الله ﷺ! كه زه درې طلاقه وركړم بيا ما ته د رجوع حق او جواز سته؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: نه، ښځه له تا جلا سوه او ستا دا كار (په يوه ځل درې طلاقه وركول) ګناه ده.

وګورئ په دار قطني كي راځي:

عن الحسن ، قال : نا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أنه طلق امرأته تطليقةً وهي حائض ، ثم أراد أن يتبعها بتطليقتين أخريين عند القرئين، فبلغ ذلك رسول الله ﷺ فقال: يا ابن عمر ما هكذا أمرك

الله تعالى إنك قد أخطأت السنة، والسنة أن تستقبل الطهر فتطلق لكل قرء، قال فأمرني رسول الله ﷺ فراجعتها ، ثم قال: إذا هي طهرت فطلق عند ذلك أو أمسك فقلت: يا رسول الله! أرأيت لو أني طلقتها ثلاثًا كان يحل لي أن أراجعها قال: لا، كانت تبين منك وتكون معصية .
(سنن دار قطني:٤/ ٣١/ ٨٤، كتاب الطلاق، والسنن الكبرى للبيهقي:٧/ ٣٣٤، دار المعرفة).

٦ــ عن سويد بن غفلة قال لما مات علي رضي الله عنه جاءت عائشة بنت خليفة الخثعمية امرأة الحسن بن علي رضي الله عنه فقالت له: لتهنك الإمارة، فقال لها: تهنيني بموت أمير المؤمنين انطلقي فأنت طالق ثلاثاً فتقنعت بثوبها وقالت: إني لم أرد إلا خيرًا فبعث إليها بمتعة عشرة آلاف وبقية صداقها فلما وضع بين يديها بكت وقالت : متاع قليل من حبيب مفارق فأخبره الرسول فبكى وقال: لولا أني أبنت الطلاق لها لراجعتها ولكني سمعت رسول الله ﷺ يقول: أيما رجل طلق امرأته ثلاثًا عند كل طهر تطليقةً أو عند رأس كل شهر تطليقةً أو طلقها ثلاثًا جميعًا لم تحل له حتى تنكح زوجًا غيره . (سنن دار قطني:٤/ ١٣/ ٨٣، كتاب الطلاق، والخلع - والبيهقي:٧/ ٣٣٦، باب ماجاء في امضاء الطلاق الثلاث، وقال ابن رجب: اسناده صحيح).

د دې روايت لنډيز دا دئ چي حسن بن علي رضي الله عنهما خپله ښځه عائشه خثعميه رحمها الله په دې الفاظو طلاقه کړه، انطلقي فانت طالق ثلاثاً بيا هغه ولاړه او ډېر خفه وه او حسن بن علي رضي الله عنهما چي د دې په خفګان خبر سو نو وې ويل، که ما دا په بائن (مغلظ) طلاق نه وای طلاقه کړې نو رجوع به مي ورته کړی وای، خو ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي څوک په هر طهر کي ښځي ته يو يو طلاق ورکړي نو تر درې طلاقه وروسته بيا تر هغه وخته نه ورته روا کيږي تر څو چي له بل چا سره نکاح ونه کړي.

۷_ حدثنا محمد .... عن عامر الشعبي قال: قلت لفاطمة بنت قيس: حدثيني عن طلاقک قالت: طلقني زوجی ثلاثاً وهو خارج الی اليمن فأجاز ذلک رسول الله ﷺ. (ابن ماجه:۱٤۷۔ نسائی:۲/ ۱۰۰ –ابو داؤد:۱/ ۳۱۹ – دار قطنی:٤/ ۱۲، القاهرة).

یعنی د فاطمه بنت قیس رضی الله عنها خاوند درې طلاقه ورولیږل او رسول الله ﷺ د درو طلاقو فتوا ورکړه.

دا حدیث په ابن ماجه کې موجود دی او هغه داسې باب پر قائم کړی دی. (باب من طلق ثلاثاً في مجلس واحد).

۸_ په سنن دار قطنی کې راځي:

« عن علی رضي الله عنه قال: سمع النبي ﷺ رجلاً طلق البتة، فغضب، وقال: « تتخذون آيات الله هزواً، أودين الله هزواً ولعباً، من طلق البتة ألزمناه ثلاثاً، لاتحل له حتى تنكح زوجاً غيره ».

(سنن دار قطنی:٤/ ۲۰، کتاب الطلاق، القاهرة).

د روایت لنډیز دا دی، چې یوه سړي وخپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې وه رسول الله ﷺ چې خبر سو نو په قهر سو او وې فرمایل، د الله تعالی په آیاتو لوبې او مذاق مه کوئ، څوک چې مغلظ طلاق ورکړي نو پر لازم سو او وروسته تر څو چې بل ځای نکاح ونه کړي ده ته جواز نه لري.

۹_ په مصنف د عبد الرزاق کې راځي:

عن ابراهيم بن عبيد الله بن عبادة بن الصامت عن أبيه عن جده قال: طلق جدي امرأة له ألف تطليقة، فانطلق أبي إلى رسول الله ﷺ فذكر ذلك له، فقال النبي ﷺ أما اتقى الله جدك، أما ثلاث فله، وأما تسع مائة وسبعة وتسعون فعدوان وظلم، إن شاء الله تعالى عذبه ، وإن شاء غفر له. مصنف عبد الرزاق:٦/ ۳۹۳، باب المطلق ثلاثة، المجلس العلمی – وسنن دار قطنی:٤/ ۲۰، کتاب الطلاق، القاهرة).

دلته زر طلاقه په یو ځل ورکړل سوی رسول الله ﷺ د درو وقوع ومنل.

۱۰_ عن صفوان بن عمران الطائی أن امرأة كانت تبغض زوجاً فوجدته نائما فأخذت شفرة وجلست على صدره ثم حركته وقالت: لتطلقني ثلاثاً أو لأذبحنك فناشدها الله فأبت فطلقها ثلاثاً ثم جاء إلى رسول الله ﷺ فسأله عن ذلک فقال رسول الله ﷺ: « لا قيلولة في الطلاق ». (سنن سعيد بن منصور:۱/ ۲۷۵/ ۱۱۳۰، ورواه محمد باسناده، زجاجة المصابيح:۲/ ٤۷٦، باب الخلع والطلاق).

۞ د صحابۀ کرامو له اثارو څخه دلائل:

۱_ د راشد خلیفه حضرت عمر رضي الله عنه فتوا.

عن زيد بن وهب: أن بطالاً كان بالمدينة فطلق امرأته ألفًا فرفع ذلك إلى عمر بن الخطاب رضي الله عنه فقال: إنما كنت ألعب، فعلاه عمر رضي الله عنه بالدرة، وقال: إن كان ليكفيك ثلاث. (اخرجه البيهقي في سننه الكبرى:۷/ ۳۳٤، باب ماجاء في امضاء الطلاق الثلاث، دار المعرفة).

۲_ د راشد خلیفه عثمان رضي الله عنه فتوا.

من طريق وكيع عن جعفر بن برقان عن معاوية بن أبي يحيى قال: جاء رجل إلى عثمان بن عفان رضي الله عنه، فقال: طلقت امرأتي ألفاً فقال: بانت منک بثلاث. (محلی ابن حزم:۱۰/ ۱۷۲، كتاب الطلاق).

۳_ د راشد خلیفه حضرت علي رضي الله عنه فتوا.

ومن طريق وكيع عن الأعمش عن حبيب بن أبي ثابت قال: جاء رجل إلى علي بن أبي طالب رضي الله عنه فقال: إني طلقت امرأتي ألفاً فقال له علي رضي الله عنه: بانت منک بثلاث. (محلی ابن

حزم:۱۰/ ۱۷۲، کتاب الطلاق – وسنن بیهقی:۷/ ۳۳۵ – ومصنف ابن ابی شیبة:۵/ ۱۳ – وطحاوی شریف:۲/ ۳۷).

۴_ دام المؤمنین حضرت عائشې رضي الله عنها فتوا.

وعن محمد بن إياس بن بكير، عن أبي هريرة، وابن عباس، وعائشة رضي الله عنهم؛ في الرجل يطلق امرأته ثلاثًا قبل أن يدخل بها، قالوا: لا تحل له حتى تنكح زوجًا غيره. (مصنف ابن ابی شیبة:۵/ ۲۳، فی الرجل یتزوج المرأة ثم یطلقها – ومصنف عبد الرزاق: عن ابی سلمة:۶/ ۳۳٤).

۵_ دابن مسعود رضي الله عنه فتوا.

عن ابراهيم عن علقمة عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه أنه سئل عن رجل طلق امرأته مائة: قال: ثلاث تبينها منك، وسائرها عدوان. (طحاوی شریف:۲/ ۳۷، باب الرجل یطلق امرأته ثلاثاً معاً – مصنف عبد الرزاق:۶/ ۳۹۵، باب المطلق ثلاثة – وسنن کبری للبیهقی:۷/ ۳۳۲، بیروت).

۶_ دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فتوا.

عن نافع كان: ابن عمر رضي الله عنه إذا سئل عمن طلق ثلاثًا، قال: لو طلقت مرةً أو مرتين، فإن النبي ﷺ أمرني بهذا، فإن طلقتها ثلاثًا حرمت حتى تنكح زوجًا غيرك. (صحیح البخاری:۲/ ۷۹۲).

۷_ دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فتوا.

عن سعيد بن جبير عن ابن عباس رضي الله عنهما فى رجل طلق امرأته ألفًا، قال: أما ثلاث فتحرم عليك امرأتك، وبقيتهن عليك وزر، اتخذت آيات الله هزوًا. (السنن الکبری للبیهقی:۷/ ۳۳۲ – وسنن الدار قطنی:٤/ ١٤، کتاب الطلاق، القاهرة، وقال الشیخ الالبانی فی الارواء: اسناده صحیح).

۸_ دحضرت ابو هریره رضي الله عنه فتوا.

عن معاوية بن أبي عياش الأنصاري أنه كان جالسًا مع عبد الله بن الزبير رضي الله عنه وعاصم بن عمر رضي الله عنه فجاءهما محمد بن إياس بن البكير فقال : إن رجلًا من أهل البادية طلق امرأته ثلاثًا قبل أن يدخل بها فماذا تريان ؟ فقال ابن الزبير رضي الله عنه : إن هذا الأمر ما لنا فيه من قول فاذهب إلى ابن عباس رضي الله عنه وأبي هريرة رضي الله عنه. فاسألهما ثم ائتنا فأخبرنا، فذهب فسألهما فقال ابن عباس لأبي هريرة : أفته يا أبا هريرة، فقد جاءتك معضلة ، فقال أبو هريرة رضي الله عنه: الواحدة تبينها والثلاث تحرمها حتى تنكح زوجًا غيره . (طحاوى شريف:۲۳۷، باب الرجل يطلق امرأته ثلاثاً معاً – مؤطا امام مالک:ص ۲۰۸ – سنن بيهقى:۷/ ۳۳۵ – ومصنف عبد الرزاق:۶/ ۳۳۴).

۹_ د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فتوا.

عن عطاء بن يسار أنه جاء رجل إلى عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فسأله عن رجل طلق امرأته ثلاثًا قبل أن يمسها . قال عطاء : فقلت له طلاق البكر واحدة ؟ فقال عبد الله : إنما أنت قاص الواحدة تبينها والثلاث تحرمها حتى تنكح زوجًا غيره . (طحاوى شريف:۲/ ۳۷، باب الرجل يطلق امرأته ثلاثاً معاً، سعيد – وابن ابى شيبة:۵/ ۲۲ – ومصنف عبد الرزاق:۶/ ۳۳۴).

۱۰_ دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها فتوا.

عن أبي الزبير عن جابر قال سمعت أم سلمة سئلت عن رجل طلق امرأته ثلاثاً قبل أن يدخل بها فقالت: لاتحل له حتى يطأها غيره. (مصنف ابن ابى شيبة:۵/ ۲۲، فى الرجل يتزوج المرأة).

۞ د امت له اجماع څخه دلائل:

د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي د ټولو صحابهٔ کرامو پر دې اجماع سوې چي په يوه مجلس کي درې طلاقه درې شمارل کيږي.

دا جماع د ثبوت له پاره د محقيقينو فقهاوو او محدثينو اقوال ملاحظه کړئ.

۞ حافظ الكتاب والسنة ابو بكر جصاص رازي رحمه الله وايي :

فالكتاب والسنة وإجماع السلف توجب إيقاع الثلاث معاً وإن كانت معصية. (احكام القرآن: ١ / ٣٨٨، ذكر الحجاج لايقاع الثلاث معاً، سهيل).

❁ ابن الهمام رحمه الله وايي:

فإجماعهم ظاهر، فإنه لم ينقل عن أحد منهم أنه خالف عمر رضي الله عنه حين أمضى الثلاث له. (فتح القدير: ٣/ ٤٧٠، باب طلاق السنة، دار الفكر).

❁ علامه بدر الدين عينى رحمه الله په عمدة القاري کي وايي:

ومذهب جماهير العلماء من التابعين ومن بعدهم منهم: الأوزاعي والنخعي والثوري وأبو حنيفة وأصحابه ومالك وأصحابه والشافعي وأصحابه وأحمد وأصحابه وإسحاق وأبو ثور وأبو عبيد وآخرون كثيرون، عل أن من طلق امرأته ثلاثاً وقعن، ولكنه يأثم، وقالوا: من خالف فيه فهو شاذ مخالف لأهل السنة، وإنما تعلق به أهل البدع ومن لا يلتفت إليه لشذوذه عن الجماعة التي لا يجوز عليهم التواطؤ على تحريف الكتاب والسنة. (عمدة القارى شرح صحيح البخارى: ١٤/ ٢٣٦، باب من اجاز طلاق الثلاث، ملتان).

❁ شيخ محمد امين الشنقيطي په خپل تفسير کي د ابن عربي المالکي قول نقل کوی چي وايي:

وقد اتفق علماء الإسلام، وأرباب الحل والعقد في الأحكام على أن الطلاق الثلاث في كلمة، وإن كان حرامًا في قول بعضهم، وبدعةً في قول الآخرين، لازم .... وما نسبوه إلى الصحابة كذب بحت، لا أصل له في كتاب ولا رواية له عن أحد. (اضواء البيان: ١/ ١٣٦).

❁ حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله د جهمورو مذهب تائيد کوي او وايي:

فالراجح في الموضعين تحريم المتعة وايقاع الثلاث للاجماع الذي انعقد في عهد عمر رضي الله عنه على ذلك، ولا يحفظ أن أحداً في عهد عمر رضي الله عنه خالفه في واحدة منهما، وقد دل اجماعهم على وجود ناسخ وأن كان خفي عن بعضهم قبل ذلك حتى ظهر لجميعهم في عهد عمر فالمخالف بعد هذا الإجماع منابذ له والجمهور على عدم اعتبار من أحدث الاختلاف بعد الاتفاق .(فتح البارى:۹/ ۳۶۵، باب من جوز طلاق الثلاث، لاهور).

❁ د حافظ ابن القيم رحمه الله شاگرد ابن رجب الحنبلي رحمه الله په خپل كتاب: بيان مشكل الاحاديث الواردة فى ان الطلاق الثلاث واحدة كي ليكلي:

اعلم أنه لم يثبت عن أحد من الصحابة ولامن التابعين ولا من أئمة السلف المعتد بقولهم فى الفتاوى فى الحلال والحرام شيء صريح في أن طلاق الثلاث بعد الدخوال يحسب واحدة إذا سيق بلفظ واحد. (الاشفاق على احكام الطلاق للعلامة الكوثرى:۴۱، سعيد).

❁ د ابن تيميه نيكه ابو البركات عبد السلام الملقب بابن تيمية الحنبلي رحمه الله په خپل مشهور كتاب (متقى الاخبار) كي په باب ماجاء فى طلاق البتة وجمع الثلاث وتفريقها، كي احاديث او اثار نقل كوي او وايي:

وهذا كله يدل على إجماعهم على صحة وقوع الثلاث بالكلمة الواحدة. (منتقى الاخبار:۲۳۷).

۸_ په سعودي عربستان كي د مجلة البحوث الاسلاميه په نوم مجله كي دا بحث په دې عنوان په ډېر تحقيق سره ليكل سوى، عنوان يې دا دئ: حكم الطلاق الثلاث بلفظ واحد فى ضوء الكتاب والسنة فتوى كبار العلماء والمحققين. دا بحث هلته ۱۵۰ صفحې دئ: يو لنډ عبارت يې وګورئ:

خامسا : إن القول بوقوع الثلاث ثلاثاً قول أكثر أهل العلم فلقد أخذ به عمر وعثمان وعلي والعبادلة : ابن عباس وابن عمر وابن عمرو وابن مسعود رضي الله تعالى عنهم وغيرهم من أصحاب رسول الله ﷺ، وقال به الأئمة الأربعة : أبو حنيفة رحمه الله ومالك رحمه الله والشافعي رحمه الله وأحمد رحمه الله وابن أبي ليلى رحمه الله والأوزاعي رحمه الله وذكر ابن عبد الهادي عن ابن رجب رحمه الله بقوله : اعلم أنه لم يثبت عن أحد من الصحابة ولا من التابعين ولا من أئمة السلف المعتد بقولهم في الفتاوى في الحلال والحرام شيء صريح في أن الطلاق الثلاث بعد الدخول يحسب واحدة إذا سبق بلفظ واحد . وقال شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله في معرض بحثه الأقوال في ذلك : الثاني أنه طلاق محرم ولازم ، وهو قول مالك رحمه الله وأبي حنيفة رحمه الله وأحمد رحمه الله في الرواية المتأخرة عنه ، اختارها أكثر أصحابه، وهذا القول منقول من كثير من السلف من الصحابة والتابعين . وقال ابن القيم : واختلف الناس فيها ، أي في وقوع الثلاث بكلمة واحدة على أربعة مذاهب أحدها : أنه يقع، وهذا قول الأئمة الأربعة وجمهور التابعين وكثير من الصحابة . وقال القرطبي : قال علماؤنا واتفق أئمة الفتاوى على لزوم إيقاع الطلاق الثلاث في كلمة واحدة ، وهو قول جمهور السلف . (مجلة البحوث الاسلامية: المجلد الاول العدد الثالث، سنة ۱۳۹۷ هـ الرياض، مكة المكرمة).

۞ په فاروقي عهد كې حضرت علي رضي الله عنه اختلاف كوونكى گڼل سوى دئ، خو دا بالكل د حقيقت خلاف خبره ده. د سليمان اعمش رضي الله عنه له نقل سوي واقعې څخه بالكل دا واضح كيږي چي لكه څنګه چي امام بيهقي په خپل سنن كې بيان كړى دئ.

عن الأعمش قال كان بالكوفة شيخ يقول: سمعت على بن أبى طالب رضي الله عنه يقول : إذا طلق الرجل امرأته ثلاثًا فى مجلس واحد، فإنه يرد إلى واحدة، والناس عنقًا واحدًا إذ ذاك يأتونه ويسمعون منه، قال : فأتيته فقرعت عليه الباب فخرج إلى شيخ، فقلت له : كيف سمعت على بن أبى طالب رضي الله عنه فيمن طلق امرأته ثلاثًا فى مجلس واحد؟ قال : سمعت على بن أبى طالب رضي الله عنه يقول : إذا طلق رجل امرأته ثلاثًا فى مجلس واحد فإنه يرد إلى واحدة، قال فقلت له : أين سمعت هذا من على ؟ قال : أخرج إليك كتابًا فأخرج فإذا فيه بسم الله الرحمن الرحيم، هذا ما سمعت على بن أبى طالب رضي الله عنه يقول : إذا طلق الرجل امرأته ثلاثًا فى مجلس واحد فقد بانت منه ولا تحل له حتى تنكح زوجًا غيره، قال قلت : ويحك! هذا غير الذى تقول، قال : الصحيح هو هذا، ولكن هؤلاء أرادونى على ذلك .(السنن الكبرى للبيهقى:۷/ ۳۳۹، باب من جعل الثلاث واحدة).

له دې واقعې څخه د حضرت علي رضي الله عنه مسلک معلوم سو او دا هم معلومه سوه چې هوس پرستان څنګه په احاديثو او اثارو کې تحريف کوي.

مطلب دا چې حضرت علي رضي الله عنه د اجماع خلاف نه وو او د خلاف نسبت ور ته کول غلطي ده.

❁ د مخالف طرف ودلائلو ته کتنه:

روافض او دواد ظاهري د درو طلاقونو څخه منکر دي، هغوی وايي چې يوه مجلس کې په طلاق ثلاثًا سره يو طلاق واقع کيږئ دوی د خپلي دعوا د اثبات له پاره دوه دليله وړاندي کوي.

اول دليل د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دئ.

په مسلم شريف کې له حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ:

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: كان الطلاق على عهد رسول الله ﷺ وأبى بكر رضي الله عنه وسنتين من خلافة عمر رضي الله عنه طلاق الثلاث واحدةً، فقال عمر بن الخطاب رضي الله عنه إن الناس قد استعجلوا

ف أمر قد كانت لهم فيه أناة فلو أمضيناه عليهم، فأمضاه عليهم. (صحيح مسلم شريف: ۱/ ۴۷۷، باب الطلاق الثلاث، فيصل).

څوک چي درې طلاقه يو بولي هغوی وايي د نبي کريم ﷺ، حضرت ابو بکر رضي الله عنه او د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په اول دوو او درو کلنو کي همدا معمول وو چي درې طلاقه يو ګڼل کېدل نو دا روايت قابل اتباع دئ.

د حديثو علماء کرامو په دې حديث کي ډېر بحث کړی، د بخاري په شارحينو کي مخکښ شارح ابن حجر رحمه الله دې حديث ته اته جوابه ورکړي دي، نو د جمهورو لخوا دا څو جوابونه وګورئ:

۱_ الجواب: دا روايت وهم او غلط دئ هيڅ چا قابل التفات او نظر نخ دئ ګڼلی.

وذكر صاحب الاستذكار أن هذه الرواية وهم وغلط لم يعرج عليها أحد من العلماء. (الجوهر النقي: ۷/ ۳۳۷، باب من جعل الثلاث واحدةف دار المعرفة).

وفي الاستذكار: قال أبو عمر: ما كان ابن عباس رضي الله عنه ليخالف رسول الله ﷺ والخليفتين إلى رأي نفسه، ورواية طاوس وهم وغلط لم يعرج عليها أحد من فقهاء الأمصار بالحجاز والعراق والمغرب والمشرق والشام. (الاستذكار لابن عبد البر: ۶/ ۶، باب ماجاء في «البتة» دار الكتب العلمية).

۲_ د روايت د طاوس په واسطه وړاندي کيږي او طاوس په خپله د هغه ترديد کوي.

قال العلامة محمد زاهد الكوثري: قال الحسين بن علي الكرابيسي في أدب القضاء: «أخبرنا علي ابن عبد الله ـ وهو ابن المديني ـ عن عبد الرزاق عن معمر عن ابن طاؤس عن طاؤس أنه قال: من حدثک عن طاؤس أنه كان يروي طلاق الثلاث واحدة، كذبه». (الاشفاق على احكام الطلاق: ص ۳۹، سعيد).

۳_ د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فتوا هم د دې مقولې خلاف ده ځکه حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا فتوا ورکوله چې څوک خپلې ښځې ته په یو ځل درې طلاقه ورکړي نو هغه درې واقع کیږي.

عن سعيد بن جبير عن ابن عباس رضي الله عنهما فی رجل طلق امرأته ألفًا، قال: أما ثلاث فتحرم عليك امرأتك، وبقيتهن عليك وزر، اتخذت آيات الله هزوًا. (السنن البكرى للبيهقى:۷/ ۳۳۲ – وسنن دار قطنى:٤/ ۱۳، وقال الشيخ الالبانى فى الارواء: اسناده صحيح).

همدارنګه د هغه شاګردان، سعید بن جبیر، عطاء بن ابی رباح، مجاهد، عکرمه، عمرو بن دینار، مالک بن حارث، محمد بن ایاس بن بکیر او معاویه بن ابی عیاش د دې ټولو څخه دا نقل دي چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په یوه مجلس کې درې طلاقو ته د درو طلاقو فتوا ورکوله او په کوم ځای کې چې د راوي فتوا د خپل روایت خلاف وي نو هغه روایت یا مؤول وي یا منسوخ.

۴_ که موږ د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روایت بالفرض صحیح وبولو نو د دې ساده جواب دا دئ چې که چا په یوه لفظ ښځې ته یو طلاق ورکړ او نور دوهم او درېیم یې د تاکید له پاره وویل نو په خیر القرون زمانه کې صداقت ډېر وو نو دا د ده خبره دیانتۃً او قضاءً منل کېدل خو کله چې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې دیانت څه کم سو نو هغه اعلان وکړ چې قضاءً دا نه منل کیږي بلکې درې ګڼل کیږي. (بذل المجهود: ۱۰/ ۳۰۰، بيان حكم الطلاقات الثلاث).

امام قرطبي رحمه الله دا جواب خوښ کړی دئ. (الجامع الاحكام القرآن:۳/ ۸٦).

امام نووي رحمه الله دا اصح الاجوبة بللی دئ. (شرح نووى على مسلم:۱/ ٤۷۸).

۵_ د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا خبره د غیر مدخول بها (هغه ښځه چې جماع ورسره نه وې سوې) متعلق ده، د نبي کریم ﷺ په زمانه کې خلکو غیر مدخول بها ته داسې طلاق ورکاوه انت طالق انت طالق انت طالق، نو په اول ځل به ښځه بائنه سوه نور طلاقونه به یې ګټې سول خو د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې خلکو مدخول بها ته هم داسې طلاق یو ګڼی نو ځکه حضرت عمر رضي الله عنه د درو طلاقو د وقوع حکم صادر کړ.

۶_ په لومړنیو وختونو کي ته درو طلاقو وروسته رجوع کېدل او بیا دا منسوخ سو د دې تائید له دغو عباراتو څخه کیږي.

عن ابن عباس رضي الله عنه قال ﴿ والمطلقات يتربصن بأنفسهن ثلاثة قروء، ولا يحل لهن أن يكتمن ما خلق الله في أرحامهن ﴾ (سورة البقرة:۲۲۸). وذلك أن الرجل كان إذا طلق امرأته فهو أحق برجعتها وإن طلقها ثلاثًا فنسخ ذلك وقال ﴿ الطلاق مرتان ﴾ الآية. (سنن ابی داؤد: ۱/ ۲۹۷، باب في نسخ المراجعة بعد التطليقات الثلاث، فيصل – والسنن الكبرى للبيهقي: ۷/ ۳۳۷، باب من جعل ثلاث واحدة، دار المعرفة).

۷_ محدث کبیر مولانا حبیب الرحمن اعظمی وایي:

دا حدیث هیڅ ډول د استدلال قابل نه دئ ځکه په دې کي نه د نبي کریم ﷺ قول ذکر دئ او نه دا سته چي په دې کار (درې طلاقه یو بلل) نبي کریم ﷺ خبر وو او بیا یې سکوت کړی وو دا هیڅ هم نسته.

ابن حزم ظاهري رحمه الله وایي:

وأما حديث طاؤس فليس شيء أنه عليه السلام هو الذي جعلها واحدة أو ردها إلى الواحدة ولا أنه عليه السلام علمه فأقره. (المحلى لابن الحزم: ۱۰/ ۱۶۸).

بل دا چي په دې روایت د درو طلاقو د یو بللو تصریح نسته بلکي یوازي دومره ذکر دي چي درې یو وو یا یو کېدل بل کوم صاف لفظ نسته همدا ډول تر استدلال مخکي دا هم ضروري ده چي دا ثابته کړي چي دلته د بل احتمال او مطلب امکان نسته او دا اثبات دلته ممکن نه دئ.

امام ابو زرعه رحمه الله دومره لوی محدث دئ، چي امام مسلم رحمه الله خپل صحیح هغه ته وړاندي کړ او هغه چي کوم حدیثونه معلول کړل امام مسلم رحمه الله هغه ټول حذف کړل.

هغه د دې حدیث مطلب دا بیان کړی دئ، دا درې درې طلاقه چي نن ورکول کیږي په نبوي او صدیقي دورو کي یو یو ورکول کېدل د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کي د درو طلاقو ورکول ډېر سول نو هغه لازم هم کړل.

همدارنګه د مسلم په روايت کي دا تصريح نسته چي څه ډول دري طلاقه يو بل، کېدل، په لفظ کي جلا جلا د مدخول بها او که د غير مدخول بها، نو ټول اقسام اخيستل خو صحيح نه دي او د ځينو بيا ذکر نسته. (مقالات ابو مآثر: ۱/ ۳۱۵).

دوهم دليل د رکانه رضي الله عنه حديث دئ:

وګورئ په مسند احمد کي دي:

عن بن عباس رضي الله عنه قال : طلق ركانة بن عبد يزيد رضي الله عنه أخو بني مطلب امرأته ثلاثاً في مجلس واحد فحزن عليها حزناً شديداً، قال: فسأله رسول الله ﷺ كيف طلقتها ؟ قال: طلقتها ثلاثاً، قال: فقال: في مجلس واحد ؟ قال: نعم! قال فإنما تلك واحدة، فارجعها ان شئت، قال: فرجعها . (مسند احمد: ۱/ ۳۴۷).

الجواب: دي حديث ته د جمهورو له خوا دا جواب دئ چي د رکانه رضي الله عنه د طلاق متعلق واقعات او روايات مختلف دي په ځينو کي ((طلق امرأته ثلاثاً)) او په ځينو ((طلق امرأته البتة)).

امام ابو داؤد رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام ابن حبان رحمه الله، امام حاکم رحمه الله، امام دار قطني رحمه الله په شان لويو محدثينو د ((البتة)) روايت صحيح بللی دئ.

علامه شوکاني رحمه الله وايي:

اثبت ماروى فى قصة ركانة انه طلقها البتة لاثلاثاً. (نيل الاوطار: ۶/ ۲۴۶).

د دي بر عکس د طلق امراته ثلاثاً روايت د محدثينو په نزد په فني اعتبار د استدلال قابل نه دئ د ((البتة)) روايت ابو داؤد اصح بللی دئ.

قال أبو داود : وهذا أصح من حديث ابن جريج أن ركانة طلق امرأته ثلاثًا، لأنـهم أهل بيته وهم أعلم به، وحديث ابن جريج رواه عن بعض بنى أبى رافع عن عكرمة عن ابن عباس.

(سنن ابى داؤد: ۱/ ۳۰۱، باب فى البتة، كتاب الطلاق، فيصل).

د امام ابو داؤد پر تصحح اشکال او جواب:

اشکال: د بلوغ المرام محشی صفی الرحمن مبارک پوري د ابو داؤد روایت ضعیف بللی او د مسند احمد روایت قوي او د ابو داؤد اصح ته یې داسي تاویل ورکړی چي امام ابو داؤد په دوو ضعیفو کي یو اخف او بل اصح بللی دئ. وګورئ: (بلوغ المرام حاشیه: ۳۲۱). د دې اشکال څه جواب دئ؟

الجواب: د بلوغ المرام د محشي اعتراض پر انصاف ولاړ نه دئ ځکه امام حاکم رحمه الله، حافظ ذهبی رحمه الله، ابن حبان رحمه الله، او داسي نورو هم دا صحیح بللی دئ. د امام ابو داؤد تصحیح دار قطنی، محقق ابن حجر، علامه صنعانی او نورو هم له کوم اعتراض پرته نقل کړې ده، بلکي ابن حجر رحمه الله د مسند احمد دا مذکور روایت معلول بللی دئ.

وګوري د ابن حجر تلخیص الحبیر کي فرمایي:

وصححه أبو داؤد وابن حبان والحاكم، وفي الباب عن ابن عباس رضي الله عنه رواه أحمد والحاكم، وهو معلوم أيضاً. (تلخيص الحبير:۳/ ٤٤١/ ١٧٤٤، كتاب الطلاق).

علامه صنعانی رحمه الله د بلوغ المرام په شرحه سبل السلام کي وایي:

وقد صححه أبو داود، لأنه أخرجه أيضاً من طريق أخرى وهي التي أشار إليها المصنف بقوله «أحسن منه» وهي أنه أخرجه من حديث نافع بن عجير بن عبد يزيد بن ركانة أن ركانة .... الحديث وصححه أيضاً ابن حبان والحاكم . (سبل السلام شرح بلوغ المرام:۳/ ۳٦۰، طلاق الثلاث بلفظ واحد).

قال الحاكم في المستدرك: قد صح الحديث بهذه الرواية، فإن الإمام الشافعي رحمه الله قد أتقنه وحفظه عن أهل بيته .... ووافقه الذهبي. (المستدرك:۲/ ۲٥۰/ ۲۸۰۸، كتاب الطلاق، دار ابن حزم).

وقال الإمام الدار قطني: قال أبو داؤد: هذا حديث صحيح. (سنن الدار قطنی:٤/ ٣٣، كتاب الطلاق، والخلع، القاهرة).

د ابو داؤد د رجالو تحقيق:

١-أحمد بن عمرو بن السرح أبو طاهر المصرى: ثقة. (التقريب:١٥).

٢- إبراهيم بن خالد الكلبي، الفقيه صاحب الشافعي: ثقة. (التقريب:٢٠).

٣- محمد بن إدريس الشافعي الإمام المعروف المحدث الكبير صاحب المناقب.

٤- محمد بن علي بن شافع: قال الحافظ فى « التقريب » (٣١٢) والذهبي فى « الكاشف » (٢/ ٢٠٣): وثقه الشافعي. انتهى.

٥- عبد الله بن علي بن السائب: قال الحافظ فى « التقريب » (١٨٢): مستور. انتهى.

وقال الدكتور بشار عواد وشعيب الأرنؤوط فى « التحرير على التقريب » (٢/ ٢٤١/ ٣٤٨٥): بل صدوق، حسن الحديث، فقد روي عنه أربعة، وذكره ابن حبان فى «الثقات » وقال الذهبي فى« الكاشف» (٢/ ٩٩): لم يضعف. انتهى.

٦- نافع بن عجير: قال الحافظ فى «التهذيب » (١٠/ ٣٦٤): ذكره ابن حبان فى « الثقات » وذكره ابن حبان أيضاً فى الصحابة وكذا أبو القاسم البغوي، وأبو نعيم، وأبو موسى فى الذيل وغيرهم. انتهى.

وقال الذهبي فى « الكاشف » (٢/ ٣١٤): وثق. انتهى.

د دوهم سند تحقيق:

١- جرير بن حازم: قال الذهبي فى « الكاشف » (١/ ٢٩١): ثقة. انتهى.

وقال الحافظ فی « التهذیب » (۲/ ٦۳): قال ابن معین: ثقة، وقال العجلي: بصری ثقة، وقال النسائي: لیس به بأس، وقال أبو حاتم: صدوق صالح. انتهی.

وقال الدکتور بشار عواد وشعیب الأرنؤوط فی « التحریر علی التقریب» (۱/ ۲۱۲/ ۹۱۱): أخرج له البخاري في « صحیحه » أحادیث یسیرة.... وقال الذهبي فی « السیر » (۷/ ۱۰۰): اغتفرت أو هامه في سعة ما روی، وأنه اختلط قبل موته بسنة وقد حجبه أولاده فلم یحدث في حال اختلاطه. انتهی.

۲- زبیر بن سعید بن سلیمان أبو هاشم: قال الحافظ فی « التهذیب » (۳/ ۲۸۰): قال الدوري عن ابن معین: ثقة، وقال أبو زرعة: شیخ، وقال الدار قطني: یعتبربه، وذکره ابن حبان فی « الثقات» . انتهی.

وقال الذهبي فی « المیزان » (۲/ ۲۵۷): روی عباس عن ابن معین: ثقة، وقال أحمد بن حنبل: فیه لین . انتهی.

۳- عبد الله بن علي بن یزید بن رکانة: قال الذهبي في « الکاشف » (۲/ ۹۹): وثق . انتهی .

وقال الحافظ فی « التهذیب» (۵/ ۲۸۹): ذکره ابن حبان فی « الثقات » (۵/ ۱٦۵). انتهی.

وقال الحافظ فی « التقریب »: لین الحدیث . انتهی.

وقال المزي فی « تهذیب الکمال » (۱۵/ ۳۲۳): ذکره ابن حبان فی « الثقات »، وقد وقع لنا حدیثه عالیاً أخبرنا به أبو إسحاق.... عن عبد الله بن علی بن رکانة عن أبیه عن جده « أنه طلق امرأته علی عهد رسول الله ﷺ البتة ....رواه أبو داؤد فوافقناه فیه بعلو. انتهی.

٤- عن أبيه أي علي بن يزيد بن ركانة: قال الحافظ فى « التهذيب» (٧/ ٣٣٣) والمزى فى «تهذيب الكمال (٢١/ ١٧٥): ذكره ابن حبان فى « الثقات ». انتهى .

وقال الذهبي فى « الميزان » (٤/ ٨١): قال البخاري: لم يصح حديثه. انتهى.

مطلب دا چي په علي بن يزيد کي کلام دئ نو ځکه دا روايت ضعيف دئ البته د نافع بن عجيز له روايت سره د شاهد په ډول پيش کېداى سي خاصتاً په هغه وخت کي چي د هغه قوي متابع هم موجود وي.

« قال أبو داؤد : وسمعت شيخاً بمكة فقال: حدثنا عبد الله بن علي عن نافع بن عجير عن ركانة بن عبد يزيد قال: كانت عندي امرأة يقال لها سهيمة، فطلقتها البتة.... الحديث. (١/ ١٦٤/ ١١٨٨، دار المعرفة، بيروت).

شيخ الباني په ارواء الغليل کي وايي:

ويغلب على ظني أن هذا الشيخ المكي إنما هو محمد بن علي بن شافع فإنه مكي وعليه فيكون الطيالسي قد تابع الإمام الشافعي في رواية الحديث عنه والله أعلم.

قلت: وهذا الإسناد أحسن حالاً من الذي قبله، فإن رجاله ثقات. (رواء الغليل:٧/ ١٤٢، باب صريح الطلاق وكنايته، المكتب الاسلامى).

د مسند احمد د روايت تحقيق:

هغه روايت چي په يوه مجلس کي له درو طلاقو وروسته رجوع ﭘکښي ذکر ده

قال الشيخ شعيب الأرنؤوط في « تعليقه على مسند الإمام أحمد بن حنبل» : إسناده ضعيف، رواية داؤد عن عكرمة فيها شيء، قال ابن المديني: ما روى عن عكرمة فمنكر، وقال ابو داؤد: أحاديثه عن شيوخه مستقيمة، وأحاديثه عن عكرمة مناكير، وقال الذهبي في كتاب «

من تكلم فيه وهو موثق » (١٠٥): ثقة مشهور له غرائب تستنكر، وقال الحافظ فى « التقريب»: ثقة إلا عن عكرمة... وقد روى أبو داؤد هذا الحديث بإسناد أجود منه: أن ركانة طلق امرأته البتة.... وقال الحافظ ابن حجر رحمة الله عليه في « الفتح » (٩/ ٣٦٣): إن أبا داؤد رجح أن ركانة إنما طلق امرأته البتة، كما أخرجه هو من طريق آل بيت ركانة، وهو تعليل قوي...(مسند الامام احمد، بتحقيق شعيب الارنؤوط:٤/ ٢١٥-٢١٨/ ٢٣٨٧، مؤسسة الرسالة).

وقال المزي في « تهذيب الكمال» (٨/ ٣٨٠) والحافظ فى « التهذيب » (٣/ ١٦٣): قال الساجي: منكر الحديث، يتهم برأي الخوارج، وقال ابن عيينة: كنا نتقي حديث داؤد. انتهى.

وقال ابن الجوازى » الضعفاء المتروكين (١/ ٢٦١): قال ابن حبان: يحدث عن الثقات بما لايشبه حديث الأثبات، يجب مجانة روايته. انتهى.

وقال أبو الفداء في « تعليقه على الضعفاء والمتروكين » (١/ ٢٦١) بعد ذكر أقوال المحدثين: من ذلک يتضح أن داؤد مضعف لسببين:

الف – روايته عن عكرمة منكرة.

باء – كونه خارجياً. ومنكر الحديث.

لهذا صحيح دا ده چي هغه صراحةً درې طلاقه نه وه وركړي بلكي د البتة طلاق يې وركړى وو، البته هغه وخت ((البتة)) هم د درو په ځاى كي استعمالېدل لكه د سنن دار قطنى (۴۳۳) په صفحه كي چي دي څكه نبي كريم ﷺ قسم وركړاو پوښتنه يې ورڅخه وكړه چي ستا يو مراد وو؟ كله چي هغه په قسم سره وويل چي زما يو مراد وو، نو د رجعت اختيار يې وركړ

په ترمذي شريف كي راځي:

عن عبد الله بن يزيد بن ركانة عن أبيه عن جده قال : أتيت النبي ﷺ فقلت : يا رسول الله ! إني طلقت امرأتي البتة، فقال: ما أردت بها ؟ قلت : واحدة، قال والله ؟ قلت: والله، قال : فهو ما أردت . (رواه الترمذى:١/ ٢٢٢، باب فى الرجل طلق امرأته البتة، فيصل).

امام ترمذي رحمه الله فرمايي:

وقد اختلف أهل العلم من أصحاب النبي ﷺ وغيرهم في طلاق ((البتة)) فروي عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أنه جعل البتة واحدة، وروي عن علي رضي الله عنه أنه جعلها ثلاثاً، وقال بعض أهل العلم : فيه نية الرجل إن نوى واحدة فواحدة، وإن نوى ثلاثاً فثلاث، وإن نوى ثنتين لم تكن إلا واحدة، وهو قول الثوري رحمه الله وأهل الكوفة، وقال مالك بن أنس رحمه الله (في البتة : إن كان قد دخل بها، فهي ثلاث تطليقات، وقال الشافعي رحمه الله: إن نوى واحدة فواحدة يملك الرجعة، وإن نوى ثنتين فثنتن، وإن نوى ثلاثاً فثلاث . (ترمذى شريف:١/ ٢٢، باب فى الرجل طلق امرأته البتة، فيصل).

دزياتو جوابونو د تفصيل له پاره وګورئ: (فتح البارى شرح صحيح البخارى:٩/ ٣٦٢-٣٦٧، كتاب الطلاقف باب من جوز الطلاق الثلاث – وعمدة القارى شرح صحيح البخارى:ج ١٤ – وبذل المجهود:١٠/ ٢٨٦، باب فى نسخ المراجعة بعد الطليقات الثلاث – واوجز المسالک الى مؤطا الامام مالک:٤/ ٣٣١، باب ما جاء فى البتة – وشرح النووى على صحيح مسلم:١/ ٤٧٨، باب الطلاق الثلاث – والجامع الاحكام القرآن:٣/ ٨٦ – ونيل الاوطار:٦/ ٢٤٥ -٢٤٨، ادارة القرآن – وازالة الخفاء – وزاد المعاد – واغاثة اللهفان).

وعصر حاضر کی پیچدہ مسائل اور ان کا حل: جلد دوهم –وفتاوی محمودیه: جلد دوازدهم، مبوب ومرتب – وفتاوی رحیمیه: جلد هشتم مبوب ومرتب – وخیر الفتاوی: جلد پنجم – ورساله تین طلاق کا ثبوت اسلامی شریعت مین از مولانا محمد شهاب الدین ندوی – ورساله عمدة الثلاث فی حکم الطلقات الثلاث، از شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد سرفراز خان صاحب . والله ﷻ اعلم.

د طلاق، طلاق، طلاق ښځه د درو طلاقو حکم

سوال: د ښځي او خاوند جنګ وو خاوند ښځي ته وویل طلاق، طلاق، طلاق ایا اوس خوشحاله سوي اوس به چوپ سي، خاوند وایي په دې الفاظو ما یوازي ښځه خاموش کړځوله؟

الجواب: په یاد صورت کي دري طلاقه واقع سول ځکه صریح الفاظ نیت ته ضرورت نه لري، البته که یې له ښځوا ښځه پر دې خبره شاهدان درولي وي چي زما یوازي چوپ والی مطلوب دئ، نو بیا یې خبره صحیح ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وأما الهازل فيقع طلاقه قضاءً وديانةً لأنه قصد السبب عالماً بأنه سبب فرتب الشرع حكمه عليه أراده أو لم يرده. (فتاوى الشامى:۳/ ۲۵۰، سعيد – وكذا فى الهداية:۲/ ۳۵۹، باب ايقاع الطلاق).

په درمختار کي راځي:

وإن قال تعمدته تخويفاً لم يصدق قضاءً إلا إذا أشهد عليه قبله وبه يفتى. وفى الطحطاوى: قوله تعمدته تخويفاً ولم يكن من قصدى الطلاق، قوله إلا إذا أشهد عليه قبله أي قبل التكلم بأن قال: امرأتي طلبت منى الطلاق وأنا لا أطلق فأقول هذا، بحر. (الدر المختار مع حاشية الطحطاوى:۲/ ۱۱۲، باب الصريح).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

که یې درې ځله طلاق ویلی وي نو درې طلاقه واقع کیږي، د طلاق لفظ صریح دئ او د نیت محتاج نه دئ.

ولا یفتقر إلى النية لأنه صريح فيه لغلبة الاستعمال. (الهداية:۲/ ۳۵۹، باب ایقاع طلاق).

دلته یوازې د بېرولو خبره قبوله نه ده البته د طلاق د وقوع له پاره نسبت ضروري دئ یعنی نوم اخیستل یا اشاره کول یا خطاب کول او طلاق ښځي ته منسوبول مګر صریح اضافت ضروري نه دئ معنوی اضافت هم کافي دئ. (فتاوی رحیمیه:۸/ ۳۱۳، فتاوی دار العلوم دیوبند:۹/ ۲۸۹، فتاوی محمودیه:۱۲/ ٤٦٥). والله ﷻ اعلم.

دوه طلاقه درې بلل

سوال: یوه سړي ښځي ته دوه طلاقه ورکړل کله چي د ښځي خپلوان راغلل او له ده څخه یې د طلاقو د تعداد پوښتنه وکړه، نو ده ورته وویل، چي درې طلاقه مي ورکړل اوس شرعاً څو طلاقه واقع سول؟

الجواب: په دې صورت کي د خاوند د اقرار په اساس درې طلاقه واقع سول که څه هم په حقیقت کي دوه وي.

وكذا أنت طالق قبل أن أتزوجك أو أمس وقد نكحها اليوم ولو نكحها قبل أمس وقع الآن لأن الإنشاء فی الماضي إنشاء فی الحال.... أنت حر قبل أن أشتريک أو أنت حر أمس وقد اشتراه اليوم فإنه يعتق لما يعتق لو أقر لعبد ثم اشتراه لإقراره بحريته. وفی الشامية: قوله لأن الإنشاء فی الماضي إنشاء فی الحال لأنه ما أسنده إلی حالة منافية، ولايمكن تصحيحه إخباراً لكذبه وعدم قدرته علی الإسناد، فكان إنشاء فی الحال. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲٦٦، باب الصريح، سعيد).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

وفی الصغری: في أما لي أبي يوسف رحمه الله:إذا لها : « قد طلقتک » أو قال لها: « أنت طالق » وأراد الخبر عما مضى كذباً وسعه فيما بينه وبين الله تعالى أن يمسكها، وإن لم يرد الخبر عما مضى وأراد الكذب فهي طالق فی القضاء وفيما بينه وبين ربه، وكذا إذا أراد الهزل طلقت قضاءً وديانةً. (الفتاوی التاتار خانية:۳/ ۲٦۱، فیما یرجع الی صریح الطلاق، ادارة القرآن).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

سوال: يوه سړي ښځې ته دوه طلاقه ورکړل څو ورځې وروسته يو مولوي صاحب سوال ورڅخه وکړ، سړي ورته وويل، درې مغلظه طلاقه مي ورکړل، خو اوس وايي ما دوه طلاقه ورکړي وه او دوه تنه شاهدان هم سته؟

جواب: په ياد صورت کي د سړي د اقرار او د سوال د جواب په اساس درې واقع سول. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۹/ ۲۲٦: ۹/ ۳۱٤). والله تعالی اعلم.

يو مي درکړی دوه درکوم

سوال: يوه سړي خپلې ښځې ته وويل يو طلاق مي درکړئ اوس دوه درکوم په دې الفاظو کي کوم او څو طلاقه واقع سول؟

الجواب: په ياد صورت کي درې طلاقه واقع سول او له حلالې پرته لومړني خاوند ته جواز نه لري ځکه طلاق درکوم د حال صيغه ده .

وګورئ فتاوی شامي کي راځي:

قوله وما بمعناها من الصريح أي مثل ما سيذكره من نحو: كوني طالقاً واطلقي يا مطلقة بالتشديد وكذا المضارع إذا غلب في الحال مثل أطلقك كما في البحر. (فتاوی الشامی:۳/ ۲٤۸، باب الصریح، سعید).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

قالت لزوجها : من باتو نمي باشم، فقال الزوج: مباش، فقالت: طلاق بدست تو است مرا طلاق كن، فقال الزوج : طلاق ميكنم طلاق مي كنم وكرر ثلاثًا، طلقت ثلاثًا. (الفتاوى الهندية: ١/ ٣٨٤، باب الطلاق بألفاظ الفارسية).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

داسي لفظ چي پر حال دلالت کوي په هغه سره طلاق واقع کیږي او د ماضي صیغه ضرور نه ده.(فتاوی رحیمیه:٨/ ٢٩٢).

دزیات تحقیق له پاره وګورئ: (تنقيح الحامديه: ١/ ٣٨، كتاب الطلاق). والله تعالى اعلم.

د ښځي په غوښتنه خاوند وویل بس حاصل دي کړ

سوال: د ښځي او خاوند تر منځ جنګ وو، ښځي ورته وویل ما ته طلاق راکړه خاوند ورته وویل: سمه ده تا ته حاصل سو بیا ښځي وویل، څونه؟ خاوند وویل، درې اوس کوم طلاق واقع سو رجعي که مغلظ؟

الجواب: په یاد صورت کي د ښځي غوښتنه خاوند پوره کړه نو یو رجعي واقع سو بیا خاوند د درو اقرار وکړ نو درې واقع سول او له حلالي پر ته ولومړنی خاوند ته نه روا کیږي.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

وفي المنتقى : امرأة قالت لزوجها: طلقني، فقال الزوج: قد فعلت، طلقت . (الفتاوى الهندية: ١/ ٣٥٦، ايقاع الطلاق).

په فتاوی شامي کي راځي:

ذكر الطلاق بلا عدد فقيل له بعد ما سكت كم ؟ فقال: ثلاثاً، وقع ثلاث عندهما خلافاً لمحمد .... وفي الجوهرة: قال أنت طالق، فقيل له بعد ما سكت كم ؟ فقال: ثلاث، وفي

الخانية : ويحتمل أن هذا قول أبي حنيفة رحمه الله فإن عنده إذا طلق واحدة ثم قال: جعلتها ثلاثاً تصير ثلاثاً . (فتاوى الشامي:۳/ ۳۰۵، باب الكنايات، سعيد).

په التحرير المختار کي راځي:

قوله ويحتمل أن هذا قول أبي حنيفة رحمه الله: يبطل هذا الاحتمال جعل أبي يوسف رحمه الله مع الإمام والظاهر أن وجه الوقوع على قولهما أن السوال يتضمن الطلاق كأنه قال: كم طلقت؟ والجواب يتضمن ما في السوال فكأنه قال: طلقت ثلاثاً. (التحرير المختار على هامش رد المحتار:۳/ ۲۱۹، باب الكنايات، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د ښځي په غوښتنه درې ځلي (I talaaq you) ويل

سوال: د ښځي او خاوند تر منځ درې ساعته جنګ روان وو، اخير ښځي ورته وويل ما ته طلاق راکړه زه خپل کور ته ځم خاوند درې ځلي ورته وويل: (I talaaq you) اوس څو طلاقه واقع سول؟

الجواب: په دې صورت کي ښځه په مغلظه طلاق طلاقه سوه او له حلالي پرته نه روا کيږي.

وګورئ په مختار کي راځي:

قالت لزوجها: طلقني، فقال الزوج: فعلت، طلقت . وفي الشامي : أي بقرينة الطلب. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۹٤، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية:۱/ ۳۵٦).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله كرر لفظ الطلاق بأن قال للمدخولة: أنت طالق أنت طالق أو قد طلقتك قد طلقتك أو أنت طالق .... قوله وإن نوى التأكيد دين أي ووقع الكل قضاءً، وكذا إذا طلق، أشباه : أي بأنه لم ينو استئنافاً ولا تأكيدا لأن الأصل عدم التأكيد. (فتاوى الشامي:۳/ ۲۹۳، سعيد).

په غمز عیون البصائر کې راځي:

لو كرر لفظ الطلاق، ولم ينو الاستئناف، ولا التأكيد، يقع الكل قضاءً ؛ لأنه يجعل تأسيسًا لا تأكيدًا ؛ لأنه خير من التأكيد . (غمز عيون البصائر شرح الاشباه والنظائر :١/ ١٧٨، القاعدة الثانية، الامور بمقاصدها). والله ﷻ اعلم.

تر دوه طلاقه وروسته فسخه مغلظ طلاق ګرځي

سوال: یوه سړي مخکې دوه ځله ښځې ته دوه طلاقه ورکړي وو، بیا د ځه مشکل په خاطر قاضي د دوی په منځ کې د نکاح د فسخې حکم وکړ ځکه خاوند طلاق نه ورکوي اوس ښځه بیرته غواړي له خاوند سره نکاح وکړي ایا دا جواز لري او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کې دوه طلاقه پخواني وه یو هم فسخه د نکاح په حکم د طلاق بائن کې ده نو ټول درې طلاق سول او ښځه مغلظه طلاقه سوه.

په مختصر القدوري کې راځي:

والفرقة تطليقة بائنة. (مختصر قدوری:٢١٩).

په هدایه کې راځي:

لأن فعل القاضي أضيف إلى فعل الزوج فكأنه طلقها بنفسه. (الهدايه:٢/ ٤٢١).

په فتاوی شامي کې راځي:

قوله فرق الحاكم وهو طلاق بائن. (فتاوى الشامی:٣/ ٧٠).

په حیله ناجزه کې راځي:

د ضرورت په وخت کې که خاوند له طلاق ورکولو ځخه انکار وکړي نو قاضي دي په خپله د تفریق حکم وکړي او دا تفریق د طلاق بائن په حکم کې دئ. (الحيله الناجزة:٨٢).

همدارنګه که چیرې قاضي نه وي، نو هلته د مسلمانانو یو ډله پوهان علماء هم د قاضي قائم مقام کېدای سي. (الحيله الناجزة:٧٤). والله ﷻ اعلم.

د قهر او غصې په حالت کې د درو طلاقو حکم

سوال: يوه سړي خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل وروسته يو بدعتي عالم ته ورغئ او پوښتنه يې ورځخه وکړه هغه ورته ووېل، چې نکاح ختمه نه ده ځکه دا د غصې په حالت کې وو د دې شرعي حکم څنګه دئ؟

الجواب: په ياد صورت کې د غصې په حالت کې هم درې طلاقه واقع سول له شرعی حلالې پرته ولوېړني خاوند ته جواز نه لري ځکه په عام ډول طلاق د غصې په سبب ورکول کېږي نه د محبت له وجې.

په فتاوی شامي کې راځي:

ويقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم، وهذا الموافق عندنا لما فی المدهوش. (فتاوی الشامی:۳/ ۲۴۴، مطلب فی طلاق المدهوش، سعيد).

په الفقه علی المذاهب الاربعه کې راځي:

فاعلم أن بعض العلماء قد قسم الغضب إلى ثلاثة أقسام : الأول : أن يكون الغضب في أول أمره فلا يغير عقل الغضبان بحيث يقصد ما يقوله ويعلمه، ولا ريب في أن الغضبان بهذا المعنى يقع طلاقه وتنفذ عباراته باتفاق . (الفقه علی المذاهب الاربعه:٤/ ۲۲۷، شروط الطلاق، القاهرة).

په فتاوی محموديه کې راځي:

د احنافو په نزد د غصې په حالت کې طلاق واقع کېږي او ځېنې حنبلي متاخرين وايي چې نه واقع کېږي، خو د هغو متقدمين يې هم واقع بولي.

په ابو داؤد کې دي ((الغلاق أظنه فی الغضب)) له همدې ځای څخه ځېنې متاخرينو حنبلي علماوو استدلال کړی دئ. په حديث شريف کې دي « لا طلاق ولا عتاق فی غلاق ». د اغلاق تفسير ابو داؤد په غضب کړی دئ، نو لهذا په غضب کې طلاق نه واقع کېږي.

د دې جواب بذل المجهود داسي کړی دئ: « و رده ابن سید فقال: لو کان کذلک لـم یقـع علـی احد طلاق لأن احد لایطلق حتی یغضب». (بذل المجهود:۳/ ۲۷۶، باب طلاق علظ غیض).

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کي فرمايي:

قال المطرزي : قولهم إياك والغلق أي الضجر والغضب ورد الفارسي في مجمع الغرائب على من قال الاغلاق الغضب، وغلطه في ذلك وقال: أن طلاق الناس غالباً إنما هو في حال الغضب، وقال بن المرابط : الاغلاق حرج النفس، وليس كل من وقع له فارق عقله، ولو جاز عدم وقوع طلاق الغضبان لكان لكل أحد أن يقول فيما جناه كنت غضباناً، وأراد بذلك الرد على من ذهب إلى أن الطلاق في الغضب لا يقع، وهو مروي عن بعض متأخري الحنابلة ولم يوجد عن أحد من متقدميهم الا ما أشار إليه أبو داود. وأما قوله في المطالع « الاغلاق الإكراه» وهو من اغلقت الباب، وقيل الغضب، واليه ذهب أهل العراق، فليس بمعروف عن الحنفية .فتح الباری:۹/ ۳۸۹، باب الطلاق فی الاغلاق والاکراه. (فتاوی محمودیه:۱۲/ ۳۰۸، مبوب ومرتب). والله تعالی اعلم.

د قهر په حالت کي د سلو طلاقو حکم

سوال: يوه سړي د غصې په حالت کي ښځي ته وويل ما تا ته سل طلاق درکړي دي اوس دغه سړی وايي چي ما دا الفاظ د طلاق په نيت نه دي ويلي، ايا اوس طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په ياد صورت کي د خاوند دا الفاظ چي ((ما تا ته سل طلاقه درکړي)) د نيت محتاج نه دئ، دري طلاقه واقع سول او د (۹۷) طلاقو گناه د دې سړی پر غاړه ده او توبه او استغفار پر لازم دئ.

همدارنگه د غصې په حالت کي طلاق واقع کيږي بلکي په عام ډول طلاق د غصې په حالت کي وي نه د محبت په حالت کي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

الصريح ما لايحتاج إلى نية بائناً كان الواقع به أور جعياً. (الدر المختار:۳/ ۳۰۶، باب الصريح، سعيد).

په حديث کي راځي:

عن مجاهد عن ابن عباس رضي الله عنه: أنه سئل عن رجل طلق امرأته مائة تطليقة قال : عصبت ربك وبانت منك امرأتك، لـم تتق الله فيجعل لك مخرجا . (السنن اكبرى:۷/ ۳۳۱، بيروت).

عن سعيد بن جبير رحمة الله عليه عن ابن عباس رضي الله عنهما فى رجل طلق امرأته ألفًا، قال : أما ثلاث فتحرم عليك امرأتك وبقيتهن عليك وزر، اتخذت آيات الله هزوًا. (السنن اكبرى:۷/ ۳۳۲، بيروت).

وفى المصنف لعبد الرزاق: عن داود بن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال: طلق جدي امرأة له ألف تطليقة، فانطلق أبي إلى رسول الله ﷺ فذكر ذلك له، فقال النبي ﷺ: ... أما ثلاث فله وأما تسع مائة وسبعة وتسعون فعدوان وظلم إن شاء الله تعالى عذبه وإن شاء غفر له. (مصنف عبد الرزاق:۶/ ۳۹۳، المجلس العلمى).

په فتاوى شامي کي راځي:

ويقع طلاق من غضب خلافاً لابن القيم، وهذ الموافق عندنا لما مر فى المدهوش. (فتاوى الشامى:۳/ ۲۴۴، مطلب فى طلاق المدهوش، سعيد).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتح القدير:۴/ ۷۴، دار الفكر – والبحر الرائق:۳/ ۲۷۵، کوئټه – وفتاوى محموديه:۱۲/ ۳۳۳، مبوب ومرتب – وفتاوى دار العلوم ديوبند:۹/ ۴۹، مدلل مكمل – وامداد الاحكام:۲/ ۴۴۲). والله تعالى اعلم.

د حيض په حالت كي د درو طلاقو حكم

سوال: كه يو سړی د حيض په حالت كي وخپلي ښځي ته درې طلاقه وركړي ايا واقع كيږي او كه نه؟

الجواب: هو، په ياد صورت كي درې طلاقه واقع كيږي او له حلالې پرته دا ښځه ولوم‌ړني خاوند ته جواز نه لري.

وګورئ په دار قطني كي راځي:

عن الحسن ، قال : نا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أنه طلق امرأته تطليقةً وهي حائض ، ثم أراد أن يتبعها بتطليقتين أخراوين عند القرئين، فبلغ ذلك رسول الله ﷺ فقال: يا ابن عمر ما هكذا أمرك الله تعالى إنك قد أخطأت السنة، والسنة أن تستقبل الطهر فتطلق لكل قرء، قال فأمرني رسول الله ﷺ فراجعتها ، ثم قال: إذا هي طهرت فطلق عند ذلك أو أمسك فقلت : يا رسول الله ! أرأيت لو أني طلقتها ثلاثًا كان يحل لي أن أراجعها قال: لا كانت تبين منك وتكون معصية . (سنن دار قطنى:٤/ ٣١/ ٨٤، كتاب الطلاق- والسنن الكبرى للبيهقى:٧/ ٣٣٤، دارالمعرفة).

په هدايه كي راځي:

وإذا طلق الرجل امرأته في حالة الحيض وقع الطلاق لأن النهي عنه لمعنى في غيره فلا ينعدم مشروعيته. (الهداية:٢/ باب طلاق السنة).

په فتاوي هنديه كي راځي:

والبدعي من حيث الوقت أن يطلق المدخول بها وهي من ذوات الأقراء في حالة الحيض، وكان الطلاق واقعاً. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٤٩).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د حیض په حالت کي طلاق منع دئ خو که چا ورکړ واقع دئ او په کوم حیض کي چي یې طلاق ورکړی وي هغه په عدت کي نه شمارل کیږي. (فتاوی محمودیه: ۱۲/ ۱۸۷). والله ﷻ اعلم.

تر درې طلاقه وروسته د خاوند د انکار حکم

سوال: زما خاوند د خلوت په حالت کي ما ته درې طلاقه راکړل ما په خپله ورځخه واورېدل کله چي زه کور ته ورځخه روانه سوم خاوند منکر سو چي ما تا ته درې طلاقه نه دي درکړي اوس زه څه وکړم؟

الجواب: فقهاء کرامو لیکلي چي ښځه د قاضي په شان ده نو څنګه چي تا طلاق په خپله اورېدلی دئ نو له خاوند ځخه جلا اوسه خو که دا صورت ممکن نه وي او نه هم خلع درسره کوي نو بیا خپله معامله کوم شرعي قاضي ته وړاندې کړه، هغه به خاوند ته یو قسم ورکړي، ځکه شاهدان نسته که خاوند قسم واخیستئ، نو بیا ګناه پر هغه ده او ته ګډ ژوند ورسره کولای سي دا مضمون په فتاوی دار العلوم دیوبند کي ذکر دئ.

خو که ته دا اشکال وکړې چي که څوک د رمضان میاشت وویني خو قاضي یې شاهدي قبوله نه کړي نو دا کس به په خپله روژه نیسي نو له دې ځخه معلومه سوه چي د قاضي په مقابل کي د دې کس خبره معتبره ده مګر د طلاق په مسئله کي د قاضي خبره منل کیږي دا ولي؟

نو د دې جواب دا دئ چي د رمضان المبارک تعلق فقط یوازي له صائم سره دئ نو ځکه باید روژه ونیسي خو د نکاح تعلق له خاوند سره هم دئ او هغه په قسم سره منکر دئ نو ځکه د هغه حق تسلیم سو البته حتی الوسع (تر خپله توانه هڅه وکړه) چي جلا اوسه مګر د مجبورۍ په صورت کي ګناه د خاوند ده او ښځه خلاصه ده.

همدارنګه په روژه کي د قضاء او دیانت تعارض هم نسته مګر په زوجینو کي دا تعارض سته.

د حضرت مفتي ولي حسن صاحب حضور ته چي به کله د طلاق ثلاثاً مسئله راغله او مفتي صاحب به یې حکم کړ نو مفتي صاحب به له ښځي ځخه شاهدان طلب کړل کله چي به شاهدان نه وه

نو له خاوند څخه به يې قسم واخيستلئ وروسته به يې ښځې ته ووېل كه خاوند درواغ وېلي وي نو گناه د خاوند پر غاړه ده او ښځه فارغه ده او همدا زما رايه هم ده.

په الدرالمختار کي راځي:

وگورئ په درمختار کي راځي:

سمعت من زوجها أنه طلقها ولا تقدر على منعه من نفسها إلا بقتله .... وقال الأوزجندي: ترفع الأمر للقاضي، فإن حلف لها بينة فالإثم عليه. وفى الطحطاوى: قوله فالإثم عليه ولا إثم عليها بتمكينه من نفسها. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:١/ ١٧٨، باب الرجعة، كوئته).

په فتاوی شامي کي راځي:

والمرأة كالقاضي إذا سمعته أو أخبرها عدل لا يحل لها تمكينه والفتوى على أنه ليس لها قتله ولا تقتل نفسها بل تفدي نفسها بمال أو تهرب كما أنه ليس له قتلها إذا حرمت عليه وكلما هرب ردته بالسحر. وفي البزازية عن الأوزجندي: أنها ترفع الأمر للقاضي فإن حلف ولا بينة لها فالإثم عليه. قلت: أي إذا لم تقدر على الفداء أو الهرب ولا على منعه عنها فلاينافي ما قبله. (فتاوى الشامى:٣/ ٢٥١، باب الرجعة، سعيد).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

وفي فتاوى النسفي عن السيد الإمام أبي شجاع هكذا وفي فوائد شمس الإسلام إن لم يكن بينة ترفع إلى القاضي وتحلفه فإن حلف فالإثم عليه. (خلاصة الفتاوى:٢/ ١٢٠، المكتبة الرشيدية).

په مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر کي راځي:

وفي التتارخانية وغيرها: سمعت المرأة من زوجها أنه طلقها ولا تقدر على منعه من نفسها إلا بقتله لها قتله بالدواء ولا تقتل نفسها وقيل لا تقتله وبه يفتى وترفع الأمر إلى القاضي فإن

لم تكن لها بينة تحلفه فإن حلف فالإثم عليه . (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:۳/ ۳۲۶، باب الرجعة).

په كفايت المفتي كي راځي:

كه خاوند له طلاق وركولو څخه انكار وكړئ نو د قاضي په وړاندي د طلاق ثابتولو له پاره د شاهدۍ ضرورت دئ كه دوه شاهدان نه وي نو قسم اخيستل كيږي، كه هغه قسم واخلي چي ما طلاق نه دئ وركړی، نو قاضي به د نه طلاق فيصله وكړي، خو كه في الحقيقت كي طلاق وي نو ښځه خاوند ته نه حلاليږي د دې فيصله په وجه بلكي ټول عمر به دا خاوند په گناه كي اخته وي. (كفايت المفتى:۶/ ۸۲).

په ايضاح النوادر كي راځي:

مگر په داسي صورت كي ښځي ته هيڅ لاره پاته نه سوه نو ځكه پر ښځه كومه گناه نسته بلكي ټوله گناه پر خاوند ده د دې مسئلي همدا اړخ فقهاء كرامو داسي بيان كړی دئ. « والمرأة كالقاضي إذا سمعته أو أخبرها عدل لايحل لها تمكينه ». (ايضاح النوادر:۲/ ۱۰۴).

د زيات تفصيل له پاره وگورئ: (البحر الرائق:۳/ ۲۵۷، باب الصريح، كوئټه – والفتاوى الهندية: ۳/ ۳۵۳ – وفتاوى محموديه:۱۲/ ۳۱۶، مبوب ومرتب – فتاوى رحيميه:۸/ ۲۶۸، مبوب ومرتب).

وگورئ د دې مسئلي نظير دا دئ:

امرأة زوجها في دار الغصب فتقول لا أقعد معک في أرض الغصب فإني أثمت بذلک ليس لها ذلک والإثم على الزوج. (الفتاوى السراجية). والله ﷻ اعلم.

په طلاق ثلاثه كي د مفتي پر فيصله د قاضي د فيصلې ترجيح

سوال: ديوه سړي ښځه غائبه وه او خاوند وويل، امراتى طالق، دا يې درې ځلي وويل خاوند وايي چي زمانيت د تاكيد وو مفتي صاحب ديو طلاق فتوا راكړه اوس زه رجوع كوم خو ښځه قاضي ته تللې وه هغه د مغلظ طلاق فيصله كړې ده اوس د فتوا او قضاء تعارض دئ نو څه بايد وكړل سي؟

الجواب: په دې صورت کې د مفتي پر قول د قاضي قول ترجيح لري لهذا له حلالې پرته ښځه ولومړني خاوند ته نه روا کيږي همدارنګه ښځې ته هم جواز نه لري چې بېله ضرورته له داسي خاوند سره اوسي.

وګورئ بدائع الصنائع کې راځي:

المقلد إذا أفتاه إنسان في حادثة ، ثم رفعت إلى القاضي ، فقضى بخلاف رأي المفتي ، فإنه يأخذ بقضاء القاضي ، ويترك رأي المفتي ؛ لأن رأي المفتي يصير متروكًا بقضاء القاضي .

(بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع :۷/ ٦، کتاب آداب القاضی، فصل فی شرائط القضاء، سعید).

په مبسوط کې راځي:

وإذا كان الزوج غائبًا أو كان يعتقد أن الطلاق غير واقع فعليه أن يتبع رأى القاضي .... وكذا لو حكمنا فقيهاً فحكمه كفتواه لأن سببه تراضيهما لا ولاية ثابتة له حكماً فكان تراضيهما على تحكيمه كسؤالهما إياه والفتوي لا تعارض قضاء القاضي فإذا قضى القاضي عليه بخلاف ذلک كان عليه أن يتبع رأي القاضي. (المبسوط للامام السرخسی: ١٠/ ١٨٥، کتاب الاستحسان، باب الرجل یری الرجل یقتل اباه او غیره، دار الفکر).

په ايضاح النوادر کې راځي:

که په کومه معامله کې يو څوک د مفتي فتوا هم حاصله کړي او د قاضي قضاء هم په داسي حال کې چې مفتي د ديانت پر اساس فتوا ورکړې وي او قاضي پر ظاهر فتوا ورکړې وي، مثلاً خاوند ښځې ته ويلي وي ته طلاق يې، طلاق يې، طلاق يې اوس خاوند وايي زما يو طلاق مراد وو او نور مې د تاکيد له پاره ويلي دي نو مفتي د يو طلاق حکم ورکړ خو قاضي وظاهر ته اعتبار ورکړئ او د درو طلاقو حکم يې صادر کړ اوس عمل بايد د قاضي په فيصله وکړل سي نه د مفتي. (ايضاح النوادر: ٢/ ٩٢) والله ﷻ اعلم.

د فقهاء کرامو د دې اصطلاح ((المرأة کالقاضی)) تحقیق

سوال: فقهاء کرام وايي ((المرأة کالقاضی)) د دې مطلب څه شی دئ او حدود يې څه دي؟

الجواب: فقهاء کرام دا اصطلاح له دوه حيثيه استعمالوي او دواړه حيثيته فرق لري:

اول حيثيت:

ښځه به د قاضي په ډول ظاهر ته اعتبار ورکوي، د ځان اړونده به د حلت او حرمت فيصله کوي او دا اختيار لري، مثلا خاوند دا ووېل، تا ته طلاق طلاق طلاق وروسته خاوند وايي چې زما تکرار د تاکېد له پاره کړی دئ او د درو اراده مې نه ده کړې خو ښځې درې طلاقه په خپله د خاوند له خولې څخه واورېدل اوس که دا معامله د قاضي حضور ته ورسي نو قاضي د خاوند نيت ته اعتبار نه ورکوي بلکې ظاهر ته ګوري او د درو طلاقو فيصله کوي او ښځه بالکل ازادوي، البته په کوم ځای کې چې قاضي نه وي او دا مسئله مفتي ته وړاندې کړل سي او مفتي د خاوند د نيت په اعتبار د يو رجعي طلاق حکم ورکړي نو په داسې صورت کې پر ښځه لازمه ده چې د خاوند ظاهري الفاظو ته اعتبار ورکړي او د خلعې او يا بل کوم صورت له لارې د ځان د خلاصون ترتيب برابر کړي. فقهاء کرام وايي:

إذا قال: أنت طالق، طالق، طالق، وقال: إنما أردت به التكرار صدق ديانةً لا قضاءً فإن القاضي مأمور باتباع الظاهر، والله يتولى السرائر، والمرأة كالقاضي لا يحل لها أن تمكنه إذا سمعت منه ذلك أو علمت به؛ لأنها لا تعلم إلا الظاهر . (تبيين الحقائق:۲/ ۲۱۸ – والفتاوى الهندية:۱/ ۳۵٤).

په تنقيح الفتاوى الحامديه کې راځي:

وقال في الخانية لو قال أنت طالق، أنت طالق، أنت طالق، وقال: إنما أردت به التكرار صدق ديانةً وفي القضاء طلقت ثلاثًا ومثله في الأشباه والحدادي وزاد الزيلعي أن المرأة

كالقاضي فلا يحل لها أن تمكنه إذا سمعت منه ذلك أو علمت به لأنها لا تعلم إلا الظاهر .

(تنقيح الفتاوى الحامدية: ۱/ ۳۷، دار الاشاعة العربية).

په طحطاوي على الدر كي راځي:

المدار بكون المرأة كالقاضي أن ذلک في عدم التصديق لا مطلقاً فإن خبر الواحد يعتبر عند المرأة ولا يعتبر عند القاضي لأن شأن القاضي التفريق وشأن المرأة عدم التمكين احتياطاً. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۲/ ۱۲۲، كوئته).

په درمختار كي راځي:

المفتي يفتي بالديانة والقاضي يقضي بالظاهر . وفي الشامية قوله المفتي يفتي بالديانة مثلاً إذا قال رجل: قلت لزوجتي أنت طالق قاصداً بذلک الإخبار كاذباً فإن المفتي يفتيه بعدم الوقوع والقاضي يحكم عليه بالوقوع لأنه يحكم بالظاهر. (الدر المختار مع رد المحتار: ۵/ ۳۶۵، سعيد).

دوهم حيثيت:

خاوند تر درو طلاقو وركولو وروسته بالكل له طلاق وركولو څخه انكار وكړ مګر ښځي د خاوند طلاقونه په خپلو غوږو واورېدل معامله د قاضي حضور ته ولاړه اوس له ښځي سره شرعى شاهدان نسته، قاضي خاوند ته قسم وركړ هغه قسم واخيستئ نو قاضي د نه طلاق فيصله وكړه، البته مفتي ديانت ته اعتبار وركړ او د ښځي د بيان پر اساس يې د مغلظ طلاق حكم وركړ، نو په ياد صورت كي څنګه چي له خاوند څخه طلاق ښځي په خپله اورېدلي دئ نو په همدې اساس ښځي ته دا جواز نسته چي له خاوند سره په خپل اختيار ژوند وكړي بلكي د ځان د خلاصون كوښښ پر لازم دئ.

د دواړو حيثيتونو فرق:

دا دواړه حيثيتونه دا فرق لري چي په اول صورت كي د قاضي فيصله د خاوند مخالف ده او د ښځي موافق ده او په دوهم صورت كي د خاوند موافق ده او د ښځي مخالف ده.

ځینو فقهاء کرامو لیکلي دي چي په دوهم صورت کي که ښځه د خلاصون څه لاره پیدا نه کړي نو بیا له خاوند سره په ژوند کولو ګناه ګاره نه ده.

په فتاوی شامي کي راځي:

والمرأة كالقاضي إذا سمعته أو أخبرها عدل لا يحل لها تمكينه والفتوى على أنه ليس لها قتله ولا تقتل نفسها بل تفدي نفسها بمال أو تهرب كما أنه ليس له قتلها إذا حرمت عليه وكلما هرب ردته بالسحر . وفي البزازية عن الأوزجندي: أنها ترفع الأمر للقاضي فإن حلف ولا بينة لها فالإثم عليه . قلت: أي إذا لم تقدر على الفداء أو الهرب ولا على منعه عنها فلاينافي ما قبله . (فتاوى الشامي:۳/ ۲۵۱، باب الرجعة، سعيد).

حضرت مفتي ولي حسن صاحب د بزازیه او خلاصة الفتاوی خبره خوښه کړې ده چي ګناه پر خاوند ده او ښځه كالقاضي قبل المرافعة ګڼل کیږي.

په خلاصة الفتاوي کي راځي:

وفي فتاوى النسفي عن السيد الإمام أبي شجاع هكذا وفي فوائد شمس الإسلام إن لم يكن بينة ترفع إلى القاضي وتحلفه فإن حلف فالإثم عليه. (خلاصة الفتاوى:۲/ ۱۲۰،).والله ﷻ اعلم.

که مطلقه ثلاثه مرتده سي د حلالې سقوط راځي

سوال: یوه سړي ښځي ته درې طلاقه ورکړل او تر دې وروسته دا ښځه مرتده سوه (نعوذ بالله) څه وخت وروسته په خپله رضا بیرته مسلمانه سوه ایا اوس له حلالې څخه پرته د لومړني خاوند سره نکاح کولای سي؟

الجواب: په یاد صورت کي له حلالې څخه پرته لومړني خاوند ته جواز نه لري او د ارتداد له کبله د حلالې سقوط نه راځي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولا ملک أمة بعد تطليقتين أو حرة ثلاث وردة وسبي، نظيره من فرق بينهما بظهار أو لعان ثم ارتدت وسبيت ثم ملكها لم تحل له أبداً. وفي الشامية: قوله ولا ملك أمة أي لو طلقها ثنتين وهي أمة ثم ملكها أو ثلاثا وهي حرة فارتدت ولحقت بدار الحرب ثم سبيت وملكها لا يحل له وطؤها بملك اليمين حتى يزوجها فيدخل بها الزوج ثم يطلقها كما في الفتح ، قوله لم تحل له أبداً أي ما لم يكفر في الظهار ويكذب نفسه أو تصدقه في اللعان، فوجه الشبه بين المسألتين أن الردة واللحاق والسبي لم تبطل حكم الظهار واللعان كما لم تبطل حكم الطلاق . (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ٤١٢، باب الرجعة، سعيد).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

كه ثابته سي چي خاوند درې طلاقه وركړي، نو له حلالې پرته نكاح نه صحي كيږي او د مرتد كېدلو په سبب د مغلظ طلاق اثر نه باطليږي. والله ﷻ اعلم.

په حلاله كي د دخول شرط ساقطولو حكم

سوال: يوه سړي ښځي ته درې طلاقه وركړل اوس بيا نكاح كول ورسره غواړي خو حلاله ضروري ده نو ايا په حلاله كي د دخول د شرط د سقوط له پاره څه حيله سته؟

الجواب: په ياد صورت كي د زوج جماع ضروري ده او له جماع پرته حلاله نه راځي په حديثو او فقه كي دا ثابته ده نو عمل په كول لازم دي او د شريعت په حكم عمل د دنيا او آخرت برياليتوب دئ كه څه هم زموږ په ناقص عقل د هغه د حكمت ادراک نه كيږي.

وګورئ امام ابو بكر جصاص رازي رحمه الله فرمايي:

قوله تعالى ﴿ فإن طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجاً غيره ﴾ منتظم لمعان منها تحريمها على المطلق ثلاثا حتى تنكح زوجا غيره مفيد في شرط ارتفاع التحريم الواقع

بالطلاق الثلاث العقد والوطء جميعاً لأن النكاح هو الوطء في الحقيقة وذكر الزوج يفيد العقد وهذا من الإيجاز والاقتصار على الكناية المفهمة المغنية عن التصريح وقد وردت عن النبي ﷺ أخبار مستفيضة في أنها لا تحل للأول حتى يطأها الثاني. (احكام القرآن:۱/ ۳۹۰، ذكر الحجاج لايقاع الطلاق الثلاث معاً، سهيل).

په بخاري شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها، أن رفاعة القرظي تزوج امرأةً ثم طلقها فتزوجت آخر فأتت النبي ﷺ فذكرت له أنه لا يأتيها وإنه ليس معه إلا مثل هدبة، فقال: لا، حتى تذوقي عسيلته ويذوق عسيلتك. (رواه البخارى:۲/ ۸۰۱).

په درمختار کي راځي:

ولا ينكح مطلقة من نكاح صحيح نافذ.... وفي الشامي: ولا ينكح بها أى الثلاث لو حرة وثنتين لو أمة حتى يطأها غيره وتمضي عدته. (الدر مع الشامى:۳/ ۴۱۳، باب الرجعة، سعيد).

په فتح القدير کي راځي:

وإن كان الطلاق ثلاثًا أو ثنتين في الأمة لم تحل له حتى تنكح زوجًا غيره نكاحًا صحيحًا ويدخل بها ثم يطلقها أو يموت عنها. (الهداية مع فتح القدير:۴/ ۱۷۸، دار الفكر).

په مجموعة قوانين اسلامي کي راځي:

بينونة غليظه د بيا نكاح صورت دا دئ چي تر عدت وروسته له بل سړي سره نكاح وكړي بيا هغه دوهم كس جماع ورسره وكړي او وروسته د مرگ او يا طلاق په واسطه له هغه خلاصه سي او تر عدت وروسته بيا له د لومړني خاوند سره نكاح كولاى سي. (قوانين اسلامى: ماده: ۲۰/ ۱۴۲، فتاوى محموديه:۱۴/ ۴۷۹). والله تعالى اعلم.



عن عبد الله بن يزيد بن ركانة عن أبيه عن جده قال: أتيت النبي ﷺ فقلت: يارسول الله! إني طلقت امرأتي البتة، فقال: ما أردت بها؟ فقلت: واحدة، قال: والله؟ قلت: والله، قال: فهو ما أردت. (رواه الترمذی).

په کنايي الفاظو د طلاق حکم

ستا سره زما څه تعلق نسته الفاظ څه حکم لري؟

سوال: يوه سړي خپلې ښځې ته وويل ستا سره زما څه تعلق نسته (زما او ستا معامله ختمه ده)، ايا په دې الفاظو طلاق واقع سو او که نه؟ او د نيت ضرورت سته او که نه؟

الجواب: په ياد صورت کي که خاوند په دې مذکوره الفاظو د طلاق نيت کړی وي نو يو بائن طلاق واقع دئ او که يې د طلاق نيت نه وي کړی نو طلاق واقع نه دئ او د نيت حال يې له خاوند څخه معلوم کړئ.

وګورئ په عالمګيري کي راځي:

وفي الفتاوى: لم يبق بيني وبينک عمل ونوى يقع، كذا فى العتابية. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٧٦، الفصل الخامس فى الكنايات – وكذا فى البحر الرائق:٣/ ٣٠٤، كوئته).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

((زما ستا سره څه تعلق نه سته)) په دې الفاظو کي که د خاوند د طلاق نيت وو نو يو بائن طلاق واقع سو او د نيت حال يې د خاوند څخه معلوم کړئ. (فتاوى دار العلوم ديوبند:٩/ ٣٩٤).

په دې فتاوی کي بل ځای ليکلي دي:

په درمختار کي تصريح ده چي کوم الفاظ چي د تعلق پر قطع (پرېکولو) دلالت کوي که څه هم د غصې په حالت کي وويل سي له نيت څخه پرته طلاق نه واقع کېږي لکه دا عبارات چي دي:

وفى الغضب توفق الأولان ان نوى وقع وإلا لا. (فتاوى دار العلوم ديوبند:٩/ ٤٣٧).

په همدغه کتاب کي بل ځای ليکلي دي:

که خاوند د کنايې مختلفي جملې ووايي نو يوازي يو طلاق واقع کيږي. «البائن لا يلحق البائن، المراد بالبائن الذي لا يلحق هو ما كان بلفظ الكناية، لأنه هو الذي ليس ظاهراً في إنشاء الطلاق، كذا في الفتح. (فتاوى دار العلوم:۹/ ۴۷۱، مكمل ومدلل).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

په کنايي لفظ بائن طلاق واقع کيږي که بيا وويل سي بل طلاق نه واقع کيږي که څه هم يو لفظ څو ځلي ووايي. (مجموعه قوانين اسلامى: ماده:۳٤/ ۱۹٤). والله ﷻ اعلم.

((ته پر ما حرامه يې)) الفاظ درې ځلي ويل

سوال: که يو سړی خپلي ښځي ته ووايي ته پر ما حرامه يې، حرامه يې، حرامه يې، څو طلاقه واقع کيږي ايا دا لفظ صريح دئ او که کنايي؟

الجواب: دا لفظ اصلاً کنايه دئ، خو د عرف په خاطر بېله نيته بائن طلاق واقع کيږي، متاخرينو پر همدې فتوا ورکړې ده مګر څنګه چي کنايه په کنايه پسي نه ملحق کيږي نو ځکه يو طلاق واقع کيږي.

په درمختار کي راځي:

قال لامرأته: أنت علي حرام، ونحو ذلك كأنت معي في الحرام إيلاء إن نوى التحريم ... وتطليقة بائنة إن نوى الطلاق وثلاث إن نواها، ويفتى بأنه طلاق بائن وإن لم ينوه لغلبة العرف.

وفي الشامي: قوله «وإن لم ينوه» هذا في القضاء، وأما في الديانة فلا يقع ما لم ينو وعدم نية الطلاق صادق بعدم نية شيء أصلا .... قلت: الظاهر أنه إذا لم ينو شيئاً أصلا يقع ديانة أيضا . قال في البحر: وذكر الإمام ظهير الدين: لا نقول : لا تشترط النية لكن يجعل عرفا. وفي

الفتح فصار كما إذا تلفظ بطلاقها لا يصدق في القضاء بل فيما بينه وبين الله تعالى، فهذا ظاهر فيما قلنا فافهم ..... وأما كونه بائناً فلأنه مقتضى لفظ الحرام، لأن الرجعي لا يحرم الزوجة ما دامت في العدة، وإنما يصح وصفها بالحرام بالبائن . (الدر المختار مع رد المختار:۳/ ٤۳٥، باب الإيلاء، سعيد).

وفى الشامي أيضاً: والحاصل أن المتأخرين خالفوا المتقدمين في وقوع البائن بالحرام بلا نية حتى لا يصدق إذا قال: لم أنو لأجل العرف الحادث في زمان المتأخرين .... ثم ظهر لي بعد مدة ما وهو أن لفظ حرام معناه عدم حل لوطء ودواعيه، وذلك يكون بالإيلاء مع بقاء العقد وهو غير متعارف، ويكون بالطلاق الرافع للعقد، وهو قسمان: بائن ورجعي لكن الرجعي لا يحرم الوطئ فتعين البائن . وكونه التحق بالصريح للعرف لا ينافي وقوع البائن به، فإن الصريح قد يقع به البائن كتطليقة شديدة ونحوه كما أن بعض الكنايات يقع به الرجعي مثل اعتدي واستبرئي رحمك وأنت واحدة . والحاصل أنه لما تعورف به الطلاق صار منعها تحريم الزوجة، وتحريمها لا يكون إلا بالبائن . (فتاوى الشامى:۳/ ۲۹۹، باب الكنايات، سعيد).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

درې ځلي ((پر ما حرامه يې)) الفاظ ويل، كنايه الفاظ دي، يو بائن طلاق واقع كيږي او تر يوه بائن وروسته بل بائن نه واقع كيږي. كما فى الدرالمختار غير.

نو ځكه په پوښتل سوي صورت كي يو طلاق واقع كيږي كه څه هم دا الفاظ تكراراً روايي.(فتاوى دار العلوم ديوبند:۹/ ۳۹۱) دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى محموديه:۱۲/ ٥۲۳ - امداد الاحكام:۲/ ٤٥٥). والله تعالى اعلم.

((ته مي پرا ښتې يې)) الفاظ درې ځله ويل

سوال: كه يو سړى خپلې ښځې ته ووايي، ته مي پرا ښتې يې، ته مي پرا ښتې يې، پرا ښتې يې، پرا ښتې يې دا څه حكم لري؟

الجواب: دا لفظ كنايه دئ او د نيت محتاج دئ، نو كه يې د طلاق نيت كړى وو يو بائن طلاق واقع كيږي او كه يې د طلاق نيت نه وو بيا طلاق نه واقع كيږي، البته ځينو علماوو دا صريح بللى دئ نو ځكه بلانيت واقع كيږي.

حضرت مفتي محمود حسن صاحب دا الفاظ صريحه بللي او د يوه رجعي طلاق حكم يې وركړى. (فتاوى محموديه:١٢/ ٣٤٠).

حضرت مفتي شفيع صاحب، مولانا تهانوي صاحب، مولانا ظفر احمد صاحب او مولانا عبد الحى صاحب لكنوي دغو حضراتو هم رجعي طلاق بللى دئ مگر مفتي كفايت الله صاحب دا د كنايه الفاظو له جملې څخه بللى دئ او د بائن طلاق حكم يې وركړى دئ.

وگورئ په كفايت المفتي كي راځي:

جواب: كه سړى دا الفاظ ((ما ته پرا ښتى يې)) درې ځله ويلى وي نو د هغه پر ښځه يو بائن طلاق واقع كيږي، البته د رضايت په صورت كي بيا له حلالې پرته نكاح كولاى سي. (كفايت المفتي:٦/ ٤٤).

مفتي عزيز الرحمن صاحب ليكي:

((ما ته پرا ښتې يې)) په الفاظو كي كه خاوند د طلاق نيت كړى وو نو يو طلاق واقع كيږي او دوهم او درېيم نه واقع كيږي.

لأن البائن لايلحق البائن كما فى الدر المختار:٩/ ٣٨٨، دار العلوم ديوبند.

په فتاوى حقانيه كي راځي:

((ما ته پرا ښتې يې)) الفاظ كنايه دي او د نيت په صورت كي يې يو باين طلاق واقع كيږي مگر علامه شامي رحمه الله د عرف پر اساس په رجعي طلاق كي شمارلى دئ، نو د هغه د فتوا پر اساس د نيت پرته يو رجعي طلاق واقع كيږي. (فتاوى حقانيه:٤/ ٤٧٠). والله تعالى اعلم.

((طلاق در کوم دا اخیره خبره ده)) ویل څه حکم لري؟

سوال: یوه سړي وخپلي ښځي ته وویل، طلاق در کوم دا اخیره خبره ده ایا په دې الفاظو طلاق واقع کیږي او که نه، که واقع کیږي نو کوم طلاق واقع کیږي رجعي او که بائن؟

الجواب: په دې صورت کي د صریح لفظ د ذکر په سبب یو رجعي طلاق واقع کېدئ، خو څنګه چي دلته د تاکېد کلمات هم ذکر دي، نو ځکه بائن واقع کیږي، البته تر رضایت وروسته بیرته نکاح کولای سي او حلاله نه غواړي همدارنګه ښځه تر عدت وروسته بل ځای هم نکاح کولای سي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

إذا وصف الطلاق بضرب من الزيادة والشدة كان بائناً. (الهداية:٢/ ٣٦٩، باب ايقاع الطلاق).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الصريح البائن.... وهو أن يكون بحروف الإبانة أو بحروف الطلاق لكن قبل الدخول حقيقة أو بعده، لكن مقروناً بعدد الثلاث نصاً أو إشارةً أو موصوفاً بصفة تدل عليها. (بدائع الصنائع:٣/ ١٠٩، بيان صفة الواقع، سعيد – وكذا فى الشامى:٣/ ٢٥٠، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

أنت طالق بائن أو ألبتة أو أفحش الطلاق أو طلاق الشيطان أو البدعة أو كالجبل أو أشد الطلاق أو كألف أو ملأ البيت أو تطليقةً شديدةً أو طويلةً أو عريضةً فهي واحدة بائنة إن لم ينو ثلاثًا . وإنما كان بائنا فط هذه لأنه وصف الطلاق بما يحتمله وهو البينونة. (البحر الرائق مع الكنز:٣/ ٢٨٧، كوئته).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

سوال: زید وخپلي ښځي ته وویل، ته زما له طرفه طلاقه یې څه ته ولاړه سه، په دې صورت کي څه حکم دئ؟

جـواب: پـه يـاد سـوي صـورت كـي د زيـد پـر ښـځه بـائن طـلاق واقـع سـو. (الفتاوى دار العلوم:۹/ ۲۷۱). والله ﷻ اعلم.

((زما ښځه نه يې له كوره ووځه)) الفاظ ويل څه حكم لري؟

سوال: كه چا خپلې ښځي ته وويل، زما ښځه نه يې چي دلته يې د يوه طلاق نيت وو بيا يې وويل له كوره ووځه او نيت يې د يوه طلاق وكړ اوس څو طلاقه واقع سول؟

الجواب: په ياد سوي صورت كي يو بائن طلاق واقع سو ځكه تر يو بائن وروسته بل بائن نه ملحق كيږي.

وګورئ په هنديه كي راځي:

ولو قال حرمت نفسي عليک فاستتري ونوى بهما طلاقاً فهي واحدة بائنة، لأنه لايقع على بائن بائن.... والطلاق البائن يلحق الطلاق الصريح .... ولا يلحق البائن البائن بأن قال لها أنت بائن ثم قال لها : أنت بائن، لا يقع إلا طلقة واحدة بائنة . (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷۷، الفصل الخامس فى الكنايات).

په درمختار مع الشامي كي راځي:

البائن لايلحق البائن . (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۳۰۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

له بائن وروسته د انشاء په نيت د بائن طلاق حكم

سوال: د فقهاوو قاعده ده ((البائن لايلحق البائن)) يعنى تر بائن طلاق وروسته بل بائن نه واقع كيږي ځكه په دوهم بائن كي د اول بائن څخه د اخبار احتمال سته، خو كه څوک دوهم طلاق د انشاء په نيت وركړي څه حكم لري؟

الجواب: په ياد سوي صورت كي علامه ابن نجيم المصري رحمه الله او علامه رشيد احمد لدهيانوي رحمه الله وايي چي د انشاء په نيت بل بائن هم واقع كيږي.

وګورئ په البحرالرائق كي راځي:

وينبغي أنه إذا أبانها ثم قال لها : « أنت بائن » ناويًا طلقةً ثانيةً، أن تقع الثانية : بنيته، لأنه بنيته لا يصلح خبرًا، فهو كما قال : « أبنتك بأخرى » إلا أن يقال إن الوقوع إنما هو بلفظ صالح له، وهو أخرى، بخلاف مجرد النية . (البحر الرائق:٣/ ٣٠٨، كوئته).

په احسن الفتاوی کي راځي:

أقول وبالله التوفيق وبيده أزمة التحقيق أن محصول المبسوط فی الشامية وغيره من الكتب المعتبرة أن الطلاق.... فلا لحاق في صورتين: أی إن كان الطلاق السابق بائناً، صريحاً كان أو بالكناية، فلا يلحقه البائن بالكناية فقط إلا أن ينوي الإنشاء أو لم يمكن الحمل على الإخبار. (احسن الفتاوی:٥/ ١٣٥).

مګر علامه شامي رحمه الله، علامه طحطاوي رحمه الله، او حکيم الامت مولانا تهانوی رحمه الله، وايي، تر بائن وروسته بل بائن نه واقع کيږي او د نيت اعتبار نسته.

وګورئ علامه شامي رحمه الله د بحر الرائق د مصنف عبارت نقل کوي او وايي:

أقول : ويدفع البحث من أصله تعبيرهم بالإمكان، وبأنه لا حاجة إلى جعله إنشاء متى أمكن جعله خبراً عن الأول، لأنه صادق بقوله « أنت بائن علی » أن البائن لا يقع إلا بالنية، فقولهم «البائن لا يلحق البائن » لا شك أن المراد به البائن المنوي ، إذ غير المنوي لا يقع به شيء أصلا، ولم يشترطوا أن ينوي به الطلاق الأول فعلم أن قولهم : إذا أمكن .... الخ احتراز عما إذا لم يمكن جعله خبرا كما في « أبنتك بأخرى » لا عما إذا نوى به طلاقاً آخر، فتدبر . (فتاوی الشامی:٣/ ٣٠٩، سعيد – وكذا فی منحة الخالق على البحر الرائق:٣/ ٣٠٨، كوئته).

علامه طحطاوى رحمه الله فرمايي:

(إذا مكن جعله إخباراً عن الأول.... فلا يقع، لأنه إخبار) الأولى أن يقول: « لصلاحيته للإخبار » فإنه لو أنشأ ثانياً لايعتبر الشارع، بل جعله بمنزلة الإخبار.... وماسيأتي عن المحيط صريح في إلغاء النية .(حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۱۳۷).

علامه حكيم الامت رحمه الله وايي:

په كوم صورت كې چې مقدم طلاق بائن وي كه هغه صريح وي، كه كنايه او طلاق مؤخر كنايه باين وي، نو په دې صورت كې مؤخر بائن نه واقع كيږي كه څه د وقوع نيست وي. (امداد الفتاوى:۲/ ۴۲۳).

۞ تر بائن طلاق وروسته د بل بائن د نه واقع كېدو يو علت دا هم كېداى سي چې دوهم طلاق ته محل پاته نه وي.

په البحر الرائق كې راځي:

وفرق في الذخيرة « بين أنت بائن » للمبانة، وبين وقوع « أنت بائن » المعلق بعد الإبانة: أنه لما صح التعليق أو لا لكونها محلا له، جعلنا المعلق « الطلاق » البائن وصار بائنًا صفةً للطلاق ، والمعلق بالشرط كالمنجز، عند وجوده، فكأنه قال في العدة : أنت طالق بائن، ولو قاله وقع، بخلاف أنت بائن، منجزًا في عدة المبانة ، لأنه صفة للمرأة، وهي لم تكن محلا، لأن محله من قام به الاتصال ، وقد انقطعت الوصلة بالإبانة . (البحر الرائق: ۳/ ۳۰۸، كوئته).

مګر دلته يو اشكال كېداى سي هغه دا چې په مذكور صورتُ كې صريح ته هم بايد ځاى پاته نه سي حال دا چې صريح تر بائن وروسته واقع كيږي؟

۱_ جواب: صريح الفاظ قوي دي او بل شى يې مانع نه سي واقع كېداى، خو كنايات ضعيف دي ځكه هغه نور احتمالات لري.

۲_ جواب: تر بائن وروسته په بل بائن كې اخبار غالب وي خو په صريح كې انشاء غالبه وي.

په فتاوى شامي كې راځي:

الصريح ـ الذي هو الأصل فى الكلام لما أنه موضوع للإفهام. (فتاوى الشامى:۳/ ۲۹٦، سعيد). والله ﷻ اعلم.

((هر څه ختم سول)) الفاظ ويل څه حكم لري؟

سوال: يوه سړي خپلې ښځې ته وويل، (It s all over) (يعنې د هر څه تعلق زموږ تر منځ ختم سو) په دې الفاظو طلاق واقع سو او كه نه؟

الجواب: د دې الفاظو په ويلو سره كه د خاوند نيت د طلاق وو نو بيا يو بائن طلاق واقع دئ او كه يې د طلاق نيت نه وي نو بيا هيڅ مشكل نسته.

په الدرالمختار كې راځي:

فالكنايات لا تطلق بـها قضاءً إلا بنية أو بدلالة الـحال وهي مذاكرة الطلاق أو الغضب. وفى الشامي: قوله « قضاء » قيد به لأنه لا يقع ديانة بدون النية ولو وجدت دلالة الحال فوقوعه بواحدة من النية أو دلالة الحال إنما هو فى القضاء فقط. (الدر المختار مع رد المختار:۳/ ۲۹٦، سعيد).

په خلاصة الفتاوى كې راځي:

ولو قال لم يبق بيني وبينك عمل إن نوى يقع. (خلاصة الفتاوى:۲/ ۹۹، الفصل الثاني فى الكنايات – وكذا فى الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷٦، الفصل الخامس فى الكنايات).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كې راځي:

د دې الفاظو په واسطه د نيت په صورت كې طلاق واقع كيږي او كنه نه واقع كيږي. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۹/ ٤٥٦). والله ﷻ اعلم.

زموږ اسلامي واده ختم سو الفاظ ويل

سوال: كه يو سړى وخپلي ښځي ته په متعدداو مكرر ډول ووايي چي زموږ اسلامي واده ختم سو نا څه حكم لري؟

الجواب: دا الفاظ د كناياتو له جملې څخه دي، كه يې د طلاق نيت وي نو يو طلاق واقع كيږي او د البحر د مؤلف د قول مطابق يو رجعي واقع كيږي.

وګورئ په البحر الرائق كي راځي:

وأشاره بقوله تطلق إلى أن الواقع بهذه الكناية رجعي. (البحر الرائق:۳/ ۳۰۶، كوئته).

نو كه يې د تكرار په صورت كي د تاسيس نيت وي، د تاكيد نه وي نو د درې ځلو په صورت كي درې طلاقه واقع كيږي.

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

لو قال لها: لانكاح بيني وبينك أو قال: لم يبق بيني وبينك نكاح أو قال: فسخت نكاحك يقع الطلاق إذا نوى. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:۱/ ٤٦٨، فصل فى الكنايات – وكذا فى الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷۵، الفصل الخامس فى الكنايات).

د ديوبند د علماوو هم همدا مسلک دئ. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۹/ ۳۸۲/ ٤٧١، احسن الفتاوى:۵/ ١٤٢).

اشكال:

دلته دا اشكال رامنځ ته كيږي چي د نكاح د بېلتون او يا د زوجيت د ختمولو الفاظ تقريباً صريح دي او انشاء د صريح طلاق له پاره وي، نو بيا تر نيت پوري توقف وركول درست نه سول، نو دا فى الحال بايد د نكاح او يا طلاق نفي سي؟

د دې جواب دا دئ، چي په عرف كي دا الفاظ د نكاح د بقاء له پاره استعماليږي لكه څنګه چي د زجر په وخت كي ويل كيږي دا زما ښځه نه ده بلكي د فلانى ښځه ده، ځكه له هغه سره خراب تعلقات ساتي، له همدې كبله فقهاء دا د كناياتو له جملې څخه بولي لكه چي وايي:

((لانكاح بيننا او لست لى بزوجة)) دا احتمال لري چې ((لانكاح بيننا لأن لک صلة وعلاقة بالغير)) او دا احتمال هم لري چې (لانكاح بيننا لأني طلقتک) نو رجعي طلاق واقع سو.(۱) والله ﷻ اعلم.

((بل ځای د نکاح کولو در ته اجازه ده)) الفاظ ویل څه حکم لري؟

سوال: یوه سړي وخپلې ښځې ته وویل، که بل ځای واده کوې نو زما له طرف در ته اجازه ده، دا الفاظ ویل څه حکم لري، طلاق واقع سو او که نه البته مذاکره د طلاق نه وه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کې که د خاوند د طلاق نیت وو، نو یو بائن طلاق واقع کیږي او که یې د طلاق نیت نه وو، نو بیا نه واقع کیږي.

په فتاوی عالمګیري کې راځي:

ولو قال: تزوجي ونوى الطلاق أو الثلاث صح، وإن لم ينو شيئاً لم يقع، كذا في العتابية.

(الفتاوى الهندية: ۱/ ۳۷۶، باب الكنايات).

بل ځای دي:

وبابتغى الأزواج تقع واحدة بائنة إن نواها، الخ. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۳۷۵، باب الكنايات).

بل ځای لیکلي دي:

اذهبي فتزوجي تقع واحدة إذا نوى. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۳۷۶، باب الكنايات).

دا مسئله په نوي فتاوی دار العلوم کې په دغو ځای کې ذکر ده: ۹/ ۳۸۵، ۹/ ۳۹۸، ۹/ ۴۰۳، ۹/ ۴۳۴، ۹/ ۴۶۰، ۹/ ۴۶۹، ۹/ ۴۸۱، ۹/ ۴۸۳.

په درمختار کې په ((اذهبی تروجي)) او فتاوی انقرویه کې یې د طلاق د وقوع حکم کړی دئ. مګر علامه شامي رحمه الله دا خبره رد کړې ده.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

---

(۱) **نوټ:** دا عرف د هندوستان دئ په افغانستان کې ممکن طتبيق نه سي. ژباړن.

ويخالفه ما في شرح الجامع الصغير لقاضيخان: ولو قال: اذهبي فتزوجي وقال: لم أنوِ الطلاق لا يقع شيء لأن معناه أن أمكنك .... ويؤيده ما في الذخيرة : اذهبي وتزوجي لا يقع إلا بالنية، وإن نوى فهي واحدة بائنة، وإن نوى الثلاث فثلاث . (فتاوى الشامي:۳/ ۳۱٤، باب الكنايات، سعيد).

که څه هم ځيني اکابيرو په مذکور صورت کي نيت ته اعتبار نه دئ ورکړي خو هغه د مذاکرې صورت دئ، ولي دلته د طلاق مذاکره نسته.

لنډه دا چي د طلاق د نيت په صورت کي طلاق واقع دئ او د عدم نيت په صورت کي واقع نه دئ که د ښځي اطمنان نه وي نو خاوند ته دي قسم ورکړل سي کذا فی کتب الفقه. والله ﷻ اعلم.

((ته زموږ له کوره ولاړه سه)) الفاظ ويل

سوال: زيد وخپلي ښځي ته وويل، ته زموږ له کوره ولاړه سه، تقريباً يوولس کاله کيږي چي دا ښځه د زيد په خبره د پلار کور ته تللې او هلته اوسيږي او زيد يې هم هيڅ طلب کړې نه دئ ايا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي که د زيد د طلاق نيت وو، نو يو بائن طلاق واقع دئ او که نه وي واقع نه دئ.

وګورئ په عالمګيري کي راځي:

ولو قال لها : اذهبي أي طريق شئت، لا يقع بدون النية وإن كان في حال مذاكرة الطلاق . وفي المنتقى : لو قال لها : اذهبي ألف مرة ونوى الطلاق يقع الثلاث . وفي مجموع النوازل : لو قال لها : اذهبي إلى جهنم ونوى الطلاق يقع، كذا في الخلاصة . (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷٦، باب الكنايات).

په البحر الرائق کي راځي:

(قوله : اخرجي اذهبي قومي) لحاجة أو لأني طلقتك، قيد باقتصاره على اذهبي، لأنه لو قال : اذهبي فبيعي ثوبك لا يقع ، وإن نوى . ولو قال : اذهبي إلى جهنم يقع إن نوى، كذا في الخلاصة . ولو قال : اذهبي فتزوجي وقال : لم أنو الطلاق لم يقع شيء، لأن معناه تزوجي إن أمكنك وحل لك، كذا في شرح الجامع الصغير لقاضي خان . (البحر الرائق:۳/ ۳۰۲، باب الكنايات في الطلاق، كوئته).

((زموږ له كوره ووځه)) الفاظو كي كه د خاوند د طلاق نيت وو نو يو بائن طلاق واقع دئ. (د تجديد نكاح ضرورت:۹/ ۳۹۳). والله ﷻ اعلم.

((ووځه د خپل پلار كور ته ولاړه سه)) الفاظ ويل

سوال: يوه سړي وخپلي ښځي ته د جنګ په حالت كي وويل، ووځه د خپل پلار كور ته ولاړه سه، د دغه كس د طلاق په نيت كي شک دئ، نو آيا اوس طلاق واقع سو او كه نه؟

الجواب: په مذكور صورت كي دا الفاظ كنايه الفاظ دي چي د نيت محتاج دي او چي په نيت كي شک دئ، نو طلاق واقع نه سو، ځكه د فقهي قاعده ده،(اليقين لايزول بالشک) **نو د شک په سبب طلاق نه واقع كيږي.**

وګورئ په درمختار كي راځي:

علم أن حلف ولم يدر بطلاق أو غيره لغا، كما لوشک أطلق أم لا. وفي حاشية الطحطاوی على الدر: قوله كما لوشک: لأن النكاح ثابت يقيناً والقاطع له مشكوک والشک لايزيل اليقين وقدم الشرح آخر نواقض الوضوء أنه لو شک في نجاسة ماء او ثوب أو طلاق أو عتق لم يعتبر. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار:۲/ ۱۲۷، باب الصريح، كوئته).

په امداد الاحکام کې راځي:

قال فی الدر: علم أنه حلف ولم يدر بطلاق أو غيره لغا، كما لو شک أطلق أم لا. (۲/ ۷٤٥). څنګه چې په مذکور صورت کې لفظ صریح نه دئ بلکې د نیت محتاج دئ او په نیت کې شک دئ نو ځکه طلاق واقع نه سو. (امداد الاحکام: ۲/ ٤٧٢). والله ﷻ اعلم.

((نه زه ستا خاوند يم او نه ته زما ښځه يې)) الفاظ ويل

سوال: که څوک وخپلې ښځې ته ووايي ((زه نه زه ستا خاوند يم او نه ته زما ښځه يې)) د دغه کس د طلاق نيت نه وو شرعاً حکم څنګه دئ؟

الجواب: په ياد سوي صورت کې که د دغه سړی د طلاق نيت وو، نو يو رجعي طلاق واقع کيږي او که يې نيت نه وو، نو بيا طلاق نه واقع کيږي.

وګورئ په عالمګيري کې راځي:

ولو قال لامرأته لست لي بامرأة أو قال لها ما أنا بزوجك أو سئل فقيل له هل لك امرأة؟ فقال: لا، فإن قال أردت به الكذب يصدق في الرضا والغضب جميعًا ولا يقع الطلاق، وإن قال نويت الطلاق يقع في قول أبي حنيفة رحمه الله. (الفتاوى الهندية: ١/ ٣٧٥).

په درمختار کې راځي:

لست لک بزوج أو لست لي بامرأة أو قالت له: لست لي بزوج، فقال: صدقت طلاق إن نواه خلافاً لهما. وفي الشامي: قوله طلاق إن نواه لأن الجملة تصلح لإنشاء الطلاق كما تصلح لإنكاره فيتعين الأول بالنية وقيد بالنية لأنه لا يقع بدونها اتفاقاً لكونه من الكنايات، وأشار إلى أنه لا يقوم مقامها دلالة الحال، لأن ذلك فيما يصلح جوابا فقط وهو ألفاظ ليس هذا منها، وأشار بقوله طلاق إلى أن الواقع بهذه الكناية رجعي، كذا في البحر من باب الكنايات. (الدر المختار مع الشامی: ۳/ ۲۸۳، سعيد – وكذا فی البحر الرائق: ۳/ ۳۰٦، كوئته).

په هدایه کې راځي:

وفي حالة الغضب يصدق في جميع ذلك (أي في جميع أقسام الكنايات) لاحتمال الرد والسب إلا فيما يصلح للطلاق ولا يصلح للرد . (الهداية:۲/ ۳۷٤).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی دار العلوم دیوبند:۹/ ۳۹۲). والله ﷻ اعلم.

د طلاق د مذاکرې مطلب

سوال: فقهاء وايي چې که د طلاق مذاکره وي نو په کنايه الفاظو بېله نيته هم طلاق واقع کيږي، د طلاق مذاکرې څه مطلب؟

الجواب: د طلاق مذاکره مطلب دا چې ښځه او د ښځې لخوا بل څوک د طلاق غوښتنه وکړي او يا يې تر مخه طلاق ورکړی وي او وروسته په کنايه سره کوم لفظ ووايي، نو دا بېله نيته موثر واقع کيږي.

وګورئ په شامي کې راځي:

(قوله وهي حالة مذاكرة الطلاق) أشار به إلى ما في النهر من أن دلالة الحال تعم دلالة المقال. قال: وعلى هذا فتفسر المذاكرة بسؤال الطلاق أو تقديم الإيقاع كما في اعتدي ثلاثاً، وقال قبله المذاكرة أن تسأله هي أو أجنبي الطلاق . (فتاوی الشامی:۳/ ۲۹۷، باب الكنايات – وكذا فی تبيين الحقائق شرح كنز الذقائق:۲/ ۲۱۷، باب الكنايات، ملتان).

په الجوهرة النيرة کې راځي:

قوله فإن لم يكن له نية لم يقع بهذه الألفاظ طلاق إلا أن يكونا في مذاكرة الطلاق ، وهو أن تطالبه بالطلاق أو تطالبه بطلاق غيرها. (الجوهرة النيرة:۲/ ۱۰۵، كتاب الطلاق).

وفي الفتاوى الهندية: وحالة مذاكرة الطلاق بأن تسأل هي طلاقها أو غيرها يسال طلاقها.

(الفتاوی الهندية:۱/ ۳۷۵، الفصل الخامس فی الكنايات). والله ﷻ اعلم.

شیان دي واخله د خپل مور او پلار کور ته ولاړه سه

سوال: خاوند وخپلې ښځي ته ووېل، څه زه تا ته ضرورت نه لرم او شیان دي واخله د خپل مور او پلار کور ته ولاړه سه، خاوند وایي چي زما د طلاق نیت نه وو شرعاً طلاق واقع دئ او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي دا کنایه الفاظ دي او له نیت څخه پرته طلاق نه واقع کیږي البته که د طلاق مذاکره وي نو بیا قضاءً واقع دئ.

وګورئ په هدایه کي راځي:

الكنايات لا يقع بها الطلاق إلا بالنية أو بدلالة الحال، لأنها غير موضوعة للطلاق بل تحتمله وغيره فلا بد من التعيين أو دلالته وهي على ضربين .... وبقية الكنايات إذا نوى بها الطلاق كانت واحدة بائنة، وإن نوى ثلاثا كانت بثلاثا .... إلا أن يكون في حالة مذاكرة الطلاق فيقع بها الطلاق في القضاء، ولا يقع فيما بينه وبين الله تعالى إلا أن ينويه. (الهداية: ۲/ ۳۷٤، باب إيقاع الطلاق – وكذا في بدائع الصنائع: ۳/ ۱۰٦ – والشامي: ۳/ ۳۰۱، سعيد). والله ﷻ اعلم.

ما ته تقاعد کړې یې

سوال: خاوند وخپلې ښځي ته ووېل ((ما ته تقاعد کړې یې)) ښځه د پلار کور ته ولاړه اوس خاوند وایي زه په غصه وم مګر زما د طلاق نیت نه وو، شرعاً دې حکم څنګه دئ؟

الجواب: تقاعد معنا ده: فارقتک او د فارقتک حکم دا دئ چي د غصې او د طلاق مذاکرې په وخت کي له نیت څخه پرته طلاق واقع کیږي نو ځکه په یاد سوي صورت کي یو بائن طلاق واقع دئ باید تجدید د نکاح وکړي او کنه تر عدت وروسته ښځه پوره ازاده ده او بله نکاح کولای سي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

والكنايات ثلاث، ما يحتمل الرد، أو ما يصلح للسب، أو لا ولا، فنحو اخرجي واذهبي وقومي .... يحتمل ردا، ونحو خلية، برية، حرام، بائن .... يصلح سبا. ونحو اعتدي .... أنت حرة .... فارقتك لا يحتمل السب والرد، ففي حالة الرضا أي غير الغضب والمذاكرة

تتوقف الأقسام الثلاثة تأثيرًا .... وفي الغضب توقف الأولان، إن نوى وقع وإلا لا. وفى الشامي: والحاصل أن الأول يتوقف على النية في حالة الرضا والغضب والمذاكرة، والثاني في حالة الرضا والغضب فقط ويقع في حالة المذاكرة بلا نية، والثالث يتوقف عليها في حالة الرضا فقط، ويقع في حالة الغضب والمذاكرة بلا نية .

ورسمتها في شباك لزيادة الإيضاح بهذه الصورة:

الأحوال	رد وجواب، اخرجي اذهبي	سب وجواب، خيلة برية	جواب فقط، اعتدي، استبرئي (وفى معناه فارقتک
رضا	تلزم النية	تلزم النية	تلزم النية
غضب	تلزم النية	تلزم النية	يقع بلا نية
مذاكرة	تلزم النية	يقع بلا نية	يقع بلا نية

(الدر المختار مع الشامى:۳/ ۲۹۸، ۳۰۲، باب الكنايات).

وفي الفتاوى الهندية: وإذا قال لها: أبرأتک عن الزوجية يقع الطلاق بغير نية في حالة الغضب وغيره، كذا فى الذخيرة. (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷۶).

وفي البدائع: قال أصحابنا: قوله سرحتك وفارقتک من الكنايات لا يقع الطلاق بهما إلا بقرينة النية كسائر الكنايات. (بدائع الصنائع:۳/ ۳۷۶). والله ﷻ اعلم.

((څه ته ازاده یې، ما ازاده کړې یې)) الفاظ ویل څه حکم لري؟

سوال: محترم مفتي صاحب! زما او د خاوند جنګ وو هغه راته وویل، ستا چي څه وخت دئ یوازي په یوه دقیقه کي دي ازادوم ((څه ته ازاده یې ما ازاده کړې یې)) ما وویل، سمه ده زه هم طلاق غواړم، اوس شرعاً حکم څرنګه دئ طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي که رښتیا هم خاوند دا الفاظ ویلي وي نو بائن طلاق واقع دئ په دوه دلیله.

اول_ په عرف کي دا الفاظ د طلاق له پاره استعمالیږي علامه شامي رحمة الله علیه ((انت علی حرام)) په اړه وایي، دا د خلکو د عرف له کبله بائن طلاق ګرځېدلای دئ.

مفتي رشید احمد رحمة الله علیه وایي، (ما ازاده کړې یې) جمله د عرف له کبله صریح بائن طلاق دئ. (احسن الفتاوی:۵/ ۲۰۲).

دوهم دلیل_ دا چي د طلاق مذاکره وه، البته که خاوند منکر وي نو ښځه باید شاهدان وړاندي کړي که نه خاوند قسم اخلي خو تر قسم وروسته که بیا هم د ښځي یقین وي، نو ښځه باید د خلاصون پوره کوښښ وکړي. والله تعالیٰ اعلم.

((ته څه ولاړه سه)) الفاظ ویل او د درو طلاقو نیت کول

سوال: یوه سړي وخپلي ښځي ته وویل، ((ته څه ولاړه سه)) ښځي وویل: درې طلاقه دي راکړل؟ خاوند وویل، بلي هو. اوس شرعاً څو طلاقه واقع سول؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي خاوند کنایه الفاظ استعمال کړي او هم یې د درو طلاقو نیت کړی، نو لهذا ښځه مغلظه طلاقه سوه او له حلالې پرته ولومړني خاوند ته نه روا کیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

فالكنايات لا تطلق بها إلا بالنية أو دلالة الحال، فنحو اخرجي واذهبي وقومي... وثلاث إن نواه. (الدر المختار:۳/ ۲۹۷، سعید).

په هدایه کي راځي:

وبقية الكنايات إذا نوى بها الطلاق كانت واحدة بائنة، وإن نوى الثلاث كانت ثلاثاً. (الهداية: ٢/ ٣٧٤).

په شرح العنایه کي راځي:

وأما جواز نية الثلاث فلأن الواقع بها إذا كان بائنًا فالبينونة تتصل بالمرأة للحال. (شرح العناية علي هامش فتح القدير: ٤/ ٦٤، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

((خپل مطبخ واخله ځه ولاړه سه)) الفاظ ویل

سوال: تېره ورځ ما ته خپلي ښځي وویل چي زه ستا څخه بېزاره یم، زه ځم، ما ورته وویل، خپل مطبخ واخله ځه ولاړه سه د ښځي خپلوان راغلل ښځه چي ورسره تلله ما راګرځوله خو دوی زما خبره نه منله، اخیر ما وویل، که زما ښځه له تاسو سره ولاړه په درې طلاقه طلاق ده مګر ښځه بیا هم له دوی سره ولاړه اوس شرعاً حکم څرنګه دئ؟

الجواب: ((خپل مطبخ واخله ځه ولاړه سه)) د کنایې الفاظ دي که خاوند د طلاق نیت کړی وي نو بائن طلاق واقع دئ او که نه خو دلته خاوند صریح معلق طلاق هم ویلی دئ او د هغه شرط هم پوره سوی دئ نو د شرط د موجودیت له امله درې طلاقه واقع سوه او هغه ښځه مغلظه وګرځېده اوس بېله حلالې د اول خاوند له پاره نه روا کیږي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

وبقية الكنايات إذا نوى بها الطلاق كانت واحدة بائنة، وهذا مثل قوله اخرجي واهبي وقومي، لأنها تحتمل الطلاق وغيره فلا بد من النية. (الهداية: ٢/ ٣٧٤).

په درمختار کي راځي:

الكنايات لا تطلق بها قضاءً إلا بنية أو دلالة الحال وهي حالة مذاكرة الطلاق أو الغضب، فالحالات ثلاث: رضًا وغضب ومذاكرة، والكنايات ثلاث: ما يحتمل الرد .... فنحو

اخرجي واذهبي وقومي .... إن الأول يتوقف على النية في حالة الرضا والغضب والمذاكرة. (الدر المختار مع الشامى:۳/ ۲۹۶-۳۰۱).

په هدايه کي راځي:

وإذا أضافه إلى شرط وقع عقيب الشرط مثل أن يقول لامرأته إن دخلت الدار فأنت طالق. (الهداية:۲/ ۳۸۵).

په البحر الرائق کي راځي:

وفى الحاوي القدسى: إذا طلق المباينة فى العدة فإن كان بصريح الطلاق وقع. (البحر الرائق:۳/ ۳۰۷، کوئته).

په درمختار کي راځي:

الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة.... فإن أبان امراته ثم طلقها في العدة يقع. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۳۰۶-۳۰۷، مطلب الصريح يلحق الصريح والبائن، سعيد).

وفي الشامي: الطلاق الثلاث يلحق الصريح والبائن، فإذا أبان امرأته ثم طلقها ثلاثاً في العدة وقع. (فتاوى الشامى:۳/ ۳۰۷، مطلب الصريح يلحق الصريح والبائن، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د ((نكاح رشته ختمه سوه)) الفاظ ويل

سوال: خاوند وويل زما او د ښځي ترمنځ د نکاح رشته په داسي اندازه ختمه سوه چي اوس يې د سمون امکان پاته نه دئ. خاوند دا جمله پنځه ځله وويله، خو خاوند وايي زما هيڅ د طلاق نيت نه وو؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي دا الفاظ کنايات دي او له نيت څخه پرته طلاق نه واقع کيږي البته د نيت په صورت کي يو بائن واقع کيږي.

په هنديه کي راځي:

ولو قال فسخت النكاح ونوى الطلاق يقع، وعن أبي حنيفة رحمه الله: إن نوى ثلاثًا فثلاث كذا في معراج الدراية . (الفتاوى الهندية:١/ ٣٧٥، الفصل الخامس فى الكنايات).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

((زموږ نکاح ختمه سوه)) دا الفاظ کنایات دي او د طلاق د نیت په صورت کي طلاق واقع دئ او کنه واقع نه دئ. (فتاوی محمودیه:١٢/ ٥٥٩، احسن الفتاوی:٥/ ١٩٣).

مګر علامه شامي رحمه الله او د البحر الرائق مصنف وايي: يو رجعي طلاق واقع کيږي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

والأصل أن نفي النكاح أصلًا لا يكون طلاقًا بل يكون جحودًا ونفي النكاح في الحال يكون طلاقًا إذا نوى وما عداه فالصحيح أنه على هذا الخلاف قيد بالنية لأنه لا يقع بدون النية اتفاقًا لكونه من الكنايات ولا يخفى أن دلالة الحال تقوم مقامها حيث لم يصلح للرد ، والشتم ويصلح للجواب فقط وقدمنا أن الصالح للجواب فقط ثلاثة ألفاظ ليس هذا منها فلذا شرط النية للإشارة إلى أن دلالة الحال هنا لا تكفي وأشار بقوله : تطلق إلى أن الواقع بهذه الكناية رجعي . (البحر الرائق:٣/ ٣٠٦، باب الكنايات، كوئته – وكذا فى فتاوى الشامى:٣/ ٢٨٣، سعيد). والله تعالى اعلم.

((أخر جتک من نکاحي)) **الفاظ ويل**

سوال: که څوک وخپلي ښځي ته ووايي ((أخر جتک من نکاحي)) **یعنی ته ما له خپلي نکاح څخه خارج کړې يې، ايا طلاق واقع سو او که نه؟**

الجواب: په ياد سوي صورت کي د صاحب البحر الرائق د قول مطابق د طلاق د نيت په صورت کي يو رجعي طلاق واقع کيږي.

په البحر الرائق کي راځي:

ولو قال لانكاح بيننا يقع الطلاق، والأصل أن نفي النكاح أصلًا لا يكون طلاقًا بل يكون جحودًا ونفي النكاح في الحال يكون طلاقًا إذا نوى وما عداه فالصحيح أنه على هذا الخلاف قيد بالنية لأنه لا يقع بدون النية اتفاقًا لكونه من الكنايات ولا يخفى أن دلالة الحال تقوم مقامها حيث لم يصلح للرد ، والشتم ويصلح للجواب فقط وقدمنا أن الصالح للجواب فقط ثلاثة ألفاظ ليس هذا منها فلذا شرط النية للإشارة إلى أن دلالة الحال هنا لا تكفي وأشار بقوله: تطلق إلى أن الواقع بهذه الكناية رجعي . (البحر الرائق:۳/ ۳۰۶، باب الكنايات، كوئته- وكذا فى فتاوى الشامى:۳/ ۲۸۳، سعيد).

ولو قال فسخت النكاح ونوى الطلاق يقع، وعن أبي حنيفة رحمه الله: إن نوى ثلاثاً فثلاث. (البحر الرائق:۳/ ۳۰۳، باب الكنايات، كوئته – وكذا فى الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷۵، الفصل الخامس فى الكنايات). والله تعالیٰ اعلم.

((نکاح سالمه پاته نه ده)) الفاظ ويل

سوال: که څوک د خپلې يوې ښځې په اړه ووايي، زما او د ښځې نکاح سالمه پاته نه ده ايا طلاق واقع کيږي او که نه؟

الجواب: دا الفاظ کنايات دي که يې د طلاق نيت کړی وي نو بائن طلاق واقع کيږي.

په فتاوی سراجيه کي راځي:

اعتدى اختيارى، امرک، بيدک. کناياتو څخه پرته د نورو کناياتو د استعمال په صورت کي د نيت ضرورت دئ مثلا ((انت خلية، برية، بتة، بائن)) دا مذکوره جمله يعنی ((نکاح سالمه پاته نه ده)) هم د دوهم ډول کناياتو څخه ده د نيت ضروري دئ البته ځيني کنايت د طلاق د مذاکري په صورت کي نيت ته ضرورت نه لري.

وفيما عداها من الفاظ الكنايات « أي ما عدا الثلاثة » يصدق ولو قال: في مذاكرة الطلاق أحد هذه الألفاظ الثلاثة أو قال: أنت خلية أو برية أو بتة أو بائن أو حرام لم يصدق. (فتاوى السراجية: كتاب الطلاق، باب المتفرقات).

مګر صاحب د البحر او علامه شامي رحمه الله وايي: د نکاح د نفي کولو په صورت کي يو رجعي طلاق واقع کيږي.

((له كور څخه ووځه)) د طلاق له نيت څخه پرته ويل

سوال: يوه سړي ښځه کاله مخکي وخپلي ښځي ته وويل ((له كور څخه ووځه)) سړی وايي چي زما د طلاق نيت نه وو دا خبره يې هغه وخت کوله. وروسته يې زوی هم پيدا سو اوس وايي زما د طلاق نيت وو. ايا ښځه کاله وروسته خبره يې اعتبار لري او که نه او ايا هلک ثابت النسب دئ او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي دا الفاظ له كناياتو څخه دي د نيت په صورت کي طلاق واقع کيږي مګر څنګه چي خاوند انکار کړی وو چي زما نيت د طلاق نه وو، نو طلاق واقع نه دئ. ښځه کاله وروسته خبره يې څه اعتبار نه لري، ځکه دا له اقرار څخه د رجوع په شان ده، نو هلک هم ثابت النسب دئ.

په درمختار کي راځي:

فالكنايات لا تطلق بها قضاءً إلا بنية أو بدلالة الحال وهي مذاكرة الطلاق أو الغضب.

وفي الشامي: قوله « قضاء » قيد به لأنه لا يقع ديانة بدون النية ولو وجدت دلالة الحال فوقوعه بواحدة من النية أو دلالة الحال إنما هو في القضاء فقط. (الدر المختار مع رد المختار: ۳/ ۲۹۶، باب الكنايات – وكذا في الفتاوى الهندية: ۱/ ۳۷۴ – والبحر الرائق: ۳/ ۲۹۸، باب الكنايات في الصلاق).

په شرح مجله کي راځي:

لايصح الرجوع عن الإقرار في حقوق العباد. (شرح المجلة:ص ۸۷٦).

وفي تكملة فتح القدير: لأن الرجوع عن الإقرار باطل مفصولاً كان أو موصولاً. (نتائج الافكار تكملة فتح القدير:۸/ ۳٦٤، دار الفكر).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د کنايې په الفاظو طلاق تر نيت پوري تعلق لري که نيت وي واقع دئ او که نه وي واقع نه دئ او د نيت په اړه د خاوند قول معتبر دئ. (فتاوی محموديه:۱۲/ ۵۰۰، هکذا فی فتاوی دار العلوم ديوبند:۹/ ۳۸۱).

په فتاوی دارالعلوم ديوبند کي راځي:

په کناياتو کي که يې نيت د طلاق کړی وي نو يو بائن طلاق واقع سوی دئ او که يې د طلاق نيت کړي نه وي نو طلاق نه واقع کيږي. (فتاوی دار العلوم ديوبند۹/ ۳۸۱، مدلل مکمل). والله ﷻ اعلم.

((په خدای قسم دا ښځه به هيڅکله ونه ساتم)) د ويلو حکم

سوال: يوه سړي خپله ښځه ووهله، له کور څخه يې خارجه کړه او دا الفاظ يې وويل، زما دي په خدای ﷻ قسم وي دا ښځه به هيڅکله ونه ساتم، څلور کاله کيږي چي ښځي ته يې هيڅ نفقه نه ده ورکړې، ايا طلاق واقع سو که يا او د نيت ضرورت سته او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي طلاق نه دئ واقع او د نيت ضرورت هم نسته، ځکه دا د استقبال الفاظ دي لکه څوک چي وايي طلاق درکوم په دې لفظ سره طلاق نه واقع کيږي.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

بخلاف قوله (طلاق) كنم، لأنه استقبال فلم يكن تحقيقًا بالتشكيك، وفي المحيط: ولو قال بالعربية «أطلق» لايكون طلاقا إلا إذا غلب استعماله للحال، فيكون طلاقاً. (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۸٤).

په درمختار کي راځي:

بخلاف قوله « طلقي نفسک » فقالت أنا طالق أو أنا أطلق نفسي، لم يقع لأنه وعد. جوهرة. وفي الشامي: عبارة الجوهرة : وإن قال: طلقي نفسک، فقالت : أنا أطلق لم يقع قياساً واستحساناً. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۳۱۹، باب تفويض الطلاق، سعيد).

په تنقيح الفتاوی الحامديه کي راځي:

صيغة المضارع لا يقع بها الطلاق إلا إذا غلب في الحال كما صرح به الكمال ابن الهمام. (تنقيح الفتاوی الحامدية:۱/ ۳۸).

وينظر : البحر الرائق :۳/ ۳۱٤، کوئټه – وفتح القدير:٤/ ۷، دار الفکر – وفتاوی دار العلوم ديوبند:۹/ ٤۷ – واحسن الفتاوی:۵/ ۱٤۸ – وفتاوی محموديه:۱۲/ ۲٤۷، مبوب ومرتب، والله ﷻ اعلم.

((ته زما ښځه نه يې)) د ويلو حکم

سوال: يوه سړي د غصې په حالت کي وخپلي ښځي ته وويل، ته زما ښځه نه يې او آينده دي خپله ښځه نه بولم. ايا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي د نيت په صورت کي يو رجعي طلاق واقع سو او د عدم نيت په صورت کي طلاق واقع نه دئ.

په البحر الرائق کي راځي:

(قوله وتطلق بلست لي بامرأة أو لست لک بزوج إن نوى طلاقاً)..... ولو قال لانكاح بيننا يقع الطلاق، والأصل أن نفي النكاح أصلًا لا يكون طلاقًا بل يكون جحودًا ونفي النكاح في الحال يكون طلاقًا إذا نوى وما عداه فالصحيح أنه على هذا الخلاف قيد بالنية لأنه لا يقع بدون النية اتفاقًا لكونه من الكنايات ولا يخفى أن دلالة الحال تقوم مقامها حيث لم يصلح للرد، والشتم ويصلح للجواب فقط وقدمنا أن الصالح للجواب فقط ثلاثة ألفاظ ليس هذا

منها فلذا شرط النية للإشارة إلى أن دلالة الحال هنا لا تكفي وأشار بقوله : تطلق إلى أن الواقع بهذه الكناية رجعي . (البحر الرائق:۳/ ۳۰۶، باب الكنايات، كوئته – وكذا في فتاوى الشامي:۳/ ۲۸۳، باب الصريح، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (تبيين الحقائق:۲/ ۲۱۸ – وفتح القدير:٤/ ٦٧ – وفتاوى دار العلوم ديوبند:۹/ ٤٠٠، مدلل مكمل). والله ﷻ اعلم.

((زوی ته د مطلقی زوی ویل)) حکم

سوال: یوه سړي وخپل زوی ته د غصې په حالت کي وویل، د مطلقې زویه، البته دغه سړي مخکي وخپلي ښځي ته هیڅ طلاق ورکړی نه دئ، ایا اوس طلاق واقع سو؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي وښځي ته خطاب نه دئ نو طلاق واقع سوی نه دئ. همدارنګه دا الفاظ د ښکنځلو په ډول استعمالیږي.

قال في المحيط البرهاني: ولو قال ابن طالق وليست امرأته في ذلک البيت وقت المقالة لاتطلق امرأته. (المحيط البرهاني:۳/ ۳٥٤).

وقال في خلاصة الفتاوى: لو قال لامرأته يا مطلقة بالتشديد، ولو قال أردت الشتم لم يصدق قضاء ودين. (خلاصة الفتاوى:۲/ ۸).

په فتاوی شامي کي راځي:

يا طالق أو يا مطلقة بالتشديد ولو قال أردت الشتم لم يصدق قضاء ودين، خلاصة، ولو كان لها زوج طلقها قبل فقال أردت ذلك الطلاق صدق ديانة باتفاق الروايات وقضاء في رواية أبي سليمان وهو حسن كما في الفتح وهو الصحيح كما في الخانية ولو لم يكن لها زوج لا يصدق وكذا لو كان لها زوج قد مات . (فتاوى الشامي:۳/ ۲٥۱ – وكذا في في الهندية:۱/ ۲٥٥).

والله ﷻ اعلم.

((مطلقه ویل)) حکم

سوال: یوه سړي د جنګ په حالت کي وخپلي ښځي ته وویل اې مطلقي ! ((طلاقي سوي)) ایا په دې لفظ سره طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي یو رجعي طلاق واقع سو البته که یې یوازي دا لفظ د ښکنځلو په ډول ویلی وي، نو دیانةً د خاوند قول معتبر دئ.

په مداد الاحکام کي راځي:

البته ښځي ته طلاقن یا مطلقه ویل یو رجعي طلاق دئ. (امداد الاحکام:۲/ ۴۱۸).

وفی الشامیة : یا طالق أو یا مطلقة بالتشدید ولو قال أردت الشتم لـم یصدق قضاء ودین، خلاصة، ولو کان لـها زوج طلقها قبل فقال أردت ذلك الطلاق صدق دیانـة باتفـاق الروایات وقضاء في روایة أبي سلیمان وهو حسن کما في الفتح وهـو الـصحیح کمـا في الـخانیة ولـو لـم یکن لـها زوج لا یصدق وکذا لو کان لـها زوج قد مات . (فتاوی الشامی:۳/ ۲۵۱ – وکذا فی فی الهندیة:۱/ ۲۵۵ – وخلاصة الفتاوی:۲/ ۸۰).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

که چیري پخوا خاوند طلاق ورکړی وي نو قول یې معتبر دئ.(الفتاوی محمودیه:۱۲/ ۳۷۰).

لنډه دا چي که یې د ښکنځلو په توګه ویلي وي او عرف هم دا وي، نو مفتي د عدم طلاق فتوا ورکولای سي. والله ﷻ اعلم.

((ته زما د خور په شان یې)) د ویلو حکم

سوال: یوه سړي وخپلي ښځي ته وویل، ته زما د خور په شان یې ایا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: دا لفظ د کنایاتو له جملې څخه دئ او د طلاق د نیت په صورت کي یو بائن طلاق واقع کیږي او د عدم نیت په صورت کي طلاق نه واقع کیږي، البته آینده داسي الفاظ ویل ښه کار نه دئ.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

إن نوى بأنت علي مثل أمي أو أمي أو كأمي، وكذا لو حذف « علي » خانية، براً أو ظهاراً أو طلاقاً صحت نيته ووقع مانواه لأنه كناية. وفي الشامية : قوله لأنه كناية، أي من كنايات الظهار والطلاق، قال في البحر: وإذا نوى به الطلاق كان بائنا كلفظ الحرام . (فتاوى الشامي:۳/ ٤٧٠، باب الظهار، سعيد – وكذا في البحر الزائق:٤/ ٩٨، كوئته).

په درمختار كي راځي:

ويكره قوله أنت أمي ويا ابنتي ويا أختي. وفي الشامية: والذي فى الفتح: وفي « أنت أمي ».... وينبغي أن يكون مكروهاً فقد صرحوا بأن قوله لزوجته يا أخية مكروه . وفيه حديث رواه أبو داؤد.... الخ. (الدر المختار مع الشامي:۳/ ٤٧٠، باب الظهار، سعيد).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتح القدير:٤/ ٢٥٢، دار الفكر – وفتاوى محمودية:١٣/ ٣٢٢– وفتاوى دار العلوم ديوبند:٩/ ٣٨٤ – وكفايت المفتي:٦/ ٤٤٠). والله ﷻ اعلم

تاسو ټول وواياست چي طلاق راكړه

سوال: ښځي ومېړه ته ويل ما ته طلاق راكړه، خاوند خط ورته وليكلئ چي تاسو ټول وواياست چي طلاق راكړه د خاوند مقصد طلاق نه وو اوس شرعاً حكم څنګه دئ؟

الجواب: كه ريښتيا هم د خاوند طلاق مقصد نه وو نو طلاق ديانةً واقع نه دئ همدارنګه كه يې پر خپل نيت د مخكي څخه شاهدان درلودل نو قضاءً هم واقع نه دئ.

په فتاوى شامي كي راځي:

وأما ما في إكراه الخانية : لو أكره على أن يقر بالطلاق فأقر لا يقع، كما لو أقر بالطلاق هازلاً أو كاذباً، فقال في البحر : إن مراده لعدم الوقوع في المشبه به عدمه ديانةً، ثم نقل عن

البزازية والقنية: لو أراد به الخبر عن الماضي كذبا لا يقع ديانةً، وإن أشهد قبل ذلك لا يقع قضاءً أيضا . (فتاوى الشامى:٣/ ٢٣٨ف كتاب الطلاق، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق:٣/ ٢٤٦ - وحاشية چلپى على تبيين الحقائق:٢/ ١٩٥ - وفتاوى دار العلوم ديوبند:٩/ ١٥٨، مدلل مكمل). والله تعالىٰ اعلم.

((د مور کور ته ولاړه سه تر څو دي عقل برابر سي)) د دې حکم

سوال: يوه سړي د غصې په حالت کي وخپلي ښځي ته وويل د خپلي مور کور ته ولاړه سه تر څو عقل دي برابر سي.

دلته د طلاق کومه خبره (مذاکره) نه وه بلکي د اولاد متعلق جنګ او دعوه وه ايا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: د سوال د صحت په شرط طلاق واقع نه دئ، په ياد سوي صورت کي ځکه دا لفاظ چي ((د مور کور ته ولاړه سه)) کنايه ده او دا الفاظ ((تر څو دي عقل برابر سي)) پر عدم طلاق او عدم نيت طلاق دلالت کوي.

په هدايه کي راځي:

وبقية الكنايات إذا نوى بها الطلاق كانت واحدة بائنة، وإن نوى ثلاثاً كان ثلاثاً... وهذا مثل قوله أنت بائن، وألحقي بأهلك. (الهداية:٣٧٤ - وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٣٧٥).

په عالمګيري کي راځي:

الفصل الخامس فى الكنايات: لايقع بها الطلاق إلا بالنية أو بدلالة الحال كذا فى الجوهرة النيرة. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٧٤). والله تعالىٰ اعلم.

((که د مور او پلار کور ته ولاړې، نو درېیم)) ویلو حکم

سوال: یوه سړي دوه ځله وخپلې ښځې ته طلاق ورکړي یوازې درېیم طلاق پاته دئ او یو ځل یې ښځې ته وویل، که د مور او پلار کور ته ولاړې، نو درېیم، د طلاق لفظ یې نه دئ ویلی. اوس که دا ښځه ولاړه سي طلاق واقع دئ او که نه؟

الجواب: که یې د طلاق نیت کړی وي، نو د تللو په صورت کي طلاق واقع کیږي او که یې د طلاق نیت نه وي کړی نو طلاق نه واقع کیږي.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

امرأة قال لها زوجها : أنت طالق واحدةً فقالت له المرأة : هزار، فقال الزوج : هزار، فهذه على وجهين: إما أن ينوي شيئًا أو لم ينو، ففي الوجه الأول هو على ما نوى، وفي الوجه الثاني لا يقع . (الفتاوى الهندية:١/ ٣٨١).

په یادو سوو عباراتو کي خاوند د هزار (زر) لفظ ویلی خو د طلاق نیت یې کړی نه دئ نو طلاق واقع نه دئ.

بل ځای ذکر سوی دي چي خاوند ښځې ته وویل چي د ښځو حیله وکړه : يكون إقراراً بالطلاق إذا نوى. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٨٦).

یعنی خاوند ښځې ته وویل چي د ښځو حیله وکړه په ښکاره یې مطلب دا دئ چي د حلالې تدبیر وکړه ځکه درې طلاقونه سوي دي خو څنګه چي د طلاق لفظ یې ویلی نه دئ نو پر نیت موقوف دئ که نیت وي نو طلاق واقع کیږي او که نه وي بیا طلاق نه واقع کیږي . والله ﷻ اعلم.



عن إبراهيم قال: إذا كتب الطلاق بيدهٖ وجب عليه.

وعن حماد قال: إذا كتب الرجل إلى امرأته : إذا أتاک كتابي هذا فانت طالق، فإن لم يأتيها الكتاب فليس هي بطلاق، وإن كتب: ما بعد فانت طالق، فهي طالق. وقال ابن شبرمة: هي طالق . (مصنف ابن ابی شيبة).

پنځم .... باب
د طلاق بالكتاب حكم

بسم الله الرحمن الرحيم

رساله

الدلائل الباهرة فی تنفيذ كتابة الطلاق للزوجه الحاضرة

د ښځي په موجوديت كي د طلاق بالكتاب حكم

سوال: د دين علماء په دې اړه څه وايي: چي د ښځي په موجوديت او شته والی كي كه يو څوک طلاق وليكي او وخپلي ښځي ته يې وركړي خو په ژبه هيڅ ونه وايي ايا طلاق واقع كيږي او كه نه؟

الجواب: تحريري طلاق د زباني طلاق غوندي واقع كيږي كه ښځه حاضره وي او كه غائبه وي، البته د اكراه (زور) په صورت كي د مكره تحرير معتبر نه دئ او طلاق نه واقع كيږي.

وګورئ په مجموعه قوانين اسلامي كي راځي:

د تحريري طلاق څو صورتونه دي:

١_ كتابت مستبينه، يعنی پر كاغذ، دېوال او يا بل څه داسي خط ليكل چي واضح او باقي پاته كېدونكی وي د دې دوه ډوله دي:

الف_ مستبينه مرسومه: كه با قاعده طلاق نامه يا مكتوب مخاطب ته وليكل سي د دې ته كتابت مستبنه مرسومه ويل كيږي.

باء_ مستبینه غیر مرسومه: که همداسي د کوم کاغذ پر ټوټه یا دېوال د ښځي طرف ته له نسبت او اضافت څخه پرته یوازي دا ولیکي طلاق یا طلاق دئ او دا خط بیا ښځي ته ورونه لیږي، نو دا کتابت مستبنه غیر مرسومه دئ.

کتابت مستبینه مرسومه د تلفظ قائم مقام دئ طلاق پرې واقع کیږي. او د کتابت مستبنه غیر مرسـ ـمه په صورت کي هغه وخت طلاق واقع کیږي چي خاوند ووایي چي زما نیت ښځي ته طلاق ورکول وو.

کتابت غیر مستبینه: هغه خط دئ چي ښکاره نه وي او نه لوستل کیږي لکه په اوبو لیکل سوي وي، په هوا لیکل سوی وي په دغه ډول خط هیڅ وخت طلاق نه واقع کیږي. (مجموعه قوانین اسلامی: ماده:۳/ ٤: صفحه ۱۲۹).

په فتاوی هندیه کي راځي:

الكتابة على ثلاثة أوجه مستبين مرسوم أي معنون وهو يجري مجرى النطق في الحاضر والغائب على ما قالوا ، ومستبين غير مرسوم كالكتابة على الجدار وأوراق الأشجار وهو ليس بحجة إلا بالبينة والبيان وغير مستبين كالكتابة على الهواء والماء ، وهو بمنزلة كلام غير مسموع فلا يثبت به الحكم . (الفتاوى الهندية:٦/ ٤٤٢، مسائل شتى).

په درمختار کي راځي:

كتب الطلاق ، وإن مستبينًا على نحو لوح وقع إن نوى ، وقيل مطلقًا ، ولو على نحو الماء فلا، مطلقًا، ولو كتب على وجه الرسالة والخطاب ، كأن يكتب يا فلانة : إذا أتاك كتابي هذا فأنت طالق طلقت بوصول الكتاب جوهرة .

وفي الشامية (قوله كتب الطلاق الخ) قال في الهندية : الكتابة على نوعين : مرسومة وغير مرسومة ، ونعني بالمرسومة أن يكون مصدراً ومعنوناً مثل ما يكتب إلى الغائب وغير

المرسومة أن لا يكون مصدراً ومعنوناً، وهو على وجهين مستبينة وغير مستبينة، فالمستبينة ما يكتب على الصحيفة والحائط والأرض على وجه يمكن فهمه وقراءته، وغير المستبينة ما يكتب على الهواء والماء وشيء لا يمكن فهمه وقراءته ففي غير المستبينة لا يقع الطلاق وإن نوى، وإن كانت مستبينة لكنها غير مرسومة إن نوى الطلاق يقع وإلا لا، وإن كانت مرسومة يقع الطلاق نوى أو لم ينو، ثم المرسومة لا تخلو أما إن أرسل الطلاق بأن كتب : أما بعد فأنت طالق، فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة، وإن علق طلاقها بمجيء الكتاب بأن كتب : إذا جاءك كتابي فأنت طالق فجاءها الكتاب فقرأته أو لم تقرأ يقع الطلاق كذا في الخلاصة . (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٢٤٦، مطب فى الطلاق بالكتابة، سعيد).

په هدايه كې راځي:

ثم الكتاب على ثلاث مراتب : مستبين مرسوم وهو بمنزلة النطق في الغائب والحاضر على ماقالوا، ومستبين غير مرسوم كالكتابة على الجدار وأوراق الأشجار وينوى فيه لأنه بمنزلة صريح الكتابة فلا بد من النية وغير مستبين كالكتابة على الهواء والماء وهو بمنزلة كلام غير مسموع فلا يثبت به الحكم. (الهداية:٥٠٧٤، كتاب الخنثى).

وفى الشامية: اعلم أن هذا في كتابة غير مرسومة أي غير معتادة، لما في التبيين وغيره أن الكتاب على ثلاث مراتب : مستبين مرسوم وهو أن يكون معنونا : أي مصدراً بالعنوان، وهو أن يكتب في صدره من فلان إلى فلان على ما جرب به العادة فهذا كالنطق فلزم حجة .... الخ.

(فتاوى الشامى:٦/ ٧٣٧، مسائل شتى، سعيد).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما النوع الثاني فهو أن يكتب على قرطاس أو لوح أو أرض أو حائط كتابةً مستبينةً لكن لا على وجه المخاطبة امرأته طالق فيسأل عن نيته ؛ فإن قال : نويت به الطلاق وقع ، وإن قال : لم أنو به الطلاق صدق في القضاء ؛ لأن الكتابة على هذا الوجه بمنزلة الكتابة لأن الإنسان قد يكتب على هذا الوجه ويريد به الطلاق وقد يكتب لتجويد الخط فلا يحمل على الطلاق إلا بالنية .... وإن كتب كتابةً مرسومةً على طريق الخطاب والرسالة مثل : أن يكتب أما بعد يا فلانة فأنت طالق أو إذا وصل كتابي إليك فأنت طالق يقع به الطلاق ، ولو قال : ما أردت به الطلاق أصلًا لا يصدق إلا أن يقول : نويت طلاقًا من وثاق فيصدق فيما بينه وبين الله عز وجل ؛ لأن الكتابة المرسومة جارية مجرى الخطاب ألا ترى أن رسول الله ﷺ كان يبلغ بالخطاب مرةً وبالكتاب أخرى وبالرسول ثالثًا ؟ ، وكان التبليغ بالكتاب والرسول كالتبليغ بالخطاب فدل أن الكتابة المرسومة بمنزلة الخطاب فصار كأنه خاطبها بها بالطلاق عند الحضرة فقال لها : أنت طالق . (بدائع الصنائع:٣/ ١٠٩، سعيد).

په درر الحكام شرح مجلة الاحكام كي راځي:

المادة : ٦٩ :ـ الكتاب كالخطاب ..... والحاصل أن كل كتاب يحرر على وجه المتعارف من الناس حجة على كاتبه كالنطق باللسان. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام:١/ ٦٢، دار الكتب العلمية).

وكذا في (الفتاوى التاتار خانية:٣/ ٣٧٧، في ايقاع الطلاق بالكتاب – والأشباه والنظائر:٣/ ١٢٣، مع شرح الحموى – والبحر الرائق:٨/ ٤٧٧، مسائل شتى، كوئته – وتبيين الحقائق:٦/ ٢١٨، مسائل شتى، ملتان – وتنقيح الفتاوى الحامدية: كتاب الدعوى).

د فقهاء کرامو له مجموعی عباراتو څخه دا خبره ثابته سوه چي کتابت مستبنه د نطلق او تلفظ قایم مقام دئ په هغه طلاق واقع کیږي او په هغه کي د غائب او حاضر څه فرق نسته.

د اکابرو په کتابونو کي هم دا بیان سته:

په الطرائف والظرائف کي د مولانا اشرف علي رحمه الله د استفتاء په جواب کي مفتي عزیز الرحمن صاحب وايي:

د طلاق په اړه د کتابو له بحث څخه ظاهراً دا سي معلومیږي چي حضور زوجه فی المجلس کي هم طلاق مکتوب صریح او کنايي واقع کیږي که غرض د طلاق وقوع وي.

په نکاح کي څنګه چي د شاهدانو له پاره د ایجاب او قبول سماع (اوریدنه) شرط ده، خو په طلاق کي دا شرط ته حاجت نسته. په شامي کتاب الاقرار کي دي چي د طلاق اقرار بالسان او بالبنان دواړه سره مساوي دي.

فإن كما يكون باللسان يكون بالبنان. درمختار.

دا خبره هم ښکاره ده چي د قرض اقرار په کتابت (په لیکلو) سره صحي کیږي، نو طلاق هم د قرض په ډول په کتابت سره ثابتیږي. کما فی درمختار.

مطلب دا چي راجح دا ده چي حاضره فی المجلس ته طلاق بالکتابت واقع کیږي همدا رایه د محمود الحسن او انور شاه صاحب هم ده. راقم عزیز الرحمن. (الطرائف والظرائف: ۱۲-۱۳).

په فتاوی رحیمه کي راځي:

تحریري طلاق د زباني طلاق په ډول دئ یعني کوم حکم چي د ژبي دئ هغه د لیک هم دئ البته د اکراه په صورت کي د ژبي تلفظ هم د طلاق د قوع له پاره شرط دئ. (فتاوی رحيميه: ۸/ ۳۰۹، هكذا في امداد الفتاوى: ۲/ ۳۸٦، واحسن الفتاوى: ۵/ ۱۸٤).

البته علامه شامي رحمه الله یو ځای وايي:

وظاهره أن المعنون من الناطق الحاضر غير معتبر. (الفتاوى ردالمحتار: ٦/ ٧٣٧).

خو علامه رافعي پر علامه شامي صاحب رد کړی دئ، هغه وايي:

(قوله وظاهره) لم يظهر وجه ظهوره من عبارة الاشباه. (تقريرات الرافعي:٦/ ٣٥٥).

لهذا طلاق بالكتاب المستبنة المرسومة.

د صریح طلاق په حکم کې دئ که ښځه حاضره وي او که نه وي فرق نه لري، په ژبه يې ويلي وي که يا فرق نه لري.

د اکثرو فقهاوو کرامو رايه دا ده چې نطق او کتابت په حکم کې سره برابر دئ: الكتاب كالخطاب لکه د ګونګي اشاره او خط فرق سره لري خو حکم يې يو دئ. خو د نتايج الافكار مصنف يو اشکال کړی دئ:

قوله وهو بمنزلة النطق في الغائب والحاضر على ما قالوا ، فإنه إذا كان بمنزلة النطق في حق الحاضر أيضًا لم يكن حجةً ضروريةً، فينبغي أن يكون حجةً في الحدود أيضًا كما كان النطق حجةً فيها أيضًا فليتأمل في المخلص . (نتائج الافكار:١٠/ ٥٢٥، مسائل شتى، دار الفكر).

يعنى کله چې کتابت د نطق په ډول دئ نو په حدودو کې بايد حجت سي.

مګر دا اشکال صحيح نه دئ ځکه حدودو ثبوت بايد په هغه طريقه سره وي چې په شريعت کې ثابت وي او په شريعت کې د کتابت طريقه روا نه ده لکه په عام ډول چې يو ځل اقرار کفايت کوي مګر په زنا کې په احاديثو کې څلور ځله اقرار ضروري دئ، همدارنګه حدود په شبهاتو ساقطيږي.

که نطق فى الحاضر موثر او کتابت غير موثر وبلل سي نو بيا خو طلاق بالكتابت کې قادر على النطق له کتابت سره نطق هم کولای سي که د شاهدانو په حضور کې وي او که نه وي لکه په نکاح کې چې تلفظ ضروري دئ مثلاً زيد هندې ته د نکاح پيغام په خط کې ورولیږلي، نو هلته تر قبول د مخه هغه د خلکو په مخکې لوستلو بيا قبول کول ضروري دي تر څو ايجاب او قبول مکمل سي.

همدارنګه که څوک غائبې ښځې ته طلاق نامه ور وليږي طلاق واقع دئ حال دا چې نن سبا په تيليفون مع معرفة الصوت پر طلاق قادر دئ، نو بيا ولې د کتابت طلاق واقع دئ؟

همدارنګه په وصیت کي کتابت چلیږي مګر هغه پر نطق قادر دئ باید زباني وصیت وکړي او کتابت ته يې اعتبار ورنه کړل سي همدارنګه د احادیثو اجازه بالمشافه او کتابۃ معتبر ده حال دا چي هغه په تلفظ قادر دئ.

په اعلاء السنن کي راځي:

أن يكتب الشيخ مسموعه لحاضر أو غائب بخطه أو بأمره . وأما المجردة فتمنع الرواية بهاف وأجازه كثيرون من المتقديمن والمتأخرين. (اعلاء السنن:۸/ ۱٦۷).

د بیع له پاره شرعاً د ((اشتريت)) الفاظ دي خو بیع بالتعاطی هم صحیح ده حال دا چي په تلفظ قادر دئ.

همدارنګه رسول الله ﷺ عبد الله بن حجش ﷺ ته خط ورکړ او ورته وې فرمایل، دا ته په فلاني ځاي کي مه خلاصه وه او هلته يې خلاص کړه. (البخاری شریف کتاب العلم).

که چیري کتابت له لوستلو پرته حاضر ته معتبر نه سي نو دا مکتوب به غیر معتبر سي.

مثلاً حاضر کسانو ته د امتحان اعلان لیکل کیږي ورته لوستل کیږي نه په داسي صورت کي دا طلاب دا عذر د عدم حضور په وخت کي نه سي ویلای چي زموږ په حق کي دا خط غیر معتبر دئ همداسي نور اعلانات هم.

نو ضرور باید کتاب د حاضر له پاره موثر وبلل سي، البته د مکره په حق کي چي فقهاء کرامو تلفظ هم ضروري بللی دا استحساناً للضرورة، تر څو دا کس له ظلم شخه وساتل سي او د ظلم شخه د ساتلو له پاره حیله هم کافي ده، لکه د ظالم د استحلاف په صورت کي نه ظلم شخه د ساتلو په غرض که څوک شاهدان ولري چي زه د درواغو قسم اخلم نو طلاق نه واقع کیږي نو د اکراه په طلاق کي هم اعراض من التلفظ الي إلکتابة د ظلم شخه د حفاظت له پاره دئ.

لان الكتابة اقيم مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة ههنا. هم همدا مطلب دئ خو که يې څوک لیکي نو د هغه له پاره ډېر وجوهات سته مثلاً ښځه د تحریري (لیکني) طلاق غوښتنه وکړي

ترڅو د بل وخت له پاره سند په لاس کي ولري یا یې قاضي ته وروړي یا مثلاً د خاوند ضرورت د ښځي د بېري څخه تحریري طلاق نه سي ورکولای او داسي نور...

۲_ دېر احکام پر عرف بناء دي په دې مسئله کي لکه څنګه چي د عربو د عرف اعتبار کیږي همدارنګه د نن سبا عرف هم د نطق مطابق دئ بلکي مضبوط دئ.

له همدې کبله حضرت تهانوی رحمه الله، شیخ الهند رحمه الله، مفتي عزیزي الرحمن رحمه الله او انور شاه کشمیري رحمه الله کتابت د تلفظ په شان بللی دئ خصوصاً په نن عصر کي باید خامخا ومنل سي.

په شرح المجله کي دي:

(المادة:١٦٠٩): إن سند الدين يكتبه الرجل أو يستكتبه ويعطيه لآخر فمضى بإمضائه أو مختوماً بختمه يعد إقراراً بالكتابة ويكون معتبراً ومرعياً كتقريره الشفاهي إذا كان مرسوماً أي إذا كان قد كتب موافقاً للرسم، والعادة والوثائق المعلمة بالقبض المسماة بالوصول هي من هذا القبيل أيضاً..... (شرح المجلة:ص ٩٠٢).

(المادة: ١٦١٠) : من كتب سنداً أو استكتبه مرسوماً على الوجه السابق وأعطاه فمضى أو مختوماً إذا أقر بأنه له ولكنه أنكر الدين الذي حواه فلا يعتبر إنكاره ويلزمه أداء ذلک الدين. (شرح المجلة:٩٠٤).

همدارنګه مفتي محمد اشرف صاحب د فقهاء کرامو د عبارت تر ذکر کولو وروسته وایي:

له مذکور عبارت څخه لاندي مسائل ثابتیږي:

۱_ کتابت مستبینه د تلفظ په حکم کي دئ.

۲_ مستبینه مرسومه د صریح په حکم کي دئ.

۳_ مستبیه غیر مرسومه د کنایې په حکم کي دئ.

۴_ کتابت له معلق نه وي هغه د منجز طلاق په حکم کي دئ له لیکلو سره واقع کیږي.

۵_ کتابت مستبینه لیري کول داسي دي لکه له تعلیق څخه رجوع کول او له تعلیق څخه رجوع نه کیږي.

٦_ کتابت که ثابت سي نو هغه قضاءً معتبر دئ او د خاوند د انکار تصدیق یې نه کیږي.

د مخکني بحث په رڼا کي او د نن عصر د عرف او حالاتو په نظر کي نیولو سره زموږ رایه دا ده چي د کتابت په صورت کي طلاق واقع کیږي که ښځه حاضره وي او که غائبه وي څه فرق نه لري. (ملخص از فتوی مفتی محمد اشرف).

همدارنګه د دار العلوم کراچي فتوا هم همداسي ده بلکي په عام ډول د ټول پاکستان د دار الافتاوو دا ډول فتوا ده. والله ﷻ اعلم.

طلاق بالکتابت فی الحاضر یوه مسئله

سوال: دلته په جنوبي افریقا کي یوه سړي وخپلي حاضري ښځي ته دري طلاقه پر کاغذ ولیکل او وریې کړل، ځینو مفتیانو دا طلاقونه لغوه وبلل او د شامي له همدې عبارت څخه استدلال کول:

لكن في الدر المنتقى عن الأشباه أنه في حق الأخرس يشترط أن يكون معنوناً وإن لم يكن لغائب وظاهره أن المعنون من الناطق الحاضر غير معتبر. (شامى:٦/ ٧٣٧).

یعنی د حاضر ناطق طلاق معنون ((کوم چي د عرف او عادت مطابق لیکل سوی وي)) معتبر نه دئ. د دې خلکو جواب څنګه دئ؟

الجواب: د ښځي په شته والی کي ورکړل سوی تحریري طلاق واقع دئ د همدې مسئلي په اړه څو کاله مخکي دلته د مفتیانو جلسه هم وسوه، د ډېرو مفتیانو وروستی رایه دا سوه چي طلاق واقع کیږي او د دې مسئلي په اړه یې د فقهاء کرامو دا څو عبارتونه هم ملاحظه کړه.

وهو أى المستبين بمنزلة النطق في الغائب والحاضر على ما قالوا ، فإنه إذا كان بمنزلة النطق في حق الحاضر أيضًا لم يكن حجةً ضروريةً . (تكملة فتح القدير: ١٠/ ٥٢٥، دار الفكر).

په فتاوی شامي کي راځي:

فهذا أي المستبين كالنطق فلزم حجة. (فتاوى الشامى:٦/ ٧٣٧، سعيد وشرح الحموى على الاشباه:٣/ ١٢٣، احكام الكتابة).

وهو يجرى مجرى النطق فى الحاضر والغائب. (حاشية الكنز من ملا مسكين والعنيى، ص ٤٩٠، ورمز الحقائق:٢/ ٤٩٩، مسائل شتى).

وهو أى هذا المذكور من الكتابة كالنطق فى الغائب والحاضر على ما قالوا فيلزم حجة وفي زماننا الختم شرط لكونه معتاداً. (مجمع الانهر:٢/ ٧٣٣، دار احياء التراث العربى).

ثم الكتابة على ثلاثة أوجه مستبين مرسوم.... وهو يجري مجرى النطلق فى الحاضر والغائب على ما قالوا . (عالمگيرى:٦/ ٤٤٢، مسائل شتى).

ثم الكتاب على ثلاث مراتب مستبين مرسوم وهو بمنزلة النطق فى الغائب والحاضر على ما قالوا. (الهداية:٤/ ٧٠٥، مسائل شتى).

والحاصل أن كل كتاب يحرر على الوجه المتعارف من الحاضر حجة على كاتبه كالنطق باللسان. (درر الحكام فى شرح مجلة الاحكام، مادة الكتاب كالخطاب، لعلى حيدر).

په موسوعة فقهيه کي راځي:

وجه انعقاد العقود بالكتابة هو أن القلم أحد اللسانين كما قال الفقهاء بل ربما تكون هي أقوى من الألفاظ ولذلك حث الله المؤمنين على توثيق ديونهم بالكتابة. (الموسوعة الفقهية، الكويتية، مادة: العقد بالكتابة او الرسالة:٣٠/ ٢١٠، وزارة الاوقاف، الكويت).

فينبغي أن يكون حجةً في الحدود أيضًا كما كان النطق حجةً فيها أيضًا فليتأمل في المخلص .

د یادو سوو عبارتونو څخه معلومیږي چې په یاد سوي صورت کې تحریري طلاق واقع کیږي که ښځه حاضره وي او که غائبه وي او د شامي د عباراتو جواب دا دئ.

۱_ د شامي رایه د نورو فقهي کتابونو خلاف ده، نو دا مرجوح قول دئ او د وقوع قول یې راجح دئ.

۲_ د شامي محشي علامه رافعي رحمه الله د دې قول رد کړی دئ اکه چې وایي:

لم یظهر وجه ظهوره من عبارة الاشباه. (فتاوی ردالمحتار:۶/ ۴۵۵).

۳_ دا عبارت خپله د شامي د بل عبارت خلاف دئ، لهذا کوم عبارات چې د نورو فقهاوو له عباراتو سره موافق دي د مثال په ډول. فهذا کالنطق فلزم حجة. (فتاوی ردالمحتار:۶/ ۷۳۷).

نو دغه به معتبر وي او حال دا چې علامه شامي رحمه الله په عبارت سره چې أن المعنون من الناطق الحاضر سره د ماقبل څخه پر طریقه د دلالت التزاهي یا مفهوم مخالف ثابت کړی دئ او قاعده دا ده چې منطوق پر غیر منطوق یعني مفهوم مخالف باندي مخکي وي.

او دا بل ځای د مفهوم له معنی اخیستل سوی نو اول منطوق قوی دئ.

۴_ مفتي عزیز الرحمن رحمه الله، شیخ الهند رحمه الله، علامه انور شاه کشمیري رحمه الله، حکیم الامت اشرف علی تهانوی رحمه الله، د دې ټولو حضراتو فتوا د عامو فتاواو سره موافق ده او د شامي قول یې معتبر بللي نه دئ، لکه څنګه چې په الطرائف والظرائف بیاض اشرفي صفحه ۲۴ کي دي.

۲۴

فائدہ فقہیہ متعلقہ بالطلاق بالکتابۃ

از بندہ عزیز الرحمن عفی عنہ ملاحظہ حضرت مخدومی مکرمی مولانا محمد اشرف علی صاحب مد فیضہ۔ عبارات کتب متعلقہ کتابت طلاق سے یہی ظاہر ثابت ہوتا ہے کہ حضور زوجہ فی المجلس کی صورت میں بھی طلاق مکتوب مستبین وکتابۃً واقع ہو جاوے گی اگر غرض ایقاع طلاق ہو تحریر خط وغیرہ نکاح میں چونکہ سماع شہود وایجاب وقبول زوجین کو شرط کیا گیا ہے۔ بنا بریں صورت آنکہ سماع مکتوب کو شرط کیا جاوے تو ممکن ہے اور طلاق میں اس کی حاجت نہیں۔ شامی کتاب الاقرار میں طلاق کو بھی دیگر دیون وغیرہ کے اقرار کی مثل باللسان وبالبنان دونوں طرح مساوی قرار دیا ہے فانہ کما یکون باللسان یکون بالبنان ... معلوم ہوتا ہے کہ اقرار یا طلاق اگر بالبنان ہو اور کاتب و مقر ہو کہ یہ تحریر میری ہے تو لزوم دین میں تامل نہ ہوگا۔ اگرچہ شامی نے مسائل شتی میں ایک عبارت اشباہ و نظائر سے یہ مفہوم ہوتا ظاہر کیا ہے کہ ناطق حاضرین کی کتابت کا اعتبار نہ ہو مگر ظاہر اس کا یہ ہے کہ شہود بمجرد تحریر کتابت پر شہادت نہیں دے سکتے کیونکہ مجرد کتابت میں احتمال ہے کہ تحریر خط وغیرہ سے ملا لکھا ہو الغرض مدار حکم تحقق پر معلوم ہوتا ہے کہ حاضرہ فی المجلس کو بھی طلاق بالکتابۃ واقع ہوتی ہے اور جانب احتیاط بھی یہی ہے۔ حضرت مولانا محمود حسن صاحب سلمہ و مولانا انور شاہ کی بھی یہی رائے ہے۔ فقط والسلام

راقم عزیز الرحمن عفی عنہ مفتی مدرسہ دیوبند

۲۰ ربیع الاول ۱۳۳۶ھ بروز پنجشنبہ

۵_ د دې عباراتو تعلق له اکراه سره دئ ځکه علامه شامي دا عبارت له اشباه څخه نقل کړی او هغه له قاضي خان څخه نقل کړی او هلته په اشباه او قاضي خان کي د اکراه مسئله موجوده ده او د اختيار د حالت ذکر نسته.

د قاضي خان عبارت وګوري:

رجل أكره بالضرب والحبس على أن يكتب طلاق امرأته فلانة بنت فلان ابن فلان فكتب امرأته فلانة بنت فلان ابن فلان طالق لاتطلق امرأته لأن الكتابة أقيمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولاحاجة ههنا. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۱/ ٤٧٢ – وشرح الاشباه:۳/ ۱۲۳).

د دې عبارت لنډيز دا سوه چي د اکراه په حالت کي که چا وخپلي ښځي ته ليکلی طلاق ورکړ او تلفظ يې ونه کړنو د ضرورت پر اساس طلاق نه واقع کيږي البته د اختيار په صورت کي دا ضرورت نسته، نو ځکه طلاق واقع بلل کيږي.

په عامو حالاتو کي کتابت حجت اصلي دئ مګر د اکراه حالت ور څخه مستثناء دئ او هلته تفصيل سته.

د دې مسئلې له پاره د محترم مفتي محمد رضوان معتبره رساله. (رساله تحريري طلاق اور زبردستی طلاق کي تحقيق) وګورئ. والله تعالیٰ اعلم.

په غير معتاده طريقه طلاق بالکتابت

سوال: زيد پر چوکۍ ناست وه او مخ ته يې مېز پروت وو، زيد پر همدې مېز د خپلي ښځي نوم وليکئ او درې طلاقه يې وليکل او دا يې وليکل، زما ښځي زينب ته درې طلاقه وروسته يې ورپل، زموږ څه جنګ نه وو او نه مي دا خط په غصه کي ليکلی بلکي مذاق او ټوکي مي کولې ايا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په غير معتاده طريقه له نيت څخه پرته طلاق نه واقع کيږي په ياد سوي صورت کي دا طلاق په غير معتاد ډول دئ چي د طلاق نيت يې نه وو بلکي مذاق وه نو ځکه طلاق واقع نه دئ.

په فتاوی شامي کي راځي:

ومستبين غير مرسوم كالكتابة على الجدران وأوراق الأشجار أو على الكاغد لا على الوجه المعتاد فلا يكون حجة إلا بانضمام شيء آخر إليه كالنية . (فتاوى الشامي:٦/ ٧٣٧، مسائل شتى).

د كتابت مستبينه غير مرسومه په صورت كي هغه وخت طلاق واقع دئ چي خاوند ووايي زما د طلاق نيت وو. په درالمحتار كي راځي: وإن كانت مستبينة لكنها غير مرسومة إن نوى الطلاق يقع وإلا لا. (مجموعه قوانين اسلامی:١٣٠).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (مجمع الانهر:٢/ ٧٣٣، هنديه:٦/ ٤٤٢). والله ﷻ اعلم.

په جبر او اكراه تحريري (ليكلي) طلاق

سوال: يوه سړي طلاق نامه وليكله او يو پوليس يې له ځان سره ملګري كړ او د ښځي خاوند ته ورغلل پوليس خاوند ته اختارونه وركړه چي پر دې ليک دستخط وكړه كنه وژنم دي هغه سړي پوښتنه وكړه چي په دې كي څه ليكلي دي؟ پوليس ورته وويل طلاق، خاوند په جبر او اكراه، په نه زړه پر دې خط دستخط وكړ او وروسته ورته وويل سول چي دلته درې طلاقه ليكلي وه شرعاً د دې حكم څه دئ؟

الجواب: په طلاق نامه هغه طلاق واقع كيږي چي د خاوند رضا وي يعنی خاوند يې په خپله خوښه او رضا طلاق نامه وليكي او دستخط پر وكړي مګر د جبر او اكراه په صورت كي طلاق ليكل او يا دستخطول څه اعتبار نه لري نو په ياد سوي صورت كي طلاق واقع سوی نه دئ.

په فتاوی شامي كي راځي:

وفي البحر .... فلو أكره على أن يكتب طلاق امرأته فكتب لاتطلق. (فتاوى الشامي:٣/ ٢٣٦، مطلب فی الاكراه على التوكيل....، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل أکره بالضرب والحبس علی أن یکتب طلاق امرأته فلانة بنت فلان بن فلان فکتب امرأته فلانة بنت فلان بن فلان طالق لا تطلق امرأته. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة: ۱/ ٤٧٣، الطلاق بالکتابة).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

وفي الظهیریة: رجل أکره بالضرب والحبس علی أن یکتب طلاق امرأته فکتب فلانة بنت فلانة امرأته طالق، وفي الحاوي: ولم یعبر بلسانه لاتطلق. (الفتاوی التاتار خانیة: ۳/ ۳۸۰، ایقاع الطلاق بالکتابة).

فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

په جبر سره پر طلاق نامه په دستخط کولو سره چي په ژبه یې طلاق ورکړي نه وي او نه یې په خپله لیکلي وي طلاق نه واقع کیږي. (فتاوي دار العلوم دیوبند: ۹/ ٤ ۱۵).

په کتاب الفتاوی کي راځي: د پولیس اخطارونه ورکول هم په اکراه کي داخل دي. (کتاب الفتاوی: ۵/ ۹۰).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (مجموعه قوانین اسلامی: ۱۳۵، دفعه - امداد الفتیین: ۲/ ٦۳۵ - کتاب الفتاوی: ۵/ ۱۰۲). والله ﷻ اعلم.

د نشې په حالت کي پر طلاق نامه دستخط کول

سوال: یوه سړي ته دښمنانو شراب ور وچیښل او نشه یې کړ، په همدې حالت کي یې پر طلاق نامه ګوتي په ولګولې او دستخط یې پر وکړ ایا دا ډول طلاق واقع دئ او که نه حال دا چي ښځه او خاوند په هیڅ [illegible] خبر نه دي؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي [illegible] ده که او د نه خبر نیا په صورت کي طلاق واقع نه دئ

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي دي:

په فرضي ډول طلاق نامه ليکلو او بيله خبرتيا پر هغه د خاوند ګوته لګول يا دستخط کول او يا هم پر سپين کاغذ د خاوند ګوته او يا امضاء اخيستل او وروسته طلاق پر ليکل شرعاً کوم اعتبار نه لري او نه هم طلاق واقع کيږي.

كما في حديث ابن ماجة « الطلاق لمن أخذ بالساق ». الخ. په شامي کي راځي: وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لايقع الطلاق مالم يقر أنه كتابه.

نو په دې صورت کي د خاوند لخوا طلاق نه سو. (فتاوی دار العلوم ديوبند:۹/ ۱۰۲ – وكذا في فتاوی محموديه:۱۲/ ٦٤٤). والله ﷻ اعلم.

له تلفظ پرته تحريري طلاق

سوال: يوه سړي په خط کي وخپلي ښځي ته طلاق ور وليږئ په ژبه يې څه نه دي ويلي شرعاً د دې څه حکم دئ؟

الجواب: په خپله رضا په خپله ليکلو او يا په بل چا ليکلو سره طلاق واقع کيږي که څه هم په ژبه څه ونه وايي.

په البدائع الصنائع کي راځي:

وكذا التكلم بالطلاق ليس بشرط فيقع الطلاق بالكتابة المستبينة وبالإشارة المفهومة من الأخرس لأن الكتابة المستبينة تقوم مقام اللفظ . (بدائع الصنائع:۳/ ۱۰۰، شرائط ركن الطلاق، سعيد).

په درمختار کي راځي:

كتب الطلاق ، وإن مستبينًا على نحو لوح وقع إن نوى ، وقيل مطلقًا ، ولو على نحو الماء فلا، مطلقًا، ولو كتب على وجه الرسالة والخطاب ، كأن يكتب يا فلانة : إذا أتاك كتابي هذا فأنت طالق طلقت بوصول الكتاب جوهرة .

وفي الشامية (قوله كتب الطلاق الخ) قال في الهندية : الكتابة على نوعين : مرسومة وغير مرسومة ، ونعني بالمرسومة أن يكون مصدراً ومعنوناً مثل ما يكتب إلى الغائب وغير المرسومة أن لا يكون مصدراً ومعنوناً، وهو على وجهين مستبينة وغير مستبينة، فالمستبينة ما يكتب على الصحيفة والحائط والأرض على وجه يمكن فهمه وقراءته، وغير المستبينة ما يكتب على الهواء والماء وشيء لا يمكن فهمه وقراءته ففي غير المستبينة لا يقع الطلاق وإن نوى، وإن كانت مستبينة لكنها غير مرسومة إن نوى الطلاق يقع وإلا لا، وإن كانت مرسومة يقع الطلاق نوى أو لم ينو، ثم المرسومة لا تخلو أما إن أرسل الطلاق بأن كتب : أما بعد فأنت طالق، فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة، وإن علق طلاقها بمجيء الكتاب بأن كتب : إذا جاءك كتابي فأنت طالق فجاءها الكتاب فقرأته أو لم تقرأ يقع الطلاق كذا في الخلاصة . (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲٤٦، مطب في الطلاق بالكتابة، سعيد).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۱۱۱، کوئټه – والفتاوی الهندية:۱/ ۳۷۸ – وبدائع الصنائع:۳/ ۱۰۹، سعيد – ومجموعه قوانين اسلامی:۱۲۹ – وفتاوی دار العلوم ديوبند:۲/ ٦۳۳ – وفتاوی محموديه:۱۲/ ۵۸۳). والله ﷻ اعلم.

د مولوي صاحب په وینا طلاق لیکل

سوال: ما یوه مخطوبه ښځه پرېښوده او بل ځای مي نکاح وکړه خو هغه مخطوبه زما په انتظار وه څه وخت وروسته یې پلار ټینګکار وکړ چي زه د هغې نکاح ته اماده یم په دې شرط چي اوله ښځه به طلاقوم خو د دې شرط له منلو څخه ما ښکاره انکار وکړ مګر بیا ورځ مولوي صاحب راته ویل طلاق نامه ولیکه او په ژبه څه مه وایه نو طلاق نه واقع کیږي ما هم د دې مولوي صاحب په خبره باور وکړ او طلاق نامه مي ولیکل او درې طلاقه مي پکښې ولیکل خو تلفظ مي پر کړی نه دئ ایا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: لکه څنګه چي په ژبه طلاق واقع کېږي همدارنګه تحريري طلاق هم واقع کېږي څنګه چي په ياد سوي صورت کي باضابطه طلاق نامه ليکل سوې او مخاطب هم پکښې ليکل سوی، نو بېله نيته طلاق واقع دئ.

په فتاوی شامي کي راځي:

اعلم أن هذا في كتابة غير مرسومة أي غير معتادة، لـما في التبيين وغيره أن الكتاب على ثلاث مراتب : مستبين مرسوم وهو أن يكون معنونا : أي مصدراً بالعنوان، وهو أن يكتب في صدره من فلان إلى فلان على ما جرت به العادة فهذا كالنطق فلزم حجة ومستبين غير مرسومه كالكتابة على الجدران وأوراق الاشجار.... وغير مستبين كالكتابة على الهواء أو الماء .... والحاصل أن الاول صريح والثاني كناية والثالث لغو. (فتاوى الشامي:٦/ ٧٣٧، مسائل شتى، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإن كتب كتابةً مرسومةً على طريق الخطاب والرسالة مثل : أن يكتب أما بعد يا فلانة فأنت طالق أو إذا وصل كتابي إليك فأنت طالق يقع به الطلاق ، ولو قال : ما أردت به الطلاق أصلًا لا يصدق إلا أن يقول : نويت طلاقًا من وثاق فيصدق فيما بينه وبين الله عز وجل ؛ لأن الكتابة المرسومة جارية مجرى الخطاب ألا ترى أن رسول الله ﷺ كان يبلغ بالخطاب مرةً وبالكتاب أخرى وبالرسول ثالثًا ؟ ، وكان التبليغ بالكتاب والرسول كالتبليغ بالخطاب فدل أن الكتابة المرسومة بمنزلة الخطاب فصار كأنه خاطبها بها بالطلاق عند الحضرة فقال لها : أنت طالق . (بدائع الصنائع:٣/ ١٠٩، سعيد).

په درر الحكام شرح مجلة الاحكام كي راځي:

المادة: ٦٩: ـ الكتاب كالخطاب ..... والحاصل أن كل كتاب يحرر على وجه المتعارف من الناس حجة على كاتبه كالنطق باللسان. (درر الحكام شرح مجلة الاحكام: ١/ ٦٢، دار الكتب العلمية). والله ﷻ اعلم.

پر طلاق نامه امضاء کول

سوال: يو سړی وخپلي ښځي ته طلاق نه ورکوي خو ښځي په محکمه کي عريضه پر وکړه او طلاق نامه يې ليکلې اوس که خاوند پر دغه طلاق نامه امضاء وکړي طلاق واقع کيږي که نه، حال دا چي خاوند د ښځي د ورور لخوا پر امضاء کولو مجبور دئ؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي که خاوند په خپله رضاء امضاء وکړي نو طلاق واقع دئ البته که د ښځي ورور دومره زور پر وکړي چي هغه شرعي اکراه بلل کيږي نو د عدم تلفظ په صورت کي يوازي په امضاء کولو طلاق نه واقع کيږي.

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي البحر .... فلو أكره على أن يكتب طلاق امرأته فكتب لاتطلق. (فتاوى الشامي: ٣/ ٢٣٦، مطلب في الاكراه على التوكيل...، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل أكره بالضرب والحبس على أن يكتب طلاق امرأته فلانة بنت فلان بن فلان فكتب امرأته فلانة بنت فلان بن فلان طالق لا تطلق امرأته. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية: ١/ ٤٧٣، الطلاق بالكتابة).

په فتاوى تاتار خانيه كي راځي:

وفي الظهيرية: رجل أكره بالضرب والحبس على أن يكتب طلاق امرأته فكتب فلانة بنت فلانة امرأته طالق، وفي الحاوي: ولم يعبر بلسانه لاتطلق. (الفتاوى التاتار خانية:۳/ ۳۸۰، ايقاع الطلاق بالكتابة).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب فرمايي:

زيد د خپلي خسرګني كره ولاړي هغوى پر طلاق وركولو مجبور كړ او طلاق نامه يې وليكلي په زوريې په ده باندي ګوته ولګول په ژبه يې څه ويلي نه دي نو په دغه صورت كي د زيد ښځه طلاق سوي نه ده (مخلص از امداد المفتين:۲/ ۶۳۴). والله ﷻ اعلم.

د طلاق نامي ليږلو وروسته د تصديق له پاره د دوهم خط ليږلو حكم

سوال: يو چا خپلي ښځي ته طلاق خط ورو ليږي بيا يې د هغه د تصديق له پاره دوهم خط ورو ليږي نو څو طلاقه واقع كيږي؟

الجواب: كه خاوند په دوهم خط كي د لومړى خط د تصديق نيت كړي وه نوې طلاق يې مقصد نه وو نو يو طلاق واقع كيږي.

كرر لفظ الطلاق وقع الكل وإن نوى التاكيد دين، قوله وإن التاكيد أي وقع الكل قضاءً وكذا إذا أطلق أشباه: أي بأن لم ينو استينافاً ولا تأكيداً لأن الأصل عدم التاكيد. (فتاوى الشامي:۳/ ۲۹۳، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د ښځي او خاوند له پاره پر يوه معاهده د دستخط كولو حكم

سوال: ښځه او خاوند كه پر يوه داسي معاهده دستخط وكړي چي په هغه كي له نورو خبرو سره دا هم ليكلي وي چي زموږ ښځي او خاوند يو ځاى اوسېدل ناممكن دي نو په دې صورت كي طلاق واقع كيږي او كه نه؟

الجواب: په پورتني صورت كي د داسي معاهدې په دستخطولو سره طلاق نه واقع كيږي ځكه دا الفاظ طلاق نه دي مفتي عزيز الرحمن صاحب فرمايي:

سوال: يو خاوند خپلي خوابني ته وليكل چي ستا د لور او زما گذاره په دنيا كي مشكله ده اوس دي وايي چي دا جمله ما دغسي وليكل د تعلق قطع كول مي مقصد نه وه نو طلاق بائن واقع دئ او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي طلاق نه واقع كيږي ځكه د گذاري سختيدل نه صراحة طلاق دئ او نه كناية. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۹/ ۳۸۱، مدلل مكمل). والله تعالیٰ اعلم.

د تحريري طلاق معلق كولو حكم

سوال: زما ښځه او زما مور او پلار تل سره په جنگ وي والدين شكايت كوي پلار مي ما ته خط وليكئ چي زه وخپلي ښځي ته طلاق وركړم خو طلاق بايد مشروط وي، كه زه طلاق ورنه كړم والدين خفه كيږي مگر زه او ښځه څه مشكل نه سره لرو، ښه ژوند سره لرو او اولاد هم لرو همدارنگه دا شرطيه طلاق والد صاحب په خپله ليكلى او ما ته يې راكړ چي ښځي ته يې ور ولېږم. د والد صاحب خط دا دئ:

عبرت نامه:

زما ښځي شميمه بنت نصير الدين په غور سره دا واوره چي ته زما ښځه يې، ته چي چيري اوسيږي او تا ته خرڅ دركوم مگر زما په نه شتون تا زما د مور او پلار په كور كي د مالكانه تصروفاتو له كبله زما پلار او مور ته روحي او جسمي تكليف رسولى دئ، چي د هغه په سبب زه له ملكيت څخه د تل له پاره محروم كيږم، نو له همدې كبله د هغوى په خبري منلو مجبور يم نو كه تا په ټول ژوند كي زما د مور او پلار په كور او مځكه كي قدم كېښود نو ته فوراً طلاق طلاق طلاق يې.

دا خط خو زما پلار ليكلى وو اوس سوال دا دئ چي كه زه د والدينو د خوشحالى له پاره ووايم چي دا خط ما نقل كړ او ښځي ته مي ور ولېږئ خو ښځه هيڅ خبره نه كوي نو ايا دا طلاق معلق سو او كه نه؟

ايا د شرط تر واقع كېدو وروسته طلاق واقع كيږي او كه نه؟

الجواب: د زباني طلاق په ډول تحريري طلاق هم واقع كيږي او د شرط تر وقوع وروسته طلاق واقع كيږي نو له همدې كبله كه ته له والدينو سره دا خط ومنې نو طلاق معلق سو او د شرط تر وقوع وروسته واقع كيږي، البته كه له والدينو سره دا خط ونه منې او ښځه خبره نه كړې مگر د توريه په ډول

والدينو ته وواييي چي زه داسي كوم نو بيا څه مشكل نسته . ولي احتياط دا دئ چي پر دې خپله توريه شاهدان هم ولري.

وګورئ په هدايه كي راځي:

وإذا أضافه إلى شرط وقع عقيب الشرط مثل أن يقول لامرأته إن دخلت الدار فأنت طالق. (الهداية: ٢/ ٣٨٥).

په درمختار كي راځي:

كتب الطلاق إن مستبيناً على نحو لوح وقع إن نوى وقيل مطلقاً. وفي الشامية: (قوله كتب الطلاق الخ) قال في الهندية : الكتابة على نوعين : مرسومة وغير مرسومة ، ونعني بالمرسومة أن يكون مصدراً ومعنوناً مثل ما يكتب إلى الغائب وغير المرسومة أن لا يكون مصدراً ومعنوناً، وهو على وجهين مستبينة وغير مستبينة، فالمستبينة ما يكتب على الصحيفة والحائط والأرض على وجه يمكن فهمه وقراءته، وغير المستبينة ما يكتب على الهواء والماء وشيء لا يمكن فهمه وقراءته ففي غير المستبينة لا يقع الطلاق وإن نوى، وإن كانت مستبينة لكنها غير مرسومة إن نوى الطلاق يقع وإلا لا، وإن كانت مرسومة يقع الطلاق نوى أو لم ينو، ثم المرسومة لا تخلو أما إن أرسل الطلاق بأن كتب : أما بعد فأنت طالق، فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة، وإن علق طلاقها بمجيء الكتاب بأن كتب : إذا جاءك كتابي فأنت طالق فجاءها الكتاب فقرأته أو لم تقرأ يقع الطلاق كذا في الخلاصة. قوله مطلقاً المراد به في الموضعين نوى أولم ينو . (الدر المختار مع رد المحتار: ٣/ ٢٤٦، مطب في الطلاق بالكتابة، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

طلاق په لیکلو او ورلیکلو هم واقع کیږي جد او هزل پکښي برابر دي یعني په جعلي ډول او یاد ټوکو او مذق په ډول که طلاق ورکړي نو واقع کیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۹/ ۱٤٦، مکمل مدلل).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د طلاق د وقوع له پاره ونښځي ته د طلاق نامې رسېدل ضروري نه دي بلکي تر لیکلو وروسته واقع کیږي. (احسن الفتاوی:٥/ ١٤٨). والله ﷻ اعلم.

که خاوند له خط څخه منکر يې

سوال: یو سړی څه وخت له کور څخه نادرک وو او وروسته د هغه له طرفه خسر ته یو خط ورسېدئ هغه دا چي (زما لخوا له ښځي څخه مهر معاف کړه او زما لخوا ښځي ته اجازه ده) پر دې خط امضاء نسته کله چي دا کس (خاوند) خبر سو نو له خط څخه يې انکار وکړ ایا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي د طلاق د قوع کوم دلیل نسته او په خط کي هم د طلاق لفظ نسته بلکي یوازي اجازه لیکل سوې چي دا کنایه لفظ دئ، ورته د نیت ضرورت دئ او چي خاوند منکر دئ نو طلاق واقع نه دئ.

په شامي کي راځي:

وإن لم يقر أنه كتابه ولم تقم بينة، لكنه وصف الأمر على وجهه لا تطلق قضاء ولا ديانة، وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقر أنه كتابه . (فتاوى الشامي:٣/ ٢٤٧، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية:١/ ٣٧٩ – وفتاوى محموديه:١٢/ ٥٩٤ – والمحيط البرهاني:٣/ ٤٢٩، رشيديه). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ: « لا طلاق إلا بعد نكاح ».

وعن الشعبي: أن سئل عن رجل قال لا مرأته كل امرأة أتزوجها عليک فهي طالق؟ قال: فكل امرأة يتزوجها عليها فهي طالق. (مصنف ابن ابی شیبة).

شپږم .... باب

د تفویض، توکیل او تعلیق طلاق بیان

د تفویض طلاق یو صورت

سوال: په جنوبي افریقا کي دا قانون دئ لکه څنګه چي خاوند وخپلي ښځي ته د طلاق ورکولو حق لري همدارنګه ښځه هم حق لري چي خاوند ته طلاق ورکړي. یوه خاوند وخپلي ښځي ته وویل که محکمې ته وغوښتل سم او د طلاق خبره رامنځ ته سي نو ته ما ته طلاق راکړه مګر شریعت چي ما ته د طلاق کوم اختیار راکړی، هغه اختیار زه تا ته هیڅکله هم نه درکوم ایا په داسي خبرو تفویض د طلاق رامنځ ته سو او که نه او طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: د شریعت د قانون له مخي د طلاق اختیار یوازي له خاوند سره دئ، البته خاوند دا اختیار ښځي ته هم ورکولای سي چي تفویض طلاق ورته ویل کیږي. په یاد سوي صورت کي خاوند صراحةً وایي چي د شرعي طلاق اختیار زه ښځي ته نه ورکوم نو په همدې اساس تفویض طلاق رامنځ ته سوی نه دئ، البته د محکمې د غیر شرعی قانون له مشکل څخه د خلاصون له پاره د هغه غیر شرعي طلاق (یعنی د ښځي لخوا طلاق) متعلق دا خبره چي هلته بیا ته ما ته طلاق راکړه دا څه مشکل نه لري.

وګورئ په هندیه کي راځي:

أولياء المرأة إذا طلبوا من الزوج أن يطلقها فقال الزوج لأبيها : ماذا تريد مني ؟ أفعل ما تريد وخرج ثم طلقها أبوها، لم تطلق إن لم يرد الزوج التفويض ويكون القول قوله إنه لم يرد به التفويض، كذا في الخلاصة . (الفتاوى الهندية:۱/ ۴۰۷، فصل فی المشيئة).

په درمختار کي راځي:

(قال لها : اختاري أو أمرک بيدک ينوي).تفويض (الطلاق) لأنها كناية فلا يعملان بلانية (أو طلقي نفسک فلها أن تطلق في مجلس علمها به). وفي الشامية: ثم اعلم أن اشتراط النية إنما هو فيما إذا لم يذكر النفس أو ما يقوم مقامها في كلامه .... قوله فلا يعملان بلانية أي قضاءً وديانةً في حالة الرضاء أما في حالة الغضب أو المذاكرة فلا يصدق قضاءً في أنه لم ينو الطلاق .... قوله طلقي نفسک هذا تفويض بالصريح ولايحتاج إلى نية والواقع به رجعي.

(الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۳۱۵، باب تفويض الطلاق، سعيد).

په تقريرات الرافعی کي راځي:

(ثم اعلم أن اشتراط النية إنما هو) كلماتهم متفقة على اشتراط النية وذكر النفس أو ما يقوم مقامها والا كتفاء بذكر النفس عن النية تكون مخالفاً لما اتفقوا على اشتراطه فلا يعول عليه. (تقريرات الرافعی:۳/ ۲۱۹، سعيد) .

په عالمګيري کي راځي:

ثم لا بد من النية في قوله اختاري فإن اختارت نفسها في قوله اختاري كانت واحدةً بائنةً .... فإذا اختارت نفسها فأنكر قصد الطلاق فالقول له مع يمينه . (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۸۸، الباب الثالث في تفويض الطلاق).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

ولو لـم يرد الزوج بالأمر باليد طلاقاً فليس بشيء إلا أن يكون في حالة الغضب أو فی حالة مذاكرة الطلاق فلا يدين فی الـحكم. (الفتاوی التاتار خانیة:۳/ ۳۲۹، تفویض الطلاق – وكذا فی البحر الرائق:۳/ ۳۱۱، کوئٹه). والله ﷻ اعلم.

د تفویض طلاق او توکیل طلاق فرق

سوال: په تفویض طلاق او توکیل طلاق کي څه فرق دئ؟

الجواب: کله چي خاوند ښځي ته اختیار ورکړي چي هغه د ده لخوا ځان ته طلاق ورکړي او یا بل کس ته اختیار ورکړي چي که یې خوښه ده نو د ده ښځي ته دي طلاق ورکړي دې ته تفویض طلاق ویل کیږي او که بل عاقل بالغ ته حکم وکړي چي د ده ښځي ته طلاق ورکړي او د هغه اختیار ته یې ونه سپاري نو دې ته توکیل طلاق ویل کیږي.

دوهم فرق یې دا دئ چي تفویض تملیک دئ او توکیل تملیک نه دئ له همدې کبله په تفویض طلاق کي رجوع صحیح نه ده او په توکیل کي رجوع صحیح ده همدارنګه مالک په خپل اختیار او اراده سره کار کوي خو وکیل داسي نه دئ او همدارنګه تفویض طلاق تـه مجلس محدود وي خو توکیل محدود نه وي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما قوله : طلقي نفسك فهو تمليك عندنا سواء قيده بالمشيئة أو لا ويقتصر على المجلس .... والمراد من المشيئة المذكورة ههنا هو اختيار الإيثار لا اختيار الفعل وتركه ؛ لأنا لو حملناه عليه للغا كلامه ، ولو حملناه على اختيار الإيثار لم يلغ ، وصيانة كلام العاقل عن اللغو واجب عند الإمكان ، واختيار الإيثار في التمليك لا في التوكيل لما ذكرنا أن الوكيل يعمل عن رأي الموكل وتدبيره ، وإنما يستعير منه العبارة فقط فكان الإيثار من الموكل لا من الوكيل وأما المملك فإنما يعمل برأي نفسه وتدبيره وإيثاره لا بالمملك فكان التقييد

بالمشيئة مفيدًا ، والأصل أن التوكيل لغةً هو الإنابة ، والتفويض هو التسليم بالكلية لذلك سمى مشايخنا الأول توكيلًا والثاني تفويضًا ، وإذا ثبت أن المقيد بالمشيئة تمليك والمطلق توكيل والتمليك يقتصر على المجلس لما ذكرنا أن المملك إنما يملك بشرط الجواب في المجلس .... ثم التوكيل لا يقتصر على المجلس . (بدائع الصنائع:۳/ ۱۲۳، فصل فی التفويض. سعيد).

پہ فتاوی شامي کي راځي:

المراد بالتفويض تمليك الطلاق وذكر في الفتح في فصل المشيئة أن صاحب الهداية جعل مناط الفرق بين التمليك والتوكيل مرة بأن المالك يعمل برأي نفسه بخلاف الوكيل، ومرة بأنه عامل لنفسه بخلافه ومرة بأنه يعمل بمشيئة نفسه بخلافه .... ثم قال بعد ما بحث في الأولين أن الفرق الثالث أصوب .... (وتفويض الطلاق .... تمليك فيتوقف على قبولها في المجلس لاتوكيل فلم يصح رجوعه) تفريع على كونه ليس توكيلاً، فإن الوكالة غير لازمة فلو كان توكيلاً لصح عزلها ، قال في البحر عن جامع الفصولين: تفويض الطلاق إليها، قيل هو وكالة يملك عزلها والأصح أنه لا يملكه .... (قوله طلقي نفسک وأخواته متى شئت .... فلا يتقيد بالمجلس ولم يصح رجوعه) لأنه ليس توكيلاً بل لو صرح بتوكيلها لطلاقها يكون تمليكا لاتوكيلاً كما فی البحر عن الفصولی، (و أما في طلقي ضرتك أو قوله لأجنبي طلق امرأتي فيصح رجوعه منه ولم يقيد بالمجلس لأنه توكيل محض) أی بخلاف طلقي نفسک لأنها عاملة لنفسها فكان تمليكاً لا توكيلاً بحرف (وفي طلقي نفسک وضرتک كان تمليكاً في حقها) لأنها عاملة فيه لنفسها (توكيل في حق ضرتها) لأنها عاملة فيه لغيرها، (إلا إذا

علقه بالمشيئة فيصير تمليكاً) فلا يملك الرجوع لأنه فوض الأمر إلى رأيه، والمالک هو الذي يتصرف عن مشيئته والوكيل مطلوب منه الفعل شاء أو لم يشأ . (فتاوى الشامي:۳/ ۳۱۵- ۳۱۷، سعید – وکذا فی الهداية:۲/ ۳۸۱ – ومجموعة قوانین اسلامی: ۱۵۰، دفعه ۳۵). والله ﷻ اعلم.

تر تفويض طلاق وروسته د رجوع حکم

سوال: که څوک وخپلي ښځي ته تفويض طلاق ورکړي (د طلاق اختيار ورکړي) ايا بيرته يې ورڅخه اخيستلای سي او که نه؟

الجواب: په ياد پوښتل سوي صورت کي رجوع نه سي کولای يعنی چي خاوند وخپلي ښځي ته د طلاق اختيار ورکړي نو وروسته يې نه سي ورڅخه اخيستلای.

په هدايه کي راځي:

وإن قال طلقي نفسك فليس له أن يرجع عنه لأن فيه معنى اليمين لأنه تعليق الطلاق بتطليقها واليمين تصرف لازم. (الهداية:۲/ ۳۸۱، باب تفويض الطلاق).

وفي الدر المختار: ولا يملك الزوج الرجوع عنه أي عن التفويض . (الدر المختار:۳/ ۳۳۲، باب المشيئة، سعید – وکذا فی الهندية:۱/ ۳۸۷).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

تر تفويض طلاق وروسته خاوند رجوع نه سي کولای. (مجموعه قوانین اسلامي:ماده۴۲/ ۱۵۴).

والله ﷻ اعلم.

تر مجلسه پوري د تفويض محدوديت

سوال: ايا تفويض طلاق تر مجلس پوري محدود وي که تل وي؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي که خاوند ښځي ته د تل له پاره اختيار نه وي ورکړی او کومه معلومه موده يې هم نه وي معلومه کړې نو بيا تفويض طلاق تر مجلس پوري محدود دئ خو که خاوند د تل له پاره وښځي ته اختيار ورکړی وي مثلاً داسي يې ورته ويلي وي چي کله دي اراده سي

نو ځان ته طلاق ورکړه، نو بيا د تل له پاره ښځي اختيار لري او که يې کومه موده تعين کړې وي نو بيا تر هغې تاکلي مودې پوري اختيار لري. لنډه دا چي دا فيصله د خاوند په الفاظو کېداى سي.

په بدائع الصنائع كي راځي:

فإن كان مطلقًا بأن قال : أمرك بيدك فشرط بقاء حكمه بقاء المجلس وهو مجلس علمها بالتفويض فما دامت في مجلسها فالأمر بيدها .... وسواء قصر المجلس أو طال ؛ لأن ساعات المجلس جعلت كساعة واحدة ؛ فإن قامت عن مجلسها بطل ؛ لأن الزوج يطلب جواب التمليك في المجلس ، والقيام عن المجلس دليل الإعراض عن جواب التمليك .... هذا إذا كان التفويض مطلقًا عن الوقت فأما إذا كان موقتًا فإن أطلق الوقت بأن قال : أمرك بيدك إذا شئت أو إذا ما شئت أو متى ما شئت أو حيثما شئت ، فلها الخيار في المجلس وغير المجلس ولا يتقيد بالمجلس حتى لو ردت الأمر لم يكن ردا ولو قامت من مجلسها أو أخذت في عمل آخر أو كلام آخر فلها أن تطلق نفسها ؛ لأنه ما ملكها الطلاق مطلقًا ليكون طالبًا جوابها في المجلس ، بل ملكها في أي وقت شاءت .... فإن وقته بوقت خاص بأن قال : أمرك بيدك يومًا أو شهرًا أو سنةً أو قال : اليوم أو الشهر أو السنة أو قال : هذا اليوم أو هذا الشهر أو هذه السنة لا يتقيد بالمجلس ولها الأمر في الوقت كله تختار نفسها فيما شاءت منه . (بدائع الصنائع:۳/ ۱۱۳-۱۱۵، سعيد – وكذا فى الدر المختار:۳/ ۳۳۲، فصل فى المشيئة، سعيد – والفتاوى الهندية:۱/ ۳۹۰ – ومجموعه قوانين اسلامى:۱۵۱، دفعه ۳۶ – وفتاوى محموديه:۱۳/ ۱۳۹، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

اول طلاق د خاوند حق دئ، دوهم د ښځي او دریم د خاوند حق

سوال: که ښځه او خاوند د نکاح په وخت کي دا شرط ولګوي چي اول طلاق ورکول د خاوند حق دئ. دوهم د ښځي په اختیار کي دئ او دریم بیا د خاوند حق دئ ایا دا ډول تفویض صحیح کیږي او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي د ښځي د یوه طلاق تفویض صحیح دئ اوس ښځه یو طلاق ځان ته ورکولای سي خو د دې مطلب دا نه دئ، چي د خاوند له پاره اوس دوه طلاقه پاته دي بلکي د مخکي په شان اوس هم خاوند د درو طلاقو مالک دئ نو که خاوند ښځي ته درې طلاقه ورکړي نو واقع کیږي البته په یاد سوي صورت کي د ترتیب شرط هم سته نو هغه هم معتبر دئ یعني چي کله خاوند یو طلاق ورکړي تر هغه وروسته ښځه د یوه طلاق اختیار لري او تر هغه مخکي اختیار نه لري.

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

که خاوند د طلاق عدد یا وصف ذکر کړي او د تفویض یا توکیل په صورت کي یې شرط کړي نو بیا د هغه ذکر سوي عدد او وصف لحاظ ضروري دئ او د مخالفت په صورت کي یې طلاق نسته.

قال في الدر: طلقي نفسک ثلاثاً إن شئت فطلقت واحدة وكذا عكسه لايقع فيهما لاشتراط الموافقة لفظاً (قوله لاشتراط الموافقة لفظاً ....ان اشتراط الموافقة لفظاً خاص بالمعلق بالمشيئة فيكون تعليقاً للإتيان بصورة اللفظ .الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۳۳٤، فصل في المشيئة، سعيد – وهكذا في الهداية على فتح القدير:۳/ ۱۱۸ . (مجموعه قوانين اسلامی:۱۵۳، دفعه ٤۰).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د تفویض یو صورت دا دئ چي په ایجاب او قبول کي د طلاق تفویض وکړي دا هم البته ضروري ده چي ایجاب د ښځي له طرفه پر تفویض طلاق مشروط وي او نارینه هغه قبول کړي او که ایجاب د نارینه له جانبه وي او هغه ایجاب پر تفویض طلاق سره مشروط وي او ښځه هغه قبول کړي نو د دې بیا اعتبار نسته.

په خلاصة الفتاوی کې راځي:

وعلى هذا لو تزوج امرأة على انها طالق أو على أن أمرها بيدها تطلق نفسها كلما تريد لايقع الطلاق ولا يصير الأمر بيدها ولو بدأت المرأة فقالت: زوجت نفسي منک على أني طالق أو على أن أمري بيدي أطلق نفسي كلما أريد فقال الزوج: قبلت، وقع الطلاق وصار الأمر بيدها. (خلاصة الفتاوى:۲/ ۲۹، ط: المكتبة الرشيدية).

د خلاصة الفتاوی په حواله ابن نجیم په بحر الرائق: ۳ جلد ۳۱۸ صفحه کې او د ابن ماجه په حواله علامه شامي رحمه الله په ردالمحتار کې هم نقل کړی او په فتاوی بزازیه کې هم د طلاق د تفویض همدا صورت له څو شروطو او قیدو سره ذکر دئ عبارت یې دا دئ:

إذا خافت المرأة أنه إذا تزوجها لايجعل الأمر بيدها بعد التزوج تقول زوجت نفسي منک بكذا على أن أمري بيدي، أطلق نفسي منک بائناً متى شئت كلما ضربتني بغير جناية أو تزوجت علي أخرى أو اشتريت أو غبت عني سنة. (البزازية:٤/ ٢٣٤). **دا د خاوند لازم دي** (جدید فقهی مسائل:۳/ ٤٦، اشتراط فی النکاح).

په مجموعه قوانین اسلامي کې راځي:

د تفویض او یا توکیل له کبله د خاوند خپل حق نه ختمیږي. (مجموعه قوانین اسلامي: ١٥٤).

په جدید فقهي مباحث کې راځي:

شریعت چې د طلاق کوم اختیار وخاوند ته ورکړی د تفویض په واسطه همدا اختیار ښځې ته نقل کیږي او د دې اختیار له کبله د شریعت مصالح نه ضائع کیږي ځکه تر همدې انتقال وروسته هم د خاوند اختیار نه ختمیږي بلکې باقي پاته وي. (جدید فقهی مباحث:۱/ ۳۵۳).

((إن دخلت دار أمک فأنت طالق ثلاثاً)) سره اړوند څه حکم دئ؟

سوال: که یوه سړي وخپلي ښځي ته ووایي، إن دخلت دار أمک فأنت طالق ثلاثاً، ایا د دخول په صورت کي طلاق واقع کیږي او که نه او ایا د خلاصون کومه لاره سته او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي که ښځه د خپلي مور وکور ته داخله سي نو دري طلاقه واقع کیږي ښځه مغلظه ګرځي او د حلالې پرته بیا نکاح نه کیږي او د خلاصون لاره یې دا ده چي خاوند وښځي ته یو طلاق ورکړي او د عدت تر تېرېدو وروسته ښځه د مور کور ته ولاړه سي نو هغه تعلیق پوره کیږي خو څنګه چي وکور ته د داخلېدو په وخت کي نکاح نسته نو دري طلاق نه واقع کیږي او وروسته بیا خاوند او ښځه په خپله رضا بیا نکاح سره وکړي، البته دا حیله هغه وخت ګټه لري چي تر اوسه لا ښځه د مور کور ته تللې نه وي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

وإذا أضافه إلى شرط وقع عقيب الشرط مثل أن يقول لامرأته إن دخلت الدار فأنت طالق وهذا بالاتفاق لأن الملك قائم في الحال، والظاهر بقاؤه إلى وقت وجود الشرط فيصح يميناً أو إيقاعاً . (الهداية: ۲/ ۳۸۵، باب الايمان فی الطلاق).

په فتاوی هندیه کي راځي:

وإذا أضافه إلى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقاً مثل أن يقول لامرأته إن دخلت الدار فأنت طالق. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۴۲۰، فصل فی تعليق الطلاق).

وفی الدر المختار: وتنحل اليمين بعد وجود الشرط مطلقاً لكن إن وجد فی الملک طلقت وعتق وإلا لا، فحيلة من علق الثلاث بدخول الدار أن يطلقها واحدة ثم بعد العدة تدخلها فتنحل اليمين فينكحها. (الدر المختار: ۳/ ۳۵۵، باب التعليق، سعيد). والله ﷻ اعلم.

که زه لېنس ته ولاړم نو درې طلاقه دي پر ما واقع وي

سوال: که چا وخپلې ښځې ته ووېل، که زه لېنس ته ولاړم نو پر ما دې درې طلاقه وي او وروسته هغه شخص وهمدې ځای ته ولاړ ځو په هېره سره ایا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کې د یاد شخص پر ذمه قضاءً طلاق واقع دئ مګر دیانةً واقع نه دئ.

وګورئ په فتاوی تنقیح الحامدیه کې راځي:

سئل في رجل حلف بالطلاق أن لا يسافر حتى يعطي زوجته خرجيةً فسافر ولم يعطها خرجيةً وادعى أنه نسي ذلك فهل يقع عليه الطلاق المذكور ؟ (الجواب) : نعم، يقع طلاق الساهي قضاءً فقط والمعتمد أن السهو والنسيان مترادفان كما في الأشباه . (تنقيح الفتاوى الحامدية: ١/ ٣٦، دار الاشاعة العربية).

په درمختار کې راځي:

ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل.... أو مخطئاً .... أو غافلاً أو ساهياً.... يقع قضاءً فقط . وفي الشامية: قوله أو غافلاً أو ساهياً فالظاهر أن المراد هنا بالغافل الناسي بقرينة عطف الساهي عليه، وصورته أن يعلق طلاقها على دخول الدار مثلا فدخلها ناسياً التعليق أو ساهياً. قوله يقع قضاء متعلق بالمخطىء وما بعده، لكن في وقوعه في الساهي والغافل على ما صورناه لا يظهر التقييد بالقضاء، إذ لا فرق في مباشرة سبب الحنث بين التعمد وغيره . (الدر المختار مع رد المحتار: ٣/ ٢٤١، كتاب الطلاق، سعيد).

وفي حاشية الطحطاوي على الدر: قوله أو ساهياً صورته أن يحلف أن لا يتلفظ بالطلاق فجرى على لسانه الطلاق سهواً منه. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ٢/ ١٠٩، كوئته). والله تعالیٰ اعلم.

که ودې ځای ته ولاړې نو بیا مه راځه

سوال: خاوند وخپلې ښځې ته ووېل که ودې ځای ته ولاړې نو بیا مه راځه ایا په دې الفاظو سره تعلیق صحیح سو او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کې دا الفاظ کنایه دي که د خاوند نیت د طلاق وي نو تعلیق صحیح دئ او وهغه ځای ته د ښځې په تللو سره طلاق واقع کیږي او که د طلاق نیت نه وي نو بیا طلاق نه واقع کیږي.

په هدایه کې راځي:

وإذا أضافه إلى شرط وقع عقيب الشرط مثل أن يقول لامرأته إن دخلت الدار فأنت طالق وهذا بالاتفاق لأن الملك قائم في الحال، والظاهر بقاؤه إلى وقت وجود الشرط فيصح يميناً أو إيقاعاً . (الهداية:۲/ ۳۸۵، باب الایمان فی الطلاق).

په درمختار کې راځي:

الكنايات لاتطلق بها قضاءً إلا بنية أو بدلالة الحال، قوله قضاءً قيد به لأنه لايقع ديانةً بدون النية، ولو وجدت دلالة الحالُ فوقوعه بواحد من النية أو دلالة الحال إنما هو فی القضاء فقط. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۹۶، باب الكنايات، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کې راځي:

که صریح طلاق معلق کړي نو د شرط تر وجود وروسته رجعي طلاق واقع کیږي او که بائن معلق کړي نو بیا بائن واقع کیږي، مطلب دا چې څنګه طلاق چې معلق کړي هغه واقع کیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ۱۰/ ۹۱). والله ﷻ اعلم.

كله چي باد ولګيږي نو ته طلاقه يې

سوال: يوه سړي وخپلي ښځي ته ووېل كله چي باد ولګيږي نو ته طلاقه يې ايا دا تعليق صحيح سو؟

الجواب: په ياد سوي صورت كي دا شرط ((چي كله باد ولګيږي)) باطل دئ بلكي طلاق في الحال واقع دئ.

وګورئ په هدايه كي راځي:

فأما ما لا يصح التعليق بمجرد الشرط كقوله إن هبت الريح أو جاء المطر وكذا إذا جعل واحداً منهما أجلاً إلا أنه تصح الكفالة ويجب المال حالاً لأن الكفالة لما صح تعليقها بالشرط لا تبطل بالشروط الفاسدة، كالطلاق والعتاق . (الهداية:۳/ ۱۱۷، كتاب الكفالة).

وفى البناية في شرح الهداية للعلامة العينى رحمة الله عليه: قوله كالطلاق والعتاق أى كما أن الشرط المجهول فى الطلاق والعتاق يبطل ويصح الطلاق والعتاق، بأن قال: أعتقت عبدي أو طلقت امرأتي إلى قدوم الحاج والحصاد أو القطاف. (البناية فى شرح الهداية:۳/ ۲۳۹، المكتبة الامدادية – وفتح القدير:۷/ ۱۸٦، دار الفكر – والعناية على هامش الفتح:۷/ ۱۸۷، دار الفكر).

په درمختار كي راځي:

وشرط صحته كون الشرط معدوماً على خطر الوجود، وفى الشامية: قوله على خطر الوجود أي متردداً بين أن يكون وأن لايكون لامستحيلاً ولا متحققاً لامحالة لأن الشرط للحمل والمنع وكل منهما لايصور فيهما،شرح التحرير. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۳٤۲، باب التعليق، سعيد). والله تعالى اعلم.

که مي وفلاني شی ته وکتل نو پر ما ښځه طلاق ده؟

سوال: که چا وویل که مي فلاني شی ته وکتل نو پر ما ښځه طلاق ده. بیا دې سړي هغه شی ته وکتل خو تر اوسه دخول او خلوت صحیحه سوی نه دئ ایا طلاق واقع سو او که نه. او دلته تجدید د نکاح کفایت کوي او که د حلالې ضرورت دئ؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي شرط موجود سوی دئ او طلاق واقع دئ البته تجدید د نکاح کفایت کوي او د حلالې ضرورت نسته.

وګورئ په هدایه کي راځي:

وإذا أضافه إلى شرط وقع عقيب الشرط مثل أن يقول لامرأته إن دخلت الدار فأنت طالق وهذا بالاتفاق لأن الملك قائم في الحال، والظاهر بقاؤه إلى وقت وجود الشرط فيصح يميناً أو إيقاعاً . (الهداية: ٢/ ٣٨٥، باب الايمان فى الطلاق).

وفيه : وإذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله أن يتزوجها فى العدة وبعد انقضائها لأن المحلية باق لأن زواله معلق بالطلقة الثالثة فينعدم قبله. (هداية: ٢/ ٣٩٩، باب الرجعة).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

که تر دخول او خلوت صحیحه مخکي یو یا دوه طلاق ورکړي نو تجدید د نکاح کفایت کوي او د حلالې ضرورت نسته. (فتاوی محمودیه: ١٣/ ٣٦٤). والله تعالى اعلم.

که دلیل ونه وایي نو په یوه طلاق جلا سه

سوال: د ښځي او خاوند تر منځ جنګ وو، په دې وخت کي ښځي ورته وویل، زه له تا څخه جلا کېدل غواړم خاوند ورڅخه د جلا کېدلو دلیل وغوښتئ خو ښځي جواب ورنه کړ بالاخره خاوند ورته وویل که د جلا کېدلو دلیل ونه وایې نو په یوه طلاق جلا سه او ښځي وویل صحي ده ایا اوس طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي د ښځي له خوا هر وخت د دلیل ویل ممکن دي، نو تر څو چي ښځه ژوندۍ وي او مړه سوې نه وي نو طلاق نه واقع کیږي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ولو قال: أنت طالق إن لـم أطلقك، لـم تطلق حتى يموت لأن العـدم لا يتحقق إلا باليأس عن الحياة وهو الشرط كما في قوله إن لم آت البصرة، وموتها بمنزلة موته هو الصحيح (الهداية: ۲/ ۳٦۵، باب ايقاع الطلاق).

په فتح القدير كي راځي:

قوله ولو قال: أنت طالق أن لـم أطلقك، لـم تطلق حتى يموت باتفاق الفقهاء لان الشرط إن لا يطلقها وذلك لا يتحقق ألا باليأس عن الحياة لأنه متى طلقها في عمره لـم يصدق انه لـم يطلقها بل صدق نقيضه وهو أنه طلقها واليأس يكون في آخر جزء من أجزاء حياته ولـم يقدره المتقدمون بل قالوا: تطلق قبيل موته، فإن كانت مدخولاً بها وورثته بحكم الفرار و ألا لاترثه، وقوله وهو الشرط يعني العدم قوله كما في أن لـم آت البصرة، إعطاء نظير، والمراد إن كل شرط بان منفي حكمه كذلك وهو أن لا يقع الطلاق أو العتاق إذا علق به ألا بالموت لما ذكرنا وزاد قيداً حسناً في المبتغى بالغين المعجمة، قال: إذا قال لإمرأته: أن لـم تخبريني بكذا فأنت طالق ثلاثاً فهو على الأبد إذا لـم يكن ثمة ما يدل على الفور، انتهى. (فتح القدير: ٤/ ۳۱، باب ايقاع الطلاق، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

په تعليق او تنجيز كي د زوجينو اختلاف

سوال: د ښځي او خاوند تر منځ جنګ وو خاوند وويل اوس له همدې ځاى څخه ځم خو تا ته دوه طلاقه دركوم بيا ځم، ښځه وايي خاوند وويل، چي زه تا په درو طلاق پرېږدم او خاوند څلوريا پنځه ورځي وروسته په سفر ولاړئ اوس شرعاً د چا قول معتبر دئ؟

الجواب: په ياد سوي صورت كي ښځه د فوري طلاق دعوه كوي خو خاوند د معلق نو كه ښځه شاهدان نه لري، د خاوند قول د قسم سره معتبر دئ البته كه ښځه په خپله دعوه كي شاهدان ولري نو

بيا دوه رجعي طلاقه واقع دي او تر عدت مخکې خاوند رجوع کولای سي خو تر عدت وروسته تجديد د نکاح په د جانبينو په رضايت ضروري ده.

همدارنګه که د خاوند قول معتبر سي بيا هيڅ طلاق نسته ځکه شرط موجود سوی نه دئ ځکه خاوند ويلي وه چي اوس ځم حال دا چي اوس نه بلکي ډېر وروسته تللی دئ.

وګورئ په شامي کي راځي:

(فإن اختلفا في وجود الشرط فالقول له مع اليمين إلا إذا برهنت) قوله في وجود الشرط أو تحققا كما في شرح المجمع : أي اختلفا في وجود أصل التعليق بالشرط، أو في تحقق الشرط بعد التعليق، وفي البزازية : ادعى الاستثناء أو الشرط فالقول له، ثم قال : وذكر النسفي : ادعى الزوج الاستثناء وأنكرت فالقول لها ولا يصدق بلا بينة، وإن ادعى تعليق الطلاق بالشرط وادعت الإرسال فالقول له .(فتاوى الشامى:٣/ ٣٥٦، مطلب اختلاف الزوجين فى وجود الشرط، سعيد).

په هدايه کي راځي:

وإن اختلفا في وجود الشرط فالقول قول الزوج إلا أن تقيم المرأة البينة لأنه متمسك بالأصل وهو عدم الشرط ولأنه ينكر وقوع الطلاق وزوال الملك والمرأة تدعيه . (الهداية:٢/ ٣٨٦).

په احسن الفتاوى کي راځي:

په تعليق او شرط کي شاهدان پر ښځه دي که داسي نه وي د قسم سره د خاوند قول معتبر دئ.(احسن الفتاوى:٥/ ١٩٦). والله ﷻ اعلم.

که مي د ښځي له اجازې پرته نکاح وکړه

سوال: زید د شاهدانو په حضور کي د الله ﷻ په نوم قسم واخیستئ او داسي يې وویل: که ما داولي ښځي له اجازې پرته بله نکاح وکړه نو هغه دوهمه ښځه پر ما طلاقه ده اوس زید د اولي ښځي له اجازې پرته بله نکاح کړې، ځينو مفتيانو ورته ويلي د قسم کفاره ورکړه طلاق نسته ايا دا صحيح ده؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي طلاق واقع دئ ځکه شرط پوره سوی او هم د قسم کفاره بايد ورکړي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

وإذا أضاف الطلاق إلى النكاح وقع عقيب النكاح مثل أن يقول لامرأة إن تزوجتك فأنت طالق .... أن هذا تصرف يمين لوجود الشرط والجزاء فلا يشترط لصحته قيام الملك في الحال لأن الوقوع عند الشرط . (الهداية:۲/ ۳۸۵، باب الايمان فی الطلاق).

په درمختار کي راځي:

لا تطلق الجديدة في قوله للقديمة إن نكحتها أي فلانة عليك فهي طالق إذا نكح فلانة عليها في عدة البائن، فلو نكح في عدة الرجعي أو لم يقل عليك طلقت الجديدة . (الدر المختار:۳/ ۳٦۵، باب التعليق، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د تعليق يو صورت

سوال: ديوه سړي ښځه خفه سوه او ولاړه سړی ورته وويل: که د جنوري د مياشتي تر اول تاريخ پوري رانه غلې نو نکاح ختمه او فسخ ده، د جنوري تر اول تاريخ پوري هغه ښځه نه راغله اوس طلاق واقع سو او که نه او که واقع وي نو کوم طلاق واقع کيږي؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي که د خاوند د طلاق نيت وو نو يو بائن طلاق واقع دئ.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولو قا لها لانكاح بيني وبينک أو قال لم يبق وبينک نكاح أو قال فسخت نكاحک يقع الطلاق إذا نوی. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:۱/ ٤٦٨). والله ﷻ اعلم.

که دي ما ته بيا ټيلفون وکړ نو ...

سوال: يوه سړي مخکښې وخپلې ښځې ته دوه طلاقه ورکړي وه بيا يې رجوع کړې وه، يو ورځ ښځې او خاوند په ټيلفون خبري کولې چې خاوند په غصه سو او ښځې ته يې وويل، که دي بيا ټيلفون راته وکړ نو پوه سه چې درېيم طلاق واقع سو تر دې خبرې مخکښې هم خاوند ورته وويل، زه طلاق درکوم خو څنګه چې دې اوله خبره اورېدلې وه، تعليق يې نه وه اورېدلی ځکه ښځه وايي چې هغه وخت ما ټيلفون له ځان څخه ليري کړ، نو څه وخت وروسته ښځې د معذورت غوښتلو له پاره خاوند ته ټيلفون وکړ او خبري يې ورسره وکړې ايا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي پر دې خبره ((که دي بيا ټيلفون را وکړ نو پوه سه چې درېيم طلاق واقع سو)) طلاق واقع نه دئ.

په هنديه کي راځي:

دا ده انگار أو كرده انگار لايقع وان نوی ولو قال لها بعد ما طلبت الطلاق. (الفتاوی الهندية:۱/ ۳۸۰).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

امرأة قالت لزوجها مرا طلاق ده قال الزوج دا ده انگار أو كرده انگار لايقع الطلاق وإن نوی. (فتاوی قاضی خان:۲/ ۲۱۰).

همدارنګه بل ځای يې ليکلي دي:

كانه قال لها بالعربية: احسبي انكا طالق وان قال ذلک لايقع وان نوي. (قاضی خان:۲/ ۲۱۰).

ظفر احمد عثماني صاحب په دې مسئله کي مکمل بحث کړئ هلته يې په امداد الاحکام جلد ۲ ص صفحه ۴۲۳ کي وګورئ.

البته دا خبره چي ښځي ټيلفون له ځانه څخه لير کړ او تعليق يې نه دئ اوريدلی شرعاً څه ګټه نه لري ځکه که خاوند طلاق ورکړ نو بيا اوريدل او نه اوريدل سره برابر دي لکه د خط ليکلو په شان.

په درمختار کي راځي:

ثم المرسومة لاتخلو إما أن أرسل الطلاق بأن كتب أما بعد فأنت طالق فكما كتب هذا يقع الطلاق. (الدر المختار مع الشامی:۳/ ۲۹۶، سعيد).

په عزيزي الفتاوی کي هم دا مسئله بيان سوي حاصل يې دا دئ چي د طلاق د قوع له پاره د ښځي اوريدل او حضور ضروري نه دي. (عزيز الفتاوی:۱/ ۴۸۲). والله ﷻ اعلم.

که مي دا تقرير واوريدئ نو ...

سوال: يوه سړي و زيد ته وويل، د دې فلاني مولوي تقير مه اوره ځکه دا تقرير له زهرو ډک دئ، زيد ورته وويل، که بيا مي دا تقرير واوريدئ نو پر ما ښځه طلاق ده. وروسته بيا زيد له ټيپ څخه د هغه مولوي صاحب تقرير واوريدئ ايا طلاق واقع سو او که نه؟

الجواب: په ياد سوي صورت کي طلاق ځکه واقع نه دئ چي زيد د هغه مولوي تقرير بعينه نه دئ اوريدلی بلکي د هغه د تقرير عکس يې اوريدلی او عکس د عين حکم نه لري لکه د سجده تلاوت متعلق چي هم همدا حکم دئ.

وګورئ په الآت جديده کي راځي:

له ټيپ څخه د سجدهٔ تلاوت ايت اوريدل سجده نه لازموي ځکه د سجدهٔ تلاوت له پاره صحيح تلاوت شرط دئ او ټيپ خوځوندی شی نه دئ او نه هم شعور لري. (الات جديده:۲۲۳).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:۴۸۶، نظام الفتاوی:۱/ ۷۲، فتاوی محموديه:۷/ ۴۷۲، فتاوی دار العلوم زکريا:۲).

نوټ: په عام ډول ويل كيږي چي په تعليق كي يمين (قسم) پټ دئ خو هغه حقيقي او اصطلاحي يمين نه دئ نو د طلاق مدار پر حقيقت دئ نه پر عكس البته د يمين خبره جلا ده چي د هغه بحث په كتاب الايمان كي راځي. والله ﷻ اعلم.

كه مي هر كله هم واده وكړ، نو ...

سوال: كه چا دا قسم اخيستى وي چي كه مي هر كله هم واده وكړ نو پر ما ښځه طلاق ده نو د داسي سړي د واده كولو به څه طريقه وي حال دا چي دا كس د واده ضرورت هم لري؟

الجواب: داسي سړى بايد خپله فيصله شافعي قاضي ته وړاندي كړي او هغه به د ده تعليق ورختم كړي ځكه د شوافعو په نزد د ده دا خبره لغوه او بې معنا ده.

دوهمه حيله دا ده چي كوم فضولي كس دي د هغه له پاره نكاح وكړي او دغه كس دې بالفعل قبوله كړي.

وګورئ په فتاوى شامي كې راځي:

قال في البحر: وللحنفي أن يرفع الأمر إلى شافعي يفسخ اليمين المضافة فلو قال: إن تزوجت فلانة فهي طالق ثلاثاً فتزوجها فخاصمته إلى قاض شافعي وادعت الطلاق فحكم بأنها امرأته وأن الطلاق ليس بشيء حل له ذلك. (فتاوى الشامي:٣/ ٣٤٦، مطلب في فسخ اليمين المضافة الى الملک، سعيد).

وفي الدر المختار: كل امرأة تدخل في نكاحي أو تصر حلالاً لي فكذا فأجاز فضولي بالفصل لايحنث. (الدر المختار:٣/ ٨٤٦، باب اليمين في الضرب....، سعيد).

وفي الشامي: وينبغي أن يجئ إلى عالم ويقول له ما حلف واحتياجه إلى نكاح الفضولي فيزوجه العالم امرأة ويجز بالفعل فلا يحنث. (فتاوى الشامي:٣/ ٣٤٨، باب التعليق، سعيد).

په فتاوى سراجيه كي راځي:

القاضي إذا فوض إلى شافعي ليقضي ببطلان اليمين بالطلاق جاز وعليه الفتوى. (الفتاوى السراجية: صـ ۱۱۹، كتاب القضاء، باب المتفرقات). والله ﷻ اعلم.

په تعليق طلاق کي په شافعي قاضي فيصله کول

سوال: که يوه سړي ويلي وي چي کله ما هم نکاح وکړه نو هغه طلاقه ده او يا يې يوه ښځه په شهوت مسه کړې وي او وروسته بيا په ناخبرۍ کي د هغې له لور سره نکاح وکړي او لادونه ولري نو ايا په داسي صورتونو کي حنفي قاضي يا مفتي دا سړی شافعي قاضي يا مفتي ته ور ولېږلای سي او هغه د دغه کس طلاق کالعدم او د دوهم صورت نکاح يې جايزه کړي ايا حنفي کس دا فيصله منلای سي او که نه؟

الجواب: د ځينو کتابو له عباراتو څخه معلومېږي چي حنفي قاضي، شافعي قاضي ته او شافعي قاضي وحنفي قاضي ته فيصله ورلېږلای سي او د هغه فيصله نافذه ده خصوصاً د ضرورت په وخت کي څه مشکل نسته.

۱_ په فتاوی سراجيه کي راځي:

القاضي إذا فوض إلى شافعي ليقضي ببطلان اليمين بالطلاق جاز وعليه الفتوى. (الفتاوى السراجية: صـ ۱۱۹، كتاب القضاء، باب المتفرقات).

يعنی که چا دا قسم کړی چي هر کله که ما ښځه وکړه نو هغه طلاق ده بيا د نکاح په صورت کي حنفي قاضي، شافعي قاضي ته فيصله ولېږله نو صحيح ده او قسم باطل دئ.

په البحر الرائق کي راځي:

(الف) وللحنفي أن يرفع الأمر إلى شافعي يفسخ اليمين المضافة فلو قال « إن تزوجت فلانة فهي طالق ثلاثًا » فتزوجها فخاصمته إلى قاض شافعي وادعت الطلاق، فحكم بأنها امرأته وأن الطلاق ليس بشيء، حل له ذلك، ولو وطئها الزوج بعد النكاح قبل الفسخ ثم فسخ يكون الوطء حلالًا إذا فسخ وإذا فسخ بعد التزوج لا يحتاج إلى تجديد العقد.

(باء) ولو قال : كل امرأة أتزوجها فهي طالق فتزوج امرأةً وفسخ اليمين ثم تزوج امرأةً أخرى لا يحتاج إلى الفسخ في كل امرأة كذا ذكر في الخلاصة ، وفي الظهيرية : أنه قول محمد رحمه الله عليه: وبقوله يفتي . وكذلك في قوله: « كل عبد اشتريته ».

(ج) وإذا عقد أيمانًا على امرأة واحدة فإذا قضى بصحة النكاح بعد، ارتفعت الأيمان كلها .

وإذا عقد على كل امرأة يمينًا على حدة لا شك أنه إذا فسخ على امرأة لا ينفسخ على الأخرى.

(د) وإذا عقد يمينه بكلمة كلما فإنه يحتاج إلى تكرار الفسخ في كل يمين .

فهي أربع مسائل في شرح المجمع للمصنف فإن أمضاه قاض حنفي بعد ذلك كان أحوط .(البحر الرائق:٤/ ٦، باب التعليق، كوئته – وكذا فى الشامى:٣/ ٣٤٦، سعيد – وفتح القدير:٧/ ٣٠٦، دار الفكر – خلاصة الفتاوى:٢/ ٢٧، الرشيدية).

وفي المحيط البرهاني: وإذا كتب القاضي الحنفي إلى القاضي الشافعي [فى الأصل الشفعوى] في تقليده في هذه الصورة وأمثالها إن كان التقليد للحكم ببطلان اليمين كان جائزاً في قول أبي حنيفة رحمه الله عليه .... وذكر شمس الأئمة الحلواني رحمه الله في «شرح أدب القاضي» للخصاف رحمه الله : أن حكم الحاكم فيما عدا الحدود والقصاص من المجتهدات، نحو الكنايات، والطلاق المضاف جائز، هو الظاهر من مذهب أصحابنا رحمهم الله تعالى، وهو الصحيح. لكن مشايخنا امتنعوا عن هذه الفتوى .... كيلا يتجاسر العوام. (المحيط البرهانى:٤/ ٢٥٤، كتاب النكاح، المجلس العلمى).

۲_ که کوم سړی له خپلي خواښي سره زنا وکړي او بیا فیصله قاضي ته وړاندي سي او اتفاقاً هغه قاضي شافعي وي او هغه د تفرق حکم ونه کړ بلکي نکاح یې بر قراره وګرځوله اوس دې ښځي ته روا ده چي له همدې خاوند سره ژوند وکړي؟.

په فتاوی سراجیه کي راځي:

إذا زنى بأم امرأته فراجعته إلى القاضي، فلم يفرق بينهما وأقرهما على ذلك، فليس لقاض آخر أن يفرق بينهما. (الفتاوى السراجية:۱۱۶، كتاب القضاء، مايجوز من القضاء).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

قال صاحب الأقضية: ولو زنى رجل بأم امرأته، ولم يدخل بها، فجلده القاضي ورأى أن لايحرمها عليه، فأقرها معه وقضى بذلك نفذ قضائه. (الفتاوى الهندية:۳/ ۳۵۸).

وذكر مثله صاحب المحيط عن صاحب الأقضية: وزاد بقوله: نفذ قضاؤه؛ لأنه قضى في فصل مجتهد فيه، فإن بين الصحابة اختلافاً في هذه الصورة، فعلي وابن مسعود .... بالحرمة، وابن عباس رضي الله عنه كان لا يقول بالحرمة، وكان يقول: «الحرام لا يحرم الحلال» وربما كان برواية مرفوعاً إلى رسول الله ﷺ. (المحيط البرهاني:۱۲/ ۲۴۷، كتاب القضاء – وكذا في خلاصة الفتاوى:۴/ ۲۶).

۳_ همدارنګه که یو سړی له یوې ښځي سره زنا وکړي او بیا د هغې له لور سره نکاح وکړي بیا قاضي د نکاح د صحت فیصله وکړي د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد نکاح نه صحیح کیږي مګر د امام محمد رحمه الله په نزد نکاح صحیح کیږي.

د فتاوی ظهیریې څخه معلومیږي چي فتوا د امام محمد رحمه الله پر قول ده.

په فتح القدیر کي راځي:

وحكى فى الفصول فيما إذا زنى بامرأة ثم تزوج بنتها فقضى بجوازه.... عند أبي يوسف رحمه الله لا ينفذ للنص عليه، وعند محمد رحمه الله يجوز. (فتح القدير:۷/ ۳۰۳، دار الفكر – وكذا فى الفتاوى الهندية:۳/ ۳۵۸ – والمحيط البرهانى:۱۲/ ۲۴۷).

۴ _ يوې شافعي مذهبه انجلۍ د مشر له اجازې پرته له حنفي هلک سره نکاح وکړه نو دا نکاح د شوافعو په اند صحيح نه ده خو د احنافو په اند صحيح ده ايا اوس ښځې ته روا ده چې له خاوند سره ګډ ژوند وکړي؟

الجواب: انجلۍ بايد د والدينو په رضا نکاح کړې وای که دا ممکن نه وه نو د مسئلې حل دا دئ چې وکوم حنفي قاضي ته دي مسئله وړاندې کړي بيا چې هغه د دې نکاح د صحت فيصله وکړي نو دا نکاح صحيح ده. دا نکاح د احنافو په نزد مخکې هم صحيح وه، خو اوس د انجلۍ هم اطمنان وسو.

قال الماوردي: وليس للزوج الاستبداد بعقد مختلف فيه، إلا أن كانا من أهل الاجتهاد واداهما إلى ذلک وإلا فوجهان أحدهما: نعم، وثانيهما: لا، إلا بإفتاء مفت أو حكم حاكم. (حواشى الشيخ عبد الحميد الشروانى والشيخ احمد بن قاسم العبادى على تحفة المحتاج:۷/ ۲۸۳).

په درمختار کې راځي:

والحنفي كفء لبنت الشافعي، وقال الشامي: يعني لو تزوج حنفي بنت شافعي نحكم بصحة العقد، وإن كان في مذهب أبيها أنه لايصح العقد إذا كانت بكراً إلا بمباشرة وليها، لأنا نحكم بما نعقد صحته في مذهبنا.

قال فى البزازية: وسئل شيخ الإسلام عن بكر بالغة شافعية زوجت نفسها من حنفي أو شافعي بلا رضا الأب هل يصح؟ أجاب: نعم وإن كانا يعتقدان عدم الصحة، لأنا نجيب بمذهبنا، لا بمذهب الخصم. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:۳/ ۹۳، باب الكفاءة، سعيد).

۵_ که چا د غیر عادل شاهدانو په شاهدۍ سره د خپلې نابالغې لور نکاح له بل نابالغ هلک سره وکړه کله چې هغوی بالغ سي او ژوند یې سره ګران وي نو حنفي قاضي دي وشافعي قاضي ته خط ولیکي چې هغه دا نکاح باطله کړي او که شافعي قاضي هغه باطله کړي نو دا فیصله نافذه ده.

همدارنګه که یو سړی د فاسقو شاهدانو په شاهدي نکاح وکړي نو که د ضرورت په وخت کي حنفي قاضي وشافعي قاضي ته دا ښځه ولیږي چې هغه دا نکاح باطل کړي نو دا فیصله یې نافذه ده.

وګورئ په هندیه کي راځي:

ذکر في مجموع النوازل: سئل شیخ الإسلام عطاء بن حمزة عن أبي الصغیرة زوجها من صغیر، وقبل أبوه، وکبر الصغیران وبینهما غیبة منقطعة، وقد کان التزویج بشهادة الفسقة هل یجوز للقاضي أن یبعث إلی شافعي المذهب لیبطل هذا النکاح بسبب أنه کان بشهادة الفسقة ؟ قال : نعم . (الفتاوی الهندیة:۳/ ۳۶۲ – وکذا فی حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:۳/ ۱۹۶ - وفتاوی الشامی:۵/ ۴۰۳).

وفی المحیط: سئل شیخ الإسلام أبو الحسن عطاء بن حمزة عن رجل غاب عن امرأته غیبة منقطعة، وقد کان النکاح بینهما بشهادة الفسقة، هل یجوز للقاضي أن یبعث إلی القاضی الشافعي لیبطل هذا النکاح بهذا السبب؟ قال نعم. (المحیط البرهانی:۴/ ۲۵۸).

۶_ یوه سړي له یوې انجلۍ سره د هغې د ولي له اجازې پرته نکاح وکړه او تر دخول وروسته یې درې طلاقه ورکړل اوس د هغې انجلۍ ولي د هغه انجلۍ له همدې سړي سره نکاح کول غواړي خو له حلالې څخه هم خلاصون غواړي نو د دې صورت به داسي وي چې قاضي به زوجین (خاوند او ښځه) شافعي قاضي ته ولیږي هغه به اوله نکاح په فیصله باطله کړي او دوهمه نکاح به صحیح کړي نو دا فیصله نافذه ده او څه مشکل پکښې نسته.

وګورئ په فتح القدیر کي راځي:

وكذا لو كان بغير ولي فطلقها ثلاثاً فبعث إلى شافعي يزوجها منه بغير محلل، ثم يقضي بالصحة وبطلان النكاح الأول يجوز إذا لم يأخذ القاضي الكاتب ولا المكتوب إليه شيئا، ولا يظهر بهذا حرمة الوطء السابق ولا شبهة ولا خبث في الولد، كذا في الخلاصة .(فتح القدير:۳/ ۲۰۳، كتاب النكاح، دار الفكر – وكذا في الفتاوى الهندية:۳/ ۳۶۲ – والبحر الرائق:۳/ ۸۹ – والمحيط البرهاني:٤/ ۲۵۹).

لنډه دا چې له همدې تېرو مسائلو ښخه دا معلومه سوه چې که حنفي قاضي وشافعي قاضي ته کومه مسئله وروليږي او هغه فيصله پر وکړي نو فيصله يې نافذه ده او عمل پـه جـائز دئ. والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ كل طلاق جائز إلا طلاق المعتوه المغلوب على عقله. (رواه الترمذي).

وعن مجاهد وعطاء والحسن ومحمد وإبراهيم وسعيد بن المسيب أنهم قالوا: طلاق السكران جائز وعن عبد الرحمن بن عنبسة: أن عمر بن عبد العزيز أجاز طلاق السكران وجلده. (مصنف ابن ابی شیبة).

روى الفرج بن فضالة عن عمرو بن شراحيل أن امرأة أكرهت زوجها على طلاقها فطلقها فرفع ذلك إلى عمر فأمضى طلاقها. (عمدة القاری).

اووم .... باب

د سکران، مجنون او مکره د طلاق بیان

د نشي په حالت کي د طلاق حکم

سوال: که څوک د نشي په حال کي ښځي ته طلاق ورکړي ایا طلاقه واقع سوه او که نه؟ همدارنګه که څوک په دوا نشه سوی وي د هغه د طلاق څه حکم دئ؟

الجواب: په حنفي مذهب کي د زجر او سزا په ډول د نشه کوونکی طلاق واقع کیږي په دې شرط چي ناروا نشه وي خو که چیري څوک په مباح شی نشه سي او یا هم د ضرورت په وخت کي نشې ته مجبوره سي نو د دې کس طلاق واقع نه دئ.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

السكران إذا طلق امرأته فإن كان سكره بسبب محظور بأن شرب الخمر أو النبيذ طوعًا حتى سكر وزال عقله فطلاقه واقع عند عامة العلماء وعامة الصحابة رضي الله عنهم .... عموم قوله عز وجل: ﴿الطلاق مرتان﴾ إلى قوله سبحانه وتعالى ﴿فإن طلقها فلا تحل له من

بعد حتى تنكح زوجًا غيره ﴾ من غير فصل بين السكران وغيره إلا من خص بدليل، وقوله عليه الصلاة والسلام « كل طلاق جائز إلا طلاق الصبي والمعتوه » ولأن عقله زال بسبب هو معصية، فينزل قائمًا عقوبةً عليه وزجرًا له عن ارتكاب المعصية ....بخلاف ما إذا زال بالدواء، لأنه ما زال بسبب هو معصية. (بدائع الصنائع:۳/ ۹۹، شرائط ركن الطلاق، سعيد).

وفي الدر المحتار: سواء كان سكره من الخمر أو الأشربة الأربعة المحرمة أو غيرها من الأشربة المتخذة من الحبوب والعسل عند محمد رحمه الله . قال في الفتح : وبقوله يفتى لأن السكر من كل شراب محرم . وفي البحر عن البزازية : المختار في زماننا لزوم الحد ووقوع الطلاق . وما في الخانية من تصحيح عدم الوقوع فهو مبني على قولهما من أن النبيذ حلال، والمفتى به خلافه . وفي النهر عن الجوهرة أن الخلاف مقيد بما إذا شربه للتداوي فلو للهو والطرب فيقع بالإجماع .... قوله أو أفيون أو بنج .... للتداوي لم يقع لعدم المعصية، وإن للهو وإدخال الآفة قصداً، فينبغي أن لا يتردد في الوقوع . وفي تصحيح القدوري عن الجواهر : وفي هذا الزمان إذا سكر من البنج والأفيون يقع زجراً، وعليه الفتوى، وتمامه في النهر . قوله (نعم لو زال عقله بالصداع أو بمباح لم يقع) كما إذا سكر من ورق الرمان فإنه لا يقع طلاقه ولا عتاقه . ونقل الإجماع على ذلك صاحب التهذيب، كذا في الهندية . (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۲۳۹-۲٤۰، مطلب فی تعریف السكران وحكمه، سعید - وكذا فی المحیط البرهانی فی الفقه النعمانی:۳/ ۳٤۸، الفصل الثالث فی بیان من يقع طلاقه ومن لا يقع طلاقه، رشیدیه).

وفی الفتاوی الهندية:

ولو أكره على شرب الخمر أو شرب الخمر لضرورة وسكر وطلق امرأته، اختلفوا فيه. والصيحيح أنه كما لا يلزمه الحد لا يقع طلاقه ولا ينفذ تصرفه. كذا فى فتاوى قاضى خان. (التفاوى الهندى:۳/ ۳۵۳، فصل فيمن يقع طلاقه وفيمن لا يقع طلاقه).

همدا ډول وګورئ: (الفقه على المهذاهب الأربعة:٤/ ٢١٩، شروط الطلاق – وجديد فقهى مسائل:۳/ ۲۱۵).

په كفايت المفتي كي رائحي:

د نشې په حال كي طلاق واقع كيږي خو شرط دا دئ چي په خپل اختيار سره يې نشه كړې وي كه چا د هيري په سبب او يا هم د جبر او زور په سبب نشه كړې وي د هغه طلاق واقع نه دئ. (كفايت المفتى:٦/ ٢٩ – خير الفتاوى:٥/ ٢٣٧ – فتاوى رحيميه:٨/ ٢٧٣ – واحسن الفتاوى:٥/ ١٨٢).

په مجموعه قوانين اسلامي كي رائحي:

په اسلام كي نشه ممنوع ده كه څوک ناروا نشه وكړي طلاق يې واقع دئ كه څه هم حواس يې پر ځاى نه وي، البته لاندي صورتونه مستثنى دي:

۱_ د علاج له پاره يې نشه استعمال كړې وي.

۲_ د اضطرار او مجبورى په وخت كي لكه لوږه او يا تنده يې نشه كونكى شى استعمال كړى وي.

۳_ په واقعي ډول د كوم چا لخوا جبراً نشه وركول سوې وي.

۴_ په ناپامي كي يې نشه كوونكى شي استعمال كړى وي.

په دې صورتونو كي د نشه سوي كس طلاق واقع نه دئ. (مجموعة قوانين اسلام:١٣٤-١٣٥ – جديد مسئلې او د هغه د علماو فيصلې:٩٠). والله ﷻ اعلم.

که د غصې او قهر په سبب عقل زائل سي

سوال: که څوک د قهر په سبب له خپل اختیار څخه ووځي، خپل سر له دېوال سره وهي، د کور شیان ماتوي، څه یې په یاد هم نه وي، وږغ یې بدل سي دا کس مسحور هم دئ که په داسي حالت کي ښځي ته دري طلاقه ورکړي ایا طلاق واقع دئ او که نه؟

الجواب: که واقعاً هم دغه کس په همدې ډول وو لکه په سوال کي چي ذکر دي نو طلاق یې واقع نه دئ، البته اینده باید علاج وکړي تر څو بیا دا عمل تکرار نه سي.

وګورئ په الفقه علی مذاهب الاربعه کي راځي:

فاعلم أن بعض العلماء قد قسم الغضب إلى ثلاثة أقسام: الأول: ـ أن يكون الغضب في أول أمره، فلا يغير عقل الغضبان بحيث يقصد ما يقوله ويعلمه، ولا ريب في أن الغضبان بهذا المعنى يقع طلاقه وتنفذ عباراته باتفاق.

الثاني: ـ أن يكون الغضب في نهايته بحيث يغير عقل صاحبه ويجعله كالمجنون الذي لا يقصد ما يقول ولا يعلمه ولا ريب في أن الغضبان بهذا المعنى لا يقع طلاقه لأنه هو والمجنون سواء.

الثالث: ـ أن يكون الغضب وسطا بين الحالتين بأن يشتد ويخرج عن عادته، ولكنه لا يكون كالمجنون الذي لا يقصد ما يقول ولا يعلمه والجمهور على أن القسم الثالث يقع به الطلاق. والتحقيق عند الحنفية أن الغضبان الذي يخرجه غضبه عن طبيعته وعادته بحيث يغلب الهذيان على أقواله وأفعاله فإن طلاقه لا يقع وإن كان يعلم ما يقول ويقصده، لأنه يكون في حالة يتغير فيها إدراكه، فلا يكون قصده مبنياً على إدراك صحيح، فيكون كالمجنون، لأن المجنون لا يلزم أن يكون دائما في حالة لا يعلم معها ما يقول: فقد يتكلم في كثير من الأحيان

بکلام معقول، ثم لا يلبث أن يهذي . (الفقه على المذاهب الأربعة: ٤/ ٢٢٧، شروط الطلاق، القاهرة).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

هغه غضب او قهر چي انسان پکښي ښه او بد نه پېژني او په خپله خبره نه پوهيږي دا هغه کيفيت دئ چي طلاق نه پکښي واقع کيږي. (مجموعة قوانين اسلامی:١٣٣ – وامداد المفتين:٢/ ٥٩٣). والله ﷻ اعلم.

که څوک له پيري يا سحر څخه متاثر وي

سوال: که په چا جادو يا سحر سوی وي او په همدې حالت کي ښځي ته طلاق ورکړي ايا طلاق يې واقع دئ او که نه؟ همدارنګه که پر چا پيريان ناست وه هغه دا ويلای سي چي ما طلاق نه دئ ورکړي بلکي پيريانو طلاق ورکړی دئ؟

الجواب: د سحر او جناتو دعوه ظاهراً صحيح نه ده بلکي دا له طلاق څخه فرار او د ځان خلاصون دئ، البته که مسحور او پيرياني کس لېونتوب او جنون که د شهرت حد ته رسېدلی وي بيا يې طلاق واقع نه دئ.

په درمختار کي راځي:

لا يقع طلاق .... والمجنون .... والمعتوه من العته وهو اختلال في العقل. وفي الشامية: قوله « والمجنون » قال في التلويح : الجنون اختلال القوة المميزة بين الأمور الحسنة والقبيحة المدركة للعواقب بأن لا تظهر آثارها وتتعطل أفعالها، إما لنقصان جبل عليه دماغه في أصل الخلقة، وإما لخروج مزاج الدماغ عن الاعتدال بسبب خلط أو آفة وإما لاستيلاء الشيطان عليه وإلقاء الخيالات الفاسدة إليه بحيث يفرح ويفزع من غير ما يصلح سببا . وفي البحر عن الخانية : رجل عرف أنه كان مجنوناً فقالت له امرأته طلقتني البارحة فقال أصابني

الجنون ولا يعرف ذلك إلا بقوله كان القول قوله . (قوله وهو اختلال في العقل) هذا ذكره في البحر تعريفاً للجنون وقال: ويدخل فيه المعتوه، وأحسن الأقوال في الفرق بينهما أن المعتوه هو القليل الفهم المختلط الكلام الفاسد التدبير، لكن لا يضرب ولا يشتم بخلاف المجنون. وصرح الأصوليون بأن حكمه كالصبي . (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٢٤٣، كتاب الطلاق، سعيد).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما شرائط الركن فأنواع، بعضها يرجع إلى الزوج .... أما الذي يرجع إلى الزوج فمنها :- أن يكون عاقلًا حقيقةً أو تقديرًا، فلا يقع طلاق المجنون والصبي الذي لا يعقل، لأن العقل شرط أهلية التصرف، لأن به يعرف كون التصرف مصلحةً، وهذه التصرفات ما شرعت إلا لمصالح العباد . (بدائع الصنائع:٣/ ٩٩، شرائط ركن الطلاق، سعيد).

په فتاوى محموديه كي راځي:

كه د جنون او سحر په سبب يې حواس خراب سوي وي په داسي ډول چي په خپلو خبرو نه پوهيږي نو د دې كس طلاق واقع نه دئ او كه پوهيږي نو واقع دئ، دا د ده له نورو كارو څخه هم معلوميږي. (فتاوى محموديه:١٢/ ٦٥١- والتاتار خانية:٣/ ٢٥٥ - وفتاوى رحيميه:٨/ ٢٦٢ - مجموعه قوانين اسلامى:ص ١٣١). والله ﷻ اعلم.

د جبر او اكراه طلاق

سوال: كه څوک چا ته ووايي چي ښځه دي طلاقه كړه كه نه وهم دي ايا دا اكراه او جبر شرعاً بلل كيږي او كه د قتل او يا زخمي كېدو په صورت كي اكراه او جبره بلل كيږي؟

الجواب: په دې صورت كي د مكره طلاق واقع دئ، البته د قتل او يا زخمي كېدو او داسي نورو سختو تكاليفو په صورت كي اكراه او جبر موجوديږي.

وګورئ په خزانة الفقه کي راځي:

إذا كره رجلاً بقتل أو تلف عضو من أعضائه أو بأمر يخاف منه تلف نفسه أو ذهاب عضو من أعضائه أن يطلق امرأته .... إلى قوله ففعل ذلك جاز. (خزانة الفقه:۳۳۳-۳۳٤، كتاب الاكراه، باب ماتصح مع الاكراه، المكتبة الغفورية).

په شرح منظونه ابن وهبان کي راځي:

أن الإكراه يحصل بالضرب أو بالحبس أو بالقيد. قال: واعلم أن أصحابنا أجمعوا على أن الإكراه بوعيد تلف النفس أو عضو من الأعضاء إكراه معتبر شرعاً، سواء حصل على فعل أو قول. وإن حصل الإكراه بالحبس والتقييد، فإن كان على فعل فليس بمعتبر شرعاً، ويجعل كأن المكره فعل ذلك بغير إكراه، وإن كان على قول لايستوي فيه الجد والهزل، كالبيع والشراء والوقف والهبة والإجارة والبراءة والصدقة، فيعتبر شرعاً، كما سيأتي فی البيت الذي بعد هذا. وإن كان على ما يستويان فيه كالطلاق والعتاق فغير معتبر. (شرح منظومة ابن وهبان:۲/ ۸۷، فصل من كتاب الحجر والاكراه، الوقف المدنی، ديوبند).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

والإكراه بو عيد القتل وإتلاف العضو يظهر فی الأقوال والأفعال جميعاً. (فتاوی قاضی خان:۳/ ٤۸۳). والله ﷻ اعلم.

د پولیسو په زور طلاق

سوال: که چا ته خسر او یا بل څوک ووایي، طلاق نامه ولیکه که نه پولیسو ته دي په لاس ورکوم ایا دا د اکراه طلاق واقع دئ او که نه او ایا دا اکراه ده او که نه؟ ایا په طلاق کي اکراه ملجي موثر دئ؟

الجواب: په دې صورت کې په جبر او اکراه سره په طلاق ليکلو سره طلاق نه واقع کيږي، البته په ژبه سره واقع کيږي او د پوليسو اخطار هم اکراه بلل کيږي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبدًا أو مكرهًا فإن طلاقه صحيح .وفى الشامى: وفى البحر: أن المراد الإكراه على التلفظ بالطلاق، فلو أكره على أن يكتب طلاق امرأته فكتب لاتطلق. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٣/ ٢٣٦، مطلب فى الإكراه، سعيد).

وفى البزازية: أكره على أن يكتب على قرطاس « امرأته طالق أو أمرها بيدها » لـم يصح إلا إذا نوى. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ١٣١، كتاب الاكراه – وكذا فى البحر الرائق:٣/ ٢٤٦).

وفى الهندية: وأما أنواعه فالإكراه في أصله على نوعين إما إن كان ملجئًا أو غير ملجئ، فالإكراه الملجئ هو الإكراه بوعيد تلف النفس أو بوعيد تلف عضو من الأعضاء، والإكراه الذي هو غير الملجئ هو الإكراه بالحبس والتقييد . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٥).

په عالمګيري کې راځي:

ولو كانت هي المسلطة فأكرهته على أن يطلقها بوعيد تلف ففعل لـم يكن لـها عليه شيء من المهر ، ولو كانت أكرهته بالحبس أخذته بنصف الصداق.(الفتاوى الهندى:٥/ ٤٣).

په فتاوی دار العلوم کې راځي:

يوازې د طلاق نامې د دستخط کولو څخه چې کله زيد په ژبه طلاق ورکړې نه وي او نه يې په خپله ليکلې وي طلاق نه واقع کيږي . (فتاوى دار العلوم:٩/ ١٥٤ – وكتاب الفتاوى:٥/ ١٠٢).

په کتاب الفتاوی کې راځي:

د پوليسو اخطار هم اکراه بلل کيږي. (كتاب الفتاوى:٥/ ٩٠).

په فتاوى قاضي خان كې راځي:

رجل أكره بالضرب والسجن على أن يكتب طلاق امرأته فلانة بنت فلان بن فلان، فكتب: امرأته فلانة بنت فلان بن فلان طالق، لا تطلق امرأته. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية: ۱/ ۴۷۲، فصل فی الطلاق بالكتابة). والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ الذين يظاهرون منكم من نسائهم ما هن أمهاتهم ... ﴾. (سورة المجادلة، الآية:۲).

وقال الله تعالى: ﴿ للذين يؤلون من نسائهم تربص أربعة أشهر فإن فاءوا فإن الله غفور رحيم ﴾. (سورة البقرة، الآية:۲۲۶).

وقال تعالى: ﴿ فإن خفتم ألا يقيما حدود الله فلا جناح عليهما فيما افتدت به ﴾. (سورة البقرة، الآية:۲۲۹).

اتم ...... باب

د ظهار بيان

په شريعت كي د ظهار صحيح مفهوم

سوال: يو شخص وخپلي ښځي ته وويل ستا فرج زما له پاره داسي دئ لكه د مور او خور اوس ځيني علماء وايي دا ظهار دئ حال دا چي دا كس ظهار نه پېژني او نه يې هم د ظهار په نيت دا خبره كړې ده شرعاً د دې څه حكم دئ؟

الجواب: په دې صورت كي د علماوو قول صحيح دئ او دا ظهار دئ، كفاره يې لازمه ده او له شريعت څخه ناخبري عذر نه ده. په شريعت كي د ظهار صحيح مفهوم داسي دئ:

د شريعت په اصطلاح کي د ښځي يا د هغې د کوم داسي اندام چي له هغه څخه د ټول بدن کنايه هم ويل کيږي له خپلو محارمو سره يا د هغو له داسي عضوي سره چي کتل ورته حرام وي تشبيه ورکولو ته ظهار ويل کيږي.

وګورئ په فتح القدير کي راځي:

والظهار لغة مصدر ظاهر وهو مفاعله من الظهر فيصح أن يراد به معان مختلفة ترجع إلى الظهر معنى ولفظاً بحسب اختلاف الأغراض فيقال: ظاهرت، أي قابلت ظهرك بظهره حقيقة، وإذا غابظته أيضاً وأن لم تدابره حقيقة . (فتح القدير: ٤/ ٢٤٥، باب الظهار، دار الفكر – وكذا في الدر المختار: ٣/ ٤٦٥، باب الظهار، سعيد).

وفي العناية في شرح الهداية: وفي اصطلاح الفقهاء: تشبيه المنكوحة بالمحرمة على سبيل التأبيد اتفاقاً بنسب أو برضاع أو مصاهرة. (شرح العناية على هامش فتح القدير: ٤/ ٢٤٦، دار الفكر – مجموعه قوانين اسلامى: ١٦١، قانون ظهار).

همدارنګه د ظهار ځيني شرائط په لاندي ډول دي:

۱ _ خاوند بايد عاقل او بالغ وي.

۲ _ د ښځي و ټول ذات يا داسي اندام ته تشبيه ورکول چي له هغه څخه ټول بدان مراد کېداى سي.

۳ _ له محرماتو ابديه سره يا د هغوى له داسي اندام سره تشبيه ورکول چي هغه ته کتل حرام وي.

۴ _ حرفه تشبيه لکه: مثل، ډول او نور الفاظ بايد صراحةً ذکر وي کنه د تشبيه الفاظ نه وي دا کلام لغوه دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وشرعاً تشبيه المسلم.... زوجته .... أو تشبيه ما يعبر عنها من أعضا من أعضائها كالرأس والرقبة أو تشبيه جزء شائع منها كنصفك ونحوه بمحرم عليه تأبيداً أي بعضو يحرم النظر إليه من أعضاء محرمة عليه نسباً أو صهرية أو رضاعاً كما في البحر، أو بجملتها كانت على

كـأمي فإنـه تـشبيه بـالظهر وزيـادة. (الـدر المختـار مـع الـشامى:۳/ ٤٦٦، سـعيد – وكـذا فـى فـتح القدير:٤/ ٢٤٥، دار لفكر).

په البحر الرئق كي راځي:

والحاصل أن هنا أربعة أركان : المشبه، والمشبه والمشبه به .... أما الأول : وهو المشبه وهو بكسر الباء فهو الزوج البالغ العاقل المسلم ....وأما الثاني : وهو المشبه بفتح الباء المنكوحة أو عضو منها يعبر به عن كلها أو جزء شائع، وأما الثالث : وهو المشبه به عضو ولا يحل النظر إليه من محرمة عليه تأبيدًا . وأما الرابع . وهو الدال عليه وهو ركنه وهو صريح وكناية . (البحر الرائق:٤/ ٩٥، باب الظهار، كوئته – وكذا في فتح القدير:٤/ ٢٤٥، ط: دار الفكر – وبدائع الصنائع:۳/ ۲۳۰-۲۳۳، شرائط الظهار، ط: سعيد – ومجموعه قوانين اسلامى:١٦٢، قانون ظهار).

د ظهار ډولونه:

اظهار پر دوه ډوله دئ:

۱_ د الفاظو په اعتبار چي د دې هم دوه ډوله دئ:

الف _ صريح.

باء_ كنايه.

الف_ صريح هغه دئ چي د ابدي محرمات له داسي اندام سره تشبيه ورکړي چي هغو ته کتل حرام وي مثلاً داسي ووايي ته پر ما داسي يې لکه زما د مور شا او دې ته صريح ظهار ويل کيږي او له نيت څخه پرته هم صحيح کيږي.

باء_ د محرماتو له پوره ذات سره تشبيه ورکول لکه داسي چي ورته ووايي، ته داسي يې پر ما لکه زما مور دا کنايه ظهار دئ ځکه دلته د ظهار، د طلاق، کرامت او نورو ټولو احتمال سته نو دلته د

نيت ضرورت دئ او د نيت مطابق حكم هم دئ مګر د طلاق په جګړې او مذاكرې كي قضاءً بيا نيت اعتبار نه لري.

وګورئ په بدائع الصنائع كي راځي:

لو قال لامرأته : أنت علي كظهر أمي كان مظاهرًا سواء نوى الظهار أو لا نية له أصلًا ؛ لأن هذا صريح في الظهار إذ هو ظاهر المراد مكشوف المعنى عند السماع بحيث يسبق إلى إفهام السامعين فكان صريحًا لا يفتقر إلى النية كصريح الطلاق .... وكذا إذا قال : أنا منك مظاهر أو قد ظاهرتك فهو مظاهر نوى به الظهار أو لا نية له ؛ لأن هذا اللفظ صريح في الظهار أيضًا .... وكذا لو قال : أنت علي كبطن أمي أو كفخذ أمي أو كفرج أمي فهذا وقوله : أنت علي كظهر أمي على السواء ؛ لأنه يجري مجرى الصريح لما ذكرنا .

ولو قال لها: أنت علي كأمي أو مثل أمي يرجع إلى نيته فإن نوى به الظهار كان مظاهرًا ، وإن نوى به الكرامة كان كرامةً ، وإن نوى به الطلاق كان طلاقًا ، وإن نوى به اليمين كان إيلاءً ؛ لأن اللفظ يحتمل كل ذلك إذ هو تشبيه المرأة بالأم فيحتمل التشبيه في الكرامة والمنزلة ....

(بدائع الصنائع:٣/ ٢٣١، شرائط الظهار، سعيد).

وفي الشامي: وينبغي أن لا يصدق قضاءً في إرادة البر إذا كان في حال المشاجرة وذكر الطلاق . (فتاوى الشامي:٣/ ٤٧٠، باب الظهار، سعيد – وفتح القدير:٤/ ٢٥١، باب الظهار، دار الفكر –ومجموعه قوانين اسلامى:١٦٢، قانون ظهار).

د ظهار دوهم وېش د وخت په اعتبار: دا هم پر دوه ډوله دئ:

الف _ ظهار موقت.

باء _ ظهار مطلق.

الف _ ظهار موقت هغه دئ چي د خاص وخت طرف ته يې نسبت سوى وي لكه : أنت علي كظهر امي يوماً أو شهراً أو سنةً.

د دې حكم دا دئ چي وخت ختم سي ظهار هم ختميږي او كفاره هم ضروري نه ده.

په بدائع الصنائع كي راځي:

وإن كان موقتًا بأن كان قال : لها أنت علي كظهر أمي يومًا أو شهرًا أو سنةً صح التوقيت وينتهي بانتهاء الوقت بدون الكفارة عند عامة العلماء ... أن تحريم الظهار أشبه بتحريم اليمين من الطلاق ؛ لأن الظهار تحله الكفارة كاليمين يحله الحنث ، ثم اليمين تتوقت كذا الظهار . (بدائع الصنائع:٣/ ٢٣٥، سعيد – وكذا فى فتح القدير:٤/ ٢٥٧، دار الفكر).

باء _ ظهار مطلق هغه دئ چي د كوم خاص وخت طرف ته يې نسبت نه وي سوي لكه انت على كظهر امي.

وګورئ د مطلق ظهار حكم:

١ _ په ظهار سره طلاق نه واقع كيږي البته كه د طلاق نيت وي بيا واقع كيږي، خو تر څو چي كفاره نه وي اداء سوې صحبت حرام دئ.

٢ _ كه خاوند كفاره نه اداء كوي او له ښځي سره صحبت نه كوي نو ښځه بايد قاضي ته عريضه وكي چي هغه خاوند په كفاره يا ظهار مجبور كړي.

وګورئ په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما حكم الظهار فللظهار أحكام : (١) منها حرمة الوطء قبل التكفير ولقوله عز وجل ﴿والذين يظاهرون من نسائهم ثم يعودون لما قالوا فتحرير رقبة من قبل أن يتماسا ﴾. (٢) ومنها حرمة الاستمتاع بها من المباشرة والتقبيل واللمس عن شهوة والنظر إلى فرجها عن شهوة قبل أن يكفر (٣) ومنها مع بقاء النكاح كحرمة الفعل فى المطلقة بعد زوال النكاح

وتلك الحرمة تعم البدن كله كذا هذه.... (٤) ومنها أن للمرأة أن تطالبه بالوطء وإذا طالبته به فعلى الحاكم أن يجبره حتى يكفر ويطأ. (بدائع الصنائع:٣/ ٢٣٤، احکام الظهار، سعید – وكذا فی فتح القدير:٤/ ٢٤٦،ط: دار الفكر – ومجموعه قوانین اسلامی:١٦٣، قانون ظهار).

د ظهار د ختمېدلو او يا باطلېدو حکم:

د ظهار حکم په لاندي څو شيانو سره ختم او يا باطليږي:

١_ له زوجينو څخه يو مړ سي، ځکه دلته محل باطل سو.

٢_ د ظهار د کفارې تر اداء کولو وروسته د ظهار حکم ختميږي.

٣_ که ظهار موقت وي د وخت په ختمېدلو سره ظهار ختميږي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما بيان ما ينتهي به حكم الظهار أو يبطل فحكم الظهار ينتهي بموت أحد الزوجين لبطلان محل حكم الظهار ولا يتصور بقاء الشيء في غير محله وينتهي بالكفارة وبالوقت إن كان موقتًا. (بدائع الصنائع:٣/ ٢٣٥، سعيد – وفتح القدير:٤/ ٢٤٦، دار الفكر).

د کفاره ظهار بيان:

١_ په کفاره ظهار کي دوه مياشتي مسلسل روژه نيول کيږي په داسي ډول چي د رمضان مياشت او هغه پنځه ورځي به پکښي نه وي چي روژه پکښي حرامه ده.

٢_ که د کفاره ظهار په روژو کي د رمضان يا د لوی اختر ورځي راسي نو د کفارې ظهاره روژه به بيرته له سره شروع کوي.

٣_ که څوک په روژه قادر نه وي نو هغه به دوه وخته شپېته (٦٠) مسکينانو ته په ډک نس په اوسط ډول ډوډئ ورکوي او يا به شپېتو (٦٠) کسانو ته هر کس ته نصف صاع (دوه کېلو) غنم ورکوي او يا به يې قيمت ورکوي.

په هدايه کي راځي:

وكفارة الظهار عتق رقبة فإن لم يجد فصيام شهرين متتابعين فإن لم يستطع فإطعام ستين مسكيناً للنص الوارد فيه فإنه يفيد الكفارة على هذا الترتيب .... صوم شهرين متتابعين ليس فيهما شهر من رمضان ولا يوم الفطر ولا يوم النحر ولا أيام التشريق .... وإن أفطر منها يوماً بعذر أو بغير عذر استأنف لفوات التتابع وهو قادر عليه عادة. (الهداية: ۲/ ۴۱۳-۴۱۴، فصل في الكفارة -ومجموعه قوانين اسلامی: ۱۶۳، قانون ظهار، مسلم پرسنل لا بورد). والله تعالیٰ اعلم.

په ظهار کي د عزت او احترام د نيت حکم

سوال: يوه سړي وخپلې ښځي ته وويل، ته زما د مور او خور په ډول يې، تر دې وروسته دا ښځه د پلار وکور ته ولاړه اوس خاوند وايي، چي زما د طلاق او يا ظهار نيت نه وه بلکي د احترام او عزت نيت مي وه حال دا چي د دې خبري کولو په وخت کي د زوجينو جنګ وه شرعاً د دې حکم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي ديانةً د خاوند نيت اعتبار لري، البته قضاءً د جنګ او اختلاف په وخت کي د عزت او احترام نيت اعتبار نه لري، لهذا عند القضاء شرعاً کفاره لازم ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وينبغي أن لا يصدق قضاءً في إرادة البر إذا كان في حال المشاجرة وذكر الطلاق. (فتاوى الشامي: ۳/ ۴۷۰، باب الظهار، سعيد - وفتح القدير: ۴/ ۲۵۱، باب الظهار، دار الفكر).

وفي البدائع: ولو قال: أنت علي كأمي أو مثل أمي يرجع إلى نيته فإن نوى به الظهار كان مظاهرًا، وإن نوى به الكرامة كان كرامةً، وإن نوى به الطلاق كان طلاقًا، وإن نوى به اليمين كان إيلاءً؛ لأن اللفظ يحتمل كل ذلك إذ هو تشبيه المرأة بالأم فيحتمل التشبيه في الكرامة والمنزلة. (بدائع الصنائع: ۳/ ۲۳۱، شرائط الظهار، سعيد).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

که محرماتو سره د پوره ذات تشبیه ورکړي ظهار کنایه دئ خو د طلاق، عزت او احترام نیت هم پکښې صحیح دئ، البته د مذاکرې طلاق او جنګ په وخت کې قضاءً د احترام او عزت نیت نه صحیح کیږي. (مجموعه قوانین اسلامی:۱۶۲، المادة:۴۸). والله ﷻ اعلم.

ته زما مور یې ویل څه حکم لري؟

سوال: که څوک وخپلې ښځې ته وایي، ته زما مور یې د طلاق او یا ظهار نیت وکړي طلاق سو که ظهار؟

الجواب: په یاد صورت کې دا جمله د تشبیه د حرف څخه پرته ویل سوې نو نه ظهار سو او نه طلاق او کلام لغوه دئ.

قاضي مجاهد الاسلام وایي:

حرف تشبیه یعنې لفظ د مثل، ډول، لکه او داسې نورو الفاظو ذکر ... دا رکن اعظم دي له هغوی پرته کلام لغوه ګرځي لکه څوک چې وایي، ته زما مور یې یا زما د مور شا یې دا کلام لغوه دئ. (مجموعه قوانین اسلامی:۱۶۲).

په فتاوی هندیه کې راځي:

لو قال أنت أمي لا يكون مظاهرًا، وينبغي أن يكون مكروهًا، ومثله أن يقول: يا ابنتي، ويا أختي. (الفتاوى الهندية:۱/ ۵۰۶، باب الظهار).

په درمختار کې راځي:

ويكره قوله « أنت أمي » و « يا ابنتي »و « يا أختي » . وفي الشامية: والذي في الفتح: وفي « أنت أمي » لا يكون مظاهراً، وينبغي أن يكون مكروهاً، فقد صرحوا بأن قوله لزوجته « يا أخية» مكروه . وفيه حديث رواه أبو داود أن رسول الله ﷺ سمع رجلاً يقول لامرأته « يا أخية» فكره ذلك ونهى عنه .... ولولا هذا لأمكن أن يقال: هو ظهار، لأن التشبيه في « أنت أمي » أقوى منه مع ذكر الأداة. (الدر المختار مع الفتاوى الشامي:۳/ ۴۷۰).

وفی البدائع: وروى ابن سماعة عن محمد فيمن قال لامرأته: « إن فعلت كذا فأنت أمي » يريد التحريم، قال: هو باطل؛ لأنه لم يجعلها مثل أمه ليكون تحريمًا، وإنما جعلها أمه فيكون كذبًا. قال محمد: ولو ثبت التحريم بهذا لثبت إذا قال: أنت حواء، وهذا لا يصح.

(بدائع الصنائع:۳/ ۱۷۰، سعید – وکذا فی فتح القدیر:۴/ ۲۵۲ – والبحر الرائق:۴/ ۹۸ – ومجمع الانہر:۲/ ۳۳۸، باب الظہار).

البته دا مسئله مفتي رشيد احمد صاحب ډېره په تفصيل سره ذکر کړې او دا يې ثابته کړې چې بائن طلاق واقع کيږي. وګورئ (احسن الفتاوی:۵/ ۱۸۵–۱۸۷).

مګر د حضرت مفتي صاحب په فتوا زه نه پوهېږم ځکه په حديث کي دا طلاق نه دئ بلل سوى که دلته د نيت ضرورت واى، نو رسول الله ﷺ به هم د نيت پوښتنه کړې واى.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن نافع بن عجير بن عبد يزيد بن ركانة أن ركانة بن عبد يزيد طلق امرأته سهيمة البتة، فأخبر النبى ﷺ بذلك وقال: ما أردت إلا واحدةً. فقال رسول الله ﷺ « والله ما أردت إلا واحدةً »؟ فقال ركانة: والله ما أردت إلا واحدةً، فردها إليه رسول الله ﷺ. (ابو داؤد شریف:۱/ ۳۰۰).

بلکي له حديث څخه معلوميږي چي د ظهار مخصوص الفاظ دي په هغو سره ظهار او يا طلاق واقع کيږي په کوم الفاظو کي چي کاف محذوف وي هلته ظهار يا طلاق نه واقع کيږي که نه، په عربو کي د کاف حذف معروف دئ همدارنګه د نن سبا د طلاق کثرت او مشکلات هم دا تقاضا کوي چي طلاق واقع نه سي، د مفتي صاحب دا خبره چي دا الفاظ په طلاق کي معروف دي کوم اعتبار نه لري ځکه دا الفاظ د طلاق نه دي لکه د درو ډېرو غورځول چي هم معروف دي مګر طلاق نه په واقع کيږي تر څو تلفظ نه وي.

په فتاوی شامي کي راځي:

(ورکنه لفظ مخصوص) ... وبه ظهر أن من تشاجر مع زوجته فأعطاها ثلاثة أحجار ينوى الطلاق، ولم يذكر لفظاً صريحاً ولا كناية لا يقع عليه، كما أفتى به الخير الرملي وغيره. (فتاوى الشامي:

په فتاوی هنديه کي راځي:

وفي مجموع النوازل: سئل شيخ الإسلام عمن ضرب امرأته فقال: دار طلاق (أي خذى الطلاق) قال: لا تطلق. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٨٢).

وفيه أيضاً: ولو قالت لزوجها طلقني، فأشار بثلاث أصابع وأراد بذلك ثلاث تطليقات لايقع مالم يقل بلسانه. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٥٧ – وكذا فى الخانية على هامش الهندية:١/ ٤٦٢). والله ﷻ اعلم.

ستا ساتل د مور، خور ساتل دي د دې څه حکم دئ؟

سوال: که څوک ښځي ته ووايي، ستا ساتل د مور، خور ساتل دي ايا په دې الفاظو طلاق او يا ظهار واقع کيږي؟

الجواب: په ياد صورت کي دا کلام لغوه دئ نه طلاق دئ او نه هم ظهار ځکه حرف تشبيه نه ستته.

قاضي مجاهد الاسلام وايي:

حرف تشبيه لکه، مثل، لکه او داسي نور صراحةً ذکر او دا رکن اعظم دي او له دې پرته کلام لغوه دئ نو ته زما مور يې يا زما د مور د شا په شان يې دا کلام لغوه دئ. (مجموعه قوانين اسلامى:١٦٢)

په فتاوی محموديه کي راځي:

سوال: يوه سړي د داسي غصې په حالت کي چي خپل سره يې هم مات کړئ وخپلي ښځي ته ورېل، له تا سره صحبت کول له مور سره صحبت کول دي ايا دا الفاظ ظهار دئ او که نه؟

الجواب: لو قال: إن وطئتك وطئت أمي، فلا شيء عليه، كذا في غاية السروجي، د عالمګيري په ياد عبارت څخه معلوميږي چې په مذکور صورت کې پر خاوند نه کفاره سته او نه طلاق بلکې دا کلام لغوه دئ. فلو قال: إن فعلت كذا فأنت أمي، وفعله، فهو باطل إن نوى التحريم، سكب الأنهر. (فتاوی محموديه: ۱۳/ ۳۲۶، فاروقيه).

په فتاوی هنديه کې راځي:

لو قال: أنت أمي، لايكون مظاهراً، وينبغي أن يكون مكروهاً، ومثله أن يقول يا ابنتي ويا أختي. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۵۰۶).

وللاستزادة انظر: (الدر المختار مع رد المحتار: ۳/ ۴۷۰، سعيد – وبدائع الصنائع: ۳/ ۱۷۰، سعيد – والمحيط البرهاني: ۳/ ۶۱۱). والله ﷻ اعلم.

نهم .... باب

د ايلاء بيان

تر يو کال پورې له جماع څخه قسم

سوال: يو سړي له خپلې ښځې څخه داسې قسم واخيستلئ، چې يو کال زه له تا سره همبستري (جماع) نه کوم شرعاً د دې حکم څه دئ؟

الجواب: که څوک تر څلور مياشتې زيات له خپلې ښځې څخه د نه نژدېکت (جماع) قسم واخلي نو که څلور مياشتې همداسې بې جماع تيرې سوې نو پر ښځه بائن طلاق واقع کيږي او که يې په څلور مياشتې کې دننه ورسره جماع وکړه بيا طلاق نه واقع کيږي مګر د قسم کفاره پر لازمه ده، همدارنګه که څوک په جماع قدرت نه لري نو حولې رجوع هم کفايت کوي.

په فتح القدير كي راځي:

والإيلاء لغة اليمين .... وفى الشرع هو اليمين على ترك قربان الزوجة أربعة أشهر فصا عداً بالله أو بتعليق ما يستشقه على القربان. (فتح التدبر: ٤/ ١٨٩، باب الايلاء، دار الفكر – وكذا فى البحر الرائق: ٤/ ٦٠، كوئته).

په البحر الرائق كي راځي:

فإن وطئ فى المدة كفر وسقط الإيلاء بإجماع الفقهاء حتى لو مضت أربعة أشهر لا يقع طلاق لانحلال اليمين بالحنث، وسواء حلف على أربعة أشهر أو أطلق أو على الأبد .... وإلا بانت) أي إن لم يطأ في المدة، وهي أربعة أشهر وقعت عليه طلقة بائنة . (البحر الرائق: ٤/ ٦٢، باب الايلاء، كوئته).

په هدايه كي راځي:

وإن كان المولى مريضاً لا يقدر على الجماع أو كانت مريضة أو رتقاء أو صغيرة لا تجامع أو كانت بينهما مسافة لا يقدر أن يصل إليها في مدة الإيلاء ففيؤه أن يقول بلسانه فئت إليها في مدة الإيلاء فإن قال ذلك سقط الإيلاء . (الهداية: ٢/ ٤٠٣، باب الايلاء). والله ﷻ اعلم.

له جماع څخه د څلورو ركعتونو د قسم كفاره او ايلاء

سوال: كه څوک داسي قسم واخلي چي كه ما له خپلي ښځي سره جماع وكړه نو پر ما څلور ركعته لمونځ لازم دئ ايا دا ايلاء ده او كه نه؟ همدارنګه په ايلاء كي د مودې تعين شرط دئ او كه نه؟ همدارنګه لطفاً د ايلاء د صحت څه شروط او ضروري شيان بيان كړئ؟

الجواب: د څلور مياشتي يا په څه زياته موده كي صحبت (جماع) نه كولو قسم واخلي او يا يې دا صحبت تر يو كار پوري معلق كړي كوم چي فى نفسه مشكل كار وي، نو دا ايلاء سوه مګر كه اسانه كار پر ځان لازم كړي، نو دا ايلاء نه ده لكه په سوال كي چي د څلور ركعته لمونځ لازم بيان سوى دا ايلاء نه ده.

وګورئ په فتح القدير کي راځي:

والإيلاء لغة اليمين .... وفى الشرع هو اليمين على ترک قربان الزوجة أربعة أشهر فصاعداً بالله أو بتعليق ما يستشقه على القربان. (فتح القدير: ٤/ ١٨٩، باب الايلاء، دار الفكر – وكذا فى البحر الرائق: ٤/ ٦٠، كوئته).

وفى العناية: وهو فى اللغة عبارة عن اليمين.... وفى الشريعة عبارة عن منع النفس عن قربان المنكوحة أربعة أشهر فصاعداً منعاً مؤكداً باليمين. (شرح العناية على فتح القدير: ٤/ ١٨٨، دار الفكر).

د ايلاء شرائط

شرعاً د ايلاء د تحقيق له پاره دا شرائط دي:

۱_ ايلاء كوونكى به عاقل او بالغ وي.

۲_ حقيقتاً او يا حكماً به يې د ايلاء پر وخت نكاح وي.

۳_ كه له اجنبي ښځي څخه ايلاء كوي نو دا هغه وخت صحيح كيږي چي ايلاء د دې ښځي تر نكاح موقوف كړي.

۴_ جماع نه كول به تر كوم ځاى پوري نه مقيد كوي.

۵_ له څلورو مياشتي څخه به د كومي ورځي استثناء نه وي.

وګورئ په بدائع الصنائع كي راځي:

لركن الإيلاء في حق هذا الحكم شرائط بعضها يعم كل يمين بالطلاق ، وبعضها يخص الإيلاء أما الذي يعم .... من العقل والبلوغ وقيام ملك النكاح والإضافة إلى الملك حتى لا يصلح إيلاء الصبي والمجنون ؛ لأنهما ليسا من أهل الطلاق .... وكذا جميع ما ذكرنا من

شرائط صحة التطليق فهو من شرط صحة الإيلاء في حق الطلاق وأما الذي يخص الإيلاء فشيئان أحدهما المدة.... والثاني ترک الفئ في المدة. (بدائع الصنائع:۳/ ۱۷۱-۱۷۳، سعید).

په فتح القدير کي راځي:

وشرطه محلية المرأة وأهلية الحالف وعدم النقص عن أربعة أشهر. (فتح القدير:٤/ ١٨٩ف باب الايلاء، دار الفكر).

په البحر الرائق کي راځي:

ولو حلف لا يقربها في زمان أو مكان معين لايكون مولياً لأنه يمكنه قربانها في مكان آخر أو زمان آخر. (البحر الرائق:٤/ ١٦، باب الايلاء، كوئته).

په فتاوی شامي کي راځي:

يشترط أن لايستثنى بعض المدة مثل لا أقربک سنة إلا يوماً. (فتاوی الشامی:۳/ ٤٢٤، سعید – وبدائع الصنائع:۳/ ۱۷۲، سعید – ومجموعه قوانین اسلامی:۱۷٤، قانون ایلاء).

د ایلاء ډولونه :

ایلاء پر دوه ډوله ده:

۱_ د وخت په اعتبار.

۲_ د الفاظو په اعتبار.

۱_ اول وېش بیا دوه ډولونه لري.

الف_ موقته ایلاء : د معلوم وخت له پاره (چي تر څلور میاشتي کم نه وي) د ښځي له جماع څخه قسم کول.

باء_ مؤبد ایلاء: د وخت له تعین څخه پرته یا د همېشه له پاره د ښځي له جماع څخه قسم کول.

۲_ دوهم ډول ایلاء هم دوه ډولونه لري:

الف _ صریحه ایلاء: هغه ایلاء ده چې په څرګندو الفاظو له جماع څخه قسم واخلي په داسې الفاظو چې له ویلو سره فوراً د جماع د ترک مفهوم ورڅخه معلومیږي.

باء _ کنایه ایلاء: د مذکورو الفاظ خلاف کنایه الفاظ استعمال کړي داسې چې دا د خاوند تر نیت پورې موقوف وي.

د ایلاء احکام:

. په موقته ایلاء کې که څوک په څلور میاشتې کې دننه دننه جماع وکړي نو کفاره او یا هغه مشکل کار پر لازمیږي کوم چې یې پر ځان لازم کړی وو، که څلور میاشتې همداسې تیرې سې جماع پکښې ونه کړي نو ایلاء ختمیږي او طلاق بائن واقع کیږي.

په مؤبده ایلاء کې که څوک په څلور میاشتې کې جماع ونه کړي نو بائن طلاق واقع کیږي البته ایلاء نه ختمیږي همدا سلسله به جاري وي حتی که دا ښځه بیا په نکاح کړي او په څلور میاشتې کې جماع ورسره وکړي نو کفاره لازمیږي او ایلاء ختمیږي او که جماع ونه کړي، نو بائن طلاق واقع کیږي تر څو چې درې طلاق واقع سي نو د طلاق متعلق ایلاء ختمه سوه اوس که تر حلالې وروسته دا ښځه بیا په نکاح کړي نو طلاق نه واقع کیږي مګر د جماع په صورت کې کفاره لازمیږي.

وګورئ په هدایه کې راځي:

فإن كان حلف على أربعة أشهر فقد سقطت اليمين لأنها كانت مؤقتة به وإن كان حلف على الأبد فاليمين باقية لأنها مطلقة ولم يوجد الحنث لترتفع به إلا أنه لا يتكرر الطلاق قبل التزوج لأنه لم يوجد منع الحق بعد البينونة فإن عاد فتزوجها عاد الإيلاء فإن وطئها وإلا وقعت بمضي اربعة أشهر تطليقة أخرى لأن اليمين باقية لإطلاقها وبالتزوج ثبت حقها فيتحقق الظلم ويعتبر ابتداء هذا الإيلاء من وقت التزوج فإن تزوجها ثالثاً عاد الإيلاء ووقعت بمضي أربعة أشهر أخرى إن لم يقربها لما بيناه فإن تزوجها بعد زوج آخر لم يقع بذلك الإيلاء طلاق لتقيده بطلاق هذا الملك واليمين باقية لإطلاقها وعدم الحنث فإن وطئها كفر عن يمينه

لوجود الحنث . (الهداية:۲/ ۴۰۱، باب الايلاء كتاب الطلاق – والبحر الرائق:۴/ ۶۰، باب الايلاء –
وكذا فى فتح القدير:۴/ ۱۸۹، دار الفكر – ومجموعه قوانين اسلامى:۱۷۷، قانون ايلاء).

پـه فتح القدير كي راځي:

وحكمه لزوم الكفارة أو الجزاء المعلق بتقدير الحنث بالتربان، ووقوع طلقة بائنة بتقدير البر.... (فتح القدير:۴/ ۱۸۹ – وكذا فى بدائع الصنائع:۳/ ۱۷۵، سعيد). والله تعالیٰ أعلم.

له ايلاء څخه د رجوع حکم

سوال: يوه سړي څلور مياشتي يا زياته ايلاء کړې اوس له ايلاء څخه رجوع کول غواړي طريقه يې څه ده؟ ايا کفاره يا طلاق لازميږي او که نه؟

الجواب: که څوک له ايلاء څخه رجوع کول غواړي نو که دغه کس پر جماع قادر وي نو پـه څلور مياشتي کي دننه دننه (پـه داخل د دې مياشتو کي) دي جماع وکړي پـه دې سره به ايلاء ختمه سي او کفاره به لازم سي او که پر جماع قادر نه وي نو زباني رجوع هم صحيح ده، البته د قدرت پـه صورت کي زباني رجوع کفايت نه کوي. همدارنګه د زباني رجوع پـه صورت کي کفاره او طلاق نه واقع کيږي.

پـه البحر الرائق کي راځي:

فإن وطئ فى المدة كفر وسقط الإيلاء بإجماع الفقهاء حتى لو مضت أربعة أشهر لا يقع طلاق لانحلال اليمين بالحنث ، وسواء حلف على أربعة أشهر أو أطلق أو على الأبد .... وإلا بانت) أي إن لم يطأ في المدة ، وهي أربعة أشهر وقعت عليه طلقة بائنة . (البحر الرائق:۴/ ۶۲، باب الايلاء، كوئته).

په هدايه کي راځي:

وإن كان المولى مريضاً لا يقدر على الجماع أو كانت مريضة أو رتقاء أو صغيرة لا تجامع أو كانت بينهما مسافة لا يقدر أن يصل إليها في مدة الإيلاء ففيؤه أن يقول بلسانه فئت إليها في مدة الإيلاء فإن قال ذلك سقط الإيلاء . (الهداية: ۲/ ۴۰۳، باب الايلاء). والله تعالى اعلم

لسم .... باب

د خلع .... بيان

د خاوند له رضا پرته د خلع کولو حکم

سوال: يوه ښځه د خاوند له ظلم څخه په تنګ سوه او هغه طلاق هم نه ورکوي، نو ښځي د خاوند له رضا څخه پرته خلع وکړي په دې خلع خاوند خبر هم نه دئ او نه يې دې ښځي ته کوم اختيار ورکړی ايا خلع صحيح سوه او که نه او دا ښځه بل ځای نکاح کولای سي او که نه؟

الجواب: دا ښځه د پخوا په ډول د خاوند په نکاح کي ده ځکه خلع هم يو عقد دئ او داسي عقد دئ چي د دواړو رضايت غواړي دلته خاوند راضی نه دئ نو دا خلع نه ده او دعوه هم غلطه ده او اعتبار نه لري او نه يې بل ځای نکاح صحيح کيږي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وأما ركنه فهو كما في البدائع : إذا كان بعوض الإيجاب والقبول لأنه عقد على الطلاق بعوض فلا تقع الفرقة، ولا يستحق العوض بدون القبول . (فتاوى الشامي: ۳/ ۴۴۱، باب الخلع، سعيد).

علامه زيلعي رحمه الله فرمايي:

ولا بد من قبولها ؛ لأنه عقد معاوضة أو تعليق بشرط فلا تنعقد المعاوضة بدون القبول .... إذ لا ولاية لأحدهما في إلزام صاحبه بدون رضاه .(تبيين الحقائق:۲/ ۲۷۱، ملتان).

شمس الائمه سرخسي رحمه الله فرمايي:

فيحتمل الفسخ بالتراضي أيضًا ، وذلك بالخلع ، واعتبر هذه المعاوضة المحتملة للفسخ بالبيع والشراء في جواز فسخها بالتراضي .(المبسوط:۶/ ۱۷۱، باب الخلع، ادارة القرآن – وكذا في بدائع الصنائع:۳/ ۱۴۵، سعيد). والله تعالى اعلم.

د خاوند د ظلم په سبب خلع کول

سوال: يو خاوند پر خپله ښځه ظلم کوي او طلاق هم نه ورکوي ايا شرعاً د دې ښځي د خلاصون کومه لاره سته؟

الجواب: لومړی دي مصلح خلک د دوی تر منځ صلح وکړي، که نه خاوند دي طلاق ته اماده کړي او که نه اماده کيږي نو بيا دي خلع ورسره وکړي، البته په خلع کي ډېري پيسې اخيستل روا نه دي بلکي همغه د مهر په شان دي پيسې ورکړي.

وګورئ:

قال الله تعالى: ﴿ وإن خفتم شقاق بينهما فابعثوا حكمًا من أهله وحكمًا من أهلها إن يريدا إصلاحًا يوفق الله بينهما ﴾ . (سورة النساء، الآية:۳۵).

په فتاوى هنديه کي راځي:

إذا تشاق الزوجان وخافا أن لا يقيما حدود الله فلا بأس بأن تفتدي نفسها منه بمال يخلعها به فإذا فعلا ذلك وقعت تطليقة بائنة ولزمها المال كذا في الهداية . (الفتاوى الهندية:۱/ ۴۸۸– وكذا في بدائع الصنائع:۳/ ۱۴۵، سعيد).

په مجوعه قوانین اسلامي کي راځي:

خلع یو ډول معاهده ده کوم چي د عوض په بدل کي خاوند خپل اختیارات ختموي او دا د بائن طلاق په حکم کي ده خو د ښځي رضایت شرط دئ ځکه عوض دا اداء کوي. په زوجینو کي هر طرف کولای سي مشارط خاوند ورته وایي، د مهر په عوض کي زه خلع درسره کوم، ښځه ورته ووایي، قبوله مي ده او داسي نور.

د خعلې په صورت کي نکاح ختمیږي مګر د تاکل سوي شي اداء کول لازمیږي.

په خلع کي که ښځه خپله نفقه صراحةً ساقطه کړي ساقط ګرځي، البته سکنی او د اولاد نفقه نه ساقطیږي. په خلع کي هره اندازه مال تاکل صحیح دي مګر د مهر څخه زیات مال مناسب نه دئ. (مجموعه قوانین اسلامی:۱۸۱ - ۱۸۳).

د خاوند د ظلم په صورت کي هم خلع کول روا دي همدارنګه له کوم سبب څخه پرته هم خلع کول روا دي.

علامه شعراني په میزان الکبری کي وایي.

واتفق الأئمة على أن المرأة إذا كرهت زوجها لقبح منظر أو سوء عشرة جاز لها أن تخالعه على عوض وإن لم يكن من ذلك شيء وتراضيا على الخلع من غير سبب جاز ولم يكره. (الميزان الكبرى:۲/ ۱۱۹، كتاب الخلع، دار الفكر). والله تعالیٰ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ وإن خفتم شقاق بينهما فابعثوا حكمًا من أهله وحكمًا من أهلها إن يريدا إصلاحًا يوفق الله بينهما ﴾. (سورة النساء، الآية:۳۵)

وقال تعالى: ﴿ وإن يتفرقا يغن الله كلا من سعته ﴾. (سورة النساء، الآية:۱۳۰).

یوولسم .... باب

د فسخ او تفریق بیان

که خاوند پر نفقه قادر نه وي

سوال: یوه ښځه د خپل خاوند په اړه داسي وايي چي خاوند خرچه ډېره لږ راکوي او هیڅ ګزاره مي نه په کیږي، وهل هم کوي، زما د قربانو مېلمه پالنه هم نه کوي، د خاوند د ظلمونو په اساس هغه خلع هم نه سي کولای لنډه دا چي له داسي خاوند سره اوسېدل ډېر مشکل دي، ایا په داسي حال کي شرعاً کوم عالم تفریق کولای سي؟

الجواب: که خاوند د نفقې او یا بل څه په سبب ښځه په تکلیف کي اچوي او له تفریق څخه پرته هیڅ چاره نه وي نو په داسي صورت کي حنفي علماوو پر مالکي مذهب فتوا ورکړې ده، نو ښځه باید خپله عریضه قاضي او یا هم نائب قاضي ته وړاندي کړي او تفریق اختیار کړي.

وګورئ په الحیلة الناجزة کي راځي:

زوجه متعنت (چي د قدرت باوجود د ښځي حقوق نه اداء کوي) له پاره په کار ده چي اول خاوند په خلع او نورو راضي کړي که له کوښښ سره سره بیا هم هغه راضي نه سي، نو د مجبورۍ په صورت کي په مالکي مذهب عمل روا دئ او د مجبورۍ دوه صورتونه دي:

۱_ اول دا چي د ښځي د خرڅ هیڅ انتظام نه وي نه کوم سړی خرڅ ورکوي او نه هم ښځه د شریعت په چوکاټ کي پر کسب قدرت ولري.

۲_ دوهم صورت دا دئ چي د خرڅ انتظام وي مګر له خاوند څخه په جلا اوسېدلو کي د ګناه قوي ېېره وي.

د تفریق صورت او طریقه به داسي وي چي ښځه باید خپله عریضه قاضي، امیر او یا د هغوی په عدم موجودیت کي جماعة المسلمین ته وړاندي کړي هغوی به معامله د شرعي شهادت او یا بل څه په واسطه په ښه ډول ځان ته معلومه کړي او د ښځي صحیح دعوه به ثابته کړي وروسته به د دې ښځي خاوند ته ووایي، چي د خپلي ښځي حقوق اداء کړه که نه، موږ تفریق کوو که هغه حقوق اداء نه کړي نو قاضي یا قایم مقام د قاضي دي طلاق واقع کړي دلته د مالکیه وو په اتفاق سره د مهلت ضرورت نه سته.

« للرواية الثانية والعشرين من الفتوى للعلامة سعيد بن صديق المالكي». (الحيلة الناجزة للحليلة العاجزة: ص ٦٣، حكم زوجه متعنت في النفقة، ط: دار الاشاعت، ديوبند).

جماعت المسلمین دي د مذکورو هدایاتو مطابق عمل وکړي نو فیصله یې نافذه ده.

خو دلته د جماعة المسلمین له پاره لاندي څو شرائط ضرور دي:

۱_ فتاوی مالکیه کي دي جماعة المسلمین العدول دا الفاظ پر دې دلالت کوي چي عدول به وي او فاسق به نه وي.

۲_ عوام به نه وي بلکي علماء به وي او یا لږ تر لږه یو به معامله پېژندونکی عالم به وي.

۳_ لږ تر لږه درې نفره به وي.

۴_ د داسي جماعت فیصله نافذه ده مګر فیصله باید د رایو په اتفاق وي او دا ضروري نه ده که اختلاف وي نو مقدمه دي خارجه کړي. (ملخص از « الحيلة الناجزة » ص ۱۳۵. صورت قضاء قاضی در هندوستان).

د مالکي مفتي فتوا وګورئ:

الجواب من العلامة سعيد بن صديق الفلاتي متعنا الله بعلومه:

بسم الله الرحمن الرحيم، ولاحول ولاقوة إلا بالله العلي العظيم، سبحانک لا علم لنا إلا ما علمتنا إنک أنت العليم الحكيم، أتم الصلاة وأتم التسليم على سيدنا محمد الهادي الحليم، وعلى آله وصحبه والآتي ربه بقلب سليم .... أما الجواب عن المتعنت الممتنع عن الإنفاق ففي مجموع الأمير ما نصه: إن منعها نفقة الحال فلها القيام، فإن لم يثبت عسره أنفق أو طلق، وإلا طلق عليه. قال محشيه: قوله وإلا طلق أي طلق عليه الحاكم من غير تلوم إلى أن قال: وإن تطوع بالنفقة قريب أو أجنبي.... قال ابن عبد الرحمن: لا مقال لها، لأن سبب الفراق هو عدم النفقة قد انتفى. (الحيلة الناجزة:ص ١١٥-١١٩، ط: دار الاشاعت، ديوبند).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (مجموعه قوانين اسلامی:ص ١٩٨، كتاب النسخ والتفريق: ص ٨٩). والله ﷻ اعلم.

په قضاء کي د غير مسلم قاضي فيصله:

په ايضاح النوادر کي راځي:

غير مسلم قاضي که د طلاق او يا بل څه په اړه فيصله وکړي د هغه دا فيصله صحيح نه ده او د دې فيصلي په سبب ښځه نه طلاقيږي دا مسئله علامه شامي داسي نقل کړې ده.

« لم ينفذ حكم الكافر على المسلم، وينفذ للمسلم على الذمي ». (ايضاح النوادر:ص ١٥٢). والله ﷻ اعلم.

که خاوند په اوږد بند محکوم وي

سوال: د بندي ښځه که په عفت سره ژوند نه سي کولای، البته د خرڅې انتظام يې سته ايا قاضي يا جماعة المسلمين تفريق کولای سي، څکه د خاوند قيد (بند) ډېر اوږد دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د سختي مجبوري او له زنا څخه د حفاظت په سبب د امام مالک رحمه الله پر قول فتوا ورکول کېداى سي يعني په مالکي مذهب کي ترک مجامعت هم د تفريق سبب کېداى

سي نو ښځه دي خپله عریضه قاضي یا جمعیت او علماء ته وړاندي کړي چي زما فلاني خاوند دئ او په اوږده بند په زندان کي بندي دئ او دومره انتظام زما په قدرت کي نه دئ زما د نکاح سخت ضرورت دئ که نه، په ګناه کي د وقوع زیات اسکان سته. نو قاضي یا جماعت العلماء به پوره تحقیق وکړي که د ښځي بیان صحیح ثابت سي نو خاوند ته دي حال ورکړي چي د ښځي حقوق اداء کړي چي یا خاوند ورته راسي او یا هم د ښځي له پاره هلته انتظام وسي، که نه ښځي ته دي طلاق ورکړي که دي دا مذکوره طریقه قبوله نه وي نو بیا موږ تفریق کوو که خاوند دا طریقه قبوله نه کړه نو قاضي یا جمعیت العلماء دي ښځي ته یوه میاشت وخت ورکړي که په دې وخت کي خاوند ازاد او د بند تخفیف ونه سي نو قاضي او یا جمعیت العلماء دي تفریق وکړي تر عدې وروسته ښځه بل ځای نکاح کولای سي.

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

ترک مجامعت هم د تفریق له اسبابو څخه یو سبب دئ ځکه د زوجیت حقوق اداء کول واجب دي او نه اداء کول یې ظلم ګڼل کیږي او د ظلم لیري کول د قاضي وظیفه ده همدارنګه په یاد صورت کي په ګناه کي د ښځي د مبتلاء کېدلو امکان هم سته او پر قاضي لازمه ده چي دا امکانات ختم کړي نو لهذا ښځه باید په داسي صورت کي خپل مشکل قاضي ته وړاندي کړي قاضي به تحقیق وکړي او تر تحقیق وروسته د همدې ضرورت په اساس به پر مالکي مذهب تفریق وکړي. (مجموعة قوانین اسلامی:۱۹۲).

وإذا ثبت لها التطليق بذلك فبخشية الزنا أولى، لأن ضرر ترک الوطئ أشد من ضرر عدم النفقة، ألاترى أن إسقاط النفقة يلزمها، وإن أسقطت حقها في الوطئ فلها الرجوع فيه، ولأن النفقة يمكن تحصيلها بنحو تسلف وسؤال بخلاف الوطئ. (من فتوى العلامة سعيد بن صديق الفلاتي، بحواله الحيلة الناجزة:۱۱۸، دار الاشاعت، ديوبند).

په حیله ناجزه کي راځي:

حنفي مذهب پر ډېر احتیاط بناء دئ خو د وخت د خرابۍ او د فتنو په سبب ځینو متاخرینو علماوو پر دې مسئله کي په مالکي مذهب فتوا ورکړې لکه څنګه چي علامه شامي له الدر المنتقی څخه د قهستاني قول نقل کړی. «لو أفتی به في موضع الضرورة لابأس به علی ما أظن. (فتاوی الشامي: ٤/ ٢٩٥، مطلب فی الإفتاء بمذهب مالک، سعید).

له ډېره وخته اهل فتوا په هند او نورو ځایو کي پر همدې قول فتوا کوي او دا مسئله تقریباً اوس د حنفي مذهب مسئله جوړه سوې ده مګر تر څو چي ښځه صبر کولای سي نو هلته باید په اصل حنفي مذهب عمل لازمي دئ، البته د سخت ضرورت په وخت کي لکه د نفقې عدم انتظام په ګناه کي د اخته کېدو بېره وي نو په داسي صورت کي په مالکي مذهب عمل روا دئ. (الحیلة الناجزة: ص ٥).

په کتاب الفسخ والتفریق کي راځي:

که ښځه د نفقې د عدم انتظام په سبب د طلاق د مطالبې او غوښتني حق لري نو په زنا کي د لوېدو د بېري په صورت کي په طریقه اولی دا حق لري په داسي وخت کي په مالکي مذهب عمل روا دئ بل دا چي د سوال یا قرض په اساس د نفقې مشکل حل کېدای سي مګر د وطی په صورت کي دا ناممکن دي. (کتاب الفسخ والتفریق: ص ٧٣).

مفتي محمد شفیع صاحب لیکي:

غوره دا ده چي په څه طریقه سره طلاق حاصل کړي که نه په څه مال سره دي خلع وکړي که نه ویوه مسلمان حاکم ته عریضه دي وکړي هغه دي دا قیدي په طلاق مجبور کړي که بیا هم طلاق ورنه کړي نو حاکم دي په خپله طلاق ورکړي او د حکیم دا حکم د ده د طلاق قائم مقام دئ، په دې شرط چي حاکم مسلمان وي. (امداد المفتین: ٦٧٢).

وهذا فی الأصل مذهب الإمام مالک رحمه الله إلا أن علمائنا الحنفیة أفتوا علیه لمکان الضرورة الشدیدة.... (ملخص از امداد المفتین: ٢/ ٦٧٢، دار الاشاعت، کراچی).

په فتاوی دار العلوم کبیر کې راځي:

سوال: پر زید د دېرش کاله بند حکم سوی، اوس درې کاله تېر سوي د زید ښځه وايي چي زه دومره وخت صبر نه کوم ځکه دیوه لیرې دوست په کور کي اوسېږم پر هغه اطمنان نه لرم او د عفت د خرابی امکان ډېر دئ، زید طلاق هم نه را کوي ایا جبراً د نکاح فسخ کولای سو؟

الجواب: په اصل حنفي مذهب کي نکاح نه سي فسخ کېدای مګر د سخت ضرورت په وخت کي په بل مذهب عمل روا دئ چي تفريق اختيار کړي، ځکه د نورو امامانو په نزد په داسي صورت کي تفريق روا دئ. (فتاوی دار العلوم کبیر: ۱۰/ ۲۳۰).

همدارنګه حنفي علماء د ظهار په باب کي وايي، که مظاهر کفاره نه اداء کوي او ښځه يې معلقه کړې وي نو ښځه دي وقاضي ته مراجعه وکړي او هغه دي د ضرر دفع وکړي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

أن للمرأة أن تطالبه بالوطء وإذا طالبته به فعلى الحاكم أن يجبره حتى يكفر ويطأ؛ لأنه بالتحريم بالظهار أضر بها حيث منعها حقها في الوطء مع قيام الملك فكان لها المطالبة بإيفاء حقها ودفع التضرر عنها وفي وسعه إيفاء حقها بإزالة الحرمة بالكفارة فيجب عليه ذلك ويجبر عليه لو امتنع. (بدائع الصنائع: ۳/ ۲۳٤، احکام الظهار، سعید). والله تعالیٰ اعلم.

د خاوند د لېونتوب په سبب فسخ

سوال: که یو سړی لېونی وي د هغه د ښځي د خلاصون به کوم صورت وي، البته ښځه خبره وه، خو اوس د عزت خبره خطره ده؟

الجواب: که د یوې ښځي خاوند مجنون وي او له دنیا و مافیها څخه بې خبر وي، د ښځي حقوق اداء کولای نه سي که څه هم ښځه له مخکي څخه پرې خبره وي مګر اوس ژوند مشکل وي او د نفقې خبره هم مشکله وي، د عفت او عزت خبره او ساتنه هم ورته مشکله وي نو په داسي صورت کي دي ښځه قاضي یا د قاضي قائم مقام ته خپله عریضه وکړي هغه به خاوند ته د تداوی له پاره دیوه کال

وخت ورکړي که په يوه کال کي ښه نه سو نو ښځه دي بيا عريضه وکړي او قاضي به د دوی تر منځ تفريق وکړي او تر عدت وروسته دا ښځه بل ځای نکاح کولای سي. (امداد الفتين: ۲/ ۶۷۳).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

د خاوند له داسي لېونتوب څخه چي د ښځي جسم ته له هغه څخه خطره راتلای سي هغه لېونتوب د تفريق موجب دئ خو قاضي دي وخاوند ته د علاج له پاره يو کال وخت ورکړي که له دې څخه وروسته هم جوړ نه سي او ښځه جلا والي وغواړي نو قاضي دي دوی جلا کړي.

قال محمد : إن كان بالزوج عيب لا يمكنه الوصول إلى زوجته، فالمرأة مخيرة بعد ذلك، ينظر إن كان العيب كالجنون الحادث والبرص ونحوهما، فهو والعنة سواء فينظر حولاً، وإن كان الجنون أصلياً أو به مرض ولا يرجى برءه فهو والجب سواء، وهي بالخيار إن شاءت رضيت بالمقام معه، وإن شاءت رفعت الأمر إلى الحاكم حتى يفرق بينهما. (الفتاوى الحمادية للعلامة ركن الدين ناغوری: ص ۷۶، نقل عن المضمرات، بحواله : الحيلة الناجزة: ص ۳۹).

مګر څنګه چي د لېونتوب د سبب تفسير دلته ليکلی نه دئ او نه هم کوم بل ځای پيدا کيږي چي له امل يې د مطبق تفسير هم پوره نه واضح کيږي په ځينو ځايو کي د مطبق تفسير په مقابله د غير مطبق کي ليکلي دا يوازي قياس دئ د احتياط خلاف دئ، نو احتياط دا دئ د دې تعريفاتو څخه صرف نظر وسي په هر حال دي ديوه کال مهلت دي ورکړي. (مجموعه قوانين اسلامی: ۱۹۵).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (کتاب الفسخ والتفريق: ص ۱۱۳، د مولانا عبد الصمد رحماني - الحيلة الناجزة: ص ۶۳).

همدارنګه د زوجيت حقوق نه اداء کول چي په سبب يې د عزت او عفت خطره وي بلکي په ګناه کي د وقوع غالب ګمان وي نو په همدې صورت کي هم ښځه عريضه کولای سي او خپل تفريق اخيستلای سي. (کتا الفسخ والتفريق: ص ۶۳).

د ايډز د مرض په سبب فسخ د نكاح حكم

سوال: د ايډز (Aids) د مرض په سبب فسخ كېداى سي او كه نه؟ حال دا چي په حديث شريف كي دي: « لاعدوىٰ ولاطيرة ». (رواه البخارى).

الجواب: د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام ابو يوسف رحمة الله عليه په نزد د مرض په سبب ښځه د فسخ اختيار نه لري البته د امام محمد رحمة الله عليه په نزد د جنون، برص، جزام او داسي نورو مرضونو په سبب ښځه د نكاح فسخ اخيستلاى سي ځنګه چي په اوس عصر كي ايډز يو خطرناک مرض دئ او په عام ډول متعدي هم دئ نو له همدې كبله د امام محمد رحمة الله عليه پر قول فتوا وركول كيږي، قاضي به تر تحقيق وروسته تفريق وكړي.

په درمختار كي راځي:

ولا يتخير أحد الزوجين بعيب الآخر ولو فاحشاً كجنون وبرص ورتق وقرن. وخالف محمد رحمة الله عليه في الثلاثة الأول وخالف الأئمة الثلاثة في الخمسة.

وفي حاشية الطحطاوي: قوله وخالف محمد رحمة الله عليه في الثلاثة الأول هي الجنون والجذام والبرص، وألحق به القهستاني كل عيب لايمكنها المقام معه إلا بضرر، ونقله المؤلف في شرح الملتقى. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۲/ ۲۱۳، كوئته).

په هدايه كي راځي:

وإذا كان بالزوج جنون أو برص أو جذام فلا خيار لها عند أبي حنيفة رحمة الله عليه وأبي يوسف رحمة الله عليه وقال محمد رحمة الله عليه: لها الخيار دفعاً للضرر عنها كما في الجب والعنة.

وفى العناية في شرح الهداية: لها الخيار لأنه تعذر عليها الوصول إلى حقها لمعنى فيه فكان بمنزلة الجب والعنة، فتخير دفعا للضرر حيث لاطريق لها سواه. (العناية فى شرح الهداية مع الهداية على هامش فتح القدير: ٤/ ٣٠٥، ط: دار الفكر).

په فتاوى هنديه كي راځي:

قال محمد: إن كان الجنون حادثاً يؤجله سنة كالعنة، ثم يخير المرأة بعد الحول إذا لم يبرء، وإن كان الجنون مطبقاً فهو كالجب، وبه نأخذ، كذا في الحاوى القدسى. (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٢٦).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما خلو الزوج عما سوى هذه العيوب الخمسة من الجب ، والعنة والتأخذ والخصاء والخنوثة ، فهل هو شرط لزوم النكاح، قال أبو حنيفة رحمه الله، وأبو يوسف رحمه الله: ليس بشرط ، ولا يفسخ النكاح به، وقال محمد رحمه الله : خلوه من كل عيب لا يمكنها المقام معه إلا بضرر كالجنون والجذام والبرص ، شرط لزوم النكاح حتى يفسخ النكاح به .... وهذه العيوب في إلحاق الضرر بها فوق تلك ؛ لأنها من الأدواء المتعدية عادةً ، فلما ثبت الخيار بتلك ، فلأن يثبت بهذه أولى . (بدائع الصنائع:٢/ ٣٢٧، شروط لزوم النكاح).

په الموسوعه الفقهية الكويتية كي راځي:

جاءت هذه العيوب بصيغة التمثيل، هذا إلى جانب أن نصوص الفقهاء عامةً كانت تعلل التفريق للعيب بالضرر الفاحش وبالعدوى ، وعدم القدرة على الوطء ، وهو ظاهر في جواز القياس عليها .

وعلى هامشه قال: وترى اللجنة أن هذه العيوب المنصوص عليها ليست للحصر، وإنما هي للتمثيل، ولذلك فإنه يلحق كل ماكان في معناها أو زاد عليها، كالإيذر وما شابهه من الأمراض التي تفوق بعض ما ذكر. (الموسوعة الفقهية الكويتة مع التعليقات:٢٩/ ٦٩، التفريق للعيب، ط: وزارة الأوقات بالكويت).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

څنګه چي د امام محمد رحمه الله مسلک د شريعت روح او مزاج ته نژدې هم دئ او د عامه مصلحت مطابق هم دئ نو له همدې کبله احنافو علماوو د امام محمد رحمه الله پر مسلک فتوا ورکړې ده. (جدید فقهی مسائل:۳/ ۱۷۷).

په زيلعي کي وايي:

وقال محمد رحمه الله: ترد المرأة إذا كان بالرجل عيب فاحش بحيث لا تطيق المقام معه، لأنها تعذر عليها الوصول إلى حقها لمعنًى فيه فكان كالجب والعنة. (تبيين الحقائق:۳/ ۲۵، باب العنين وغيره، ملتان).

ګويا د امام محمد رحمه الله په نزد د هر متعدي او نفرت وړ مرض په سبب ښځه د تفريق غوښتنه کولای سي او همدا د شريعت مزاج ته نژدې هم دئ او د اصولو او قواعدو مطابق هم دئ.

د دې تفصيلاتو په نظر کي نيولو سره د ائمه ثلاثه وو تر څنګه د احنافو په نزد هم ايډز د هغو امراضو له جملې څخه دئ چي په سبب يې ښځي ته د تفريق حق حاصل دئ ځکه دا تر برص او جزام زيات د نفرت وړ هم دئ او متعدي هم دئ. څنګه چي جنسي روابط هم د دې د انتقال يو مهم سبب دئ نو له همدې کبله د ايډز مريض د خپلي ښځي په اړه د نامرد په حکم کي دي، ځکه د مرض د بيري په سبب دلته داعيه نفس نه سي پوره کولای. (جدید فقهی مباحث:۱۰/ ٦٦).

ايډز يو مهلک مرض دئ په دې شرط چي د ټيسټ په واسطه ثابت سي چي وايرس حمله پر کړې ده او د مرض شکل يې اختيار کړی دئ، البته يوازي په وينه کي د دې وايرس موجود والی دا معنا نه لري چي دا کس په ايډز مبتلاء دئ خو که واقعاً څوک په دې مرض مبتلاء سوی وي نو ښځه يې د نکاح د فسخ غوښتنه کولای سي. (جدید فقهی مباحث:۱۰/ ۱۲۰).

که کوم کس د ايډز مريض وي، خو هغه په پټه له يوې ښځي سره نکاح کړې وي دا مرض يې نه وي ورته ښکاره کړی نو په داسي صورت کي ښځه د نکاح د فسخ کولو حق لري، همدارنګه که تر

نکاح وروسته کوم سړی په مبتلاء سي او خطر ناک حد ته ورسيږي نو ښځي ته د نکاح د فسخ حق حاصل دئ. (طبي اخلاقيات: ۴۰۶، مجاهد الاسلام قاسمي). والله ﷻ اعلم.

د تعدية الامراض په اړه د حديث تطبيق:

د مرض د متعدي کېدلو (انتقال کېدو) متعلق دوه ډوله حديثونه سته، ځيني د متعدي کېدلو نفي کوي او له ځينو څخه يې اثبات معلوميږي.

مثلاً: « لاعدوى ولا طيرة....الخ. (رواه البخارى: ۲/ ۸۵۰/ ۴۸۸، باب الجذام). **له ياد حديث څخه معلوميږي چي مرض نه متعدي کيږي.**

او په حديث شريف کي راځي:

« فر من المجذوم فرارک من الأسد ». (رواه البخارى: ۲/ ۸۵۰/ ۵۴۸۸، باب الجذام – وكذا فى مسند احمد برقم: ۹۳۴۵).

يعني د جذامي کس څخه داسي تېښته کوئ لکه له زمري څخه، له دې حديث څخه د مرض متعدي کېدل معلوميږي. همدارنګه.

« لا يوردن ممرض على مصح ». (رواه البخارى: ۲/ ۸۵۹/ ۵۵۴۵، باب لاهامة).

يعني ناروغ اوښ له جوړ اوښ سره مه يو ځای کوئ. له همدې څخه هم د مرض متعدي کېدل معلوميږي همدارنګه رسول الله ﷺ د بيعت په وخت کي له مجذوم سره لاس نه لګوئ بلکي له ليري څخه به يې بيعت ورسره کوئ، خو بل ځای ثابت دي چي رسول الله ﷺ له مجذوم سره يو ځای خوراک کوئ او داسي يې ويل:

« ثقة بالله وتوكلاً عليه ». (رواه ابو داؤد فى الطيرة – والترمذى فى باب ماجاء فى الاكل مع المجذوم – وابن ماجه فى باب الجذام).

يعني پر الله ﷻ توکل او اعتماد وکړه.

محدثينو د دې رواياتو تطبيق په مختليفو طريقو سره کړی دئ، د هغو له جملې څخه اسانه او منلی دا دئ چي ځيني امراض متعدي کېدونکی وي مګر دا متعدي کېدل يې د الله ﷻ په حکم سره

وي. د جاهليت په زمانه کي د خلکو دا عقيده وه چي په ځينو شيانو کي ذاتي تاثير وي او د الله ﷻ د حکم کولو دخل پکښي نه وي لکه ستوري موثر ګڼل او داسي نور.

نو د ((لاعدوی)) په حديث کي د دې نفي وسوه او عقيده دا سوه چي دا شيان په خپله موثر نه دي بلکي د الله ﷻ تر ارادې تعلق لري لکه څنګه چي په يوه روايت کي راغلي چي يو کوچي وويل، چي د خارش په مرض مبتلاء اوښ چي د جوړو اوښانو سره ګډ کړې نو نور اوښان هم په مرض اخته کړي نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل، دا ته ووايه د الله تعالی په حکم سره کيږي اول چا په دې مرض اخته کړ. (بخاری شريف: ۲/ ۸۵۲).

يعني لکه څنګه چي اول الله تعالی په دې مرض مبتلاء کړ همدارنګه دا نور هم د الله تعالی په اراده سره مبتلاء کيږي لنډه دا چي په نن عصر کي ډېر مرضونه يو له بل څخه د ميکروب په واسطه نقليږي، البته دا د يو سبب په درجه کي دئ اصلاً ټول شيان د الله ﷻ په قدرت کي دي او د هغه تر ارادې تعلق لري.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتح الباري: ۱۰/ ۱۵۹-۱۶۲، عمدة القاري: ۱۴/ ۶۹۲-۶۹۳، باب الجذام – مرقات المفاتيح: ۹/ ۳ – بذل المجهود: ۱۶/ ۲۴۱ – شرح طيبی: ۸/ ۳۱۵). والله ﷻ اعلم.

د زوجينو تر منځ د شقاق په سبب فسخ او تفريق

سوال: ښځه او د هغې کورنۍ له خاوند څخه لاندي شکايات لري؟

۱_ خاوند له ښځي سره څو ورځي خبري نه کوي او ښځه په ذهني ډول په تکليفوي؟

۲_ د خاوند په اجازه له تللو وروسته بيا هم خاوند نفقه نه ورکوي؟

۳_ خاوند اولاد بوج ګڼي او مخنوی يې کوي، حال دا چي رسول الله ﷺ وايي: تزوجوا الودود الولود. (ابو داؤد) همدارنګه الله تعالي فرمايي: ﴿نساؤکم حرث لکم﴾. (سورة البقرة، الآية: ۲۲۳).

همدارنګه د انبياوو عليهم الصلاة والسلام دعاوي او نور نصوص پر دې دلالت کوي چي اولاد شرعاً او طبعاً مرغوب دئ.

۴_ خاوند له ښځي نفرت کوي بلکي د ښځي له قريبانو څخه يې هم نفرت کيږي چي په سبب يې اوس د ښځي هم له خاوند څخه نفرت کيږي؟

۵_ خاوند ښځي ته طلاق ورکول غواړي، خو د ځينو وجوهاتو په سبب يې په عوض کي ډيري پيسې غواړي؟

٦_ د خاوند داسي ضدي او بد مزاج دئ چي د خپل پلار په عيادت او جنازه کي هم نه حاضريږي؟

الجواب: د جمعيت له مسئولينو څخه دا غوښتنه ده چي د پورته مذکورو الزاماتو څېړنه او تحقيق وکړي که رښتيا وي او خاوند طلاق او يا د مهر په اندازه خلعي ته تيار نه وي نو جمعيت فسخ کولای سي ځکه علماء ښځي ته بد رد ويل د تفريق باعث بولي، نو څو ورځي خبري نه کول خو ډېر د تکليف سبب دئ.

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

که خاوند ښځي ته بد رد وايي، وهل ورکوي تحقير او سپکاوی يې کوي نو ودې ښځي ته د تفريق حق حاصل دئ.

په قرآن کريم کي دي:

﴿ ولا تمسكوهن ضرارًا لتعتدوا ومن يفعل ذلك فقد ظلم نفسه ﴾. (سورة البقرة، الآية:۲۳۱).

دا حقيقت دئ چي ښکنځل، وهل، ټول ضرر ناکه شيان دي. (مجموعه قوانين اسلامی.ص ۱۹۹).

همدارنګه له د زوجينو تر منځ شقاق موجود وي او د اصلاح صورت ممکن نه وي نو بيا هم تفريق کيدای سي.

د شقاق د لفظ تحقيق:

د شقاق معنا، عداوت، دښمني او مخالفت ده او دا د مفاعله باب مصدر دئ نو معنا يې يو له بل سره شقاق او دښمني ده امام راغب د دې داسي ترجمه کړې ده.

الشقاق: المخالفة وكونک في شق غير شق صاحبک. (المفردات فی غريب القرآن، ص۲٦٤).

د ښځي او خاوند تر منځ چي کله شقاق پيدا سي قرآن کريم داسي فيصله کړې ده.

﴿ وإن خفتم شقاق بينهما فابعثوا حكمًا من أهله وحكمًا من أهلها إن يريدا إصلاحًا يوفق الله بينهما إن الله كان عليمًا خبيرًا ﴾. (سورة النساء، الآية: ٣٥).

دا شقاق عام دئ که يوازي د خاوند لخوا وي او که د دواړو څخه وي او يا يوازي د ښځي له خوا وي که يې علت هر شی وي که هغه کوم محرمات وي او که د حقوقو نه اداء کول وي په هر صورت شقاق ختمول د قرآن کريم حکم دئ. (كتاب الفسخ والتفريق: ص ١٥٢).

ډاکټر تنزيل الرحمن په مجموعه قوانين اسلامي کي وايي:

د شقاق لفظي معنا ده اختلاف، دا له شق څخه ماخوذ دئ د چي معنا يې طرف يا جانب ده څنګه چي د شقاق په صورت کي ښځه او خاوند هم دوه طرفه ګرځي ځکه قرآن ورڅخه په شقاق سره تعبير وکړي. (مجموعه قوانين اسلامی: ٢/ ٦٤٤، بحواله اسلامی قانون نکاح و طلاق: ص ١٣٣، د مولانا يعقوب قاسمی صاحب).

علامه نسفي رحمه الله وايي:

الشقاق: العداوة، لأن كلامنهما يفعل ما يشق على صاحبه أو يميل إلى شق أي ناحية غير شق صاحبه. (تفسير النسفى: ١/ ٢٢٤ – وكذا في التفسير المنير: ٥/ ٥٨ – وأحكام القرآن للجصاص: ٢/ ١٩٠).

علامه آلوسی رحمه الله فرمايي:

والشقاق الخلاف والعداوة، واشتقاقه من الشق، وهو الجانب، لأن كلا من المتخالفين في شق غير شق الآخر. (روح المعانى: ٥/ ٢٦).

وفيه أيضاً: واختلف في أنهما (أى الحكمين) هل يليان الجمع والتفريق إن رأيا ذلك؟ فقيل: لهما: وهو المروي عن علي كرم الله تعالى وجهه وابن عباس رضي الله تعالى عنهما،

وإحدى الروايتين عن ابن جبير ، وبه قال الشعبي ، فقد أخرج الشافعي في الإمام والبيهقي في السنن وغيرهما عن عبيدة السلماني قال : «جاء رجل وامرأة إلى علي كرم الله تعالى وجهه مع كل واحد منهما فئام من الناس، فأمرهم علي كرم الله تعالى وجهه أن يبعثوا رجلا وحكماً من أهله ورجلا حكماً من أهلها ، ثم قال للحكمين : تدريان ما عليكما؟ عليكما إن رأيتما أن تجمعا أن تجمعا، وإن رأيتما أن تفرقا أن تفرقا ، قالت المرأة : رضيت بكتاب الله تعالى بما علي فيه ولي ، وقال الرجل : أما الفرقة فلا ، فقال علي كرم الله تعالى وجهه : كذبت والله حتى تقر بمثل الذي أقرت به . (روح لمعانی:۵/ ۲۶).

وفي التفسير المظهري: فقال مالك يجوز لحكم الزوج ان يطلق المرأة بدون رضاء الزوج، ولحكم المرأة ان يختلع بدون رضاء المرأة، ويجب عليها المال إذا راي الصلاح في ذلك حيث ملك على الحكمين الجمع والتفريق، وكذب الزوج على نفي الفرقة .... الخ.

(التفسير المظهری:۲/ ۱۰۱، بلوچستان).

په مجموعه قوانين اسلاي کي راځي:

که د زوجينو تر منځ ډېر سخت نفرت وي چي په سبب يې د الله تعالی حدود او خپل منځي حقوق ضائع کېدل نو په داسي صورت کي بايد لاندي څو کارونه وکړل سي:

۱_ قاضي دي دوه مصلح کسان مقرر کړي چي د دوی تر منځ صلح وکړي.

۲_ که صلح او اصلاح ممکن نه وه نو د شقاق په اساس دي قاضي د ښځي په غوښتنه تفريق وکړي.

تشريح: الله تعالی امر کوي چي په معروفه او ښه طريقه سره زوجين ژوند وکړي، نو که په کوم ځای کي د زوجينو تر منځ اختلاف او نفرت وي نو هلته اول بايد دوه مصلح کسان وټاکل سي چي د دوی تر منځ صلح وکړي او نفرت ختم کړي که د کوښښ سره سره صلح نه کېدله نو که خاوند په

خپله رضاء سره تسریح بالاحسان نه کوله نو قاضي باید د ښځي په غوښتنه تفریق وکړي. (مجموعه قوانین اسلامی:۲/ ۲۰۰).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

که د ظلم په سبب قاضي یا د قاضي نائب تفریق وکړي دا تفریق بائن طلاق ګڼل کیږي. الفراق فی ذلک طلاق بائن . (مجموعه قوانین اسلامی:۲/ ٦٧٥).

د حکمینو (مصلحینو) د تقرر له پاره د دې شرائطو پوره لحاظ باید ولري ځکه دا په مالکي مسلک کي ضرور دي.

وګورئ په الاحوال الشخصیة کي راځي:

ویشترط فی الحکمین عندهم أربعة شروط: وهی الذکورة، والعدالة، والرشد، والعلم بما هو بسبیله، فلا یجوز تحکیم النساء ولا الصبیان ولا العبید ولا المجانین ولا الکفار ولا الفسقة ولا السفهاء، ولا من لا علم عندهم بأحکام النشوز والصلح. ثم إن وجد حکمان من أهل الزوجین وأمکن تحکیمهما وجب تحکیمهما، ولم یجز للقاضي أن یبعث أجنبیین. ویندب کون الحکمین من جیران الزوجین، ولا یشترط رضاء الزوجین بما یحکمان به. (الأحوال الشخصیة:٤٠٨).

د مالکي مذهب د خلکو په نزد په حکمینو کي دا څلور شروط ضروري دي:

۱_ نارینه به وي.

۲_ عادل به وي.

۳_ رشید به وي.

۴_ د دې مقرر سوي کار په مسائلو به خبر وي.

نو ښځه، هلک، کافر، فاسق، لېونی او بې عقل حکم جوړول روانه دي همدارنګه د بې علمه حکم مقرول هم روا نه دي، البته دامکان تر حده باید د ښځې او خاوند قریبان مقرر کړل سي نور قاضي ته روانه دي خو که ممکن نه وي مشکل نه سته. (کتاب الفسخ والتفریق:۱۵۷).

په الموسوعة الفقهيه کي راځي:

ذهب الفقهاء إلى أنه يشترط في الحكمين العدالة، والفقه بأحكام النشوز، واختلفوا في اشتراط الذكورة والحرية، وذلك في الجملة، ولهم تفصيل:

قال المالكية: شرط الحكمين الذكورة والرشد والعدالة والفقه بما حكما فيه، وبطل حكم غير العدل، وهو الفاسق والصبي والمجنون بإبقاء أو بطلاق بغير مال أو بمال في خلع. وبطل حكم سفيه «وهو المبذر في الشهوات ولو مباحةً على المذهب» وحكم امرأة، وحكم غير فقيه بأحكام النشوز ما لم يشاور العلماء فيما يحكم به، فإن حكم بما أشاروا به عليه كان حكمه نافذًا. (الموسوعة الفقهية الكويتية:۴۷/ ۱۱، وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية). والله ﷻ اعلم.

وهل او تحقير او د تفريق حکم

سوال: دوو ښځو خپل مېړونه پرا ښي او د پلار کور ته تللي دي، يوه د وهلو او ظلم په سبب تللې او دا وايي، د دې ظلم په سبب نور له خاوند سره ژوند ممکن نه دئ.

دوهمه وايي، د خاوند د بد زباني (فحش او ناوړو الفاظو) او ښکنځلو په سبب نور هلته له خاوند سره ژوند ممکن نه دئ ايا دا افعال نشوز بلل کيږي او که نه؟ ايا پر داسي صورت کي د دې ښځو نفقه په خاوند واجب ده؟ د ماشومانو نفقه پر چا ده؟ همدارنګه دا ظلم او تحقير د تفريق سبب کېدلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د وهلو، ډېولو، ظلم، بد رد ويلو او تحقير په سبب د خاوند له خوا نشوز دئ او تجاوز دئ په داسي صورت کي که ښځه له ظلم څخه د خلاصون له پاره د پلار کور ته ولاړه

سي دا ناشزه نه ده او د دې او د صغير اولاد نفقه پر خاوند ده، همدارنګه له ظلم څخه د خلاصون له پاره بايد ښځه قاضي يا د قاضي ونائب ته عريضه وکړي او قاضي دا حق لري چي په داسي صورت کي تفريق وکړي او دا ښځه له ظلم څخه خلاصه کړي.

په کتاب الفسخ والتفريق کي راځي:

په اسلامي قانون کي دا حق سته چي د ظلم په صورت کي ښځه وقاضي ته عريضه وکړي او له قاضي څخه د تعزير غوښتنه وکړي دا حنفي مسلک دئ، البته مالکي مسلک دا دئ چي ښځه له قاضي څخه د تطليق غوښتنه وکړي.

په الاحوال الشخصية کي راځي:

مذهب الحنفية أن الزوج الذي يضار زوجته بنحو الضرب الأليم المبرح يستحق التعزير، وللزوجة أن ترفع أمرها إلى القاضي طالبته تعزيره ، ومذهب المالكية أن للزوجة في هذه الحالة أن تطلب إلى القاضي أن يطلقها منه، وأخذ المشروع المصري أخير المذهب المالكية في هذه المسئلة، وسنستو في بحث هذا الموضوع فى الكلام على فرق الزوج. (الأحوال الشخصية:١٥٤).

نو په ياد صورت کي که وهل، ظلم او تحقير داسي حد ته رسېدلي وي چي له تفريق څخه پرته يې د حل بله لاره نه وي نو په داسي صورت کي د مالکي مسلک په اساس قاضي تفريق کولای سي.

د مالکي مسلک تصريحات دا دي:

ومذهب المالكية أن الزوج إذا كان يضار زوجته بالضرب ونحوه كالإكراه على فعل أمر حرام كان لها أن ترفع أمرها إلى القاضي، وكان لها أن تطلب من القاضي تأديبه وزجره ليكف أذاه عنها كما أن تطلب التطليق منه، فإن طلبت من القاضي كفه عنها وعظه أول الأمر فبين له ما يجب على الزوج من حسن معاشرة زوجته وما عسى أن يترتب على سوء العشرة من

التفريق الشمل وضياع الولد إن كان، فإن أجدت الموعظة فبها، وإن جانته ثانية تخبره أنه لم ينته ضربه، فإن استمر الأشكال بينهما بعث حكمين، ويجب على حكمين أن يسعيا في إصلاح ذات بينهما وتأليف قلبيهما على المودة وحسن المعاشرة، فإن تعذر عليهما ذلک نظرا فيمن تجيئ الإساءة من جهته إلى صاحبه، فإن كانت الإساءة تأتي من قبل الزوج طلقا الزوجة عليه بغير عوض. (الأحوال الشخصية:ص ٤٠٧، بحواله كتاب الفسخ التفريق:١٤٩).

په الموسوعة الفقهية الكويتية کي راځي:

الشقاق هنا : هو النزاع بين الزوجين ، سواء أكان بسبب من أحد الزوجين ، أو بسببهما معًا أو بسبب أمر خارج عنهما ، فإذا وقع الشقاق بين الزوجين ، وتعذر عليهما الإصلاح ، فقد شرع بعث حكمين من أهلهما للعمل على الإصلاح بينهما وإزالة أسباب النزاع والشقاق . بالوعظ وما إليه ، قال تعالى : ﴿ وإن خفتم شقاق بينهما فابعثوا حكمًا من أهله وحكمًا من أهلها إن يريدا إصلاحًا يوفق الله بينهما ﴾ . ومهمة الحكمين هنا الإصلاح بين الزوجين بحكمة وروية .

وقد اختلف الفقهاء في مهمة الحكمين .... وذهب المالكية إلى أن واجب الحكمين الإصلاح أولاً ، فإن عجزا عنه لتحكم الشقاق كان لهما التفريق بين الزوجين دون التوكيل، ووجب على القاضي إمضاء حكمهما بهذا التفريق إذا اتفقا عليه وإن لم يصادف ذلک اجتهاده. (الموسوعة الفقهية الكويتة:٢٩/ ٥٣، التفريق للشقاق، وزارة الأوقاف، الكويت).

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

که خاوند وهل، ښکنځل او تحقير کوي، نو د ظلم په صورت کي ښځه د تفريق حق لري.

تشريح: الله تعالى فرمايي:

﴿ ولا تمسكوهن ضرارًا لتعتدوا ومن يفعل ذلك فقد ظلم نفسه ﴾. (سورة البقرة: ۲۳۱).

نو وهل او بد رد ویل ټول ضرر دئ همدارنګه نبي کریم ﷺ له ضرب مبرح څخه منعه کړې او د اسلام د دې قاعدې په اساس چې: لاضرر ولاضرار في الاسلام، ښځه حق لري چې د ظلم په صورت کې قاضي ته عریضه وکړي او قاضي به تر تحقیق الحال وروسته مناسبه فیصله وکړي یعني یا به خاوند اصلاح کړي او یا به یې په خلع او یا طلاق راضي کړي، که نه نو قاضي به تفریق وکړي. (مجموعه قوانین اسلامی: ۱۹۹، المادة ۸۱ – هکذا فی کفایت المفتی: ۶/ ۱۵۲).

همدارنګه که د ظلم په سبب ښځه له کور څخه ووځي ناشزه نه بلل کیږي او نفقه یې پر خاوند لازمه ده.

وګورئ په درمختار کې راځي:

لانفقة لأحد عشر.... وخارجة من بيته لغير حق وهي الناشزة . وفي الشامية: قوله « بغير حق » ذكر محترزه بقوله: بخلاف ما خرجه الخ، وكذا هو احتراز عما لو خرجت حتى يدفع لها المهر، ولها الخروج في مواضع مرت في المهر. (الدر المختار مع الشامی: ۳/ ۵۷۶، باب النفقة، ط: سعيد).

په البحر الرائق کې راځي:

قوله (ولو مانعةً نفسها للمهر) أي يجب عليه النفقة ولو كانت المرأة مانعةً نفسها بحق كالمنع لقبض مهرها، والمراد منه المعجل إما نصا أو عرفًا كما أسلفناه، لأنه منع بحق، فكان فوت الاحتباس لمعنًى من قبله ، فيجعل كلا فائت . (البحر الرائق: ۴/ ۱۷۹، باب النفقة – وكذا في مجمع الانهر: ۱/ ۴۸۹ – والفتاوی الهندية: ۱/ ۵۴۵، باب في النفقة).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:؛

د پالني د وخت نفقه د پلار پر ذمه ده که د کوچني پلار مالدار وي نو د کوچني مور د پالني د وخت معاوضه هم طلب کولای سي. (فتاوی رحیمیه:۸/ ۴۵۱). والله ﷻ اعلم.

له شیعه خاوند څخه خلاصون

سوال: یوې سني ښځي له شعیه خاوند سره نکاح کړې تر شپږ تېرولو وروسته هغه ووېل، زه بیا نه راځم، اوس ښځه باید څه وکړي؟

الجواب: د هند او پاکستان علماء د دې قائل دي چي شیعه د ځینو کفري عقایدو په اساس کافر دئ نو لهذا دا نکاح صحیح نه سوه مګر څنګه چي اوس نکاح ترل سوې نو قاضي دي تفریق وکړي او تر عدت وروسته ښځه بل ځای نکاح کولای سي.

د تفصیل له پاره وګورئ فتاوی دار العلوم زکریا. والله ﷻ اعلم.

که خاوند تر اوږدې مدې پوري د کور معلومات نه کوي؟

سوال: د یوې ښځي د واده کولو تقریباً څوارلس کاله تېر سوی دي اولادونه یې هم سته خو تقریباً (۹) کلونه سوی دي چي خاوند د ښځي پوښتنه نه ده کړي او د مصارفه انتظام یې هم نه دئ کړي او کور ته هم نه راځي په دې صورت کي د شریعت حکم څه دئ؟

الجواب: په پورتني صورت کي چي خاوند د ښځي پوښتنه نه کوي او ډوډئ او نفقې انتظام یې هم نه کوي نو په شریعت کي ښځي ته دا حق سته چي قاضي یا د جمعیت العلماء په وړاندي خپله مقدمه وړاندي کړي قاضي یا جمعیت العلماء به د معاملې د تحقیق وروسته خاوند پر نفقه وغیره مجبور کړي او که یې نه اداء کوي پر طلاق به یې مجبور کړي او که دا هم نه کوي نو قاضي یا جمعیت العلماء دي نکاح فسخ کړي ښځه دي عده تېره کړي او بل ځای نکاح کولای سي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قال في غرر الأذكار: ثم اعلم أن مشايخنا استحسنوا أن ينصب القاضي الحنفي نائباً ممن مذهبه التفريق بينهما إذا كان الزوج حاضراً وأبى عن الطلاق، لأن دفع الحاجة الدائمة لا

يتيسر بالاستدانة، إذ الظاهر أنها لا تجد من يقرضها وغنى الزوج مآلا أمر ... هم، فالتفريق ضروري إذا طلبته، ...... والحاصل أن التفريق بالعجز عن النفقة جائز عند الشافعي حال حضرة الزوج، وكذا حال غيبته مطلقاً ..... نعم يصح الثاني عند أحمد كما ذكر في كتب مذهبه وعليه يحمل ما في فتاوى قارئ الهداية حيث سأل عمن غاب زوجها، ولم يترك لها نفقة فأجاب : إذا أقامت بينة على ذلك وطلبت فسخ النكاح من قاض يراه ففسخ نفذ وهو قضاء على الغائب ، وفي نفاذ القضاء على الغائب روايتان عندنا، فعلى القول بنفاذه يسوغ للحنفي أن يزوجها من الغير بعد العدة . (فتاوى الشامي:٣/ ٥٩٠، مطلب في فسخ النكاح، سعيد).

دعلامه سعيد بن صديق فلاتي مالكي فتوى وګورئ:

أما الجواب عن المتعنت الممتنع عن الإنفاق ففي مجموع الأمير ما نصه: إن منعها نفقة الحال فلها القيام، فإن لم يثبت عسره أنفق أو طلق، وإلا طلق عليه. قال محشيه : قوله وإلا طلق أي طلق عليه الحاكم من غير تلوم إلى أن قال: وإن تطوع بالنفقة قريب أو أجنبي .... قال ابن عبد الرحمن : لامقال لها، لأن سبب الفراق هو عدم النفقة قد انتفى . (الحليلة الناجزة: ص ١١٥-١١٩)

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

که خاوند پر نفقه د قدرت درلودو سره سره د ښځي نفقه نه اداء کوي او نه ښځه د عزت او ابرو د حفاظت سره خپله نفقه اداء کولای سي او نه يې بل څوک د نفقې کفيل وي يا خو په مشکله توګه يې د نفقې انتظام کېدای سي خو د خاوند څخه په جلا اوسېدو کي يې په ګناه کي داخته کېدو قوی ېېره موجوده وي او خاوند په خلع يا طلاق هم راضي نه وي نو د داسي مجبورۍ په حالت کي ښځه وقاضي ته جلا والي درخواست ورکولای سي قاضي دي د شاهدانو وغيره په ذريعه د معاملې پوره تحقيق وکړي که د ښځي دعوه درسته وي نو قاضي دي خاوند ته حکم وکړي چي د ښځي حقوق

اداء کړه یا طلاق ورکړه که نه موږ به مو سره جلا کړو که خاوند هیڅ لار نه ورکړ نو قاضي دي د دواړو تر منځ جلا والي وکړي او دغه تفریق به رجعي طلاق وي . (الحيلة الناجزة: ص:٦٣ – او كفايت المفتي: ٦/ ١١٧) . والله ﷻ اعلم.

د دائمي مريضۍ له امله د ښځي له پاره د نکاح د فسخ کولو حکم

سوال: يوه ښځه تر نکاح وروسته څه مده له خاوند سره واوسېدل تر هغه وروسته يې خاوند په يوه سخته مريضۍ مبتلاء سو اوس خاوند سره د دې چي نامرد نه دئ خو پر جماع کولو قدرت نه لري د ښځي مصارف ورکوي خو ښځه نه غواړي چي ورسره واوسيږي او په خپل خوښي غواړي چي نکاح يې فسخه سي نو ايا نکاح فسخ کېدای سي او که نه ؟

الجواب: په پورتنۍ صورت کي د دائمي مريضۍ له امله خاوند د ځوانۍ ښځي د حقوقو د اداء کولو څخه قاصر دئ او په ګناه کي د لوېدو بېره سته نو ځکه علماوو د فسخ کولو اجازه کړي ده. ښځه به خپله دعوه قاضي ويا جمعيت العلماء ته وړاندي کړي هغوی دي د حال د تفتيش له پاره خاوند ته يو قمري کال د علاج وخت ورکړي که بيا هم جوړ نه سو بيا دي د تفريق غوښتنه وکړي اوس قاضي يا جمعيت العلماء ته د نکاح د فسخ کولو اجازه سته .

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

که خاوند پر وطي قدرت نه درلود يا مقطوع الذکر وي يا يې اله تناسل دومره کوچني وي چي پر جماع قدرت نه لري يا د مريضۍ له امله قدرت نه لري نو په دې ټولو صورتونو کي قاضي ته د نکاح د فسخ کولو اختيار سته په اولو دوو صورتو کي دي فوراً فسخ کړي په درېيم صورت کي دي يو قمري کال وخت ورکړي بيا دي د ښځي په غوښتنه قاضي نکاح ورفسخ کړي . (مجموعه قوانين اسلامي: ص: ١٩٤).

په جنګ کي د مفقود الخبر د ښځي حکم

سوال: په يو هيواد کي د جنګو د جوړېدو وروسته څه کسان مفقود الخبر سوه يعني له څو کلونو يې معلومات نه سته د ژوند او مرګ خبر يې نه سته داسي کسان مفقود الخبر شمېرل کيږي او که نه ؟

الجواب: په پورتنۍ صورت کي ښځه شکه دا کسان د مفقود الخبر په حکم کي دي او د مفقود په هلکه احنافو د مالکیه وو پر مذهب فتوی ورکړي ده او د مالکیه وو په مذهب کي د څلورو کلونو وروسته د څو شرائطو په موجودیت کي قاضي پر هغه د مرګ حکم کوي او ښځي ته د دوهمي نکاح اجازه ورکوي.

مفتي محمد شفیع وايي: کله چي قاضي ته د قرینو او حالاتو څخه غالب ګمان سي چي دا کسان په جنګ کي مفقود الخبر دي ژوندی نه دي نو په دغه وخت کي به پر دوی د مرګ حکم کیږي ښځه به يې د قاضي د اجازې وروسته د نکاح اجازه لري په دې وخت کي چي شرعي قاضي نه سته نو د هغه قائم مقام جمعیت العلماء یا جمعیة المسلمین به د حال د تحقیق وروسته د مرګ حکم ورکړي او د دوهمي نکاح اجازه به ورکړي. (امداد المفتیین: ص : ۵۵۶).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

فائده: د مفقود د زوجي له پاره د څلور کلونو څخه د زیات انتظار حکم په هغه صورت کي بالاتفاق ضروري دئ چي کله ښځه دومره مده په صبر تحمل او عفت سره تېرولای سي او که دا ممکن نه وي او ښځه غوښتنه وکړي نو دا ګنجائش هم سته چي د څلورو کلونو په اندازه تخفیف وسي ځکه که د ښځي په هکله په ګناه کي داخته کېدو سخته بېره وي نو د ده په اند له یوه کال تېرولو وروسته تفریق جایز دئ دغه تفریق به طلاق رجعي وي او په دې صورت کي د مفقود زوجه د وفات د عدې پر ځای د طلاق عده تېر وي. (مجموعه قوانین اسلامی: ص: ۱۹۶، بحواله الحیلة الناجزة: ص ۶۹-۸۰). والله ﷻ اعلم.

خاوند تل غائب وي

سوال: دیوې ښځي خاوند تر واده پنځه میاشتي وروسته د څه وخت له پاره په ناځاپي ډول غائب سو تر کافي وخت وروسته پیدا سو، وروسته بیا ورک سو او تر کافي وخت وروسته بیا پیدا سو، لنډه دا چي تل داسي غائب وي بیا پیدا سي د کوم کاروبار درک يې هم نه معلومیږي ښځي ته کور، نفقه او نور حقوق نه ورکوي، بلکي له ښځي څخه غلا هم کوي او د ښځي ژوند ډېر خراب دئ ایا شرعاً دا ښځه د طلاق د غوښتني حق لري او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي ښځه بايد وقاضي ته خپل ټول حال د حقيقت په اساس بيان کړي، قاضي به تر تحقيق وروسته خاوند ته حکم وکړي چي د دې ښځي حقوق اداء کړي، که نه په طلاق دې مجبوره کړي، خو که طلاق ته هم حاضر نه سو، نو قاضي دې يوه مياشت وخت ورکړي او وروسته دي د ښځي په غوښتنه تفريق وکړي.

په مجموعه قوانين اسلامي کي راځي:

د کوم کس ژوند چي معلوم وي مګر ادرس يې معلوم نه وي يا معلوم وي مګر ښځي ته نه راځي او نفقه نه ورکوي چي په سبب ښځه په ډېر مشکل کي وي په داسي صورت کي ښځه حق لري چي عريضه وکړي او له قاضي څخه د تفريق غوښتنه وکړي. قاضي بايد:

الف _ قاضي به له ښځي شاهدان وغواړي چي له خاوند سره خپله نکاح او حقوق ثابت کړي او د نه اداء کولو ثبوت هم وړاندي کړي.

باء _ وروسته به قاضي هغه خاوند ته حکم ورکړي چي حاضر سي د ښځي حقوق اداء کړي يا ښځه هلته ور وغواړي (په دې شرط چي کوم شرعي او واقعي مانع نه وي) يا دي کوم بل ترتيب جوړ کړي، که نه، قضاء تفريق کوي.

اوس که دا کس د قاضي خبره ونه مني، نو قاضي دي د خپلي رايې مطابق څه نور مهلت هم ورکړي که بيا هم حقوق اداء نه کړي نو قاضي دي تفريق وکړي.

د مفتي هاشم مالکي فتوا وګورئ:

طريق تطليق زوجة المفقود أو الغائب الذي تعذر الإرسال إليه أو أرسل إليه فتعاند إن كان لعدم النفقة فإن الزوجة تثبت بشاهدين أن فلاناً زوجها وغالب عنها ولم يترک لها نفقة ولا وكيلاً بها ولا أسقطتها عنه وتحلف على ذلک فيقول الحاكم فسخت نكاحه أو طلقتک منه أو يأمره بذلک ثم يحكم به وهذا بعد التلوم بنحو شهر أو باجتهاده عند المالكية. (الحيلة الناجزة: ۱۱۰، دار الاشاعت، ديوبند). همدا ډول وګورئ: (الحيلة الناجزة: ۱۹۲، امدادية – وكتاب الفسخ والتفويق: ۷۵-۷۸). والله تعالى اعلم.

د پردۍ ښځې سره ناروا تعلقات

سوال: يوه ښځه وايي چې زما خاوند له يوې اجنبي (پردۍ) ښځې سره ناروا تعلقات لري چې د هغې په سبب وخپل اولاد او ښځې ته هيڅ توجه نه کوي، اکثر وخت هلته تير وي او کور ته نه راځي، نفقه هم پوره نه راکوي ډېر وخت پلار زما خرڅه راکوي د اولاد مصارف هم پوره نه راکوي ايا په داسې صورت کې ښځه حق لري چې د تفريق غوښتنه وکړي؟

الجواب: په دې صورت کې که واقعاً داسې صورت وي نو ښځه حق لري چې د طلاق غوښتنه وکړي او که خاوند طلاق نه ورکوي نو قاضي دي تر تحقيق او د هغه له امر څخه له سر غړونې وروسته د تفريق فيصله وکي.

وګورئ: په مجموعه قوانين اسلامي کې راځي:

که خاوند وهل کوي، تحقير کوي حقوق نه اداء کوي نو ښځه د تفريق حق لري.

په قرآن کريم کې دي:

﴿ ولا تمسكوهن ضرارًا لتعتدوا ومن يفعل ذلك فقد ظلم نفسه ﴾. (سورة البقرة: ۲۳۱).

او دا څرګند حقيقت دئ چې بد رد ويل، وهل ټول تکليف رسوونکي شيان دي.

همدارنګه مذکور دي:

که د زوجينو تر منځ شديد نفرت وي او دواړه د الله ﷻ حدود مراعت کولای نه سي نو په داسې صورت کې:

۱_ قاضي به حکمين مقرر کړي چې اصلاح وکړي.

۲_ که اصلاح ونه سوه او د طلاق صورت هم ممکن نه وو نو قاضي به تفريق وکړي. (مجموعه قوانين اسلامي: ۲۰۰). والله تعالیٰ اعلم.

د يوه مولوي صاحب تفريق

سوال: د يوې ښځې او خاوند تر منځ مشكلات راغلل چې په سبب يې ښځه د پلار كور ته ولاړه اوس هلته ناسته ده او د خاوند كور ته نه راځي خاوند ورته وايي د شريعت له مخې زما اولادونه را وليږه زه طلاق دركوم مگر ښځه يې نه وركوي بالاخره دې ښځې ديوه مولوي صاحب په واسطه نكاح فسخ كړه ايا دا نكاح فسخ سوه او كه نه؟

الجواب: ۱ _ په دې صورت كې د نكاح فسخ نه ده سوې ځكه د نكاح فسخ بايد قاضي يا د قاضي نائب (د مسلمانانو شورا) په كوم ځاى كې چې قاضي نه وي وكړي له قاضي يا د قاضي د نائب څخه پرته بل څوك دا كار نه سي كولاى.

وګورئ په الحيلة الناجزه كې راځي:

د ښځې د خلاصيدو له پاره دا ضروري ده چې ښځه خپله دعوه قاضي ته وړاندې كړي كه قاضي نه وي نو د مسلمانانو جماعت د قاضي پر ځاى درېږي د هغه صورت به داسي وي چې محلي د ديندارو كسانو يو جماعت چې تعداد يې دېري وي هغو ته دې خپله معامله وړاندې كړي هغوى دې د واقعي تحقيق وكړي او د شريعت موافق فيصله دې وكړي . (الحيلة الناجزة: ص ۲٤۸ – چند اهم فقهى مسائل: ص ٦۰).

۲ _ كله چې اوله نكاح فسخ نه سوه، نو دوهمه نكاح فاسده ده، البته له دوهمې نكاح څخه پيدا سوى اولاد ثابت النسب دئ.

وګورئ په عالمكيري كې راځي:

ويثبت نسب الولد المولود فى النكاح الفاسد وتعتبر مدة النسب من وقت الدخول عند محمد رحمه الله وعليه الفتوى قاله أبو الليث رحمه الله كذا فى التبيين. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۳۳۰، باب فى النكاح الفاسد).

۳ _ د اول خاوند تر مرګ وروسته دا ښځه د ميراث حق لري، البته د دوهم خاوند تر مرګ وروسته د ميراث حق نه لري.

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله ویثبت النسب (فی النکاح الفاسد) أما الأرث فلا یثبت فیه. (فتاوی الشامی: ۳/ ۱۳۴، مطلب فی النکاح الفاسد. ط: سعید - ومثله فی الطحطاوی علی الدر المختار: ۲/ ٦۰، باب المهر. ط: کوئته). والله ﷻ اعلم.

ارتداد او د نکاح فسخ کېدل

سوال: یوه ښځه له خاوند څخه ډېر په تکلیف وه، ظلم یې پر کاوه خو طلاق یې هم نه ورکوئ چا دې ښځي ته د ارتداد حیله ورښودلې وه ((العیاذ بالله)) ښځي داسي وکړل ایا اوس دا ښځه بل ځای نکاح کولای سي ایا اوله نکاح یې له مرتد کېدلو سره ختمه سوه دا ښځه اوس بیر ته مسلمانه سوې ده؟

الجواب: زموږ علماوو دا مسئله په ډېر تفصیل سره ذکر کړې (په امداد المفتین ۵۷۰-۷۷۵) کي تفصیل ذکر دئ، له فتاوی هندیه الباب العاشر فی نکاح الکفار ۲/ ۳۱۷، فتح القدیر، نکاح اهل الشرک: ۳/ ۲۹۷ - البحر الرائق: ۲/ ۲۳۰ - شامی: ۲/ ۴۰۳. له دې ټولو کتابو څخه عبارات نقل دي حاصل دا چي د دې ښځي نکاح فسخ سوه خو قاضي به یې د اسلام تر نوي کولو وروسته په لږ مهر بیر ته همدغه خاوند په نکاح کړي او د دې رضایت ته اعتبار نه سته، د قاضي فیصله کفایت کوي همدا د بخاری فتوا د مشایخو ده او همدا ظاهر الروایة دئ چي په عامو متونو او شروحو کي ذکر دي.

د یوه بل سوال په جواب کي یې لیکلي:

په حنفي مذهب کي په دې مسئله کي درې قوله دي:

۱_ دا یاد سوی قول کوم چي په عامو متونو او کتابو کي ذکر دئ.

۲_ دوهم قول دا چي دا نکاح فسخ نه سوه همدا د بلخ د مشایخو فتوا ده، درمختار پر همدې فتوا ورکړې، شامي هم له نهر الفائق څخه همدا فتوا نقل کړې او په فتاوي قنیه کي هم همدا فتوا نقل ده.

۳_ دا ښځه به مینځه وګرځوي کما فی الدر المختار، قاضي خان، فتح القدیر، قنیه، شامي او

مګر په اوسنۍ زمانه کې په اول او درېیم قول عمل تقریباً ممکن نه دئ، نو له همدې کبله دوهم قول مفتی به دئ، خو احتیاط دا دئ چې له تجدید نکاح پر ته وطی ونه کړي. (امداد المفتین: ۲/ ۵۷٤).

نوټ: مسلمان قاضي او یا د مسلمانانو شورا باید تل متوجه وي، د خلکو پر احوالو غور او فکر وکړي د ضرورت په وخت کې د حیله ناجزه کتاب د اصولو په اساس فسخ وکړي تر څو د ارتداد مخه ونیول سي. والله ﷻ اعلم.

غیر مسلم قاضي نکاح فسخ کولای سي؟

سوال: په امریکا کې یوې ښځې په حکومت کې عریضه وکړه او د غیر مسلم (کافر) قاضي په واسطه یې پر خپل خاوند د طلاق فیصله وکړه ایا د غیر مسلم قاضي له خوا دا کار صحیح کیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې نکاح د پخوا په شان باقي پاته ده او د غیر مسلم قاضي له خوا دا کار معتبر نه دئ.

په البدائع الصنائع کې راځي:

الصلاحية للقضاء لها شرائط منها العقل ومنها البلوغ ومنها الإسلام ومنها الحرية ومنها البصر ومنها السلامة عن حد القذف. (بدائع الصنائع: ۷/ ۳، کتاب ادب القضاء، ط: سعيد).

په حیلة ناجزة کې راځي:

په کوم ځای کې چې مسلمان قاضي نه وي، نو د قاضي نائب هم دا فیصله کولای سي که د قاضي نائب هم نه وي، نو غیر مسلم قاضي دا کار نه سي کولای. لان الكافر ليس باهل للقضاء على المسلم كما هو مصرح فى جميع كتب الفقه. (الحيلة الناجزة: ص ۲۳).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

د غیر مسلم قاضي فیصله شرعاً اعتبار نه لري. (فتاوی رحیمیه: ۸/ ۳۷۷).

په کفایت المفتي کې راځي:

د غیر مسلم حاکم فیصله کافي نه ده. (کفایت المفتی: ٦/ ۱۳۲).

په ایضاح النوادر کي راځي:
غیر مسلم قاضي که د طلاق او یا بل څه متعلق فیصله وکړي نو شرعاً یې فیصله معتبره نه ده او ښځه له نکاح څخه نه خلاصیږي، علامه شامي رحمه الله وایي: لم ینفذ حکم الکافر علی المسلم وینفذ للمسلم علی الذمي. (ایضاح النوادر: ص ١٥٢). والله تعالیٰ اعلم.

د غیر مسلم متبادل صورت

سوال: نن سبا په ډېرو غیر اسلامي هیوادو کي مسلمانان اوسیږي کله نا کله د ضرورت په اساس حکومت ته عریضه کوي او حکومت د طلاق یا فسخ کوي ایا شرعاً دا فیصله نافذه ده که نه وي نو متبادل صورت یې څه دئ؟

الجواب: د غیر مسلم د فیصلې متعلق څو صورتونه دي:

١_ خاوند په حکومت کي د طلاق متعلق عریضه کوي، غیر مسلم قاضي د طلاق فیصله کوي. شرعاً په مذکور ډول طلاق واقع کیږي او شریعت که څه هم مکمل اختیار خاوند ته ورکړی مگر په یاد صورت کي خاوند قاضي وکیل کړ او وکیل د دوی نکاح ختمه کړه.

نو (The said marriaqe will be dissolved) بائن طلاق واقع سو او نکاح ختمه سوه او د حکم او فیصلې له وخته عدت شروع کیږي.

٢_ ښځه دي د ملکي قانون مطابق په محکمه کي عریضه وکړي او خلاصون دي وغواړي او غیر مسلم قاضي دي د خلاصون فیصله وکړي . په دې صورت کي لاندي تفصیل موجود دئ:

١_ کله چي رسمي کار په عریضه شروع سي او خاوند خبر سي نو خاوند دي قاضي ته اجازه ورکړي نو په دې صورت کي طلاق واقع کیږي.

٢_ کله چي په عریضه رسمي کار شروع سي، نو وکیل دي خاوند راضي کړي چي پر طلاق نامه وکیل او یا هم خپله خاوند امضاء وکړي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

« إذا قال الرجل طلق امرأتي کان تو کیلاً ولم یقتصر علی المجلس ». (الفتاوی الهندیة: ١/ ٤٠٢).

په بل ځای کي دي: (۴۰۷). یعني کله چي کوم نارینه وریو چا ته وویل چي زما ښځي ته طلاق ورکړه نو دی د طلاق ورکولو وکیل ګرځي.

« من قال لامرأته انطلقي إلی فلان حتی یطلقک، فذهبت فطلقها فلان ویصیر فلان وکیلاً باالتطلیق وإن لم یعلم بو کالته ».

یعني یوه سړي وښځي ته وویل، ته فلاني ته ولاړه سه چي هغه تا ته طلاق درکړي هغه ولاړه او هغه فلاني طلاق ورکړ نو طلاق صحیح سو ځکه هغه فلانی د سړي له خوا وکیل سو.

۳_ ښځي عریضه وکړه او قاضي خاوند ته حال ور ولېږئ خو هغه ونه منل او دفاع یې وکړه، خو د دي باوجود بیا هم د قانون په اساس قاضي فیصله وکړه.

۴_ خاوند پر خپلو غلطیو اقرار وکړ او د راتلونکي له پاره یې اطمنان ورکړ چي بیا دا کار نه کوم، خو بیا هم قاضي د طلاق فیصله وکړه.

۵_ خاوند کوم کار ونه کړ او نه دلالةً په طلاق راضي سو خو بیا هم قاضي د طلاق فیصله وکړه.

٦_ خاوند له عریضې څخه د دفاع انکار وکړ او له طلاق څخه یې هم صراحةً انکار وکړ، خو بیا هم قاضي د طلاق حکم وکړ.

په ۳-۴-۵-٦، صورت کي د حکومت د قانون په اساس د دوی نکاح ختمه سوه مګر شرعاً نکاح ختمه سوې نه ده او ښځه بل ځای نکاح نه سي کولای، البته ښځه حق لري چي د شرعي قانون مطابق ځان خلاص کړي. (ماخوذ از فتوا مفتی محمد اسماعیل، اسلامی قانون نکاح).

که غیر مسلم قاضي وکیل کړي نو......

د (۲۰۰۴) کال د برطانیې د نوي قانون په اساس خاوند ته د محکمې له خوا په لاندي ډول سوال ورلېږل کیږي ایا ستا له طرفه طلاق واقع کړو او که نه؟

په یاد صورت کي که خاوند ورته په هو، جواب ورکړ نو طلاق واقع سو ځکه دلته خاوند هغه قاضي وکیل کړ. (اسلامی قانون نکاح او طلاق).

مختصر دلائل دا دي:

په مبسوط کي راځي:

وإذا وكلت الذمية مسلماً بخلعها من الذمي على خمر أو خنزير جاز، وكذلك النكاح ... ولو كان أحد الزوجين مسلماً والوكيل كافراً جاز الخلع ويبطل الجعل.... لأن الوكيل سفير ومعبر لايتعلق به شيء من حقوق العقد هنا. (المبسوط للامام السرخسی:۱۹/ ۱۳۲، باب توكيل الزوج بالطلاق والخلع، ط: ادارة القرآن – وكذا فی الفتاوی الهندية:۶/ ۶۱۳).

په هدايه کي راځي:

أن الوكيل في النكاح معبر وسفير والتمانع في الحقوق دون التعبير ولا ترجع الحقوق إليه بخلاف البيع لأنه مباشر حتى رجعت الحقوق إليه .(الهداية:۲/ ۳۲۲، فصل فی الوكالة بالنكاح – ومثله فی البحر الرائق:۳/ ۱۳۶، فصل فی الوكالة، كوئته).

په فتاوی شامي کي راځي:

الو كيل في النكاح وما بعده سفير محض فلا بد من إضافة هذه العقود المذكورة إلى المؤكل. (فتاوى الشامی:۳/ ۸۱۷، مطلب فی العقود التی لابدمن اضافتها الی المؤكل، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د طلاق د وقوع دوهم صورت

سوال: په اوسني عصر کي د شرعي قاضي د نه شتون په سبب ښځو ته ډېر مشکلات پېښ دي کله نارينه ظلم پر کوي، کله هم ډوډئ او نفقه نه ورکوي او کله نور ظلم پر کويْ، نو د همدې مشکلاتو د مخنوي په خاطر ښځي له مخکي څخه له نارينه څخه دا اقرار ليکلی اخلي چي د ضرورت په وخت کي ځان ته طلاق ورکړي ايا شرعاً دا کار صحيح دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د ضرورت په سبب دا کار روا دئ. (ماخوذ اسلامی قانون نكاح وطلاق – الحيلة الناجزة: ص ۳۱).

دوهم .... فصل

د فسخ او تفریق بنیادي اصول

د فسخ او تفریق مفهوم او د نکاح د تعلق د ختم کولو اختیار

سوال: شریعت مقدس د طلاق مکمل اختیار خاوند ته ورکړی او ښځه د طلاق اختیار نه لري، مګر کوم داسي صورت هم سته چي ښځه هم د نکاح د ختمولو اختیار ولري؟

الجواب: کله چي د نکاح ژوند خراب سي او د ښځي او خاوند تر منځ ژوند تریخ سي، نو لکه څنګه چي خاوند ته شریعت حق ورکړی چي د شریعت د قانون له مخي ښځي ته طلاق ورکړي همدارنګه ښځي ته هم د سخت مشکل ژوند په وخت کي شریعت حق ورکړی چي د خلع، فسخ او تفریق د قانون په چوکاټ کي ځان خلاص کړي، البته له همدې قانون څخه غلطه استفاده کول په کار نه ده چي په معمولي مشکل هم نکاح فسخ کول غواړي.

رسول الله ﷺ فرمايي:

« أيما امرأة اختلعت من زوجها من غير بأس لم ترح رائحة الجنة». (رواه الترمذی: ۱/ ۲۲٦، باب ماجاء في المختلعات).

همدارنګه بل ځای فرمايي:

« أيما امرأة سألت زوجها طلاقاً في غير ما بأس به فحرام عليها رائحة الجنة ». (رواه الترمذی: ۱/ ۲۲٦، باب ماجاء في المختلعات).

ژباړه: کومه ښځه چي بې عذره له خاوند څخه طلاق غواړي پر هغې ښځي د جنت بوئ حرام دئ.

البته د مشکل په وخت کي بیا څه پروا نه لري چي ښځه ځان خلاص کړي.

❁ تفریق د نکاح د تړون وختمولو ته ویل کیږي.

❁ تفریق پر دوه ډوله دئ:

۱_ د قاضي قضاء پکښي شرط وي.

۲_ د قاضي قضاء پکښې شرط نه ده.

هغه صورتونه چې قضاء پکښې شرط ده د دي:

۱_ نکاح په غیر کفو کې وي.

۲_ مهر ډېر کم وي او غبن فاحش پکښې وي.

۳_ نابالغه خیار بلوغ اختیار وي.

۴_ د خاوند د زوجیت حقوق نه اداء کوي.

۵_ خاوند پر جماع قادر نه وي.

۶_ خاوند په جذام، برص، ایډز او یا بل خطرناک مرض مبتلاء وي.

۷_ خاوند د توان باوجود نفقه نه ورکوي.

۸_ خاوند لېونی سي.

۹_ خاوند مفقود (ورک) سي.

۱۰_ خاوند له نفقې څخه عاجز وي.

۱۱_ خاوند ظلم کوي.

۱۲_ د زوجینو تر منځ شقاق موجود سي.

۱۲_ خاوند غائب غیر مفقود وي.

۱۳_ خاوند په دوکه سره ښځه په نکاح کړې وي.

۱۴_ د مصاهرت په سبب تفریق (که زوجین په خپله متارکت غوره کړي بیا د قاضي قضاء شرط نه ده او که نه قضاء واجب ده).

۱۵_ د نکاح د فساد په سبب تفریق (البته که زوجین په خپله متارکت غوره کړي بیا قضاء شرط نه ده که نه واجب ده).

د تفریق هغه صورتونه چې د قاضي قضاء پکښې شرط نه ده په لاندي ډول دي:

۱_ د مصاهرت تر ثبوت وروسته له خاوند متارکت اختیار کړي کافي ده او قضاء شرط نه ده.

۲_ په فاسده نکاح کې د زوجینو څخه یو متارکت غوره کړي کافي ده او قضاء شرط نه ده.

۳_ د ایلاء په سبب فرقت.

۴_ د زوج د ارتداد په سبب فرقت .

د زیات تفصیل له پار و ګورئ: (مجموعه قوانین اسلامی:۱۸۷-۲۰۸ – الحیلة الناجزة: ج ۲ – جدید فقهی مسائل: ج ۳- قانون فسخ وتفریق وطبی اخلاقیات، از قاضی مجاهد الاسلام، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

د قضاء او جماعت مسلمین شرائط

د فسخ او تفریق په اکثرو صورتونو کي قضاء شرط ده خو که شرعي قاضي موجود نه وي نو هلته د علماوو او د مسلمانانو شورا هم د هغه قائم مقام کېدای سي او فیصله یې کافي ده مګر ځیني شرائط او ضوابط سته چي باید عمل په وسي همدارنګه د قضاء له پاره هم اهلیت په کار دئ او د هر چا قضاء په کار نه ده . لاندي شرائط د قضاء دي:

د قضاء د منصب وضاحت:

د الله تعالی د را لیږلي قانون مطابق په حق سره د خلکو تر منځ فیصله کول قضاء ده .

۞ د قاضي قضاء به د اجماع خلاف نه وي.

۞ د قاضي فیصله به خبر نه وي بلکي د انشاء درجه به لري.

د قضاء د اهلیت ضروري شروط :

۱_ عاقل به وي، لېوني او مختل الحواس د قضاء اهل نه دئ.

۲_ بالغ به وي او د نابالغ قاضي مقررول صحیح نه دي.

۳_ مسلمان به وي او د کافر قاضي کېدل صحیح نه دي ځکه فیصله یې نافذه نه ده

۴_ ازاد به وي او غلام به نه وي.

۵ – بینا به وي او ړوند به نه وي.

۶_ ګونګی به نه وي.

۷_ په حد قذف (د درواغو په حد) کي به په حد سوی نه وي.

د قاضي ځیني صفات:

۞ عالم به وي او د حلال او حرام او نور ضروري معلومات به لري.

۞ د کتاب، سنت او اجتهاد په طریقه به خبر وي تر څو په حوادثو کي صحیح فیصله وکړي.
۞ د عربي ژبي علم به لري. د هغه مختلفو تعبیراتو او محاوراتو ژبي او ادب ضروري علم به لري.
۞ په کوم وطن کي چي قاضي وي د هغه ځای په ژبه او رواج به پوهه وي.
۞ په مشوره اخیستلو به نه شرمیږي.
۞عادل به وي . د فقهاوو په اصطلاح عادل هغه څوک دئ چي کبیره ګناه نه کوي او پر صغیره باندي اصرار نه کوي.
۞ حسنات به یې پر صغائرو ډېر وي.
۞ د تهمت له ځایه به ځان ساتي.
۞ په مزاج کي به یې عجلت نه وي.
۞ بد اخلاقه به نه وي.
۞ هوښیار او صالح به وي. (ملخص از اسلامی عدالت، از قاضی مجاهد الاسلام قاسمی – وایضاح النوادر از مفتی شبیر احمد قاسمی).

د جماعت المسلمین شرائط:

په کوم جماعت یا شورا کي چي لاندي شرائط موجود وي هغه د قاضي قائم مقام کېدای سي که نه وي دا شرائط بیا شرعاً اعتبار نه لري.

۱_ لږ تر لږه درې کسان به وي او د دوو کسانو فیصله معتبره نه ده.

۲_ د جماعت ټول افراد به عادل وي، عادل هغه چا ته ویل کیږي چي ګناه کبیره نه کوي او په صغائرو مصرف نه وي، که کله ګناه ورڅخه کیږي فوراً توبه کوي، سود خور، رشوت خور، ږیره خریونکی، کاذب او داسي نور د جماعت رکن نه سي کېدای، البته که کوم ځای دینداره کسان نه وي هلته دي دا بې تقوا داره خلک نائب کړي.

۳_ په فیصله کي د علماوو شرکت لازم دئ او یوازي د عوامو فیصله د قاضي د قضاء قائم مقام کېدای نه سي، نو باید ټول یا اکثر ارکان علماء وي یا لږ تر لږه یو پوهه عالم باید خامخا پکښي موجود

وي كه كوم ځاى عالم نه وي، نو عوام دي فيصله په ليكلي ډول مكمل كړي او وروسته دې كوم عالم ته د تصديق له پاره ور ولېږي او يوازي د عوامو فيصله نافذه نه ده.

۴_ ټول اركان بايد په اتفاق فيصله وكړي او د اختلاف په وخت كي بايد فيصله ونه كړي بلكي رديې كړي، البته د: فيصله د تل له پاره مسترده نه ده بلكي ښځه اختيار لري چي بيا بيا عريضه وكړي تر څو ټول متفق سي. (الحيلة الناجزة: ص ۱۵۳ – اسلامى فقه: ۲۶۱).

د حكمينو شرائط:

د مالكيه وو په نزد حكمين د تفريق حق لري خو د جمهورو علماوو په نزد بيا حكمين دا حق نه لري، البته فتوا څنګه چي دلته پر مالكي مذهب ده نو د احنافو په نزد هم حكمين د فسخ او تفريق حق لري. د دې شرائطو تفصيل د شقاق په مسئله كي ذكر سوى هلته يې وګورئ.

په الفقه الاسلامى وادلته كي راځي:

والحكمان: حران مسلمان ذكران عدلان مكلفان فقيهان عالمان بالجمع والتفريق؛ لأن التحكيم يفتقر إلى الرأي والنظر، ويجوز أن يكونا من غير أهلهما؛ والأولى أن يكونا من غير أهلهما؛ لأن القرابة ليست شرطاً في الحكم ولا الوكالة. وينبغي لهما أن ينويا الإصلاح لقوله تعالى: ﴿ إن يريدا إصلاحاً يوفق الله بينهما﴾ (النساء:۳۵/ ٤)، وأن يلطفا القول، وأن ينصفا، ويرغبا ويخوفا، ولا يخصا بذلك أحد الزوجين دون الآخر، ليكون أقرب للتوفيق بينهما.

وينفذ عند المالكية تصرف الحكمين في أمر الزوجين بما رأياه من تطليق أو خلع، من غير إذن الزوج ولا موافقة الحاكم، بعد أن يعجز عن الإصلاح بينهما، وإذا حكما بالفراق فهي طلقة بائنة. (الفقه الاسلامى وادلته: ۷/ ۳٤۰-۳٤۱، دار الفكر). والله تعالى اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ والمطلقات يتربصن بأنفسهن ثلاثة قروء ﴾. (سورة البقرة: الآية:٢٢٨).

وقال تعالى: ﴿ والذين يتوفون منكم ويذرون أزواجًا يتربصن بأنفسهن أربعة أشهر وعشرًا ﴾.

(سورة البقرة، الآية:٢٣٤).

وقال تعالى: ﴿ واللائي يئسن من المحيض من نسائكم إن ارتبتم فعدتهن ثلاثة أشهر واللائي لم يحضن وأولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن ﴾. (سورة الطلاق، الآية:٤).

دوولس ....باب

اول ....فصل

د عدت تېرولو بيان

❁ په شريعت كې د عدت صحيح مفهوم:

د نكاح د اثارو د ختمېدلو له پاره چې شريعت كوم وخت مقرر كړى دئ هغه ته عدت ويل كيږي.

په بدائع الصنائع كې راځي:

فالعدة في عرف الشرع : اسم لأجل ضرب لانقضاء ما بقي من آثار النكاح. (بدائع الصنائع:٣/ ١٩، سعيد).

❁ د عدت د وجوب شرائط:

د صحيح نكاح په صورت كې كه تر جماع او خلوت مخكې جلا والى راسي نو عدت واجب نه ده مګر كه خاوند وفات سي نو په هر حال كې عدت واجب دئ. همدارنګه په مطلق خلوت سره عدت واجبيږي كه صحيحه وي او كه خلوت فاسده وي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وسبب وجوبها عقد النكاح المتأكد بالتسليم وما جرى مجراه من موت أو خلوة أى صحيحة فلا عدة بخلوة الرتقاء وشرطها الفرقة.

وفى الشامى : قوله وما جرى مجراه .... وهذا خاص بالنكاح الصحيح أما الفاسد فلا تجب فيه العدة إلا بالوطء. قوله أي صحيحة: فيه نظر فإن الذي تقدم في باب المهر أن المذهب وجوب العدة للخلوة صحيحة أو فاسدة. (الدر المختار مع الشامى:٣/ ٥٠٤، باب العدة، ط: سعيد – وكذا فى البحر الرائق:٤/ ١٢٨، ط: كوئته – وفتح القدير:٤/ ٣٣٤، باب العدة، دار الفكر).

❁ د عدت موده:

الف _ د وفات عدت څلور قمري مياشتي او لس شپې ده او که ښځه حامله وي نو د حمل وضع (د اولاد پيدا کېدل او وضع ده).

باء _ مطلقه ښځه به درې حيضه عدت تېروي که د کم عمرۍ يا زړښت په خاطر حيض نه ورځي نو درې مياشتي به تېروي او که حامله وي نو د حمل وضع ده.

❁ د عدت ابتداء :

له تفريق، طلاق، خلع، متارکت او يا وفات وروسته عدت شروع کيږي که ښځه علم لري او که نه.

الف _ په فتاوی هنديه کې راځي:

عدة الحرة في الوفاة أربعة أشهر وعشرة أيام سواء كانت مدخولًا بها أو لا مسلمةً أو كتابيةً تحت مسلم صغيرةً أو كبيرةً أو آيسةً وزوجها حر أو عبد حاضت في هذه المدة أو لم تحض ولم يظهر حبلها كذا في فتح القدير هذه العدة لا تجب إلا في نكاح صحيح كذا في السراج

الوهاج . (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٢٩، الباب الثالث عشر في العدة – وكذا في البحر الرائق: ٤/ ١٣١، كوئته).

باء _ البحر الرائق كي راځي:

قوله عدة الحرة للطلاق أو الفسخ ثلاثة أقراء أي حيض.... أطلق الطلاق فشمل البائن والرجعي ولم يقيد بالدخول بناءً على أن الأصل في النكاح الدخول ولا بد منه حقيقةً أو حكمًا حتى تجب على مطلقة بعد الخلوة ولو فاسدةً .... وشمل جميع أسبابه من الفسخ .... قوله وثلاثة أشهر إن لم تحض أي عدة الحرة إن لم تكن من ذوات الحيض لصغير أو أو كبر مدة ثلاثة أشهر لقوله تعالى ﴿ واللائي يئسن من المحيض من نسائكم إن ارتبتم فعدتهن ثلاثة أشهر ﴾ في حق الآيسة، وقوله تعالى ﴿ واللائي لم يحضن ﴾ في حق الصغيرة ومن بلغت بالسن ولم تحض، وشمل قوله إن لم تحض أيضًا البالغة إذا لم تر دمًا أو رأت وانقطع قبل التمام. (البحر الرائق مع كنز الدقائق: ٤/ ١٢٨-١٣٠، باب العدة، كوئته).

وأيضاً فيه: وعدة الحامل وضع الحمل لقوله تعالى: ﴿ وأولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن ﴾ أطلقها فشمل الحرة والأمة المسلمة والكتابية مطلقةً أو متاركةً في النكاح الفاسد أو وطء بشبهة والمتوفى عنها زوجها لإطلاق الآية . (البحر الرائق: ٤/ ١٣٣).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وقت وجوب العدة أنها تجب من وقت وجود سبب الوجوب من الطلاق ، والوفاة ، وغير ذلك حتى لو بلغ المرأة طلاق زوجها أو موته فعليها العدة من يوم طلق أو مات عند عامة

العلمـاء ، وعامـة الـصحابة رضي الله عـنهم . (بـدائع الـصنائع:۳/ ۱۹۰، سـعيد – وكـذا فـى الـدر المختار:۳/ ۵۲۰، ط: سعيد).

﴿ که د وفات د عدت شروع د قمري مياشتي په اول تاريخ ونه سي، بيا به هره مياشت دېرش (۳۰) ورځي حسابي چي ټولي يوسل دېرش (۱۳۰) ورځي کيږي او د طلاق، تفريق، په متارکت کي د عدت ورځي د کوچنۍ او زړې په حق کي نوي (۹۰) ورځي کيږي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

أن سبب وجوب هذه العدة من الوفاة ، والطلاق ، ونحو ذلك إذا اتفق في غرة الشهر اعتبرت الأشـهر بالأهلة ، وإن نقـصت عـن العـدد في قـول أصـحابنا جـميعًا ؛ لأن الله تعـالى أمـر بالعـدة بالأشهر بقوله عز وجل: ﴿ فعدتـهن ثلاثة أشهر ﴾ وقوله عز وجل: ﴿ أربعة أشـهر وعـشرًا ﴾ فلزم اعتبار الأشهر ، والشهر قد يكون ثلاثين يومًا وقد يكـون تـسعةً ، وعشرين يومًا بـدليل ما روي عن النبي ﷺ أنه قال: « الشهر هكذا ، وهكذا ، وهكـذا ، وأشـار بأصـابع يديـه كلهـا ، ثـم قال : الشهر هكـذا ، وهكـذا ، وهكـذا ، وحبس إبـهامه في الـمرة الثالثة » وإن كانـت الفرقـة في بعض الشهر اختلفوا فيه ، قال أبو حنيفة : يعتبر بالأيام فتعتد من الطلاق ، وأخواته تسعين يومًا ، ومن الوفاة مائةً ، وثلاثين يومًا .(بدائع الصنائع:۳/ ۱۹۵، ط: سعيد – وكذا فى فتح القدير:٤/ ۳۳۵، ط: دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د نابالغ خاوند له خلوت څخه عدت

سوال: د نابالغ هلک او نابالغي انجلۍ تر منځ نکاح وسوه خلوت هم وسو وروسته له بلوغه خاوند طلاق ورکړئ ايا عدت واجب دئ او که نه؟ البته تر بلوغ وروسته خلوت نه دئ رامنځ ته سوی؟

الجواب: په ياد صورت کي عدت واجب دئ که څه هم خاوند د خلوت په وخت کي بالغ نه وو.

په فتاوی شامي کي راځي:

لا فرق بين أن يكون الزوج أو الزوجة أو كل منهما صغيرا، قال في البحر: وفي خلوة الصغير الذي لا يقدر على الجماع قولان، وجزم قاضيخان بعدم الصحة فكان هو المعتمد ولذا قيد في الذخيرة بالمراهق، وتجب العدة بخلوته وإن كانت فاسدة، لأن تصريحهم بوجوبها بالخلوة الفاسدة شامل لخلوة الصبي . (فتاوى الشامى:۳/ ۱۱۴، باب المهر احكام الخلوة، ط: سعيد). والله ﷻ اعلم.

د نامرد د خلوت د وجوب عدت حكم

سوال: يو كس نامرد دئ او پر جماع قادر نه دئ دغه كس واده وكړ او تر خلوت وروسته يې ښځې ته طلاق وركړ ايا عدت واجب دئ او كه نه؟

الجواب: دلته خلوت رامنځ ته سوى او عدت واجب ده كه خلوت صحيحه وي كه فاسده عدت واجبوي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

ولها كمال مهرها إن كان خلا بها فإن خلوة العنين صحيحة ويجب العدة وفي شرح العناية: قوله ويجب العدة لتوهم الشغل احتياطاً استحساناً. (شرح العناية مع الهداية على هامش فتح القدير:۴/ ۳۰۰، باب العنين، دار الفكر).

په درمختار كي راځي:

ولو كان الزوج مجبوباً أو عيناً أو خصياً.... عن شرح الوهبانية أن العنة قد تكون لمرض أو ضعف خلقة أو كبر سن في ثبوت النسب ولو من المجموب وفي تأكد المهر المسمى ومهر المثل بلا تسمية والنفقة والسكنى والعدة وفى الشامي: قوله والعدة. وجوبها من أحكام الخلوة سواء كانت صحيحة أم لا، أى إذا كانت في نكاح صحيح، أما الفاسد فتجب فيه العدة بالوطاء. (الدر المختار مع الشامى:۳/ ۱۸۸، باب المهر، احكام الخلوة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

له حايضې ښځې سره شپه تېرول او بيا طلاق ورکول

سوال: يوه سړي له يوې ښځې سره نکاح وکړه او يوه شپه يې هم ورسره تيره کړه، البته جماع يې ورسره ونه کړه ځکه ښځه د حيض په حالت کې وه. خاوند مهر هم مکمل اداء کړی دئ اوس خاوند طلاق ورکړئ ايا عدت واجب دئ او که نه؟

الجواب: په ياد صورت کې عدت واجب دئ که څه هم خلوت صحيحه موجود سوی نه وي، خو عدت فاسده هم عدت واجبوي.

وګورئ په البحر الرائق کې راځي:

(قوله عدة الحرة للطلاق أو الفسخ ثلاثة أقراء ولم يقيد بالدخول بناء على أن الأصل في النكاح الدخول ولا بد منه حقيقةً أو حكماً حتى تجب على مطلقة بعد الخلوة ولو فاسدة.

(البحر الرائق: ٤/ ١٢٨، ط: كوئته).

په هدايه کې راځي:

وإن كان أحدهما مريضا أو صائما في رمضان أو محرما بحج فرض أو نفل أو بعمرة أو كانت حائضاً فليست الخلوة صحيحة.... إلى قوله وعليها العدة في جميع هذه المسائل احتياطاً واستحساناً لتوهم الشغل والعدة حق الشرع. (الهداية: ٢/ ٣٢٦، باب المهر).

همدا ډول وګورئ: (فتاوى الشامي: ٣/ ١١٤، باب المهر، احكام الخلوة، ط: سعيد). والله ﷻ اعلم.

يو ښځه چې د جماع وړ نه وي

سوال: تر نکاح وروسته معلومه سوه چې ښځه د مرض او بل سبب په خاطر د جماع قابل نه ده اوس خاوند طلاق ورکړئ ايا عدت واجب دئ او که نه؟

الجواب: که تر نکاح وروسته ښځه او خاوند سره يو ځای سوي وي (خلوت رامنځ ته سوی وي) نو عدت واجب دئ که څه هم جماع سوې نه وي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

والخلوة .... بلا مانع حسي كمرض لأحدهما يمنع الوطء ومن الحسي رتق .... التلاحم وقرن عظم وعفل غدة. وفى الشامى: قوله عظم في البحر عن المغرب: القرن في الفرج مانع يمنع من سلوك الذكر فيه إما غدة غليظة أو لحم أو عظم وامرأة رتقاء بها ذلك ومقتضاه ترادف القرن والرتق. قوله عفل وغدة، أي في خارج الفرج، ففى القاموس: أنه شيء يخرج من قبل المرأة شبيه بالأدرة للرجال.... وتجب العدة .... وإن كانت فاسدة، فان تصريحهم بوجوبها بالخلوة الفاسدة. (الدر المختار مع رد المحتار:۳/ ۱۴۴، باب المهر، أحكام الخلوة). والله ﷻ اعلم.

د خاوند تر مرتد کېدو وروسته د عدت حکم

سوال: که د يوې ښځي خاوند مرتد سي، نکاح خو په خپله ختمه سوه ايا عدت واجب دئ او که بل ځای يې عدت تېرولو نکاح کولای سي؟

الجواب: د خاوند تر مرتد کېدو وروسته نکاح په خپله ختميږي مګر عدت واجب دئ او تر ارتداد وروسته عدت شروع دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وارتداد أحدهما فسخ عاجل.... وعليه نفقة العدة الخ. وفى الشامي: قوله وعليه نفقة العدة أي لو مدخولاً بها إذ غيرها لا عدة عليها، وأفاد وجوب العدة سواء ارتد أو ارتدت بالحيض أو بالأشهر لو صغيرة أو آيسة أو بوضع الحمل كما في البحر. (الدر المختار مع الشامى:۳/ ۱۹۳-۱۹۴، باب النكاح الكافر، ط: سعيد).

وفيه أيضاً وهي في حق حرة ولو كتابية تحت مسلم تحيض لطلاق ولو رجعياً أو فسخ بجميع أسبابه.... ثلاث حيض كوامل. وفى الشامية: قوله بجميع أسباب مثل الانفساخ بخيار

البلوغ والعتق وعدم الكفائة وملك أحد الزوجين الآخر والردة في بعض الصور. (الدر المختار مع رد المحتار: ۳/ ٥٠٤، ط: سعيد).

په مجموعه قوانين اسلامي كي راځي:

كه چيري خاوند مرتد سي نو نكاح خود بخود ختميږي. (مجموعه قوانين اسلامي: ص ۲۰۸).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

د خاوند تر مرتد كېدلو وروسته ښځه د خاوند له نكاح څخه خارجه ده او تر عدت وروسته بل ځاى نكاح كولاى سي. (فتاوى دار العلوم ديوبند: ۱۰/ ۳۳۳، مدلل مكمل).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوى التاتار خانيه: ۳-٥٤٦-٥٣ - وكتاب الفتاوى: ٥/ ۱۸۹). والله تعالى اعلم.

په غلط فهمۍ كي جماع

سوال: كه څوک په غلط فهمۍ سره اجنبي ښځه خپله وبولي او جماع ورسره وكړي د عدت حكم يې څه دئ؟ همدارنګه د خلوت فاسد د عدت حكم څه دئ؟ همدارنګه كه اولاد پيدا سي د هغه حكم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت كي د وطى بالشبه او نكاح فاسد بعد الدخول وروسته عدت لازم دئ عدت درې حيضه دئ او كه ښځه صغيره او يا ائيسه وي نو درې قمري مياشتي دئ او نسب ثابت دئ.

په فتاوى هنديه كي راځي:

إذا دخل الرجل بامرأة على وجه شبهة أو نكاح فاسد فعليه المهر وعليها العدة ثلاث حيض إن كانت حرةً .... فإن كانت لا تحيض من صغر أو كبر فعدة الحرة ثلاثة أشهر . (الفتاوى الهندية: ۱/ ٥۲۷- وكذا في بدائع الصنائع: ۳/ ۱۹۲، سعيد - والدر المختار: ۳/ ٥٠١، سعيد). والله تعالى اعلم.

د نابالغه د عدت حکم

سوال: یو بالغ کس له نابالغي ښځي سره نکاح وکړه او تر خلوت وروسته یې دې ښځي ته طلاق ورکړ ایا اوس عدت واجب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي خلوت سوی او عدت واجب دئ که څه هم جماع سوې نه وي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قال في النهر: وتعريف البدائع شامل لعدة الصغيرة، بخلاف تعريف المصنف، وأكثر المشايخ لا يطلقون لفظ الوجوب عليها بل يقولون تعتد، والوجوب إنما هو على الولي بأن لا يزوجها حتى تنقضي العدة. قال شمس الأئمة: إنها مجرد مضي المدة، فثبوتها في حقها لا يؤدي إلى توجيه خطاب الشرع عليها، فإن قلت: كون مسماها المدة لا يستلزم انتفاء خطاب الولي أن لا يزوجها. قلت: إذا كان كذلك فالثابت فيه عدم صحة التزوج لا خطاب أحد بل وضع الشارع عدم صحة التزوج لو فعل، وهو ملخص من الفتح. والحاصل أن الصغير أهل الخطاب الوضع وهذا منه كما خوطب بضمان المتلفات. (فتاوى الشامى: ۳/ ۵۰۲، باب العدة – وكذا فى الفتاوى التاتار خانية: ۴/ ۵۸، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

له معتده ښځي سره جماع

سوال: یوه سړي وخپلي ښځي ته درې طلاقه ورکړل او هغه په عدت کي وه چي دغه کس ورسره په غلطۍ سره جماع وکړه ایا اوس به له سره بیرته عدت راګرځوي؟

الجواب: په دې صورت کي له نوي سره عدت پر واجب سو، البته دلته دوه عدته تداخل سره کوي یعني د اول عدت تر ختمېدلو وروسته د دوهم عدت پاته ورځي باید تیري کړي او د بل مستقل عدت ضرورت نه سته، البته نو د طلاق او نفقې په اړه اول عدت ته اعتبار دئ.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

العدتان إذا وجبتا أنهما يتداخلان سواء كانتا من جنس واحد أو من جنسين وصورة الجنس الواحد: المطلقة إذا تزوجت في عدتها فوطئها الزوج ثم تتاركا حتى وجبت عليها عدة أخرى فإن العدتين يتداخلان عندنا وصورة الجنسين المختلفين المتوفى عنها زوجها إذا وطئت بشبهة تداخلت أيضًا، وتعتد بما رأته من الحيض في الأشهر من عدة الوطء عندنا

.(بدائع الصنائع:۳/ ۱۹۰، باب العدة، ط: سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

لو طلقها بتطليقة بائنة أو بتطليقتين بائنتين، ثم وطئها في العدة مع الإقرار بالحرمة كان عليها أن تستقبل العدة استقبالًا بكل وطأة، وتتداخل مع الأولى إلا أن تنقضي الأولى فإذا انقضت الأولى وبقيت الثانية والثالثة كانت الثانية والثالثة عدة الوطء حتى لو طلقها في هذه الحالة لا يقع طلاق آخر فالأصل أن المعتدة بعدة الطلاق يلحقها الطلاق والمعتدة بعدة الوطء لا يلحقها الطلاق وأما المطلقة ثلاثًا إذا جامعها زوجها في العدة .... وادعى الشبهة بأن قال: ظننت أنها تحل لي تستأنف العدة بكل وطأة وتتداخل مع الأولى إلا أن تنقضي الأولى فإذا انقضت الأولى وبقيت الثانية والثالثة كانت هذه عدةً لوطء لا تستحق النفقة في هذه الحالة.

(الفتاوى الهندية:۱/ ۵۳۳، باب العدة – وكذا فى الفتاوى التاتار خانية:٤/ ٦۳). والله ﷻ اعلم.

تر واده مخکي طلاق

سوال: يوه سړي تر واده مخکي وښځي ته طلاق ورکړ ايا عدت لازم سو او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي عدت واجب نه دئ، البته که خلوت رامنځ ته سوی وي که فاسد وي او که صحيح نو بيا عدت اوجب دئ.

قال الله تعالى: ﴿ ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لكم عليهن من عدة ﴾. (سورة الاحزاب، الآية:٤٩).

په فتح القدير كي راځي:

أن الطلاق قبل الدخول لا تجب فيه العدة ، قال الله تعالى: ﴿ إذا نكحتم المؤمنات ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لكم عليهن من عدة تعتدونها ﴾ . (فتح القدير:٤/ ٣٠٨، باب العدة، دار الفكر).

فتاوی قاضي خان کي راځي:

وإن كان الفساد بعجزه عن الوطء حقيقة لايجب عليها العدة وكذا لو طلقها قبل الخلوة. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:١/ ٥٤٩).

په البحر الرائق کي راځي:

وأما سبب وجوبها فلكل نوع منها سبب فعدة الأقراء لوجوبها أسباب منها الفرقة في النكاح الصحيح سواء كانت بطلاق أو بغير طلاق بعد وطء أو خلوة . (البحر الرائق:٤/ ١٢٨).

وفى الدر المختار: وسبب وجوبها عقد النكاح المتأكد بالتسليم أى بالوطء وما جرى مجراه من موت أو خلوة أى صحيحة، قال الشامي: فيه نظر، فإن الذى تقدم فى باب المهر أن المذهب وجوب العدة للخلوة صحيحة أو فاسدة. (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٣/ ٥٠٤، باب العدة،ط:سعيد).

له دې څخه معلومه سوه چي د عدت سبب خلوت يا جماع ده که له خلوت او جماع پرته طلاق واقع سي عدت واجب نه دئ.

په فتاوی محموديه کي راځي:

که خاوند له ښځي سره نه جماع کړې وي او نه خلوت او بیا یې طلاق ورکړ نو دلته شرعاً عدت واجب نه دئ او دا ښځه بل ځای نکاح کولای سي.(فتاوی محمودیه:۱۳/ ۳۸۱). والله ﷻ اعلم.

کوچنۍ تر قابل جماع نه وي

سوال: یوه سړي له کوچنۍ انجلۍ سره واده وکړ، وروسته یې طلاقه کړه ایا عدت واجب دئ او که نه؟

الجواب: تر خلوت وروسته په دې صورت کي عدت لازم دئ که څه جماع سوې نه وي.

وګورئ:

وفي الدر المختار: والخلوة .... كالوطء .... وفي تأكد المهر المسمى.... والنفقة والسكنى والعدة. وفي الشامية: قوله والعدة وجوبها من أحكام الخلوة سواء كانت صحيحة أم لا أي إذا كانت في نكاح صحيح. (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۱۱۸، باب المهر أحكام الخلوة).

وفي البحر الرائق: والحاصل أن الصغيرة أهل لخطاب الوضع وهذا منه كما خوطب الصغير والصغيرة بضمان المتلفات ولو حاضت الصغيرة في الأشهر الثلاثة تستأنف العدة بالحيض. (البحر الرائق:٤/ ۱۳۱،ط: كوئته – وكذا في فتح القدير:٤/ ۳۱۲-۳۱۳، باب العدة، ط: دار الفكر).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

سوال: که هنده له خاوند سره څه وخت تیر کړي مګر هنده د جماع قابل نه وي ایا دلته د طلاق عدت لازمیږي او که نه؟

الجواب: تر خلوت وروسته عدت لازم دئ که څه هم جماع نه وي سوې. کذا صرح في الشامي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۱۰/ ۳۲۷). والله ﷻ اعلم.

په غیر مسلمه وفات عدت

سوال: د يوې نصرانۍ ښځې نکاح له يوه کافر سره وسوه وروسته هغه کافر مړ سو ايا اوس له عدت څخه پرته دا نصراني ښځه له مسلمان سره نکاح کولای سي؟

الجواب: په دې صورت کې عدت لازم نه دئ او له مسلمان سره فوراً نکاح کولای سي، البته مسلمان به د يوه حيض تر تېرېدو مخکې جماع نه ورسره کوي او که حامله وي نو تر وضع الحمل پورې به جماع نه ورسره کوي.

وګورئ په فتاوي شامي کې راځي:

ذمية غير حامل طلقها ذمي ، أو مات عنها لـم تعتد عند أبي حنيفة إذا اعتقدوا ذلك لأنا أمرنا بتركهم وما يعتقدون، ولو كانت الذمية حاملًا تعتد بوضعه اتفاقًا ، وفى الشامية: قوله طلقها ذمي احترز به عن المسلم . قوله لم تعتد عند أبي حنيفة فلو تزوجها مسلم أو ذمي في فور طلاقها جاز كما في فتح القدير بحر.... نعم ذكر في الخانية هناك الذمي إذا أبان امرأته الذمية فتزوجها مسلم أو ذمي من ساعته ذكر بعض المشايخ أنه يجوز نكاحها ولا يباح له وطؤها حتى يستبرئها بحيضة في قول أبي حنيفة رحمه الله . (الدر المختار مع رد المحتار: ۳/ ۵۲۶، باب العدة، سعيد – وكذا في فتح القدير مع الهداية: ۴/ ۳۳۳، باب العدة، دار الفكر).

وفي البدائع: وإن كانت (الكتابية) تحت ذمي ، فلا عدة عليها في الفرقة ولا في الموت في قول أبي حنيفة رحمه الله إذا كان ذلك كذلك في دينهم ، حتى لو تزوجت في الحال جاز .... وذكر الكرخي في جامعه في الذمية تحت ذمي إذا مات عنها أو طلقها فتزوجت في الحال جاز إلا أن تكون حاملًا ، فلا يجوز نكاحها. (بدائع الصنائع: ۳/ ۱۹۱، شرط وجوب العدة). والله تعالیٰ اعلم.

پر نوي مسلماني د وفات عدت

سوال: د يوې کافري ښځي نکاح له يو کافر سړي سره وه هغه کافر مړ سو وروسته دا ښځه مسلمانه سوه ايا عدت پر لازم دئ؟

الجواب: په دې صورت کي که د عدت ورځي پاته وي نو هغه عدت به تير وي ځکه تر اسلام وروسته دا ښځه د اسلام په احکامو مکلفه سوه او عدت هم د اسلام يو حکم دئ.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

لو أسلمت الكافرة في العدة لزمها الإحداد فيما بقي من العدة كذا في الجوهرة النيرة. (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٣٤).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فإن أسلمت الكتابية في العدة لزمها فيما بقي من العدة ما يلزم المسلمة بأن المانع من اللزوم هو الكفر وقد زال بالإسلام. (بدائع الصنائع: ٣/ ٢٠٨، احكام العدة، ط: سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله مسلمة شمل من أسلمت في العدة، فتحد فيما بقي منها. (فتاوى الشامي: ٣/ ٥٣٠، باب الحداد، ط: سعيد).

وفيه أيضاً: لأن المرأة إن كانت مسلمة فقد التزمت أحكام الإسلام ومن حكمه وجوب العدة. (فتاوى الشامي: ٣/ ١٨٩، باب نكاح الكافر، ط: سعيد).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي پر ياده مسئله څه اشکال سته يعني څه غلطي پکښي سوې. (فتاوی دار العلوم ديوبند: ١٠/ ٣٠٨). والله تعالی اعلم.

په سنت طلاق کي د عدت تېرولو طريقه

سوال: يوه سړي په يوه طهر کي ښځي ته يو طلاق ورکړ، په دوهم طهر کي يې بل طلاق ورکړ، په درېيم طهر کي يې بل طلاق ورکړ وروسته به بيا درې حيضه تېر وي؟

الجواب: تر دوو طلاقو وروسته دوه حیضه تېرول سول تر دریم طلاق وروسته یوازي دیوه حیض عدت کفایت کوي او درې حیضه لازم نه دي.

وګورئ په ابن ماجه کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: في طلاق السنة: يطلقها عند كل طهر تطليقةً، فإذا طهرت الثالثة، طلقها، وعليها بعد ذلك حيضة. (رواه ابن ماجه: ۱/ ۱٤۵).

په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن إبراهيم، قال: عليها حيضة أخرى بعد آخر تطليقة. (مصنف ابن ابی شيبة: ۹/ ۵۱۵، المجلس العلمی).

محقق ابن همام رحمة الله علیه فرمایي:

إذا أوقع الثلاثة في ثلاثة أطهار فقد مضت من عدتها حيضان إن كانت حرة، فإذا حاضت حيضة انقضت. (فتح القدير: ۳/ ٤٦۸، باب طلاق السنة. ط: دار الفكر – وكذا في بدائع الصنائع: ۳/ ۸۹، طلاق السنة، ط: سعيد). والله تعالى اعلم.

مطلقاً د میاشتو په حساب عدت تېرول

سوال: د پاکستان په اساسي قانون کي دا ماده سته چي تر طلاق وروسته به ښځه نوي (۹۰) ورځي عدت تېر وي، وروسته بل ځای نکاح کولای سي ایا عدت نوي (۹۰) ورځي دئ او که درې حیضه دئ او که درې طهرونه دئ؟

الجواب: ذوات الاقراء یعني حیض والا ښځه به د حنفي مذهب مطابق درې حیضه عدت تېر وي او بیا بل ځای نکاح کولای سي یوازي درې میاشتي او یا نوي (۹۰) ورځي کفایت نه کوي.

❁ **په قرآن کریم کي دي:**

۱_ قال الله تعالی: ﴿ والمطلقات يتربصن بأنفسهن ثلاثة قروء ﴾. (سورة البقرة، الآية: ۲۲۸).

مفتي اعظم محمد شفیع صاحب د مذکور ایت په تفسیر کي وایي:

طلاق کړل سوي ښځه (کوم چې دا صفات ولري، خاوند ورسره جماع یا خلوت صحیحه کړی وي، حیض ورځي، شرعي مینځه نه وي) دی ځان (له نکاح څخه) را وګرځوي د درې حیضو (تر ختمېدلو) پوري (دې ته عدت ویل کیږي). (معارف القرآن:۱/ ۵٤۵).

په یادآیت کي له قروء څخه حیض مراد دئ او دلائل یې په لاندي ډول دي:

۱_ په سنن ابن ماجه روایت دئ:

عن عروة بن الزبير أن فاطمة بنت أبي حبيش حدثته أنـها أتـت رسـول الله ﷺ، فشكت إليه الدم، فقال رسول الله ﷺ: إنمـا ذلک عـرق، فـانظري إذا أتـى قـرءک فلا تـصلي فإذا مر القـرء فتطهـري.... الـخ. (رواه ابـن ماجـه:٤٥- وابـو داؤد:۱/ ۳۷ - والبيهقـی فـی سـننه الكـبرى:۱/ ۳۳۲ - والنسائی فی سننه الكبرى:۳/ ٤٠۱).

یعني چي کله حیض راسي نو لمونځ پرېږدئ په دې حدیث کي صراحةً له قرؤ څخه حیض مراد سوي.

۲_ په ابو داؤد شریف کي راځي:

عن عدي بن ثابت .... عن النبی ﷺ قال: الـمستحاضة « تدع الصلاة أيام أقرائها ثم تغتسل وتـــصوضأ للكـــل صـــلاة ثـــم تـــصلي . (رواه ابـــو داؤد:۱/ ۳۷، ٤۱، ٤۳ - وابـــن ماجـــه:٤٦ - والترمذی:۱/ ۳۳- والبيهقی فی سننه الكبرى:۱/ ۳٤۵ -۳٤٦).

یعني مستحاضه دي د حیض په ورځو کي لمونځ پرېږدي، دلته هم له اقراء څخه حیض مراد دئ.

په طبرانی کي راځي:

عـن ابـن عبـاس رضي الله عنهما أن النبـي ﷺ قـال: إن للحـائض دفعـات، ولـدم الـحيض ريـح لـيس لغـيره، فـإذا ذهـب قـرء الـحيض فلتغتسل إحـداكن ثـم لتغـسل عنهـا الـدم. (رواه الطبرانـی فـی

الکبیر:۱۱/ ۲۰۸/ ۱۱۵۱٤ – وذکره الهیثمی فی المجمع:۱/ ۲۸۰، فی الحیض والاستحاضة، ط: دار الفکر).

۴_ په سنن نسائی کې راځي:

عن عائشة رضي الله عنها أن أم حبيبة رضي الله عنها .... استحيضت... قال: لتنظر قدر قرءها التي كانت تحيض لها. .... (سنن النسائی:۱/ ٦٥ – ومسند الامام احمد بن حنبل:٦/ ۱۲۸/ ۲٥۰۱٦).

په دې روایت کې حضرت ام حبیبه رضي الله عنها استحاضه سوه نو نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل، چې د حیض دورځو په اندازه انتظار وکړه، دلته هم د حیض د لفظ پر ځای د قروء لفظ استعمال سوی دئ.

همدارنګه له نورو روایاتو څخه هم معلومیږي چې عدت په حیض سره دئ.

✿ دلائل یې په لاندې ډول دي:

۱_ په ترمذي شریف کې راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنهما: أن امرأة ثابت بن قيس اختلعت من زوجها على عهد النبي ﷺ فأمرها النبي ﷺ، أن تعتد بحيضة. (رواه الترمذی:۱/ ۲۲٥ – وابو داؤد:۱/ ۳۰۳ – والحاکم وصححه ووافقه الذهبی:۲/ ۲٥۷/ ۲۸۲٦،۲۸۲٥).

۲_ په ابن ماجه شریف کې راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله: طلاق الأمة اثنتان، وعدتها حيضتان. وفيه عطية وهو ضعيف. (رواه ابن ماجه:۱/ ۱٥۰).

وله شاهد من حديث عائشة رضي الله عنها، انظر: ابو داؤد:۱/ ۲۹۸، سنة طلاق العبد – والترمذی:۱/ ۲۲٤، طلاق الامة تطليقتان – والسنن الکبری للبیهقی:۷/ ۳٦۹ – والمستدرک علی الحاکم وقال الحاکم: الحدیث صحیح، ووافقه الذهبی:۲/ ۲٥٦/ ۲۸۲۲، ط: دار ابن حزم).

۳_ سنن ابن ماجه کې راځي:

عن عبد الله رضي الله عنه، قال : في طلاق السنة : يطلقها عند كل طهر تطليقة ، فإذا طهرت الثالثة ، طلقها ، وعليها بعد ذلك حيضة. (سنن ابن ماجه:١/ ١٤٥).

عن عائشة رضي الله عنها، قالت : أمرت بريرة أن تعتد بثلاث حيض. (سنن ابن ماجة:١/ ١٥٠ – مصنف عبد الرزاق:٧/ ٢٥٠).

٥_ په سنن كبرى كي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنهما فى الأمة تكون تحت الحر : تبين بتطليقتين وتعتد حيضتين، وإذا كانت الحرة تحت العبد بانت بتطليقتين وتعتد ثلاث حيض. (السنن الكبرى للبيهقى:٧/ ٣٦٩ – وسنن الدار قطنى:٤/ ٣٩).

نوټ: په دې روايت كي د طلاق په متعلق د خاوند اعتبار كړل سوى يعني د عبد اعتبار سوى شايد دا د ابن عمر رضي الله عنه مسلك وي.

٦_ عن عطاء بن أبي رباح أن مارية اعتدت بثلاث حيض بعد النبي ﷺ يعني أم براهيم. (السنن الكبرى:٧/ ٤٤٨).

٧_ سئل عمر رضي الله عنه عن رجل غاب عن امرأته، فبلغها أنه مات فتزوجت، ثم جاء الزوج الأول ، فقال عمر رضي الله عنه : يخير الزوج الأول بين الصداق وامرأته، فإن اختار الصداق تركها مع الزوج الآخر ، وإن شاء اختار امرأته، وقال علي رضي الله عنه : لها الصداق بما استحل الآخر من فرجها، ويفرق بينه وبينها، ثم تعتد ثلاث حيض ثم ترد على الأول. (مصنف ابن ابى شيبة:٩/ ٢١١، المجلس العلمى).

٨_ عن معمر عن الزهري في امرأة بكر طلقت لم تكن حاضت فاعتدت شهراً أو شهرين ثم حاضت، قال: تعتد ثلاث حيض . (مصنف عبد الرزاق:٦/ ٣٤٣).

همدارنګه نور دلائل په مصنف ابن ابی شیبه، مصنف عبد الرزاق، شرح معاني الآثار کي موجود دي چي ښځه باید عدت په حیضونو سره تېر کي.

همدارنګه مفتی بغداد علامه الوسی رحمه الله په تفسیر روح المعاني کي فرمایي:

وذهب ساداتنا الحنفية إلى أن المراد بالقرء الحيض، وهو المروي عن ابن عباس رضي الله عنهما، ومجاهد رحمه الله، وقتادة رحمه الله، والحسن رحمه الله، وعكرمة رحمه الله، وعمرو بن دينار رحمه الله، وجم غفير.... (روح المعانى:۲/ ۱۳۲). والله تعالیٰ اعلم.

د ممتدة الطهر ښځي عدت

سوال: که مطلقه مرضعه ممتدة الطهر وي، نو د عدت تېرولو طریقه به يې څنګه وي، همدارنګه کومي ښځي ته چي د ډېر وخت له پاره حیض نه ورځي د هغې د عدت تېرولو طریقه به څنګه وي ایا د حیض انتظار به کوي او که به په میاشتو عدت تېر وي؟

الجواب: په دې صورت کي مرضعه ممتدة الطهر ظاهراً نه ده بلکي تر څو میاشتو وروسته حیض ورځي، البته که کومه ښځه واقعي په داسي ډول ممتدة الطهر وي چي ناقابل برداشت وي د ګناه بېره وي، په علاج هم حیض نه ورځي، نو دا ښځه دي له مالکي مفتي څخه فتوی واخلي، نهه (۹) میاشتي او یا یو کال دي عدت تېر کړي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

عدة الحرة للطلاق أو الفسخ ثلاثة أقروء وثلاثة أشهر إن لم تحض أى عدة الحرة إن لم تكن من ذوات الحيض لصغير أو كبير.... وخرج بقوله إن لم تحض الشابة الممتد طهرها فلا تعتد بالأشهر، وصورتها إذا رأت ثلاثة أيام وانقطع ومضى سنة أو أكثر ثم طلقت فعدتها بالحيض إلى أن تبلغ إلى حد الإياس وهو خمس وخمسون سنةً في المختار، كذا في البزازية ومن الغريب ما في البزازية: قال العلامة والفتوى في زماننا على قول مالك رحمه الله في عدة الآيسة، ولو قضى قاض بانقضاء عدة الممتد طهرها بعد مضي تسعة أشهر نفذ كما في جامع

الفصولين ونقل في المجمع أن مالكًا يقول إن عدتها تنقضي بمضي حول وفي شرح المنظومة أن عدة الممتد طهرها تنقضي بتسعة أشهر كما في الذخيرة معزيا إلى حيض منهاج الشريعة ونقل مثله عن ابن عمر رضي الله عنه قال وهذه المسألة يجب حفظها لأنها كثيرة الوقوع وذكر الزاهدي وقد كان بعض أصحابنا يفتون بقول مالك رحمه الله في هذه المسألة للضرورة خصوصًا الإمام والدي . (البحر الرائق:٤/ ٣١، باب العدة، كوئته - وفتاوى الشامي:٣/ ٥٠٩).

وفى الفتاوى البزازية : بلغت فرأت يوماً دماً ثم انقطع ومضى حول ثم طلقت فعدتها بالأشهر وإن رأت ثلاثة أيام وانقطع ومضى سنة أو أكثر ثم طلقت فعدتها بالحيض إلى أن تبلغ حد الإياس وهو خمس وخمسون سنة فى المختار، وعند مالك رحمه الله للآيسة تسعة أشهر بستة أشهر لاستبراء الرحم وثلاثة أشهر للعدة، قال العلامة والفتوى في زماننا على قول مالك رحمه الله فى عدة الآيسة. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٢٥٦، الثامن فى العدة).

په فتاوى شامي کي راځي:

قلت : ونظير هذه المسألة عدة ممتدة إلى الطهر التي بلغت برؤية الدم ثلاثة أيام ثم امتد طهرها فإنها تبقى في العدة إلى أن تحيض ثلاث حيض، وعند مالك رحمه الله تنقضي عدتها بتسعة أشهر، وقد قال في البزازية : الفتوى في زماننا على قول مالك رحمه الله وقال الزاهدي: كان بعض أصحابنا يفتون به للضرورة . (رد المحتار:٤/ ٢٩٦، كتاب المفقود، سعيد).

په كفايت المفتي کي راځي:

په حنفي مذهب کي ممتدة الطهر ښځه بايد د حيض تر راتلو انتظار وکړي تر څو چي د اياس (نا امدۍ) وخت ته ورسيږي، د مالکي مذهب پر اساس نهه (۹) مياشتي يا د بل روايت مطابق تر يوه

کال تېرېدلو وروسته د عدت د تېرېدلو حکم کول کیږي، البته د ضرورت په وخت کې احناف هم له مالکي مفتي څخه فتوی اخیستلای سي. (کفایت المفتی: ۶/ ۴۰۱).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د کومي ښځي حیض چي شروع سوی نوي یعني بالکل حیض ورته راغلی نه وي نو دا ښځه به پر دېرش (۳۰) کاله آیسه ګڼل کیږي او که تر حیض راتلو وروسته د طویل مدت (ډېر وخت له پاره) حیض بند سي نو دا ښځه په پنځوس (۵۰) کلنۍ کي آیسه بلل کیږي مګر په دوهم صورت کي شرط دا دئ چي لږ تر لږه به شپږه (۶) میاشتي حیض بند سوی وي، نو د دې دواړو ښځو عدت درې (۳) میاشتي دئ، البته له درې میاشتي تر تېرېدلو مخکي حیض ورسي نو بیا یې عدت په حیضو سره دئ، البته د ضرورت په وخت کي پر مالکي مذهب سره هم فتوی روا ده یعني نهه (۹) میاشتي او یا یو کال وروسته عدت ختم بلل کیږي. (احسن الفتاوی: ۵/ ۴۳۵).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد الفتاوی: ۲/ ۴۹۰ – وفتاوی دار العلوم دیوبند: ۱۰/ ۳۰۷ – کفایت المفتی: ۶/ ۴۱۷). والله تعالی اعلم.

تر واده مخکي د خاوند د وفات عدت

سوال: د یوې انجلۍ نکاح له یو هلک سره وسوه تر واده او خلوت مخکي خاوند وفات سو ایا عدت لازم دئ؟

الجواب: پر متوفی عنها زوجها باندې پر هر صورت عدت لازم دئ که واده سوی وي او که نه که خلوت راغلی وي او که نه.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الذي يجب أصلًا بنفسه فهو عدة الوفاة، وسبب وجوبها الوفاة قال الله تعالى ﴿ والذين يتوفون منكم ويذرون أزواجًا يتربصن بأنفسهن أربعة أشهر وعشرًا ﴾، وأنها تجب لإظهار الحزن بفوت نعمة النكاح إذ النكاح كان نعمةً عظيمةً في حقها فإن الزوج كان سبب صيانتها، وعفافها، وإيفائها بالنفقة، والكسوة، والمسكن فوجب عليها العدة إظهارًا للحزن

بفوت النعمة ، وتعريفًا لقدرها ، وشرط وجوبها النكاح الصحيح فقط فتجب هذه العدة على المتوفى عنها زوجها ، سواء كانت مدخولًا بها أو غير مدخول بها ، وسواء كانت ممن تحيض أو ممن لا تحيض ؛ لعموم قوله عز وجل. (بدائع الصنائع:۳/ ۱۹۲، سعيد – والفتاوى الهندية:۵۲۹ – والدر المختار مع الشامي:۳/ ۵۱۰، باب العدة، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د عدت تر تېرېدلو وروسته خبرېدل

سوال: يو سړی وفات سو، خو هغه وخت يې ښځه په خبره نه سوه بلکي تر ډېره وخت وروسته ښځه د خاوند په مرګ خبره سوه ايا اوس به دا ښځه عدت تېروي حال دا چي څلور مياشتي او لس شپې تيري سوي دي، يعني د اطلاع له وخته عدت شروع کيږي او که د وفات؟

الجواب: د عدت تعلق له وفات سره دئ نه له اطلاع سره، نو په ياد صورت کي عدت پوره سوی او ده بيا عدت تېرول لازم نه دي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وتنقضى العدة بدون العلم به.... وعلى هذا يبنى وقت وجوب العدة أنها تجب من وقت وجود سبب الوجوب من الطلاق، والوفاة ، وغير ذلك حتى لو بلغ المرأة طلاق زوجها أو موته فعليها العدة من يوم طلق أو مات عند عامة العلماء ، وعامة الصحابة رضي الله عنهم.(بدائع الصنائع:۳/ ۱۹۰، احكام العدة، ط: سعيد – وكذا فى الهداية:۲/ ۴۲۵).

په البحر الرائق کي راځي:

ومبدأ العدة بعد الطلاق والموت يعني ابتداء عدة الطلاق من وقته وابتداء عدة الوفاة من وقتها سواء علمت بالطلاق والموت أو لم تعلم حتى لو لم تعلم ومضت العدة فقد انقضت.

(البحر الرائق:۴/ ۱۴۴، کوئته). والله تعالیٰ اعلم.

د عدت د طلاق په جريان کي وفات

سوال: يوه سړي ښځي ته طلاق ورکړ، ښځي طلاق په عدت کي وه چي خاوند وفات سو ايا دا ښځه به اوس د وفات عدت شروع کوي او که به د طلاق عدت پوره کوي؟

الجواب: په دې صورت کي درې صورته ممکن دي او د هر يوه حکم جلا جلا دئ:

۱ _ که ښځه حامله وي نو عدت يې په وضع الحمل ختميږي که څه هم په لږ موده کي پيدا سي.

۲ _ که ښځه حامله نه وي طلاق رجعي وي، نو اول كالعدم داسي گرځي او يوازي د وفات عدت لازميږي.

۳ _ که عدت د بائن طلاق وي نو ابعد الاجلين به تېر وي يعني که هر عدت مخکي تېر سو د هغه بل عدت به پاته ورځي پوره کوي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۵/ ۴۱۳).

په فتح القدير کي راځي:

وإذا ورثت المطلقة في المرض فعدتها أبعد الأجلين أي الأبعد من اربعة أشهر وعشر وثلاث حيض، فلو تربصت حتى مضت أربعة أشهر وعشر ولم تحض لها ثلاث حيض بأن امتد طهرها لم تنقض عدتها حتى تمض وأن مكثت سنين ما لم تدخل سن الإياس فتعتد بالأشهر . ثم المراد بذلك الطلاق الطلاق البائن واحدة أو ثلاثاً أما إذا طلقها رجعياً فعدتها عدة الوفاة سواء طلقها في مرضه أو في صحته ودخلت في عدة الطلاق ثم مات الزوج فإنها ينتقل عدتها إلى عدة الوفاة وترث. (فتح القدير مع الهداية:۴/ ۳۱۵، دار الفكر – والبحر الرائق:۴/ ۱۳۶، كوئته – وبدائع الصنائع:۳/ ۲۰۰، فصل فى بيان انتقال العدة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

که ماشوم د مور په نس کي وفات سي؟

سوال: يوې ښځي په وضع الحمل سره عدت تېروئ چي ناڅاپه ماشوم د مور په نس کي وفات سو اوس به دا ښځه عدت څنګه تېر وي؟

الجواب: په دې صورت کي د عملياتو او يا دوا په واسطه د مور د رحم صفايې وکړئ که چيري دا حمل د څلورو يا زياتو مياشتو وي نو عدت تېر ګڼل کيږي او که تر څلور مياشتي کم وي نو بيا به درې حيضه عدت تېر وي.

وګورئ په البحرالرائق کي راځي:

وإذا أسقطت سقطًا استبان بعض خلقه انقضت به العدة ؛ لأنه ولد وإن لم يستبن بعض خلقه لم تنقض ؛ لأن الحمل اسم لنطفة متغيرة بدليل أن الساقط إذا كان علقةً أو مضغةً لم تنقض به العدة ؛ لأنها لم تتغير فلا يعرف كونها متغيرةً بيقين إلا باستبانة بعض الخلق كذا في المحيط . (البحر الرائق:٤/ ١٣٥، باب العدة، کوئٹه).

وفي الدر المختار: وفي حق الحامل مطلقاً .... وضع جميع حملها . وفي الشامي: قوله وضع حملها والمراد به الحمل الذي استبان بعض خلقه أو كله، فإن لم يستبن بعضه لم تنقض العدة لأن الحمل اسم لنطفة متغيرة فإذا كان مضغة أو علقة لم تتغير فلا يعرف كونها متغيرة بيقين إلا باستبانة بعض الخلق بحر عن المحيط، وفيه عنه أيضاً أنه لا يستبين إلا في مائة وعشرين يوماً وفيه عن المجتبى أن المستبين بعض خلقه يعتبر فيه أربعة أشهر وتام الخلق ستة أشهر، وقدمنا في الحيض استشكال صاحب البحر لهذا بأن المشاهد ظهور الخلق قبل أربعة أشهر، فالظاهر أن المراد نفخ الروح لأنه لايكون قبلها. (الدر المختار مع الشامي:٣/ ٥١١، سعيد – وفتاوى قاضي خان:١/ ٥٤٩، باب العدة على هامش الهندية: – وبدائع الصنائع:٣/ ١٩٦، سعيد). **دزيات تفصيل له پاره وګورئ:** (احسن الفتاوی:٥/ ٤٢٩).والله ﷻ اعلم.

د حمل پر وچېدلو د عدت ختمېدل

سوال: يوه ښځه متوفي عنها زوجها حامله وه چي ناڅاپه يې حمل وچ سو اوس به دا ځنګه عدت تېر وي؟

الجواب: حامله به عدت په وضع الحمل سره خامخا تېر وي او که حمل نه وي يا وچ سوى وي نو بيا يې عدت څلور مياشتي او لس ورځي دئ.

قال الله تعالى: ﴿ وأولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن ﴾. (سورة الطلاق، الآية: ٤).

که حمل نه وي عدت څلور مياشتي او لس شپي دئ.

قال الله تعالى: ﴿ والذين يتوفون منكم ويذرون أزواجًا يتربصن بأنفسهن أربعة أشهر وعشرًا ﴾. (سورة البقرة، الآية: ٢٣٤).

په فتاوى هنديه کي راځي:

عدة الحرة في الوفاة أربعة أشهر وعشرة أيام سواء كانت مدخولًا بها أو لا مسلمةً أو كتابيةً تحت مسلم صغيرةً أو كبيرةً أو آيسةً وزوجها حر أو عبد حاضت في هذه المدة أو لم تحض ولم يظهر حبلها كذا في فتح القدير. (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٢٩).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما عدة الحبل فمقدارها بقية مدة الحمل قلت أو كثرت حتى لو ولدت بعد وجوب العدة بيوم أو أقل أو أكثر انقضت به العدة .... وشرط انقضاء هذه العدة أن يكون ما وضعت قد استبان خلقه أو بعض خلقه .... إذا استبان خلقه أو بعض خلقه فهو ولد فقد وجد وضع الحمل فتنقضي به العدة، وإذا لم يستبن لم يعلم كونه ولدًا بل يحتمل أن يكون، ويحتمل أن لا يكون فيقع الشك في وضع الحمل، فلا تنقضي العدة بالشك. (بدائع الصنائع: ٣/ ١٩٦، سعيد).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

كله چي حمل د مور په نس كي وچ سي هغه داسي ده لكه غير حامله او عدت يې څلور مياشتي او لس ورځي دئ. (فتاوى دار العلوم ديوبند: ۱۰/ ۳۵۲). والله ﷻ اعلم.

په اسقاط حمل سره عدت

سوال: كه ښځه د عدت په حالت كي اسقاط حمل وكړي څه حكم لري عدت ختميږي او كه نه په مياشتو به عدت تېر وي؟

الجواب: كه حمل د څلورو يا زياتو مياشتو وه، نو عدت ختم سو او كه كم وي، نو عدت ختم نه دئ، البته د سخت عذر پرته حمل ضائع كول ناروا كار دئ.

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله وضع حملها والمراد به الحمل الذي استبان بعض خلقه أو كله، فإن لم يستبن بعضه لم تنقض العدة لأن الحمل اسم لنطفة متغيرة فإذا كان مضغة أو علقة لم تتغير فلا يعرف كونها متغيرة بيقين إلا باستبانة بعض الخلق بحر عن المحيط، وفيه عنه أيضاً أنه لا يستبين إلا في مائة وعشرين يوماً وفيه عن المجتبى أن المستبين بعض خلقه يعتبر فيه أربعة أشهر وتام الخلق ستة أشهر، وقدمنا في الحيض استشكال صاحب البحر لهذا بأن المشاهد ظهور الخلق قبل أربعة أشهر. فالظاهر أن المراد نفخ الروح لأنه لايكون قبلها. (الدر المختار مع الشامي: ۳/ ۵۱۱، سعيد – وفتاوى قاضي خان: ۱/ ۵٤۹، باب العدة على هامش الهندية: – وبدائع الصنائع: ۳/ ۱۹٦، سعيد). **د زيات تفصيل له پاره وګورئ:** (احسن الفتاوى: ۵/ ٤۲۹).

په احسن الفتاوى كي راځي:

كه حمل د څلورو يا زياتو مياشتو وي نو عدت تېر بلل كيږي او كه كم وي نو دري حيضه عدت به تېر وي، البته د څلورو يا زياتو مياشتو حمل ضائع كول ګناه او ناروا دئ او تر څلور مياشتي كم

حمل کي اختلاف دئ، راجح دا ده چې له ډېر سخت عذر پرته جواز نه لري. (احسن الفتاوی:٥/ ٤٣٢-٤٣٣ – فتاوی رحیمیه:٨/ ٤٠٤). والله تعالی اعلم.

تر دوه کاله جدايي وروسته طلاق

سوال: دیوه سړي له خپلي ښځي څخه دوه اولاده دي مګر د اختلاف په سبب دوه کاله له خاوند څخه جلا ده او یو ځای سوي نه دي اوس یې طلاق ورکړ اوس ځیني کسان وایي، چي له عدت څخه مقصد د رحم صفايي ده چي هغه موجوده ده، نو د عدت ضرورت دلته نه سته؟

الجواب: په دې صورت کي عدت لازم دئ ځکه دلته د رحم د صفايي تر څنګ په اوله نکاح، دغم او حزن ظهار هم مقصود دئ له همدې کبله پر کوچنۍ او آیسه هم عدت واجب دئ که څه هم هلته د حمل امکان نه وي.

په درمختار کي راځي:

ثلاث حيض كوامل.... فالأولى لتعرف براءة الرحم، والثانية لحرمة النكاح . وفى الشامية: قوله فالأولى الخ بيان لحكمة كونها ثلاثاً مع أن مشروعية العدة لتعرف براءة الرحم أى خلوه عن الحمل وذلک يحصل بمرة فبين أن حكمة الثانية لحرمة النكاح دى لإظهار حرمته. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٥٠٥، باب العدة، ط: سعيد).

په هدايه کي راځي:

لأن العدة وجبت للتعرف عن براءة فى الفرقة الطارية على النكاح . وفي فتح القدير: ثم كونها تجب للتعرف لا ينفي أن تجب لغيره أيضاً، وقد أفاد المصنف فيما سيأتي أنها أيضاً تجب لقضاء حق النكاح بإظهار الأسف عليه، فقد يجتمعان كما في مواضع وجوب الأقراء وقد ينفرد الثاني كما في صور الأشهر . (الهداية مع فتح القدير:٤/ ٣٠٨، باب العدة، ط: دار الفكر).

په فتاوى دار العلوم ديوبند کي راځي:

تر پنځه کاله جدايي وروسته هم عدت واجب دئ که خاوند په اول کي ور سره جماع يا خلوت کړى وي. (فتاوى دار العلوم ديوبند: ١٠/ ٣٢٠). والله تعالى اعلم.

د عدت د وجوب حکمتونه:

له مذکور تفصيل څخه معلومه سوه چي د عدت دوه حکمتونه دي:

١_ استبراء رحم يعني د رحم خالي والي او فراغت تر څو د نسب حفاظت وسي.

٢_ د نکاح په ختم کېدو غم او حزن ښکاره کول.

وګورئ د طلاق او نکاح په قانون کي راځي:

د عدت يو حکمت د مخکنى نکاح پر جدايي د غم او حزن اظهار دئ او دوهم حکمت يې د رحم صفايي ده ځکه له عدت څخه پرته بل ځاى نکاح وکړي نو هلته د نسب د اختلاف اشتباه او امکان سته. (قانون طلاق او نکاح: ص ١٦٧). **د زيات تفصيل له پاره وګورئ:** (کتاب الفتاوى: ٥/ ١٤٠ – اسلامى فقه: ٢/ ١٨٨).

اشکال: له مذکور بيان څخه خو دا معلومه سوه چي له جماع او خلوت څخه مخکي هم چي طلاق واقع سي بايد عدت تير کړي ځکه هلته جدايي راغلې او د غم اظهار بايد پر وکړل سي.

الجواب: هلته نعمت د نکاح مؤکد سوى نه دئ يعني محبت او الفت کامل سوى نه دئ. ابن همام رحمة الله عليه فرمايي:

قد أفاد المصنف فيما سيأتي أنها أيضاً تجب لقضاء حق النكاح بإظهار الأسف عليه ....

بخلاف غير المتأكد وهو ما قبل الدخول لا يؤسف عليه إذ لا إلف ولا مودة فيه. (الهداية مع فتح القدير: ٤/ ٣٠٨، باب العدة، ط: دار الفكر). والله تعالى اعلم.



قال رسول الله ﷺ « لايحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخران تحد على ميت فوق ثلاثة أيام إلا على زوجها أربعة أشهر وعشراً» .

دوهم .... فصل

غم لمانځل

د عدت په شپو کي سر منځل، غسل او غوړول

سوال: د عدت په دوران کي سر منځل، غوړول او غسل کول څه حکم لري؟

الجواب: په دې صورت کي سر منځل، غوړول او غسل کول روا دي، خو د زينت په نيت به يې نه استعمالوي او د عادت او يا ضرورت په خاطر يعني که يې استعمال نه کړي تکليف وي، روا دي او څه مشکل نه سته.

وګورئ په هدايه کي راځي:

قال وعلى المبتوتة والمتوفى عنها زوجها إذا كانت بالغة مسلمة الحداد والحداد أن تترك الطيب والزينة والكحل والدهن المطيب وغير المطيب إلا من عذر وفى الجامع الصغير إلا من وجع .... والدهن لا يعرى عن نوع طيب وفيه زينة الشعر ولهذا يمنع المحرم عنه قال إلا من عذر لأن فيه ضرورة والمراد الدواء لا الزينة ولو اعتادت الدهن فخافت وجعا فإن كان ذلك أمراً ظاهراً يباح لها لأن الغالب كالواقع . (الهداية: ٢/ ٤٢٧، فصل فى الحداد).

په فتاوى هنديه کي راځي:

على المبتوتة والمتوفى عنها زوجها إذا كانت بالغة مسلمة الحداد في عدتها كذا في الكافي والحداد الاجتناب عن الطيب والدهن والكحل والحناء والخضاب .... وإنما يلزمها

الاجتناب في حالة الاختيار أما في حالة الاضطرار فلا بأس بها إن اشتكت رأسها أو عينها فصبت عليها الدهن أو اكتحلت لأجل المعالجة فلا بأس به ولكن لا تقصد به الزينة كذا في المحيط، لو اعتادت الدهن فخافت وجعاً يحل بها لو لم تفعل فلا بأس به إذا كانت الغالب هو الحول كذا في الكافي. (الفتاوی الهندية:١/ ٥٣٣، باب في الحداد – وكذا في بدائع الصنائع:٣/ ٢٠٨، سعيد).

په اسلامي فقه کي راځي:

په غسل، بدن او جامو پاکولو کي څه مشکل نه سته. (اسلامی فقه:٢/ ١٨٧). والله ﷻ اعلم.

د عدت په دوران کي روا کارونه:

١_ **غسل، سر منځل او پاکي جامې اغوستل روا دي.** (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٥/ ٤١٠).

٢_ **د ضرورت په وخت کي سر غوړول او ږمنځول.** (احسن الفتاوی:٥/ ٤٤٢).

٣_ **په کور کي په یوه خاصه خونه کي اوسېدل لازم نه دي بلکي په کور کي هر ځای اوسېدل او گرځېدل روا دي.**

٤_ **د کور کار کول روا دئ.**

٥_ **د ضرورت په وخت کي باید کوښښ وکړي چي ډاکټر کور ته را وغواړي که دا ممکن نه وي نو ډاکټر ته تلل او شفا خانه کي اوسېدل د مرض په خاطر روا دي.** (آپ کی مسائل اور کا حل:٥/ ٤١٠ – احسن الفتاوی:٥/ ٤٤٣).

٦_ **د ضرورت په وخت کي په نفقه پسي تلل، البته شپه به کور ته را رسوي او حتی الامکان به بل ځای شپه نه کوي.** (آپ کی مسائل اور کا حل:٥/ ٤١٠).

٧_ **د ضرورت پر وخت د شاهدی یا بل عذر په خاطر محکمې او یا د بل امیر دفتر ته تلل روا دي.** (آپ کی مسائل اور کا حل:٥/ ٤١٠).

٨_ د تنخـوا يـا بـل ضـرورت لـه پـاره دفتـر تـه تلـل روا دي كـه ضـرورت وو. (فتاوى محموديه:١٩/ ٣٦٤).

٩_ كه ضرورت وي او بل څوك د راوړلونه وي نو د كور سودا هم راوړلاى سي. (عصر حاضر كى پچيده مسائل:٢/ ١٣٥).

١٠_ د ځاى د نړېدلو بېره وي يا د كرايې قدرت ونه لري يا د عزت او مال خطر وي يا كوم بل معقول عذر وي نو په داسي حالاتو كي بل ځاى ته تلل روا دئ، په داسي حالاتو كي نژدې يا د خاوند خوښ ځاى تلل په كار دي كه ممكن وي. (احسن الفتاوى:٥/ ٤٤٠ – عصر حاضر مسائل:٢/ ١٣٤).

١١_ پان خوړ روا دي. (احسن الفتاوى:٥/ ٤٤٦ - آپ كى مسائل اور كا حل:٥/ ٤١٠). والله ﷻ اعلم.

د عدت په دوران كي ناروا كارونه:

١_ د زينت له پاره وړېښمني او يا رنګه جامې اغوستل.

٢_ زېورات استعمالول.

٣_ عطر، كريم يا نور پاوډر استعمال.

٥_ شونډان سره كول.

٦_ نوكرېزي استعمالول.

٧_ د زينت له پاره تېل استعمالول.

٨_ د زينت په نيت سر ږمنځول.

٩_ د عدت په جريان كي سفر كول.

١٠_ د عدت په جريان كي په غم، ښادي، واده او داسي نورو ځي شركت كول.

١١_ په عدت كي نكاح كول.

١٢_ بل ځاي شپه كول.

١٣_ د والدينو يا خاوند د مخ كتلو له پاره له كوره وتل. (مګر ضرورت مستثناء دئ).

١٥_ په ټيلفون له نامحرمو سره ښځو سره ضرورت خبري كول، البته له عدت ښځه پرته هم دا كار شرعاً منعه دئ.

وګورئ په درمختار كي راځي:

تحد مكلفة مسلمة ولو أمةً منكوحة نكاح صحيح ودخل بها، بدليل قوله: إذا كانت معتدة بت، أو موت وإن أمرها المطلق، أو الميت بتركه لأنه حق الشرع، إظهارًا للتأسف على فوات النكاح بترك الزينة بحلي أي بجميع أنواعه من فضة وذهب وجواهر، بحر. قال: القهستاني: والزينة ما تتزين به المرأة من حلي أو كحل كما في الكشاف، (أو حرير) بجميع أنواعه وألوانه ولو أسود، بحر (أو امتشاط بضيق الأسنان) فلها الامتشاط بأسنان المشط الواسعة ذكره في المبسوط، وبحث فيه في الفتح لكن يأتي عن الجوهرة تقييده بالعذر والطيب وإن لم يكن لها كسب إلا فيه والدهن ولو بلا طيب كزيت خالص. قوله أي استعماله في البدن أو الثوب قهستاني، وأعم منه قوله في البحر والفتح: فلا تحضر عمله ولا تتجر فيه، قوله كزيت خالص أي من الطيب وكالشيرج والسمن وغير ذلك، لأنه يلين الشعر فيكون زينة زيلعي، وبه ظهر أن الممنوع استعماله على وجه يكون فيه زينة، فلا تمنع من مسه بيد لعصر أو بيع أو أكل كما أفاده الرحمتي. (والكحل) والظاهر أن المراد به ما تحصل به الزينة كالأسود ونحوه بخلاف الأبيض ما لم يكن مطيباً (الحناء ولبس المعصفر والمزعفر) أي لبس الثوب المصبوغ بالعصفر والزعفران، والمراد بالثوب ما كان جديداً تقع به الزينة وإلا فلا بأس به، لأنه لا يقصد به إلا ستر العورة والأحكام تبتني على المقاصد كما في المحيط قهستاني.

إلا بعذر راجع للجميع، إذ الضرورات تبيح المحظورات فإن كان وجع بالعين فتكتحل أو حكة فتلبس الحرير أو تشتكي رأسها فتدهن وتمشط بالأسنان الغليظة المتباعدة من غير إرادة الزينة لأن هذا تداو لا زينة .... قلت : وقيد بعض الشافعية الاكتحال للعذر بكونه ليلاً ثم تنزعه نهاراً كما ورد في الحديث، وأخرج الحديث في الفتح أيضاً، ولم أر من قيد بذلك من علمائنا، وكأنه معلوم من قاعدة إن الضرورة تتقدر بقدرها، لكن إن كفاها الليل أو النهار اقتصرت على الليل ولا تعكس لأن الليل أخفى لزينة الكحل وهو محمل الحديث، والله سبحانه أعلم . (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٥٣٠-٥٣٢، فصل في الحداد، سعيد).

وأيضاً فيه: ولا تخرج معتدة رجعي وبائن بأي فرقة كانت على ما في الظهيرية ولو مختلعة على نفقة عتها في الأصح.... مكلفة من بيتها أصلاً لا ليلاً ولا نهاراً ولا إلى صحن دار فيها منازل لغيره ولو بإذنه لأنه حق الله تعالى. وفي الشامية: قوله في الأصح: لأنها هي التي اختارت إبطال حقها فلا يبطل به حق عليها ومقابله ما قيل أنها تخرج نهاراً لأنها قد تحتاج كالمتوفى عنها.

قال في الفتح : والحق أن على المفتي أن ينظر في خصوص الوقائع ، فإن علم في واقعة عجز هذه المختلعة عن المعيشة إن لم تخرج أفتاها بالحل ، وإن علم قدرتها أفتاها بالحرمة، وأقره في النهر والشرنبلالية . قوله من بيتها متعلق بقوله ولا تخرج والمراد به ما يضاف إليها بالسكنى حال وقوع الفرقة والموت، هداية سواء كان مملوكاً للزوج أو غيره، حتى لو كان غائبا وهي في دار بأجرة قادرة على دفعها فليس لها أن تخرج بل تدفع وترجع إن كان بإذن الحاكم، بحر وزيلعي، قوله فيها منازل لغيره أي غير الزوج بخلاف ما إذا كانت له فإن لها أن

تخرج إليها وتبيت في أي منزل شاءت لأنها تضاف إليها بالسكنى. (الدر المختار مع الشامي:٣/ ٥٣٥، فصل الحداد، ط: سعيد).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (الهداية:٢/ ٤٢٧ – والفتاوى الهندية:١/ ٥٣٣، الباب الرابع عشر في الحداد – وبدائع الصنائع:٣/ ٢٠٨، سعيد – وعصر حاضر كى پيچيده مسائل اور ان كا حل:٢/ ١٣٢-١٣٧ – وآپ كى مسائل اور ان كا حل:٥/ ٤١٠ – واحسن الفتاوى:٥/ ٤٣٠-٤٤٣ – ومجموعه قوانين اسلامى:ص ٢١٤ – ورساله عدت كى شرعى احكام:ص ٣٩-٥٣). والله ﷻ اعلم.

معتده د مور او پلار د مرګ په سبب وتل

سوال: يوه ښځه د وفات يا طلاق په عده کي وي او په همدې وخت کي د دې مور او يا پلار وفات سي ايا د څه وخت له پاره د دې مړي د ليدلو له پاره وتل روا دي او که نه، ځکه د نه ليدو په صورت کي به د ټول عمر له پاره په غم مبتلاء وي او دا هم بايد ووايو چي دلته د مړي راوړل ډېر مشکل کار دئ؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي ضرورت دئ ځکه د نه وتلو په صورت کي ډېر غم وي او هم د خلکو له خوا طعنې ورکول وي، نو په همدې اساس د ضرورت په وخت کي فقهاء کرامو د ضرورت په اندازه د وتلو اجازه کړې.

په ابن ماجه کي روايت دئ:

چي د حضرت جابر ﷺ خاله طلاق سوې وه نو هغه د خپلو خرماوو د ټولو له پاره وتله نو چا منع کړه دا ښځه رسول الله ﷺ ته ورغله، هغه ﷺ اجازه ورکړه او ورته وې فرمايل، شايد ته صدقه يا بل د خير کار وکړې.

وګورئ په ابن ماجه کي راځي:

عن جابر بن عبد الله ﷺ، قال: طلقت خالتي، فأرادت أن تجد نخلها، فزجرها رجل أن تخرج إليه، فأتت النبي ﷺ، فقال: بلى، فجدي فإنك عسى أن تصدقي، أو تفعلي معروفًا.

(ابن ماجة: ص ٤٦، باب هل تخرج المرأة في عدتها).

د ضرورت په وخت کي د متوفي عنها زوجها او مطلقې حکم يو ډول دئ.

وأما الخرج للضرورة فلا فرق فيه بينهما كما نصوا عليه فيما يأتي .... ولا يخرجان منه إلا أن تخرج أو يتهدم المنزل.... ونحو ذلک من الضرورات الخ. (الدر المختار مع الشامي:٣/ ٥٣٦، سعيد).

په عالمګيري کي راځي:

إن اضطرت إلى الخروج من بيتها .... فلا بأس عند ذلک أن تنتقل. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٣٥).

په فتاوى قاضي خان کي راځي:

الحرة المسلمة في عدة طلاق أو فرقة سوى الموت لاتخرج ليلاً ولا نهاراً إلا لضرورة.... والمتوفى عنها زوجها تخرج بالنهار لحاجتها إلى النفقة ولا يبيت إلا في بيت زوجها.... (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ٥٥٣، فصل فيما يحرم على المعتدة).

له يادو سوو عباراتو څخه معلومه سوه چي د ضرورت په وخت کي وتل روا دي، البته دا هم معلومول ضروري دي چي د ضرورت کوم حدود دي.

په فقهي مباحث کي راځي:

د دې لفظ ماده له ((ضر)) څخه ده او دا لفظ د ض په زور او پېښ دواړو منقول دئ ځينو اهل لغت په دې کي فرق کړی نه دئ، البته ځيني وايي چي په پېښ سره رسم دئ او په زور سره مصدر دئ د دې لفظ معناده نقصان، د نفعي ضد، د دي لفظ په ټولو الفاظو کي دا معنا ملحوظه ده همدارنګه زما (خالد سيف الله رحماني) په نزد د پر غم سخت نقصان او سخته تنګي ټول پکښې شامل دي.

په الموافقات د شاطبي کي راځي:

فأما الضرورة فمعناها أنه لابدمنها في قيام مصالح الدين والدنيا بحيث إذا فقدت لم تجر مصالح الدنيا على استقامته، بل على فساد وتهارج وفوت حياة، وفی الآخرة فوت النجاة والنعيم والرجوع بالخسران المبين. (الموافقات:٢/ ٤).

ځيني حضرات د ضرورت تعريف څه پراخوي او هر هغه څه چي د ژوند نظام مختل کوي او په سبب يې مفاسد پيدا کيږي دا ټول د ضرورت په جمله کي داخل دي، د علامه شاطبي رحمه الله ياد تعريف هم ودې ته مائل دئ، شيخ ابو زهرة، شيخ عبد الوهاب او نور هم د ابو اسحاق شاطبي پيروان دي.

او مولانا خالد سيف الله صاحب وايي: ضرورت يوازي د اضطراري حالت نوم نه دئ بلکي د ژوند ټول اساسي حقوق او د هغوی ساتل او د هغوی احکام په ضرورت کي داخل دي. (جديد فقهي مباحث:١٤/ ٧).

په قاموس الفقه کي راځي:

د شريعت بنيادي مقاصد پنځه دي:

١_ د دين ساتنه.

٢_ د نفس ساتنه (چي د ځان، عزت، حيثيت او عرفي عزت نفس هم پکښي شامل دئ).

٣_ د نسل ساتنه.

٤_ د مال ساتنه.

٥_ د عقل ساتنه.

د دې پنځه شيانو بقاء او ساتنه چي تر څه پوري موقوفه وي هغه ضروري دي، نو ضرورت يوازي د ځان ساتل نه سول بلکي د ژوند ټول اساسي شيان ضرورت دئ. (قاموس الفقه:٤/ ٣١٣).

له یاد عبارت څخه معلومه سوه چي ضرورت یوازي د ځان ساتلو نوم نه دئ، نو لهذا د طلاق یا وفات معتدې ته د مور او پلا د مرګ په صورت کي د وتلو ګنجائش سته، ځکه د نه وتلو په صورت کي د مشکلاتو امکان سته. والله تعالیٰ اعلم.

د زړې ښځي عدت د زوی په کور کي

سوال: معتدة وفات ښځي څه اندازه عدت په خپل کور کي تېر کړ خو د تنهایۍ او زړښت په سبب نور عدت د زوی په کور کي تېر وي ایا شرعاً اجازه سته او که نه؟ ایا هلته به بیا عدت شروع کوي؟

الجواب: په دې صورت کي د تنهایۍ او زړښت په سبب د زوی په کور کي د عدت تېرولو ګنجائش سته پاته ورځي دي پوره کړي او د بیا عدت ضرورت نه سته.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وتعتدان أي معتدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه ولا يخرجان منه إلا أن تخرج أو يتهدم المنزل، أو تخاف انهدامه، أو تلف مالها، أو لا تجد كراء البيت ونحو ذلك من الضرورات فتخرج لأقرب موضع إليه. قوله نحو ذلك، منه ما في الظهيرية: لو خافت بالليل من أمر الميت والموت ولا أحد معها لها التحول والخوف شديد وإلا فلا. (الدر المختار مع الشامي:٣/ ٥٣٦، فصل في الحداد).

وفي الطحطاوي على الدر: قوله ونحو ذلك من الضرورات كما إذا لم يكن معها أحد في البيت وقلبها يخاف ليلاً من أمر الميت والموت خوفاً شديداً فلها التحول وإن لم يكن شديداً فليس لها التحول ظهيرية. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار:٢/ ٢٣١، باب العدة).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که دیوازي والي په سبب د عزت او مال خطره وي او سخت وحشت او مشکل وي نو بل نژدې ځای عدت تېرول روا دي. (احسن الفتاوی:٥/ ٤٠٤). والله تعالیٰ اعلم.

د عدت په شپو کي د ښځي او خاوند ګډ اوسېدل

سوال: د عدت په شپو کي ښځي او خاوند ګډ اوسېدل څه حکم لري؟

الجواب: اول باید کوښښ وکړل سي چي عدت داسي ځای تېر کړل سي چي هلته د خاوند تلل او راتلل نه وي، په یوه کور کي په اوسېدو سره که په ګناه کي د لوېدو قوي بېره نه وي او د کور نور اوسېدونکي يې پر منع کېدو قدرت ولري نو په یوه کور کې عده تېرول منع نه دي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

ولـم يبين الـمصنف حكم إقامته معها في منزل الطلاق قال في الـمجتبى : وإذا وجب الاعتداد في منزل الزوج فلا بأس بأن يسكنا في بيت واحد إذا كان عدلًا سواء كان الطلاق رجعيا أو بائنًا أو ثلاثًا والأفضل أن يحال بينهما في البيتوتة بستر إلا أن يكون الزوج فاسقًا فيحال بامرأة ثقة تقدر على الحيلولة بينهما وإن تعذر فلتخرج هي وتعتد في منزل آخر .... في الـهداية : بأن خروجه أولى من خروجها عند العذر . (البحر الرائق:٤/ ١٥٤، باب العدة، كوئته).

وفى الدر الـمختار: ولا بد من سترة بينهما في البائن لئلا يـختلي بالأجنبية ، ومفاده أن الـحائل يمنع الـخلوة الـمحرمة وإن ضاق الـمنزل عليهما ، أو كان الزوج فاسقًا فخروجه أولى لأن مكثها واجب لا مكثه ، ومفاده وجوب الـحكم به ذكره الكمال وحسن أن يـجعل القاضي بينهما امرأةً ثقةً . قادرةً على الـحيلولة بينهما وفي الـمجتبى الأفضل الـحيلولة بستر ، ولو فاسقًا فبامرأة . وفى الشامي: فإن التسرة لا بد منها كما عبر الـمصنف تبعاض للهداية وهو الظاهر لـحرمة الـخلوة بالأجنبية. (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٥٣٧، فصل فى الحداد، سعيد).

په احسن الفتاوى کي راځي:

د عدت په شپو کي د ښځي او خاوند تر منځ پرده کول ضروري ده، که ممکن نه وي نو يوه بله ښځه بايد ورسره وي، تر څو د دوی تر منځ حائل وي که هغه قادره نه وي نو خاوند بايد کور ته رانه

سي که دا هم ممکن نه وي نو ښځه بايد بل ځای عدت تېر کړي. (احسن الفتاوى:٥/ ٤٤٧). والله ﷻ اعلم.

تر مغلظ طلاق وروسته ګډ اوسېدل

سوال: تر درې طلاقه وروسته ښځه او خاوند ګډ اوسېدلای سي او که نه ځکه د زړښت او يا بل ضرورت په سبب اړتيا وي؟

الجواب: که د ګناه ېېره نه وي، يوازې د مرستې او ضرورت په سبب ګډ اوسېدل روا دي، خو د ښځې او خاوند په ډول به ګډ ژوند نه سره کوي بلکې د اجنبي خلکو په ډول به وي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

قال: ولهما أن يسكنا بعد الثلاث في بيت واحد إذا لم يلتقيا التقاء الأزواج ، ولم يكن فيه خوف فتنة انتهى . وسئل شيخ الإسلام عن زوجين افترقا ولكل منهما ستون سنةً وبينهما أولاد تتعذر عليهما مفارقتهم فيسكنان في بيتهم ولا يجتمعان في فراش ولا يلتقيان التقاء الأزواج هل لهما ذلك ؟ قال : نعم، وأقره المصنف. وفي الشامية: قوله وسئل شيخ الإسلام حيث أطلقوه ينصرف إلى بكر المشهور بخواهر زاده، وكأنه أراد بنقل هذا تخصيص ما نقله عن المجتبى بما إذا كانت السكنى معها لحاجة، كوجود أولاد يخشى ضياعهم لو سكنوا معه أو معها أو كونهما كبيرين لا يجدهو من يعوله ولا هي من يشتري لها أو نحو ذلك، والظاهر أن التقييد بكون سنهما ستين سنة وبوجود الأولاد مبني على كونه كان كذلك في حادثة السؤال . (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٥٣٨، فصل في الحداد – ومثله في البحر الرائق:٤/ ١٥٤، فصل في الحداد، ط: كوئته).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د زړښت او یا مرض په سبب ګډ اوسېدل روا دي، د ښځي او خاوند په ډول نه بلکي د اجنبي خلکو په ډول که د ګناه خطره وي بیا ګډ اوسېدل جواز نه لري. (احسن الفتاوی: ٥/ ١٦٣). والله ﷻ اعلم.

د عدت په دوران کي د نکاح حکم

سوال: یوه سړي خپله ښځه طلاقه کړه تر یوه حیض وروسته هغې بیا نکاح وکړه شرعاً دا څه حکم لري، همدارنګه بیا خاوند بائن طلاق ورکړ او یو حیض تېر سو، بل حیض تېر سو پنځلس ورځي لا پوره نه وې چي ښځي ته بیا څو قطرې وینه راغله تر همدې وروسته بل حیض نه وو راغلی چي ښځي بل ځای نکاح وکړه دا نکاح څه حکم لري؟

الجواب: د دوو حیضونو تر منځ اقلاً پنځلس ورځي وقفه ضروري ده دلته هغه وقفه نه ده راغلې نو دا نکاح د عدت په دواران کي واقع سوې او صحت نه لري او باطله ده، خاوند باید ښځه پرېږدي که نه ښځه دي قاضي ته عریضه وکړي چي هغه نکاح فسخ کړي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

أقل الطهر بين الحيضتين أو النفاس والحيض خمسة عشر يوماً ولياليها إجماعاً. (الدر المختار: ١/ ٢٨٥، سعيد).

حضرت تهانوی رحمه الله په امداد الفتاوی کي د عربي عبارت ذکر کولو وروسته فرمایي: د دې روایاتو څخه معلومه سوه چي دغه نکاح (په عدت کي نکاح) باطله ده همدارنګه ښکاره سوه چي د عدې واجبېدل په دغه پوښتل سوي صورت کي مختلف فیه دي خو وجوب یې احوط دئ. (امداد الفتاوی: ٢/ ٥٠٥).

په مجموعه قوانین اسلامي کي راځي:

د نکاح فاسد په صورت کي پر زوجینو متارکت لازم دئ که دواړه سره جلا نه سي نو قاضي دي د دواړو تر منځ جلا والي وکړي. (مجموعه قوانین اسلامی: ص ٢٠٦).

نوټ: په کوم ځای کي چي قاضي نه وي هلته د مسلمانانو شورا هم نکاح فسخ کولای سي. والله سبحانه وتعالی اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف ﴾. (سورة البقرة، الآية: ٢٣٣).

قال رسول الله ﷺ: « الولد للفراش وللعاهر الحجر ». (رواه البخاري).

دیارلس .... باب

د نسب ثبوت د بیان

له زانیه ښځي سره تر نکاح وروسته د نسب د ثبوت حکم

سوال: یو هلک له یوې انجلۍ سره زنا وکړه، انجلۍ حمل ورڅخه واخیست او وروسته دوی نکاح سره وکړه دا ماشوم ثابت النسب بلل کیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که تر نکاح شپږه (٦) میاشتي وروسته پیدا سي نو دا ماشوم ثابت النسب بلل کیږي او که له شپږه (٦) میاشتي کم پیدا سي نو ثابت النسب نه بلل کیږي، البته که خاوند یې د نسب دعوه وکړي نو بیا څه ممانعت نه سته، خو دا کار شرعاً مناسب نه دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

لو نكحها الزاني حل له وطؤها اتفاقًا والولد له والولد له أي إن جاءت بعد النكاح لستة أشهر مختارات النوازل، فلو لأقل من ستة أشهر من وقت النكاح، لا يثبت النسب، ولا يرث منه إلا أن يقول هذا الولد مني، ولا يقول من الزنى خانية، والظاهر أن هذا من حيث القضاء، أما من حيث الديانة فلا يجوز له أن يدعيه لأن الشرع قطع نسبه منه فلا يحل له استلحاقه به

ولذا لو صرح بأنه من الزنى لا يثبت قضاءً أيضاً وإنما يثبت لو لم يصرح لاحتمال كونه بعقد سابقٍ أو بشبهة حملاً لحال المسلم على الصلاح، وكذا ثبوته مطلقاً إذا جاءت به لستة أشهر من النكاح لاحتمال علوقه بعد العقد وأن ما قبل العقد كان انتفاخاً لا حملاً ويحتاط في إثبات النسب ما أمكن . (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٤٩، فصل في المحرمات، سعيد).

وفي الطحطاوي على الدر المختار: قوله والولد له أي يثبت نسبه منه ولايحرم عليه إلحاقه به هذا ما يعطيه ظاهره ولم ينظروا فيه إلى وقت العلوق وإلا انعكست الإحكام وإنما نظروا إلى النكاح فكأنه صدر من نكاح في ابتداءه وحرره ثم رأيت في أبي السعود نقلاً عن الواقعات الحسامية: رجل زنى بامرأة حلمت منه فلما استبان حملها تزوجها الذي زنى بها فالنكاح جائز فإن جاءت بولد بعد النكاح بستة أشهر فصاعداً يثبت النسب منه ويرث منه لأنها جاءت بالولد في مدة حمل تامة عقيب نكاح صحيح وإن جاءت لأقل من ستة أشهر لايثبت النسب ولايرث منه لأنها لم تجئ به لمدة حمل تامة. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار:٢/ ٢٣، كتاب النكاح، ط: كوئته). والله ﷻ اعلم.

له هندو ښځي سره د نکاح په صورت کي د نسب حکم

سوال: که چا له هندو ښځي نکاح وکړه ایا اولادي ثابت النسب بلل کیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي نکاح صحیح سوې نه ده، نو اولاد نسب هم ثابت نه دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

قلت : وفي مجمع الفتاوى: نكح كافر مسلمة فولدت منه لا يثبت النسب منه ولا تجب العدة، لأنه نكاح باطل . وفي الشامية : قوله لأنه نكاح باطل أي فالوطئ فيه زنا لا يثبت به

النسب، بخلاف الفاسد فإنه وطئ بشبهة فيثبت به النسب، ولذا تكون بالفاسد فراشا لا بالباطل .(الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٥٥٥، فصل في ثبوت النسب، ط: سعيد).

په امداد الفتاوى كي راځي:

په باطله نكاح كي نسب ثابت نه وي. (٢/ ٥١٤).

نوټ: د نكاح فاسد او باطل ضروري وضاحت په كتاب النكاح كي تېر سوى دئ چي هلته يې وګورئ. والله ﷻ اعلم.

د ثبوت النسب متعلق څو اصول:

د ثبوت النسب متعلق څو اصول دا دي:

١ _ تر صحيح نكاح وروسته كه پوره په شپږو (٦) مياشتو يا زيات له شپږو مياشتو اولاد پيدا سي نو دا بيله دعوې ثابت النسب دئ، البته كم تر شپږه (٦) مياشتو ثابت النسب نه بلل كيږي. د حمل لږ تر لږه مده شپږه مياشتې ده او زياته يې دوه كاله ده.

وګورئ حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي:

« الولد لايبقي في بطن أمه أكثر من سنتين ولو بقدر فلكة مغزل» وقال العلامة اللكنوي رحمه الله: ومثله لايقال إلا سماعاً. (التعليق الممجد على مؤطا محمد:٢/ ٦٠٨، باب الرضاع، دار القلم دمشق).

په هدايه كي راځي:

وإذا تزوج الرجل امرأة فجاءت بولد لأقل من ستة أشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه لأن العلوق سابق على النكاح فلا يكون منه وإن جاءت به لستة أشهر فصاعداً يثبت نسبه اعترف به الزوج أو سكت لأن الفراش قائم والمدة تامة . (الهداية:٢/ ٤٣٢، باب ثبوت النسب).

۲_ له کومې ښځې سره چې وطی بالشبهه وسي تر وطي وروسته په شپږو (٦) میاشتو یا زیات تر شپږو (٦) میاشتو ماشوم پیدا سي نو تر څو چې وطي کوونکي دعوه ونه کړي چې دا زما ماشوم (اولاد) دئ نو تر هغو پوري دا ماشوم ثابت النسب نه دئ.

په البحر الرائق کي راځي:

أن من وطئ امرأة أجنبية زفت إليه وقيل له إنها امرأتک فهي شبهة فی الفعل وأن النسب يثبت إذا ادعاه. (البحر الرائق: ٤/ ١٥٨، باب ثبوت النسب، کوئته).

۳_ که د معتدة رجعیه د عدت تیرېدلو تر اقرار مخکي ماشوم پیدا سي دا ماشوم ثابت النسب بلل کیږي که څه هم دوه کاله وروسته پیدا سي او که ښځي د عدت تیرېدلو اقرار وکړ، وروسته بیا تر شپږو (٦) میاشتو په کمه موده کي ماشوم پیدا سي دا هم ثابت النسب دئ، البته په شپږو (٦) میاشتو یا زیات کي بیا ثابت النسب نه دئ.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

ويثبت نسب ولد معتدة الرجعي وإن ولدته لأكثر من سنتين ما لم تقر بمضي العدة وكانت رجعة في الأكثر منهما لا في الأقل منهما أي: من السنتين لاحتمال العلوق في حالة العدة لجواز أنها تكون ممتدة الطهر ؛ فإن جاءت به لأقل من سنتين بانت من زوجها لانقضاء العدة وثبت نسبه لوجود العلوق في النكاح أو في العدة .... وإن جاءت به لأكثر من سنتين كانت رجعة ؛ لأن العلوق بعد الطلاق والظاهر أنه منه لانتفاء الزنا .... ويكون العلوق مستندًا إلى أبعد الأوقات للحاجة إلى إثبات النسب وأمره مبني على الاحتياط كذا في غاية البيان .... وقيد بعدم إقرارها ؛ لأنها لو أقرت بانقضائها والمدة محتملة بأن يكون ستين يومًا على قول أبي حنيفة رحمه الله وتسعةً وثلاثين يومًا على قولهما ثم جاءت بولد لا يثبت نسبه إلا إذا جاءت

به لأقل من ستة أشهر من وقت الإقرار فإنه يثبت نسبه للتيقن بقيام الحمل وقت الإقرار.

(البحر الرائق: ٤/ ١٥٦، باب ثبوت النسب، ط: كوئته).

۴_ مطلقه بائينه يا مغلظه که تر طلاق وروسته تر شپږو (٦) مياشتو اولاد پيدا کړي نو هغه ثابت النسب دئ او که زيات تر شپږو (٦) مياشتو وي او د عدت تيرېدلو اقرار يې نه وي کړی نو دا هم ثابت النسب دئ حتی تر دوه کاله زيات وخت هم که ښځي د عدت تېرېدلو اقرار نه وي کړی او خاوند دعوی وکړي نو اولاد ثابت النسب دئ که نه، نه دئ.

په هدايه کي راځي:

والمبتوتة يثبت نسب ولدها إذا جاءت به لأقل من سنتين.... وإذا جاءت به لتمام سنتين من وقت الفرقة لم يثبت لأن الحمل حادث بعد الطلاق فلا يكون منه لأن وطيها حرام إلا أن يدعيه لأنه التزمه وله وجه بأن وطئها بشبهة في العدة. (الهداية: ٢/ ٤٣٠، باب ثبوت النسب).

۵_ د خاوند تر وفات وروسته که تر شپږ (٦) مياشتي اولاد پيدا سو نو دا ثابت النسب دئ او په داخل د دوو کالو کي پيدا سو او ښځي د عدت تيرېدلو اقرار نه وو کړی نو دا هم ثابت النسب دئ يا يې اقرار کړی وو خو تر اقرار څخه وروسته تر شپږو (٦) مياشتي کم وخت کي اولاد پيدا سو نو دا هم ثابت النسب دئ که نه، نه دئ.

په هدايه کي راځي:

ويثبت نسب ولد المتوفى عنها زوجها ما بين الوفاة وبين السنتين .... إذا اعترفت المعتدة بانقضاء عدتها ثم جاءت بالولد لأقل من ستة أشهر يثبت نسبه لأنه ظهر كذبها بيقين فبطل الإقرار وإن جاءت به لستة أشهر لم يثبت لأنا لم نعلم ببطلان الإقرار لاحتمال الحدوث بعده. (الهداية: ٢/ ٤٣١، باب ثبوت النسب).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (مجموعه قوانين اسلامی: ٢٢١-٢٢٤) والله ﷻ اعلم.

ترزيات بېلتون وروسته د اولاد پيدا كېدل

سوال: كه يو سړى څو كاله مسافروي او د ده په نه موجوديت كي يې د ښځي اولاد پيدا سي ايا دا اولاد ثابت النسب دئ او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي نسب له همدې خاوند څخه ثابت دئ او د نسب د ثبوت له پاره د نكاح موجوديت كافي دئ، وبېلتون ته اعتبار نه سته، البته د لعان په واسطه خاوند د اولاد نفي كولاى سي.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

قال رسول الله ﷺ: «الولد للفراش وللعاهر الحجر». (رواه البخاري:٢/ ٩٩٩، باب الولد للفراش وللعاهر الحجر).

په فتاوى هنديه كي راځي:

قال أصحابنا : لثبوت النسب ثلاث مراتب (الأولى) النكاح الصحيح وما هو في معناه والحكم فيه أنه يثبت النسب من غير عودة ولا ينتفي بمجرد النفي وإنما ينتفي باللعان ، فإن كانا ممن لا لعان بينهما لا ينتفي نسب الولد كذا في المحيط . (الفتاوى الهندية:١/ ٥٣٦، الباب الخامس عشر في ثبوت النسب).

په فتح القدير كي راځي:

وحاصله أن الثبوت يتوقف على الفراش وهو يثبت مقارناً للنكاح المقارن للعلوق فتعلق وهي فراش فيثبت نسبه.... قال بعض المشايخ .... قيام الفراش كاف، ولا يعتبر إمكان الدخول بل النكاح قائم مقامه كما في تزوج المشرقي بمغربية. (فتح القدير:٤/ ٣٤٩، ٣٥٠، باب ثبوت النسب،ط: دار الفكر).

په درمختار كي راځي:

أن الفراش على أربع مراتب وقد اكتفوا بقيام الفراش بلا دخول كتزوج المغربي بمشرقية بينهما سنة فولدت لستة أشهر مذ تزوجها لتصوره كرامة أو استخداماً.... وفي الشامية: قوله على أربع مراتب.... وقوي وهو فراش المنكوحة ومعتدة الرجعي فإنه فيه لاينتفي إلا باللعان. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٥٥٠، فصل في ثبوت النسب، ط: سعيد – وكذا في الدر المختار:٣/ ٦٩٤، باب الاستيلاد، ط: سعيد). والله ﷻ اعلم.

د ورکي سوي ښځي د اولاد حکم

سوال: يوه سړي د بل سړي ښځه وتښتوله او ډېر وخت ورسره وه، هلته يې اولاد هم پيدا سو خو اول خاوند طلاق ورکړی نه دئ نو په داسي صورت کي د دې اولاد نسب له چا څخه دئ؟

الجواب: دا تښتونکي زنا ورسره کړې تر زنا څخه نسب نه ثابتيږي نو نسب له اصل خاوند څخه دئ.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

قال رسول الله ﷺ: « الولد للفراش وللعاهر الحجر». (رواه البخاري:٢/ ٩٩٩، باب الولد للفراش وللعاهر الحجر).

په درمختار کي راځي:

أن الفراش على أربع مراتب وقد اكتفوا بقيام الفراش بلا دخول.... وفي الشامية: قوله على أربع مراتب.... وقوي وهو فراش المنكوحة ومعتدة الرجعي فإنه فيه لاينتفي إلا باللعان. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٥٥٠، فصل في ثبوت النسب، ط: سعيد – و ٣/ ٦٩٤، باب الاستيلاد، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

أمـا أن قـال: إنـه منـي مـن الزنـا فـلا يثبـت نـسبه ولا يـرث منـه كـذا فـى الينـابيع. (الفتـاوى الهندية: ١/ ٥٤٠، باب ثبوت النسب).

دزيـات تفيـصل لـه پـاره وګـورئ: (فتـاوى دار العلـوم ديوبنـد: ١١/ ٣٢، مـدلل مكمـل – وفتـاوى حقانية: ٤/ ٥٦٣). والله ﷻ اعلم.

د ټسټ ټيوب بيبۍ د نسب حکم

سوال: شيرې کاله مخکې موږ واده کړی دئ، خو اولاد نه لرو. په اوسنۍ زمانه کې د اولاد د پيدائښت ځيني نوي طريقې سته، د درو طريقو په اړه زه فتوا غواړم چې دا کار روا دئ او که نه؟ اولاد ثابت النسب دئ او که نه؟

١_ (Artificial Ihsemination) د خاوند ماده د پيچکارۍ په واسطه د خپلې ښځې رحم ته رسوي، ځکه ځيني نارينه د ضعف يا مرض په سبب ماده خپل ځای ته نه سي رسولای؟

٢_ (In Vitro fertilization [IVF]) د ښځې او خاوند ماده را اخيستل او له رحم څخه د باندې په ټيوب کې اېښودل وروسته د ښځې رحم ته داخلول او دا کار يوازې له هغې ښځې سره کيږي چې تر بچه دانۍ پورې يې د مادې رسولو لاره بنده وي چې له امله يې حمل قرار نه نيسي و دغه ته ټسټ ټيوب بې بي ويل کيږي. (Test Tube Baby).

٣_ (Gamete Intrafallopian Transfar [GIFT]) د ښځې او خاوند د توليد ماده ګډه کړي خو د ټيوب د اېښودلو پر ځای يې د ښځې په رحم دانۍ کې داخله کړي دا صورت يوازې له هغې ښځې سره کيږي چې له هغو دوو نالیو څخه چې (Fallopian Tube) (هغه نالي چې بيضة المني رحم ته رسوي) لږ تر لږه يې يوه کار کوي؟

الجواب: په دې صورت کې درو صورتونو کې د ښځې او خپل خاوند د مادې اختلاط دئ او د اجنبي نه دئ، نو د ضرورت په وخت کې دا ډول علاج کول روا دي، البته بېله ضرورت بايد ځان ورڅخه وژغورل سي مګر د اجنبي له مادې سره ګډول په هيڅ صورت جواز نه لري. دا يوازې د

ضرورت په وخت کي د خاوند له مادي سره د اختلاط په صورت کي جواز لري او اولاد ثابت النسب بلل کيږي.

مولانا خالد سيف الله رحماني په جديد فقهي مسائل کي وايي:

د ښځي او خاوند ماده سره ګډول او اولاد پيدا کول پر دري ډوله دي:

۱_ د خاوند ماده د پيچکارۍ په ذريعه د ښځي رحم ته رسول کيږي.

۲_ د ښځي او خاوند ماده را اخلي تر څه وخت پروش وروسته يې بيرته د ښځي رحم ته رسوي.

۳_ د ښځي او خاوند ماده سره يو ځاى کوي، وروسته ته يې د بلي ښځي په رحم کي اچوي ځکه د لمړۍ ښځي رحم يې قابل نه وي.

نو اوس اول فکر کول په کار دي چي دا عمل جواز لري او که نه؟ کومو فقهاوو چي دا کار ناروا بللى لاندي دلائل وايي:

۱_ خاوند د جلق (مټ وهل) په واسطه ماده حاصلوي او جلق ناروا دئ.

۲_ د ښځي او خاوند بې پردګي راځي او يا يوازي د ښځي او له سخت مجبوريت څخه پرته بې پردګي د ډاکټر په مخکي هم جواز نه لري.

۳_ دا طريقه د فطرت خلاف ده او د شريعت عام مزاج دا دئ چي خلاف فطرت کارونه منع کوي.

د دې اشکالاتو جوابونه دا دئ:

۱_ په عامو حالاتو کي جلق منع دئ، خو د ضرورت په وخت کي جواز لري.

عبد الرشيد البخاري فرمايي:

« إذا عالج ذكره حتى أمنى .... ولايحل هذا الفعل خارج رمضان إن قصد قضاء الشهوة وإن قصد تسكين شهوة أرجو أن لايكون عليه وبال ». (خلاصة الفتاوى:١/ ٢٦٠، الفصل الثاث فيما يفسد الصوم، المكتبة الرشيدية).

د جلق د ممانعت اصلي حکمت:

په مټ وهلو کي د ژوند ماده ضايع کيږي مګر که د جلق عمل د مصنوعي توليد له پاره کيږي نو هلته خو ضياع نه سته بلکي ساتل يې دي.

۲_ د بې پردګۍ جواب دا دئ چې دلته څو فعلاً شدید ضرورت نه سته څو په امکاني ډول د شدیدو امراضو باعث جوړېږي ځکه بې اولادي انسان له ډېرو امراضو سره مخامخ کوي.

علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

« وقد روي عن أبي يوسف رحمه الله تعالى أنه إذا كان به هزال فاحش وقيل له أن الحقنة تزيل ما بك من الهزال فلا بأس بأن يبدي ذلك الموضع للمحتقن وهذا صحيح فإن الهزال الفاحش نوع مرض يكون آخره الدق والسل ». (المبسوط للامام السرخسي: ۱۰/ ۱۵۶، كتاب الاستحسان، النظر الى العورة).

همدارنګه ځيني اوقات د مباح او سنت عمل له پاره هم د بې پردګۍ اجازه ورکړل شوي لکه د نارينه سنتول چې سنت دي او د ښځي ده مباح دي.

علامه سمرقندي رحمه الله وايي:

« ولا يباح المس والنظر إلى ما بين السرة والركبة إلا في حالة الضرورة بأن كانت المرأة ختانة تختن النساء » (تحفة الفقهاء: ۳/ ۳۳۴، كتاب الاستحسان).

همدارنګه چاغښت، حاجت او ضرورت دئ مګر فقهاوو دلته هم د حقنې لګولو جواز ورکړی دئ.

« لا بأس بالحقنة لأجل السمن هكذا روي عن أبي يوسف رحمه الله ». (خلاصة الفتاوى: ٤/ ٣٦٣، كتاب الكراهية، الفصل الخامس فى الاكل، ط: المكتبة الرشيدية).

تست ټيوب د اولاد نه کېدونکی له پاره يو علاج دئ او دا يقيني ده چې فقهاوو فقهي مسائل پر درې ډوله وېشلي دي:

۱_ ضرورت.

۲_ حاجت.

۳_ تحسين.

او ممنوعات یې صرف هغه وخت روا بللي دي چي ضرورت یا حاجت د هغه د اجازې تقاضاء وکړي مگر د فقهي جزئیاتو له کتلو معلومیږي چي د علاج او معالجې په صورت کي فقهاوو څه وسعت زیات ورکړی دئ نو د اولاد پیدایښت د انسان طبعي او فطري غوښتنه ده نو لهذا د هغه د حصول له پاره د معالجې په صورت کي بې پردگئ جواز لري.

۳_ څوک چي دا خلاف فطرت طریقه گڼي د هغوی جواب دا دئ چي د فطري تقاضا د تکمیل یعني د اولاد د حصول له پاره داسي غیر فطري لاره غوره کول چي ممانعت یې په نص سره ثابت نه وي روا دي اصلاً د اولاد د پیدایښت لاره فطرتاً د ښځي شرمگاه ده مگر د ضرورت په وخت کي اپریشن هم جواز لري همدارنگه دا یاده طریقه هم د مجبوری په وخت کي جواز لري. والله ﷻ اعلم.

د ثبوت النسب حکم:

د ثبوت النسب له پاره د خاوند له نطفې څخه د ښځي حامله کېدل کفایت کوي او دا ضرورت نه دئ چي په جسماني ډول به ورسره مباشرت کوي لهذا پرته له وطي هم چي د خاوند له نطفې څخه استقرار حمل راسي نسب ثابتیږي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

« رجل عالج جاریته فیما دون الفرج فأنزل فأخذت الجاریة ماءه في شيء فاستدخلته في فرجها فعلقت، عند أبي حنیفة رحمه الله أن الولد ولده وتصیر الجاریة أم ولد له ، کذا في فتاوی قاضي خان ». (الفتاوی الهندیة: ٤/ ١١٤، الباب الرابع عشر فی دعوی النسب).

د دریم صورت حکم:

که ښځي او خاوند ماده د خاوند د بلي ښځي یعني د همدې ښځي د بني په رحم کي واچول سي په دې اړوند د علماوو اختلاف دئ مگر معقول قول دا دئ چي په حرمت نکاح او نورو احکامو کي د دې ماشوم متعلق دا دواړه د حقیقي میندو په حکم کي دي او د نفقې، میراث او داسي نورو احکامو تعلق یې له هغې ښځي سره دئ د چا په رحم کي چي دا ماشوم پیدا سوی وي.

الله تعالی فرمایي:

﴿ إن أمهاتهم إلا اللائي ولدنهم وإنهم ﴾. (سورة المجادلة، الآية:٢).

د فقهاوو داسي نظريات سته چي ديو ماشوم نسب له دوو څخه ثابتوي.

وګورئ د قدوري په شرح کي راځي:

« وإذا كانت جاريةً بين اثنين وجاءت بولد فادعياه حتى ثبت النسب منهما ». (الجوهرة النيرة:٢/ ٨٤، كتاب النكاح،ط: امدادية، ملتان – وكذا في البحر الرائق:٣/ ١١٩، كوئته).

له لمري ښځي څخه د ثبوت النسب دليل دا دئ چي بيضة المني د هغې دي نو دا ماشوم د هغې جز دئ او دا په حرمت او نور مسائلو کي اصل دئ لکه په هدايه کي چي د زنا د حرمت مصاهرت په دليل کي وايي:

« إن الوطي سبب الجزئية بواسطة الولد حتى يضاف إلى كل واحد منهما كملا ».

(الهداية:٢/ ٣٠٩، فصل في المحرمات).

او د خاوند د دوهمي ښځي چا چي دا ماشوم په خپل رحم کي پاللى دئ د مور والي وجه يې دا ده چي الله ﷻ همدا ښځه مور بللې لکه څنګه چي په مخکي آيت کي تېر سول. (مخلص از جديد فقهى مسائل:٥/ ١٥١-١٦٣).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (عصر حاضر كى پيچيده مسائل:٢/ ٥٤٧- جديد مسائل كا شرعى حل:٢٠٩). والله ﷻ اعلم.

د اجنبي له نطفې څخه د پيدا سوي ماشوم نسب

سوال: يو طريقه رواج ده چي که د کوم خاوند اولاد نه کيږي نو ښځه يې د بل اجنبي ماده د طبي الاتو په واسطه په خپل رحم کي اچوي، ايا دا ماشوم ثابت النسب دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي دا ډول کار حرام او د اسلامي اصولو خلاف کار دئ، البته که په داسي ډول حمل وسي نو له خاوند څخه دا ماشوم ثابت النسب بلل کيږي له بل څخه نه ثابتيږي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

قال رسول الله ﷺ: «الولد للفراش وللعاهر الحجر». (رواه البخاری: ٢/ ٩٩٩، باب الولد للفراش وللعاهر الحجر).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

داجنبي سړي او اجنبي ښځي داختلاط ټول صورتونه د زنا په حکم کي دي که دا ښځه د چا په نکاح کي وي او د کوم اجنبي له مادې څخه حامله سي نو د مولود نسبت خاوند ته کیږي یعني دا مولود ثابت النسب دئ له خاوند څخه نه له بل څخه. (جدید فقهی مسائل: ٥/ ١٥٢).

همدارنګه بل ځای مذکور دي:

که په داسي ډول تولید صورت ونیسي نو نسب ثابت ګرځي او د وراثت، رضاعت او نورو احکام ثابت ګرځي د ثبوت نسب له پاره په فطري ډول جماع ضروري نه ده له همدې څخه پر ته هم که ماده منویه د ښځي رحم ته ورسیږي نو نسب ثابتیږي او د فقهاوو په ځینو عباراتو کي دا اشاره سته.

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

البكر إذا جومعت في ما دون الفرج فحبلت بأن دخل الماء في فرجها فلما قرب أو ان ولادتها تزول عذرها ببيضة أو بحرف درهم. (الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٦٠، كتاب الكراهية، باب ٢١ – وكذا في المحيط البرهاني: ٦/ ١٢٧، كتاب الاستحسان والكراهية).

یعني که له پیغلي سره په مادون الفرج کي جماع وسي او وروسته دا ماده وبهیږي او د ښځي د فرج له لاري رحم ته ورسیږي، نو د ولادت په وخت کي د هګی او یا بل شي په واسطه د بکارت پرده لیري کړل سي او د وتلو لاره دي خلاصه کړل سي، البته دا یقیناً عملاً زنا ده، خو د زنا حد پرې نه جاري کیږي، ځکه دلته خوند نه دئ اخیستل سوي. (جدید فقهی مسائل: ١/ ١٥١).

د زوجینو ماده د بل چا په رحم کي لوېدل

سوال: یوه نوې طریقه دا هم ده چي د زوجینو ماده منویه د بلي اجنبي ښځي په رحم کي لوېږي ایا په داسي صورت کي نسب ثابت ګرځي او که نه؟ هغه اجنبیه ودې ماشوم ته څه حیثیت لري؟

الجواب: شرعاً دا کار حرام او ناروا دئ، البته د تکميل په صورت کي دا ماشوم د هغې ښځي اولاد دئ چي دا ماشوم يې په رحم کي پالل سوی دئ.

په عصر حاضر په فقهي مسائل کي راځي:

په دې صورت کي ماشوم د هغې ښځي اولاد دئ چي دا ماشوم يې په رحم کي پالل سوی دئ که څه هم ماده مختلطه د بل چا وي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ إن أمهاتـهم إلا اللائي ولدنـهم وإنـهم ﴾. (سورة المجادلة، الآية:٢).

که د بل سړي ماده کومه ښځه په خپل رحم کي واچوي په داسي صورت کي هم اولاد د حقيقي خاوند بلل کيږي نه د هغه بل سړي او د کوم کس ماده چي استعمال سوي ده هغه به د زاني په حکم کي وي.

رسول الله ﷺ فرمايي:

« الولد للفراش وللعاهر الحجر». (رواه البخاري:٢/ ٩٩٩، باب الولد للفراش وللعاهر الحجر).

يعني ماشوم د حقيقي خاوند دئ او زاني د سنګسار مستحق دئ.

همدارنګه که د ناواده سوي ښځي په رحم کي د کوم سړي ماده واچول سي په داسي صورت کي هم د ماشوم نسبت هغه سړي ته نه کيږي که څه هم معروف وي بلکي د ماشوم د نسب نسبت مور ته کيږي د چا په رحم کي چي دا ماشوم پالل سوی دئ.

د ډاکټر مصطفی احمد الزرقاء رايه:

ډاکټر مصطفی احمد الزرقاء وايي: د ښځي او خاوند ماده چي سره ګډه کړل سي او بيا د اجنبي ښځي په رحم کي واچول سي نو په داسي صورت کي دا اجنبي ښځه د رضاعي مور حيثيت لري ميراث او نسب د زوجينو طرف ته راجع کيږي، مګر د احمد الزرقاء دا رايه ډاکټر شيخ علي الطنطاوي رده کړې او زموږ په نزد همدا د شيخ علي الطنطاوي رايه صحيح ده چي ماشوم د هغې مور دئ چا چي دا ماشوم په رحم کي پاللی دئ. (عصر حاضر کی فقهی مسائل:٦٦-٦٧).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهي مسائل از مولانا خالد سيف الله: ٥/ ١٥٢). والله ﷻ اعلم.



عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أن امرأة، قالت: يا رسول الله ﷺ! إن ابني هذا كان بطني له وعاء وثديي له سقاء وحجري له حواء وأن أباه طلقني وأراد أن ينزعه مني، فقال لها رسول الله ﷺ «أنت أحق به مالم تنكحي». (رواه ابو داؤد).

څوارلس .... باب

د حضانت (اولاد پالني) بيان

د حضانت لمړۍ حقداره مور ده

سوال: كه كومه ښځه طلاقه سي او يا په بل سبب تفريق واقع سي داولاد پالني يا د حضانت حق د چا دئ؟ نفقه او مصرف د چا پر ذمه دئ او د حضانت ترتيب څنګه دئ؟

الجواب: د حضانت حق د مور دئ، نفقه د پلار پر ذمه ده، البته هلك په اووه (٧) كلنۍ او انجلۍ تر نهه (٩) كلني پوري له هغه وروسته د پلار حق دئ همدارنګه كه ښځه بل اجنبي ځای نكاح وكړي يا په خپله خوښه تر دا حق تېره سي نو بيا په حضانت مجبوره نه ده، همدرانګه كه ښځه مرتده سي (العياذ بالله) يا بد فعله او بد خويه وي لكه زنا او نور نو په داسي صورت كي هم حق د حضانت نه لري. والله ﷻ اعلم.

❁ **تر مور وروسته د حضانت ترتيب:**

كه مور د پالني اهل نه وي مثلاً زانيه وي يا انكار كوي يا اجنبي ځاي نكاح وكړي نو تر هغه وروسته د مور لنځوا انا، كه هغه نه وي د مور مور حقداره ده كه هغه نه وي د پلار مور حقداره ده، بيا حقيقي خور بيا د مور شريكه خور يا د پلار شريكه خور بيا خاله بيا عمه.

۞ د حضانت شرائط:

چا ته چي اولاد ورکول کيږي د پالني له پاره بايد مذکور شرائط ولري يعني بد عمله نه وي مثلاً که ديوه ماشوم دوه عمه ګاني وي يوه بد عمله وي نو په داسي صورت کي نيکه عمه حقداره ده.

۞ د حضانت موده:

د هلک د حضانت مده اوه (٧) کاله ده او د انجلۍ نهه (٩) کاله ده او د ځينو په نزد د حيض تر راتلو پوري ده، البته خرڅ په هر حال پر پلار دئ.

۞ د پالني تر څنګ تعليم هم

د بدني پالني او روزني تر څنګ د ماشوم اخلاقي او نور تعليم هم ضروري دي او واجب دي، د دواړو تربيتو حکم او تاکيد په شريعت کي راغلی دئ په خاص ډول د ماشوم د ديني او اخلاقي اصلاح ډېر تاکيد په دين کي موجود دئ.

وګورئ دلائل دا دي:

وإذا وقعت الفرقة ين الزوجين فالأم أحق بالولد لما روى أن امرأة قالت: يا رسول الله إن ابني هذا كان بطني له وعاء وحجري له حواء وثديي له سقاء وزعم أبوه أنه ينزعه مني فقال عليه الصلاة والسلام: « أنت أحق به مالم تتزوجي، ولأن الأم أشفق وأقدر على الحضانة فكان الدفع إليها أنظر وإليه أشار الصديق ﷺ ريقها خير له من شهد وعسل عندك يا عمر، قاله حين وقعت الفرقة بينه وبين امرأته والصحابة حاضرون متوافرون، والنفقة على الأب على ما نذكر ولا تجبر الأم عليه لأنها عست تعجز عن الحضانة فإن لم تكن له أم فأم الأم أولى من أم الأب وإن بعدت لأن هذه الولاية تستفاد من قبل الأمهات، فإن لم تكن أم الأم فأم الأب أولى من الأخوات لأنها من الأمهات فإن لم تكن له جدة فالأخوات أولى من العمات والخالات . (الهداية: ٢/ ٤٣٤، باب حضانة الولد ومن احق به).

په فتاوى شامي كي راځي:

الحضانة تربية الولد ثبت للأم النسبية بعد الفرقة إلا أن تكون مرتدةً فحتى تسلم لأنها تحبس أو فاجرةً فجورًا يضيع الولد به كزنًا وغناء وسرقة ونياحة كما في البحر والنهر بحثًا . قال المصنف : والذي يظهر العمل بإطلاقهم كما هو مذهب الشافعي أن الفاسقة بترك الصلاة لا حضانة لها .... أو غير مأمونة ذكره في المجتبى بأن تخرج كل وقت وتترك الولد ضائعًا . وفى الشامي: قال الرملي : ويشترط في الحاضنة أن تكون حرةً بالغةً عاقلةً أمينةً قادرةً ، وأن تخلو من زوج أجنبي ، وكذا في الحاضن الذكر سوى الشرط الأخير .... والمراد بكونها أمينةً أن لا يضيع الولد عندها باشتغالها عنه بالخروج من منزلها كل وقت .... قوله النسبية احترز به عن الأم الرضاعية فلا تثبت لها. (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٥٥٥، باب الحضانة، سعيد).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (البحر الرائق:٤/ ١٦٧، باب الحضانة، كوئټه – والفتاوى الهندية:١/ ٥٤١، باب فى الحضانة – وفتاوى رحيميه:٨/ ٤٥٢ – واسلامى فقه:٢/ ١٤٦). والله ﷻ اعلم.

هلک به تر اوو (٧) کالو وروسته له پلار سره وي

سوال: كه يو هلک تر اوو (٧) كالو پوري له مور سره وي ايا په همدې وخت كي پلار ورسره ملاقات كولاى سي؟ همدارنګه تر اووه (٧) كاله وروسته يې پلار له ځان سره بېولاى سي؟

الجواب: تر اووه (٧) كاله پوري د حضانت حق د مور دئ په همدې دوران كي پلار او نور تړول قريبان له هلک سره ملاقات كولاى سي ترتيب يې تاسو خپل منځ كي جوړ كړئ تر څو اختلاف جوړ نه سي تر اووه (٧) كاله وروسته بيا د پلار حق دئ، البته كه د پلار چلند ښه نه وي مثلاً له بلې ښځي هم اولاد لري يا كوم بل مشكل وي نو په داسي صورت كي بيا د پلار حق هم نه سته، البته كه

یې چلند بنه وي نو هلک تر اووه (٧) کاله وروسته او انجلۍ تر نهه (٩) کاله وروسته یاد ځینو علماوو په قول تر بلوغ وروسته د پلار حق دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

والحاضنة أحق به أي بالغلام حتى يستغني عن النساء وقدر بسبع وبه يفتى لأنه الغالب . ولو اختلفا في سنه ، فإن أكل وشرب ولبس واستنجى وحده دفع إليه ولو جبرًا وإلا لا . وفي الشامية: قوله (حتى يستغني عن النساء) بأن يأكل ويشرب ويستنجي وحده والمراد بالاستنجاء تمام الطهارة بأن يتطهر بالماء بلا معين . (قوله وقدر بسبع) هو قريب من الأول بل عينه، لأنه حينئذ يستنجي وحده، ألا ترى إلى ما يروي عنه ﷺ أنه قال « مروا صبيانكم بالصلاة إذا بلغوا سبعا ».(قوله ولو جبراً) أي إن لم يأخذه بعد الاستغناء أجبر عليه كما في الملتقى . وفي الفتح: ويجبر الأب على أخذ الولد بعد استغنائه عن الأم، لأن نفقته وصيانته عليه بالإجماع . وفي شرح المجمع : وإذا استغنى الغلام عن الخدمة أجبر الأب أو الوصي أو الولي على أخذه، لأنه أقدر على تأديبه وتعليمه . (الدر المختار مع الشامي:٣/ ٥٦٦، سعيد).

په عالمګیري کي راځي:

وبعد ما استغنى الغلام وبلغت الجارية فالعصبة أولى، يقدم الأقرب فالأقرب. كذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٢ – وكذا في فتاوى الشامي:٣/ ٥٦٦، باب الحضانة، سعيد).

په تبيين الحقائق کي راځي:

إنما كان للأب أن يأخذه إذا بلغ هذا الحد لأنه يحتاج إلى التأدب والتخلق بأخلاق الرجال وآدابهم، والأب أقدر على التأديب والتثقيف . (تبيين الحقائق:٣/ ٤٨، امدادية).

په فتاوی شامي کي راځي:

ينبغي للمفتي أن يكون ذا بصيرة ليراعي الأصلح للولد، فإنه قد يكون له قريب مبغض له يتمنى موته ويكون زوج أمه مشفقاً عليه يعز عليه فراقه، فيريد قريبه أخذه منها ليؤذيه ويؤذيها أو ليأكل من نفقته أو نحو ذلك، وقد يكون له زوجة تؤذيه أضعاف ما يؤذيه زوج أمه الأجنبي، وقد يكون له أولاد يخشى على البنت منهم الفتنة لسكناها معهم، فإذا علم المفتي أو القاضي شيئاً من ذلك لا يحل له نزعه من أمه، لأن مدار أمر الحضانة على نفع الولد. (فتاوى الشامي:٣/ ٥٦٥، باب الحضانة، سعيد – وكذا فى مجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر:١/ ٤٨٠ – والبحر الرائق:٤/ ١٦٧).

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

وفى الحاوي: الولد متى كان عند أحد الأبوين لا يمنع الآخر عن النظر إليه وعن تعاهده.(الفتاوى التاتار خانية:٤/ ٩٠، حكم الولد عند افتراق الزوجين – ومثله فى الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٣، باب الحضانة).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د حضانت په دوران کي پلار له زوی یا لور سره د ملاقات حق لري او منع کول یې ظلم دئ. (فتاوی رحیمیه:٨/ ٤٥٨). والله ﷻ اعلم.

که پلار هره ورځ ملاقات کوي

سوال: د زوجینو تر تفریق وروسته د شریعت د حکم په اساس هلک له مور سره دئ په همدې جریان کي پلار د ملاقات حق لري او که نه؟ مور یې منع کولای سي او که نه او د هري ورځي ملاقات حکم څنګه دئ؟

الجواب: پلار د ملاقات حق لري او منع کول يې ظلم دئ، البته د ملاقات وخت او موده تاسو سره تعين کړی او په هر ورځ ملاقات کي هم شرعاً څه مشکل نه سته.

په فتاوی هنديه کي راځي:

الولد متى كان عند أحد الأبوين لا يمنع الآخر عن النظر إليه وعن تعاهده كذا في التاتار خانية ناقلاً عن الحاوي. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٣ – والفتاوى التاتار خانية:٤/ ٩٠، حكم الولد عند افتراق الزوجين).

فقيه ابو الليث رحمه الله وايي: که پلار ته ممکن وي هره ورځ ملاقات کولای سي.

وګورئ په خزانة الفقه کي راځي:

والمطلقة البائنة خرجت بولدها إلى موضع يقدر الزوج أن يزور ولده في يومه لها ذلك، وإن خرجت إلى موضع لم يقدر الزوج أن يزوره في يومه لم يجز. (خزانة الفقه، باب المقادير ف ما زاد على يوم واحد، ص ٣٢٤، المكتبة الغفورية العاصمية – والبحر الرائق مع الحاشية:٤/ ١٧٣).

په جامع احکام الصغار کي راځي:

إذا كان الغلام والجارية عند الأم فليس لها أن تمنع الأب من تعاهدهما، وإن صارا إلى الأب فليس له أن يمنع الأم من تعاهدهما والنظر إليهما. (جامع أحكام الصغار:١/ ١٠١٩.

په آپ کی مسائل اور کا حل کي راځي:

پلار د اولاد ملاقات کولای سي او منع کول يې ظلم دئ، البته که يې د بيولو بېره وي د هغه تدارک دي وکړي. (آپ کی مسائل اور کا حل :٥/ ٤٢٣).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

د پالني په زمانه کي که پلار د خپل اولاد سره ملاقات کوي وغواړي نو بايد دا موقع ورکړل سي ځکه د ده اولاد دئ او دغه موقع نه ورکول ظلم دئ. (فتاوی رحيمه:٨/ ٤٥٨). والله تعالیٰ اعلم.

تر اووه (۷) کاله وروسته اختیار ورکول

سوال: د زوجینو د تفریق په صورت کي چي کله ماشوم د اوو (۷) کالو سي حتماً به له پلار سره ځي او که اختیار لري چي چیري اوسیږي؟

الجواب: د پلار حق دئ او ماشوم اختیار نه لري. ځکه د تعلیم او تربیت حقدار پلار دئ البته که قاضي او مفتي مصلحت وویني چي د مور سره دي واوسیږي نو بیا د مصلحت مطابق فیصله کولای سي.

فتاوی شامي کي راځي:

(ولا خيار للولد عندنا مطلقاً، ذكراً كان أو أنثى) أي إذا بلغ السن الذي ينزع من الأم يأخذه الأب، ولا خيار للصغير، لأنه لقصور عقله يختار من عنده اللعب، وقد صح أن الصحابة رضي الله تعالى عنهم لم يخيروا. وأما حديث أنه ﷺ خير فلكونه قال: « اللّٰهم اهده، فوفق لاختيار الأنظر بدعائه عليه الصلاة والسلام . (الدر المختار مع فتاوى الشامي:۳/ ۵٦۷، باب الحضانة، سعيد).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (البحر الرائق:٤/ ١٧١، كوئته – وفتح القدير:٤/ ٣٧٣، باب الولد من أحق به، دار الفكر – وشرح العناية على الهداية على هامش فتح القدير:٤/ ٣٧٣). والله ﷻ اعلم.

انا تر عمه مقدمه ده

سوال: د ټکر په حادثه کي مور او پلار شهیدان سول او شپږه (٦) کلن هلک او دوې لوني ورڅخه پاته سوې یوه ډېره کوچنۍ ده او بله نهه (۹) کلنه ده، د ماشومانو د پلار لخوا انا او عمه دواړه سته د پلار لخوا انا یې له پالني څخه انکار کوي مګر عمه او د مور موریې غوښتونکي دي او د مور لخوا انا یې نیکه ښځه ده شرعاً څوک حقدار دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د مور لخوا انا حقداره ده او دا ماشومان باید د پالني له پاره هغې ته وسپارل سي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

وإن لـم يكن له أم تستحق الحضانة بأن كانت غير أهل للحضانة أو متزوجةً بغير مـحرم أو ماتت فأم الأم أولى من كل واحدة ، وإن علت . (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤١، باب الحضانة).

په فتاوى تاتار خانيه كي راځي:

فإن ماتت الأم فأم الأم أولى بحضانة الولد وتعهده .... وفي الخلاصة والخانية: وإذا بطل حق الأم كانت الحضانة للجدة من قبل الأم وإن علت. (الفتاوى التاتار خانية:٤/ ٩١، حكم الولد عند افتراق الزوجين – والدر المختار:٣/ ٥٦٣، سعيد – والهداية:٢/ ٤٣٦). والله ﷻ اعلم.

د مور د مور په موجوديت کي نيکه او انا

سوال: زما لور کونډه ده، د خاوند تر وفات وروسته دلته اوسيږي اوس که دا دوهمه نکاح وکړي نو په داسي صورت کي نيکه او انا يې دا حق لري چي دا ماشومان په زور له ځان سره بوځي حال دا چي د مور لخوا نيکه او انا يې پالني ته تيار دي. همدارنګه که دا زما لور نکاح ونه کړي تر څه وخته به دا اولادونه ورسره وي؟

الجواب: په دې صورت کي که دا دوهمه نکاح داسي ځای وکړي چي هغه د دې ماشومانو محرم نه وي نو بيا د پالني حق د مور لخوا د انا دئ لهذا د مور د مور په موجوديت کي د پلار مور او نيکه حق نه لري.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

قوله « أحق بالولد أمه قبل الفرقة وبعدها» أي في التربية والإمساك لما قدمناه.... ولا (حضانة) للمتزوجة بغير محرم .... قوله « ثم أم الأم » يعني بعد الأم الأحق أمها، وهو شامل لما إذا كانت الأم ميتةً أو ليست أهلًا للحضانة، ففي كل منهما ينتقل الحق إلى أم الأم، لأن هذه الولاية مستفادة من قبل الأمهات، فكانت التي هي من قبلها أولى وإن علت، فالجدة من

قبل الأم أولى من أم الأب ومن الخالة، وصححه الولوالجي . (البحر الرائق:٤/ ١٦٧، باب الحضانة، کوئټه).

په فتاوی هندیه کې راځي:

وإن لم يكن له أم تستحق الحضانة بأن كانت غير أهل للحضانة أو متزوجةً بغير محرم أو ماتت فأم الأم أولى من كل واحدة ، وإن علت . (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤١، باب الحضانة).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

که مور غیر محرم ځای نکاح وکړي، نو بیا د ماشومانو د پالنې حق د مور لخوا دانا دئ په همدې ډول نور قریبان، البته په داسې صورت کې مور حق نه لري چې دا ماشومان په زور له ځان سره بوځي.

(فتاوی رحیمیه:٨/ ٤٥٨ – هکذا فی امداد الاحکام:٢/ ٨٧٤- هکذا فی فتاوی حقانیه:٤/ ٤٢٦). والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

د حضانت تر مودې وروسته

سوال: که یوه ښځه طلاق سوې وي او د ماشومانو د حضانت موده پوره وي (٩ کاله) په داسې صورت کې که قاضي دا بهتره وبولي چې ماشومان له مور سره وي نو دا فتوی ورکولای سي؟

الجواب: په دې صورت کې که قاضي یا مفتي د پلار او یا بل علت په سبب د ماشومانو داخلاقو او تربیې خرابي وویني او دا مصلحت وویني چې د ماشومانو خیر د مور په پالنه کې دئ نو بیا فتوی ورکولای سي ځکه د حضانت د حق مدار د ماشوم په نفع کې دئ که څه هم له دغه عمر وروسته د پلار حق ثابت سوی دئ.

په فتاوی شامي کې راځي:

قلت: الأصوب التفصيل، وهو أن الحاضنة إذا كانت تأكل وحدها وابنها معها فلها حق، لأن الأجنبي لا سبيل له عليها ولا على ولدها، بخلاف ما إذا كانت في عيال ذلك الأجنبي أو كانت زوجة له، وأنت علمت أن سقوط الحضانة بذلك لدفع الضرر عن الصغير، فينبغي

للمفتي أن يكون ذا بصيرة ليراعي الأصلح للولد، فإنه قد يكون له قريب مبغض له يتمنى موته، ويكون زوج أمه مشفقاً عليه يعز عليه فراقه، فيريد قريبه أخذه منها ليؤذيه ويؤذيها أو ليأكل من نفقته أو نحو ذلك، وقد يكون له زوجة تؤذيه أضعاف ما يؤذيه زوج أمه الأجنبي، وقد يكون له أولاد يخشى على البنت منهم الفتنة لسكناها معهم، فإذا علم المفتي أو القاضي شيئا من ذلك لا يحل له نزعه من أمه، لأن مدار أمر الحضانة على نفع الولد .... وقدمنا في العدة عن الفتح عند قوله « إن المختلعة لا تخرج من بيتها في الأصح، أن الحق أن على المفتي أن ينظر في خصوص الوقائع . (فتاوى الشامى:٣/ ٥٦٥، باب الحضانة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

كه ماشوم د مور په پالنه كي وي

سوال: د يوې انجلۍ مور ته خاوند طلاق وركړ او انجلۍ نابالغه ده، د مور په پالنه كې ده ايا اوس دا ښځه كوم مناسب ځاى نكاح كولاى سي او كه نه؟ ظاهراً د دې انجلۍ پلار په خوښ نه دئ؟

الجواب: د نابالغي انجلۍ د حضانت حق اول د مور دئ تر نهه (٩) كاله وروسته بيا د پلار حق دئ د نكاح ولايت هم د پلار دئ، البته كه پلار د اعتماد قابل نه وي او د انجلۍ پالنه نه سي كولاى او د انجلۍ د اخلاقو د خرابوالي بېره وي نو په داسي صورت كي تر بلوغ پوري مور بايد د انجلۍ پالنه وكړي او وروسته يې يو مناسب ځاى د نكاح عقد وكړي.

وګورئ په البحر الرائق كي راځي:

قوله (والأم والجدة أحق بالغلام حتى يستغنى، وقدر بسبع) لأنه إذا استغنى يحتاج إلى تأديب والتخلق بأداب الرجال وأخلاقهم، والأب أقدر على التأديب والتثيف .... قوله (وبها حتى تحيض) أي الأم والجدة أحق بالصغيرة حتى تحيض، لأن بعد الاستغناء تحتاج إلى معرفة آداب النساء والمرأة على ذلك أقدر، وبعد البلوغ تحتاج إلى التحصين والحفظ، والأب

فيه أقوى وأهدى .... وأشار المصنف إلى أنها لو زوجت قبل أن تبلغ لا تسقط حضانتها . وقال في القنية : الصغيرة إذا لم تكن مشتهاةً ولها زوج لا يسقط حق الأم في حضانتها ما دامت لا تصلح للرجال . (البحر الرائق:٤/ ١٧٠، باب الحضانة، كوئته).

په فتاوی هنديه کي راځي:

لاحق لغير المحرم في حضانة الجارية، ولا للعصبة الفاسق على الصغيرة . كذا فى الكفاية. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٢).

په هدايه کي راځي:

والترتيب فى العصبات في ولاية النكاح كالترتيب فى الإرثف والأبعد محجوب بالأقرب. (الهداية:٢/ ٣١٦).

په عالمګيري کي راځي:

وأجمعوا أن الأقرب إذا عضل تنتقل الولاية إلى الأبعد ، كذا في الخلاصة .غاب الولي أو عضل أو كان الأب أو الجد فاسقًا فللقاضي أن يزوجها من كفء . كذا في الوجيز للكردري . (الفتاوى الهندية:١/ ٢٨٥).

په فتاوی شامي کي راځي:

ينبغي للمفتي أن يكون ذا بصيرة ليراعي الأصلح للولد، فإنه قد يكون له قريب مبغض له يتمنى موته .... فإذا علم المفتي أو القاضي شيئاً من ذلك لا يحل له نزعه من أمه، لأن مدار أمر الحضانة على نفع الولد.... وقدمنا فى العدة عن الفتح عند قوله « إن المختلعة لاتخرج من بيتها فى الأصح، أن الحق أن على المفتي أن ينظر في خصوص الوقائع. (فتاوى الشامي:٣/ ٥٦٥، باب الحضانة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

ټیلفون کول او رخصتي اخیستل

سوال: ماشوم د مور تر پالني لاندي دئ څکه تر اوو (٧) کالو د مور حق دئ ایا په داسي وخت کي ماشوم له پلار سره په ټیلفون خبري کولای سي او که نه؟

الجواب: هو، له پلار سره په ټیلفون خبري کولای سي، ملاقات يې هم کولای سي، کور ته په رخصتي ورسره تللای سي که یې کور په داخل د ښار کي وي البته له ښار څخه دباندي اجازه نه سته.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

لايجبر أن يرسله، وكذا يقال في جانبها وقت حضانتها.

وفيه: كما يمنع الأب من إخراجه من بلد أمه بلا رضاها ما بقيت حضانتها. (فتاوى الشامي:٣/ ٥٧١، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

الولد متى كان عند أحد الدبوين لا يمنع الآخر عن النظر إليه. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٣).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جامع أحكام الصغار:١/ ١٠١ – والفتاوى التاتار خانية:٤/ ٩٠، حكم الولدد عند افتراق الزوجين – والبحر الرائق مع الحاشية:٤/ ١٧٣ – وفتاوى رحيميه مرتب:٨/ ٤٥٨، باب الحضانت – وخزانة الفقهف باب المقادير - ما زاد على يوم واحد، ص ٣٢٤، المكتبة الغفورية العاصمية). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالی: ﴿ وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن بالمعروف ﴾. (سورة البقرة، الآية:٢٣٣).

وقال تعالی: ﴿ لينفق ذو سعة من سعته ومن قدر عليه رزقه فلينفق مما آتاه الله لا يكلف الله نفسًا إلا ما آتاها سيجعل الله بعد عسر يسرًا ﴾. (سورة الطلاق، الآية:٦).

وقال رسول الله ﷺ في حجة الوداع: « .... ولهن عليكم نفقتهن وكسوتهن بالمعروف».

(مسند أبي عوانة و مسند أبي حنيفة).

پنځلس .... باب

د نفقې او ځای بیان

د پلار پر کور نفقه

سوال: یوه ښځه مطلقه ده مګر د خاوند په کور کي عدت تېرولو ته تیاره نه ده ایا دا د نفقې حقداره ده او که نه؟ همدارنګه د نفقې څه وضاحت هم وکړئ؟

الجواب: ښځه باید عدت د خاوند په کور کي تېر کړي او بېله عذره بل ځای تلل جواز نه لري، ناشزه بلل کیږي او د نفقې حق نه لري، البته که یې خاوند د احسان په ډول ورکړي څه مشکل نه سته.

وفی الدر المختار: لانفقة لأحد عشر.... وخارجة من بيته بغير حق وهي الناشزة حتى تعود، ولو بعد سفره. وفی الشامية: (قوله بغير حق) احتراز عما لو خرجت حتى يدفع لها المهر. ولها الخروج في مواضع مرت فی المهر . (قوله وهي الناشزة) أي بالمعنى الشرعي، أما فی اللغة فهي العاصية على الزوج المبغضة له. (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٥٧٦، باب النفقة، ط: سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو وجبت العدة على المرأة ، ثم حبست بحق عليها تسقط النفقة ، والمعتدة إذا كانت لا تلزم بيت العدة، بل تسكن زمانًا وتبرز زمانًا لا تستحق النفقة، كذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٥٨، فصل فى نفقة المعتدة).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

والناشزة التي لاتستحق النفقة هي الخارجة عن منزله بلا إذن بلا حق. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية: ٤/ ١٥٩، التاسع عشر فى النفقات – وكذا فى البحر الرائق: ٤/ ١٩٩، كوئته).

په احسن الفتاوی کي راځي:

پر زينب واجب وه چي د خاوند په کور کي عدت تېر کړي خو څنګه چي دا اوس بل ځای تللې کوم عذر هم نه سته، نو نفقه يې پر خاوند واجب نه ده. (احسن الفتاوی: ٥/ ٤٦٤).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

که ښځه بېله عذره بل ځای عدت تيروي ناشزه بلل کيږي او د نفقې او سکنې حقداره نه ده.

په فتاوی اسعديه کي دي.

اعلم أن المرأة إذا طلقت فإنها تعتد فى البيت الذي كانت فيه ساكنة من قبل، ويجب عليه النفقة والسكنى، وإن خرجت باختيار ها فهي ناشزة لاتجب لها نفقة. (١/ ١١٥).

شاه عبد العزيز محدث دهلوی ليکي:

آری نان ونفقه مقابل احتباس درخانه است، اگر از خانه بر آيد بلا اذن زوج نفقه وکسوه واجب نه ماند، قاعده فقه است کي نفقه جزا ئی احتباس است. (فتاوی رحيميه: ٨/ ٤٣٢ – هكذا مجموعة الفتاوى عزيزى: ١/ ١٣). والله ﷻ اعلم.

د نفقې متعلق ضروري وضاحت:

دژوندانه د بقاء له پاره چې شريعت کومه خرڅه مقرره کړې هغه نفقه ده او د انسان له پاره د خوراک او چښاک شيان جامه او ځاى نفقه ده.

په فتح القدير کې راځي:

فى الشرع: الادرار على الشيء بما هو بقاءه. (فتح القدير:٤/ ٣٧٨، باب النفقة، ط: دار الفكر – وكذا فى العناية شرح الهداية على هامش فتح القدير:٤/ ٣٧٨، ط: دار الفكر).

وفي البحر الرائق: النفقة: هي فى اللغة ما ينفق الإنسان على عياله ونحو ذلک .... وأما فى الشريعة: فذكر فى الخلاصة: قال هشام: سألت محمداً عن النفقة، قال: النفقة: هي الطعام والكسوة والسكنى. (البحر الرائق:٤/ ١٧٣، باب النفقة، كوئته – وكذا فى الفقه الإسلامى وأدلته:٧/ ٧٦٥، ط: دار الفكر).

د نفقې د وجوب اسباب:

د نفقې د وجوب اسباب درې دي:

١_ زوجيت.

٢_ قرابت.

٣_ ملک.

يعني د ښځې نفقه پر خاوند د نکاح په سبب واجب ده همدرانګه د ذى رحم قريب نفقه د هغه پر وارثانو همدارنګه د والدينو نفقه پر اولاد او د اولاد پر والدينو واجب ده.

همدارنګه هر شى چې د چا په ملک کې وي لکه غلام، آس، اوښ او يا بل شى د ضرورت مطابق د هغه مصرف په مالک اړه لري.

د ښځې نفقه د نکاح په سبب واجبيږي که مسلمانه وي او که کتابيه وي، غريب وي او که بډايه وي، جوړه وي او که ناجوړه وي، البته نکاح به صحيح وي، په فاسده نکاح کې نفقه واجب نه ده.

كومه ښځه چې په عدت کې وي د هغې نفقه هم واجب ده او تر عدې وروسته بيا اجنبي ده او نفقه نه لري.

وګورئ په فتح القدير کې راځي:

ثم نفقة الغير تجب على الغير بأسباب : الزوجية، والقرابة، والملك. (فتح القدير:٤/ ٣٧٨، ط: دار الفكر – وكذا في البحر الرائق:٤/ ١٧٣، ط: كوئته).

وفي الدر المختار: ونفقة الغير تجب على الغير بأسباب ثلاثة: زوجية، وقرابة، وملك. وفي الشامية: (قوله وملك) شامل لنفقة المملوک من بني آدم والحيوانات والعقار كما في الدر المنتقى، لكن في الأخير لايجبر قضاءً وفي الثاني خلاف. (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٥٧٢، باب النفقة، ط: سعيد).

په عالمګيري کې راځي:

تجب على الرجل نفقة امرأته المسلمة والذمية والفقيرة والغنية، دخل بها أو لم يدخل، كبيرةً كانت المرأة أو صغيرةً يجامع مثلها كذا في فتاوى قاضي خان . سواء كانت حرةً أو مكاتبةً، كذا في الجوهرة النيرة .... كل من وطئت بشبهة فلا نفقة لها، كذا في الخلاصة. قال: ولا نفقة في النكاح الفاسد ولا في العدة منه. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٤-٥٤٧).

په هدايه کې راځي:

وإذا طلق الرجل امرأته فلها النفقة والسكنى في عدتها رجعياً كان أو بائنا .... لأن النفقة جزاءاحتباس على ما ذكرنا، والاحتباس قائم في حق حكم مقصود بالنكاح وهو الولد، إذ العدة واجبة لصيانة الولد فتجب النفقة، ولهذا كان لها السكنى بالإجماع، وصار كما إذا كانت حاملا . وحديث فاطمة بنت قيس رده عمر رضي الله عنه فإنه قال : « لا ندع كتاب ربنا وسنة نبينا

يقول امرأة لا ندري صدقت أم كذبت، حفظت أم نسيت، سمعت رسول الله عليه الصلاة والسلام يقول. للمطلقة الثلاث النفقة والسكنى ما دامت في العدة، ورده أيضاً زيد بن ثابت وأسامة بن زيد وجابر وعائشة رضي الله تعالى عنهم أجمعين. (الهداية:٢/ ٤٤٣). والله ﷻ اعلم.

د شپږ کلن ماشوم نفقه

سوال: خاوند ښځې ته طلاق ورکړی دوی یو شپږ کلن هلک لري او له مور سره اوسیږي د دې هلک نفقه پر چا ده او په نفقه کې کوم، کوم شیان واجب دي؟

الجواب: په دې صورت کې د دې شپږ کلن هلک حضانت د مور پر ذمه دئ او نفقه یې پر پلار واجب ده. نفقه له خوراک، څښاک، جامو او علاج او د تعلیم له مصرف څخه عبارت ده.

په البحر الرائق کې راځي:

(قوله ولطفله الفقير) أي تجب النفقة والسكنى والكسوة لولده الصغير الفقير لقوله تعالى ﴿وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف﴾، فهي عبارة في إيجاب نفقة المنكوحات إشارةً إلى أن نفقة الأولاد على الأب، وأن النسب له، وأنه لا يعاقب بسببه ....وأن الأب ينفرد بتحمل نفقة الولد ولا يشاركه فيها أحد، وأن الولد إذا كان غنيا والأب محتاجًا لم يشارك الولد أحد في نفقة الوالد، وقيد بالطفل وهو الصبي حين يسقط من البطن إلى أن يحتلم. (البحر الرائق:٤/ ٢٠١، باب النفقة،ط: كوئته).

په درمختار کې راځي:

(وتجب) النفقة بأنواعها على الحر (لطفله) يعم الأنثى والجمع (الفقير) الحر. وفي الشامية: (قوله بأنواعها) من الطعام والكسوة والسكنى ولم أر من ذكر هنا أجرة الطبيب وثمن الأدوية، وإنما ذكروا عدم الوجوب للزوجة، نعم صرحوا بأن الأب إذا كان مريضاً أو

به زمانة يحتاج إلى الخدمة فعلى ابنه خادمه وكذلك الابن . (الدر المختار مع الشامي:٣/ ٦١٢، باب النفقة، سعيد).

وفى الطحطاوى على الدر : (قوله بأنواعها) الثلاثة، الملبوس، والمأكول، والسكنى، لكن في إيجاب السكنى نظر، فإن الطفل لايحتاج إليها، اللّهم إلا أن يقال: إن وجوبها إذا كان محضوناً وطلبت الحاضنة السكنى. (حاشية الطحطاوى على الدر:٢/ ٢٧٢، باب النفقة، ط: كوئته).

وفي الفقه الحنفي في ثوبه الجديد:

النفقة: وهي ما ينفقه الإنسان على عياله، وتشمل الطعام والكسوة والسكنى وغيرها من ضروريات الحياة. (الفقه الحنفي فى ثوبه الجديد:٢/ ٢٣٦، باب النفقة دمشق – وكذا فى الفقه الاسلامى وأدلته:٧/ ٧٩٤، ط: دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د مطلقې حاملې ناشزې نفقه

سوال: يوه ښځه د خاوند له كور څخه وتښتېدله، حامله هم ده او يوه مياشت وروسته خاوند طلاق وركړ اوس تر وضع جمل پورې د دې ښځې نفقه پر چا ده؟

الجواب: په دې صورت كې دا ښځه ناشزه ده او د نفقې حق نه لري، ځكه دا د خاوند له كور څخه تښتېدلې ده، البته تبرعاً كه يې خاوند وركړي نو ښه كار دئ خو د عدې د وخت د سكنې يعني د اوسېدو د ځاى مستحقه ده.

په درمختار كې راځي:

لا نفقة لأحد عشر.... وخارجة من بيته بغير حق، وهي الناشزة حتى تعود....

فتاوی شامي کي راځي:

قوله (بغير حق) ذكر محترزه بقوله بخلاف ما لو خرجت الخ، وكذا هو احتراز عما لو خرجت حتى يدفع لها المهر . ولها الخروج في مواضع مرت في المهر . (قوله وهي الناشزة) أي بالمعنى الشرعي، أما في اللغة فهي العاصية على الزوج المبغضة له . (فتاوى الشامي:٣/ ٥٧٦، باب النفقة، ط: سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وإن نشزت فلا نفقة لها حتى تعود إلى منزله، والناشزة هي الخارجة عن منزل زوجها، المانعة نفسها منه، بخلاف ما لو امتنعت عن التمكن في بيت الزوج، لأن الاحتباس قائم . (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٥، فصل في نفقة الزوجة).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله وتجب لمطلقة الرجعي والبائن) كان عليه إبدال المطلقة بالمعتدة، لأن النفقة تابعة للعدة .... وفي المجتبى : نفقة العدة كنفقة النكاح . وفي الذخيرة : وتسقط بالنشوز وتعود بالعود، وأطلق فشمل الحامل وغيرها، والبائن بثلاث أو أقل، كما في الخانية .... قال في البحر : فالحاصل أن الفرقة إما من قبله أو من قبلها، فلو من قبله فلها النفقة مطلقاً، سواء كانت بمعصية أو لا، طلاقا أو فسخاً، وإن كانت من قبلها فإن كانت بمعصية فلا نفقة لها، ولها السكنى في جميع الصور . (رد المحتار:٣/ ٦٠٩، باب النفقة، ط: سعيد).

په حاشية الطحطاوی علی الدر کي راځي:

الأصل أن الفرقة متى كانت من جهة الزوج فلها النفقة، وإن كانت من جهة المرأة إن كانت بحق لها النفقة، وأن كانت بمعصية لا نفقة لها. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:٢/ ٢٧١، ط: كوئته).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

د خاوند په کور کي عدت تېرول شرعاً څه مشکل نه لري، که ښځه د پلار کور ته ولاړه نو د نفقې حق نه لري، البته تبرعاً که خاوند نفقه ورکړي بهتر کار دئ. (فتاوی رحيميه:٨/ ٤٣٤- احسن الفتاوی:٥/ ٤٦٤). والله ﷻ اعلم.

د دوا او علاج د خاوند پر ذمه کېدو حکم

سوال: ايا د ښځي د دوا مصارف پر خاوند لازم دئ او که نه؟ او که حامله وي د روغتون مصارفو حکم يې څه دئ؟

الجواب: په پورتني صورت کي د دوا وغيره خرڅه همدا ډول د علاج او معالجي اخراجات ديانةً د خاوند پر ذمه لازم او واجب دي که څه هم قضاء واجب نه دي او په دغه کي عرف ته اعتبار سته او په عامه توګه په عرف کي خاوند په خوشحالي دغه مصارف پرداشتوي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولا يجب الدواء للمرض، ولا أجرة الطبيب، ولا الفصد، ولا الحجامة كذا في السراج.

(الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٩، فصل في نفقة الزوجة).

علامه ابن نجيم مصري رحمه الله د مجتبي په حواله ذکر کړي دي:

د نفقې مدار پر عرف او عادت دئ په عرف کي چي کوم شيان ورکول کيږي د هغو ورکول ضروري او لازم دي او علاج او معالجه په عرف کي خاوند ورکوي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

وفي المجتبى أن ذلك يختلف باختلاف الأماكن والعادات فيجب على القاضي اعتبار الكفاية بالمعروف في كل وقت ومكان. (البحر الرائق: ٤/ ١٧٧، باب النفقة،ط: كوئته).

ځينو فقهاوو ليکلي دي:

چي د دوا او علاج مصرف د خاوند پر ذمه واجب نه دئ بلکي پر ده يوازې دوډئ او نفقه واجب ده که د دوا مصرف ورکوي دا به يې احسان وي په دغه مسئله کي د راقم راى دا ده چي د تېلو، رمنځي او صابن له پاره پيسې ورکول فقهاوو ضروري ګڼلي دي نو د دوا ضرورت خو له دې څخه زيات دئ بيا فقهاوو دا هم ليکلي چي د بالغانو زامنو نفقه پر پلار واجب نه ده خو که يې يو بالغ زوى مريض سي د هغه نفقه پر پلار ضروري ده او همدا ډول يې د مضارب په هکله ليکلي دي چي ده ته د دوا پيسې هم ورکول کيږي ځکه بيله دغه مضارب کار نه سي کولاى نو د ښځي سره چي کومي ګټې اړه لري د هغو په نظر کي نيولو سره يې ولي علاج د نارينه پر ذمه لازم نه دئ که ښځه په خپله دا بار پر خاوند وانه چوي نو دا به ولي د ښځي احسان نه وي له دې څخه پرته د مرض د علاج له پاره د دوا اهميت په خپله د نبي کريم ﷺ له پاک ارشاد څخه معلوميږي د هغه په رڼا کي همدا د ښځي حق کيږي.

وګورئ په فتاوى هنديه کي راځي:

ويجب لها ما تنظف به وتزيل الوسخ كالمشط والدهن، وما تغسل به من السدر والخطمي، وما تزيل به الدرن كالأشنان والصابون على عادة أهل البلد. (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٤٩).

ولا يجب على الأب نفقة الذكور الكبار إلا أن الولد يكون عاجزًا عن الكسب لزمانة، أو مرض ومن يقدر على العمل لكن لا يحسن العمل فهو بمنزلة العاجز كذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٦٣، فصل فى نفقة الأولاد).

همدا ډول د کوچني د پيدايښت په وخت کي د دايي وغيره د فيس په هلکه فقهاوو ليکلي دي چي هغه څوک به يې ورکوي چي چارابللي وي يعني که ښځي راغوښتي وي ښځه به يې ورکوي او که خاوند راغوښتي وي خاوند به يې ورکوي د راقم خيال دا دئ چي په هر حال کي به يې نارينه ورکوي ځکه بچي د ده دئ پر ده باندي د شېدي ورکونکي اجرت او نفقه واجب ده نو د ولادت د وخت مصارف به هم پر ده واجب دي ځکه دا يو داسي نازک حالت دئ چي د لږ بې احتياطي څخه د کوچني د هلاکت بېره سته د ردالمحتار د ليکلي سوي جزيي اطلاق بايد پر دغو ټولو صورتونو باندي وسي .

((ويظهر لي ترجيح الأول، لأن نفع القابلة معظمه يعود إلى الولد فيكون على أبيه)) (رد المحتار: ٢/ ٨٩٣).

ځکه د ښځي د دوا د علاج ټوله کټه خاوند ته رسيږي بيا به دا څومره تکليف وي چي مور د دې د صحت د حالت څخه کټه پورته کړو او د دوا او علاج له پاره يې بې کومکه پرېږدو يا يې د مور او پلار پر ذمه ور واړوو فقهاوو چي په کومه زمانه کي دا راى ورکړي ده په هغه وخت کي دومره پېچلي امراض پيدا سوي نه وه او نه علاج او دوا د ژوندانه په ضروريا تو کي داخل وه ځکه د شرعي مسئلي تعلق د عرف او حالاتو سره دئ ښکاره خبره ده چي اوس حالات بدل سوي دي . (اسلامى فقه: ٢/ ١١٨-١١٨).

وګورئ په درمختار کي راځي:

وفى الدر المختار: وفيه أجرة القابلة على من استأجرها من زوجة وزوج. ولو جائت بلا استئجار قيل: عليه، وقيل: عليها . وفى الشامية: (قوله: قيل عليه) عبارة البحر عن الخلاصة: فلقائل أن يقول: عليه لأنه مؤنة الجماع .... ويظهر لي ترجيح الأول، لأن نفع القابلة معظمه يعود إلى الولد. فيكون على أبيه. تأمل . (الدر المختار مع رد المحتار: ٣/ ٥٧٩، باب النفقة، ط: سعيد).

قال الدكتور وهبة الزحيلي فى كتابه « الفقه الإسلامي وأدلته »: ويظهر لدي أن المداواة لم تكن في الماضي حاجة أساسية، فلا يحتاج الإنسان غالباً إلى العلاج؛ لأنه يلتزم قواعد الصحة والوقاية، فاجتهاد الفقهاء مبني على عرف قائم في عصرهم. أما الآن فقد أصبحت الحاجة إلى العلاج كالحاجة إلى الطعام والغذاء، بل أهم؛ لأن المريض يفضل غالباً ما يتداوى به على كل شيء، وهل يمكنه تناول الطعام وهو يشكو ويتوجع من الآلام والأوجاع التي تبرح به وتجهده وتهدده بالموت؟! لذا فإني نرى وجوب نفقة الدواء على الزوج كغيرها من النفقات الضرورية، وكما تجب على الوالد نفقة الدواء اللازم للولد بالإجماع، وهل من حسن العشرة أن يستمتع الزوج بزوجته حال الصحة، ثم يردها إلى أهلها لمعالجتها حال المرض ؟ (الفقة الإسلامى وأدلته:٧/ ٧٩٤، العلاج، ط: دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د جلا والي ښځه وروسته د شپږو يا اوو كالو د كوچني حكم

سوال: كه د زوجينو په منځ كي جلا والي وسواو كوچني يې تر اووه كاله كم وي نو ايا پر پلار د هغه نفقه واجب ده او كه نه؟

الجواب: په پورتنى صورت كي داوو كالو ښځه د كم كوچني نفقه په هر حال كي پر پلار لازمه ده.

وګورئ په درمختار كي راځي:

(وتجب) النفقة بأنواعها على الحر (لطفله) يعم الأنثى والجمع (الفقير) البحر . وفى الشامية: (قوله بأنواعها) من الطعام والكسوة والسكنى.... (قوله لطفله) هو الولد حين يسقط من بطن أمه إلى أن يحتلم . (قوله الفقير) أي إن لم يبلغ حد الكسب .... (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٦١٢، باب النفقة، ط: سعيد).

په فتاوى هنديه كي راځي:

نفقة الأولاد الصغار على الأب لا يشاركه فيها أحد، كذا في الجوهرة النيرة...... وبعد الفطام يفرض القاضي نفقة الصغار على قدر طاقة الأب وتدفع إلى الأم حتى تنفق على الأولاد، فإن لم تكن الأم ثقةً تدفع إلى غيرها لينفق على الولد . (الفتاوى الهندية:١/ ٥٦١). والله ﷻ اعلم.

كه د كوچني سره د ليدلو امكان نه وي د هغه د نفقې حكم

سوال: كه د مور خاندان پلار ته د كوچني سره د ليدلو اجازه نه وركوي او د اوو كلونو وروسته هم د كوچني د لاسته راوړلو اميد نه وي نو ايا بيا به يې هم نفقه پر پلار لازمه وي مثلا پلار غوښتنه كوي چي كوچني دي په هفته كي يو ځل زما په كور كي وي او هغوى اجازه نه وركوي نو حكم يې څه دئ؟

الجواب: په دې صورت كي كه كوچني د خوراک، څښاک او استنجاء قدرت نه لري تر اوو كالويې د حضانت حق له موره سره دئ او په دغه وخت كي يې نفقه د پلار پر ذمه ده تر اووه كاله وروسته كوچني په خپله د خوراک، څښاک او استنجاء قدرت لري نو د مور حق ختم كيږي اوس به كوچنى د پلار سره وي كه ښځه او د هغې خاندان يې بېله كومه شرعي لامله پلار ته نه سپاري نو د كوچني نفقه ساقطيږي يعني پلار به يې ذمه دار نه وي همدا ډول د حضانت په وخت كي بايد پلار ته د ملاقات اجازه وركول سي د ملاقات اجازه نه وركول ظلم دئ .

وګورئ په البحر الرائق كي راځي:

والأم والجدة أحق بالغلام حتى يستغني، وقدر بسبع، لأنه إذا استغنى يحتاج إلى تأديب والتخلق بآداب الرجال وأخلاقهم، والأب أقدر على التأديب والتعنيف . وما ذكره المصنف من التقدير بسبع قول الخصاف اعتبارًا للغالب ؛ لأن الظاهر أن الصغير إذا بلغ السبع يهتدي بنفسه إلى الأكل والشرب واللبس والاستنجاء وحده فلا حاجة إلى الحضانة ...... لأن الأب

مأمور بأن يأمره بالصلاة إذا بلغها وإنما يكون ذلك إذا كان الولد عنده . (البحر الرائق:٤/ ١٦٩، ط: كوئته).

په درمختار کي راځي:

(وتجب) النفقة بأنواعها على الحر (لطفله) يعم الأنثى والجمع (الفقير) البحر . وفي الشامية: (قوله بأنواعها) من الطعام والكسوة والسكنى.... (قوله لطفله) هو الولد حين يسقط من بطن أمه إلى أن يحتلم ..(قوله الفقير) أي إن لم يبلغ حد الكسب .... (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٦١٢، باب النفقة، ط: سعيد).

په فتاوی تاتار خانيه کي راځي:

وفي الحاوي: الولد إذا كان عند أحد الأبوين لا يمنع الآخر عن النظر وعن تعاهده .(الفتاوى التاتار خانيه٤/ ٩٠، حكم الولد عند افتراق الزوجين).

په خزانة الفقه کي راځي:

والمطلقة البائنة خرجت بولدها إلى موضع يقدر الزوج أن يزور ولده في يومه لها ذلك وإن خرجت إلى موضع لم يقدر الزوج أن يزوره في يومه لم يجز. (خزانة الفقه، باب المقادير، ما زاد على يوم واحد، ص ٣٢٤، المكتبة الغفورية العاصمية).

په جامع احکام الصغار کي راځي:

إذا كان الغلام والجارية عند الأم فليس لها أن تمنع الأب من تعاهدهما، وإن صارا إلى الأب فليس له أن يمنع الأم من تعاهدهما والنظر إليهما . (جامع أحكام الصغار:١/ ١٠١ - وكذا في البحر الرائق مع الحاشية:٤/ ١٧٣). والله تعالیٰ اعلم.

كه بالغه انجلۍ د مور سره پر اوسېدو ټينګار كوي نو د دې د نفقې حكم

سوال: كه يو څوک خپلې ښځې ته طلاق وركړي او د هغه بالغه انجلۍ وي هغه له مور سره اوسېدل غواړي خپله نفقه نه لري نو ايا نفقه به يې پر پلار وي ؟

الجواب: په دې صورت كي د بالغې انجلۍ نفقه پر پلار لازمه ده ځكه د انجونو نفقه د واده تر وخته مطلقاً پر پلار وي، البته كه خپل مال ولري نو له هغه دې مصرف كوي.

وګورئ په عالمګيري كي راځي:

ونفقة الإناث واجبة على الآباء ما لم يتزوجن إذا لم يكن لهن مال. كذا في الخلاصة.

(الفتاوى الهندية:١/ ٥٦٣).

په فتح القدير كي راځي:

والأولاد إما صغار أو كبار، فالأقسام أربعة: الأول أن يكون الأب غنيا والأولاد كبارًا، فإما إناث أو ذكور، فالإناث عليه نفقتهن إلى أن يتزوجن إذا لم يكن لهن مال، وليس له أن يؤاجرهن في عمل ولا خدمة وإن كان لهن قدرة، وإذا طلقت وانقضت عدتها عادت نفقتها على الأب. (فتح القدير:٤/ ٤١٠، فصل في نفقة الأولاد الصغار – وكذا في الفتاوى خانية:٤/ ٢٤٠، نفقة ذوي الأرحام).

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

ونفقة البنت البالغة في ظاهر الرواية تكون على الأب خاصة.(فتاوى قاضي خان:١/ ٤٤٧).

په احسن الفتاوى كي راځي:

د انجلۍ نفقه د واده تر وخته پر پلار ده، البته كه انجلۍ په خپله مال ولري يا كومه بله ذريعه د معاش ولري نو نفقه يې پر پلار نه ده د بالغ زوى نفقه پر پلار نه ده، البته كه د كومي مريضي له امله پر

کسب قادر نه وي یا طالب علم وي او خپل مال نه لري نو نفقه یې پر پلار ده. (احسن الفتاوی: ٥/ ٤٦٣). والله ﷻ اعلم.

زوی د واده ښځه وروسته د کور ورکولو حکم

سوال: د زوی د واده مصارف او د واده ښځه وروسته د کور انتظام د پلار پر ذمه لازم دئ او که نه؟

الجواب: د بالغ زوی نفقه وغیره پر پلار لازم نه دي، البته که هغه د کوم مرض وغیره له امله پر کسب قادر نه وو نو د هغه نفقه پر پلار لازمه ده او په نفقه کي خوراک، جامه وغیره لازم دي خو د واده ښځه وروسته جلا مکان پر پلار لازم نه دئ او همدا ډول د واده مصرفونه لکه مهر، د ښځي نفقه وغیره د پلار پر ذمه واجب نه دي، البته که پلار قدرت ولري نو د زوی له پاره د مکان انتظام کول د خیر کار او د ثواب باعث دئ.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولایجب علیه نفقة الذکور الکبار إلا أن یکون الولد عاجزاً عن الکسب لزمانة أو مرض، فتکون نفقته علی والده. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة:١/ ٤٤٥، فصل فی نفقة الأولاد).

په فتح القدیر کي راځي:

أما الکبار فعلی الظاهر وإن لم یکونوا عاجزین لا نفقة لهم. (فتح القدیر:٤/ ٤١٠، دار الفکر).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د بالغ زوی نفقه پر پلار نه ده، البته که د کومي مریضي له امله پر کسب قادر نه وي یا طالب علم وي او خپل مال نه لري نو نفقه یې پر پلار ده د اولاد د واده مصارف پر پلار نه دئ د انجلۍ پر واده خو مصارف نه سته ځکه هغه د خاوند پر ذمه دي، البته د زوی په واده کي مصارف سته چي په هغه کي

مهر او د ښځې نفقه واجب ده وليمه سنت ده له دې څخه هيڅ مصرف د پلار پر ذمه نه دئ. (احسن الفتاوى:٥/ ٤٦٤). والله ﷻ اعلم.

د ښځې د ټولو ضرورياتو د پوره كولو حكم

سوال: ايا د خاوند له پاره د ښځې ټول ضروريات پوره كول لازم دي او د نفقې اندازه څه ده؟

الجواب: كه يو سړي مالدار وي او ښځه هم د سرمايه داري كورنۍ څخه وي نو خاوند به د دې د حيثيت په اندازه نفقه جامه او كور وركوي او كه نارينه مالدار وي مگر ښځه د غريبې كورنۍ څخه وي نو نارينه به د خپل حيثيت مطابق نفقه وركوي، البته كه خاوند مسكين وي او ښځه د مالدارې كورنۍ څخه وې نو نارينه دي د خپل حيثيت سره د دې د حيثيت لحاظ هم وساتي او نفقه دي وركړي مگر د ښځې اخلاقي فريضه دا ده چې دا له نارينه څخه د هغه له حيثيت څخه زيات څه ونه غواړي، د ښايست او آرائش هغه شيان چې د ښځو د صحت او صفايې له پاره ضروري وي هغه هم په نفقه كې داخل دي د هغو وركول هم د نارينه له پاره ضروري دي لكه تېل، ږمنځ، صابون د غسل او اوداسه اوبه وغيره، البته هغه شيان چې يوازې د ښايست له پاره وي او كوم ضرورت ور څخه نه پوره كېږي، لكه سكريټ، كريم، پوډر وغيره د هغو وركول د نارينه له پاره ضروري نه دي د تفصيل له پاره وگورئ : (اسلامي فقه:٢/ ١١٥).

كور به څنگه وي؟

تفصيل يې فقهاوو داسې بيان كړى دئ

ښځه دې د امكان تر حده د كور له افرادو سره يو ځاى اوسېږي داسې نه چې خاوند د دې له امله په تكليف كې ولوېږي مگر له دې سره سره مناسب دا ده چې د ښځې له پاره د كور يو طرف يا يوه كوټه ځانگړې كړي چې دا خپل شيان په حفاظت سره پكښې وساتي او ښځه او خاوند هلته بې تكليفه گذاره وكړي كه ښځه د ټولو سره يو ځاى اوسېدل نه غواړي او د خپل ځاى له پاره د جلا كور غوښتنه كوي نو خاوند بايد خامخا يو كوټه يا لږ تر لږه په كور كې يو ځاى دې ته وركړي هغه ځاى ته چې دوى خوښه وي هغه څوك دې پرېږدي چې خوښه يې نه وي هغه دې نه پرېږدي له دې څخه پر ته نور شيان لكه غسل خانه، بيت الخلاء، اشپزخانه جلا وركول ضروري نه ده خو دا په هغه صورت كې

چې کله خاوند معمولي حيثيت وليري او كه مالدار وي نو بايد داسي كور وركړي چې په هغه كي يې د ضرورت ټول شيان وي د مثال په ډول غسل خانه، بيت الخلاء، اشپز خانه او داسي نور.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

ينبغي اعتماده في زماننا هذا، فقد مر أن الطعام والكسوة يختلفان باختلاف الزمان والمكان ، وأهل بلادنا الشامية لا يسكنون في بيت من دار مشتملة على أجانب ، وهذا في أوساطهم فضلًا عن أشرافهم إلا أن تكون دارًا موروثةً بين إخوة مثلًا ، فيسكن كل منهم في جهة منها مع الاشتراك في مرافقها ، فإذا تضررت زوجة أحدهم من أحمائها أو ضرتها، وأراد زوجها إسكانها في بيت منفرد من دار لجماعة أجانب وفي البيت مطبخ وخلاء يعدون ذلك من أعظم العار عليهم ، فينبغي الإفتاء بلزوم دار من بابها ، نعم ينبغي أن لا يلزمه إسكانها في دار واسعة كدار أبيها أو كداره التي هو ساكن فيها ؛ لأن كثيرًا من الأوساط والأشراف يسكنون الدار الصغيرة ، وهذا موافق لما قدمناه عن الملتقط من قوله اعتبارًا في السكنى بالمعروف ، إذ لا شك أن المعروف يختلف باختلاف الزمان والمكان ، فعلى المفتي أن ينظر إلى حال أهل زمانه وبلده ، إذ بدون ذلك لا تحصل المعاشرة بالمعروف ، وقد قال تعالى - ﴿ ولا تضاروهن لتضيقوا عليهن ﴾ .

وفي المجتبى أن ذلک يختلف باختلاف الأماكن والعادات فيجب على القاضي اعتبار الكفاية بالمعروف في كل وقت ومكان. (البحر الرائق:٤/ ١٧٧).

په احسن الفتاوى كي راځي :

كه ښځه مالداره وي نو جلا كور وركول واجب دي كه د ميانه درجي وي نو په هغه كور كي يو جلا كوټه اشپز خانه، غسلخانه او بيت الخلاء جلا وركول ضروري دي كه مسكينه وي نو يوازي يوه

کوټه کافي ده اشپږ خانه، غسل خانه او بیت الخلاء که مشترکه وي باک نه لري . (احسن الفتاوی: ٥/ ٥٧٦).

خو د جګړو په صورت کي او یا د خاوند د قریبانو د هر وخت راتلو له امله ښځه د جلا کور غوښتنه کولای سي . والله ﷻ اعلم.

د کور د سامان حکم

سوال: په کوم کور کي چي ښځه او خاوند اوسیږي تر طلاق وروسته د هغه کور د سامان په هکله حکم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د کومو شیانو په هکله چي دا معلومه وي چي د خاوند ملکیت دي هغه د خاوند دي او د کومو شیانو اړوند چي معلومه وي چي د ښځي ملکیت دئ هغه د ښځي دي د مثال په توګه ښځي ته د مور او پلار له طرف ورکول سوي شیان د ښځي دي یا کوم شیان چي د واده پر وخت د ښځي په نامه ورکول سوی دي هغه ټول د ښځي دي همدا ډول هغه چي دي په خپلو پیسو رانیولي دي او یا خاوند ور ته هبه کړي دي دا ټول د ښځي دي او هغه سامان چي په هلکه یې معلومات نه وي او شاهد هم نه وي نو که د نارینه د استعمال شی وي هغه به له قسم سره نارینه ته ورکول کیږي او کوم چي د ښځي د استعمال وي له قسم سره به وښځي ته ورکول کیږي او چي د دواړو د استعمال وي هغه به له قسم سره نارینه ته ورکول کیږي .

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

قوله ، (وله فيما يصلح لهما) أي القول له في متاع يصلح للرجل ، وللمرأة ؛ لأن المرأة ، وما في يدها في يد الزوج، والقول في الدعاوى لصاحب اليد، بخلاف ما يختص بها ؛ لأنه يعارضه ظاهر أقوى منه ، ولا فرق بين ما إذا كان الاختلاف حال قيام النكاح أو بعدما وقعت الفرقة ، وما يصلح لهما : الفرش والأمتعة والأواني والرقيق والمنزل والعقار والمواشي والنقود كما في الكافي، وبه علم أن البيت للزوج إلا أن يكون لها بينة ، وعزاه في خزانة الأكمل

إلى الإمام الأعظم ، وفي الخانية ، ولو أقاما البينة يقضى ببينتها ؛ لأنـها خارجة معنًى . (البحر الرائق:٧/ ٢٢٦، باب التحالف، كوئته).

وفيه أيضاً : (وإن اختلف الزوجان في متاع البيت فالقول لكل واحد منهما فيما يصلح له) ؛ لأن الظاهر شاهد له والمتاع لغةً : كل ما ينتفع به كالطعام والبر ، وأثاث البيت ، وأصله ما ينتفع به من الزاد ...... قالوا : والصالح له العمامة والقباء والقلنسوة والطيلسان والسلاح والمنطقة والكتب والفرس والدرع الحديد، فالقول في ذلك له مع يمينه ، وما يصلح لها الخمار والدرع والأساورة وخواتم النساء والحلي والخلخال ونحوها، فالقول لها فيها مع اليمين، قالوا : إلا إذا كان الزوج يبيع ما يصلح لها فالقول له لتعارض الظاهرين ، وكذا إذا كانت تبيع ما يصلح له لا يقبل قوله لما ذكرنا . (البحر الرائق:٧/ ٢٢٥، باب التحالف، وكذا فى الدر المختار:٨/ ٢٩- وفتح القدير:٨/ ٢٣٦، دار الفكر - ومجمع الأنهر فى شرح ملتقى الأبحر:٢/ ٢٦٨).

والله ﷻ اعلم.

د عصري تعليم له پاره د مفقود د مال څخه د مصرف حکم

سوال: زيد مفقود الخبر دئ ښځه او کوچنيان يې پاته دي ايا بالغ اولادونه يې د انګرېزي تعليم له پاره د ده مال مصرفولای سي؟

الجواب: زيد د غائب په شان دئ او د غائب بالغو زامنو ته نفقه ورکول کېدای سي په دې شرط چي د مال ګټلو څخه عاجز وي يا په ګټلو کي شرم محسوسوي يا په ديني علم کي مصروف وي او د ګټي وخت نه لري خو د انګرېزي تعليم له پاره به د مفقود د مال څخه نه ورکول کيږي، لومړی خو دا چي د علم د طلب څخه ديني علم مراد دئ دوهم دا چي دا معلومه نه ده چي تعليم دی پوره سر ته ورسيږي، درېيم دا چي د اعلی تعليم له پاره د خپلو دوستانو څخه قرض اخيستلای سي .

په درمختار کي راځي:

وكذا تجب لولده الكبير العاجز عن الكسب كأنثى مطلقًا، وزمن، ومن يلحقه العار بالتكسب، وطالب علم لا يتفرغ لذلك، كذا في الزيلعي والعيني . وأفتى أبو حامد بعدمها لطلبة زماننا كما بسطه في القنية . وفي الشامية : (قوله ومن يلحقه العار بالتكسب) كذا في البحر و الزيلعي ..... الأولى ما في المنح عن الخلاصة: إذا كان من أبناء الكرام ولا يستأجره الناس فهو عاجز ا . ومثله في الفتح .... (قوله كما بسطه في القنية) حاصله أن السلف قالوا بوجوب نفقته على الأب، لكن أفتى أبو حامد بعدمه لفساد أحوال أكثرهم، ومن كان بخلافهم نادر في هذا الزمان، فلا يفرد بالحكم دفعاً لحرج التمييز بين المصلح والمفسد .

قال صاحب القنية : لكن بعد الفتنة العامة يعني فتنة التاتار التي ذهب بها أكثر العلماء والمتعلمين نرى المشتغلين بالفقه والأدب اللذين هما قواعد الدين وأصول كلام العرب، يمنعهم الاشتغال بالكسب عن التحصيل، ويؤدي إلى ضياع العلم والتعطيل، فكان المختار الآن قول السلف، وهفوات البعض لا تمنع الوجوب كالأولاد والأقارب . ملخصاً . وأقره في البحر . وقال ح : وأقول : الحق الذي تقبله الطباع المستقيمة ولا تنفر منه الأذواق السليمة : القول بوجوبها لذي الرشد لا غيره ولا حرج في التمييز بين المصلح والمفسد لظهور مسالك الاستقامة وتمييزه عن غيره . وبالله التوفيق . (الدر المختار مع الشامي:٣/ ٦١٤، باب النفقة، ط: سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وقال الإمام الحلواني: إذا كان الابن من أبناء الكرام، ولا يستأجره الناس فهو عاجز، وكذا طلبة العلم إذا كانوا عاجزين عن الكسب لا يهتدون إليه لا تسقط نفقتهم عن آبائهم إذا كانوا مشتغلين بالعلوم الشرعية، لا بالخلافيات الركيكة وهذيان الفلاسفة، ولهم رشد، وإلا لا تجب، كذا في الوجيز للكردري. (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٦٣، باب النفقة – وكذا فى الفتاوى البزازية: ٤/ ١٦٤، التاسع عشر فى فى النفقات). والله تعالى اعلم.

د سپين ږيري پلار د نفقې حکم

سوال: يو سپين ږيري محتاج دئ زوی او لورېې دواړه مال لري نو د ده خدمت پر دواړو لازم دئ او که يوازي پر زوی او که يو محتاج وي بيا يې حکم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي د پلار خدمت پر دواړو په يوه اندازه واجب دئ، البته که اولاد په خپله محتاج وي نو پر ده يې نفقه لازمه نه ده د مالدر کېدو مطلب دا دئ چي د نصاب مالک وي چي زکوة اخيستل ورته حرام وي که په مالداري کي د دوی تر منځ زيات فرق موجود وي نو بيا به د تفاوت موافق نفقه لازمه وي.

په عالمګيري کي راځي:

قال: ويجبر الولد الموسر على نفقة الأبوين المعسرين، مسلمين كانا، أو ذميين قدرا على الكسب، أو لم يقدرا ...... اليسار مقدر بالنصاب فيما روي عن أبي يوسف رحمه الله تعالى، وعليه الفتوى. والنصاب نصاب حرمان الصدقة، هكذا في الهداية. وإذا اختلطت الذكور والإناث فنفقة الأبوين عليهما على السوية في ظاهر الرواية، وبه أخذ الفقيه أبو الليث، وبه يفتى كذا في الوجيز للكردري .... قال الشيخ الإمام شمس الأئمة: قال مشايخنا – رحمهم الله تعالى: إنما تكون النفقة عليهما على السواء إذا تفاوتا في اليسار تفاوتا يسيرًا، وأما إذا تفاوتا

تفاوتًا فاحشًا فيجب أن يتفاوتا في قدر النفقة كذا في الذخيرة . (الفتاوى الهندية: ١/ ٥٦٤-٥٦٥، فصل فى نفقة ذوى الأرحام).

وفي فتاوى الشامية : (قوله يسار الفطرة على الأرجح) أي بأن يملك ما يحرم به أخذ الزكاة وهو نصاب ولو غير نام فاضل عن حوائجه الأصلية ، وهذا قول أبي يوسف .

وفي الهداية : وعليه الفتوى ، وصححه في الذخيرة ، ومشى عليه في متن الملتقى ، وفي البحر: أنه الأرجح ، وفي الخلاصة : أنه نصاب الزكاة ، وبه يفتى . واختاره الولوالجي ......

ثم أعلم أن ما ذكره المصنف من اشتراط اليسار في نفقة الأصول صرح به في كافي الحاكم والدرر النقاية والفتح والملتقى و الموهب والبحر والنهر . وفي كافي الحاكم أيضا : ولا يجبر المعسر على نفقة أحد إلا على نفقة الزوجة والولد . ومثله في الاختيار ونحو في الهداية . وفي الخانية : لا يجب على الابن الفقير نفقة والده الفقير حكما إلا إن كان والده زمنا لا يقدر على العمل وللابن عيال فعليه أن يضمه إلى عياله وينفق على الكل . وفي الذخيرة أنه ظاهر الرواية عن أصحابنا . (فتاوى الشامى:٣/ ٦٢١، باب النفقة).

په الفقه الاسامي وادلته كي راځي:

تجب النفقة على الموسر لقريبه، واليسار عند الحنفية على الأرجح المفتى به: هو يسار الفطرة: وهو أن يملک ما يحرم عليه به أخذ الزكاة وهو نصاب ولو غير نام، فاضل عن حوائجه الأصلية . (الفقه الاسلامى وادلته:٧/ ٧٧٢، حد اليسار).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

وإذا اختلط الذكور والإناث فنفقة الأبوين عليهما على السواء في ظاهر الرواية، وبه أخذ الفقيه أبو الليث، وبه يفتى .(الفتاوى البزازية: ٤/ ١٦٤). والله ﷻ اعلم.

د معذور ورور نفقه د خويندو پر ذمه

سوال: يو کس فقير او معذور دئ د ده مور سته يوه يې حقيقي خور يوه يې په مورنۍ خور او يوه يې په پلارنۍ خور سته تولي مالداري دي نو د ده نفقه به د چا پر ذمه وي ؟

الجواب: په دې صورت کي يې نفقه پر ټولو د ميراث په اندازه لازميږي يعني د ده د انتقال په صورت کي چي وارثانو ته څومره شرعي حصې ورکول کيږي په هغه اندازه يې نفقه لازميږي ((وعلى الوارث مثل ذالک او د الغرم بالغنم)) د قاعدې له امله د شرعي ميراث حصې وګورئ:

١_ مور: ١٦.٦٧

٢_ حقيقي خور: ٥٠.

٣_ مور شريکه خور: ١٦.٦٧

۴_ پلار شريکه خور: ١٦.٦٧

د دې حصو مطابق پر هر يوه نفقه لازميږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

و تجب أيضًا لكل ذي رحم محرم صغير أو أنثى مطلقًا ولو كانت الأنثى بالغةً صحيحةً، أو كان الذكر بالغًا لكن عاجزًا عن الكسب بنحو زمانة كعمًى وعته وفلج . زاد في الملتقى والمختار : أو لا يحسن الكسب لحرفة أو لكونه من ذوي البيوتات أو طالب علم فقيرًا، حال من المجموع بحيث تحل له الصدقة، ولو له منزل وخادم على الصواب، بدائع . بقدر الإرث لقوله تعالى ﴿ وعلى الوارث مثل ذلك ﴾، و لذا يجبر عليه . وفى الشامية : (قوله بقدر الإرث)

أي تجب نفقة المحرم الفقير على من يرثونه إذا مات بقدر إرثهم منه . (قوله وعلى الوارث مثل ذلك) أي مثل الرزق والكسوة التي وجبت على المولود له، فأناط الله تعالى النفقة باسم الوارث ، فوجب التقدير بالإرث . (الدر المختار مع الشامی:٣/ ٦٢٧-٦٢٩، باب النفقة، ط: سعيد – وکذا فی فتح القدير:٤/ ٤٢٠ – مع الهداية، وشرح العناية على هامش فتح القدير:٤/ ٤٢٠).

په فتاوی هنديه کې راځي:

والنفقة لكل ذي رحم محرم إذا كان صغيرًا فقيرًا ، أو كانت امرأةً بالغةً فقيرةً ، أو كان ذكرًا فقيرًا زمنًا ، أو أعمى ويجب ذلك على قدر الميراث ويجبر كذا في الهداية . وتعتبر أهلية الإرث، لا حقيقته كذا في النقاية . (الفتاوی الهندية:١/ ٥٦٥، فصل فی نفقة ذوی الأرحام – وکذا فی البحر الرائق:٤/ ٢٠٩، کوئټه). والله ﷻ اعلم.

د پلار او اولاد په موجوديت کې د نفقې حکم

سوال: يو کس کمزوري او مريض دئ زوی، لور او پلار يې موجود دي نو نفقه يې پر چا لازمه ده؟

الجواب: نفقه يې پر زوی او لور برابره لازميږي پر پلار يې نه لازميږي ځکه اولاد اقرب دئ د اصولو او فروعو د اجتماع په وخت کې اقرب اعتبار لري.

وګورئ په درمختار کې راځي:

النفقة لأصوله ولو أب أمه، ذخيرة . الفقراء ولو قادرين على الكسب ...... بالسوية بين الابن والبنت ، وقيل : كالإرث ...... والمعتبر فيه القرب والجزئية . وفي الشامية: (قوله بالسوية بين الابن والبنت) هو ظاهر الرواية، وهو الصحيح ، هداية . وبه يفتى، خلاصة ، وهو الحق فتح . وكذا لو كان للفقير ابنان أحدهما فائق في الغنى والآخر يملك نصابًا فهي

علیهما سويةً، خانية . وعزاه في الذخيرة إلى مبسوط محمد ، ثم نقل عن الحلواني : قال مشايخنا : هذا لو تفاوتا في اليسار تفاوتًا يسيرًا ، فلو فاحشًا يجب التفاوت فيها بحر .

(قوله والمعتبر فيه القرب والجزئية لا الإرث) أي الأصل في نفقة الوالدين والمولودين القرب بعد الجزئية دون الميراث ، كذا في الفتح : أي تعتبر أولًا الجزئية : أي جهة الولاد أصولًا أو فروعًا ، وتقدم على غيرها من الرحم ، ثم يقدم فيها الأقرب فالأقرب ، ولا ينظر إلى الإرث ...... إلى قوله : القسم الثالث : الفروع مع الأصول، والمعتبر فيه الأقرب جزئية ، فإن لم يوجد اعتبر الترجيح إن لم يوجد اعتبر الإرث ، ففي أب وابن تجب على ابن لترجحه بـ «أنت ومالك لأبيك » ذخيرة وبدائع . (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٦٢٣-٦٢٤، باب النفقة، ط: سعيد – وكذا في فتح القدير مع الهداية: ٤/ ٤١٧، دار الفكر).

وفي الهندية : وإذا اختلطت الذكور والإناث فنفقة الأبوين عليهما على السوية في ظاهر الرواية ، وبه أخذ الفقيه أبو الليث ، وبه يفتى كذا في الوجيز للكردري . (الفتاوى الهندية:١/ ٥٦٤، فصل في نفقة ذوي الأرحام).

په البحر الرائق کي راځي :

وأن الولد إذا كان غنيا والأب محتاجًا لم يشارك الولد أحد في نفقة الوالد ذكره المصنف في شرح المنار . (البحر الرائق:٤/ ٢٠١، باب النفقة، ط: كونته) . والله تعالىٰ اعلم.

د بالغ اولاد نفقه د پلار پر ذمه کېدو حکم

سوال: که بالغ أولاد معذور وي او والدين يې دواړه مالدار وي نو نفقه يې پر دواړو ده او که يوازي پر پلار ده ؟

الجواب: د ظاهر روايت مطابق د معذور اولاد نفقه يوازي پر پلار ده پر مور يې لازمه نه ده او پر همدغه فتوی ده.

وګورئ په هدايه کي راځي:

قال (الإمام القدوری): وتجب نفقة الإبنة البالغة والإبن الزمن على أبويه أثلاثا على الأب الثلثان وعلى الأم الثلث ..... قال العبد الضعيف هذا الذي ذكره رواية الخصاف والحسن وفي ظاهر الرواية كل النفقة على الأب . (الهداية:٢/ ٤٤٧).

علامه سرخسي رحمة الله عليه ظاهر الروايه ته ترجيح ورکړي ده. وګورئ:

وإن كانوا ذكورا بالغين لم يجبر الأب على الانفاق عليهم لقدرتهم على الكسب إلا من كان منهم زمنا أو أعمى أو مقعدا أو أشل اليدين ..... فحينئذ تجب النفقة على الوالد . (المبسوط للسرخسى:٥/ ٢٢٢).

په درمختار کي راځي:

وكذا تجب لولده الكبير العاجز عن الكسب كأنثى مطلقًا، وزمن ...... لا يشاركه أى الأب ولو فقيراً أحد في ذلک ...... به يفتى ما لم يكن معسراً قال الشامى : قوله به يفتى راجع إلى مسألة الفروع ومقابله ما روي عن الإمام أن نفقة الولد على الأب والأم أثلاثاً يعني الكبير أما الصغير فعلى أبيه خاصة بلا خلاف ...... وصرح العلامة قاسم بأن عدم الفرق بينهما هو ظاهر الرواية وبأن عليه الفتوى فلذا تبعه الشارح . (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٦١٥).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوى الهندية:١/ ٥٦٣ – وكنز الدقائق، ص ١٥٥، ومنحة الخالق: ٤/ ٢٠٨ – واحسن الفتاوى: ٥/ ٤٦٣). والله تعالى اعلم.

د غير مسلمو والدينو د نفقې حكم

سوال: كه د چا والدين كافران وي نو نفقه يې لازمه ده او كه نه؟

الجواب: كه حربي نه وي نو نفقه يې پر زوى واجبه او لازمه ده .

وګورئ په هدايه كې راځي:

وعلى الرجل أن ينفق على أبويه وأجداده وجداته إذا كانوا فقراء وإن خالفوه في دينه . أما الأبوان فلقوله تعالى ﴿ وصاحبهما في الدنيا معروفًا ﴾ نزلت الآية في الأبوين الكافرين ، وليس من المعروف أن يعيش في نعم الله تعالى ويتركهما يموتان جوعًا ...... ولا تجب النفقة مع اختلاف الدين إلا للزوجة والأبوين والأجداد والجدات والولد وولد الولد ...... إلا أنهم إذا كانوا حربيين لا تجب نفقتهم على المسلم وإن كانوا مستأمنين ، لأنا نهينا عن البر في حق من يقاتلنا في الدين .

وفي فتح القدير: فأما الآباء الحربيون وان كانوا مستأمنين في دارنا لا يجبر الابن على النفقة بهم لقوله تعالى ﴿ لا ينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الدين ولم يخرجوكم من دياركم أن تبروهم ﴾ (الى قوله) إنما ينهاكم الله عن الذين قاتلوكم في الدين ﴾ . (الهداية مع فتح القدير: ٤/ ٤١٥، باب النفقة، ط: دار الفكر).

وفي شرح العناية: فقد فسر النبي ﷺ حسن المصاحبة بأن يطعمهما إذا جاعا، ويكسوهما إذا عريا، وكلامه واضح . (شرح العناية: ٤/ ٤١٦، دار الفكر).

د زيات تفصيل لـه پاره وګورئ: (فتاوى الشامي:٣/ ٦٣١ – والفتاوى الهندية: ١/ ٥٦٤ – والبحر الرائق:٤/ ٢٠٥). والله ﷻ اعلم.

د مرتد زوی څخه د نفقې قبلولو حکم

سوال: مسلمان والدین د مرتد زوی څخه نفقه قبلولای سي او که نه، حال دا چي د دوی له پاره د معاش بله ذریعه نه وي؟

الجواب: مرتد که اسلام ته واپس نه سي نو سزا یې قتل دئ خو په غیر اسلامي ممالکو کي د سزا قانون نه سته ځکه نو مرتد د کافر په حکم کي دئ او د کافر هدیه قبلول روا دي خو د مرتد سره باید تعلقات ختم سي او هغه نفقه قبوله نه سي او د مسلمانانو له پاره په کار ده چي د ده د والدینو د نفقې انتظام وکړي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله: مع الاختلاف ديناً أي كالكفر والإسلام فلا يجب على أحدهما الإنفاق على الآخر. وفي إشعار بأن نفقة السني على الموسر الشيعي كما أشار إليه في التكميل قهستاني، والمراد الشيعي المفضل، بخلاف الساب القاذف فإنه مرتد يقتل إن ثبت عليه ذلك فإن لم يقتل تساهلا في إقامة الحدود فالظاهر عدم الوجوب، لأن مدار نفقة الرحم المحرم على أهلية الإرث، ولا توارث بين مسلم ومرتد نعم لو كان يجحد ذلك ولا بينة يعامل بالظاهر وإن اشتهر حاله بخلافه، والله سبحانه أعلم. (فتاوى الشامي:٣/ ٦٣١).

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي وايي:

د غیر مسلم سره خوراک چښاک روا دئ مګر له مرتد سره روا نه دئ.

بل ځای لیکي:

د غیر مسلم هدیه قبلول روا دي په دې شرط چي ناپاکه نه وي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:١/ ٦٧). والله ﷻ اعلم.



﴿ والوالدات يرضعن أولادهن حولين كاملين لمن أراد أن يتم الرضاعة ﴾.

(سورة البقرة: الآية: ٢٣٣).

قال رسول الله ﷺ « يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب ». (رواه البخاری).

د رضاعت بیان

په مطلق رضاعت سره د حرمت ثبوت

سوال: ځيني ازاد فکر خلک دا سوال کوي چي د مسلم شريف په روايت کي ذکر دي چي نبي کريم ﷺ وفات سو نو هغه وخت د پنځو رضاعاتو تلاوت کېدئ حال دا چي اوس په قرآن کي نه سته.

د مسلم شريف روايت په دې ډول دئ:

كان فيما أنزل من القرآن عشر رضعات معلومات يحرمن . ثم نسخن بخمس معلومات.

فتوفي رسول الله صلى الله عليه وسلم وهن فيما يقرأ من القرآن. (رواه مسلم: ١/ ٤٦٩).

دغه روايت په ظاهره د قرآن سره معارض دئ چي د ده له وفات څخه وروسته پنځه رضاعات څه سوه حال دا چي قرآن کريم قطعا محفوظ دئ.

قال الله تعالى: ﴿ إنا نحن نزلنا الذكر وإنا له لحافظون ﴾. (سور الحجر، الآية: ٩).

وقال: ﴿ لا يأتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه تنزيل من حكيم حميد ﴾. (سورة فصلت، الآية: ٤٢).

وقال: ﴿ بل هو آيات بينات في صدور الذين أوتوا العلم ﴾. (سورة العنكبوت، الآية: ٤٩).

د دې اشکال جواب څه دئ؟

الجواب: د دې اشکال په لنډه توګه حل دا دئ چي دغه الفاظ چي لس رضاعات په پنځو رضاعاتو منسوخ سوه په ټولو رواياتو کي موجود دي او دغه الفاظ چي ((فتوفي رسول الله ﷺ

وهی فیما یقرأ من القرآن)) دعمره په شاګردانو کي یوازي عبد الله بن ابی بکر بیانوي دعمره دوهم شاګرد یحیی بن سعید انصاری چي روایت یې په مسلم شریف (۱/ ۴٦۹) کي او د قاسم بن محمد چي روایت یې په المعتصر من المختصر (۱/ ۳۲۱) کي موجود دئ په دغو دواړو کي دا الفاظ نه سته معلومه سوه چي صحیح او راجح روایت یوازي دا دئ چي لسو رضعاتو پنځه رضعات منسوخ کړي دي پاته سوه دا الفاظ چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته دا الفاظ ویل کېده شاذ دي ځکه د محمد بن قاسم او یحیی بن سعید قطان مرتبه د عبد الله بن ابی بکر څخه زیاته ده او هغوی دغه الفاظ نه بیانوي .

۲_ ممکنه ده چي د پنځه رضاعت آیت د رسول الله ﷺ په آخرنی ژوند کي منسوخ سوی وي او ځینو صحابه وو ته یې علم نه وي رسېدلي او هغوی یې تلاوت کوي که منسوخ نه وای نو په قرآن کریم کي به شامل وای حال دا چي په قرآن کي موجود نه دي .

وګورئ علامه طحاوي فرمايي:

حدثنا يونس بن عبد الأعلى قال: أنا ابن وهب أن مالكًا حدثه عن عبد الله بن أبي بكر عن عمرة ابنة عبد الرحمن عن عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها أنها قالت: كانت فيما أنزل من القرآن: « عشر رضاعات معلومات يحرمن » ثم نسخن بخمس معلومات، فتوفي رسول الله ﷺ وهو فيما يقرأ من القرآن .

قال أبو جعفر: وهذا ممن لا نعلم أحدًا رواه كما ذكرنا غير عبد الله بن أبي بكر، وهو عندنا وهم منه، أعني: ما فيه مما حكاه عن عائشة رضي الله عنها « أن رسول الله ﷺ توفي وهو فيما يقرأ من القرآن » لأن ذلك لو كان كذلك لكان كسائر القرآن ولجاز أن يقرأ به في الصلوات، وحاش لله أن يكون كذلك، أو يكون قد بقي من القرآن ما ليس في المصاحف التي قامت بها الحجة علينا، وكان من كفر بحرف مما فيها كافرًا، ولكان لو بقي من القرآن غير ما فيها لجاز أن

يكون ما فيها منسوخًا لا يجب العمل به، وما ليس فيها ناسخ يجب العمل به، وفي ذلك ارتفاع وجوب العمل بما في أيدينا مما هو القرآن عندنا، ونعوذ بالله من هذا القول وممن يقوله .

ولكن حقيقة هذا الحديث عندنا _ والله أعلم _ ما قد رواه من أهل العلم عن عمرة عن عائشة رضي الله عنها من مقداره في العلم وضبطه له فوق مقدار عبد الله بن أبي بكر، وهو القاسم بن محمد بن أبي بكر الصديق ﵁ . كما حدثنا محمد بن خزيمة قال: ثنا حجاج بن منهال قال: ثنا حماد بن سلمة عن عبد الرحمن بن القاسم عن القاسم بن محمد عن عمرة عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان مما نزل من القرآن ثم سقط: « أن لا يحرم من الرضاع إلا عشر رضاعات » ثم نزل بعد: « أو خمس رضاعات ». فهذا الحديث أولى من الحديث الذي ذكرناه قبله، وفيه أنه أنزل من القرآن ثم سقط، فدل ذلك أنه مما أخرج من القرآن نسخًا له منه كما أخرج من سواه من القرآن مما قد تقدم ذكرنا له وأعيد إلى السنة .

وقد تابع القاسم بن محمد على إسقاط ما في حديث عبد الله بن أبي بكر « أن رسول الله ﷺ توفي وأن ذلك مما يقرأ من القرآن » إمام من أئمة زمنه وهو يحيى بن سعيد الأنصاري كما قد حدثنا محمد بن خزيمة، قال: ثنا حجاج بن منهال، قال: ثنا حماد بن سلمة، عن يحيى بن سعيد، عن عمرة، عن عائشة ﵂، قالت: نزل من القرآن: « لا يحرم إلا عشر رضعات »، ثم نزل بعد : « أو خمس رضاعات » . وكما حدثنا روح بن الفرج قال: ثنا يحيى بن عبد الله بن بكير قال: ثني الليث بن سعد عن يحيى بن سعيد عن عمرة عن عائشة رضي الله عنها قالت: أنزل في القرآن: « عشر رضاعات معلومات » ثم أنزل « خمس رضاعات ».

قال أبو جعفر: فهذا أولى مما رواه عبد الله بن أبي بكر؛ لأن محالًا أن تكون عائشة تعلم أنه قد بقي من القرآن شيء لم يكتب في المصاحف ثم لا تنبه على ذلك من أغفله.

لكن حقيقة الأمر كان في ذلك _ والله أعلم _ أن ذلك مما قد كان نزل قرآنا ثم نسخ فأخرج من القرآن وأعيد سنةً، كما سواه من هذا الجنس مما تقدم ذكرنا له في كتابنا هذا.

ومما يدل على فساد ما قد زاده عبد الله بن أبي بكر على القاسم بن محمد ويحيى بن سعيد في هذا الحديث أنا لا نعلم أحدًا من أئمة أهل العلم روى هذا الحديث عن عبد الله بن أبي بكر غير مالك بن أنس، ثم تركه مالك فلم يقل به وقال بضده وذهب إلى أن قليل الرضاع وكثيره يحرم. ولو كان ما في هذا الحديث صحيحًا أن ذلك في كتاب الله عز وجل لكان مما لا يخالفه ولا يقول بغيره. والله عز وجل نسأله التوفيق. (شرح مشكل الآثار للإمام الطحاوی، بتحقيق شعيب الأرنؤوط، ٥/ ٣١١-٣١٥، ط: مؤسسة الرسالة، بيروت – وكذا فی تحفة الأخيار بترتيب مشكل الآثار: ٤/ ١٠٦-١٠٨).

مفتي محمد تقی عثماني صاحب په تكملة فتح الملهم كي د امام طحاوي د پورتنی عبارت خلاصه ذكر كوي وروسته وايي:

قال العبد الضعيف: وممن حكم على هذه الزيادة بالوهم: القاضي أبو بكر بن العربي فی عارضة الأحوذي (٥/ ٩٢) حيث يقول: «وقد قيل: إن هذه وهم منه، وإن الحديث الصحيح ما رواه القاسم دون ذكر هذا، فيكون مما نزل ثم نسخ» ومما يؤيده أن عبد الرزاق أخرج عن عائشة ما يدل على نسخ تلاوة خمس رضاعات أيضاً، فقال: أنا ابن جريج قال: سمعت نافعاً يحدث أن سالم بن عبد الله حدثه أن عائشة زوج النبي ﷺ أرسلت به إلى أختها أم كلثوم ابنة

أبي بكر لترضعه عشر رضاعات ليلج عليها إذا كبر، فأرضعته ثلاث مرات، ثم مرضت، فلم يكن سالم يلج عليها . قال: زعموا أن عائشة ﷺ قالت: لقد كان في كتاب الله عزوجل عشر رضاعات ثم رد ذلك إلى خمس، ولكن من كتاب الله، ما قبض مع النبي ﷺ. (أى قبل وفاته بتليل). (مصنف عبد الرزاق:۷/ ۴۷۰).

فهذه الرواية من عائشة ﷺ تكاد تكون صريحة في أن خمس رضعات قد نسخ تلاوتها قبل أن يقبض النبي ﷺ . (تكملة فتح الملهم: ۱/ ۴۵-۴۶).

دعلامه نووي رحمه الله دعبارت څخه معلوميږي چي ځينو صحابه وو ته د نسخ علم نه وو. وګورئ:

« وهن فيما يقرء من القرآن » ومعناه أن النسخ بخمس رضعات تأخر إنزاله جداً، حتى أن النبي ﷺ توفى وبعض الناس يقرأ « خمس رضاعات » ويجعله قرآناً متلواً لكونه لم يبلغه النسخ لقرب عهده، فلما بلغهم النسخ بعد ذلك رجعوا عن ذلك، وأجمعوا على أن هذا لا يتلى . (شرح الامام النووى على مسلم: ۱/ ۴۶۸).

اشكال: که څوک دا سوال وکړي چي يوازي الفاظ منسوخ دي حکم يې پاته دئ لهذا پنځه رضاعات به د حرمت موجب وي د دې جواب څه دئ؟

الجواب: دابن ماجه شريف په روايت کي له لسو رضاعاتو سره د پنځو د منسوخ کېدو صراحت سته همدا ډول د مصنف عبد الرزاق له روايت څخه معلوميږي چي د لس سره پنځه هم منسوخ دي.

دابن ماجه شريف روايت وګورئ:

عن عائشة ﷺ، أنها قالت : كان فيما أنزل الله من القرآن ثم سقط ، « لا يحرم إلا عشر رضعات ، أو خمس معلومات ». (رواه ابن ماجة:۱/ ۱۳۹).

په دې روايت کې که ((أو)) د ((بل)) په معنی وي نو د روايت مطلب به دا وي چې لس بلکې د پنځو رضاعاتو تحريم دواړه ساقط يعني منسوخ دي .

همدا ډول د قرآن کريم څخه يې بېله کومه قيده مطلق حرمت ثابتيږي وګورئ .

﴿ وأمهاتكم اللاتي أرضعنكم ﴾. (سورة النساء، الآية: ٢٣).

په حديث شريف کې صراحت سته چې لږ او ډېر ټول حرام دي :

وګورئ په جامع المسانيد کې راځي :

أبو حنيفة رحمة الله عليه عن الحكم بن عتيبة عن القاسم بن مخيمرة عن شريح بن هانئ عن علي بن أبي طالب رضي الله عنه عن النبي ﷺ أنه قال: « يحرم من الرضاع مايحرم من النسب، قليله وكثيره .

(جامع المسانيد للامام محمد بن محمود الخوارزمي:٢/ ٩٧، دار الباز، مكة المكرمة).

له آثارو څخه هم د لږ او ډېر د حرمت ثبوت معلوميږي وګورئ :

١ _ كتبنا إلى إبراهيم بن يزيد النخعي نسأله عن الرضاع فكتب ان شريحا حدثنا أن عليا وبن مسعود كانا يقولان يحرم من الرضاع قليله وكثيره وكان في كتابه أن أبا الشعثاء المحاربي حدثنا أن عائشة حدثته أن نبي الله ﷺ كان يقول لا تحرم الخطفة والخطفتان . (سنن النسائي:٢/ ٨٢- وكذا في السنن الكبرى للبيهقي: ٧/ ٤٥٨ – والمعجم الكبير للطبراني:٩/ ٣٤١/ ٩٦٩٨- ومصنف عبد الرزاق:٧/ ٤٦٩).

٢ _ أنا جريج، قال عطاء « يحرم منها ما قل وما كثر » قال : وقال بن عمر رضي الله عنه لما بلغه عن بن الزبير أنه يأثر عن عائشة رضي الله عنها في الرضاع أنها قال : « لا يحرم منها دون سبع رضعات » قال : الله خير من عائشة رضي الله عنها قال الله تعالى ﴿ وأخواتكم من الرضاعة ﴾ ولم يقل رضعة ولا رضعتين . (مصنف عبد الرزاق:٧/ ٤٦٦).

٣_ عبد الرزاق عن الثوري وابن عيينة عن عبد الكريم أبي أمية عن طاؤوس قال: « يحرم من الرضاعة المرة الواحدة ». (مصنف عبد الرزاق:٧/ ٤٦٧ – وكذا فى مصنف ابن ابى شيبة: ٩/ ٢٩٠، المجلس العلمى).

٤_ نا ابن فضيل عن ليث، عن مجاهد، قال ابن مسعود رضي الله عنه : « يحرم قليل الرضاع كما يحرم كثيره » . وقال مجاهد : قول ابن مسعود رضي الله عنه أحب إلي. (مصنف ابن ابى شيبة: ٩/ ٢٨٩).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (مصنف عبد الرزاق:٤/ ٤٦٦-٤٧١ – ومصنف ابن ابى شيبة: ٩/ ٢٨٨ -٢٩٠ – والسنن الكبرى للبيهقى:٧/ ٤٥٨).

د صحيح بخاري شريف له يوه روايت څخه هم مطلق رضاعت ثابتيږي وګورئ:

عن ابن أبي مليكة ، عن عقبة بن الحارث أنه تزوج أم يحيى بنت أبي إهاب، قال : فجاءت أمة سوداء فقالت : قد أرضعتكما ، فذكرت ذلك للنبي صلى الله عليه وسلم فأعرض عني، قال : فتنحيت ، فذكرت ذلك له، قال : وكيف وقد زعمت أن قد أرضعتكما ، فنهاه عنها. (رواه البخارى:١/ ٣٦٣، شهادة المرضعة).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (تكملة فتح الملهم: ١/ ٣٥-٤١ – والمبسوط للامام السرخسى: ٥/ ١٢١، دار الفكر – وبدائع الصنائع: ٤/ ٧-٨، سعيد – وفتح القدير: ٣/ ٤٣٩ -٤٤١، دار الفكر). والله تعالى اعلم.

د انا د شيدو په چښلو سره د خاله د لور سره د رضاعت د ثبوت حكم

سوال: يو كوچنى د خپلې انا شيدې وچښلې اوس دى د خپلې خاله د لور سره نكاح كول غواړي نو دا روا ده او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كې د خاله د لور سره نكاح نه سي كېداى ځكه انا يې رضاعي مور سوه او خاله يې رضاعي خور سره او د خاله لور يې رضاعي خورزه سوه .

په حديث شريف کي راځي:

قال النبي ﷺ: « يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب ». (رواه البخاری).

د دې اصل له پاره يو شعر مشهور دئ:

از جانب شير ره همه خويش شوند واز جانب شير خوار زوجان وفروع

يعني د تي ورکونکي له طرفه يې ټول قريبان او محارم وګرځېده يعني مرضعه يې مور سوه او د دې خاوند يې پلار سو د مرضعي خور يې خاله سوه د مرضعي لوڼي او زامن يې وروڼه او خويندي سوي او د تي رودونکي له طرفه قرابت يوازي تر زوجينو او اولاد پوري محدود ګرځي يعني که کوچني نارينه وي نو د ده ښځه د مرضعي د خاوند له پاره حرامه ده او که انجلۍ وي نو د دې خاوند پر مرضعه حرام دئ. والله ﷻ اعلم.

له نکاح څخه مخکي د تی ورکولو څخه د رضاعت د ثبوت حکم

سوال: يوه ښځه چي خاوند يې نه وي د بل چا کوچني ته يې تی ورکړي بيا يې له يو چا سره واده وکړ نو دغه نارينه د دې کوچني رضاعي پلار بلل کيږي او که نه؟

الجواب: که دغه نارينه له ښځي سره جماع يا خلوت صحيحه کړي وي نو دغه کوچنی يې ربيبه يعني بچندره ده او نکاح يې روا نه ده او که د دخول يا خلوت صحيحه څخه مخکي طلاق واقع سو نو بيا به د ده له پاره د دې انجلۍ سره نکاح کول روا وي.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

بكر لم تتزوج قط نزل بها لبن فأرضعت صبياً صارت أماً للصبي وثبت جميع أحكام الرضاع بينهما حتى لو تزوجت البكر رجلاً ثم طلقها قبل الدخول بها كان لهذا الزوج أن يتزوج الصبية، وإن طلقها بعد الدخول لا يكون له أن يتزوجها، لأنها صارت من الربائب التي دخل بأمها. (فتاوى قاضي خان: ١/ ٤١٧).

په فتاوي شامي کي راځي:

قوله «ولبن بكر» المراد بها التي لم تجامع قط ...... والحرمة لا تتعدى إلى زوجها، حتى لو طلقها قبل الدخول له التزوج برضيعتها، لأن اللبن ليس منه، قهستاني. أما لو طلقها بعد الدخول فليس له التزوج بالرضيعة، لأنها صارت من الربائب التي دخل بأمها. (فتاوى الشامي:٣/ ٢١٨، باب الرضاع، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية:١/ ٣٤٤). والله ﷻ اعلم.

د رضاعي زوی له خور سره د نکاح د روا والي حکم

سوال: د يو چا ښځي يوه کوچنی ته تی ورکړي او دغه کوچنی په پلارني غټه خور لري اوس د مرضعي د مرګ څخه وروسته يې خاوند د دغه کوچني د خور سره نکاح کول غواړي نو ايا دغه روا ده؟

الجواب: په دې صورت کي د رضاعي زوی له غټي خور سره نکاح روا ده.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

لايحل للرضيع إلا أم أخته من الرضاع وأخت ابنه من الرضاع فإنه يجوز له أن يتزوجها. (خزانة الفقه، ص: ١٣٩).

په هدايه کي راځي:

ويجوز يتزوج أخت ابنه من الرضاع ولا يجوز ذلك من النسب، لأنه لما وطئ أمها حرمت عليه، ولم يوجد هذا المعنى في الرضاع. (الهداية:٢/ ٣٥١، كتاب الرضاع).

وهذا مما استثني من «يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب». والله ﷻ اعلم.

د دوو کلونو او درو مياشتو وروسته د تی ور کولو څخه د نسب د ثبوت حکم

سوال: د يو کوچنی عمر دوه کاله او درې مياشتي دئ او س يې د يوې ښځي ته ورودئ اوس د دغه ماشوم نکاح د دې ښځي له لور سره روا ده او که نه؟ ځيني وايي چي نکاح يې نه کيږي ځکه د امام صاحب رحمه الله په اند د رضاعت مده دوه نيم کاله ده او ځيني وايي چي کېدای سي ځکه د صاحبينو په ... د رضاعت مده دوه کاله ده په دې هکله ستاسو فتوی څه ده؟

الجواب: په دې صورت کې نکاح روا ده ځکه په دې مسئله کې فتوى د صاحبينو پر قول ده .

قال الله تعالى : ﴿ والوالدات يرضعن أولادهن حولين كاملين لمن أراد أن يتم الرضاعة ﴾.

(سورة البقرة، الآية: ٢٣٣).

وقال ابن عباس رضي الله عنهما: « لارضاع بعد الحولين ». (رواه الدار قطني: ٤/ ١٧٤، وقال: لم يسنده عن ابن عيينة غير الهيثم بن جميل، وهو ثقة، حافظ).

وګورئ په البحر الرائق کې راځي:

والأصح أن العبرة لقوة الدليل، ولا يخفى قوة دليلهما ، فإن قوله تعالى ﴿ والوالدات يرضعن أولادهن حولين كاملين لمن أراد أن يتم الرضاعة ﴾ يدل على أنه لا رضاع بعد التمام. وأما قوله تعالى ﴿ فإن أرادا فصالًا عن تراض منهما وتشاور فلا جناح عليهما ﴾ فإنما هو قبل الحولين بدليل تقييده بالتراضي والتشاور، وبعدهما لا يحتاج إليهما ، وبه يضعف ما في معراج الدراية معزيا إلى المبسوط والمحيط من « أنه بعد الحولين فيكون دليلًا له » لما علمت من ضياع القيدين حينئذ .

وأما استدلال صاحب الهداية للإمام بقوله تعالى : ﴿ وحمله وفصاله ثلاثون شهرًا ﴾ بناءً على أن المدة لكل منهما، وقد قام المنقص في الحمل فبقي الفصال على حاله . فقد رجع إلى الحق في باب ثبوت النسب من الثلاثين لهما، للحمل ستة أشهر والعامان للفصال . (البحر الرائق:٣/ ٢٢٣، كوئته).

محقق ابن همام رحمه الله په فتح القدير کې ليکي:

فكان الأصح قولهما، وهو مختار الطحاوي رحمه الله. (فتح القدير:٣/ ٤٤٤، دار الفكر).

په مجمع الانهر کي راځي:

وعندهما حولان، وهو قول الشافعي رحمه الله، وعليه الفتوى كما في المواهب، وبه أخذ الطحاوی رحمه الله. (مجمع الانهر: ١/ ٣٧٥).

علامه قاسم بن قطلوبغا رحمه الله په التصحيح والترجيح کي فرمايي:

وقال فی العون على الدراية: « وبقولهما نأخذ فی الفتوی » وهذا أولی، لأنه أجيب في شرح الهداية عما يستدل له به على الزيادة على سنتين، وبعد الجواب قال: فكان الأصح قولهما وهو مختار الطحاوی رحمه الله، وقد روي فيه عن ابن عباس رضي الله عنهما « لارضاع بعد الحولين » وعن ابن مسعود رضي الله عنه: « لا رضاع بعد الحولين » وروي رجوع أبي موسى الأشعري رضي الله عنه إلى قول ابن مسعود رضي الله عنه، وعن سعيد بن المسيب رحمه الله، « لارضاع بعد الحولين » وغير ذلک. (التصحيح والترجيح على مختصر القدوری: ٣٣٥، كتاب الرضاع، ط: بيروت).

مګر ځنګه چي د امام صاحب مذهب دوه نيم کاله دئ او دی د الله تعالى له دغه قول څخه استدلال کوي ﴿ وفصله ثلثون شهرا ﴾ (سورة الاحقاف: الآية: ١٥).

او د حمل څخه مراد د کوچني پورته کول دي.

وګورئ په مدار التنزيل کي راځي:

قال ابو حنيفة رحمه الله: والمراد به الحمل بالا كف. (مدارک التنزيل: ٤/ ١٤٣).

او د کوچني په غيږ کي ګرځول کله کله تر دوه نيمو کلونو پوري وي او د شېدو څخه د پرې کولو له پاره يې دوه نيم کاله ذکر کړل يعني له دوه کاله وروسته دي له تی څخه پرې کړي په شپږو مياشتو کي به د خوراک سره عادت ونيسي مګر د ضرورت له امله رضاعت هم جاري ساتلای سي ځکه نو احتياط دا دئ چي نکاح ونه سي خو فتوی د صاحبينو پر قول ده.

حضرت مولانا اشرف على تهانوی رحمه الله په بيان القرآن کي فرمايي:

داکثرو فتوی پر دغه ده چي د رضاعت مده دوه کاله ده. (بیان القرآن:۱/ ۱۳۹). والله تعالیٰ اعلم.

د رضاعي زوی د مطلقي سره د نکاح حکم

سوال: ایا یو شوک د خپل رضاعي زوی له ښځي سره د رضاعي زوی د طلاق ښخه وروسته نکاح کولای سي؟

الجواب: د خپل رضاعي زوی د طلاقي سوي ښځي سره نکاح کول روا نه ده.

وګورئ علامه آلوسی رحمه الله په روح المعاني کي فرمایي:

« وحلائل ابنائكم الذين من أصلابكم » .... وذكر لاسقاط حليلة المتبنى . وعن عطاء : أنها نزلت حين تزوج النبي صلى الله عليه وسلم امرأة زيد بن حارثة رضي الله تعالى عنه فقال المشركون في ذلك . وليس المقصود من ذلك إسقاط حليلة الابن من الرضاع، فإنها حرام أيضاً كحليلة الابن من النسب . (تفسير روح المعانى:٤/ ٤٦٠).

وفي تفسير النسفي : ﴿ الذين من أصلابكم ﴾ دون من تبنيتم، فقد تزوج النبي ﷺ زينب حين فارقها زيد ...... وليس هذا لنفي حليلة الابن من الرضاع. (تفسير النسفى:١/ ٢١٨).

وفى التفسير المظهرى : واما الابن بالرضاع وفروعه فانهم وان خرجوا بهذا القيد ، لكن حرمة حلائلهم ثبتت بنص الحديث ، اعنى قوله صلى الله عليه وسلم : « يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب » وعليه انعقد الإجماع . (التفسير المظهرى:٢/ ٦٢).

په المبسوط کي راځي:

وكما تحرم حليلة الابن نسبًا، فكذلك حليلة الابن من الرضاع عندنا ..... ولكنا نستدل بقوله ﷺ: « يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب ». (المبسوط:٤/ ١٨٥، دار الفكر).

په فتاوی شامي کي راځي:

وقوله تعالى: ﴿ وحلائل أبنائكم الذين من أصلابكم ﴾ والحليلة: الزوجة ...... وذكر الأصلاب لإسقاطه حليلة الابن المتبنى، لا لإحلال حليلة الابن رضاعاً، فإنها تحرم كالنسب. بحر وغيره. (فتاوى الشامي: ۳/ ۳۱، فصل في المحرمات، ط: سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د ښځي د شیدو په چښلو سره د رضاعت د ثبوت حکم

سوال: که یو سړي د خپلي ښځي د تیو څخه شیدي وخوړري نو ایا رضاعت په ثاتبیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د ښځي او خاوند تر منځ رضاعت نه ثابتیږي له دې امله چي د رضاعت د ثبوت له پاره د رضاعت په مده کي شیدې چښل ضروري دي او د رضاعت مده د مفتی به قول مطابق دوه کاله ده او د خاوند عمر په عامه توګه له دې څخه زیات دئ لهذا له دوو کلونو وروسته رضاعت نه ثابتیږي، البته که د چا خاوندیې په دوه کاله کي وچښي بیا د رضاعت حرمت ثابتیږي له دې سره سره د خاوند له پاره د ښځي شیدې چښل ناروا دي باید ځان ورڅخه وژغورل سي.

وګورئ مفتي بغداد علامه آلوسی حنفي رحمه الله فرمايي:

واستدل بالآية على أن أقصى مدة الإرضاع حولان، ولا يعتد به بعدهما فلا يعطى حكمه. (روح المعاني: ۲/ ۱۴۶).

په فتح القدير کي راځي:

وما في الترمذي من حديث أم سلمة أنه صلى الله عليه وسلم قال « لا يحرم من الرضاع إلا ما فتق الأمعاء في الثدي وكان قبل الفطام » قال الترمذي: حديث حسن صحيح. وفي سنن أبي داود من حديث ابن مسعود يرفعه « لا يحرم من الرضاع إلا ما أنبت اللحم وأنشر العظم » وما ذكره المصنف رحمه الله من قوله عليه الصلاة والسلام « لا رضاع بعد الفصال » والمراد نفي الحكم ..... وفي الموطإ وسنن أبي داود عن يحيى بن سعيد أن رجلا سأل أبا موسى

الأشعري رضي الله عنه فقال : إني مصصت عن امرأتي من ثديها لبناً فذهب في بطني، فقال أبو موسى رضي الله عنه لا أراها إلا قد حرمت عليك ، فقال عبد الله بن مسعود رضي الله عنه : انظر ما تفتي به الرجل. فقال أبو موسى : ما تقول أنت ؟ فقال عبد الله : لا رضاعة إلا ما كان في الحولين . فقال أبو موسى : لا تسألوني عن شيء ما دام هذا الحبر بين أظهركم . وفي الموطإ عن ابن عمر : جاء رجل إلى عمر بن الخطاب رضي الله عنه فقال : كانت لي وليدة فكنت أصيبها ، فعمدت امرأتي إليها فأرضعتها فدخلت عليها فقالت « دونک والله قد أرضعتها، قال عمر: أو جعها وأت جاريتک. فإنما الرضاعة رضاعة الصغير .(فتح القدير:٣/ ٤٤٥، دار الفكر).

وفي شرح العناية: قال: وقد اتفقت الصحابة على هذا .(شرح العناية على هامش فتح التدير:٣/ ٤٤٦).

وفى الهداية: قال: وإذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم، لقوله عليه الصلاة والسلام « لارضاع بعد الفصال » ولأن الحرمة باعتبار النشو، وذلک فى المدة إذ الكبير لايتربى به. (الهداية:٢/ ٣٥٠، كتاب الرضاع).

وفى الدر المختار: من رجل ثدي زوجته لم تحرم. وفي رد المحتار: « مص رجل » قيد به احترازا عما إذا كان الزوج صغيراً في مدة الرضاع فإنها تحرم عليه. (الدر المختار مع رد المحتار:٣/ ٢٢٥، باب الرضاع، ط: سعيد).

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

وإذا مص الرجل ثدي امرأته وشرب لبنها لم تحرم عليه امرأته لما قلنا أنه لا رضاع بعد الفصال .(فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ٤١٧، باب الرضاع). والله تعالى اعلم.

د وچي ښځي په شيدو سره د رضاعت حکم

سوال: د يوې ښځي له ډېرو کلونو څخه اولاد نه سته خو د يوې کوچني انجلۍ په خوله کي به يې تی ورکاوه اخريې په تيو کي شيدې پيدا سوي او هغه کوچني به رودئ نو ايا د دې ښځي خاوند د دې انجلۍ پلار وګرځېدئ ؟ که يې د بلي ښځي څخه زوی درلود نو د هغه هلک د دې انجلۍ سره نکاح کېدای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د دې ښځي له خاوند سره د دې انجلۍ نکاح روا نه ده ځکه دا ده ربيبه بلل کيږي ((وربائبكم التى فى حجور كم)) له امله نکاح ورسره حرامه ده مګر که يې د ربيبي له مور سره خلوت او جماع کړي نه وي نو بيا يې نکاح روا ده او د هلک نکاح له دې انجلۍ سره روا ده ځکه دغه هلک د ربيبي د مور نه دئ بلکي د بلي ښځي څخه دئ او د ربيبي مور ته د خاوند له امله شيدې نه دي ورغلي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله « طلق ذات لبن » أي منه بأن ولدت منه لأنه لو تزوج امرأة ولم تلد منه قط وتزل لها لبن وأرضعت ولداً لا يكون الزوج أباً للولد، لأن نسبته إليه بسبب الولادة منه، وإذا انتفت انتفت النسبة فكان كلبن البكر، ولهذا لو ولدت للزوج فنزل لها لبن فأرضعت به ثم جف لبنها ثم در فأرضعته صبية فإن لابن زوج المرضعة التزويج بهذه الصبية ، ولو كان صبياً كان له التزوج بأولاد هذا الرجل من غير المرضعة . بحر عن الخانية . (فتاوى الشامي:٣/ ٢٢١، باب الرضاع، ط: سعيد).

په فتح القدير کي راځي:

وبخلاف ما لو ولدت للزوج فنزل لها لبن فأرضعت به، ثم جف لبنها ثم در لها فأرضعت به صبية ، فإن لولد دفع المرضعة من غيرها التزوج بهذه الصبية ، لأن هذا ليس لبن الفحل

ليكون هو أباها كما لو لم تلد من الزوج أصلاً ونزل بها لبن فإنه لا يثبت بإرضاعها تحريم بين ابن زوجها ومن أرضعته، لأنها ليست بنته، لأن نسبته إليه بسبب الولادة منه ، فإذا انتفت النسبة فكان كلبن البكر . (فتح القدير :٣/ ٤٤٩، ط: دار الفكر – وكذا في فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ٤١٧، باب الرضاع). والله ﷻ اعلم.

که د دوا يا پېچکارۍ په ذريعه شيدې پيدا سي نو د رضاعت حکم

سوال: يوې ښځي د کوچني انجلۍ پالنه کول د ښځي شيدې نه سته خو که يې د دوا يا پېچکارۍ په ذريعه شيدې ورته راغلي او کوچني ته يې ورکړي نو رضاعت ثابتيږي او که نه؟ همدا ډول د هغې ښځي خاوند د دې کوچني رضاعي پلار بلل کيږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که د دوا او پېچکارۍ په ذريعه شيدې ورغلي وي نو رضاعت ثابتيږي يعني تی ورکونکي يې رضاعي مور بلل کيږي خو خاوند يې رضاعي پلار نه دئ ځکه دی د شيدو سبب نه دئ ګرځېدلي، البته که هغه ښځه د ده مدخوله وي نو دغه انجلۍ د ده ربيبه ده نکاح ورسره حرامه ده مګر که يې مخکي تر دخول او خلوة صحيحه طلاق ورکړي نو د دې انجلۍ سره يې نکاح روا ده .

وګورئ په فتاوی عالمګيري کي راځي:

بكر لم تتزوج لو نزل لها لبن فأرضعت صبيا صارت أما للصبي وتثبت جميع أحكام الرضاع بينهما ، حتى لو تزوجت البكر رجلًا ثم طلقها قبل الدخول بها لهذا الزوج أن يتزوج الصبية ، وإن طلقها بعد الدخول لا يكون له أن يتزوجها كذا في خزانة المفتين . (الفتاوى الهندية:١/ ٣٤٤ – وكذا في فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ٤١٧، باب الرضاع).

په درمختار کي راځي:

ويثبت أبوة زوج مرضعة إذا كان لبنها منه وإلا لا . وفي الشامي: قوله « وأبوة زوج مرضعة لبنها منه » المراد به اللبن الذي نزل منها بسبب ولادتها من رجل زوج . (الدر المختار مع الشامی:۳/ ۲۱۳، سعيد).

وفي الشامية: قوله « ولبن بكر » المراد بها التي لم تجامع قط بنكاح أو سفاح ...... والحرمة لا تتعدى إلى زوجها ، حتى لو طلقها قبل الدخول له التزوج برضيعتها ، لأن اللبن ليس منه قهستاني . أما لو طلقها بعد الدخول فليس له التزوج بالرضيعة لأنها صارت من الربائب التي دخل بأمها . (فتاوى الشامی:۳/ ۲۱۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په مخلوطو شيدو سره د رضاعت د ثبوت حکم

سوال: يوې ښځي خپلي شيدې د اوبو سره ګډې کړي او کوچنی ته يې ورکړي ايا په دغه سره رضاعت ثابتيږي او که نه؟

الجواب: د اوبو سره د ګډيدو په صورت کي به غالب ته اعتبار وي که اوبه پر شيدو غالبي وي او شيدې مغلوبي وي نو رضاعت نه ثابتيږي خو که شيدې وربانديي ډېري وي اوبه لږ وي او يا سره برابري وي په دواړو صورتو کي رضاعت ثابتيږي په نورو مائعاتو کي د غلبي مطلب دا دئ چي له دوو صفتونو څخه يو يعنی رنګ او يا خوند يې بدل سي يا ښکاره سي، البته که يې د ښځي شيدې په دوډئ ګډي کړي نو حرمت نه ثابتيږي.

وګورئ په هدايه کي راځي:

وإذا اختلط اللبن بالماء واللبن هو الغالب تعلق به التحريم، وإن غلب الماء لم يتعلق به التحريم ...... ونحن نقول : المغلوب غير موجود حكماً حتى لا يظهر في بمقابلة الغالب .

(الهداية:۲/ ۳۵۲، كتاب الرضاع).

په الاختيار کي راځي:

وإذا اختلط اللبن بخلاف جنسه كالماء والدهن والنبيذ والدواء ولبن البهائم فالحكم للغالب . (الاختيار لتعليل المختار:٣/ ١٣٤، بيروت).

په البحر الرائق کي راځي:

« ويعتبر الغالب لو بماء» ..... أي لو اختلط اللبن بما ذكر يعتبر الغالب، فإن كان الغالب الماء لا يثبت التحريم كما إذا حلف لايشرب لبناً لا يحنث بشرب الماء الذي فيه أجزاء اللبن . (البحر الرائق:٣/ ٢٢٨، كوئته – وكذا فى بدائع الصنائع:٤/ ٩، سعيد – وخزانة الفقه، ص ١٤٠، المكتبة الغفورية – والفقه الإسلامى وأدلته: ٧/ ٧٠٧ – وشرح النقاية: ١/ ٦٠٥ – والبناية للعينى: ٤/ ٧٠، مكتبة رشيدية).

په درمختار کي راځي:

ومخلوط بماء أو دواء أو لبن أخرى أو لبن شاة إذا غلب لبن المرأة، وكذا إذا استويا إجماعاً لعدم الأولوية. وفى الشامية: قوله (إذا غلب لبن المرأة) أي على أحد المذكورات. وفسر الغلبة في أيمان الخانية من حيث الإجزاء . وقال هنا : فسرها محمد في الدواء بأن يغيره عن كونه لبناً، وقال الثاني : إن غير الطعم واللون، لا إن غير أحدهما، نهر . ونحوه في بحر . ووفق في الدرر المنتقى فقال : تعتبر الغلبة بالإجزاء في الجنس ، وفي غيره بتغير طعم أو لون أو ريح كما روي عن أبي يوسف إلا أنه اعتبر التغير في غير الجنس بوصف واحد، والمذكور آنفاً أنه لا يعتبر إلا إذا غير الطعم واللون، نعم يوافقه ما في الهندية من اعتبار أحد الأوصاف إلا أنه لم يعزه لأبي يوسف . (الدر المختار مع الشامى:٣/ ٢١٨، باب الرضاع).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو خلط بالماء ..... فالعبرة للغالب كذا في الظهيرية ..... ولو استويا وجب ثبوت الحرمة، لأنه غير مغلوب، كذا في البحر الرائق. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٤٤- وكذا في الخانية على هامش الهندية:١/ ٤١٨).

په نورالايضاح کي راځي:

والغلبة في المائعات بظهور وصف واحد من مائع له وصفان فقط، كاللبن لها اللون والطعم ولا رائحة له. (نور الايضاح، ص: ٢٤، ط: مير محمد كتب خانه).

علامه عيني رحمة الله عليه فرمايي:

الأولى أن نقول إن الحرمة لاتتعلق بصورة الإرضاع ووجود اللبن كما في الكبير بالإجماع، بل يتعلق باعتبار إنشاز العظم وإنبات اللحم، والمغلوب لايحصل الإنشاز والإنبات، لأنه لايحصل التغذي به. (البناية:٤/ ٨٢١- وبدائع الصنائع:٤/ ٩، سعيد- درر الحكام في شرح غرر الاحكام:١/ ٣٥٧). والله تعالى اعلم.

د ويني په ورکولو سره د رضاعت د حرمت حکم

سوال: ډېر ځله د علاج له پاره يو څوک بل چا ته وينه ورکوي ايا د دې له امله يې په نسب او حرمت کي څه فرق راځي او که نه؟ حال دا چي فقهاء د شيدو له امله د حرمت او د نسب د ثبوت قول کوي؟

الجواب: د ويني ورکولو له امله حرمت نه ثابتيږي ځکه د شيدو له امله د حرمت ثبوت د قياس پر خلاف له نص څخه ثابت دئ ځکه نو نور شيان نه ورباندي قياسيږي همدا ډول تی رودونکي کوچني ته شيدي ورکول د غذا او نما په ډول وي نه د علاج په توګه او وينه ورکول د دوا او علاج له پاره وي له دې رضاعت له مدې يعني دوو کلونو وروسته حرمت نه ثابتيږي او رضاعت له مدې وروسته که د دوا په توګه د ښځي شيدې استعمال کړي بيا هم حرمت نه را ولي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن أم سلمة أنه صلى الله عليه وسلم قال « لا يحرم من الرضاع إلا ما فتق الأمعاء في الثدي وكان قبل الفطام » قال الترمذي : حديث حسن صحيح . وفي سنن أبي داود من حديث ابن مسعود يرفعه « لا يحرم من الرضاع إلا ما أنبت اللحم وأنشر العظم » يروى بالراء المهملة: أي أحياه، ومنه قوله تعالى : ﴿ ثم إذا شاء أنشره ﴾ .(فتح القدير:٣/ ٤٤٥، دار الفكر).

وفى الدر المختار: ويثبت التحريم فى المدة فقط . وفى الشامية : أما بعدها فإنه لايوجب التحريم، بحر . (الدر المختار مع رد المختار:٣/ ٢١١، سعيد).

علامه عيني رحمه الله په بنايه کي فرمايي:

إن الحرمة لاتتعلق بصورة الإرضاع ووجود اللبن كما فى الكبير بالإجماع بل يتعلق باعتبار إنشاز العظم وإنبات اللحم . (البناية فى شرح الهداية:٤/ ٨٢١).

همدا ډول وګورئ: (فتاوى فريديه:٥/ ١٣٨- وجديد فتهى مسائل:١/ ١٥١). والله تعالی اعلم.

په غير فطري توګه شيدې ورکولو څخه د حرمت د ثبوت حکم

سوال: فطري طريقه دا ده چي کوچني د مور د تی څخه شيدې ورو دي خو که د کومي وجي څخه شيدې جلا وايستل سوي بيا د کوچني په خوله او يا پزه کي واچول سوي يا يې کومه بله غير فطري طريقه اختيار کړل نو حرمت ثابتيږي او که نه؟

الجواب: په غير فطري طريقه که په هغه مده کي ورکړل سي د کوچني په خوله او يا پزه کي ور واچول سي بيا هم حرمت ثابتيږي تر داسي بريده چي د امام محمد رحمه الله په اند د حقنى په ذريعه هم حرمت ثابتيږي .

وګورئ په فتاوى عالمګيري کي راځي:

كما يحصل الرضاع بالمص من الثدي يحصل بالصب والسعوط والوجور ... وعند محمد رحمه الله تعالى - يثبت بالحقنة كذا في التهذيب . (الفتاوى الهندية:١/ ٣٤٤، كتاب الرضاع - وكذا في فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ٤١٧، باب الرضاع).

همدا ډول وګورئ: (جديد فقهى مسائل:١/ ١٥٣). والله ﷻ اعلم.



قال الله سبحانه وتعالى:

﴿ الرجال قوامون على النساء﴾. (سورة النساء: الآية ٣٤).

وقال تعالى:

﴿ ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف وللرجال عليهن درجة ﴾. (سورة البقرة: الآية ٢٢٨).

﴿ وعاشروهن بالمعروف ﴾. (سورة النساء: الآية ١٩).

وقال النبي ﷺ وإن لزوجك عليك حقاً . (صحيح بخارى، كتاب النكاح).

باب حقوق الزوجين

وقال رسول الله ﷺ استوصوا بالنساء خيرا . (صحيح بخارى، كتاب النكاح).

وعن معاوية القشيري أن النبي ﷺ سأله رجل ما حق المرأة على الزوج؟ قال: تطعمها إذا طعمت وتكسوها إذا كتسيت، ولاتضرب الوجه، ولاتقبح، ولاتجهر إلا فى البيت . (رواه أحمد، وابو دأود، وابن ماجه).

باب حقوق الزوجين

په خپل منځ کي د زوجينو يو د بل د حقوقو تفصيل

سوال: د زوجينو يو پر بل کوم حقوق دي؟ ايا ښځه د محکومي مينځي په ډول ده؟

الجواب: شريعت مطهره لکه څنګه چي د نکاح د قائمولو قانوني او اخلاقي هدايات بيان کړي دي همدا ډول يې د نکاح د تعلق د برابر ساتلو له پاره هم په اصولي توګه د خاوند او ښځي دواړو حقوق معلوم کړي دي د دې ټولو سره يې خاوند قوام يعني محافظ، نګران او خبر اخيستونکي ګڼلي دئ او په يوه درجه کي يې پر ښځه لوړ کړي دئ خو دا يې هم په ډاګه کړي ده چي د نارينه حيثيت د بادار او د ښځي حيثيت د مينځي نه دئ بلکي په بنيادي حقوقو کي دواړه سره برابر دي:

﴿ ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف وللرجال عليهن درجة ﴾ . (سورة البقرة، الاية:٢٢٨).

نو کوم حقوق چي د ښځو وي هغه د نارینه وو فرائض دي او کوم حقوق چي د نارینه وو ي هغه د ښځو فرائض دي . والله ﷻ اعلم.

په لنډه توګه د نارینه وو حقوق وګورئ:

١_ مهر اداء کول.

٢_ نفقه او سکنی ورکول د نفقې تفصیلات مخکي بیان سوه.

٣_ ښه رویه سره ورکول .

٤_ د ظلم او زیاتي څخه يې ساتل .

٥_ د ديني کارونو له امله هم د ښځي حق تلفي نه کول .

٦_ که يې له يوې څخه زياتي ښځي وي نو د دوی تر منځ د عدل او مساوات څخه کار اخيستل .

٧_ د ښځي او کوچنيانو علمي او ديني تربيه کول .

٨_ په غيرت کي اعتدال کول يعني نه به بدګماني کوي او نه به بېخي غافل وي .

٩_ نه به په خرڅ کي تنګي کوي او نه به د فضول خرڅ اجازه ورکوي.

١٠_ بېله ضرورته طلاق نه ورکول .

١١_ د دې محارمو او قريبانو ته د دې سره د ملاقات اجازه ورکول .

پر ښځو حقوق په لنډه توګه:

١_ د عصمت او عفت ساتنه کول.

٢_ د خاوند د مال ساتنه کول .

٣_ هر د نيکي په کار او حق خبره کي د خاوند اطاعت کول .

٤_ د ژوندانه په ضروریاتو کي میانه روي کول .

٥_ همېشه د خاوند احسان منل .

٦_ کوچنيانو ته تی ورکول .

٧_ د خاوند له اجازي پرته څوک کور ته نه راوستل .

٨_ بېله اجازې د کور څخه نه وتل .

٩_ بېله اجازې د ده له مال څخه نه ورکول .

١٠_ خاوند د مفلسي او یا بد شکلي له امله حقیر نه ګڼل .

١١_ که له شریعت څخه خلاف کوم کار له خاوند څخه ویني نو په ادب سره یې منع کول .

١٢_ د خاوند نوم نه اخیستل .

١٣_ دیو چا په وړاندې د خاوند شکایت نه کول .

١۴_ د زبان درازي څخه ځان ساتل .

١۵_ د خاوند له اقاربو سره بد چلند نه کول .

د دواړو تر منځ مشترک حقوق:

١_ د ښو اخلاقو ښکاره کول .

٢_ د دواړو لورو څخه په اعتدال سره د تکلیف برداشتول .

٣_ یو د بل سره نرمي کول .

۴_ یوازې د نفساني خواهشاتو تکمیل به یې مقصد نه وي بلکې د نکاح تعلق به یو مضبوط بیناد ثابتوي چې له امله یې دواړو ته سکون او راحت حاصل سي .

۵_ د الله ﷻ د حدودو قائمول مقصد ګرځول .

٦_ د نېک او صالح اولاد خواهش کول .

٧_ د کوچنیانو په پالنه کې د دواړو له پاره په پوره توګه برخه اخیستل .

٨_ د کوچنیانو د جسماني پالني سره په دیني تعلیم او تربیه کې د دواړو له پاره پوره ونډه اخیستل دلائل وګورئ :

قال الله سبحانه وتعالى : ﴿ الرجال قوامون على النساء﴾. (سورة النساء: الآية ٣٤).

وقال : ﴿ ولهن مثل الذي عليهن بالمعروف وللرجال عليهن درجة ﴾. (سورة البقرة: الآية ٢٢٨).

قال: ﴿ وعاشروهن بالمعروف ﴾. (سورة النساء، الآية ١٩).

وقال النبي ﷺ وإن لزوجک علیک حقاً. (صحیح البخاری: ٢/ ٧٨٣، باب الزوجک علیک حق، كتاب النكاح. قديمى).

وعن معاوية القشيري أن النبي ﷺ سأله رجل ما حق المرأة على الزوج؟ قال: تطعمها إذا طعمت وتكسوها إذا كتسيت، ولاتضرب الوجه، ولاتقبح، ولاتجهر إلا فى البيت. (رواه أحمد: ٤/ ٤٤٧/ ٢٠٠٢٧، ط: القاهرة - وابو دأود: ٢/ ٢١٠/ ١٢٤٤، ط: بيروت).

ژباړه: حضرت معاويه القشيري بيان کوي چي يو چا د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د ښځي حق پر خاوند څه دئ؟

ده مبارک ﷺ وفرمايل، چي کله ته خوراک کوي نو دې ته يې هم ورکوه چي کله ته جامه اغوندي دې ته يې هم ور واغونده او پر مخ يې مه وهه او بد ردمه ورته وايه او مه ورڅخه جلا کيږه مګر په کور کي يعني بل کور ته مه ورڅخه ځه، البته بستره ورڅخه جلا کولای سي.

وقال رسول الله ﷺ ((ألا واستوصوا بالنساء خيراً، فإنما هن عندكم عوان ليس تملكون منهن شيئاً غير ذلك، إلا أن يأتين بفاحشة مبينة، فإن فعلن فاهجروهن في المضاجع، واضربوهن ضرباً غير مبرح، فإن أطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلاً ألا وإن لكم على نسائكم حقاً، ولنسائكم عليكم حقاً، فأما حقكم على نسائكم، فلا يوطئن فراشكم من تكرهون، ولا يأذن في بيوتكم لمن تكرهون، ألا وحقهن عليكم أن تحسنوا إليهن في كسوتهن وطعامهن)). (رواه الترمذي: ١/ ٢٢٠، باب ماجاء في حق المرأة على زوجها – وابن ماجة، ص: ١٣٣، ب حق المرأة على الزوج).

وقال عليه الصلاة والسلام: خيركم خيركم لأهله، وأنا خيركم لأهلي . (رواه الترمذي: ٢/ ٢٢٨، باب فضل ازواج النبى ﷺ).

قال رسول الله ﷺ إن المرأة خلقت من ضلع لن تستقيم لك على طريقة فإن استمتعت بها استمتعت بها وبها عوج وإن ذهبت تقيمها كسرتها وكسرها طلاقها ". (رواه مسلم:١/ ٤٧٥، باب الوصية بالنساء).

قال عليه الصلاة والسلام : لا يجلد أحدكم امرأته جلد العبد ثم يجامعها في آخر اليوم. (رواه البخارى:٢/ ٧٨٤، باب مايكره من ضرب النساء).

قال رسول الله ﷺ : لو كنت آمرا أحدا أن يسجد لأحد ، لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها . (رواه الترمذي:١/ ٢١٩، باب ماجاء فى حق الزوج – وابن ماجة: ١٣٣).

په در مختار کي راځي:

وحقه عليها أن تطيعه في كل مباح يأمرها به، وله منعها من الغزل، ومن أكل ما يتأذى من رائحته، بل ومن الحناء والنقش إن تأذى برائحته، نهر . وفى الشامي: قوله (في كل مباح) ظاهره أنه عند الأمر به منه يكون واجبا عليها كأمر السلطان الرعية به . قوله : ومن أكل ما يتأذى به أي برائحته كثوم وبصل ويؤخذ منه أنه لو تأذى من رائحة الدخان المشهور له منعها من شربه . (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٣/ ٢٠٨، باب القسم، ط: سعيد).

وفى البحر الرائق: وذكر البقاعي فى المناسبات حديثاً لايسأل الرجل فيم ضرب زوجته وحديثاً آخر أنه نهى المرأة أن تشكو زوجها . (البحر الرائق:٣/ ٢٢٠، تتمة فى حقوق الزوجين).

په بدائع الصنائع کي راځي:

أما النكاح الصحيح ، فله أحكام ...... منها ، فحل الوطء إلا في حالة الحيض والنفاس والإحرام ...... ومنها حل النظر ، والمس من رأسها إلى قدميها في حالة الحياة ، ومنها ملك المتعة وهو اختصاص الزوج بمنافع بضعها وسائر أعضائها استمتاعاً .... ومنها ملك الحبس والقيد وهو صيرورتها ممنوعة عن الخروج والبروز ...... ومنها وجوب المهر على الزوج ..... ومنها ثبوت النسب ...... ومنها وجوب النفقة والسكنى ...... ومنها حرمة المصاهرة ...... ومنها الإرث من الجانبين جميعاً ...... ومنها وجوب العدل بين النساء في حقوقهن ..... ومنها وجوب طاعة الزوج على الزوجة ...... ومنها ولاية التأديب للزوج إذا لم تطعه فيما يلزم طاعته بأن كانت ناشزة فله أن يؤدبها لكن على الترتيب فيعظها أولاً على الرفق واللين ...... ومنها المعاشرة بالمعروف وإنه مندوب إليه ومستحب، قال الله تعالى : ﴿وعاشروهن بالمعروف﴾ قيل هي المعاشرة بالفضل والإحسان قولاً وفعلاً وخلقاً ...... وكذلك من جانبها هي مندوبة إلى المعاشرة الجميلة مع زوجها بالإحسان باللسان والطف في الكلام والقول المعروف الذي يطيب به نفس الزوج. (بدائع الصنائع:٢/ ٣٣١ – ٣٣٤، احكام النكاح، ط: سعيد – وكذا فى البحر الرائق:٣/ ٢٢٠،تتمة في حقوق الزوجين، كوئته).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (الفقه الإسلامی وأدلته:٧/ ٣٢٧-٣٤٢، حقوق الزواج وواجباته، دار الفكر – واسلامی فقه:٢/ ١٠٧-١٥٥ – وامداد الفتاوی:٢/ ١٨٥). والله ﷻ اعلم.

د ښځي پر ذمه د کور د کارونو حکم

سوال: ایا د ښځي پر ذمه د کور کارونه لازم دي او که نه؟

الجواب: که د ښځي تعلق له داسي کورنۍ سره وي چي هلته د کور کارونه ښځي نه کوي یا د کوم عذر، مریضي وغیره له امله د کور کار کول مشکل وي نو پر ښځه د کور کار کول لازم او ضروري نه

دي مګر که د دې خاندان ښځي کارونه کوي یا د خاوند په سرمایه کي دومره ګنجائش نه وي چي نوکر ونیسي نو پر ښځه دیانة د کور کار لازم دئ زموږ په ټولنه یعني جنوبي افریقه کي ښځي د صفایې څخه علاوه په عامه توګه د کور کار کوي ډوډئ او کتغ پخوي لهذا د دې ځای پر ښځو شرعاً د خاوند او بچیانو خدمت لازم دئ مګر دا چي په خپل منځي رضایي پخه نه کړي .

وګورئ په اسلام فقه کي راځي:

که ښځه له داسي کورنۍ څخه وي چیري چي خلک په خپله کار نه کوي بلکي په نوکریې کوي یا ښځه دومره کمزوري یا مریضه وي چي له امله د کور کار نه سي کولای نو خاوند یې پر کار نه سي مجبوره کولای بلکي د هغه له کار پرته به جامه او ډوډي ورکوي که داسي ښځه د خپل ذاتي کار له پاره یا د کور د کار له پاره ملازم غواړي نو خاوند که مالدار وي نو ملازم دي ونیسي خو که یې په سرمایه کي دومره ګنجائش نه وي چي ملازم ونیسي یا هغه ښځه په خپلي کورنۍ کي په خپله کار کوي نو د خاوند په کور کي به هم په خپله کار کوي او د نارینه ذمه داري دا ده چي د دباندي کارونه به په خپله کوي مثلا سود راوړل اوبه او بوټي وغیره راوړل که نارینه دا شیان نه راوړي نو پر ښځه یې ذمه داري نه سته، ځینو فقهاوو لیکلي دي چي د جامو مینځل د نارینه پر ذمه واجب نه دي بلکي یوازي اوبه او صابون راوړل ضروري دي که یې نارینه په مزدوري کوي نو دا به یې احسان وي خو دا هلته چي ښځه په خپل کور کي ورسره عادت وي یا نارینه صاحب قدرت نه وي او که یې ښځه عادی نه وي یا نارینه د قدرت خاوند وي نو د جامو د پرېمینځلو پیسې باید د حق په توګه یې ورکړي چي خادم ورکول کېدای سي نو د صحت او صفایې نور شیان هم ورکول کېدای سي، البته که ښځه دغه بار پر نارینه وانه چوي نو دا یې احسان دئ د دوی له پاره په کار ده چي د دوی تعلق یوازي قانوني نه وي بلکي اخلاقي هم وي یعني یو د بل د آرام خیال وساتي .(اسلام فقه: ۲/ ۱۱۷).

په فتاوی هندیه کي راځي:

وإن قالت : لا أطبخ ، ولا أخبز قال في الكتاب : لا تجبر على الطبخ والخبز ، وعلى الزوج أن يأتيها بطعام مهيإ أو يأتيها بمن يكفيها عمل الطبخ والخبز ، قال الفقيه أبو الليث رحمه الله

تعالى : إن امتنعت المرأة عن الطبخ والخبز إنما يجب على الزوج أن يأتيها بطعام مهيأ إذا كانت من بنات الأشراف لا تخدم بنفسها في أهلها ، وإن لم تكن من بنات الأشراف لكن بها علةً تمنعها من الطبخ والخبز أما إذا لم تكن كذلك فلا يجب على الزوج أن يأتيها بطعام مهيأ كذا في الظهيرية . قالوا : إن هذه الأعمال واجبة عليها ديانةً ، وإن كان لا يجبرها القاضي كذا في البحر الرائق . (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤٨، باب النفقة).

په درمختار کي راځي:

لأنه عليه الصلاة والسلام قسم الأعمال بين علي رضي الله عنه وفاطمة رضي الله عنها ، فجعل أعمال الخارج على علي رضي الله عنه والداخل على فاطمة رضي الله عنها مع أنها سيدة نساء العالمين بحر . (الدر المختار:٣/ ٥٧٩، باب النفقة، ط: سعيد).

وفي الطحطاوي : قوله قسم الأعمال أي أعمال المعيشة، قوله فجعل أعمال الخارج أي خارج البيت كاتيان الحطب والماء وتحصيل النفقة، قوله الداخل على فاطمة رضي الله عنها أي داخل البيت كالطحن والخبز والعجن . (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٢/ ٢٥٥، كوئته، نفقته – وكذا في البحر الرائق:٤/ ١٨٣، باب النفقة، كوئته). والله تعالى اعلم.

د ولادت د مصرف په اړه د خاوند د ذمه واري شرعي حکم

سوال: فقهاوو ليکلي دي چي د ښځي علاج د خاوند په ذمه نه دئ، مګر د ولادت په وخت کي چي کوم مصرف کيږي دا خو يوازي د ښځي ذاتي او شخصي کار نه دئ ايا د دې مصرف هم پر ښځي دئ که خاوند هم پکښي شريک دئ؟

الجواب: په دې صورت کي دا خبره محققه نه ده چي د ښځي علاج د خاوند پر ذمه نه دئ فقهاوو د خپل عرف او عادت پر بناء دا خبره ليکلي ده ځکه په هغه وخت کي تداوي اساسي ضرورت نه بلل

کېدل مګر په اوس وخت کي علاج اساسي ضرورت ګرځېدلي دئ. نو ځکه بايد د خاوند پر ذمه سي د دې بحث څه تفصيل په باب النفقات کي تېر سو.

د ولادت د مصرف متعلق فقهاوو ليکلي دي چي که خاوند قابله را وغواړي نو مصرف پر خاوند دئ او که يې ښځه را وغواړي مصرف پر ښځه دئ او که په خپله راغله د ځينو په اند مصرف پر خاوند دئ او د ځينو په اند پر ښځه دئ مګر علامه شامي رحمه الله دې ته ترجيح ورکړي چي مصرف پر خاوند دئ ځکه اکثر ګټه د اولاد وي او اولاد د پلار دئ نفقه يې په پلار اړه لري مګر د موجوده زمانې د ولادت مصارف هم اساسي ضرورت بلل کيږي، نو ځکه بايد په هر صورت مصارف ټول بايد خاوند برداشت کړي، البته که خاوند مسکين وي او ښځه اباده وي نو په داسي صورت کي د ښځي مور او پلار مصارف وکړي بهتر کار دئ، مشکل پکښي نه سته.

په درمختار کي راځي:

وفيه أجرة القابلة على من استأجرها من زوجة وزوج ولو جاءت بلا استئجار قيل عليه وقيل عليها . وفي الشامي: قوله قيل عليه عبارة البحر عن الخلاصة : فلقائل أن يقول عليه لأنه مؤنة الجماع ولقائل أن يقول عليها كأجرة الطبيب وكذا ذكر غيره ومقتضاه أنه قياس ذو وجهين لم يجزم أحد من المشايخ بأحدهما خلاف ما يفهمه كلام الشارح ويظهر لي ترجيح الأول لأن نفع القابلة معظمه يعود إلى الولد فيكون على أبيه تأمل . (الدر المختار مع فتاوى الشامي:٣/ ٥٨٠، باب النفقات – وكذا في البحر الرائق:٤/ ١٧٧ – وفتح القدير:٤/ ٣٨٧، ط: دار الفكر).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (سلامی فقه:٢/ ١١٩). والله تعالیٰ اعلم.

د ښځي له رضايت پرته بل ځاى اوسېدل

سوال: د ښځي له رضايت پرته خاوند هغه بل ځاى په اوسېدلو مجبورولاى سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د مهر له اداء وروسته په ښار کي خاوند د بېلولو حق لري. ښځه د انکار حق نه لري، البته که يې مهر نه وي اداء کړي نو بيا د انکار حق لري، همدارنګه که بل ښار او يا بل ملک ته خاوند ځي. نو ښځه په سفر نه سي مجبورولاى ځکه نن زمانه د فساد زمانه ده که ښځه د قريبانو له

نظارت څخه ليري سي نو اكثر وختونه ظلم پر كيږي لهذا فقهاء دا ليكلي چي په داسي صورت كي ښځه د انكار حق لري.

په فتاوى شامي كي راځي:

قال في البحر عن شرح المجمع : وأفتى بعضهم بأنه إذا أوفاها المعجل والمؤجل وكان مأموناً سافر بها وإلا لا، لأن التأجيل إنما يثبت بحكم العرف، فلعلها إنما رضيت بالتأجيل لأجل إمساكها في بلدها، أما إذا أخرجها إلى دار الغربة فلا، قوله لكن في النهر الخ ومثله في البحر حيث ذكر أولا أنه إذا أوفاها المعجل فالفتوى على أنه يسافر بها كما في جامع الفصولين، وفي الخانية والولوالجية أنه ظاهر الرواية، ثم ذكر عن الفقيهين أبي القاسم الصفار وأبي الليث أنه ليس له السفر مطلقاً بلا رضاها فساد الزمان لأنها لا تأمن على نفسها في منزلها فكيف إذا خرجت وأنه صرح في المختار بأن عليه الفتوى . وفي المحيط أنه المختار، وفي الولوالجية أن جواب ظاهر الرواية كان في زمانهم، أما في زماننا فلا، وقال: فجعله من باب اختلاف الحكم باختلاف العصر والزمان . (فتاوى الشامى:٣/ ١٤٦، باب المهر – وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٢/ ٦٤، باب المهر – وكذا فى البحر الرائق:٣/ ١٧٩، باب المهر، كوئته).

وفي البحر أيضاً : فقد اختلف الإفتاء والأحسن الإفتاء بقول الفقيهين من غير تفصيل واختاره كثير من المشايخ كما في الكافي وعليه الفتوى وعليه عمل القضاة في زماننا كما في أنفع الوسائل . (البحر الرائق:٢/ ١٨٠، كوئته – وكذا في منحة الخالق على البحر الرائق:٣/ ١٨٠ – وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٣١٧، باب المهر).

علامه قاضي د ابو الليث د قول له بيان وروسته وايي:

وله أن يخرجها من المصر إلى القرية ومن القرية إلى المصر ومن القرية إلى القرية لأن النقل إلى ما دون السفر لا يعد غربة ويكون ذلک بمنزلة النقل من محلة إلى محلة . (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية: ١/ ٣٨٦، باب المهر). والله ﷻ اعلم.

د مور او پلار ملاقات ته د ښځې د تللو حکم

سوال: ښځه ورځي وروسته ښځه د مور او پلار ملاقات ته تللای سي؟

الجواب: په دې صورت کي د والدينو د ملاقات د وخت د تعين مدار پر عرف دئ زموږ د عرف په اساس له والدين نژدې وي نو هر هفته ملاقات کولای سي که ليري وي نو په يوه مياشت کي او که ډېر ليري وي نو په کال کي دوه يا درې ځلي د تللو اجازه بايد ورکړل سي.

په درمختار کي راځي:

ولايمنعها من الخروج إلى الوالدين في كل جمعة إن لم يقدرا على إتيانها على ما اختاره فى الاختيار . وفى الشامية: الذي رأيته فى الاختيار شرح المختار: هكذا قيل لايمنعها من الخروج إلى الو الدين .... وعن أبي يوسف رحمه الله في النوادر تقييد خروجها بأن لا يقدرا على إتيانها فإن قدرا لا تذهب وهو حسن، وقد اختار بعض المشايخ منعها من الخروج إليهما والحق الأخذ بقول أبي يوسف إذا كان الأبوان بالصفة التي ذكرت، وإلا ينبغي أن يأذن لها في زيارتهما في الحين بعد الحين على قدر متعارف، أما في كل جمعة فهو بعيد، فإن في كثرة الخروج فتح باب الفتنة خصوصاً إذا كانت شابة والزوج من ذوي الهيئات، بخلاف خروج الأبوين فإنه أيسر، وهذا ترجيح منه لخلاف ما ذكر في البحر أنه الصحيح المفتى به من أنها تخرج للوالدين في كل جمعة بإذنه وبدونه . (الدر المختار مع فتاوى الشامي: ٣/ ٦٠٢، ط: سعيد).

وفي تقريرات الرافعي : ما ذكره في البحر عزاه إلى الخانية ونصه قالوا الصحيح أنه لا يمنعها من الخروج إلى الو الدين ولا يمنعهما من الدخول عليها في كل جمعة .... وعليه الفتوى كما في الخانية. (تقير الرافعي:۳/ ۲۵۲، ط: سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وقيل: لا يمنعها من الخروج إلى الو الدين في كل جمعة مرة وعليه الفتوى . (الفتاوى الهندية:۱/ ۵۵۷، باب النفقات، فصل في السكنى).

وفي فتاوى قاضي خان قالوا ليس للمرأة أن تخرج بغير إذن الزوج إلا بأسباب معدودة ومنها الخروج إلى زيارة الو الدين وتعزيتهما وعيادتهما وزيارة المحارم. (قاضي خان على الهندية:۱/ ٤٤٣، فصل في حقوق الزوجية). والله تعالى اعلم.

د نامسلمان مور او پلار د ملاقات حکم

سوال: زموږ په سيمه کي يوې ښځي نوي اسلام قبول کړي او له مسلمان نارينه سره يې واده کړي دئ که د دې ښځي غير مسلم والدين مريضان سي ايا ملاقات او عيادت ته يې ورتلای سي او که نه؟ همدارنګه که يې په محارمو کي څوک وفات سي څه حکم لري؟

الجواب: په دې صورت کي که والدين مسلمان وي او که کافر وي د ورتلو او ملاقات اجازه شرعاً سته.

الله تعالى فرمايي:

﴿وصاحبهما في الدنيا معروفًا﴾. (سورة لقمان: الآية:۱۵).

په بخاري شريف کي راځي:

وعن أسماء بنت أبي بكر رضي الله عنهما، قالت : قدمت علي أمي وهي مشركة في عهد رسول الله ﷺ، فاستفتيت رسول الله ﷺ، قلت : وهي راغبة أفأصل أمي ؟ قال: نعم، صلي أمك . (رواه البخاري:۱/ ۳۵۷، باب الهدية للمشركين).

همدارنګه که نور محارم هم غير مسلم وي د هغوی د عيادت او يا تعزيت له پاره ورتلل جائز دي، البته په جنازه او نورو مراسمو کي به ګډون نه کوي.

په درمختار کي راځي:

ولا يمنعها من الخروج إلى الو الدين في كل جمعة إن لم يقدرا على إتيانها .... ولو كافراً وإن أبي الزوج، فتح . وفي الشامية : قوله ولو كافراً لأن ذلك من المصاحبة بالمعروف المأمور بها. قوله وإن أبى الزوج لرجحان حق الوالد . (الدر المختار مع الشامي:۳/ ۶۰۳، باب النفقة، ط: سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

إذا كان لرجل أو لامرأة والدان كافران عليه نفقتهما وبرهما وخدمتهما وزيارتهما فإن خاف أن يجلباه إلى الكفر إن زارهما جاز أن لا يزورهما كذا في الخلاصة ..... وإذا مات الكافر قال لوالده أو قريبه في تعزيته : أخلف الله عليك خيرًا منه وأصلحك أي أصلحك بالإسلام ورزقك ولدًا مسلمًا لأن الخيرية به تظهر كذا في التبيين . (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۴۸، باب اهل الذمة). والله ﷻ اعلم.

د محارمو ملاقات ته تلل

سوال: ښځه له والدينو ماسوا د نورو محارمو ملاقات ته تلای سي او که نه؟

الجواب: له والدينو ماسوا د نورو محارمو ملاقات ته په کال کي يو ځل د تللو اجازه بايد ورکړل سي، البته که رضايت وي نو څو ځلي تلل هم څه مشکل نه لري.

په فتاوی شامي کي راځي:

وللمحارم في كل سنة مرة هو المختار. (فتاوى الشامي:۳/ ۶۰۲، باب النفقة، ط: سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

قالوا الصحيح أنه لا يمنعها من الخروج إلى الوالدين ولا يمنعهما من الدخول عليها في كل جمعة وفي غيرهما من المحارم في كل سنة ..... وفي الخلاصة معزياً إلى مجموع النوازل يجوز للرجل أن يأذن لها بالخروج إلى سبعة مواضع زيارة الأبوين وعيادتهما وتعزيتهما أو أحدهما وزيارة المحارم . (البحر الرائق:٤/ ١٩٥، باب النفقة، ط: كوئته).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وهل يمنع غير الأبوين من الزيارة قال بعضهم : لا يمنع المحرم من الزيارة في كل شهر . وقال مشايخ بلخ : في كل سنة وعليه الفتوى . وكذا لو أرادت المرأة أن تخرج لزيارة المحارم كالخالة والعمة والأخت فهو على هذه الأقاويل كذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية: ١ / ٥٥٧، باب النفقة، الفصل الثاني في السكنى). والله تعالى اعلم.

د ښځي او خاوند د جلا بستري حکم

سوال: د رسول الله ﷺ او صحابه وو کرامو په زمانه کي د ښځي او خاوند يوه بستره وه او که جلا جلا ايا ټوله شپه به په يو ځای کي بيده کېدل او که جلا جلا همدارنګه فقهاء څه وايي؟

الجواب: له احاديثو او فقهي ښخه داسي معلوميږي چي په عمومي احوالو کي د ښځي او خاوند بيده کېدل په يوه بستره وي مګر له ځيني احاديثو او فقهي عبارتو ښخه داسي معلوميږي چي د حيض او نفاس په شپو کي په جلا بستره بيده کېدل په کار دي همدارنګه دا موضوع د عرف او عادت سره هم تعلق لري، په ډېرو ځايو کي د اولاد له پيدايښت ښخه وروسته ښځه او خاوند بستره جلا کوي په ځينو ځايو کي بيا هر کس جلا جلا خونه لري، مطلب دا چي جلا اوسېدل او ګډ دواړه روا دي، خو بهتر ګډ دي، البته د حيض او نفاس په شپو کي که څوک په ځان مطمئن نه وي نو بيا جلا

اوسېدل په کار دي، ځکه هلته بیا د ګناه بېره وي په ځانګړي ډول ځوانان. البته که اطمنان وي نو بیا څه مشکل نه سته.

لاندي احادیث مطالعه کړي.

۱ـ روى الشيخان عن أم سلمة ﵂ واللفظ لمسلم أنها قالت: بينما أنا مضطجعة مع رسول الله ﷺ في الخميلة إذ حضت فانسللت. الخ. (مسلم شريف:۱/ ۱۴۲، الاضطجاع مع الحائض – وبخارى شريف:۱/ ۴۶، النوم مع الحائض).

۲ـ وروى البيهقى بسنده عن عائشة ﵂ قالت: كنت مع رسول الله ﷺ في لحاف واحد فانسللت فقال: ما شأنك. (السنن الكبرى للبيهقى:۱/ ۳۱۱، مباشرة الحائض).

۳ـ وروي ابن أبي شيبة بسند صحيح عن عائشة ﵂ قالت: فقدت رسول الله ﷺ ذات ليلة من الفراش فالتمسته، فوقعت يدي. (المصنف لابن أبي شيبة:۱۵/ ۷۶/ ۲۹۷۵، المجلس العلمى).

۴ـ وفى السنن الكبرى للبيهقى: عن أم المؤمنين عائشة ﵂ أنها قالت: فقدت رسول الله ﷺ وكان معى على فراشى، فوجدته ساجدًا. (بيهقى سنن الكبرى:۲/ ۱۱۶، ابواب السجود، باب ضم العقبين).

۵ـ وعن عائشة ﵂ قالت: طلبت رسول الله ﷺ ذات ليلة في فراشي فلم أصبه..... (السنن الكبرى للنسائى:۴/ ۴۶۸، والمستدرك للحاكم:۲/ ۳۴۹).

۶ـ وذكر الإمام البخاري في بداية كتاب الصلاة عن عروة أن رسول الله ﷺ كان يصلى وعائشة متعرضة بينه وبين القبلة على الفراش الذي كانا ينامان عليه. (بخارى شريف:۱/ ۵۶، باب الصلاة على الفراش).

۷- روى البخاري عن كريب مولى ابن عباس أن عبد الله بن عباس رضي الله عنه أخبره أنه بات ليلة عند ميمونة زوج النبي ﷺ وهي خالته فاضطجعت في عرض الوسادة واضطجع رسول الله ﷺ وأهله في طولها فنام رسول الله ﷺ . (رواه البخارى:۱/ ۳۰/ ۱۸۳، باب قرائة القرآن).

۸_ وفي مناقب المستدرك للحاكم في بيان وفاة أبي بكر الصديق رضي الله عنه عن عائشة رضي الله عنها .... وحمل على سرير النبي ﷺ وهو سرير عائشة رضي الله عنها الذي كانت تنام عليه. (المستدرك للحاكم:۳/ ٦٦/ ٤٤٠۹).

۹_ وأخرج البخاري في النفقات والدعوات قصة فاطمة رضي الله عنها، وفيها: فلما جاء أخبرت عائشة رضي الله عنها قال: فجاءنا وقد أخذنا مضاجعنا فذهبنا نقوم فقال: على مكانكما فقعد بيني وبينها .... فقال: .... إذا أخذتما مضاجعكما أو أو يتما إلى فراشكما فسجا ۳۳، واحمدا ۳۳، وكبرا ۳٤. (رواه البخاري:۲/ ۸۰۷، باب عمل المرأة في بيتها).

۱۰_ وقال ابن رجب الحنبلي في شرح البخاري: عن ابن سيرين ، قال : سألت عبيدة : ما للرجل من امرأته إذا كانت حائضاً ؟ قال : الفراش واحد ، واللحاف شتى ..... وقد روي أن النبي ﷺ كان ينام مع الحائض حيث لم يكن لهم سوى فراش واحد فلما وسع عليهم اعتزل نسائه في حال الحيض . (فتح الباري لابن رجب، باب مباشرة الحائض:۱/ ٤۱۷).

وقال المناوي رحمه الله: أن السنة أن يبيت الرجل مع أهله في فراش واحد ولا يجري على سنن الأعاجم من كونهم لا يضاجعون نسائهم بل لكل من الزوجين فراش فإذا احتاجها يأتيها أو تأتيه . (فيض القدير:۱/ ۳۰۹).

وفيه أيضاً: أن الأحب أن يبيت الرجل مع زوجته في فراش واحد . (فيض القدير:۱/ ۳٤۳).

وأخرج مسلم وأبو داؤد والنسائى عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال له: فراش للرجل وفراش لامرأته والثالث للضيف والرابع للشيطان . (مسلم شريف:٢/ ٤٩١، اللباس، كراهة ما زاد على الحاجة – وابو داؤد شريف:٢/ ٢١٥، اللباس، باب فى الفراش – وسنن النسائى:٢/ ٢٩، باب الفراش).

وقال الإمام النووي في شرح هذا الحديث:

وأما تعديد الفراش للزوج والزوجة فلا بأس به ؛ لأنه قد يحتاج كل واحد منهما إلى فراش عند المرض ونحوه وغير ذلك ، واستدل بعضهم بهذا على أنه لا يلزمه النوم مع امرأته ، وأن له الانفراد عنها بفراش ، والاستدلال به في هذا ضعيف لأن المراد بهذا وقت الحاجة كالمرض وغيره كما ذكرنا ، وإن كان النوم مع الزوجة ليس واجبًا لكنه بدليل آخر ، والصواب في النوم مع الزوجة أنه إذا لم يكن لواحد منهما عذر في الانفراد فاجتماعهما في فراش واحد أفضل ، وهو ظاهر فعل رسول الله ﷺ على قيام الليل ، فينام معها ، فإذا أراد القيام لوظيفته قام وتركها ، فيجمع بين وظيفته وقضاء حقها المندوب، وعشرتها بالمعروف ، لا سيما إن عرف من حالها حرصها على هذا ، ثم إنه لا يلزم من النوم معها الجماع . (شرح النووى على الصيح لمسل:٢/ ١٩٤).

وقال المناوي: قيل وفيه أنه لا يلزمه المبيت مع زوجته بفراش ورد بأن النوم معها وإن لم يجب لكن علم من أدلة أخرى أنه أولى حيث لا عذر لمواظبة النبي ﷺ. (فيض القدير:٤/ ٤٢٤).

د فقهاوو عبارات وګورئ:

په محيط برهاني کي راځي:

ولا ينبغي أن يعتزل فراشها، فإن ذلك تشبه باليهود، وقد نهينا عن التشبه بهم؛ روي أن ابن عباس رضي الله عنهما فعل ذلك، فبلغ ميمونة رضي الله عنها، فأنكرت عليه وقالت: أترغب عن سنة رسول الله ﷺ تضاجعنا في فراش واحد في حالة الحيض. (المحيط البرهاني: كتاب الاستحسان والكراهية، الفصل التاسع، مباشرة الحائض).

په فتاوى شامي کي راځي:

حاصله أنه لو وجد الزوجان في فراشهما منيا ولم يذكرا احتلاماً. (فتاوى الشامي: ۱/ ۱٦٤).

له ځينو فقهي عباراتو څخه معلوميږي چي د ضرورت په وخت کي دوه بستري په کار دي:

وګورئ په فتح القدير کي راځي:

وينبغي أن يكون لها فراش على حدة ولا يكتفي بفراش واحد لهما لأنها قد تنفرد في الحيض والمرض، وفي الأثر: فراش لك وفراش لأهلك وفراش للضيف، والرابع للشيطان. (فتح القدير: ٤/ ۳۸۸، باب النفقة، دار الفكر).

په البحر الرائق کي راځي:

قال شمس الأئمة في شرح النفقات: ذكر لها فراشًا على حدة ولم يكتف بفراش واحد؛ لأنها ربما تعتزل عنه في أيام الحيض أو في زمان مرضها. (البحر الرائق: ٤/ ۱۷۷، باب النفقة - وفتاوى الشامي: ۳/ ٥۸٤ - والمحيط: ٤/ ۱۷۹، نفقة الزوجات).

د مالکي فقهي په کتاب التاج والاکليل کي راځي:

ابن شاس: من له زوجة واحدة لا يجب مبيته معها، ابن عرفة: الأظهر وجوبه أو تبييته معها امرأة ترضى لأن تركها وحدها ضرر ...... وفي صحيح مسلم أن رسول الله ﷺ قال: فراش لرجل وفراش ..... وفي نوازل ابن الحاج: قد يستدل من هذا الحديث أنه ليس على

الرجل أن ينام مع امرأته في فراش واحد إنما حقها عليه في الوطء خاصةً. (التاج والاكليل:٥/ ٤٩١، كتاب القسم – ومواهب الجليل:٥/ ٥٥١، باب فى النفقة).

د شافعي فقهي په کتاب نهاية المحتاج کي راځي:

ويندب أن لايخلى الزوجة في كل أربع ليال.... وأن يناما في فراش واحد كما في الجواهر حيث لا عذر فى الانفراد. (نهاية المحتاج:٦/ ٣٨٠). والله ﷻ اعلم.

د خاوند په مخکي د بدن لوڅولو حکم

سوال: د ښځي له پاره دا جواز لري چي د خاوند په مخکي کالي وکاږي او بدن لوڅ کړي؟

الجواب: په دې صورت کي ښځه او خاوند دیو او بل په مخکي بدن لوڅولای سي، البته مخصوص اندام ته کتل اولی کار نه دئ.

په حديث شريف کي راځي:

عن بهز بن حكيم، عن أبيه، عن جده، قال: قلت: يا رسول الله! عوراتنا، ما نأتي منها، وما نذر؟ قال: احفظ عورتك إلا من زوجتك، أو ما ملكت يمينك. (رواه ابن ماجة:١٣٨).

وعن عائشة رضي الله عنها قالت: ما رأيت من رسول الله ﷺ ولا رأى مني مع طول صحبتي أياه.

(أخرجه ابن ماجة فى النكاح، باب التستر عند الجماع).

په محيط برهاني کي راځي:

أما نظر الرجل إلى زوجته ومملوكته: فهو حلال من فرقها إلى قدمها، عن شهوة وبغير شهوة، وهذا ظاهر؛ إلا أن الأولى أن لا ينظر كل واحد منهما إلى عورة صاحبه، قالت عائشة رضي الله عنها: ما رأيت من رسول الله ﷺ، ولا رأى مني مع طول صحبتي إياه، وقال عليه السلام: «إذا أتى أحدكم أهله فليستتر ما استطاع، ولا يتجردان تجرد البعير»، وكان ابن عمر رضي الله عنهما يقول: الأولى أن ينظر الرجل إلى فرج امرأته وقت الوقاع ليكون أبلغ في تحصيل معنى اللذة، وعن أبي

يوسف في «الأمالي» قال: سألت أبا حنيفة رحمه الله عن الرجل يمس فرج امرأته، أو تمس هي فرجه ليتحرك عليها؛ هل ترى بذلك بأساً؟ قال: أرجو أن يعظم الأجر. (المحيط البرهاني:٦/ ٦٤، كتاب الاستحسان والكراهية، الفصل التاسع، مكتبة الرشيدية – وكذا في البحر الرائق ......، والعناية في شرح الهداية :...... والفتاوى الهندية: ٥/ ٣٢٧، الباب الثامن – وفتاوى الشامي:٦/٣٦٦، فصل في النظر والمس – ومعارف القرآن:٦/ ٤٠٣).

علامه سرخسي رحمه الله فرمايي:

فأما نظره إلى زوجته ومملوكته فهو حلال من قرنها إلى قدمها عن شهوة أو عن غير شهوة لحديث أبي هريرة رضي الله عنه قال غض بصرك إلا عن زوجتك وأمتك وقالت عائشة رضي الله عنها: كنت أغتسل أنا ورسول الله ﷺ من إناء واحد وكنت أقول: بق لي وهو يقول: بقي لي ولو لم يكن النظر مباحاً ما تجرد كل واحد منهما بين يدي صاحبه ولأن ما فوق النظر وهو المس والغشيان حلال بينهما قال تعالى : والذين هم لفروجهم حافظون إلا على أزواجهم أو ما ملكت أيمانهم . الآية إلا أن مع هذا الأولى أن لا ينظر كل واحد منهما إلى عورة صاحبه لحديث عائشة رضي الله عنها كما تقدم ذكره . (المبسوط للسرخسي:١٠/ ١٤٨، كتاب الاستحسان، دار الفكر). والله تعالى اعلم.

ښځه او خاوند او د يو بل مخصوص اندام ته کتل

سوال: ايا ښځه او خاوند په خپل منځ کي د يو بل مخصوص اندام ته کتلای سي او که نه؟ ايا دا خبره صحيح ده چي له دې څخه ناقص الخلقت اولاد پيدا کيږي؟

الجواب: ښځه او خاوند د يو بل ټول بدن ته کتلای سي چي په دې کي مخصوص اندام هم داخل دئ، البته د حضرت عائشه رضي الله عنها د روايت پر اساس مخصوص اندام ته کتل خلاف اولى دي، مګر له ځينو اثارو څخه چي د ناقص الخلقت خبره معلوميږي هغه اثار د محدثينو په اند صحيح نه دي،

بلکي ابن جوزي او نورو موضوعي بللي دي، البته په عمومي ډول خپل او يا د ښځي مخصوص اندام ته کتل ښه کار نه دئ، په طبي اعتبار ځيني نقصانات هم لري، مثلاً حافظه خرابېدل او داسي نور نو ځان ورڅخه ساتل بهتر کار دئ.

وګورئ په ابن ماجه کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها، قالت : ما نظرت ، أو ما رأيت فرج رسول الله ﷺ قط. وفي رواية له عن عتبة بن عبد السلام قال: قال رسول الله ﷺ : إذا أتى أحدكم أهله فلتستتر ولا يتجرد تجرد البعيرين . (رواهما ابن ماجة:١/ ١٣٨، باب التستر عند الجماع).

حافظ ابن حجر رحمة الله عليه په تلخيص الحبير کي فرمايي:

قوله روي أنه صلى الله عليه وسلم قال "النظر في الفرج يورث الطمس" رواه بن حبان في الضعفاء من طريق بقية عن ابن جريج عن عطاء عن ابن عباس بلفظ : إذا جامع الرجل زوجته فلا ينظر إلى فرجها فان ذلك يورث العشا ، قال : وهذا يمكن أن يكون بقية سمعه من بعض شيوخه الضعفاء عن بن جريج فدلسه. وقال بن أبي حاتم في العلل سألت أبي عنه فقال: موضوع وبقية مدلس . وذكر بن القطان في كتاب أحكام النظر أن بقي بن مخلد رواه عن هشام بن خالد عن بقية قال نا ابن جريج وكذلك رواه بن عدي عن ابن قتيبة عن هشام فما بقي فيه إلا التسوية، وقد ذكره بن الجوزي في الموضوعات وخالف بن الصلاح فقال: انه جيد الإسناد كذا قال وفيه نظر . (التلخيص الحبير فى تخرج أحاديث الرافعى الكبير:٣/ ٣١٦/ ١٤٨٩،ط دار الكتب العلمية).

ابن جوزي په موضوعات کي وايي:

عن ابن جريج عن عطاء عن ابن عباس قال: قال رسول الله ﷺ: " إذا جامع أحدكم زوجته أو جاريته فلا ينظر إلى فرجها، فإن ذلك يورث العمى ". قال أبو حاتم بن حبان: كان بقية يروى عن كذابين وثقاة ويدلس، وكان له أصحاب يسقطون الضعفاء من حديثه ويسوونه فيشبه أن يكون سمع هذا من بعض الضعفاء عن ابن جريج ثم يدلس عنه، و التزق به، وهذا موضوع. (الموضوعات لابن الجوزى:۲/ ۲۷۱).

وكذا فى نصب الراية لأحاديث الهداية مع حاشيته بغية الالمعى فى تخريج الزيلعى:۴/ ۲۴۸ – وجامع الاحاديث للامام السيوطى:۳/ ۳۵/ ۱۷۴ – وفى « احاديث لاتصح » لسليمان بن صالح الخراشى:۱/ ۳).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (شرح الطريقة المحمدية، جلد دوهم، ۴۱۹ – الصنف الرابع من الاصناف التسعة فى بيان آفات العين الباصرة – ومجمع الانهر شرح ملتقى الابحر، كتاب الكراهية فى بيان أحكام النظر). والله ﷻ اعلم.

د جماع کولو په وخت کي خبري کول

سوال: د جماع کولو په وخت کي خبري کول څه حکم لري؟ مکروه دي او که جائز؟

الجواب: د جماع په وخت کي خبري کول مکروه نه دي مګر له بل چا سره خبري کول مکروه دي.

مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

په حالت جماع کي خبري کول مکروه كما فى الدر المختار: ويكره الكلام فى المسجد وخلف الجنازه وفى الخلاء وفي حالة الجماع، **خو دا هغه وخت چي له بل چا سره وي له خپلي ښځي سره مکروه نه دي.** (امداد المفتين:۲/ ۱۰۳۲). والله ﷻ اعلم.

د تناسل عضوه په خوله کي نيول

سوال: ايا ښځي ته روا دي چي د خاوند د تناسل عضوه په خوله کي ونيسي ايا خاوند ته دا کار روا دئ چي د ښځي په خوله کي ورکړي؟

الجواب: په دې صورت کي له دې کار څخه ځان ساتل لازم دي ځکه خوله د خوراک، چښاک او ذکر له پاره ده همدارنګه په دې وخت کي د مذي د وتلو احتمال هم سته کوم چي نجس او ناپاک دي نو دا کار ناروا دئ.

وګورئ په فتاوى هنديه کي راځي:

في النوازل: إذا أدخل الرجل ذكره في فم امرأته قد قيل يكره وقد قيل بخلافه كذا في الذخيرة . (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٧٢).

په احسن الفتاوى کي راځي:

أقول: المبيح مجهول منكر، وقوله مردود شرعاً وعقلاً . (احسن الفتاوى:٨/ ٤٥).

په فتاوى رحيميه کي راځي:

د عضوه تناسل ظاهري حصه که څه هم پاکه ده نجسه نه ده مګر هر پاک شی د دې قابل نه وي چي په خوله کي دي ونيول سي يا دي ښکل کړي هيڅ انسان دا نه غواړي چي خپل ذکر او د استجاء مقام دي مچ کړي که څه هم ظاهراً پاک وي نجس نه وي نو د ښځي شرمګاه ښکلول او يا د خاوند مخصوص اندام په خوله کي نيول د فطرت خلاف کار دئ ناروا عمل دئ د حيوانات کار دئ، نه د انسانانو. (فتاوى رحيمية:٦/ ٢٧٠). والله ﷻ اعلم.

د ملاعبت په وخت کي ګوته استعمالول

سوال: ايا خاوند له ښځي سره د ملاعبت په وخت کي ګوته استعمالولای سي او که نه؟

الجواب: د ګوتي استعمال د مسه کولو او يا مښلو تر اندازي صحيح دئ مګر د داخلولو اجازه نه سته.

وګورئ په فتاوی هندیه کې راځي:

وما حل النظر إليه حل مسه ونظره وغمزه . (الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٢٨).

وفي الشامية : والأصبع ليس آلة للجماع . (فتاوى الشامي: ١/ ١٦٦، ط: سعيد).

په شرح العنايه کې راځي:

روي عن أبي يوسف رحمه الله في الأمالي قال : سألت أبا حنيفة رحمه الله عن الرجل يمس فرج امرأته أو تمس هي فرجه ليتحرك عليها هل ترى بذلك بأسًا ؟ قال لا ، أرجو أن يعظم الأجر . (شرح العناية على الهداية على هامش فتح القدير – وكذا في الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٢٨، كتاب الكراهية – والمحيط البرهاني: ٦/ ٦٥، كتاب الاستحسان). والله تعالى اعلم.

په ښځه استمناء بالكف حاصلول

سوال: که ښځه په حیض کې وي ایا خاوند په ښځه سره استمناء بالكف حاصلولای سي او که نه؟

الجواب: دا کار هغه وخت جواز لري چې ښځه د حیض په حالت کې وي د جماع خطره وي په عامو حالاتو کې دا کار جواز نه لري، همدارنګه دا باید عادت هم جوړ نه سي، خاوند باید د حیض په وخت کې له ښځې لیري اوسي.

په فتاوی شامي کې راځي:

ويجوز أن يستمني بيد زوجته وخادمته ..... ويدل أيضًا على ما قلنا ما في الزيلعي حيث استدل على عدم حله بالكف بقوله تعالى ﴿ والذين هم لفروجهم حافظون ﴾. الآية . وقال: فلم يبح الاستمتاع إلا بهما أي بالزوجة والأمة، فأفاد عدم حل الاستمتاع أي قضاء الشهوة بغيرهما هذا ما ظهر لي، والله سبحانه أعلم . (فتاوى الشامي: ٢/ ٣٩٩، باب مايفسد الصوم ومالا يفسده).

مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

د ښځې په لاس ځان انزالول هغه وخت روا دي چې ضرورت وي مثلاً ښځه په حيض يا نفاس کي وي د غلبه شهوت له کبله صبر مشکل وي، البته بې ضرورته مکروه دي. (امداد المفتين:۷/ ۲٤۸ - احسن الفتاوی:۸/ ۳٦٤). والله ﷻ اعلم.

د خاوند د خوشحالولو له پاره تيان غټول

سوال: ايا ښځه د خپل خاوند د خوشحالولو له پاره د خپل تيان غټولای سي او که نه؟

الجواب: تيان غټول د الله تعالی په خلقت کي تبديلي کول دي او په حديث شريف کي راځي ((لا طاعة المخلوق فی معصية الخالق)) نو د خاوند د رضاء له پاره د تيانو غټول صحيح نه دي.

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

د اسلام له نظره جسم د الله تعالی امانت دئ له شرعي ضرورت څخه پرته پکښې تغير تبديل ناروا دئ له همدې کبله رسول الله ﷺ د مصنوعي ورېښتانو او د غاښو تر منځ د فاصلې پيدا کولو څخه منع کړې او قابل لعنت يې بللي دي، نو ځکه د ښايست او فيشن په خاطر کوله آپريشن او يا کوم بل تغير قطعاً صحيح نه دئ لکه نن سبا چې د غاښو، پزې او تيانو متعلق کيږي.

« لعن الله الواشمات والمستوشمات والمتنمصات ». (رواه البخاري:۲/ ۸۷۹، کتاب اللباس).

« أن رسول الله ﷺ حرم الوشر ». (نسائی:۲/ ۲۸۱، باب تحريم الوشر).

« ولعن المتفلجات للحسن المغيرات خلق الله ». (مسلم:۲/ ۲۰۵، باب تحريم فعل الواصلة).

البته زياته ګوته او بل د فطرت خلاف او زيات اندام پرېکول پروا نه لري.

إذا أراد الرجل أن يقطع إصبعًا زائدةً أو شيئًا آخر .... إن كان الغالب على من قطع مثل ذلك الهلاك فإنه لا يفعل وإن كان الغالب هو النجاة فهو في سعة من ذلك . (الفتاوى الهندية:٥/ ٢٦٠). (جديد فقهی مسائل:١/ ٣١٢).

په بخاري شريف کي راځي:

عن إبراهيم علقمة قال: لعن عبد الله الواشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغيرات خلق الله فقالت أم يعقوب ما هذا ؟ قال عبد الله : وما لي لا ألعن من لعن رسول الله ﷺ وفي كتاب الله ؟ قالت: والله لقد قرأت ما بين اللوحين فما وجدته قال: والله لئن قرأتيه لقد وجدتيه ﴿ وما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا﴾. (رواه البخاری:٢/ ٧٩، باب المتنمصات). والله تعالی اعلم.

د خاوند له اجازې پرته صدقه کول

سوال: زما خاوند زيات بخيل دئ تقريباً زموږ دواړو شل کاله کيږي زړي جامي يا څيري څپلي هم و چا ته نه ورکوي نوي رانيسي خو زړه چا ته نه ورکوي ما يو ځل د ده په ناخبري کي څه زړي جامې او څپلي فقيرانو ته ورکړي وروسته معلومه سوه چي د ده اجازه نه سته اوس که خاوند ته وايم ډېر سخت طبيعت يې دئ په قهر کيږي نو به يې زه څنګه تلافي کوم؟

الجواب: يو معمولي شی صدقه کول د خاوند له اجازې پرته هم د خاوند له مال څخه روا دي او د دې مدار پر عرف دئ که په عامه توګه په عرف کي د خاوند له اجازې پرته د معمولي شيانو صدقه کېده او خاوند نه ناراضه کېدئ نو روا دي لهذا خاوند ته به د ويلو ضرورت نه وي او که په احتياط عمل کوي نو د دې زړو جامو په اندازه پيسې او يا کوم بل شي دي خاوند ته ورکړي خو ائنده دي دا خيال وساتي چي که د فتنې او جنجال بېره وي نو دا دي نه صدقه کوي بلکي خاوند ته دي د صدقې کولو ترغيب ورکړي چي دی صدقه وکړي .

په درمختار کي راځي:

ولابأس للمرأة أن تتصدق من بيت سيدها أو زوجها باليسير كرغيف ونحوه ملتقى ولو علم منه عدم الرضا لم يجز . وفى الشامية : قوله كرغيف لأن ذلك غير ممنوع عنه في العادة ، هداية، بقي لو كان في بيته من في مقام المرأة كحاجبه وغلامه نقل ابن الشحنة عن ابن وهبان أنه لم يره في كلامهم وأنه ينبغي أن يجوز قياساً عليها ثم نقل عنه أنه لو كانت الزوجة ممنوعة من التصرف في بيته تأكل معه بالفرض ولا يمكنها من طعامه والتصرف في شيء من ماله ينبغي أن لا يجوز لها الصدقة، واعترضه بأنه جري العرف بالتصدق بذلك مطلقا تأمل . (الدر المختار مع فتاوى الشامى:٦/ ١٦٢، ط: سعيد).

په شرح منظومه ابن وهبان کي راځي:

قلت: الذي ينبغي تحكيم العرف والعادة في ذلك وقد جرى العرف بالتصدق بذلك مطلقاً سواء كانت تأكل بالفرض أولا. (شرح منظومة ابن وهبان:٢/ ٩٣، فصل من كتاب المأذون، ط: الوقف المدنى ديوبند).

وأيضاً في شرح منظومة ابن وهبان :

قال: والزوجة وفتاة البيت وهي الأمة إذا تصدقت بالطعام لابأس بذلك إذا كان على الرسم للعزف وإن لم يكن بإذن الزوج والمولى، وقدره فى الهداية بالرغيف ونحوه. (شرح منظومة ابن وهبان:٢/ ٩٢، فصل من كتاب المأذون، ط: الوقف المدنى ديوبند – وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:٤/ ٩٢،ط: كوئته).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولا بأس للمرأة أن تتصدق من بيت زوجها بشيء يسير كرغيف ونحوه بدون استطلاع رأي الزوج كذا في الكافي. قال رضي الله تعالى عنه: وفي عرفنا المرأة والأمة لا تكون مأذونة بالتصدق بالنقد كذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية:٥/ ٧٣). والله ﷻ اعلم.

د دوو ښځو تر منځ د برابر والي حکم

سوال: يو کس خپلي ښځي ته هره ورځ د مازديګر د لمانځه وروسته مېوه راوړي د بلي ښځي له پاره يې يا خو نه راوړي اويا لږ ورته راوړي ايا د ده دغه عمل درست دئ او که د اصلاح وړ دئ؟

الجواب: په دې صورت کي په هديه او تحفه کي مساوات ضروري دئ که څه هم په اندازه او نوعيت کي يې څه فرق وي همدا ډول که يوه ښځه د مالداري کورنۍ څخه وي او بله د مسکيني کورنۍ څخه وي نو د دواړو تر منځ په نفقه کي برابر والي ضروري نه دئ د دواړو تر منځ په نوعيت او اندازه کي لږ والي او ډېر والي روا دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله وفي الملبوس والمأكول ..... قال في البحر: قال في البدائع: يجب عليه التسوية بين الحرتين والأمتين في المأكول والمشروب والملبوس والسكنى والبيتوتة وهكذا ذكر الولوالجي، والحق أنه على قول من اعتبر حال الرجل وحده في النفقة وأما على القول المفتى به من اعتبار حالهما فلا، فإنه إحداهما قد تكون غنية والأخرى فقيرة، فلا يلزم التسوية بينهما مطلقا في النفقة. (فتاوى الشامي:٣/ ٢٠٢، باب القسم).

وفي الطحطاوي على الدر المختار: إن النفقة يعتبر فيها حالهما فحينئذ قد تكون إحداهما غنية والأخرى فقيرة فلا يلزم التسوية بينهما في النفقة. (حاشية الطحطاوى:٢/ ٨٨ – وكذا في البحر الرائق:٣/ ٢١٨).

په عمدة القاري کي راځي:

وتمام العدل أيضاً بينهن تسويتهن في النفقة والكسوة والهبة ونحوها. (عمدة القاري: ۱۴/ ۱۸۷، باب العدل بين النساء، دار الحديث، ملتان).

په بذل المجهود کي راځي:

باب في القسم أي العدل بين النساء المبيت والطعام ولكسوة والإعطاء. (بذل المجهود: ۹/۱۶۹،۱۰).

په امداد الاحکام کي راځي:

د عدل معنا ده د جور مقابل يعني له هر شی سره د هغه مناسب او د واجب حق موافق چلند کول نو که زوجين په مسکيني او غنا کي برابر وي نو په نفقه کي برابر والي که نه په اندازه د خپل حيثيت يې عدل واجب دي. (امداد الاحکام: ۲/ ۳۷۷). والله ﷻ اعلم.

که خاوند له شرعي حجاب څخه مانع وګرځي؟

سوال: يوه ښځه په شريعت عمل کوي د ټول مخ پرده کول غواړي خو خاوند يې نه غواړي او دا منع کوي او ورته وايي چي بېله حجابه دی له ده سره دباندي ځي نو ښځه بايد څه وکړي؟

الجواب: د ښځي له پاره حجاب په شريعت کي مطلوب دي او د خاوند منع کول د شريعت څخه خلاف حکم دئ شريعت مطهره يې اجازه نه ورکوي ((لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق)) ښځه دي په شرعي قانون عمل وکړي او خاوند دي پوهـ کړي او ترغيب دي ورکړي خو د هغه سره دي ضد، بغاوت او بد سلوکي نه کوي د خاوند د حقوقو په اداينه کي دي کوتاهي نه کوي الله تعالی به يې د خاوند زړه نرم کړي او د شرعي حجاب له پاره به اماده سي ښه صورت دا دئ چي د تبليغ سره دي اشنا کړي د څه وخت له پاره دي په جمات کي وليږلي.

قال الله تعالى: ﴿ وإذا سألتموهن متاعًا فاسألوهن من وراء حجاب ﴾. (سورة الأحزاب: الآية ۵۳).

په پورتني آيت کي که دمخ پرده نه واي نو بيا د من وراء حجاب څه ضرورت وو بيا خو په مخامخ کېدو کي هم څه باک نه وو . والله ﷻ اعلم.

ښځه پرېښودل او د يوه کال له پاره د تللو حکم

سوال: ځيني کسان له فراغت څخه وروسته يو کال په تبليغ کي لګوي که واده ولري او که نه؟ که واده والا وي نو ايا ښځه او کوچينان پرېښودل او کال لګول روا دي او که نه؟ او همدا ډول د ښځي په رضا او عدم رضا سره څه فرق راځي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي څلور مياشتې لګول يا کال لګول د ښځي او خاوند پر رضا موقوف دي ځکه له واده څخه وروسته په يو کال تللو کي د ښځي رضا ضروري ده لهذا که ښځه راضي وي او د فتنې وغيره بېره نه وي نو په کال لګولو کي څه باک نه سته بلکي ډېره فائده ده، علامه حصکفي رحمه الله فرمايي چي کله کله ديانة جماع واجب دئ او د ايلاء مده يعني څلور مياشتې دي بېله وطي نه تير وي مګر که يې ښځه راضي وي نو بيا څه باک نه لري .

يجب ديانة أحياناً ولايبلغ مدة الإيلاء إلا برضاها. (الدر المختار:۳/ ۲۰۳، باب القسم).

په فتاوی محموديه کي راځي:

که ښځه برداشت ولري او د دې په اجازه خاوند په کال کي يو ځل کور ته ځي نو ان شاء الله ګناه ګار به نه وي او نه به د حقوقو د نه اداء کېدو مرتکب وي کذا في رد المحتار . (فتاوی محموديه:۱۸/ ۵۹۲).

بل ځای ليکي:

که ښځه ځوانه وي نو له څلور مياشتي څخه دي زياته نه پرېږدي ځکه د فتنې بېره سته که صبر کولای سي او د فتنې بېره نه وي نو په ټول کال سره هم څه باک نه سته . (فتاوی محموديه:۱۸/ ۵۹۲).

همدا ډول ليکي:

د ښځي حق د ډوډي او نفقې څخه علاوه هم سته د هغه دي څه انتظام وکړ؟

که هغه ځوانه وي او پر خپل ځان قابو نه لري نو د هغې حق ضائع کيږي، البته که قابو ولري او په خوشحالي يې د دومره اوږده وخت اجازه کړي وي او د کومي ګناه بېره نه وي نو اجازه سته که نه په

څلور میاشتې کې به یو ځل ورته راځي، ویجب دیانة احیاناً، ولا یبلغ مدة الإیلاء الابر ضاها (فتاوی محمودیه: ۱۸/ ۵۹٤).

له دې څخه پرته د دغه نظیر د فقهاوو د عبارتونو څخه هم موږ وړاندې کولای سو چې د عنین ونبځه ته فقهاء یو کال وخت ورکوي او د مفقود ښځې ته څلور کاله حال دا چې په دومره مده کې خو هم د فتنې بېره سته . الله تعالی اعلم .

د جنسي خواهشاتو د تکمیل له پاره د مصنوعي آلاتو حکم

سوال: د یوې ښځې خاوند جوړ او روغ دي خو د دې سره جماع نه کوي نو ایا د ده ښځه د خپلو خواهشاتو د پوره کولو له پاره له مصنوعي آلاتو څخه کار اخیستلای سي ؟

الجواب: چیري چې شریعت مطهره د جنسي خواهشاتو د تکمیل اجازه کړې ده هلته یې د هغه فطري طریقه هم د انسانیت د لار ښوونې له پاره ښوولې ده چې توالد او تناسل هم جاري وساتل سي د دې فطري طریقې څخه خلاف بله هره طریقه چې وي نه یوازې دا چې د شریعت له نظره به منع وي بلکې د اخلاقي کمزورۍ سبب هم کیږي د شریعت حکم دا دئ چې تر څو د خواهشاتو د تکمیل له پاره دغه فطري طریقه موجوده نه وي نو په پوره توګه دې خپل عفت او عزت وساتي په احادیثو کې راځي چې ځینو صحابه کرامو د ځواني په وخت پر نکاح د قدرت نه درلودلو په صورت کې سوال وکړ چې موږ څه وکړو ؟

نو ده مبارک ﷺ د ډېرو روژو نیولو حکم ورکړ لهذا د دې ښځې له پاره به دغه عمل روا نه وي خپل خاوند دې د حقوقو پر اداینه راضي کړي . والله تعالی اعلم .

هغه ښځه چې خاوندان یې ډېر سوي وي په جنت کې به د کوم یوه وي؟

سوال: که یوې ښځه له یوه څخه وروسته بل خاوند کړی وی نو په جنت کې به د کوم یوه وي؟

الجواب: په دې مسئله کې د علماوو دوه قوله دي:

۱ _ اخري خاوند ته به ورکول کیږي .

۲ـ ښځي ته به اختيار ورکول کيږي کوم چي وغواړي هغه دي غوره کړي په دواړو اقوالو کي د تطبيق دا صورت کېداى سي چي که دواړه خاوندان په اخلاقو کي برابر وي نو اخرني خاوند ته به ورکول کيږي او که يې په اخلاقو کي تفاوت وو نو ښک اخلاقه به اختيار کړي .

وګورئ په روايت کي راځي :

۱ـ عن عطية بن قيس الكلاعي قال : خطب معاوية بن ابي سفيان رضي الله عنه أم الدرداء رضي الله عنها بعد وفاة أبي الدرداء رضي الله عنه فأتت وقالت: سمعت أبا الدرداء رضي الله عنه يقول : سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول « أيما إمرأة توفي عنها زوجها فتزوجت بعده فهي لآخر أزواجها وما كنت لأختارك على أبي الدرداء رضي الله عنه فكتب إليها معاوية رضي الله عنه فعليك بالصوم فإنه محسمة .

(مجمع الزوائد:٤/ ٢٧٠، باب فى المرأة تدخل الجنة ولها أزواج، ط: دار الفكر – وكذا فى بستان فقيه ابى الليث السمرقندى: ص ١٥١).

۲ـ وعن أنس رضي الله عنه قال : قالت أم حبيبة رضي الله عنها : يا رسول الله! المرأة يكون لها زوجان ثم تموت فتدخل الجنة هي وزوجاها لأيهما تكون للأول أو للآخر ؟ قال : تخير أحسنهما خلقاً كان معها في الدنيا يكون زوجها في الجنة يا أم حبيبة رضي الله عنها ذهب حسن الخلق بخير الدنيا والآخرة. (رواه الطبرانى والبزار، وفيه عبيد بن إسحاق وهو متروك –(مجمع الزوائد:٨/ ٢٤، باب ماجاء فى حسن الخلق،ط: دار الفكر).

لومړى روايت يعني د اخري خاوند والا قوي روايت دئ او د هغه شواهد هم موجود دي :

وګورئ شيخ الباني فرمايي :

قلت : و هذا إسناد رجاله ثقات معروفون غير العباس بن صالح هذا ، و رواه أبو الشيخ في " التاريخ " (ص ٢٧٠) : ثنا أحمد بن إسحاق الجوهري ثنا إسماعيل بن زرارة قال: ثنا أبو

المليح الرقي به مقتصرا على المرفوع فقط، و هذا إسناد صحيح .رجاله ثقات معروفون غير الجوهري، قال أبو الشيخ : ثقة حسن الحديث ، فمن حسان حديثه .... ثم ساق له أحاديث هذا أحدها .

وبا لجملة فالحديث بمجموع الطرقين قوى، والمرفوع منه صحيح، وله طرق أخرى مرفوعاً وموقوفاً عند ابن عساكر (١٩/ / ٢٨١/ ٢) عن أبي الدرداء رضي الله عنه وله شاهدان موقوفان.

الأول : عن أبي بكر رضي الله عنه يرويه ابن عساكر (١٩/ ١٩٣/ ١) من طريق كثير بن هشام عن عبد الكريم عن عكرمة.

أن أسماء بنت أبي بكر رضي الله عنهما كانت تحت الزبيرابن العوام رضي الله عنه و كان شديداً عليها ، فأتت أباها ، فشكت ذلك إليه ، فقال : يا بنية اصبري فإن المرأة إذا كان لها زوج صالح ، ثم مات عنها، فلم تزوج بعده جمع بينهما في الجنة ". و رجاله ثقات إلا أن فيه إرسالا لأن عكرمة لم يدرك أبا بكر رضي الله عنه إلا أن يكون تلقاه عن أسماء بنت أبي بكر رضي الله عنه . و الله أعلم .

و الآخر : عن عيسى بن عبد الرحمن السلمي عن أبي إسحاق عن صلة عن حذيفة رضي الله عنه أنه قال لامرأته : " إن شئت أن تكوني زوجتي في الجنة ، فلا تزوجي بعدي ،فإن المرأة في الجنة لآخر أزواجها في الدنيا ، فلذلك حرم الله على أزواج النبي ﷺ أن ينكحن بعده لأنهن أزواجه في الجنة " . أخرجه البيهقي في" السنن " (٧ / ٦٩ -٧) .

و رجاله ثقات ، لولا عنعنة أبي إسحاق – و هو السبيعي– و اختلاطه . (سلسلة الاحاديث الصحيحة للشيخ الالباني:٣/ ٢٧٥/ ١٢٨١).

دفيض القدير په حاشيه كي ذكرسوي دي:

ويمكن الجمع بين الأحاديث الثلاثة بأنها تكون لآخر أزواجها إذا تساووا في الخلق، وإلا فتختار أحسنهم خلقاً، والله أعلم. (حاشية فيض القدير لأحمد عبد السلام :٣/ ١٩٥/ ٢٩٨٣، دار الكتب العلمية بيروت).

دتفصيل له پاره وګورئ: (مجموعة الفتاوى للعلامة عبد الحى اللكنوى:٣/ ٢٩٦، متفرقات، و١/ ١١٥، كتاب القرآن، باب الجنة – وفتاوى محموديه:١/ ٦٩١). والله ﷻ اعلم.

د ښځې او خاوند له پاره د يو بل په نامه بللو حکم

سوال: ايا ښځه او خاوند يو بل په نامه بللای شي او که نه؟

الجواب: ښځه چې خاوند په نامه سره بولي دا د تعظيم او ادب څخه خلاف او مکروه کار دی، د خاوند عزت به ساتي او د تعظيم په نامه به يې بولي همدا ډول په کنيت سره يعنې ابو فلان يا ابو فلانه بلل يې هم درست دي، البته خاوند خپله ښځه په نامه سره بللای شي لکه څنګه چې په ډېرو رواياتو کې موجود دي چې نبي کريم ﷺ به خپلې ازواجې مطهراتې په نومونو ياد وې، حضرت عائشې رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ له پاره د جمع صيغه استعمال کړې ده چې عظمت او احترام ښيي:

په مسلم شريف کې راځي:

عن أم عطية قالت بعث إلى رسول الله ﷺ بشاة من الصدقة فبعثت إلى عائشة رضي الله عنها منها بشيء فلما جاء رسول الله ﷺ إلى عائشة رضي الله عنها قال « هل عندكم شيء ». قالت: لا، إلا أن نسيبة بعثت إلينا من الشاة التي بعثتم بها إليها قال « إنها قد بلغت محلها ». (رواه مسلم ۱/ ۳٤٥، باب اباحة الهدية للنبي ﷺ، فيصل پبلشرز)

په عالمګيري کې راځي:

يكره أن يدعو الرجل أباه والمرأة زوجها باسمه كذا في السراجية. (الفتاوى الهندية: ٥/ ٣٦٢، باب تسمية الاولاد).

په الموسوعة الفقهية الكويتية کې راځي:

ذكر الحنفية أنه يكره أن يدعو الرجل أباه وأن تدعو المرأة زوجها باسمه، بل لا بد من لفظ يفيد التعظيم لمزيد حقها على الولد والزوجة. وليس هذا من التزكية؛ لأنها راجعة إلى المدعو بأن يصف نفسه بما يفيدها، لا إلى الداعي المطلوب منه التأدب مع من هو فوقه. (الموسوعة الفقهية الكويتية: ١١/ ٣٣٧، احكام التسمية، نداء الزوج والاب ونحوهما بالاسم المجرد، ط: وزارة الاوقاف الشئون الاسلامية، الكويت).

په کتاب الفتاوی کې راځي:

په نامه سره ورته خطاب کول خلاف ادب دي څکه نو زوی به خپل پلار او ښځه به خپل خاوند په نامه سره نه بولي فقهاوو هغه مکروه ګڼلي دي؛ که يې په غائبانه توګه نوم واخلي نو څه باک نه لري خاوند د ښځې نوم اخيستلای شي لکه څنګه به چې رسول الله ﷺ د خپلو ازواجو نوم اخيستې. البته د حياء له امله که د خلکو په وړاندې د اولادونو په نامه ورته خطاب وشي بده به نه وي. (کتاب الفتاوی: ٤/ ١١٠). والله ﷻ اعلم.